وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْآنَ لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِنْ مُدَّكِرٍ

تفسیر

احسن الکلام

بلغة البشتو

الجزء الثالث

دریم جزء

از سورة آل عمران آیة ۱۳۰ تا سورة النساء آیة ۸۷

الناشر

جامعة عربية لاشاعة التوحيد والسنة

بده بیر - پشاور

(حقوق طبع د مصنف د پاره محفوظ دي)

وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْآنَ لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِن مُّدَّكِرٍ

تفسير

احسن الکلام

بلغة البشتو

للشيخ أبي زكريا عبد السلام الرستمي

الجزء الثالث

دريم جزء

از سورة آل عمران آية ۱۳۰ تا سورة النساء آية ۱۷۶

الناشر:

جامعة عربية لاشاعة التوحيد والسنة

بډه بېر - پشاور

يَآ اَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَاْكُلُوا
اے ایمان والو ! مه خورئ
الرِّبٰوٓا اَضْعَافًا مُّضٰعَفَةً وَّاتَّقُوا
سود دوچند او ویریږئ
اللّٰهَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ﴿١٣٠﴾
دَ الله تعالیٰ نه دَ دے دَپاره چه کامیاب شئ۔

۱۳۰ خلاصه: دَ دے آیت نه تر آخره پورے څلورمه حصه ده، او په دے حصه کښې درے بابونه دی اول باب تر آیت ۱۸۰ پورے دے۔ په دے باب کښې اول داسے آداب او اوصاف ذکر کوی چه دَ راتلونکی وخت دَپاره دَ هزیمت نه بچ کوونکی او کرځی (او دیته دَ تهذیب الاخلاق امور ویلے شی) دا آداب و اوصاف تقریبًا یو دیرش دی چه شپږ دَ هغے نه اوامر دی لکه ۱۳۰ کښې اِتقوا الله، ۱۳۱ کښې اتقوا النار، ۱۳۲ کښې اَطِيْعُوا اللّٰهَ وَالرَّسُوْلَ، ۱۳۳ کښې سارعوا، ۱۶۶ کښې فلیتوکل المومنون او ۱۷۵ کښې خافونِ، او شپږ پکښې نواهی دی ۱۳۰ کښې لا تاکلوا الربوا، ۱۳۹ کښې لا تهنوا ولا تحزنوا، ۱۴۹ کښې ان تطیعوا (مراد ترینه نهی ده)، ۱۵۶ کښې لا تکونوا کالذین کفروا، ۱۷۵ کښې فلا تخافوهم۔ او نورلس پکښې صفات او اخلاق دی څلور صفات په ۱۳۴ کښې، درے په ۱۳۵ کښې، په ۱۴۴ کښې عقیده دَ وفات دَ نبی صلی الله علیه وسلم، ۱۴۵ کښې عقیده دَ مرګ پخپله نیټه باندے، څلور صفات په ۱۴۶ کښې، ۱۴۷ کښې دُعا دَ سابقینو، ۱۶۱ کښې عقیده په صفت دَ نبی صلی الله علیه وسلم، ۱۶۴ کښې دَ الله تعالیٰ احسان منل، ۱۶۹ کښې عقیده ساتل دَ شهداؤ په لوے شان باندے، ۱۷۲ کښې استجابت دَ الله تعالیٰ او دَ رسول صلی الله علیه وسلم او په ۱۷۳ کښې دَ صحابه کرامو دَ قول تابعداری۔

دویم په دے باب کښې دَ منافقانو دَ شبهے جواب دے په

باره دَ هزیمت دَ احد کښ او جواب په ذکر کولو دَ دیارلس علتونو دَ هغې سره په سنه ۱۴۰، ۱۴۱، ۱۴۲، ۱۴۳، ۱۵۲، ۱۶۵، ۱۶۶ او سنه ۱۶۷ کښ.
دریم پکښ اوصاف دَ منافقانو ذکر کوی په سنه ۱۵۴، ۱۶۷، سنه ۱۶۸ کښ.
څلورم پکښ عظمت شان دَ نبی صلی الله علیه وسلم ذکر کوی په ۱۵۹، ۱۶۱ او ۱۶۴ کښ او دَ شهداؤ شان په ۱۶۹، ۱۷۰، ۱۷۱ کښ او دَ زخمیانو صحابه شان په ۱۷۲، ۱۷۳ او ۱۷۴ کښ. پنځم په ۱۷۸ او ۱۷۹ کښ دَ سوالونو جوابونه ذکر کوی او بخلاۀ ته تخویف په ۱۸۰ کښ ذکر کوی.

ربط :- ابن عطیه دَ دے په ربط کښ سکوت کړیدے او ابوحیان وئیلی دی ع۱ چه دا متعلق دے دَ لا تتخذوا بطانة من دونکم سره۔ هرکله چه یهودیان دَ ربوا معامله ډیره کوی او دا دَ هغوی سره دَ دوستانے کولو سبب کرځی نو په دے آیت کښ دَ هغې نه منع کوی دَ دے دَپاره چه منافقانو او یهودیانو سره دَ دوستانے سبب جوړنشی۔ ع۲ هرکله چه مخکښ وعده دَ نصرت ذکر شوه نو اوس دَ هغه وعدے دَ حصول دَپاره آداب ذکر کوی چه په هغې کښ اهم ادب دَ ربوا نه نهی کول دی۔ قرطبی وئیلی دی چه مقصد دا دے چه که تاسو ربوا نه پریږدئ نو شکست به اوخورئ او قتل به کړے شئ۔ ع۳ هرکله چه لله ما فی السموات آه ذکر شو نو اوس فرمائی چه ستاسو دَ مالونو په تصرف کښ هم دَ الله تعالیٰ اذن ضروری دے۔ لیکن دَ ربوا په باره کښ اذن نشته۔ ع۴ قاسمی او بقاعی دَ ابوداؤد نه دَ ابوهریره رضی الله عنه روایت ذکر کړیدے چه دَ عمرو بن اقیش رضی الله عنه دَ جاهلیت په وخت کښ دَ چا سره ربوا وه نو ده بیا ته ګنړله چه اسلام راوړی تردے پورے چه خپله ربوا حاصله کړی۔ نو دَ احد په ورځ مدینے ته راغے او آوازئے اوکړو چه څه شول زما تربوران نو ورته اووئیلے شو چه په احد کښ دی بیائے اوئیل چه څه شو قلانے ورته اووئیلے شو چه په احد کښ دے۔ نو خپله زغره ئے واغوستله او په اس باندے سورشو او احد ته لاړو۔ نو مسلمانانو ورته

اوئیل چه اے عمرو زموږ نه لرے شه نو هغه اوئیل چه ما ایمان راوړیدے - نو قتال ئے اوکړو او په هغے کښ زخمی شو .... بیا په هغے کښ وفات شو او الله تعالیٰ جنت ته داخل کړو (ابوداؤد کتاب الجهاد باب فیمن یسلم ویقتل مکانه) -
ابوهریره رضی الله عنه اوئیل چه هغه شخص چه مونځ ئے نه دے کړے او جنت ته داخل شویدے هغه دا شخص دے - نو د دے مناسبت په وجے سره دلته د ربوا نه نهی ذکر شوه -

تفسیر :- نمبر ۱۳۰ : يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَأْكُلُوا الرِّبَوا أَضْعَافًا مُّضَاعَفَةً ، دا مقتضا د ایمان ده د دے وجے نه ئے په یاایها الذین سره مصدر کړو -

فائده :- د سوره بقره آیتونه د ربوا په باره کښ دی چه هغه د دینه روستو نازل شویدی په دلیل د حدیث د امام بخاری په باره د نزول کښ چه هغه آخری آیتونه د قرآن دی نو د دے وجے نه په دے آیت کښ ئے قید د اضعافا لګولے دے او په سوره بقره کښ مطلق منع کړیده -

أَضْعَافًا مُّضَاعَفَةً ، دا قید د مزید قباحت د پاره دے دا د اهل ربوا په عادت باندے بنا وو چه هر کله به ئے مال ورکوو نو په هغه وخت کښ به ئے شرط د ربوا مقرر کړو (مثلاً لس روپئ) بیا به چه په نیټه باندے ادائیږی او نه شوه نو سود به ئے نور هم زیاتی کوو (مثلاً د مخکښ نه علاوه نورے لس به ئے زیاتی کړے) او د غسے به ئے زیاتی کوو

أَضْعَاف ، جمع قلت د ضعف ده - ضعف مماثل د یو څیز ته وئیلے شی او اضعاف ډیرو مماثلو ته وئیلے شی نو د لس ضعف شل دے او درے اضعاف ئے څلویښت دی -

مُضَاعَفَةً ، یعنی په دغه اضعافو کښ به ئے نور سیبوا والے کولو په سبب د زیادت د نیټو سره - نو اضعاف په سبب د مالونو سره دے او مضاعفه په سبب د نیټو سره ده -

وَاتَّقُوا اللهَ ، هر کله چه ربوا په حرص د نفس سره حاصلیږی نو

وَاتَّقُوا النَّارَ الَّتِيٓ أُعِدَّتْ

او ځان بچ کړئ (د حرام نه په بچ کیدو سره) د هغه اور نه چه تیار کړې شوې دے

لِلْكٰفِرِيْنَ ﴿۱۳۱﴾ وَاَطِيْعُوا اللّٰهَ

د پاره د کافرانو - او تابعداری کوئ د الله تعالیٰ

وَالرَّسُوْلَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُوْنَ ﴿۱۳۲﴾

او د رسول د دے د پاره چه په تاسو رحم اوکړے شي -

د هغې د پاره د الله تعالیٰ نه تقوٰی علاج دے او هغه ربوا نورو حراموته عام دے د دے وجې نه ئے تقوٰی د فلاح سبب کرځولے دے -

۱۳۱ :- په دیکښ مراد تقوٰی ده د سبب د جهنم د اور نه چه هغه حرام ته حلال وئیل دی او دا سبب د کفر دے د دے وجې نه ئے لِلْكٰفِرِيْنَ ذکر کړو - په النَّارَ کښ دوه اقوال دی -
اول قول دا چه الف لام جنسی دے یعنی یو قسم د هغه اور نه دے چه تیار کړے شوے دے د کافرانو د پاره اګرچه دا قسم خفیف دے د اور د کافرانو نه - یا الف لام عهدی دے یعنی هغه اور چه د کافرانو د پاره دے هغه د ربوا والو د پاره هم دے نو دا سخت وعید دے د ربوا والو په باره کښ - د دے وجې نه قاسمي د امام ابوحنیفه نه نقل کړیدی، هغه وئیلی دی چه په قرآن کښ دا ډیر د خوف آیت دے ځکه چه مؤمنانو ته ئے د کافرانو وعید ذکر کړیدے -
۱۳۲ :- دا د ماقبل مقابل دے یعنی په هغې کښ سبب د عذاب ذکر کړیدے او په دیکښ سبب د رحمت (بچکیدل د عذاب نه) ذکر کوی چه هغه اطاعت د الله تعالیٰ او د رسول صلی الله علیه وسلم دے په ټولو احکامو کښ او خصوصًا په احکامو د ربوا کښ - اشاره ده چه د ربوا تفصیلا د سنت نبوی صلی الله علیه وسلم نه ایزده کړئ او اطاعت ئے اوکړئ -

وَسَارِعُوْٓا اِلٰى مَغْفِرَةٍ مِّنْ
او جلتي كوئ بخښنه ته دَ طرفه دَ
رَّبِّكُمْ وَجَنَّةٍ عَرْضُهَا السَّمٰوٰتُ
رب ستاسو او جنت ته چه فراخي دَ هغې آسمانونه
وَالْاَرْضُ لا اُعِدَّتْ لِلْمُتَّقِيْنَ ﴿۱۳۳﴾
او زمكه ده تيار كړے شوے دے دَپاره دَ بچ كيدونكو دَ شرك نه۔

۱۳۳:۔ روستو دَ امر دَ اطاعت نه اوس امر دے په مسارعت او او په حصول دَ فائدو دَ هغې سره (دَ مسارعت معنیٰ مخكښ ذكر شوے ده)۔

وَسَارِعُوْٓا اِلٰى مَغْفِرَةٍ مِّنْ رَّبِّكُمْ ـ يعنى سَارِعُوْٓا اِلٰى اَسْبَابِ الْمَغْفِرَةِ وَالْجَنَّةِ ـ او په دیكښ ډیر اقوال دی دَ عثمان رضى الله عنه قول دا دے چه دَ دے نه مراد اخلاص دے دَ على رضى الله عنه په نيز ادا دَ فرائضو ده او دَ ابن عباس رضى الله عنهما قول دے چه دا اسلام دے ـ دَ انس رضى الله عنه او مكحول رحمه الله په قول مراد ترینه دَ جماعت دَ مونځ تكبير اولى دے ـ دَ سعيد بن جبير رضى الله عنه په نيز مراد اطاعت دے ـ دَ عكرمه په نيز توبه ده او دَ ابوالعاليه په نيز هجرت مراد دے ـ دَ ضحاك قول دے چه معنیٰ ئے جهاد دے ، دَ يمان په نيز پنځه مونځونه مراد دی دَ مقاتل قول دے چه اعمال صالحه مراد دی ـ ليكن دا په تخصيص سره نه دی مراد بلكه دا دَ تقوىٰ او دَ اطاعت دَ الله تعالىٰ او دَ رسول صلى الله عليه وسلم (چه مخكښ ذكر شول) ټولو امورو ته شامل دے ـ او مَغْفِرَةٍ سره مِّنْ رَّبِّكُمْ دَ عظمت دَپاره ذكر دے ـ او هر كله چه مغفرت دَ ګناهونو مخكښ دے په حصول دَ ثواب او جنت باندے دَ دے وجے نه ئے مغفرت په جنت باندے مخكښ ذكر كړو ـ

وَجَنَّةٍ ، دَ دینه مراد جنس دے ځكه ئے جمع ذكر نه كړه ـ

عَرۡضُهَا السَّمٰوٰتُ وَالۡاَرۡضُ ، عَرۡضُ پلن والی ته وئیلے شی
چه مقابل دَ طول اوږدوالی راځی - او عرض همیشه دَ طول
نه لږ وی نو هرکله چه عرض یئے دَ آسمانونو او زمکے پشان
دے نو دَ اوږدوالی اندازه خو موتږ ته نشی معلومیدلے (قرطبی
وئیلی دی چه دا دَ جمهورو قول دے) - یا عرض دَ یو څیز
صرف وسعت دَ هغے ته وئیلے شی او آسمانونه او زمکه دَ قبے
پشان دی او دَ قبے عرض او طول یو شان وی (ابن کثیر) -
السَّمٰوٰتُ وَالۡاَرۡضُ ، دَ دے مضاف پټ دے په قرینه دَ سورة
حدید ۲۱ سره یعنی پشان دَ عرض دَ آسمانونو او دَ زمکے -
او په دیکښ دوه اقوال دی اول قول دَ ابن عباس رضی الله
عنهما نه نقل دے چه دا اووه آسمانونه او زمکے چه یو یو
او غوړولے شی دَ یو بل سره یوځائے شی نو دَ جنت به دومره پلن والے وی
نو دا تشبیه حقیقی ده - دویم قول دا دے چه دا تشبیه تمثیلی
او مجازی ده یعنی دَ انسانانو په علم کښ لوئے او فراخه آسمانونه
او زمکے دی نو د غسے دَ جنت دَ فراخئ مثال ورکړو -
سوال :- دَ ابوذر رضی الله عنه په حدیث کښ (چه قرطبی نقل
کړیدے) وارد دی چه دا اووه آسمانونه او اووه زمکے دَ الله
تعالیٰ دَ کرسی په نسبت داسے دی لکه چه یو روپئ دَ یو صحرا
دَ اکه زمکه کښ واچولے شی او دَ کرسی نسبت عرش دَ
الله تعالیٰ ته هم داسے دے لکه چه دَ او سپنے یو کړی دَ زمکے
په یو صحرا کښ کیخودلے شی - او بل حدیث کښ راځی چه
دَ جنت دَ اونے دَ یو څانگے دَ لاندے سل کاله دَ سورلی
والا سړی مسافت دے - داسے نور روایات هم شته نو
دا خو دلالت کوی چه جنت دَ آسمانونو او زمکے نه ډیر لوئے
دے ؟
جواب :- کله چه عرض مقابل دَ طول مراد شی نو بیا دا
سوال نه واردیږی - دا رنګ کله چه تشبیه تمثیلی مراد

شی نو بیا هم دا سوال دفع کیږی۔ ځکه چه دَ جنت دغه تور
وسعت یا دَ عرش او کرسی وسعت خو دَ انسانانو دَ نظر ته پټه دی۔
سوال:۔ سورة نجم ۱۵ کښ دی چه جنت دَ سدرة المنتهٰی په خوا کښ دے او حدیث
معراج کښ ثابت ده چه سدرة المنتهٰی په اووم آسمان کښ ده نو جنت
چه دَ اوؤ آسمانونو او زمکے پشان دے نو په اووم آسمان کښ څنګه
ځائیږی؟

جواب ۱:۔ په دے باندے الله تعالی قادر دے لکه چه زمونږ
په یو وړه غونډے سترګه کښ دَ نظر کولو په وخت کښ آسمان
او زمکه او غرونه ځائے کړیدی چه دَ سترګے نه دَ هغے وسعت
په کروړاؤ چنده زیات دے نو دغه الله تعالی ته څه ګران کار
نه دے۔

جواب ۲:۔ اوس الله تعالی جنت را غونډ کړے دے او دَ دوباره
ژوند په ورځ به یے پوره خور کړی۔ او دیته ابن فورک اشاره
کړیده لیکن دَ اول جواب تائید هغه روایت دے چه ابن جریر، ابن
کثیر، ابن عطیه او قرطبی وغیره ذکر کړیدے۔ چه هرقل
بادشاه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته یو قاصد رالیږلے
وو او خط یے ورکړے وو هغه خط رسول الله صلی الله علیه
وسلم ته معاویه رضی الله عنه اولوستلو په هغے کښ لیکلی وو چه
ته ما هغه جنت ته رابلے چه دَ هغے وسعت آسمانونه او زمکه ده
نو دَ جهنم اور به په کوم ځائے کښ وی؟ نو رسول الله صلی الله
علیه وسلم اوفرمائیل سبحان الله چه ورځ راشی نو شپه
چیرته لاړه شی۔ او دغسے جواب عمر رضی الله عنه یهودیانو
ته هم ورکړے وو هغوی هم دغه تپوس کړے وو۔ ابن کثیر
وئیلی دی چه په دیکښ دوه احتمالات دی۔ اول دا چه
مونږ چه په وخت دَ شپے کښ ورځ نه وینو یا برعکس نو دَ
دے مطلب دا نه دے چه هغه موجود نه دی هغه په هغه
ځائے کښ وی چه الله تعالی یے غواړی۔ دا رنګ اور دَ جهنم
به هغه ځائے کښ وی چه الله تعالی یے غواړی۔ دوئیم احتمال

دا دے چه په دنیا کښ ورځ یوجانب ته وی نوشپه بل جانب ته وی نو دارنګ جنت په اعلیٰ علیین کښ دے دَ آسمانونو او زمکے ته پورته دے لاندے دَ عرش نه او پلنوالے یٔے دَ آسمانونو او زمکے پشان دے۔ او دَ جهنم اور په اسفل سافلین کښ دے لاندے دَ زمکو نه (دا امام رازی دَ انس رضی الله عنه نه نقل کړیدی) والله اعلم۔

أُعِدَّتْ لِلْمُتَّقِيْنَ ، لفظ دَ ماضی او اعداد دلیل دے چه جنت دَ مخکښ نه پیدا کړے شویدے۔

فائده:۔ داسے آیت په سوره حدید ۲۱ کښ هم دے لیکن دَ دواړو فرق په یوځوو جوهو سره دے۔ اول دا چه دلته وسارعوا دے او هلته سابقوا بغیر دَ عطف نه دے۔ دویم دلته مضاف نیشته او هلته حرف تشبیه دے سره دَ مضاف نه یعنی کعرض۔ دریم دلته اعدت للمتقین او هلته اعدت للذین امنوا دے۔ دَ فرق وجے یٔے دا دی۔ دَ اول فرق وجه، مخکښ او امر ذِکر شویدی یعنی اتقوا، اطیعوا نو سارعوا یٔے په هغه باندے عطف کړو۔ بیا دلته دَ یهودیانو او منافقانو دَ اخلاقو نه ځان بچ کول مراد دی او دَ ځان بچ کولو دَ پاره سرعت استعمالیږی دارنګ دلته دَ متقیانو ذکر دے چه هغه اعلیٰ درجه دَ ایمان ده او دَ هغے دَ پاره تفاوت دَ مراتبو نشته او په سوره حدید کښ مخکښ معطوف علیه نشته او دَ منافقانو یا یهودیانو نه بچ کول نیشته۔ او په حدید کښ ذکر دَ مؤمنانو دے او هغوی کښ مختلف مراتب دی چه دَ هغے سره لفظ دَ سابقوا مناسب دے۔ دَ دویم فرق وجه، دلته دَ مسارعت او تقویٰ دَ وجے نه ډیر ترغیب مقصد دے نو دَ هغے دَ وجے نه دَ مبالغے دَ حمل دَ پاره حرف تشبیه او مضاف حذف کړیدے۔ دَ دریم فرق وجه، دلته اوامر او نواهی ذکر دی چه دَ هغے پوره لحاظ کوونکی متقیان دی او سوره حدید کښ صرف دَ اهل ایمان احکام

الَّذِينَ يُنفِقُونَ فِي السَّرَّاءِ

هغه کسان چه خرچ کوی په خوشحالئ کښ

وَالضَّرَّاءِ وَالْكَاظِمِينَ الْغَيْظَ

او په تکلیف کښ او تیروونکی د غصے دی

وَالْعَافِينَ عَنِ النَّاسِ ۗ

او معافی کوونکی دی د خلقو نه،

وَاللَّهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ ﴿١٣٤﴾

او الله تعالیٰ مینه کوی د (داسے) احسان کوونکو سره۔

ذکر دی د پاره د فرق د منافقانو نه، او د ایمان بالله والرسول امر ذکر دے په ے کښ نو هغے سره لفظ د امنوا بالله ورسله مناسب دے۔ (وَاللهُ اَعْلَمُ)

۱۳۴:۔ د متقیانو تقسیم کوی دوه قسمونو ته اول اعلیٰ قسم او په دے آیت کښ د هغوی څلور صفات ذکر کوی۔

اول صفت ئے الَّذِينَ يُنفِقُونَ فِي السَّرَّاءِ وَالضَّرَّاءِ، په دے جمله کښ څو اقوال دی اول دا چه مراد خوشحالی او خفګان دے، دویم وسعت او تنګسیا د حال، دریم داسے انفاق چه انسانی طبیعت او فطرت پرے خوشحاله وی یا په طبیعت باندے بوج وی، څلورم صحت او مرض۔ او انفاق عام دے واجباتو مستحباتو ته او خرچ کول په دعوت او جهاد کښ او ذوی الحقوقو ته خپل حق سپارل۔ او په دے تعمیم کښ اشاره ده چه د عبادت مالیه او ادا د حقوق مالیه ته دوی د پاره هیڅ حالت مانع نه ګرځی۔ او دا دلیل دے د سخاوت د نفس۔

دویم صفت د اعلیٰ قسم متقیانو، وَالْكَاظِمِينَ الْغَيْظَ، کاظم، په اصل کښ د مشک د خُلے بندول دی کله چه ډک شی او غَيْظ برانګیخته کیدل او په طیش کښ راتلل دی په وخت د یو ناکاره خبرے په لیدلو سره۔

او كَظْمُ الْغَيْظَ ، چپ كول او غلے كول دَ غصے وى سره دَ قدرت نه په واقع كولو او پوره كولو دَ هغے بانده (قرطبى)۔
او دَ غيظ او غضب په مينځ كښ فرق دا دے چه دَ غضب آثار په اندامونو بانده ښكاره كيږى بغير دَ اختيار دَ شخص نه او دَ غيظ آثار صرف په زړه كښ وى او دَ غيظ سره اراده دَ انتقام نه وى شامل او دَ غضب سره انتقامًا بدله اخستل لازم وى۔
او دَ غضب نسبت الله تعالىٰ ته هم كيديشى مناسب دَ شان دَ هغه سره او دَ غيظ نسبت هغه ته نشى كيدے۔ دا صفت په سوره شورىٰ ۳۷ كښ هم ذكر دے۔ په ديكښ اشاره ده چه دَ غيرت دَ نفس دَ وجے نه وربانده غصه راځى او دَ هغے اجراء هم كولے شى دَ هغے پوره كولو وس او طاقت ئے وى ليكن دَ حسن خلق دَ وجے نه هغه غصه په ځان تيره كړى او دا دليل دے دَ صبر او استقامت۔
دريم صفت ئے وَالْعَافِيْنَ عَنِ النَّاسِ، دے۔ يعنى هغه څوك چه دَ دوى سره بدى او ظلم كوى دَ مال يا دَ بدن يا دَ عزت په باره كښ يا دَ دوى يو خادم او مملوك وى او يو غلطى ترينه اوشى نو هغوى ته معافى كوى او درګذر ترينه كوى۔ او دا صفت په اصل كښ دَ مخكښ صفت تكمله ده يعنى غصه يو ځل تيره كړى نو كيديشى چه بيا غصه شى نو او فرمائيل ئے چه دَ كَظْمُ دَ غيظ نه روستو معافى اوكړى نو دَ معافى كولو نه روستو بيا غصه نه واپس كيږى او دَ دے صفت ذكر او مرتبه په سوره شورىٰ ۴۰، بقره ۲۳۷، نساء ۱۴۹، تغابن ۱۴ او سوره نور ۲۲ كښ دے او په دے سره امر په آلعمران ۱۵۹، مائده ۱۳، بقره ۹ او اعراف ۱۹۹ كښ دے۔ دا آيتونه دلالت كوى چه عفو كول ډير لوے صفت دے۔
او څلورم صفت وَاللّٰهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِيْنَ دے۔ دلته دَ إحسان نه مراد انعام كول دى روستو دَ عفو او درګزر كولو دَ جرم نه نو دا مستقل صفت شو۔ او په دے بانده دليل دَ على بن

حسین رضی الله عنهما واقعه ده چه د هغې وینزې هغه ته د
اودس اوبه اچولې نو د هغې د لاس نه کوزه په هغه بانندې
پریوتله او سریې زخمی شو نو هغې زردا اولوستل چه
والکاظمین الغیظ نو هغه ورته اوئیل چه غصه مې تیره کړه
بیا هغې اولوستل والعافین عن الناس نو هغه اوفرمائیل چه
معاف مې کړې نو بیا هغې اولوستل وَاللهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِيْنَ
نو هغه اوئیل ځه لاړه شه آزاده دې کړې د الله د رضا دپاره
دا واقعه آلوسی ذکر کړیده او قرطبی د میمون بن مهران په
باره کښ ذکر کړیده۔

فائده له:۔ اول صفت ئې په صیغه د فعل مضارع سره ذکر
کړې دوځکه چه د هغې ضرورت نوې نوې راځي او روستو
صفات ئې په صیغه د اسم فاعل سره ذکر کړل د وجې د
ثبات او استمرار د دغه صفاتو نه۔

فائده ۲:۔ آلوسی او قاسمی ذکر کړیدی چه د دې صفتونو
مناسبت د ربوا والو په مقابله کښ دې چه د مؤمنانو صفتونه
د هغوی په خلاف کښ دی۔ چه ربوا والا مال نه ورکوی
بلکه زیاتې کوی او مؤمنان انفاق کوی دا رنګ ربوا کوونکی
په مسکینانو او قرضدارانو بانندې ظلم او غصّه کوی او مؤمنان
غصّه نه کوی بلکه معافی او احسان کوی۔ دا رنګ مناسبت ئې
دې د واقعې د احد سره چه نبی صلی الله علیه وسلم زخمی
کړې شو او حمزه رضی الله عنه شهید کړې شو او نور صحابه
کرام هم شهیدان شول د کافرانو د لاس نه او د بعضې مؤمنانو نه
خطائې اوشوه چه مورچه ئې پریښودله او څوک د میدانِ جنګ
نه لاړل نو د دې ټولو په باره کښ الله تعالی نبی صلی الله علیه
وسلم او صحابه کرامو ته د دې اخلاق حسنو ترغیب ورکړو۔ نو
دا د واقعې د احد د پاره چه روستو آیتونو کښ ذکر کوی تمهید
شو۔

وَالَّذِيْنَ اِذَا فَعَلُوْا فَاحِشَةً

او دوی هغه کسان دی چه کله اوکړی بشکاره ګناه

اَوْ ظَلَمُوْآ اَنْفُسَهُمْ ذَكَرُوا اللّٰهَ

یا ظلم اوکړی په ځان باندے نو یاد کړی الله تعالیٰ لره

فَاسْتَغْفَرُوْا لِذُنُوْبِهِمْ ۚ قف وَمَنْ

نو بخنه اوغواړی دپاره د ګناهونو خپلو او څوک دے

يَّغْفِرُ الذُّنُوْبَ اِلَّا اللّٰهُ ۚ قف

چه اوبخی ټول ګناهونه سیوا د الله تعالیٰ نه،

وَلَمْ يُصِرُّوْا عَلٰى مَا فَعَلُوْا

او نه کلکیږی په هغه ګناه چه اوکړی

وَهُمْ يَعْلَمُوْنَ ﴿۱۳۵﴾

او دوی پوهیږی۔

ش ۱۳۵:- په دیکښ د متقیانو دویم قسم او د هغوی درے صفتونه ذکر کوی۔ قرطبی وئیلی دی چه دوی اګرچه د مخکښ قسم نه په درجه کښ ښکته دی لیکن الله تعالیٰ د رحمت د وجے نه د هغوی سره یو ځائے کړیدی۔

د دوی اول صفت وَالَّذِيْنَ اِذَا فَعَلُوْا فَاحِشَةً اَوْ ظَلَمُوْآ اَنْفُسَهُمْ ذَكَرُوا اللّٰهَ، دے۔

د فَاحِشَةً او د ظُلم د نَفْس په باره کښ فرق په ډیرو وجوهو سره دے۔ اول دا چه فَاحِشَةً ګناهونه کبیره دی او ظُلم ګناهونه صغیره دی، دویم دا چه فاحشه زنا کول او ظلم د هغے نه ښکته ګناهونه دی یعنی پردی ښځے ته کتل یا لاس لګول، دریم دا فاحشه ټول ګناهونه دی او ظلم عمل کول دی بغیر د دلیل او حجت نه۔ دا ټول اقوال یو بل ته قریب دی تخصیص ته

حاجت نشته۔

ذَكَرُوا اللهَ، ذكر دَ قلب دا دے چه دَ الله تعالیٰ عذاب او سوال و جواب دَ قیامت او الله تعالیٰ ته پیش کیدل یاد کړی یا دَ الله تعالیٰ عفو او احسان او مغفرت یاد کړی یا دا فکر اوکړی چه الله تعالیٰ په زمانه تپوس کوی۔ او ذکر دَ ژبے دا دے چه الفاظ دَ توبے او استغفار ذکر کړی۔ خو ذکر دَ ژبے سره دَ ذکر دَ زړه نه ضروری دے هسے ژبے او دَ شونډو خوځول فائده نه ورکوی۔ دویم صفت یٔ فَاسْتَغْفَرُوا لِذُنُوبِهِمْ دے۔ قرطبی وئیلی دی چه هر هغه کلمه او دعا چه په هغے کښ طلب دَ مغفرت وی نو هغه وئیل استغفار دے او په حدیث دَ ترمذی کښ دا کلمه ذکر ده (اَسْتَغْفِرُ اللهَ الَّذِیْ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ الْحَیُّ الْقَیُّوْمُ وَاَتُوْبُ اِلَیْهِ) او دا رنګ دَ سید الاستغفار کلمات لوستل غوره دی لیکن شرط ورسره دَ زړه استغفار دے داسے نه ده لکه چه دے زمانه کښ بعضے خلق داسے دی چه په ګناه کښ اخته وی او تسبیح یٔ په لاس کښ وی او کلمه دَ استغفار لولی یا صرف ژبه خوزوی او زړه یٔ غافله وی دا خو استهزاء کول دی او قرآن کریم کښ دی چه لا تتخذوا آیٰت الله هزوًا (بقره)۔

وَمَنْ يَّغْفِرُ الذُّنُوْبَ اِلَّا اللهُ، ابن عطیه وئیلی دی چه دا جمله معترضه ده نفسونو ته دَ ترغیب ورکولو دَ پاره چه توبه اوکړی او دَ پاره دَ تعلق ساتلو دَ استغفار دَ الله تعالیٰ سره فقط او دَ هغه نه دَ عفو امید لرل۔ مَنْ، استفهام انکاری دے نو کلام منفی اوګرځیدو دَ دے وجے نه ئے مستثنیٰ مرفوع (په پیښ سره) ذکر کړیده۔

وَلَمْ يُصِرُّوا عَلٰى مَا فَعَلُوْا، دا دَ هغوی دریم صفت دے۔ ابن عطیه وئیلی دی چه اصرار قصد کول دی په همیشوالی دَ یو کار باندے، او ټړلو ته هم وئیلے شی۔ او صاحب اللباب وئیلی دی چه مضبوط والے په یو څیز باندے۔ او په

اصطلاح کښ روانیدل دی په یو ګناه باندے قدم په قدم اوخوف الٰهی ورله نه منع کوی (قتاده)۔
او سدی وئیلی دی چه مراد ترینه پړ۔بخودل د استغفار دی او چپ کیدل د هغې نه سره د ګناه کولو نه۔ او د دے دلیل حدیث د ابو داؤد دے د ابو بکر رضی الله عنه نه چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی چه اصرار نه دے کړے هغه چا چه استغفار ئے کړیدے اګر چه په ورځ کښ اویا کرته ګناه ته راګرځی۔
وَهُمْ يَعْلَمُونَ، متعلق د علم عام دے یعنی پوهیږی چه دا ګناه ده او پوهیږی چه الله تعالیٰ توبه قبلوی او بخنه او مغفرت کوونکے دے۔ ابوحیان وئیلی دی چه د دے آیتونو نه معلومه شوه چه مؤمنان درے طبقات دی۔ متقون، توبه کوونکی او اصرار کوونکی په ګناه باندے۔ او وعده د جنت د اول دواړو د پاره ده او د اصرار کوونکو حال پټ دے۔
او آلوسی د ترمذی روایت نقل کړیدے چه هر کله دا آیت نازل شو نو ابلیس خپلو لښکرو ته چغه کړه او ځان له ئے په سر باندے خاورے اچولے او ځان ته ئے د هلاکت خیرے اوکړے، نو لښکر ورته اوئیل چه څه وجه ده نو هغه ورته اوئیل چه دا آیت نازل شویدے۔ نو هغوی ورته اوئیل چه مونږ دوی ته د خواهشاتو دروازے راپرانیزو نو توبه او استغفار به نه کوی او د خپلو خواهشاتو باره کښ به ګمان کوی چه مونږ په حقه لار باندے یو نو ابلیس په دے جواب باندے خوشحاله شو۔ هر مسلمان د ځان سره فکر اوکړی چه مخکښ ذکر شوی درے قسمونو کښ د ده تعلق د کوم یو قسم سره دے او په خپل حال د رحم اوکړی او د خواهش پرستئ نه دے ځان ډیر لرے اوساتی۔

أُولَٰئِكَ جَزَاؤُهُم مَّغْفِرَةٌ
دغه کسان بدله دَ دوی بخنه ده

مِّن رَّبِّهِمْ وَجَنَّاتٌ تَجْرِي
دَ طرف دَ رب دَ دوی نه او باغونه دی چه بهیږی

مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ
لاندے دَ هغے نه ولے همیشه به وی دوی

فِيهَا ۚ وَنِعْمَ أَجْرُ الْعَامِلِينَ (۱۳۶)
په هغے کښ او ښه دے ثواب دَ داسے عمل کوونکو۔

۱۳۶:۔ دا بشارت اخرویه دے مخکښ دواړه قسمونو ته۔
أُولَٰئِكَ جَزَاؤُهُم مَّغْفِرَةٌ مِّن رَّبِّهِمْ، په توبه کښ دوه څیزونه مطلوب وی۔ اول امن دَ عذاب نه هغے ته اشاره ده په دے لفظ سره۔

او دویم ثوابونه حاصلول دی او هغے ته اشاره ده په دے جمله کښ چه وَجَنَّاتٌ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا وَنِعْمَ أَجْرُ الْعَامِلِينَ، الف لام په الْعَامِلِينَ کښ عهدی دی یعنی عمل کوونکی په مخکښ دوه آیتونو بانداے۔
لفظ دَ أَجْرُ روستو دَ جزاء نه دِ یر تاکید او ترغیب دے دَ حصول دَ جنت دَ پاره ځکه چه په دیکښ اشاره ده چه دا عمل کوونکی پشان دَ مزدورانو او دَ مزدور اجرت ورکول دَ عدل او انصاف صفت دے او هغه ښه لائق دے دَ الله تعالیٰ سره۔

قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِكُمْ سُنَنٌ ۙ

یقیناً تیر شوي دي ستاسو نه مخکښې واقعات

فَسِيرُوا فِي الْأَرْضِ فَانْظُرُوا

نو اوګرځئ په زمکه کښې نو اوګورئ (په عبرت سره)

كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُكَذِّبِينَ ﴿۱۳۷﴾

څنګه وو انجام د دروغژن ګڼونکو.

ت ۱۳۷ :- د بشارت نه روستو په صفاتو د تقوٰی سره تخویف دنیوی دے په ذکر د مکذبینو سره د پاره د بچکیدلو د صفاتو د مکذبینو نه.

قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِكُمْ سُنَنٌ ، خَلَوٌ ، په اصل کښې یوازے کیدلو ته وئیلے شی او د مضی (تیریدلو) د پاره هم استعمالیږی دلته د تیریدلو معنیٰ مراد ده - سُنَنٌ ، جمع د سُنَّةٌ ده هغه طریقے ته وئیلے شی چه انسان هغے لره لازم اونیسی - او قرطبی وئیلی دی چه تیغے لارے ته وئیلے شی- دارنګ هغه لار چه د هغے اقتداء کیدیشی که د خیر وی او که د شر وی د دے وجے نه سنت حسنه او سنت سیئه دواړه استعمالیږی- امت ته هم وئیلے شی او سنن امثالو ته هم وئیلے شی - زجاج وئیلی دی چه دلته مضاف پټ دے یعنی اهل سنن - نو اکثر مفسرینو وئیلی دی چه دلته مراد د دینه سنن الهلاک دی په دلیل د ذکر د مکذبینو سره یعنی طریقے د هلاک او د عذاب یا نمونے د هلاکت د مکذبینو-

فَسِيرُوا فِي الْأَرْضِ ، دا فاء د پټ شرط د وجے نه ده یعنی إِنْ شَكَكْتُمْ فَسِيرُوا ، که تاسو په دغه سنتو کښې شک کوئ نو اوګرځئ په زمکه کښې - او سِيرُوا (ګرځیدل) دوه قسمه دی اول ګرځیدل په خپو (قدمونو) سره دویم په معلومولو او لوستلو د واقعاتو د هغوی سره -

هٰذَا بَيَانٌ لِّلنَّاسِ وَهُدًى

دا (قرآن) وضاحت دے دَپاره دَ خلقو او لار ښودنكے دے (په دليلونو سره)

وَّمَوْعِظَةٌ لِّلْمُتَّقِيْنَ ﴿۱۳۸﴾

او نصيحت دے دَ پاره دَ فائدے دَ متقيانو.

وَلَا تَهِنُوْا وَلَا تَحْزَنُوْا وَاَنْتُمُ

او سستي مۀ كوئ (دَ جهاد نه) او مه بے حوصلے كيږئ (په تكاليفو) او تاسو

الْاَعْلَوْنَ اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ﴿۱۳۹﴾

اوچت (شان والا) يئ كه تاسو پوره ايمان والا يئ.

فَانْظُرُوْا، نه مراد نظر كول دي دَ عبرت دَ پاره.
كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُكَذِّبِيْنَ، كَيْفَ، كښ طريقے دَ هلاك او سبب دَ هغے دواړو مراد دي.
۱۳۸:۔ په ديكښ ترغيب دے قرآن كريم ته روستو دَ ترهيب نه په حال دَ مكذبينو سره.يعنې دَ مكذبينو دَ حال نه بچكيدلو دَ پاره قرآن كريم ته رجوع اوكړئ.
هٰذَا، اشاره ده قرآن ته (حسن بصري وغيره) يا حال دَ تير شوے مكذبينو.او په دے آيت كښ دَ قرآن كريم درے صفات ذكر كړيدي.اول صفت.بَيَانٌ، يعنې وضاحت دَ لارو دَ هدايت او دَ گمراهئ او دا عام دے ټولو خلقو ته دَ دے وجے نه ئے لِلنَّاسِ، اوئيلو.دويم وَهُدًى، مقصد ته رسول په اهتداء حاصلولو سره.دريم صفت منع كول دَ لارے دَ گمراهئ نه چه په لفظ دَ وَمَوْعِظَةٌ، كښ مراد دے.او دا روستو دواړه خاص دي په متقيانو پورے دَ دے وجے نه ئے لِلْمُتَّقِيْنَ، اوئيلو.
او دا صفات جامع دي دَ ټولو صفتونو دَ كمال دَ كتاب چه په نورو آيتونو كښ ذكر دي.
۱۳۹:۔ دا عطف دے په معنیٰ دَ مخكښ آيت باندے يعنې

لِتَهْتَدُوْا اَوْ تَتَّعِظُوْا بِالْقُرْآنِ وَلَا تَهِنُوْا رهدايت او وعظ حاصل کړئ په قرآن سره او سستئ مه کوئ) او په دېکښ مقصد تسلي ورکول دي او ذکر دَ آدابو دے ۔ دَ هن په اصل کښ ضعف او کمزوروالے دے په يو سبب سره لکه ر وَهَنَ الْعَظْمُ مِنِّيْ مريم) او نرم والي ته هم وئيلے شي ۔ ابن عطيه وئيلي دي چه دا منع ده دَ وهن نه په حال دَ جنگ او خصومت کښ کله چه په حقه وي ۔ او ټول قوت به صرف کوي دَ حصول دَ حق دَپاره او دا خائسته خوئي دے ۔ او هر چه حديث کښ راغلي دي اَلْمُؤْمِنُوْنَ هَيِّنُوْنَ لَيِّنُوْنَ ۔ مؤمنان به ضعف ښکاره کوونکي او نرمي کوونکي وي ۔ نو دا په حالت دَ رضا کښ يعني دَ مؤمنانو په مينځ کښ يو بل سره دغه معامله ده ۔ او دلته دَ وهن نه مراد کمزوروالے دَ ارادے ، عزيمت او دَ همت دے او بدلول دَ شجاعت او بهادرئ دي په بزدلئ سره او بدلول دَ يقين دي په شک سره او دَ اميد په نا اميدئ سره او دا ټول منع دي ۔ ابن عاشور وئيلي دي چه وهن او حزن په اصل کښ دوه حالتونه دَ نفس دي رغير اختياري) خو دَ عقيدے دَ نا اميدئ نه پيدا کيږي نو په هغے کښ دَ دشمن سره مقابله او جهاد پريښودل مرتب شي ۔ نو دَ دے دواړو نه نهي په اصل کښ دَ دے دَ اسبابو نه نهي ده ۔ او دا رنګ مينه او محبت دَ دنيا او دَ مرګ نه يره کول دَ اسبابو دَ وهن نه دي لکه چه په حديث دَ تَدَاعِيْ عَلَيْكُمُ الْاُمَمُ کښ راغلي دي ۔ او منع دَ وهن په سورة محمد ۳۵ کښ شته او دا رنګ عدم وهن دَ مخکنو صالحينو صفت دے لکه په سورة آلعمران ۱۴۶ کښ دي ۔ او دلته معنٰي دا ده چه په جهاد کولو کښ کمزوروالے مه ښکاره کوئ په وجه دَ مصيبتونو سره چه تاسو ته په واقعه دَ احد کښ اورسيدل ،

وَلَا تَحْزَنُوْا ، حزن افسوس کول دي په فوت کيدلو روړکيدلو) دَ يو خيز سره يعني دَ بعضے ملګرو دَ شهيد کيدلو په سبب او فوت کيدلو دَ غنيمت سره مه غمژن کيږئ ۔

وَاَنْتُمُ الْاَعْلَوْنَ ، دَ علو نه مجازي علو مراد ده يعني غالب کيدل

إِنْ يَّمْسَسْكُمْ قَرْحٌ فَقَدْ

که رسیدلے دے تاسو ته زخم (نو صبر کوئ) نو یقینًا

مَسَّ الْقَوْمَ قَرْحٌ مِّثْلُهٗ ط

رسیدلے دے قوم کافرانو ته زخم دَ دے پشان

وَتِلْكَ الْاَيَّامُ نُدَاوِلُهَا بَيْنَ

او دا ورځے مونږ اړوو رااړوو په مینځ

په دشمنانو په دنیا کښ په جنګونو کښ او په دلیلونو کښ۔ او په آخرت کښ اوچتوالے په اعتبار دَ درجاتو سره دے په جنت کښ۔ قرطبی وئیلی دی چه دا فضیلت دَ دے امت دے چه الله تعالیٰ دا سے خطاب موسیٰ علیه السلام ته کړے وو په (اِنَّكَ اَنْتَ الْاَعْلٰى (طٰه) سره چه هغه پیغمبر وو او دلته خطاب صحابه کرامو ته او نور دَ امت مسلمانانو ته دے او واؤ په وانتم الاعلون کښ دَ عطف دَ پاره دے نو دا بشارت دے یا حال دے په طور دَ علت سره دَ پاره دَ نهی دَ وهن او حزن نه یعنی چه تاسو اوچت یئ نو دَ دے وجے نه وهن او حزن مه کوئ۔

اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ، اِنْ ، شرطیه دے یا په معنیٰ دَ اِذْ ، سره دے یعنی دا علو دَ کامل ایمان دَ وجے نه دہ۔ قرطبی وئیلی دی چه دَ دے وجے نه دَ احد دَ واقعے نه روستو صحابه کرامو ته ذلت او هزیمت نه دے رسیدلے۔ دَ ایمان نه مراد ایمان شرعی کامل دے چه هغه سبب دے دَ غلبے په کافرانو باندے یا دَ دینه مراد تصدیق دَ وعدے دَ الله تعالیٰ دے په نصرت او غلبے سره۔

النَّاسِ ج وَلِيَعۡلَمَ اللّٰهُ الَّذِينَ

دَ خلقو کښ (دَ پاره دَ حکمتونو) او دَ دے دَ پاره چه ښکاره کړی الله تعالیٰ هغه کسان

اٰمَنُوۡا وَيَتَّخِذَ مِنۡكُمۡ شُهَدَآءَ ط

چه ایمان ئے راوړے دے او جوړ کړی ستاسو نه شهیدان

وَاللّٰهُ لَا يُحِبُّ الظّٰلِمِيۡنَ ﴿۱۴۰﴾

او الله تعالیٰ نه خوښوی ظالمان۔

نمبر ۱۴۱:۔ دَ دے آیت نه تر ۱۷۷ پورے دَ غزوه احد دَ حالاتو سره تعلق لری۔ په دے کښ جواب دے دَ منافقانو دَ شبهے چه هغوی وئیل که دا نبی صلی الله علیه وسلم په حق دین باندے وے نو دوی به ولے شکست خوړلے وو په احد کښ نو په دے آیت کښ اول او دویمه جمله کښ تسلی ده مؤمنانو ته او دریم او څلورم جمله کښ دوه علتونه دَ هزیمتِ احد ذکر کوی۔

اِنۡ يَّمۡسَسۡكُمۡ قَرۡحٌ ، مراد دَ مَسّ نه اصابت (رسیدل) دی لیکن په لفظ دَ مس کښ اشاره ده قلت دَ مصیبت دَ دنیا ته۔

قَرۡحٌ ، راغب وئیلی دی چه په زور دَ قاف سره اثر دَ هغه زخم ته وئیلے شی چه دَ خارج نه پیدا شی (یعنی په توره غشی وغیره) او په پیښ دَ قاف سره هغه زخم دے چه دَ باطن دَ بدن نه پیدا شی لکه دانه ننکے۔

دلته مراد معنیٰ حقیقی ده یعنی هغه زخمونه چه په احد کښ صحابه کرامو ته رسیدلے وو او په هغے سره بعضے شهیدان شول او بعضے ژوندی زخمیان وو یا مراد دَ دے نه معنیٰ مجازی ده یعنی هزیمت په احد کښ چه مشابه دَ زخم دَ بدن سره دے۔

فَقَدۡ مَسَّ الۡقَوۡمَ ، دا دلیل دَ جزاء دے او جزا پټه ده یعنی فَلَا تَهِنُوۡا وَلَا تَحۡزَنُوۡا وَلَا تَشۡكُوۡا فِيۡ نَصۡرِ اللّٰهِ۔ (مه کمزوری کیږئ مه غمژن کیږئ، شک مه کوی په مدد دَ الله تعالیٰ کښ)۔ اَلۡقَوۡمَ ، مراد دَ دینه مشرکین مکه دی

چه په غزوه بدر کښ وژلے شوی وو۔
قَرۡحٌ مِّثۡلُهٗ، مراد دَ دے نه غزوه بدر ده چه په هغے کښ اویا کافران اوژلے شول او اویا قید کړے شول۔ او پښان دَ ۱۶۵ دے یا مراد هغه کافران دی چه په احد کښ څه دپاسه شل کسان او وژلے شول۔ او مِثۡلُهٗ، مثلیت په عدد کښ مراد نه دے په نفس رسیدلو دَ زخم او دَ مرګ کښ مراد دے۔
وَتِلۡكَ الۡاَیَّامُ نُدَاوِلُهَا بَیۡنَ النَّاسِ، دا جمله هم تسلی ده مؤمنانو ته یعنی هزیمت دَ احد عقوبت نه دے بلکه دے ته مُدَاوَلَةَ دَ ایام وئیلے شی۔
وَتِلۡكَ الۡاَیَّامُ کښ اشاره ده یوم دَ بدر او یوم دَ احد ته چه په مخکښ جمله کښ هغے ته اشاره اوشوه۔ مُداولة، نقل دَ څیز دَ یو نه بل ته دارنګ نمبروار راتلل دی او دلته مراد دَمداولے دَ ایام نه دا دے چه همیشه په یو حال باندے نه دی بلکه کله خوشحالی او کله غم۔ کله تکلیف او کله آرام یعنی په بدر کښ سختی راوستله په کافرانو باندے نو په احد کښ سختی راوستله په مؤمنانو باندے۔ هغه اول عقاب دے او دویم تادیب او سبب دَ کفارے دَ ګناهونو دے۔
وَلِیَعۡلَمَ اللّٰهُ الَّذِیۡنَ اٰمَنُوۡا، دا اول علت دے۔ واو، دَ پاره دَ عطف دے په پټ معطوف علیه باندے چه هغه پټ معطوف معلول دے دَ پاره دَ نُدَاوِلُهَا۔ یعنی لِتَکُوۡنَ کَیۡتَ وَ کَیۡتَ مِنَ الۡحِکَمِ وَلِیَعۡلَمَ۔ یا دلته فعل پټ دے دَ واو نه روستو یعنی فَعَلَ ذٰلِكَ لِیَعۡلَمَ۔ ابوحیان وئیلی دی چه دا طریقه مختصره او غوره ده او ابن عطیه هم غوره کړے ده۔
سوال:۔ مذهب دَ اهل سنت (سلف صالحینو) دا دے چه الله تعالی عالم دے په ټولو کلیاتو او جزئیاتو باندے مخکښ دَ وجود دَ هغے نه لکه چه آیاتونه دَ اثبات دَ علم دَ الله تعالی په دے باندے دلالت کوی او دلته فعل مضارع دلالت کوی چه علم دَ الله تعالی روستو دَ واقعاتو نه پیدا کیږی او دا سے

آیا تونه نور هم شته دے لکه روستو پ۲ ۱۴۲ او کهف پ۱۵ ۱۲، بقره پ۲ ۱۴۳، سورة عنکبوت پ۲۰ ۳، او سورة محمد پ۲۶ ۳۱ ؟
جواب :- هر کله چه په صریح نصوصو سره علم دَ الله تعالیٰ په هر کلی او جزئی باندے مخکښ دَ پیدائش دَ هغے نه ثابت دے نو په دے آیاتو کښ تاویلات دی چه دَ سلف صالحینو نه نقل دی چه دا اطلاق دَ علم دے په لازم دَ هغے باندے چه ظهور او تمیز دے یعنی چه ظاهر کړی او جدا کړی الله تعالیٰ۔ ابن عطیه وئیلی دی چه ښکاره کړی په وجود کښ ایمان دَ هغه چا چه مخکښ هغه ته معلوم وو چه دوی به ایمان راوړی نور تاویلات دَ مفسرینو دے معنی ته راجع دی۔ بیا دلته علم په معنیٰ دَ معرفت دے چه یو مفعول غواړی او الذین آمنوا نه ایمان کامل مراد دے یا علم پخپله معنیٰ دے او دویم مفعول پټ دے یعنی اَلَّذِیْنَ اٰمَنُوْا مُتَمَیِّزِیْنَ بِسَبَبِ صَبْرِهِمْ وَثُبَاتِهِمْ عَلَی الْاِیْمَانِ مِنَ الْمُنَافِقِیْنَ - یعنی چه ښکاره کړی الله تعالیٰ صبرناک او پاخه مؤمنانو لره دَ منافقانو نه۔

وَیَتَّخِذَ مِنْكُمْ شُهَدَآءَ ، دا دویم علت دے مراد دَ دینه شهادت فی سبیل الله دے لکه چه په احد کښ صحابه کرام شهیدان شو او دا ډیر لوے کرامت او فضیلت دے۔ صاحب اللباب وئیلی دی چه قتل کړے شوو ته دَ شهداء وئیلو څلور وجے دی۔
اوله وجه دا ده چه ارواح ئے دارالسلام ته حاضر شوی دی۔
دویمه وجه، الله تعالیٰ او ملائکو شهادت کړے دے دَ دوی دَ پاره په جنت سره نو شهید په معنیٰ دَ مشهود دے۔ دریمه وجه، دوی په قیامت کښ دَ انبیاء علیه السلام او صدیقینو سره شهادت کوی په خلقو باندے۔ څلورمه وجه دا ده چه دوی شهیدان شی نو سمدستی جنت ته حاضر کړے شی او دا اولے وجے ته نزدے ده۔

وَاللهُ لَا یُحِبُّ الظّٰلِمِیْنَ ، دا جمله معترضه جواب دَ سوال دے۔ سوال دا دے چه په احد کښ کافرانو ته الله تعالیٰ غلبه ورکړه

وَلِيُمَحِّصَ اللّٰهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

او دَ دے دَپاره چه پاک کړی الله تعالیٰ ایمان والا

وَيَمْحَقَ الْكٰفِرِيْنَ ﴿۱۴۱﴾

او ختم کړی کافران۔

نو دا خو دلالت کوی په محبت باندے حاصل جواب دَ هغے هغه حکمتونه دی چه ذکر شول دا په محبت باندے دلالت نه کوی نو مراد دَ ظَالِمِيْنَ نه مشرکان دی یا مراد دَ دوی نه منافقان دی چه هغوی دَ احد نه واپس راغلل ځکه چه په هغوی کښ صلاحیت دَ دے خبرے نه وو چه دَ هغوی نه شهیدان جوړ کړی۔

۱۴۱:۔ په دے کښ ئے دوه علتونه نور ذکر کړیدی۔

وَلِيُمَحِّصَ اللّٰهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا، تمحیص، پاکول دَیو څیز دی دَخیرے او دَ عیب نه او فرق په مینځ دَ محص او فحص کښ دادے چه محص پاکول دی دَ هغه څیز نه چه متصل وی او فحص پاکول دی دَ هغه څیز نه چه مخلوط وی او منفصل وی۔ نو دلته مراد پاکول دی دَګناهونو نه یا مراد دَ دینه ابتلاء او امتحان دے۔

وَيَمْحَقَ الْكٰفِرِيْنَ، محق په لغت کښ نقصان او اهلاک (یعنی یو څیز دَ بیخه لرے کول) چه هغے ته استیصال وئیلے کیږی۔ او دا دواړه علتونه دَ دے وجے نه جمع کړل چه دوی شریک دی په معنیٰ دَ ازاله کښ لیکن په محص کښ ازاله دَ آثارو ده او په محق کښ ازاله دَ ذات دَ څیز ده۔ او دَ دے دواړو تعلق دَ نُدَاوِلُهَا سره داسے دے چه کله مداوله په مؤمنانو باندے وی یعنی مغلوب شی نو محص دَ ګناهونو دَ مؤمنانو به راشی او کله چه مداوله په کافرانو باندے راشی یعنی هغوی مغلوب شی نو محق دَ کافرانو به راشی۔ او مراد دَ الکافرین نه هغه دی چه په جنګ دَ احد کښ شریک وو ایمان ئے قبول نه کړو نو هغوی ټول هلاک کړے شو۔

أَمْ حَسِبْتُمْ أَنْ تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ

آیا گمان کوئ تاسو چه داخل به شئ جنت ته

وَلَمَّا يَعْلَمِ اللّٰهُ الَّذِيْنَ جٰهَدُوْا

او تر اوسه پورے نه دی ښکاره کړی الله تعالیٰ مجاهدین

مِنْكُمْ وَيَعْلَمَ الصّٰبِرِيْنَ ﴿۱۴۲﴾

ستاسو نه او نه دی ښکاره کړی صبرناکو لره ۔

س۱۴۲:۔ دا هم علت دے لیکن دا ئے په جدا طریقے سره ذکر کړو ځکه چه حصول دَ جنت اعلیٰ مقصد دے۔

اَمْ ، په معنیٰ دَ بَلْ سره دے۔ حَسِبْتُمْ اَنْ تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ ، مراد دَ دخول نه په دخول اول سره یا په غیر دَ مشقتونو نه۔

وَلَمَّا يَعْلَمِ اللّٰهُ الَّذِيْنَ جٰهَدُوْا مِنْكُمْ ، لَمَّا ، په هغه نفی کښ استعمالیږی چه تر زمانه حال پورے وی او امید ئے کیدیشی په راتلونکی وخت کښ او دا قول دَ سیبویه دے او نفی دَ علم دَ الله تعالیٰ کنایه وی دَ نفی وجود دَ څیز نه یا يَعْلَمِ په معنیٰ دَ يظهر او يميز سره دے۔ او خطاب په دیکښ هغه کسانو ته دے چه په غزوه احد کښ دَ میدان جنګ نه ګرځیدلے وو نو ګویا که دَ دوی ګمان وو چه په غیر دَ ادا کولو دَ فریضے دَ جهاد او صبر نه به جنت کښ داخل شو۔

وَيَعْلَمَ الصّٰبِرِيْنَ ، په دیکښ اَنْ پټ دے نو جمع کول دَ جهاد او دَ صبر کولو مراد دی الصَّابِرِيْنَ ئے په صیغه دَ اسم سره ذکر کړو اشاره ده چه صبر همیشه ضروری دے۔ او جَاهَدُوْا ئے په فعل سره ذکر کړو ځکه چه جهاد (قتال) کله کله وی۔

وَلَقَدْ كُنْتُمْ تَمَنَّوْنَ الْمَوْتَ

او یقیناً آرمان کولو تاسو دَ شهادت

مِنْ قَبْلِ أَنْ تَلْقَوْهُ ص فَقَدْ

مخکښ دَ مخامخ کیدلو دَ هغې نه نو یقیناً

رَأَيْتُمُوهُ وَأَنْتُمْ تَنْظُرُونَ ﴿١٤٣﴾ ع ۱۴ ۵

او لیدلو تاسو هغه او تاسو کتل۔

۱۴۳:۔ په دے آیت کښ هم ذکر دَ یو علت دے یعنی تاسو شهادت طلب کوو نو هغه تاسو ته حاصل شو۔

وَلَقَدْ كُنْتُمْ تَمَنَّوْنَ الْمَوْتَ ، په حدیث سره ثابت دہ چه کوم صحابه بدر ته نه وو حاضر شوے او دَ شهادت فی سبیل الله فضیلتونه ئې اوریدلے وو نو هغوی تمنا دَ شهادت اوکړله نو سبب دَ هغې غزوه احد جوړه شوله نو بعضے کسانو خو ډیر شجاعت اوکړو او شهیدان شول لکه انس بن نضر رضی الله عنه او بعضے دَ میدان جنګ نه واپس شول نو په دے آیت کښ دواړه ډلو ته خطاب دے په طریقه دَ تغلیب سره یعنی شهیدان هم مخاطب شول حکماً او ژوندی کسان مخاطب شول حقیقتاً او دادا ولے ډلے دَ پاره تسلی شوه او دویمے ډلے دَ پاره زورنه دہ۔

سوال:۔ په حدیث صحیح سره ثابت دہ چه تمنیٰ کول دَ مرګ منع دہ که په زړه کښ وی او که په ژبه وی؟

جواب ۱:۔ دلته مراد دَ موت نه شهادت دے چه بنا دے په صبر او استقامت دَ زړه او په جهاد بانده (قرطبی) او تمنا دَ شهادت منع نه دہ۔

جواب ۲:۔ مراد دَ دے نه سبب دَ مرګ دے چه جهاد دے (اللباب)۔

مِنْ قَبْلِ أَنْ تَلْقَوْهُ ، ضمیر راجع دے موت ته یا راجع دے دشمن ته ځکه چه لقاء په مینځ دَ دوه کسانو کښ استعمالیږی۔

وَمَا مُحَمَّدٌ إِلَّا رَسُولٌ ج قَدْ

او نه دے محمد (صلی الله علیه وسلم) مگر رسول دے ، یقینًا

خَلَتْ مِنْ قَبْلِهِ الرُّسُلُ ط

تیرشوي دي مخکښ دَ هغه نه رسولان

أَفَإِن مَّاتَ أَوْ قُتِلَ انقَلَبْتُمْ

آیا نو که دے وفات شو یا اُوژلے شو اوړئ به تاسو

عَلَىٰ أَعْقَابِكُمْ ط وَمَن يَنقَلِبْ

په پوندو خپلو باندے ، او څوک چه واوړیدلو

عَلَىٰ عَقِبَيْهِ فَلَن يَضُرَّ اللَّهَ

په پوندو خپلو باندے نو هیچرے ضرر نشي ورکولے الله تعالیٰ ته

فَقَدْ رَأَيْتُمُوهُ ، دلته رویت دَ سترګو مراد دے نو یو مفعول غواړي یا رویت په معنیٰ دَ علم سره دے نو دویم مفعول پټ دے یعني حاضرًا او مراددَ دے نه رویت دَ سبب دَ مرګ دے چه هغه جهاد دے۔

وَأَنتُمْ تَنظُرُونَ ، دا خفش نه نقل دي چه دا جمله په طور دَ تاکید ده یعني مراد دَ رویت نه په مخکښ جمله کښ دَ سترګو لیدل مراد دي نو مفعول دَ دے هم (سبب) موت دے۔
او زجاج وئیلي دي چه مراد دَ دے تاکید نه دا دے چه تاسو په سترګو کښ هیڅ مرض او علت نه وو - او ابن الانباری وئیلي دي چه دَ رویت نه مراد مخاخ کیدل دي او نظر نه مراد په سترګو لیدل دي یا مراد دا دے چه تاسو نظر کوو نبی صلی الله علیه وسلم او شهیدانو ته۔

شَيۡـًٔا ؕ وَسَيَجۡزِى اللّٰهُ الشّٰكِرِيۡنَ ﴿۱۴۴﴾

هيڅ څيز او زر دے چه بدله به ورکړی الله تعالیٰ ثابت قدمو ته۔

۱۴۴ :- ربط ۱ : مخکښ دوه آیاتو کښ زجرونه وو په مختلف اسبابو سره اول سبب ترک دَ جهاد او دَ صبر دویم سبب تمنا دَ شهادت نو په دے آیت کښ دریم سبب ذکر کوی چه هغه دَ میدان نه تلل په سبب دَ آوریدلو دَ خبر دَ مرګ دَ نبی صلی الله علیه وسلم۔

ربط ۲ :- مخکښ آیت کښ موت دَ صحابه کرامو ذکر شو نو دے آیت کښ ذکر کوی چه دغه موت په نبی صلی الله علیه وسلم باندے هم راځی نو دَ هغه دین به نه پریږدئ۔

وَمَا مُحَمَّدٌ اِلَّا رَسُوۡلٌ ، مفسرینو لیکلی دی چه په واقعه دَ احد کښ عبدالله بن قمِئه کافر رسول الله صلی الله علیه وسلم په ګټے سره اوویشتلو نو دَ هغه سر او مخ زخمی شول او رباعی غابښ ئے شهید شو نو پریوتلو او صحابه ترینه لاړه بیا هغه دَ طلحه رضی الله عنه دَ پاسه قدم کیخودلو او کټ ته اوختلو نو عبدالله بن قمِئه بیا اراده اوکړه چه رسول الله صلی الله علیه وسلم لره قتل کړی لیکن مصعب رضی الله عنه دَ هغه مخے ته اودریدلو تر دے چه شهید شو نو ابن قمِئه آواز اوکړو (یا ابلیس آواز اوکړو) چه محمد صلی الله علیه وسلم قتل کړے شوے دے نو صحابه ټول خواره واره شول نو رسول الله صلی الله علیه وسلم آواز ورکړو اِلَيَّ عِبَادَ اللّٰه (ما ته راشئ اے بندګانو دَ الله) نو دَ دے په باره کښ دا آیت نازل شو۔ نو په دے جمله کښ ردکوی دَ دوی دَ ګمان چه په نبی صلی الله علیه وسلم باندے مرګ نه راځی او په دے سره ازاله کوی دَ هغه هیبت چه په صحابه کرامو باندے راغلی وو په سبب دَ آوریدلو دَ آواز دَ مرګ دَ هغه۔

وَمَا ، مَا نافیه ده۔ مُحَمَّدٌ ، دا نوم (علم) دَ رسول الله

صلی الله علیه وسلم دے څوے دَ عبد الله او هغه څوئے دَ عبد المطلب ، نیکه وړله دا نوم کیخودلے وو چا ترینه تپوس اوکړو چه ستاسو په مشرانو کښ دا نوم دَ هیچا نه وو دا دے ولے کیخودلو هغه اُوئیل چه زما امید دے چه خلق به دَ ده صفتونه کوی او دا وزن محمد او تحمید تکثرت حمد دَ ده بان دے دلالت کوی یعنی په مخلوق کښ دے دَ کمال بشریت دَ صفاتو حقدار دے ۔ اهل لغت وئیلی دی چه هر څوک چه جامع دَ صفاتو دَ خیر وی (په مخلوق) کښ نو هغه ته محمد وئیلے شی (اللباب) ۔

اِلَّا رَسُوۡلٌ قَدۡ خَلَتۡ مِنۡ قَبۡلِهِ الرُّسُلُ ، دا جمله یا صفت دے دَ رسول دَ پاره یا جمله مستانفه ده بنا په اول بان دے دیته قصر قلب وئیلے شی مقصد دا دے چه دا خیال څوک کوی چه دا رسول چه قتل شی یا مړ شی نو دَ ده ملت به هم ختم شی او دا خیال دَ منافقانو وو نو الله تعالیٰ اوفرمائیل چه دے دا سے رسول دے چه دَ ده نه مخکښ رسولان تیر شویدی او دَ هغوی ملتونه ختم شوی نه دی نو دَ ده په مرګ او قتل سره هم دَ ده ملت نه ختمیږی ۔ او بنا دویم احتمال (جمله مستانفه) شی نو دا قصر افراد دے یعنی که څوک دا خیال اوکړی چه رسول دے نو دَ قتل او دَ مرګ نه به بچ وی نو الله تعالیٰ اوفرمائیل چه دے صرف رسول دے الله نه دے چه دَ مرګ یا قتل نه بچ وی او جمله مستانفه په طریقه استدلال ده چه دَ ده نه مخکښ رسولان تیر شویدی څوک مړه شوی دی څوک قتل شویدی ۔

اَفَاۡئِنۡ مَّاتَ اَوۡ قُتِلَ انۡقَلَبۡتُمۡ عَلٰۤى اَعۡقَابِكُمۡ ، همزه ، دَ پاره دَ استفهام انکاری دے او فاء ، دَ پاره دَ عطف ده په پټه جمله بان دے یعنی اَتُؤۡمِنُوۡنَ بِهٖ مُدَّةَ حَيَاتِهٖ فَاِنۡ مَّاتَ اِرۡتَدَدۡتُمۡ (آیا تاسو په ده بان دے په حال دَ

ژوند دَ ده کښ ایمان راوړے او چه مړشی یا قتل کړے شی نو بیا به مرتد کیږئ) ۔
اِنْقِلَاب عَلَى الْاَعْقَاب ، پسے شا تللو ته وئیلے شی او دا کنایه ده دَ مرتد کیدلو نه یا دَ تختیدلو نه شا طرف ته ۔
سوال :۔ صحابه کرام خو مرتد شوے نه دی نو دا لفظئے ولے اوئیل ؟
جواب ۱ :۔ همزه دَ انکار او اِنْ دلالت کوی چه ارتداد واقع شوے نه دے لیکن په طور دَ زورنے سره وئیلی دی۔
جواب ۲ :۔ مراد دَ دے نه دَ میدان جنگ نه تختیدل دی او دا خو په احد کښ واقع شویدی ۔
سوال :۔ په آیاتونو کښ دَ هغه ﷺ موت ذکر دے نو معلومه شوه چه قتل په هغه باندے نه راځی نو قتل ئے ولے ذکر کړو ؟
جواب :۔ دا قضیه شرطیه ده وجود دَ جزئین نه غواړی صرف صدق دَ ملازمے غواړی ۔
سوال :۔ اَوْ قُتِلَ او دَ شک دَ پاره دے او په الله تعالیٰ باندے شک محال دے ؟
جواب :۔ دا اَوْ دَ پاره دَ شک نه دے بلکه دَ پاره دَ تسویه دَ امرینو دے یعنی په مرگ دَ هغه او قتل دواړو سره دَ هغه دین نه ختمیږی ۔ او قتل ئے دَ دے وجے نه ذکر کړو چه په واقعه دَ احد کښ دَ هغه دَ قتل کیدلو پروپیګنډه کړے شوے وه ۔
وَمَنْ يَّنْقَلِبْ عَلٰى عَقِبَيْهِ فَلَنْ يَّضُرَّ اللّٰهَ شَيْئًا نکره په سیاق دَ نفی کښ ده دَ عموم دَ پاره ده یعنی هیڅ ضرر نه لږ او نه ډیر بلکه ضرر ورکوی ځان خپل ته چه خپل دنیا او آخرت ئے برباد کړو ۔
وَسَيَجْزِى اللّٰهُ الشّٰكِرِيْنَ ، دلته مراد دَ شکر نه مضبوطوالے دے په دین باندے روستو دَ وفات دَ نبی صلی الله علیه وسلم نه

(ابن عطیه) یعنی په وفات دَ نبی صلی الله علیه وسلم دَ دوی زړه کښ هیڅ شک شبه باقی نه پاتیکیږی - ابن جریر دَ علی رضی الله عنه روایت ذکر کړیدے چه ابوبکر امین (امیر) دَ شاکرینو دے او امین دَ الله تعالیٰ دے په دلیل دَ واقعې دَ وفات دَ نبی صلی الله علیه وسلم سره چه روستو ذکر کیدیشی -

فائده ۱:- دَ لته مفسرینو حدیث دَ بخاری وغیره نقل کړے دے حاصل ئے دا دے چه هر کله نبی صلی الله علیه وسلم وفات شو نو بعضے صحابه کرامو لکه عمر رضی الله عنه دا نه منله او وئیل ئے چه هغه مړ شوے نه دے (او قرطبی وئیلی چه عثمان رضی الله عنه ژبه بنده شوه او علی رضی الله پټ شو) او ابوبکر رضی الله عنه دَ سنح (دا دَ مدینے نه بهر ځائے وو په هغے کښ دَ ده بانړه وه) نه راغے نو اختلاف ئے اولیدلو نو کور دَ عائشه رضی الله عنها ته داخل شو نو دَ نبی صلی الله علیه وسلم دَ مخ مبارک نه ئے څادر لرے کړو یقین ئے راغے چه مړ دے نو مخ ئے ورله ښکل کړو او په ژړا شو او وئیل چه الله تعالیٰ په تا بانده دوه کرته مرګ نه راولی په مقرر مرګ سره ته وفات شوے ئے - بیا مسجد نبوی ته داخل شو منبر ته اوختلو او وئیل ئے چه - مَنْ کَانَ یَعْبُدُ اللهَ فَاِنَّ اللهَ حَیٌّ لَا یَمُوْتُ وَمَنْ کَانَ یَعْبُدُ مُحَمَّدًا فَاِنَّ مُحَمَّدًا قَدْ مَاتَ (چا چه دَ الله تعالیٰ بندګی کوله نو الله تعالیٰ ژوندے دے مرګ ورباندے نه راځی او چا چه دَ محمد صلی الله علیه وسلم بندګی کوله (بالفرض) نو هغه خو مړ شوے دے) او بیا ئے دا آیت کریمه اولوستلو نو عمر رضی الله عنه اووئیل ګویا چه دا آیت ما نه وو لوستلے مګر په دغه ورځ کښ او اُوتل خلق دَ مسجد نه او دا آیت ئے په کوڅو دَ مدینے کښ لوستلو (یعنی اوس دَ ټولو توجه دے خبرے ته پیدا شوه اګر چه آیت دوی دَ مخکښ نه هم لوستلو معلومه شوه چه کله یو انسان

وَمَا كَانَ لِنَفْسٍ أَنْ تَمُوتَ

او نه ده ممکن یو نفس لره چه مړ شي

إِلَّا بِإِذْنِ اللّٰهِ كِتٰبًا مُّؤَجَّلًا ؕ

بغیر د اجازت د الله تعالیٰ نه دا لیکل دي مقرر،

وَمَنْ يُّرِدْ ثَوَابَ الدُّنْيَا

او څوک چه غواړي (په عمل خپل) بدله د دنیا

یو آیت یا حدیث یا کتاب کښې مسئله لولي لیکن توجه ئې ورته نه وي نو ځکه عمل پرې نه کوي۔

نو دا آیت او حدیث او وسیله د ابوبکر رضی الله عنه صریح دلیل دے په مرګ د نبي صلی الله علیه وسلم باندے نو څوک چه د هغه د موت نه انکار کوي نو هغه د دے آیت او حدیث او د اجماع د صحابو نه منکر دے۔

فائده ۲:- مرزا قادیاني د قد خلت من قبله الرسل نه دلیل نیولے دے چه خلت په معنیٰ د مرګ باندے اخلي او الف لام الرسل کښې د استغراق دپاره دي نو معلومه شوه چه عیسیٰ علیه السلام مړ دے؟

جواب:- دا دے چه الف لام د استغراق دپاره دي لیکن خلت په معنیٰ د تیریدلو دے او تیریدل عام دي که په مرګ سره وي او که صرف د زمانے په لحاظ سره او که مرګ مراد دے نو الله تعالیٰ به لفظ د ماتت وئیلے وے۔او د خلا، تفسیر په سورة بقره ۱۳۴ کښې تیر شویدے چه په قرآن کریم او حدیث کښې هیڅ ځائے په معنیٰ د مرګ سره نه دے راغلے او که بالفرض د مرګ معنیٰ مراد شي نو عیسیٰ علیه السلام په وجه د نورو قطعي دلیلو نو سره (چه په دے سورة کښې مخکښې ذکر شویدي) خاص کړے شویدے هسې د خضر او الیاس علیهما السلام د تخصیص دپاره صحیح دلیل نشته۔

نُؤْتِهٖ مِنْهَا ۚ وَمَنْ يُّرِدْ ثَوَابَ

مونږ ورکوو هغه ته د هغې نه او څوک چه اوغواړي بدله

الْاٰخِرَةِ نُؤْتِهٖ مِنْهَا ؕ

د آخرت (په عمل خپل سره) ورته به کړو هغه ته د هغې نه

وَسَنَجْزِي الشّٰكِرِيْنَ ﴿١٤٥﴾

او ځامخا بدله به ورکړو شکر کناروته (چه د آخرت په نیت عمل کوي)

۱۴۵:- ربط ۱ :- هر کله چه تیر شوی آیت کښ تختیدل د میدان جهاد نه ذکر شول نو اوس تیزي ورکوي په جهاد باندې چه د مرګ خو په نیټه دے نو د مرګ د ویرې نه تیخته مه کوئ۔

ربط ۲ :- دارنګ مخکښ مرګ د نبي صلی الله علیه وسلم ته اشاره اوکړه نو اوس تسلي ورکوي امت ته چه په نبي صلی الله علیه وسلم باندې وفات راځي پشان د نورو نفسونو په اذن د الله تعالیٰ په مقرر نیټې سره نو تاسو دین مه پریږدئ۔ او دا تعلیم د ادب دے چه مرګ د په نیټه باندې کنړي۔

وَمَا كَانَ لِنَفْسٍ، خبر مقدم دے۔ اَنْ تَمُوْتَ، د هغې اسم مؤخر (روستو) دے او مراد د دینه امتناع عادتي یا عقلي ده چه مرګ د نفسونو ممتنع او محال دے بغیر د اذن د الله تعالیٰ او مراد د نفس نه عام دے نفس د نبي صلی الله علیه وسلم ته هم شامل دے۔ اَنْ تَمُوْتَ، موت نه عام مراد دے که خپل مرګ وي او که قتل وي ځکه څوک چه قتل کړیشي نو هغه هم په خپله نیټه باندې مړ شوے دے۔

اِلَّا بِاِذْنِ اللّٰهِ، مراد د اذن نه مشیئت (اراده) د الله تعالیٰ ده یا اذن ورکول د الله تعالیٰ دی ملك الموت لره په قبض د روح باندې۔

كِتٰبًا مُّؤَجَّلًا، کتاب په معنیٰ د قضاء یا په معنیٰ د لیکلے

شوی په لوح محفوظ کښ کتابًا مفعول مطلق دے دَ پټ فعل دَ پاره کَتَبَ اللّٰهُ کتابًا مؤجلًا - مقرر شویدی په نیټه مُعَینے سره چه نه مخکښ کیږی او نه روستو کیږی -

وَمَنْ یُّرِدْ ثَوَابَ الدُّنْیَا نُؤْتِهٖ مِنْهَا ، په یکښ اشاره ده تقسیم دَ خلقو ته په اعتبار دَ عملونو دَ هغوی په ژوند دنیوی کښ او داخل دی په کښ هغه کسان چه دَ احد په ورځ کښ بعضو دَ غنیمت اراده کړے وه نو په هغے باندے مشغول شول او بعضے کسانو دَ غنیمت اراده نه ده کړے او کلک پاتے شول په خپل ځائے باندے نو شهیدان شول - دَ یُرِدْ ، متعلق پټ دے یعنی یِعَمَلِهٖ که عمل دَ دین وی لکه عبادت او جهاد او که عمل دنیوی وی یعنی کسب دَ دنیا تجارت وغیره او یُرِدْ کښ نیت مراد دے یعنی چه هر عمل سره چه دَ دنیا دَ گټلو نیت کړے وی نو دَ دنیا عوض ورته ملاویږی یعنی په جهاد کښ غنیمت ملاؤ شی یا شهرت ملاو شی چه دا غازی او مجاهد دے او په تجارت سره وارثانو ته تو مال ملاو شی لیکن دَ آخرت ثواب ورته نه ملاویږی په دلیل دَ سوره هود ۱۶ ، شوری ۲۰ ، اسراء ۱۸ -

وَمَنْ یُّرِدْ ثَوَابَ الْاٰخِرَةِ نُؤْتِهٖ مِنْهَا ، دلته هم بعمله پټ دے او مراد ترینه دینی عمل دے لکه جهاد تلاوت دَ قرآن او نور عبادات - داسے په سورة اسراء ۱۹ کښ او سورة شوریٰ ۲۰ کښ دی - او په دے سره دَ عوض دَ دنیا نه محروم نه کړځی او هغے ته اشاره ده په دے قول سره چه وَسَنَجْزِی الشّٰکِرِیْنَ ، دلته مراد دَ شکر نه عمل کول دی په نیت دَ آخرت سره او سَنَجْزِی کښ جزاء دَ دنیا آخرت دواړه مراد ده - مخکښ آیت کښ نسبت دَ جزاء الله تعالیٰ په خاص نوم دَ هغه سره وو په هغے کښ ډیر عظمت او لذت دَ جزاء ته اشاره وه او هغه دَ ابو بکر رضی الله عنه مقام وو او دلته نسبت په طریقه دَ متکلم سره دے عظمت

وَكَأَيِّنْ مِّنْ نَّبِيٍّ قٰتَلَ ۙ

او ډير پيغمبران جنگونه کړيدي

مَعَهٗ رِبِّيُّوْنَ كَثِيْرٌ ۚ فَمَا

دَ هغوى په ملگرتيا کښ ډيرو خلقو نو سستي اونکړه

وَهَنُوْا لِمَآ اَصَابَهُمْ

هغوى (دَ جهاد کولو نه) دَ وجې دَ تکليفونو نه چه اورسيدل هغوى ته

فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَمَا ضَعُفُوْا

په لار دَ الله تعالىٰ کښ او نه کمزورى شوى وو په مقابله دَ دشمن کښ

وَمَا اسْتَكَانُوْا ۗ وَاللّٰهُ يُحِبُّ

او نه تابع شوى وو دشمن ته او الله تعالىٰ مينه کوى

الصّٰبِرِيْنَ ﴿۱۴۶﴾

دَ صبرناکو سره۔

بانديے دلالت کوى ليکن لذت دَ مخکښ نه کمے درجے والا دے
ځکه چه دَ عامو صحابه کرامو مجاهدينو يا عامو مؤمنانو مقام
ته اشاره ده۔
۱۴۶ :۔ په ديکښ هم زورنه ده اصحاب احد ته په ګرځيدلو دَ
هغوى دَ ميدان جهاد نه چه دا هم يو قسم وهن اوضعف وو
او تيزى ورکول دى په اتباع دَ مخکنو انبياؑ عليهم السلام
او مجاهدينو سره په ترک دَ وهن اوضعف او استکانت سره
او په ديکښ نور آداب ذکر کوى دَ پاره دَ دفع دَ هزيمت۔
وَكَأَيِّنْ مِّنْ نَّبِيٍّ ، لفظ دَ کائن په اصل کښ مرکب دے
دَ کافِ تشبيه او اَىٌّ نه او په دے ترکيب کښ معنىٰ دَ کثرت
مراد ده پشان دَ کم خبريه۔ او په وقف کښ دا نون
حذف کول پکار وو ځکه چه دا تنوين دے ليکن صحابه کرامو

دا لیکلی وو په مصحف عثمان کښ او په نیز دَ ابو حیان دا مستقله کلمه ده وضع کړے شوے ده دَ پاره دَ تکثیر۔
قٰتَلَ مَعَهٗ رِبِّيُّوْنَ كَثِيْرٌ، په دے عبارت کښ ډیر وجوه دی اول دا چه قاتل کښ ضمیر راجع دے نبی ته یا كَاَيِّنْ ته كَاَيِّنْ مِّنْ نَّبِيٍّ مبتدا ده او قاتل ئے خبر دے او معه ربیون جمله حالیه ده۔ دویم دا چه قاتل صفت دے دَ نبی دَ پاره او معه ربیون خبر دے۔ دریم دا چه خبر پټ دے او قاتل صفت دے دَ نبی دَ پاره كَاَيِّنْ مِّنْ نَّبِيٍّ قٰتَلَ مَضٰى او معه ربیون حال دے څلورم دا چه دَ قاتل فاعل ربیون دے او دا ټوله جمله خبر دے دَ پاره دَ کاین۔ لیکن راجح په دیکښ اوله توجیه ده په قرینه دَ حال دَ احد سره چه په هغے کښ نبی صلی الله علیه وسلم په قتال کښ یواځے پاتے شوے وو او مناسب دے دَ اَفَاۡئِنْ مَّاتَ اَوْ قُتِلَ سره او دا قول دَ ابن عباس رضی الله عنهما نه طبری وغیره نقل کړیدے۔ ربیون، په دیکښ اقوال دی۔ اول دا جمع دَ رِبِّی ده منسوب دے رب ته او کسره دَ راء بناء په تغییر دَ نسبت باندے ده دا قول دَ اخفش دے۔ دویم قول دا جمع دَ رُبَّةٌ ده په معنیٰ دَ جماعه سره بیا په دے کښ اقوال دی په روایت دَ ابن عباس رضی الله عنهما او مجاهد او عکرمه وغیره کښ جماعات کثیره دی او په روایت دَ حسن کښ علماء و اتقیاء مراد دی او په قول دَ زید کښ ربیون اتباع دی او ربانیون والیانو ته وئیلے شی او په قول دَ ابن مسعود رضی الله عنه کښ زرګونه خلق مراد دی۔ او معنیٰ دَ جملے دا ده چه ډیر انبیاؤ قتال کړیدے او دَ هغوی سره دَ هغوی ملګری باقی پاتے وو دَ میدان جنګ نه تختیدلے نه وو نو تاسو هم دَ هغوی اقتداء اوکړئ۔
فَمَا وَهَنُوْا لِمَاۤ اَصَابَهُمْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ، وهن په معنیٰ دَ عجز او بزدلے سره دے په لِمَا، کښ مَا، موصوله یا مصدریه دے او مَا اَصَابَهُمْ، کښ اشاره ده قتل دَ نبی

وَمَا كَانَ قَوْلَهُمْ إِلَّآ

او نه وه وینا دَ دوی (دعا دَ دوی) مګر

أَنْ قَالُوا رَبَّنَا اغْفِرْ لَنَا

داچه وئیل ئې اے ربه زموږ او بخښه موږ ته

ذُنُوبَنَا وَإِسْرَافَنَا فِي أَمْرِنَا

ګناهونه زموږ او زیاتے کول زموږ په کار دَ دین زموږ کښ

وَثَبِّتْ أَقْدَامَنَا وَانْصُرْنَا

او کلک کړے قدمونه زموږ او غلبه راکړے موږ له

عَلَى الْقَوْمِ الْكَافِرِينَ ﴿١٤٧﴾

په قوم کافرانو باندے۔

او دَ ملګرو دَ هغوی ته۔

وَمَا ضَعُفُوا، ضعف، په اصل کښ نقصان دَ قوت ته وئیلے شی او په ضعف دَ رای او عقل کښ هم استعمالیږی دلته مراد کمزوری دَ همت ده چه دَ هغے وجے نه قتال پریږدی او سبب ئې زخمی کیدل دَ ملګرو دی۔

وَمَا اسْتَكَانُوا، مراد دَ دینه عاجزی کول او تابع کیدل دَ دشمن دی په طریقه دَ صلح کولو یا مرتد کیدلو سره۔ او په دے آیت کښ درے درجے ذکر کړیدی په طریقه دَ تنزل سره دَ اعلی نه ادنی ته ځکه چه وهن پریخودل دَ جهاد دی دَ وجے دَ غلبے دَ خوف دَ دشمن نه او دَ محبت دَ دنیا نه او ضعف پریخودل دَ جهاد دی دَ وجے دَ کمزورے دَ ایمان او شکوکو شبهاتو پیدا کیدلو نه په زړه کښ او استکانه تابع کیدل دَ دشمنانو او دَ هغوی دین ته اوړیدل دی یعنی مجاهدینو لره دَ دے درے واړه حالاتو نه اجتناب کول فرض دی او علاج دَ دے دَ پاره صبر دے

نو دے پسے ئے ذکر کړو۔

وَاللّٰهُ يُحِبُّ الصّٰبِرِيْنَ ، یعنی دغه درے حالاتو ته بچ کیدل صبر دے یا صبر کول په هر تکلیف دَ جهاد باندے دَ دغه درے امورو ته سبب دَ حفاظت دے۔

۱۴۷ :- په دے آیت کښ هم صفت دَ ربیون ذکر کوی چه سره دَ ما قبل صفتونو نه دوی تضرع او اقرار دَ خپل قصور الله تعالیٰ پورے خاص کړیدی او په دیکښ تعلیم دَ ادب دے ټولو مجاهدینو ته په لوستول دَ داسے دعا سره۔

وَمَا كَانَ قَوْلَهُمْ اِلَّآ اَنْ قَالُوْا ، قَوْلَهُمْ خبر مقدم دے او اِلَّآ اَنْ قَالُوْا ئے اسم مؤخر دے مراد دَ قول اول نه دعا کول دی۔ او دا حصر اضافی دے یعنی هغوی په داسے وخت کښ ستاسو پښان مضطرب اقوال وئیلی نه دی۔ چه تاسو بعضو وئیل چه راځئ چه دَ ابوسفیان نه امن طلب کړو او بعضو وئیل چه راځئ دَ خپل دین نه واپس شو او بعضو وئیل چه مونږ مجبورے سره جنګ له راغلی یو او بعضو وئیل چه الله ته التجاء کوئ۔

رَبَّنَا اغْفِرْ لَنَا ذُنُوْبَنَا وَاِسْرَافَنَا فِيْٓ اَمْرِنَا ، ذُنُوْبَ ته مراد واړه ګناهونه دی او اِسْرَافِ ته مراد غټ ګناهونه دی یا ذنوب نه مراد عام ګناهونه دی او دَ اسراف نه دَ نبی دَ اطاعت نه تجاوز کول دی او دَ دے تخصیص ئے په دے مقام کښ دَ دے وجے نه اوکړو چه په احد کښ بعضے صحابه کرامو دَ نبی صلی الله علیه وسلم دَ یو امر نه خلاف کړے وو لکه چه روستو ذکر کیږی۔

وَثَبِّتْ اَقْدَامَنَا وَانْصُرْنَا عَلَى الْقَوْمِ الْكٰفِرِيْنَ ، هر کله چه ګناهونه سبب دَ سستے کولو او دَ ترک جهاد او بندیدلو دَ نصرت الهیه وی نو دَ دے وجے نه دُعا دَ مغفرت ئے مقدم راوړه په دعا دَ تثبت او دَ نصرت باندے۔ قرطبی وئیلی دی چه په انسان باندے لازم دی چه هغه دعاګانے استعمالوی چه په کتاب الله او سنت رسول الله صلی الله علیه وسلم کښ راغلی وی او نورے دِ پریږدی ځکه الله تعالیٰ هغه دعاګانے چه خپل

فَاٰتٰهُمُ اللّٰهُ ثَوَابَ الدُّنْيَا

نو ورکړه دوی ته الله تعالیٰ بدله د دنیا

وَحُسْنَ ثَوَابِ الْاٰخِرَةِ ؕ وَاللّٰهُ

او ښائسته بدله د آخرت ، او الله تعالیٰ

يُحِبُّ الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۱۴۸﴾ ع ۱۵

مينه کوی د ښائسته عمل کوونکو سره۔

نبی د پاره غوره کړے دی او کیفیات د دعاء ئے هم خود لے دی د هغه کیفیا تو مخالفت هم جائز نه دے۔

۱۴۸ :۔ په دے آیت کښ قبولیت د دغه دعا ذکر دے هر کله چه د دوی په دعا کښ یو طلب د آخرت وو چه اغْفِرْ لَنَا ذُنُوْبَنَا وَ اِسْرَافَنَا ، دے دویم طلب د امر د دنیا وو چه ثبت او نصرت دے نو په استجابت کښ دواړه ذکر شول لیکن په لف نشر غیر مرتب سره یعنی د دنیا ثواب ئے مخکښ ذکر کړو چه ثواب الدنیا دے او د آخرت ثواب ئے روستو ذکر کړو چه حسن ثواب الاخرة دے په اجابت کښ امور د دنیا مخکښ ذکر کړل چه دا په وجود کښ مخکښ دی او په دعا کښ امور د آخرت مخکښ ذکر کړے وو ځکه چه د د بیون په نیز آخرت اهم دے۔

فَاٰتٰهُمُ اللّٰهُ ثَوَابَ الدُّنْيَا ، ثَوَابَ الدُّنْيَا ، کښ نصرت شکست د دشمن ښائسته نوم کېتل او نور د ایمان په سینو کښ زیا تیدل داخل دی۔ فَاٰتٰهُمُ ، فعل ماضی په معنیٰ د مضارع سره ده په طریقه د وعدے سره۔

وَحُسْنَ ثَوَابِ الْاٰخِرَةِ ، ثواب د آخرت ټول ښائسته دے د هغے سره حسن ذکر کړو او د دنیا د عوض سره تکلیف هم وی نو د هغے سره حسن نه دے ذکر کړے۔

فائده :۔ هر کله چه تیر شوے آیت کښ اراده ذکر وه

يَآ أَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِنْ تُطِيْعُوا

اے ایمان والو که تاسو خبره اومنئ

الَّذِيْنَ كَفَرُوْا يَرُدُّوْكُمْ عَلٰى

دَ کافرانو واپس به اوګرځوی تاسو (دَ ایمان نه) په

اَعْقَابِكُمْ فَتَنْقَلِبُوْا خٰسِرِيْنَ (۱۴۹)

پوندو ستاسو باندے نو شئ به تاوان والا۔

نو هلته یې دَ ایتاء (ورکولو) سره مِنْ ذکر کړو چه په تبعیض باندے دلالت کوی او دلته خو مجاهده او تضرع او طلب ذکر دے نو دلته یې مِنْ نه دے ذکر کړے۔

وَاللّٰهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِيْنَ ، مراد دَ احسان هغه معنیٰ ده چه په حدیث جبرئیل کښ ذکر ده چه عبادت دَ الله تعالیٰ کوئ چه ګویا تاسو الله تعالیٰ لره وینئ او که داسے نه وی نو دا عقیده ساتئ چه الله تعالیٰ تاسو وینی او دیته اخلاص وئیلے شی نو دا شرط دے دَ قبولیت دَ هر عبادت او په هغے کښ دعا داخل ده۔

۱۴۹: ربط :- هر کله چه ترغیب ذکر شو اطاعت کولو دَ مجاهدینو ته چه ښائسته صفات پکښ وو نو اوس تحذیر ورکوی دَ اطاعت دَ دشمنانو نه چه کافران دی او په دیکښ هم ادب ذکر کوی دَ پاره دَ دفع دَ هزیمت۔

يَآ أَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِنْ تُطِيْعُوا الَّذِيْنَ كَفَرُوْا ، دا هر کافر ته عام دے خصوصًا هغه کافران او منافقان چه په وخت دَ غزوه احد کښ مؤمنانو ته یې وئیل چه دا نبی په حقه نه دے ځکه چه په احد کښ کمزورے شو نو خپل دین ته واپس شئ۔ او په اعتبار دَ عموم سره چه دَ هیڅ کافر هیڅ خبره منل او دَ هغه اطاعت کول جائز نه دی۔ ابوحیان وئیلی دی چه په اجماع سره (او په اشاره دَ نصوصو سره) دَ دے نه (خودونکی دَ لارے) او خاوند دَ داسے رای چه مصلحت

بَلِ اللّٰهُ مَوْلٰكُمْ ج وَهُوَ

بلکه	الله تعالیٰ	مولیٰ ستاسو دے	او	هغه

خَيْرُ النّٰصِرِيْنَ ﴿۱۵۰﴾

غوره دے د امدادیانو نه۔

یکښ ښکاره وی او ښځه کتابیه (منکوحه) چه مشوره د خیر ورکوی مستثنیٰ دی۔

يَرُدُّوْكُمْ عَلٰٓى اَعْقَابِكُمْ، مراد د دینه مرتد کیدل دی د دین اسلام نه۔

فَتَنْقَلِبُوْا خٰسِرِيْنَ، په دیکښ خسران د دنیا او آخرت دواړه داخل دی خسران د دنیا د دشمن تابعداری او هغه ته محتاج کیدل چه سبب د ذلت د دنیا دے او خسران د آخرت محروم کیدل د ثواب ابدی نه او داخلیدل په عذاب همیشه کښ - او په لفظ د انقلاب کښ اشاره ده چه په دین اسلام کښ عزت د دنیا او د آخرت دے هغه بالکل بدلیږی په کفر سره۔

ف۱۵۰ :- په دیکښ تثبیت او تسلی ورکول دی او په لفظ د بَلِ اللّٰهُ کښ اعراض دے د مخکښ نه یعنی کافران په هیڅ حال کښ اهل د اطاعت نه دی ځکه چه په هغوی کښ صفت د ولایت نیشته صفت د ولایت په الله تعالیٰ پورے خاص دے۔

مَوْلٰكُمْ، په معنیٰ د ناصر او متولی د کارونو او حفاظت کوونکے دے۔

وَهُوَ خَيْرُ النّٰصِرِيْنَ، غوره والے په ډیر وجوهو سره دے اول دا چه د هغه په نصرت کښ د بل چا نصرت ته حاجت نیشته او دویم د هغه نصرت په دنیا او آخرت کښ دے۔ دریم دا چه د هغه علم او قدرت عام دے وخت د نصرت او په حاجت د انسان باندے پوره علم او قدرت لری۔

سَنُلْقِىْ فِىْ قُلُوْبِ الَّذِيْنَ

په سبب دَ دے چه خاخا اچوو مونږ په زړونو دَ

كَفَرُوا الرُّعْبَ بِمَآ اَشْرَكُوْا

کافرانو کښې هیبت په سبب دَ دے چه دوی برخے والا جوړ کړیدی

بِاللّٰهِ مَا لَمْ يُنَزِّلْ بِهٖ

دَ الله تعالیٰ سره هغه څوک چه الله تعالیٰ رالیږلے نه دے په شرکت دَ هغوی

سُلْطٰنًا ج وَمَاْوٰىهُمُ النَّارُ ط

هیڅ دلیل او ځائے دَ دوی دَ ورتللو اور دے

وَبِئْسَ مَثْوَى الظّٰلِمِيْنَ ﴿۱۵۱﴾

او ناکاره ځائے دَ اوسیدلو دَ مشرکانو دے۔

ف۱۵۱:- په دیکښ ذکر دَ یوے طریقے دَ نصرت الٰهی دے او دَ
تنبیه دَ نصرت دَ پاره ئے صیغه دَ جمع متکلم راوړلے په
سَنُلْقِىْ، القاء، په اصل کښ په اجسادو کښ استعمالیږی او
دلته مجاز دے دَ پیدا کولو نه په ډیر والی سره۔
الرُّعْبَ، په اصل کښ ډک والی ته وئیلے شی نو په عرف کښ ډیرے
ویرے ته وئیلے شی چه زړه ترینه ډک شی۔ او دا وعده واقع
شوه په ورځ دَ احد کښ ځکه چه سره دَ غلبے دَ کافرانو نه هغوی
په غیر دَ څه سبب نه واپس شول او بیا ئے په نیمه لارے کښ
اراده دَ دوباره حمله کولو اوکړه نو بیا هم اویریدل۔ دا رنګ
دا وعده دَ راتلونکی وخت دَ پاره هم وه ځکه چه روستو دَ واقعے
دَ احد نه الله تعالیٰ کافران په هر جنګ کښ مغلوب کړیدی او
دین اسلام الله تعالیٰ غالب کړیدے او بعضے علماؤ وئیلے دی چه
اوس هم دَ هر مخالف دَ دین اسلام په زړه کښ یو قسم رعب
موجود دے حال دَ کافرانو په دے باندے ګواه دے دَ دے
وجے نه دَ دین اسلام دَ مغلوبیت دَ پاره هر وخت خپل کوششونه کوی.

بِمَآ اَشۡرَكُوۡا بِاللّٰهِ ، باء ، سببیه ده او مَا ، مصدریه ده - اشراک ، په هر قسم سره سبب دَ رعب دے ځکه چه مشرک دَ مخلوق نه ویره کوی چه عاجز دی او دَ هغوی نه نصرت غواړی او دا ئے لویه بے عقلی ده نو دَ مجاهدینو نه ضرور رعب لری - او دا رنګ مشرک دَ آخرت ثواب نه منی نو مرګ ورته ډیر سخت ښکاره کیږی او دنیا غوره کوی نو دَ مجاهدین دَ مقابلے کولو نه ضرور ویره کوی -

مَا لَمۡ یُنَزِّلۡ بِهٖ سُلۡطٰنًا دَ بِهٖ ، مضاف پټ دے باشراکه وبعبادته - سُلۡطَان ، په معنیٰ دَ حجت او دَ برهان دے - او دَ نفی دَ انزال نه مراد نفی دَ حجت ده لیکن هر کله چه دَ اثبات دَ عقیدے او دَ حکم دَ پاره دلیل منزله ضروری دے دَ دے وجے نه نفی دَ نزول ئے کړیده - قرطبی وئیلی دی چه معنیٰ دا ده چه عبادت دَ اوثانو په هیڅ ملت دَ ملو شرعیو کښ ثابت نه دے او دَ عقل نه هم خلاف دے -

فائده ۱ :- آلوسی وئیلی دی چه دا دلالت کوی چه قابل دَ اتباع په باب دَ توحید کښ برهان سماوی دے آرا او خواهشات باطله ته هیڅ اعتبار نشته - او ابوحیان وئیلی دی چه په دیکښ ابطال دَ تقلید ته اشاره ده ځکه چه مقلد سره دلیل نه وی - او صاحب اللباب وئیلی دی چه دا آیت دلالت کوی په فساد دَ تقلید باندے ځکه هر کله چه په شرک باندے دلیل نیشته نو ضرور باطل دے نو دا رنګ هر قول چه په هغے باندے دلیل نه وی نو باطل دے. ابوالسعود او امام رازی هم داسے وئیلی دی حاصل ئے دا دے چه دَ شرک دَ ابطال دَ پاره علت عدم د دلیل منزله دے نو دَ دے علت دَ وجے نه تقلید هم باطل دے ځکه تقلید کښ هم دلیل منزله نه وی -

فائده ۲ :- قرآن کریم هر ځائے دَ شرک او دَ مشرکانو په رد کښ عدم انزال دَ دلیل ذکر کړیدے اشاره ده چه اعتبار په دے باب کښ نازل کړے شوے (وحی جلی یا وحی خفی) دلیل

وَلَقَدْ صَدَقَكُمُ اللّٰهُ وَعْدَهٗٓ

او یقیناً پوره کړې دے تاسو سره الله تعالیٰ لوظ خپل

اِذْ تَحُسُّوْنَهُمْ بِاِذْنِهٖ ج حَتّٰٓی

کوم وخت چه وژل تاسو دوی لره په حکم دَ الله تعالیٰ تر هغې پورې

اِذَا فَشِلْتُمْ وَتَنَازَعْتُمْ فِی

چه کله کمزوری شوئ تاسو او جګړه اوکړه تاسو په

الْاَمْرِ وَعَصَیْتُمْ مِّنْ بَعْدِ

حکم دَ پیغمبر کښې او خلاف مو اوکړو (دَ حکم دَ نبی نه) روستو

مَآ اَرٰىكُمْ مَّا تُحِبُّوْنَ ط مِنْكُمْ

دَ هغې نه چه اوخودل الله تعالیٰ تاسو ته هغه څه چه خوښوو تاسو، بعضے ستاسو نه

مَّنْ یُّرِیْدُ الدُّنْیَا وَمِنْكُمْ

هغه وو چه غوښتله ئې دنیا او بعضے ستاسو نه

لره دے۔ آیاتونه دادی: اعراف ۳۳، ۷۱، انعام ۸۱، حج ۷۱، نحم ۲۳، روم ۳۵، سبا ۴۴، فاطر ۴۰، احقاف ۴ په دے ټولو آیاتونو کښې نفی دَ دلیل منزله ده او طلب دَ کتاب منزله ده دَ مشرکانو نه دَ اثبات دَ شرک دَ پاره۔

وَمَاْوٰىهُمُ النَّارُ، مَاوی، هغه مکان ته وئیلے شی چه هغے ته رجوع کیږی او دا ذکر دَ عذاب اخروی دے روستو دَ ذکر دَ عذاب دنیوی نه۔

وَبِئْسَ مَثْوَى الظّٰلِمِیْنَ، مَثْوٰی، ځائے ته دَ اقامت (دیره کیدلو) ته وئیلے شی لیکن چه بے اختیاره وی په یکښې ترتیب وجودی دے یعنی اول انسان یو ځائے رجوع اوکړی نو بیا روستو په هغې کښې اقامت اوکړی۔

مَّنۡ يُّرِيۡدُ الۡاٰخِرَةَ ۚ ثُمَّ

هغه وو چه طلب یې کوو د آخرت بیا

صَرَفَكُمۡ عَنۡهُمۡ لِيَبۡتَلِيَكُمۡ ۚ

دا ړولې الله تعالی تاسو د هغوی نه د دې د پاره چه ازمیښت اوکړی په تاسو

وَلَقَدۡ عَفَا عَنۡكُمۡ ؕ وَاللّٰهُ

او یقیناً معافی اوکړه الله تعالی ستاسو نه او الله تعالی

ذُوۡ فَضۡلٍ عَلَى الۡمُؤۡمِنِيۡنَ ﴿۱۵۲﴾

فضل والا دے په مؤمنانو باندې۔

سا ۱۵۲: ربط :- مخکښ آیت کښ وعده د نصرت الهیه ذکر شوه نو په دے آیت کښ د سوال جواب کوی سوال منافقانو کړے وو چه الله تعالی په احد کښ ولے تاسو سره نصرت اونکړو نو په دے آیت کښ جواب ذکر کوی چه اول وخت د احد کښ وعده د نصرت رشتیا شویده او بیا درے علتونه د هزیمت احد ذکر کوی۔

وَلَقَدۡ صَدَقَكُمُ اللّٰهُ وَعۡدَهٗۤ ، صَدَقَ ، کله دویم مفعول ته متعدی بالذات وی لکه دلته کښ او کله متعدی وی په واسطه د فِيۡ سره او دلته متضمن دے معنیٰ د وفا او د اکمال لره د دے وجې نه فِيۡ ئې حذف کړیدے۔ وَعۡدَهٗ ، مراد د دے نه وعده د نصرت او د ملائکو راليږلو ده لیکن دوه شرطونه پکښ وو اول صبر دویم تقوٰی په سہ ۱۲۰ ، سہ ۱۲۵ کښ تیر شویدی۔

اِذۡ تَحُسُّوۡنَهُمۡ بِاِذۡنِهٖ ، حُسٌّ ، په معنیٰ د حس ختم کول دی په قتل کولو سره او په معنیٰ د استیصال (بیخ کندی) په قتل سره۔

اِذۡنِ ، نه مراد د الله تعالی توفیق یا قضا د هغه ده - او صدق د وعدے دا دے چه مؤمنانو د مشرکانو نه په اوله حمله کښ دویشت کسان قتل کړل او نور او تختیدل او ښځو ئې هم په غر کښ منډے وهلے جامے ئې د پنډو نه اوچتے کړے وے او د خپو

کالی ئې ښکاره کیدل او ډیر مالونه د غنیمت ترینه پاتې شول او دغه غنیمتونه مؤمنانو راغونډول داسې په حدیث د بخاری باب غزوه احد کښ ذکر دی - نو وعده د الله رشتینې او پوره شوه -

حَتّٰى اِذَا فَشِلْتُمْ، حَتّٰى، په معنیٰ د الی سره دے متعلق دے په تحسونهم یا صدقکم پورے یا په محذوف پورے د اَمَ لَکُمْ ذٰلِكَ اِلٰى وَقْتِ الْفَشَلِ او په دے حالاتو کښ اِذَا، وقتیه مصدریه یا ابتدائیه دے او اذا شرطیه دے - فَشَلِ، په معنیٰ د ضعف د همت سره دے بزدلی یا نامردی معنیٰ کول د صحابه بے ادبی ده - حدیث صحیح کښ وارد دی چه نبی صلی الله علیه وسلم په ورځ د احد کښ پنځوس کسانو ته حکم اوکړو او د هغوی امیر ئې عبد الله بن جبیر رضی الله عنه مقرر کړو او ورته ئې اُوئیل چه په دغه ډیره کې چه د احد مخې ته ده او د مدینې او د احد په مینځ کښ ده کینئ او د هغې نه بل خوا مه ځئ - که مونږ لړه وینئ چه مونږ غالب شوی یو هم په دغه مقام نه پریږدئ او که هغوی په مونږ باندے غالب شول نو هم په زمونږ مدد د پاره نه راکوزیږی - لیکن هر کله چه مشرکانو شکست اوخوړلو او غنیمتونه ترینه پاتے شول او مؤمنانو راجمع کول نو د دے پنځوس کسانو په مینځ کښ اختلاف پیدا شو بعضو اوئیل چه جنګ ختم شو غنیمت راټولیږی نو کوزیږو او بعضو اوئیل چه نه کوزیږو ترڅو چه نبی صلی الله علیه وسلم امر راولیږی نو څلویښت کسان راکوز شول او لس کسان د عبدالله بن جبیر سره په هغه مقام کښ پاتے شول نو د احد د شا طرف نه خالد بن ولید (چه هغه وخت مشرک وو) سره د خپل لښکر نه په مؤمنانو حمله اوکړله اول ئې هغه لس کسان شهیدان کړل او بیا ئې ابو سفیان ته آواز اوکړو چه واپس را اوګرځه نو هغه سره د خپل لښکر نه واپس را اوګرځیدو او مؤمنان ئې په مینځ کښ راګیر کړل او سخت جنګ اوشو نو د مؤمنانو

اویا کسان شهیدان شول او نبی صلی الله علیه وسلم هم زخمی شو او غنیمت هم د دوی نه پاتے شو نو د دوی د حالاتو ذکر په دے آیت کښ او وړسے آیت کښ کوی۔

وَتَنَازَعْتُمْ فِي الْأَمْرِ، مراد د اَمْرِ نه امر د نبی صلی الله علیه وسلم وو چه په دغه مکان کښ دیره شئ او د هغے نه مه خوزیږئ۔ یا مراد تر ینه غنیمت د پاره کوزیدل دی۔

وَعَصَيْتُمْ، مراد د دے نه کوزیدل وو د هغے مکان نه، او عصیان، ارتکاب د منهی عنه ته وئیلے شی چه هغه فرمائیلی وو لا تبرحوا۔

مِنْ بَعْدِ مَا أَرَاكُمْ مَا تُحِبُّونَ، دا متعلق دے د فشلتم او د روستو دواړه فعلونو سره۔ مَا تُحِبُّونَ، نه مراد ظفر او غنیمت دے (ابوحیان) غلبه په کافرانو (قرطبی)۔

او محبوب د مؤمنانو په سوره صف ۱۳ کښ نصر او فتح ذکر ده هغه د دے تفسیر دے۔ اذا فشلتم چه اذا شرطیه وی نو جزاء ئے دلته پټه ده اُمْتُحِنْتُمْ (امتحان کښ او غورځولے شوے تاسو) او بعضو وئیلی دی چه تنازعتم کښ واو زائد دے په جواب د اذا کښ راتلے شی۔ اول قول غوره دے۔

مِنْكُمْ مَنْ يُرِيدُ الدُّنْيَا، مراد د دینه غنیمت دے او دا هغه کسان دی چه مقام د کیناستلو ئے پریخودلے وو۔

وَمِنْكُمْ مَنْ يُرِيدُ الْآخِرَةَ، دا هغه کسان وو چه د عبدالله بن جبیر سره په خپل مقام کښ پاتے شول د وجے د اطاعت د امر رسول نه تردے چه هغوی شهیدان کړے شول۔

فائده:۔ محبت د دنیا سبب د معاصے دے لیکن ما تحبون نه مراد فتح او نصرت وو او هغه سبب د غنیمت دے او دا محبت سبب د معاصی نه دے او اراده د مال د دنیا جائز ده لیکن د جهاد په وخت مناسب کار نه دے نو د بعضے صحابو په باره کښ دلته صرف اراده د دنیا ذکر کړے ده محبت د دنیا ئے نه دے ذکر کړے دا په عظمت د شان د

صحابه بانډے دلالت کوی۔
ثُمَّ صَرَفَكُمْ عَنْهُمْ، دا عطف دے په جزاء مقدر بانډے چه امتحنتم دے۔ عَنْهُمْ، ضمیر راجع دے کافرانو ته یعنی دَ کافرانو دَ مقابلے کولو نه ئے تاسو اوګرځولئ۔
لِيَبْتَلِيَكُمْ، مراد دَ ابتلاء، صبر دے په مصیبتونو بانډے او په میدان جنګ کښې کلک پاتے کیدل دی۔ یا مراد دَ دینه بلاء نازلول دی په قتل او زخمی کیدلو دَ ملګرو سره۔
وَلَقَدْ عَفَا عَنْكُمْ، یعنی عصیان ستاسو (چه په لفظ عصیتم کښې ورته اشاره ده) معاف کړو او لام او قد دَلالت کوی په ډیر تاکید بانډے او دا هم دلالت کوی په لوے عظمت شان دَ صحابه کرامو بانډے چه الله تعالیٰ دَ هغوی دَ معافی ذکر په قرآن کریم کښې اوکړو۔ او قاسمی وثیلی دی ظاهر دا ده چه دوی توبه نه وه کړے او الله تعالیٰ بغیر دَ توبے نه معاف کړل او دا مسلک دَ اهل سنت دے چه دَ الله تعالیٰ چه کله خوښه شی نو ګناهونه کبیره بغیر دَ توبے نه هم معاف کوی سیوا دَ شرک او کفر نه۔
وَاللّٰهُ ذُو فَضْلٍ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ، دلته فضل نه مراد دا دے چه الله تعالیٰ دَ دوی دَ عصیان په وجے سره دَ دوی بیخ کندی او نکړله او سخت عذاب ئے ورله نه دے ورکړے او لفظ مؤمنین کښې اشاره ده چه سبب دَ عفو او فضل ایمان دے دَ حسن نه نقل دے چه دا کسان دَ رسول الله ملګری غصه وو مشرکانو ته او قتال ئے دَ هغوی سره کوو خو دوی منع کړے شوے وو دَ یو څیز نه نو دوی هغه ضایع کړو نو په ډیر غم کښې اخته شول لیکن نن زمانه کښې لوے فاسق هر قسم کبیره ګناه کوی او پرواه نه کوی زړ دے ده نه به پته اولګی (ابن عطیه)

إِذْ تُصْعِدُونَ وَلَا تَلْوُونَ عَلَىٰ

کوم وخت چه روان وئ تاسو مېړنۍ طرف ته او شا ته نه کتل تاسو هيڅ

أَحَدٍ وَالرَّسُولُ يَدْعُوكُمْ

چا ته او رسول آواز کوو تاسو ته

فِي أُخْرَاكُمْ فَأَثَابَكُمْ غَمًّا

روستو ستاسو نه نو بدل ئې درکړو تاسو ته غم

بِغَمٍّ لِكَيْلَا تَحْزَنُوا عَلَىٰ

په بل غم د پاره د دې چه نشئ غمژن په

مَا فَاتَكُمْ وَلَا مَا أَصَابَكُمْ ۗ

هغه څه پسې چه فوت شو ستاسو نه او نه په هغه څه چه اورسيدو تاسو ته

وَاللَّهُ خَبِيرٌ بِمَا تَعْمَلُونَ ﴿١٥٣﴾

او الله تعالىٰ خبردار دے په هغې چه کوئ تاسو ـ

۱۵۳:- په دے آيت کښ د دوی بل عصيان ذکر کوی چه هغه د میدان جهاد نه واپس ګرځيدل دی او د هغې کيفيت سره د سزا ته ذکر کوی ـ

إِذْ تُصْعِدُونَ ، دا متعلق دے په صرفکم پورے ، تُصْعِدُونَ، په پيښ د تا سره د اصعاد نه اخستلے شويدے او اصعاد تلل دی په ميدان د زمکه او په کندو او درو کښ (قرطبی) دا د صعيد نه ماخوذ دے (صعيد څه د زمکے ته وئيلے شی) نو د صعيد معنیٰ په زمکه باندے تلل ـ دا قول د ابو حاتم دے ـ دا رنګ اصعاد او بډ سفر شروع کولو ته وئيلے شی دا قول د فراء دے ـ او صعود په معنیٰ د بره طرف ته ختل دی ابن عطيه وئيلی دلته اوله معنیٰ غوره ده ـ

وَلَا تَلْوُونَ عَلَىٰ أَحَدٍ ، تَلْوُونَ ، په معنیٰ د راګرځولو د سټ ته

وټیلې شی او دا مبالغه ده مراد ترینه التفات دے یعنی تاسو شا طرفته بالکل نه کتل د تختیدلو د وجې نه -

وَالرَّسُوْلُ یَدْعُوْکُمْ فِیْٓ اُخْرٰىکُمْ ، الف لام په الرسول کښ د پاره د عهد دی یعنی آخری رسول صلی الله علیه وسلم او آواز د هغه داوو (اِلَیَّ عِبَادَ اللّٰهِ مَنْ یَّکُرَّ فَلَهُ الْجَنَّةُ) (ما طرف ته راشئ اے د الله بندګانو چاچه دوباره حمله اوکړله نو د هغه د پاره جنت دے) اُخْرٰىکُمْ ، هغه جماعت دے چه په لښکر کښ روستو طرف ته وی او د هغې ته ساقه وئیلے شی نو اخری په معنیٰ د متاخره سره دے په دیکښ د رسول الله صلی الله علیه وسلم شجاعت ته اشاره ده چه د لښکر والو نه روستو په خپل ځائے پاتے یوځ ولاړ دے دا د لوے شجاع شخص کار دے -

فَاَثَابَکُمْ غَمًّاۢ بِغَمٍّ ، د اثاب ، فاعل الله تعالیٰ دے - غَمٍّ ته ئې ثواب (په معنیٰ د بدلے) مجازًا اُوئیل یعنی که فرار ته وے نو دا یه ثواب وے - بِغَمٍّ ، باء د پاره د مصاحبت ده چه په معنیٰ د مع سره ده او مراد د دیته ډیر والے د غمونو دے چه هزیمت او قتل او فوت کیدل د غنیمت او غلبه د لښکر د ابوسفیان او د خالد او آوریدل د قتل د نبی صلی الله علیه وسلم دا ټول غمونه دوی ته حاصل شول - یا باء د پاره د سببیت ده نو مراد د اول غم نه هغه جنس غمونه دی چه مخکښ ذکر شول او د دویم (سبب) نه مراد غم رَسُوْلُ ستاسو دی نبی صلی الله علیه وسلم ته د وجې د مخالفت د امر د هغه نه -

لِکَیْلَا تَحْزَنُوْا ، په متعلق د دے لام کښ اقوال دی او قول دا متعلق دے په اثابکم ، پورے او لا زیاتی دے ځکه چه په رسیدلو د غمونو سره حزن حاصلیدی نفی نه کیږی - دویم قول دا متعلق دے په عفا پورے ځکه عفو سره ټول غمونه د مؤمن زائله شی لیکن په مینځ کښ د ډیروو اسطو

ثُمَّ اَنْزَلَ عَلَيْكُمْ مِّنْ بَعْدِ

بیا دا او لیږله الله تعالیٰ په تاسو باندے روستو

الْغَمِّ اَمَنَةً نُّعَاسًا يَّغْشٰى

دَ خفګان نه امن والا پرکالي پټوله هغې

طَآئِفَةً مِّنْكُمْ ۙ وَطَآئِفَةٌ قَدْ

یو ډله ستاسو نه او بله ډله چه

اَهَمَّتْهُمْ اَنْفُسُهُمْ يَظُنُّوْنَ بِاللّٰهِ

فکرمند کړی وو هغوی لره نفسونو دَ هغوی ګمان ئې کوو په الله تعالیٰ

غَيْرَ الْحَقِّ ظَنَّ الْجَاهِلِيَّةِ ؕ

نا حق ګمان پشان دَ جاهلیت والو

يَقُوْلُوْنَ هَلْ لَّنَا مِنَ الْاَمْرِ

وئیل دوی آیا شته مونږ لره دَ امداد نه

مِنْ شَيْءٍ ؕ قُلْ اِنَّ الْاَمْرَ

څه حصّه ، ته ورته اوایه یقیناً امداد

كُلَّهٗ لِلّٰهِ ؕ يُخْفُوْنَ فِيْٓ اَنْفُسِهِمْ

ټول دَ الله تعالیٰ په اختیار کښې دے ، پټوی دوی په نفسونو خپلو کښې

دَ وجې نه دا ضعیف دے - دریم قول دا متعلق دے
په اثابکم پورے او لا زیاتی نه دے لیکن مراد دَ
لا تحزنو نه ازاله دَ حزن ده په آئنده زمانه کښې دَ وجې
دَ عادت کیدلو نه په غمونو باندے یعنی اوس ئې ډیر
غمونه در او رسول دَ دې دَ پاره چه دَ غمونو سره عادت
شئ نو آئنده دَ پاره بهٔ دَ هیڅ سبب دَ وجې نه تاسو نه غمژن

مَا لَا يُبْدُوْنَ لَكَ ؕ يَقُوْلُوْنَ

هغه څه چه نه ښکاره کوی تا ته ، وئيل دوی

لَوْ كَانَ لَنَا مِنَ الْاَمْرِ شَیْءٌ

که چرے وے مونږ لره دَ اختيار نه څه شے

مَّا قُتِلْنَا هٰهُنَا ؕ قُلْ لَّوْ

نه به وے وژلے شوے مونږ (نسبيان زمونږ) دلته ، ته اوايه که وئ

كُنْتُمْ فِيْ بُيُوْتِكُمْ لَبَرَزَ

تاسو په کورونو خپلو کښ نو خامخا به راوتلی وو

الَّذِيْنَ كُتِبَ عَلَيْهِمُ الْقَتْلُ

هغه کسان چه مقرر شوے وو په هغوی باندے قتل (مرګ)

اِلٰى مَضَاجِعِهِمْ ۚ وَلِيَبْتَلِيَ اللّٰهُ

ځائے دَ غورځيدلو خپلو ته او (دا کار الله تعالیٰ اوکړو) دے دَ پاره چه ازميښت اوکړی الله تعالیٰ

مَا فِيْ صُدُوْرِكُمْ وَلِيُمَحِّصَ

دَ هغه (نفاق) چه په سينو ستاسو کښ دے او دے دَ پاره چه پاک کړی

کیږئ - څلورم قول دا متعلق دے په اثابکم پورے او لا زياتی نه دے ليکن مراد دَ غمًّا نه صرف اوريدل دَ خبر دَ مرګ دَ رسول الله دے يعنی په دے پرا پيکنړه کښ حکمت دا وو چه نور غمونه ستاسو نه زائل شی ځکه چه وفات دَ نبی صلی الله عليه وسلم په صحابه او امتيانو باندے ډير لوے غم دے او په لوے غم سره واړه غمونه ختميږی-
عَلٰى مَا فَاتَكُمْ ، مراد دَ دينه غنيمت دے - وَلَا مَا اَصَابَكُمْ، مراد دَ دينه قتل او هزيمت دے-
وَاللّٰهُ خَبِيْرٌ بِمَا تَعْمَلُوْنَ ، په دے جمله کښ زورنه مقصد دے

مَا فِي قُلُوبِكُمْ ۗ وَاللَّهُ عَلِيمٌ

هغه (ایمان) چه په زړونو ستاسو کښ دے، او الله تعالیٰ پوهه دے

بِذَاتِ الصُّدُورِ ﴿۱۵۴﴾

په هغه خبرو چه په سینو کښ دی.

په عمل د مخالفت د امر د رسول صلی الله علیه وسلم او تیخته کول د میدان جهاد نه.

۱۵۴ :- په دے آیت کښ تسلی د مؤمنانو او زورته د منافقانو ته ذکر کوی - د دے آیت خصوصیت دا دے چه په دیکښ ټول حرف هجاء د الف نه تر یاء پورے شته دے.

ثُمَّ أَنزَلَ عَلَيْكُم مِّن بَعْدِ الْغَمِّ ، دا عطف دے په اثابکم باندے ضمیر د فاعل الله تعالیٰ ته راجع دے او تعبیر په لفظ د انزل سره د پاره د دلالت دے په رحمت باندے ځکه چه دا صیغه اکثر په رحمت کښ استعمالیږی.

أَمَنَةً ، امن او امنة، کښ فرق دا دے چه امنه په هغه ځائے کښ استعمالیږی چه خوف زائل شی او سبب خوف موجود وی او دا مقام د کرامت دے - او امن زوال د خوف دے سره د زوال د سبب د خوف نه.

نُّعَاسًا ، دا بدل اشتمال یا عطف بیان دے نعاس لږ خوب ته وئیلے شی چه اثر ئے په سر کښ راشی او دا سے حالت په سوره انفال س۱۱ کښ هم ذکر دے چه هغه په غزوه بدر کښ وو.

سوال :- په سوره انفال کښ النعاس مخکښ راوړیدے او دلته ئے روستو ذکر کړے دے؟

جواب :- په بدر کښ غم لږ وو نو علاج د غم ئے مخکښ ذکر کړو او حکمت د هغے ئے روستو ذکر کړو چه امنة دے او په احد کښ غمونه ډیر پیدا شوے وو نو ازاله د غم (امنة) مخکښ ذکر کړو ځکه چه هغه مقصد دے او علاج ئے روستو ذکر کړو چه نعاس دے.

يَغْشٰى طَآئِفَةً مِّنكُمْ، ضمير دَ يغشى نعاس ته راجع دے او مراد دَ دے طائفې نه ټول مؤمنان دو چه په غزوه احد کښ شريک وو او فائده په دیکښ داده چه په خوب سره په طبيعت کښ خوشحالی واپس راشی او غم هیر شی بله فائده داده چه دا معجزه وه دَ نبی صلی الله علیه وسلم او په داسے وخت کښ معجزه لیدل سبب دَ زیاتوالی دَ ایمان دے ۔ بخاری حدیث دَ ابو طلحه رضی الله عنه نقل کړیدے چه نعاس په مونږ راغے او مونږ په صف دَ قتال کښ اولاړ وو نو توره به زما دَ لاس نه غورځیده او ما به بیا راخستله ۔ او ترمذی په حدیث دَ ابو طلحه کښ ذکر کړیدی ابو طلحه وائی ما سر اوچت کړو نو ما نه لیدل هیڅوک مګر چه دَ خپل خول (ټوپی دَ سر) لاندے ئے سر ځکته کوو دَ وجے دَ نعاس نه ۔

وَطَآئِفَةٌ قَدْ اَهَمَّتْهُمْ اَنْفُسُهُمْ، مراد دَ دے طائفې نه منافقان دی او دَ منافقانو پنځه صفات قبیحه ذکر کوی ۔

اَهَمَّتْهُمْ، اهمام، وئیلے شی په هم (غم) کښ غورځول یعنی دوی صرف دَ خپل ځانونو په غم کښ وو دَ وجے دَ ویرے دَ قتل نه او دَ غلبے دَ کافرانو نه او دَ نبی صلی الله علیه وسلم او دَ صحابه او دَ دین اسلام غم او فکر ورسره نه وو ۔ او دَ اَهَمَّ دویمه معنیٰ اراده او وسوسه اچول دی یعنی په نفسونو کښ اراده او وسوسه راغله چه دین اسلام پریږدی ۔

يَظُنُّوْنَ بِاللهِ غَيْرَ الْحَقِّ، دا استیناف دے جواب دَ سوال نه چه ولے دوی نفسونو په هم کښ واچول جواب دادے چه په الله تعالیٰ باندے ئے ناحق ګمان کوو ۔ غَيْرَ الْحَقِّ، مفعول دَ یظنون دے یا په حکم دَ مفعول مطلق کښ دے ۔

ظَنَّ الْجَاهِلِيَّةِ، بدل دے دَ غیر الحق نه یا مفعول مطلق دے ۔ الْجَاهِلِيَّةِ، صفت دے دَ پټ موصوف دَ پاره اَلْمِلَّةِ الْجَاهِلِيَّةِ یا اَلْفِرْقَةِ الْجَاهِلِيَّةِ او مراد ترینه سکاره کافران دی ۔ او دَ دوی ناحق ظن دا وو چه الله تعالیٰ به دا نبی او دَ ده

دین زر ختم کړی - یا دا چه الله تعالیٰ دَ نبی او دَ مؤمنانو سره هیڅ امداد نه کوی - او دا رنګ په سوره فتح ۲ او ۱۲ کښې دی او دَ دے ډیر صورتونه قاسمی په تفسیر کښې ذکر کړیدی -

يَقُوْلُوْنَ هَلْ لَّنَا مِنَ الْاَمْرِ مِنْ شَيْءٍ، دا جمله تفسیر دے دَ یظنون دَ پاره یا جمله مستانفه ده بیان دَ ظن دَ هغوی دے هَل، استفهام انکاری دے الامر، نه مراد نصرت او غلبه ده او غرض دَ دوی دَ دے انکار نه طعن کول دی په نبوت دَ نبی صلی الله علیه وسلم کښې -

قُلْ اِنَّ الْاَمْرَ كُلَّهٗ لِلّٰهِ، یعنی اختیار دَ نصرت خاص دے په الله پورے نو هغه ئے ورکوی حقدار دَ نصرت لره چه مؤمنان دی او په مناسب وخت کښې ورکوی -

يُخْفُوْنَ فِيْ اَنْفُسِهِمْ مَّا لَا يُبْدُوْنَ لَكَ، مراد دَ دینه هغه ظن باطل دے چه مخکښې ذکر شو یا مطلق کفر او نفاق او شک دے چه دوی دَ ویرے دَ وجے نه دَ هغے اظهار نشی کولے -

يَقُوْلُوْنَ لَوْ كَانَ لَنَا مِنَ الْاَمْرِ شَيْءٌ مَّا قُتِلْنَا هٰهُنَا، دا استیناف دے جواب دَ سوال دے - سوال دا دے چه هغه کومه خبره ده چه دوی ئے پټوی دا رنګ دا قول دَ دوی هم دَ یو بل سره په کورنئ کښې وو ښکاره ئے مؤمنانو ته نه شو وئیلے ځکه چه بیا ئے کفر ښکاره کیدلو - دلته امر نه مراد اختیار دے دَ راوتلو جهاد دَ پاره احد ته ځکه چه دوی وئیل چه مونږ احد ته دَ مجبورئ په وجه سره راوتلی یو ځکه چه دے نبی زمونږ خبره نه مَنله - نو که زمونږ اختیار وے تو مونږ به دَ مدینے نه بهر نه راوتلو نو مونږ (یعنی زمونږ ملګری صحابه) به نه قتل کیدلو یعنی دا بهر راوتل سبب دے زمونږ دَ ملګرو دَ قتل کیدل او دا قول هم طریقه دَ منافقانو ده چه کلمه دَ او په مقابله دَ تقدیر کښې استعمالوی او دا په حدیث کښې منع شویده -

قُلْ لَّوْ كُنْتُمْ فِيْ بُيُوْتِكُمْ لَبَرَزَ الَّذِيْنَ كُتِبَ عَلَيْهِمُ الْقَتْلُ اِلٰى مَضَاجِعِهِمْ، لبرز، بروز په معنیٰ دَ بهر راوتلو سره دے -

یعنی یو بل سبب په پیدا شوے وے او دوی به د کورونو نه راوتلے وے۔ کُتِبَ دا کتابت د تقدیر دے په علم سابق د الله تعالیٰ کښ۔ دَ الْقَتْلُ، نه مقتول کیدل مراد دی مَضَاجِعِ جمع د مضجع ده ځائے د کیخودلو د ډډے په زمکه باندے د پاره د راحت او د خوب او دلته مراد ځایونه د غورځیدلو د مقتولانو دی او په دے لفظ کښ اشاره ده چه شهداء روستو د شهادت په نعمتونو او خوشحالی کښ دی لکه یو انسان چه په خپله بستره باندے آرام کوی۔

وَ لِيَبْتَلِيَ اللهُ مَا فِيْ صُدُوْرِكُمْ، دا عطف دے په پټ لفظ باندے لِيَقْضِيَ اللهُ اَمْرَهٗ وَ لِيَبْتَلِيَ۔ یا علت دے د پټ فعل د پاره فَعَلَ اللهُ هٰذِهِ الْاُمُوْرَ لِيَبْتَلِيَ۔ بعضے مفسرینو وئیلی دی چه دا عطف دے په لِكَيْلَا تَحْزَنُوْا باندے او په مینځ کښ جملے معترضے دی۔ او مراد د ابتلاء نه دلته اظهار دے۔

مَا فِيْ صُدُوْرِكُمْ مراد د دے نه پټ رازونه دی چه هغه منافقت دے او دا خطاب دے منافقانو ته۔

وَ لِيُمَحِّصَ مَا فِيْ قُلُوْبِكُمْ، تمحیص، په معنیٰ د صفا کولو دے د خیرونه او دا خطاب دے مؤمنانو ته۔

صُدُوْرِ، جمع د صدر ده سینے ته وئیلے شی چه هغه محل د پاره د زړه دے او اطلاق ئے کیږی په باطنی احساس باندے نو مراد ترینه اخلاق او رازونه دی۔ او قُلُوْبِ جمع د قلب ده او اطلاق ئے کیږی په اعتقاد باندے د اخلاقو سره لفظ د ابتلاء او د عقائدو سره لفظ د تمحیص مناسب دے۔ دا رنګ اول د منافقانو او دویم د مؤمنانو د حال سره مناسبت لری۔

وَ اللهُ عَلِيْمٌ بِذَاتِ الصُّدُوْرِ، اشاره ده چه ابتلاء او تمحیص د دے د پاره نه دے چه الله تعالیٰ ته علم حاصل شی۔

إِنَّ الَّذِينَ تَوَلَّوْا مِنكُمْ

یقینًا هغه خلق چه واپس اوګرځیدل ستاسو نه (د میدان د جنګ نه)

يَوْمَ الْتَقَى الْجَمْعَانِ ۙ إِنَّمَا

په هغه ورځ چه مخامخ شوے دوه ډلے یقینًا

اسْتَزَلَّهُمُ الشَّيْطَانُ بِبَعْضِ

خوئبولے دی دوی شیطان په سبب

مَا كَسَبُوا ۖ وَلَقَدْ عَفَا اللَّهُ

د هغه ګناهو چه دوی کړیدی یقینًا معافی کړیدے الله تعالیٰ

عَنْهُمْ ۗ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ حَلِيمٌ ﴿١٥٥﴾ ع ۶/۷

دوی ته ، یقینًا الله تعالیٰ بخنه کوونکے دے صبرناک دے .

۱۵۵ :- په دے آیت کښ سبب معنوی د هزیمت د مؤمنانو ذکر کوی چه په ورځ د احد مشرکانو ته ئے شا اوګرځوله برابره خبره ده که مدینے ته نزدے شوے وی یا غر ته ختلی دی او مفسرینو وئیلی دی چه د نبی صلی الله علیه وسلم سره صرف دیارلس کسان پاتے شول .

إِنَّ الَّذِينَ تَوَلَّوْا مِنكُمْ يَوْمَ الْتَقَى الْجَمْعَانِ إِنَّمَا اسْتَزَلَّهُمُ الشَّيْطَانُ ، استزل ، د زلل نه اخستلے شویدے خپے خوئیدل کنایه ده د هزیمت نه - او سین او تا د پاره د تاکید دی یعنی شیطان د دوی د هزیمت پوره طلب کړیدے .

بِبَعْضِ مَا كَسَبُوا ، مراد د دینه پریښودل د هغه مقام (ځائے) دو چه نبی صلی الله علیه وسلم دوی ته د هغے امر کړے وو یا نورے خطائی چه الله تعالیٰ ته معلومے دی او اشاره ده چه یو ګناه بل ګناه ته را ښکل کوی او بَعْضِ لفظ اشاره ده چه الله تعالیٰ مؤمنانو ته د ټولو جرمونو سزا نه ورکوی اکثر ورته معاف کړی او د بعضو د وجے نه د دنیا مصیبتونه راولی نو هغه هم معاف شی .

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَكُونُوا كَالَّذِينَ

اے ایمان والو مه کیږئ پشان د

كَفَرُوا وَقَالُوا لِإِخْوَانِهِمْ إِذَا ضَرَبُوا

کافرانو او وایئ په باره د خپلو رونړو (نسبیانو) کښ کله چه هغوی سفراوکړی

فِي الْأَرْضِ أَوْ كَانُوا غُزًّى لَوْ كَانُوا

په زمکه کښ

عِنْدَنَا مَا مَاتُوا وَمَا قُتِلُوا ج

نه به مړه کیدل ے او نه به وژلے کیدل ے

وَلَقَدْ عَفَا اللّٰهُ عَنْهُمْ ، هغه عفو چه ذکر ده په ۱۵۲ کښ د مرکز د پریښودلو د وجے نه ده او دا عفو د میدان جهاد د پریښودلو د وجے نه ده - او دا هغه جمله ده چه ابن عمر رضی الله عنه د عراقی سړی په جواب کښ وئیلی وه هر کله چه هغه د عثمان رضی الله عنه په طعن کښ د احد نه تختیدل ذکر کړل نو ده ورته جواب کښ اوئیل) چه لَقَدْ عَفَا اللّٰهُ عَنْهُمْ ، او دا هم لوے منقبت دے د صحابه کرامو چه د هغوی معافی په ډیر تاکید سره په قرآن کښ ذکر دے -

إِنَّ اللّٰهَ غَفُورٌ حَلِيمٌ ، دا جمله په طریقه د علت سره ده د ما قبل عفو د پاره - غَفُورٌ دے گناهونه معاف کوی - حَلِيمٌ دے یعنی زر عذاب نه ورکوی دواړه د مؤمنانو سره تعلق لری یا غفور کښ اشاره ده حال د مؤمنانو ته چه هغوی ته ئے مغفرت اوکړو - او حلیم کښ اشاره ده حال د منافقانو ته چه هغوی په دے عفو او مغفرت کښ داخل نه دی ځکه د هغوی گناه د کفر (ریته) ده هغه بغیر د توبے نه نه معاف کیږی -

لِيَجْعَلَ اللّٰهُ ذٰلِكَ حَسْرَةً فِيْ

د دې دپاره چه وګرځوي الله تعالیٰ دا خبره ارمان په

قُلُوْبِهِمْ ؕ وَاللّٰهُ يُحْيٖ وَيُمِيْتُ ؕ

زړونو د دوی کښې او الله تعالیٰ ژوندی کول کوی او مړه کول کوی

وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرٌ ﴿۱۵۶﴾

او الله تعالیٰ ستاسو عملونه وینی -

س۱۵۶ :- ربط لـه :- هرکله چه مخکښې آیت کښې احسان په مؤمنانو باندې ذکر کړې شو نو اوس منع کوی هغوی لره د مشابهت د کافرانو او منافقانو نه په الفاظو او په عقیده کښې د پاره د دې چه بیا په ګناه کښې اخته نشی -

ربط ۲ـه :- هرکله چه د مخکښې نه په تیر شوی آیت کښې د منافقانو دا قول ذکر کړو لَوْ كَانَ لَنَا مِنَ الْاَمْرِ شَيْءٌ مَّا قُتِلْنَا هٰهُنَا - نو اوس د دې پشان د هغوی بل قول په عامو حالاتو کښې ذکروی او د داړو اقوالو د مشابهت نه منع کوی -

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَكُوْنُوْا كَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا ، دا هم تعلیم د ادب دې مؤمنانو ته د پاره د دفع کولو د هزیمت -

الَّذِيْنَ كَفَرُوْا ، نه مراد ټول کافران دی او منافقان پکښې اول داخل دی په سبب د سیاق د آیت سره او سمعانی وئیلی دی مراد د دینه منافقان دی - او مقصد د دینه مشابهت په قول او په اعتقاد دواړو کښې دې ځکه چه مخکښې ذکر شول چه په حدیث د مسلم کښې استعمال د کلمې د لو (په مقابل د تقدیر کښې) منع کړې شوید ې -

وَقَالُوْا لِاِخْوَانِهِمْ اِذَا ضَرَبُوْا فِي الْاَرْضِ ، روستو د كفروا نه په دې قول راوړلو کښې اشاره ده چه دا قول په سبب د کفر د دوی سره دې هسې همدردی ، روروِلی نه ده -

اِخْوَانِهِمْ ، مراد د دینه اخوة د نسب دې ځکه چه منافقان او

شهداء دَ احد اکثر دَ خزرج قبیلے نه وو او دا وینا کوونکی منافقان وو- یا اخوانهم، اخوة دَ عقیدے او دَ نسب مراد دی که روستو دَ ضربوا او غزیٰ نه مراد منافقان شی-
سوال :- اذا دَپاره دَ زمانے دَ استقبال راځی او قالوا فعل ماضی ده إذَا دَ هغے دَپاره ظرف څرنګ صحیح کیږی-
جواب ۱ :- ابن عطیه وئیلی دی چه الـذین مبهم دے ماضی او استقبال دواړو ته شامل دے نو دا قول عام دے په باره دَ تیرشوو او په باره دَ راتلونکے زمانه کښ دغه عمل کوونکو ته-
جواب ۲ :- ابوحیان وئیلی دی دلته اذا په معنیٰ دَ حین دے نو دَ ماضی سره استعمالیږی-
جواب ۳ :- زمخشری وئیلی دی دلته دا په معنیٰ دَحین تضربون فی الارض سره دے-
ضرب فی الارض، ضرب په اصل کښ واقع کول دَ یوځیز دی په بل ځیز باندے بیا استعمالیږی په سیرکولو په زمکه په کیښودلو دَ قدمونو په زمکه او دلته مراد سفرکول دی دَپاره دَ تجارت وغیره په زمکه کښ که سفر دَ اوچے وی او که دَ دریاب وی-
اَوْ کَانُوْا غُزًّی، دا جمع دَ غاز ده او دَ سفر کولو او غزا کولو په مینځ کښ عموم خصوص من وجه دے یعنی سفر بغیر دَ غزا نه او غزا بغیر دَ سفر نه او سفر سره دَ غزا نه درے واړه حالتونه موجودیږی دَ دے وجے نه دواړه ئے ذکر کړیدی او دَ دے کلام نه روستو مَاتُوْا او قُتِلُوْا پټ مراد دے-
لَوْ کَانُوْا عِنْدَنَا، کون نه مراد اقامت دے یعنی سفر او غزا له تلے نه وے بلکه مونږ سره په کلی کښ دیره وے-
مَامَاتُوْا وَمَا قُتِلُوْا، ابوحیان وئیلی دی چه دا قول په ډیر جهل باندے دلالت کوی ځکه جاهلان خلق هم منی چه په سفر کښ مرګ شته دے-
لِيَجْعَلَ اللهُ ذٰلِكَ حَسْرَةً فِيْ قُلُوْبِهِمْ، په دے لام کښ دوه اقوال دی : اول، دا چه لام دَ تعلیل دَپاره دے او ذٰلك اشاره ده

وَلَئِنْ قُتِلْتُمْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ

او که	او وژلے شوئ تاسو	په	لار	دَ الله تعالیٰ کښ

دَ دوی قول او اعتقاد ته او متعلق ئے پټ دے اَوْ قَعَ ذٰلِكَ فِیْ قُلُوْبِهِمْ لِيَجْعَلَ ۔ یا لَا تَكُوْنُوْا مِثْلَهُمْ لِيَجْعَلَ ۔ یعنی دوی دا قول دَ دے دَ پاره کوو چه دَ جهاد نه منع شی او دَ دوی تابعداری اوکړی هر کله چه هغوی دا سے او نکړی نو دا قول به دَ دوی په زړونو کښ افسوس او پښیمانتیا پاتے شی۔

دویم قول، دا لام دَ صیرورت او دَ عاقبت دے متعلق دے په قالوا پورے او ذٰلك اشاره ده قول دَ دوی ته یعنی دَ دوی دا قول کوی لیکن هر کله چه دَ دوی مقصد حاصل نشی نو عاقبت دَ دے قول به پښیمانتیا اوګرځی۔

حسرة، غم کول په هغه فوت شوی څیز باندے چه دَ هغه حاصلیدل نه کیږی۔ یا لام دَ صیرورت او عاقبت دے او حسرة نه مراد په ورځ دَ قیامت کښ شرمندګی په سبب دَ دے قول سره۔

وَاللّٰهُ يُحْيِ وَيُمِيْتُ، دا رد دے دَ هغوی په دغه قول باندے یعنی ژوند مرګ دَ وجے دَ اقامت او سفر نه نه دے بلکه ډیر ځله مسافر او غازی ژوندے پاتے شی او مقیم شخص باندے په خپل کور کښ مرګ راشی نو دا کار دَ الله په اختیار کښ دے۔ وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرٌ،

سوال:- مخکښ خو ذکر دَ قول وو دَ هغے سره سمیع مناسب دے؟

جواب:- هر کله چه دَ دوی دَ قول مطلب عمل کول دی چه پخپله هم جهاد نه کوی او نور خلق هم دَ جهاد نه منع کوی نو دا عمل الله تعالیٰ وینی۔

أَوْ مُتُّمْ لَمَغْفِرَةٌ مِّنَ اللّٰهِ
یا مړه شوئ نو بخنه دَ طرف دَ الله تعالیٰ نه

وَرَحْمَةٌ خَيْرٌ مِّمَّا يَجْمَعُونَ ﴿١٥٧﴾
او ثوابونه غوره دی دَ هغه (مالونو) نه چه دوی ئې جمع کوی.

وَلَئِن مُّتُّمْ أَوْ قُتِلْتُمْ
او که مړه شوئ تاسو او یا او وژلے شوئ

۱۵۷:- هر کله چه منافقان په دغه قول مخکښې سره دَ جهاد نه منع کول کوی نو اوس الله تعالیٰ دَ هغوی په خلاف کښې ترغیب ورکوی جهاد کولو ته۔

وَلَئِن قُتِلْتُمْ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ ، لام، دلالت کوی په قسم پټ باندے چه قسم دلالت کوی په تاکید باندے او جواب قسم لمغفرة دے۔

اَوْ مُتُّمْ ، دَ دے نه هم مراد موت دے په جهاد کښې بغیر دَ قتل نه په خه مرض وغیره سره۔

لَمَغْفِرَةٌ مِّنَ اللّٰهِ وَرَحْمَةٌ ، جزا دَ اِن ، په اصل کښې پټه ده لَيُغْفَرَنَّ لَكُمْ ، لَمَغْفِرَةٌ په جزاء باندے دلالت کوی۔

مَغْفِرَةٌ ، نکره اشاره ده لږ جزء دَ مغفره ته دا رنګ رحمة هم او دَ رحمة نه روستو مِنَ الله پټ مراد دے۔

خَيْرٌ مِّمَّا يَجْمَعُونَ ، یعنی په کلی کښې پاتے شی دَ جهاد نه مال او آرام دَ دنیا حاصلوی دَ هغې نه مغفرة او رحمة ډیر غوره دے۔

لَاِاِلَی اللّٰہِ تُحۡشَرُوۡنَ ﴿۱۵۸﴾

نو خامخا الله تعالى ته به جمع كړے شئ تاسو -

۱۵۸ :- وَلَئِنۡ مُّتُّمۡ اَوۡ قُتِلۡتُمۡ لَاِاِلَی اللّٰہِ تُحۡشَرُوۡنَ ، په دیکښ
اشاره ده تذکیر دَ موت او تذکیر دَ آخرت ته نو مقصد دَ دے
آیت دا دے چه مړکیدل په خپل مرګ یا په قتل سره خو
ضرور راځی نو مرګ او قتل فی سبیل الله غوره دے او دَ هغے
په وجه مغفرت او رحمت په حشر کښ حاصلیږی. نو دا تکرار
بے فائدے نه دے -

فائده له :- په اول ۱۵۶ کښ ما توائے مخکښ کړے دے په قتل
باندے ځکه چه سبب دَ عام موت چه سفر دے مخکښ ذکر دے
او سبب دَ قتل چه غزوه ده روستو ذکر کړے ده - په دویم ۱۵۷ کښ
قتل مخکښ کړے دے په موت باندے دَ دوه وجو نه - اوله وجه،
دا چه په وخت دَ جهاد کښ مرګ په سبب قتل سره ډیر واقع
کیږی په نسبت دَ مرګ په نورو عوارضو سره - دویمه وجه
دا چه قتل فی سبیل الله ډیر اهم دے دَ عام موت نه نو اهم
مخکښ ذکر کړے دے او په دے آیت ۱۵۸ کښ موت ئے مخکښ
کړے دے په قتل باندے ځکه په عام او قاتو کښ پخپله مرګ
ډیر واقع کیږی دَ قتل نه -

فائده ۲ :- امام رازی وئیلی دی چه عبادت کوونکی درے قسمه
دی اول هغه دی چه عبادت کوی په اراده دَ بخشش دَ ګناهونو -
دویم هغه دی چه عبادت په قصد دَ ثواب حاصلولو کوی - دریم
هغه دی چه عبادت کوی په قصد دَ حصول دَ دیدار الٰهی سره
دریواړو ته په دواړه آیاتو نو کښ اشاره اوشوه -

فَبِمَا رَحْمَةٍ مِّنَ اللّٰهِ لِنْتَ لَهُمْ ۚ

نو په وجه د رحمت د الله تعالی نرم یې ته دوی ته

وَلَوْ كُنْتَ فَظًّا غَلِيْظَ الْقَلْبِ

او که ته یې ژبې او سخت زړه دے

لَانْفَضُّوْا مِنْ حَوْلِكَ ۖ فَاعْفُ

نو خامخا دوی به خواره شوی وو ستا د چاپیره نه نو معافی او کړه

عَنْهُمْ وَاسْتَغْفِرْ لَهُمْ وَشَاوِرْهُمْ

د دوی نه او بخنه اوغواړه د دوی د پاره او مشوره غواړه د دوی نه

فِي الْاَمْرِ ۚ فَاِذَا عَزَمْتَ فَتَوَكَّلْ

په کار کښې نو کله چه قصد او کړے د کولو د یو کار نو ځان او سپاره

عَلَى اللّٰهِ ۭ اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الْمُتَوَكِّلِيْنَ ﴿۱۵۹﴾

په الله تعالی باندے یقیناً الله تعالی مینه کوی د توکل کوونکو سره۔

۱۵۹ :- ربط :- هر کله چه مخکښې ذکر شول مرکز پریښودونکی او د میدان جهاد نه تیختنه کوونکی او منافقان چه د دوی سره رسول الله صلی الله علیه وسلم نرمی او کړله نو اوس د هغه نرمے کولو سبب بیانوی او دا رنګ مخکښې دوه کرته اوئیلے شو چه الله تعالی دغه صحابه کرامو ته معافی کړیده او دغه معافی په سبب د نرمے د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره معلومیږی نو اوس علامت د هغه عفو ذکر کوی۔

دا رنګ مخکښې آیت کښې د مغفرت او رحمت د الله تعالی ذکر کړے شو د پاره د مجاهدینو او شهیدانو نو د رحمت الهیه خاص قسم ذکر کوی چه هغه بعثت د داسے رسول دے چه نرم اخلاقو والا دے۔ په دے آیت کښې عظمت شان د نبی صلی الله علیه وسلم او آداب ذکر کوی د ملګرو سره اګرچه د هغوی نه

کوتاهي شوې وي.

فَبِمَا رَحْمَةٍ مِنَ اللهِ لِنْتَ لَهُمْ، با، سببیه ده متعلق ده په روستو لنت پورې او ما دپاره د تاکید دې او رحمةٍ معنیٰ دا ده چه د دې د رحمت د الله تعالیٰ نه په دې صحابه باندې ته نرم يې دوی ته. نو دا انعام او احسان د الله تعالیٰ دې په صحابو باندې. یا مراد د دینه رحمت د الله تعالیٰ دې په نبی صلی الله علیه وسلم او هغه کلکوالې راوستل د الله تعالیٰ دی په زړه د هغه او تخصیص د هغه دې په ښائسته اخلاقو سره چه د هغې په سبب سره نبی صلی الله علیه وسلم د صحابو سره نرمي کوله. لنت، په صیغه د فعل ماضي سره دلالت کوي چه دا خوئ په نبی صلی الله علیه وسلم کښ پوخ وو. لَهُمْ، ټولو مسلمانانو ته شامل دې او یکښ صحابه د احسن داخل دی.

وَلَوْ كُنْتَ فَظًّا غَلِيظَ الْقَلْبِ، دا په طریقه د استدلال دې د اثبات د لین د هغه دپاره په نفي د ضد لین سره. فَظًّا په کلام کښ سختي کوونکې، بد ژبې. غَلِيظَ الْقَلْبِ، غلظه د زړه قسوت د هغه دې چه زر خفه کیږي بیا زر نه رضا کیږي او دا سبب دې د فظ دپاره لیکن فظ ښکاره صفت دې هغه يې ځکه مخکښ ذکر کړو.

لَانْفَضُّوا مِنْ حَوْلِكَ، انفضاض په معنیٰ د جدا جدا کیدل او نفرت کول دی. مِنْ حَوْلِكَ، مبالغه ده یعنی د هر طرف نه به تس نس شوې وې. لیکن د نبی صلی الله علیه وسلم په ژوندون کښ د هغه د صحبت نه هیچا نفرت نه دې کړې نو معلومه شوه چه هغه فظ غلیظ القلب نه وو. نو دلیل شو چه واقعي نرم اخلاقو والا وو. او مفسرینو وئیلي دي چه هر مؤمن داعي لره په اتباع د خپل نبي کښ دا صفتونه ضروري دي.

فَاعْفُ عَنْهُمْ، دا تفریع ده په لنت باندې یعنی نرم اخلاق مستلزم دي روستو درې واړه کارونو لره. اول عفو کول د هغه حقوقو چه د نبی صلی الله علیه وسلم سره تعلق لري.

دویم وَاسْتَغْفِرْ لَهُمْ، په هغه حقوقو کښې چه تعلق دَ الله تعالیٰ سره لري۔
وَشَاوِرْهُمْ فِي الْأَمْرِ، دا ئې روستو دَ عفو او استغفار نه ذکر کړو اشاره ده چه په عفو او مغفرت سره دوی اهل دَ شورٰی اوګرځیدل۔ شَاوِرْ، دَ شَوْرٌ نه دے شور یوخاروے دَ سورلئ معلومول چه منډه وهي اوکه نه۔ یا شور په معنیٰ دَ اخستلو دَ بوخیږدی دَ خپل مناسب ځائے نه دارنګ په مشوره کښې دَ عالم عاقل تجربه کار نه رائې اخستل دی۔ الْأَمْرِ، مراد دَ دے نه هغه کار دے چه مهم وی مراد دَ دینه تشریع نه ده ځکه چه په تشریع کښې وحی شته دے بلکه مراد دَ دینه هغه امور دی چه مصالح دَ مسلمانانو او طریقې دَ جنګ کولو دی۔ قرطبی دَ ابن خویز منداد نه نقل کړیدی چه واجب ده په والیانو مشوره کول دَ علماؤ سره په امورو دَ دین کښې۔ او دَ مشرانو دَ فوج سره په کارونو دَ جنګ کښې۔ او دَ نورو مشرانو تجربه کارانو سره په عامو مصالحو دَ خلقو کښې۔ او دَ وزیرانو منشیانو عاملانو سره په مصالحو دَ آبادو او دَ کلو خاروتو کښې۔ دَ حسن بصری نه روایت دے چه الله تعالیٰ خپل نبی ته امر دَ شورٰی دَ وجے دَ حاجت دَ هغه نه دے ورکړے بلکه دَ دے دَ پاره چه دَ ملګرو الفت پیدا شی او نفسونه ئې خوشحاله شی او نورو امتیانو دَ هغه اقتداء اوکړه په مشوره اخستلو کښې ځکه چه دا صفت دَ مؤمنانو دے په سورة شورٰی (وَالَّذِيْنَ اسْتَجَابُوْا لِرَبِّهِمْ وَاَقَامُوا الصَّلٰوةَ وَاَمْرُهُمْ شُوْرٰى بَيْنَهُمْ وَمِمَّا رَزَقْنٰهُمْ يُنْفِقُوْنَ ۳۸) کښې او دارنګ په وخت دَ بچی دَ پیو نه پریکولو کښې (فَاِنْ اَرَادَا فِصَالًا عَنْ تَرَاضٍ مِّنْهُمَا وَتَشَاوُرٍ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَا)، او قرطبی په باب دَ مشوره کښې ډیر تفصیل ذکر کړیدے۔
فَاِذَا عَزَمْتَ فَتَوَكَّلْ عَلَى اللّٰهِ، یعنی هر کله چه ستا زړه کلک شی په یو کار باندے روستو دَ مشورے کولو نه نو په کار باندے عمل کولو کښې توکل په الله تعالیٰ باندے کوه ځکه هغه پوره عالم دے

اِنۡ یَّنۡصُرۡکُمُ اللّٰہُ فَلَا غَالِبَ
که امداد اوکړی تاسو سره الله تعالیٰ نو نشته زور آور
لَکُمۡ ۚ وَاِنۡ یَّخۡذُلۡکُمۡ فَمَنۡ
په تاسو باندے او که پریږدی الله تعالیٰ تاسو نو څوک دے
ذَا الَّذِیۡ یَنۡصُرُکُمۡ مِّنۡۢ بَعۡدِہٖ ؕ
هغه کس چه امداد به اوکړی تاسو سره روستو د هغه نه،
وَعَلَی اللّٰہِ فَلۡیَتَوَکَّلِ الۡمُؤۡمِنُوۡنَ ﴿۱۶۰﴾
او خاص په الله تعالیٰ دے ځان اوسپاری مؤمنان.

په کارونو د مصلحت باندے او قادر دے دلته مراد د توکل نه امید د کامیابۍ د هغه کار دے د الله تعالیٰ نه. نه د مخلوق نه. اِنَّ اللّٰہَ یُحِبُّ الۡمُتَوَکِّلِیۡنَ، دا د دے وجے نه چه توکل علامه د صدق د ایمان ده او اعتقاد د احتیاج دے الله تعالیٰ ته او استغناء نه کول دی او دا لوے ادب دے نو سبب د محبت دے.

۱۶۰: ربط:- هر کله چه مخکښ آیت کښ بعضے علامات د نصرت الهیه ذکر شول چه هغه رحمت د الله تعالیٰ دے په رالیږلو د داسے رسول چه ښائسته اخلاقو والا دے نو اوس فائده د نصرت الهیه او نقصان د عدم نصرت د هغه ذکر کوی. دا رنګ مخکښ آیت کښ امر په توکل د الله تعالیٰ او مدح د توکل ئے ذکر کړله اوس علت بیانوی د پاره د تخصیص د توکل په الله تعالیٰ پورے.

اِنۡ یَّنۡصُرۡکُمُ اللّٰہُ فَلَا غَالِبَ لَکُمۡ، دا اګرچه په ظاهر کښ جمله خبریه شرطیه ده لیکن مقصد پکښ انشاء ده یعنی اسباب د نصرتِ الهیه حاصل کړئ چه لوے سبب د هغے نه اطاعت د رسول الله صلی الله علیه وسلم دے او د اسبابو د خذلان نه ځان بچ اوساتئ او د اول مثال غزوه بدر وو او دویم مثال غزوه د احد دے.

فَلَا غَالِبَ، په دے لفظ کښ تصریح ده په نفی د غالب په

په طریقه عموم سره دَ دے وجے نه لَا تُغۡلَبُوۡا ئے اونه وئیل۔
سوال :- نصرت دَ الله تعالیٰ خو مستلزم دے غلبے لره نو داخو داسے شو لکه چه او ئیلے شی که تاسو الله تعالیٰ غالب کړے نو بل څوک غالب په تاسو نشته او په دے کلام کښ خو ډیره فائده نشته دے ؟
جواب :- دلته مراد اِنۡ یَّنۡصُرۡکُمُ نه اراده دَ نصرت ده لکه (وَ اِنۡ یُّرِدۡكَ بِخَیۡرٍ فَلَا رَآدَّ لِفَضۡلِهٖ۔ یونس ۱۰۷)۔
لَکُمۡ ، په صله دَ غلبه کښ علیٰ راځی لیکن دلته لام ذکر دے دَ دے وجے نه چه غالب متضمن دے معنیٰ دَ مغلوب کولو لره او دَ هغے سره لام مناسب دے یعنی نشته داسے څوک غالب چه تاسو ته مغلوبیت درکړی ۔یعنی نشته داسے غالب چه منع کړی ستاسو نه نصرت دَ الله تعالیٰ۔
وَ اِنۡ یَّخۡذُلۡکُمۡ ، خذلان ، پریښودلو دَ امداد ته وئیلے شی۔
فَمَنۡ ذَا الَّذِیۡ یَنۡصُرُکُمۡ مِّنۡۢ بَعۡدِهٖ ، مَنۡ ، استفهام انکاری دے یعنی نشته هیڅوک نصرت کوونکے فلا ناصر لکم ئے او نه وئیل دَ پاره دَ شفقت کولو په مؤمنانو باندے یعنی دَ مؤمن نه الله تعالیٰ مطلق نصرت نه قطع کوی۔
مِنۡۢ بَعۡدِهٖ ، ضمیر راجع دے خذلان ته چه په یخذلکم کښ ضمناً موجود دے۔
وَعَلَی اللّٰهِ فَلۡیَتَوَکَّلِ الۡمُؤۡمِنُوۡنَ ، دا په طریقه دَ نتیجے سره دے یعنی مخکښ آیت کښ فتوکل علی الله په طریقه دَ دعوی سره وو او دغه دعوے ته ترغیب ذکر کوی په (ان الله یحب المتوکلین) بیائے په هغے باندے دلیل ذکر کړو نو روستو دَ دلیل نه نتیجه ئے ذکر کړه او قاعده داده چه اثبات دَ دعوی په دلیل سره اوشی نو په نتیجه کښ حصر او تاکید ذکر کیږی دَ دے وجے نه دلته وعلی الله مخکښ ذکر کړو او المؤمنون کښ اشاره ده چه دَ توکل بنیاد په ایمان باندے دے۔

وَمَا كَانَ لِنَبِيٍّ أَنْ يَّغُلَّ

او نه دے لائق دَ شان دَ نبی سره چه خیانت اوکړی

وَمَنْ يَّغْلُلْ يَأْتِ بِمَا غَلَّ

او چاچه خیانت اوکړو نو رابه شی دَهغه څیز سره چه خیانت ئے کړے وی

يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ۚ ثُمَّ تُوَفّٰى

په ورځ دَ قیامت بیا به پوره ورکړے شی

كُلُّ نَفْسٍ مَّا كَسَبَتْ وَهُمْ

هر چاته بدله دَهغه عمل چه کړے وی هغه او په دوی به

لَا يُظْلَمُوْنَ ﴿١٦١﴾

ظلم نشی کیدے۔

۱۶۱: ربط له :- ابن عاشور وئیلی دی چه مخکښ نصرت الهیه ذکر شو او دَ هغے دَ حصول دَ پاره ضروری ده چه ځان به دَغلول نه بچ ساتی او نبی صلی الله علیه وسلم ته هم نسبت دَغلول نه کوی۔

ربط ۲ :- دَ مخکښ نه په تیر شوی آیت کښ عظمت شان دَنبی صلی الله علیه وسلم په اعتبار دَ اخلاقو سره ذکر شو نو اوس دَ هغه صفت سلبیه ذکر کوی چه عصمت دے دَ هر قسم غلول نه که په مال کښ وی او که په وحی کښ وی۔ او مناسبت دَ مسئلے دَ غزوه احد سره را اکرچه سبب دَ نزول دَ دے آیت لکه چه ترمذی او ابوداؤد ذکر کړیدے په واقعه دَ بدر کښ دے) دا دے چه هغه غلویشت کسان چه دَ خپل مقام نه راکوز شوی وو په وخت دَ غنیمت راغونډولو کښ دَ هغوی په زړه کښ دا خوف وو چه کیدیشی چه نبی صلی الله علیه وسلم به مونږ له دَ دے نه هیڅ حصه رانکړی نو الله تعالیٰ دَ نبی عصمت ذکر کړو۔

وَمَا كَانَ لِنَبِيٍّ أَنْ يَّغُلَّ ، وَمَا كَانَ ، دا صيغه دَ انکار ده چه مبالغه
په نفي کښ پیدا کوي - او تخصیص دَ نبي صلی الله علیه وسلم
دَ دے وجے نه شوے چه هغه امیر او مالک دے دَ هغه دپاره
غلول جائز نه دے نو دَ نور لښکر دپاره خو په طریقه اولی
سره جائز نه دے - او بله وجه دا ده چه آیت نازل شو په
باره دَ نبي صلی الله علیه وسلم لکه چه دَ دے په سبب نزول
کښ مفسرینو ذکر کړیدی - يَغُلَّ ، دَ غلول نه دے غلول په
لغت کښ دلالت کوي په پټولو باندے یا په بندلو باندے
او په عرف دَ شرع کښ خیانت کول دی په غنیمت کښ - او کله
مطلق خیانت کول په مال او په امانت دَ غیر مال کښ هم استعمالیږي.
او مقصد دَ دے جملے امتیانو ته خطاب دے چه هر کله دَ نبي
شان دَ غلول نه اوچت دے نو هغه ته نسبت دَ غلول مه کوئ
او دا مناسب دے دَ بل قراءت سره چه (مَا كَانَ لِنَبِيٍّ أَنْ
يُّغَلَّ) - او قرطبي او ابن کثیر او آلوسي وئیلي دي چه دا غلول
دَ وحی او دَ علم او منع کول دَ کتابونو (دَ مستحق کسانو نه) ته
شامل دے.

وَمَنْ يَّغْلُلْ يَأْتِ بِمَا غَلَّ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ، په دیکښ قباحت
شان دَ غلول ذکر کوي دلیل دے چه دا ګناه کبیر دے -
يَأْتِ بِمَا غَلَّ ، بَاء ، دَپاره دَ مصاحبت ده یعني چه دَ قیامت
میدان ته راځي نو هغه څیز به ورسره وي کوم ئے چه په غلول
سره اخستلے وي او دا سے په حدیث دَ بخاري او مسلم کښ
راغلي دي مضمون ئے دا دے چه چا غلول کړے وي په اوښ
سره یا په غوا سره یا په بیزے ، کهے سره نو هغه به
خپل خپل آوازونه کوي او دَ دغه سړي په سټ باندے به
سواره وي معنئ دَ حدیث دا ده چه دغه عملونه به ممثل
شي په شکل دَ هغه مال چه په غلول سره اخستلے وي او دا سے
تمثیل دَ مرګ او نور اعمالو هم په حدیثو سره ثابت دے.
نو بعضِ معتزله چه دَ دے تاویلات ئے کړیدي هغه جائز

أَفَمَنِ اتَّبَعَ رِضْوَانَ اللّٰهِ

آیا نو څوک چه تابعداری کوی دَ رضا دَ الله تعالیٰ

كَمَنْ بَآءَ بِسَخَطٍ مِّنَ اللّٰهِ

پشان دَ هغه چا دے چه اخته شوے وی په غضب دَ الله تعالیٰ

وَمَأْوٰىهُ جَهَنَّمُ ۚ وَبِئْسَ الْمَصِيرُ ﴿۱۶۲﴾

او ځائے دَ هغه جهنم دے، او بد دے ځائے دَ ورتللو دا جهنم۔

نه دی۔ قرطبی او رازی وئیلی دی چه څو پورے حقیقت معنیٰ ممکن وی نو مجاز ته تلل دَ طریقے دَ عرب نه خلاف دے۔ او ابن کثیر په قباحت دَ غلول کښ شپاړس احادیث ذکر کړیدی او قرطبی تفصیل دَ اقوالو نقل کړیدے په باره دَ سوځولو دَ مال دَ غلول کوونکی کښ هلته یئے اوګوره۔
ثُمَّ تُوَفّٰى كُلُّ نَفْسٍ مَّا كَسَبَتْ وَهُمْ لَا يُظْلَمُوْنَ، په مخکښ جمله کښ فضیحت (شرمنده کول) په میدان قیامت کښ ذکر کړو اوس دَ هغوی نوره سزا اجمالاً ذکر کوی او لفظ دَ ثُمَّ دلالت کوی چه زمانه دَ فضیحت به هم اوږده وی۔ او مَا كَسَبَتْ کښ غلول داخل دے۔ وَهُمْ لَا يُظْلَمُوْنَ، حال دے دَ پاره دَ تاکید دَ توفی کل نفس۔
۱۶۲:۔ په دے آیت کښ نور قباحت دَ غلول ذکرکوی چه دا سبب دَ سخط دَ الله تعالیٰ دے دا رنګ دا آیت تفصیل دے دَ توفی کل نفس دَ پاره۔
أَفَمَنِ اتَّبَعَ، په دے آیت کښ تقابل دَ دواړو صفتونو والا دے او دا استفهام په معنیٰ دَ نفی سره دے۔ اتَّبَعَ، په معنیٰ دَ تَطَلَّبَ اوکوشش کول په اتباع کښ۔ رِضْوَانَ اللّٰهِ، په دیکښ مضاف پټ دے یعنی سبب دَ رضاء دَ الله تعالیٰ نو اکثرمفسرینو وئیلی دی چه مراد دَ دغه سبب نه عدم غلول دے۔ زجاج وئیلی دی مراد ترینه اتباع دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم ده

هُمْ دَرَجٰتٌ عِنْدَ اللّٰهِ ؕ وَاللّٰهُ

دوی مختلف درجو والا دی په تیز دَ الله تعالیٰ او الله تعالیٰ

بَصِیْرٌۢ بِمَا یَعْمَلُوْنَ ﴿۱۶۳﴾

لیدونکے دے دَ هغه عملونو چه دوی ئے کوی۔

اؤ بل روایت دَ هغه کښې مراددَ دے نه جهاد دے۔
کَمَنْۢ بَآءَ بِسَخَطٍ مِّنَ اللّٰهِ ، دلته هم مراد اسباب دسخط دی۔
سَخَطٍ ډیر غضب اوخفګان ته وئیلے شی عذاب ورسره وی اوکه نه وی۔
وَمَاْوٰىهُ جَهَنَّمُ ، دَدے په مقابل کښې مَاْوٰىهُ الجنة پټ دے۔
وَبِئْسَ الْمَصِیْرُ ، مَصِیْرُ ظرف مکان یا مصدر دے په مصیر او مرجع کښې فرق دا دے چه مصیر کښې معنیٰ دَ انتقال ده دَیو حال نه بل حال ته یعنی دوی په دنیا کښې په نعمتونو کښې دی لیکن په آخرت کښې به په عذابونو کښې وی او مرجع واپس کیدل دی حالت مخکنی ته که تغیر دَ حال پکښې وی اوکه نه وی۔
۱۶۳:- په دے کښې تقابل اجمالی دے۔ هُمْ ، ضمیر تا بعداری کوونکے دَ رضا اوخاوند دَ سخط دواړو ته راجع دے او دا جمله په منزله دَ جواب دَ افمن اتبع کښې ده چه لا ، پټ دے۔
دَرَجٰتٌ ، دا جمله مبالغه ده یعنی دَ دوی تفاوت دَیو بل نه داسے دے لکه چه دَ درجاتو تفاوت وی نو دلته ذو لفظ یا لهم پټ دے۔ دَرَجٰتٌ ، مطلق مرتبو ته وئیلے شی تو دَ جهنم والو په تفاوت باندے ئے اطلاق کیدیشی۔ یا دَ جهنم والو دَپاره لفظ درکات پټ دے۔ یا ایت خاص دے په جنت والو پورے چه افمن اتبع رضوان الله والا دی۔ عِنْدَ اللّٰهِ ، په معنی دَ حکم الله یا دَ علم الله دے۔
وَاللّٰهُ بَصِیْرٌۢ بِمَا یَعْمَلُوْنَ ، بَصِیْرٌ ، صفت مستقل دے دَعلیم نه په دیکښې معنیٰ دَ لیدلو موجوده ده۔ بِمَا یَعْمَلُوْنَ ، دَ دوی اعمال او دَ هغے درجات پکښې داخل دی۔

لَقَدۡ مَنَّ اللّٰهُ عَلَى الۡمُؤۡمِنِيۡنَ

یقیناً احسان کړیدے الله تعالیٰ په مؤمنانو باندے

اِذۡ بَعَثَ فِيۡهِمۡ رَسُوۡلًا مِّنۡ اَنۡفُسِهِمۡ

کله چه رالیږلے ئے دے په دوی کښ رسول دَ جنس دَ دوی نه

يَتۡلُوۡا عَلَيۡهِمۡ اٰيٰتِهٖ وَيُزَكِّيۡهِمۡ

بیانوی دوی ته ایاتونه دَ الله تعالیٰ او پاکوی دوی لره

وَيُعَلِّمُهُمُ الۡكِتٰبَ وَالۡحِكۡمَةَ ۚ

او ښائی دوی ته کتاب (قرآن) او پوهه دَ دین (سنت)

وَاِنۡ كَانُوۡا مِنۡ قَبۡلُ لَفِىۡ

اګرچه دوی وو دَ دینه مخکښ خامخا په

ضَلٰلٍ مُّبِيۡنٍ ﴿۱۶۴﴾

په ګمراهئ ښکاره کښ.

س ۱۶۴: ربط ۱: هرکله چه مخکښ دوه فریقه ذکر شول یو اهل الرضوان بل اهل سخط اوس دَ هغوی تفصیل ذکر کوی او حال دَ مؤمنانو چه رضوان والا دی. دویم حال دَ منافقانو ذکر کوی په "اَوَلَمَّآ اَصَابَتۡكُمۡ مُّصِيۡبَةٌ" سره چه دوی اهل سخط دی.

ربط ۲: هرکله مخکښ صفات دَ نبی صلی الله علیه وسلم ذکر شول دَ اخلاقو دَ هغه او عدم غلول او اتباع رضوان نو اوس ترغیب ورکوی مؤمنانو ته اتباع دَ هغه ته په ذکر دَ احسان سره نو اشاره ده چه دَ داسے نبی ملګرتیا نه په جهاد کښ تختیدل پکار نه دی لکه چه بعض په احد کښ اوکړل.

لَقَدۡ مَنَّ اللّٰهُ، مَنّ، احسان ښکاره کول او نعمتونو شمارل دی په بل چا باندے دا دَ بندګانو دَ طرف نه مذموم کار دے دَ وجے دَ ثواب باطیدلو نه او دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه محمود کار دے

دپاره دَ تذکیر او ترغیب دَ شکر کولو دے او دا رنګ په افعالو دَ بندګانو او دَ الله تعالیٰ کښ فرق وی۔

عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ ، مراد دَ دے نه مؤمنان دَ هغه وخت دی چه عرب وو یا مؤمنان دَ ټولو زمانو عرب او عجم دی او تخصیص دَ مؤمنانو دَ دے وجے نه دے چه هغوی ترینه نفع حاصل کړیده -

اِذْ بَعَثَ فِيْهِمْ رَسُوْلًا مِّنْ اَنْفُسِهِمْ ، مراد دَ دینه هم جنس دی لکه په سوره توبه بـ ۱۲۸ کښ او چه هم جنس دَ هغوی دے نو بشر دے او اوله وجه دَ امتنان دا ده چه په وجه دَ بشریت سره دوی ته دَ هغه نه هدایت او علم ایزده کول آسان دی ځکه چه دَ هم جنس په مینځ کښ نفرت او وحشت طبعی نه وی۔ دویمه دا ده چه دَ دوی پشان بشر دے لیکن هر کله چه ئے معجزات مافوق البشریه ښکاره کړل نو یقیناً معلومه شوه چه دا حق رسول دے او که مراد دَ مؤمنین نه صرف عرب وی نو وجه دَ امتنان دا ده چه عرب دَ ده دَ وجے نه دَ ټولو قومونو نه اشرف شول - او وجه د انفسیة دَ عرب سره دا ده چه په ټولو خاندانونو دَ عرب کښ دَ نبی صلی الله علیه وسلم نسبی شرکت وو ماسیوا دَ بنو تغلب نه چه هغوی نصاری وو نو الله تعالیٰ زمونږ نبی دَ هغوی دَ شرکت دَ نسب نه بچ ساتلے دے۔

فائده :- آلوسی نقل کړیدی چه دَ شیخ ولی الدین عراقی نه تپوس اوکړے شو چه علم په بشریت او عربیت دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم فرض عین دے او که فرض کفائی دے نو هغه جواب ورکړو چه دا علم (فرض عین) شرط دے دَ صحت دَ ایمان دپاره نو که یو شخص اُووائی چه زه ایمان لرم دَ هغه په رسالت باندے لیکن نه پوهیږم چه هغه دَ جنس دَ بشر نه وو یا دَ ملائکو نه یا دَ جناتو نه او نه پوهیږم چه دَ عرب نه وو او که دَ عجم نه وو نو شک نشته په کفر دَ دغه شخص کښ ځکه دے دَ قرآن تکذیب کوی یعنی په دے آیت کښ دَ هغه درے صفات ذاتیه ذکر دی -فِيْهِمْ ، کښ

أَوَلَمَّآ أَصَابَتْكُم مُّصِيبَةٌ قَدْ

آیا او هر وخت چه اورسیده وتاسو ته مصیبت نو یقینًا

أَصَبْتُم مِّثْلَيْهَا ۙ قُلْتُمْ أَنّٰى

تاسو رسولے دے دوچند دَ هغے او تاسو وائی دَ کوم ځائے نه دے

هٰذَا ۖ قُلْ هُوَ مِنْ عِندِ

دا ؟ ته اُوایه چه دا دَ طرف

أَنفُسِكُمْ ۗ إِنَّ اللَّهَ عَلٰى كُلِّ

دَ نفسونو ستاسو ته دے يقينًا الله تعالیٰ په هر

شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴿١٦٥﴾

څیز باندے قدرت لری۔

عربیت ته اشاره ده رسولاً کښ دَ هغه رسالت ذکر دے۔ او من انفسهم، کښ دلیل دے دَ هغه په بشریت باندے۔
نور تفسیر دَ دے آیت په سوره بقره ۱۲۹ کښ تیر شویدے۔
وَإِن كَانُوا مِن قَبْلُ ، مضاف الیه پټ دے یعنی۔ قَبْلَ بَعْثَتِهٖ۔
لَفِي ضَلَالٍ مُّبِينٍ ، دا جمله بیان دے دَ تکمیل دَ نعمت دَ بعثت دَ هغه یعنی بعثت دَ هغه سبب دے دَ ۔ بچ کیدلو دَ گمراهئ نه۔
مُبِينٍ ، کښ اشاره ده چه دوی شرک او ظلمونه کول او هغه ښکاره گمراهی ده۔
۱۶۵ : ربط ۱ :- هر کله چه امتنان په مؤمنانو باندے ذکر شو په بعثت دَ نبی صلی الله علیه وسلم سره نو منافقانو اعتراض اوکړو چه دا څه رنګه احسان دے او حال دا چه په احد کښ دَ دے نبی په ملګرتیا کښ عجب مصیبت اورسیدلو او مؤمنانو هم تعجب (غیر اختیاری) اوکړو چه دَ نبی په ملګرتیا کښ دا مصیبت مونږ ته ولے اورسیدلو۔
ربط ۲ :- مخکښ دَ منافقانو دَ یو اعتراض په رسول باندے

جواب ورکړے شو چه هغه نسبت دَ غلول وو هغه ته نو اوس
دَ هغوی دَ بل اعتراض جواب کوی - او په جواب کښې بیا درے
علتونه دَ هزیمت احد ذکر کوی - په درے آیاتونو کښې -
أَوَلَمَّآ أَصَابَتْكُم مُّصِيبَةٌ، همزه دَ استفهام انکاری دے
یعنی زجر دے په دغه راتلونکی قول دَ دوی باندے - او
ابن عطیه وئیلی دی چه دا استفهام تقریری دے یعنی دا
قول دوی کړے دے او معطوف علیه پټ دے یعنی أَفَعَلْتُمْ
كَذَا وَقُلْتُمْ حِينَئِذٍ كَذَا -
مُّصِيبَةٌ، مراد دَ دینه شهادت دَ اویا کسانو او زخمی کیدل
دَ نبی صلی الله علیه وسلم او بعض صحابه کرامو دی سره دَ
فوت کیدلو دَ غنیمت نه -
قَدْ أَصَبْتُم مِّثْلَيْهَا، دا جمله صفت دے دَ مصیبة دپاره
یا حال دے - مراد دَ دے نه مالونه دَ غنیمت حاصلول دی -
قُلْتُمْ أَنَّىٰ هَٰذَا، دا محل دَ استفهام دے او دا خطاب دے
مؤمنانو ته په طریقه دَ تعجب دَ هغوی سره لکه أَمْ حَسِبْتُمْ
کښې هغوی ته خطاب دے او مصیبت هم مؤمنانو ته رسیدلے
وو په ورځ دَ احد یا دا خطاب منافقانو ته دے او خطاب دَ
أَمْ حَسِبْتُمْ په دے اعتبار سره دے چه دوی ځان په مؤمنانو
کښې شمارل او دا قول غوره دے -
قُلْ هُوَ مِنْ عِندِ أَنفُسِكُمْ، مراد په دے سره درے امور
دی اول دا چه تاسو مرکز خالی کړو او عصیان دَ رسول
صلی الله علیه وسلم اوکړو او دَ میدان جهاد نه او تختیدلئ -
دویم دا چه تاسو غوره کړے وو راوتل دَ مدینے نه احد
ته دپاره دَ جهاد - دریم په حدیث دَ ترمذی کښې راغلی دی
چه ورځ دَ بدر کښې هر کله صحابه فدیه اخستل دَ قیدیانو
نه غوره کړله نو دوی ته اوئیلے شو چه فدیه واخلئ لیکن ستاسو
نه به قتل کولے شي اویا کسان -
إِنَّ اللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ، یعنی الله تعالیٰ ستاسو په امداد

وَمَآ اَصَابَكُمْ يَوْمَ الْتَقَى

او هغه (مصيبت) چه رسيدلے دے تاسو ته په هغه ورځ چه مخامخ شوے

الْجَمْعٰنِ فَبِاِذْنِ اللّٰهِ وَلِيَعْلَمَ

دواړه لښكرے نو دا په حكم د الله تعالىٰ دے او دے د پاره چه ښكاره كړى

الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۱۶۶﴾

مؤمنان۔

باندے قادر دے ليكن د هغه سبب د وجے نه ستاسو نصرت ئے اونكړو۔ په مِنْ عِنْدِ اَنْفُسِكُمْ، كښ اشاره ده سبب ته نو دا رد دے په جبريه باندے او ذكر د قدرت د الله تعالىٰ كښ رد دے په قدريه باندے۔

۱۶۶ :- په دے آيت كښ دوه علتو نه نور ذكر كوى۔ اول علت فَبِاِذْنِ اللّٰهِ۔ دا خو عام علت دے ځكه هر څيز د خير او شر په اذن د الله تعالىٰ سره دے۔ او دويم علت خاصه دے تعلق لرى د مصيبت سره چه هغه وَلِيَعْلَمَ الْمُؤْمِنِيْنَ دے او مراد د علم نه امتياز او اظهار دے دا سے مخكښ تير شويدى۔

سوال :- مَآ اَصَابَكُمْ كښ مَا شرطيه دے ليكن د دے په خبر كښ فَاء، په دے شرط سره داخليږى چه فعل د استقبال وى او اَصَابَكُمْ خو فعل ماضى ده ؟

جواب :- ابن عطيه وئيلى دى چه فاء په دا سے وخت كښ داخليدلے شى چه جزا سبب د پاره د شرط وى نو دلته ترتيب د عبارت په اصل كښ دا دے (وَمَآ اَذِنَ اللّٰهُ فِيْهِ فَهُوَ الَّذِىْٓ اَصَابَكُمْ) ليكن اصابت اهم وو په نفسونو كښ د دے وجے نه هغه ئے مخكښ كړيدے۔

فَبِاِذْنِ اللّٰهِ، دلته مراد اذن نه قضاء او تقدير دے (ابن عباس)۔

وَلِيَعْلَمَ الَّذِينَ نَافَقُوا ۚ

او دے دپاره چه ښکاره کړی هغه کسان چه منافقت ئے کړیدے

وَقِيلَ لَهُمْ تَعَالَوْا قَاتِلُوا

او وئیلے شویدی دوی ته راشئ جنګ اوکړئ

فِي سَبِيلِ اللَّهِ أَوِ ادْفَعُوا ۖ

په لار د الله تعالیٰ کښ یا دفع کړئ دشمن ،

قَالُوا لَوْ نَعْلَمُ قِتَالًا لَاتَّبَعْنَاكُمْ ۗ

دوی وئیل که پوهیدلے مونږ په جنګ کولو خامخا مونږ به تابعداری کړے وے ستاسو

هُمْ لِلْكُفْرِ يَوْمَئِذٍ أَقْرَبُ

دوی کفر ته په دغه ورځ زیات نیزدے دی

مِنْهُمْ لِلْإِيمَانِ ۚ يَقُولُونَ بِأَفْوَاهِهِمْ

په نسبت د ایمان ، وائی دوی په خلو خپلو باندے

مَا لَيْسَ فِي قُلُوبِهِمْ ۗ وَاللَّهُ

هغه چه نیشته په زړونو د دوی کښ ، او الله تعالیٰ

أَعْلَمُ بِمَا يَكْتُمُونَ ﴿١٦٧﴾

ښه پوهه دے په هغه څه چه دوی پټوی ۔

وَلِيَعْلَمَ الْمُؤْمِنِينَ ، دا عطف دے په معنیٰ د اذن الله باندے عطف د سبب دے په مسبب باندے ۔

الْجَمْعَانِ ، نه مراد جمع د مؤمنانو او جمع د کافرانو ده په احد کښ ۔

۱۶۷ :- په دے آیت کښ آخری علت ذکر کوی او ورسره د منافقانو قبائح ذکر کوی چه هغه په دے آیت کښ څلور دی.
اول صفت ئے نَافَقُوا ، دے چه مراد د دے ښکاره کول

دَ اسلام او پټ ساتل دَ کفر دی او دویم صفت۔
وَقِيلَ لَهُمْ تَعَالَوْا قَاتِلُوْا فِيْ سَبِيلِ اللهِ، دا جمله عطف دے په صفت باندے او عطف دَ خاص دے په عام یا عطف دَ علامت دَ خیز دے په هغه خیز باندے۔ تَعَالَوْا، کښې دعوت دی دَ اوچت فعل او قَاتِلُوْا جواب امر دے یعنی راشئ دَ پاره دَ قتال کولو۔ او قائل په قِيل کښې رسول الله صلی الله علیه وسلم دے یا نور صحابه کرام۔
اَوِادْفَعُوْا، او، دَ پاره دَ تخیر دے او دَ دواړو فرق دا دے چه که ستاسو په زړونو کښې محبت دَ دین اسلام وی نو دَ هغے دپاره قتال اوکړئ او که محبت دَ دین اسلام نه وی نو کم از کم دَ خپل نفسونو او اهل او مال نه خو دفاع دَ دشمن اوکړئ یا قتال کښې خو عمل دَ قتل دے او دفاع کښې دَ جماعت دَ مؤمنانو ډیرول دی دَ پاره دَ هیبت اچولو په دشمن باندے۔
قَالُوْا لَوْ نَعْلَمُ قِتَالًا لَّا تَّبَعْنَاكُمْ، مخکښې تمهید وو او دا صفت دَ منافقانو دے۔ دا جواب دَ سوال پټ دَ پاره دے۔ یعنی دوی څه جواب اوکړو دَ تعالوا دَ پاره نو دوی اوئیل قالوا الخ نو دَ دے وجے نه دَ دے عطف ئے په ما قبل نه دے کړے۔ او دَ دے قول دَ دوی دوه مطلبه دی اول مطلب دا چه مونږ دَ هیڅ نه خبر نه یو نه دواقع کیدلو دَ قتال نه او نه دَ طریقے دَ قتال نه او دا قول ځ دوی په طور دَ معاندے او مکابرے سره وو یا په طور دَ تجاهل (ځان په زوره جاهل کول) سره۔ دویم مطلب دا دے چه دا قتال فی سبیل الله نه دے دا هسے یو بل وژل او ظلم کول دی او دا قول دَ دوی تصریح ده په کلمه دَ کفر باندے ځکه دَ نبی صلی الله علیه وسلم عمل ته دَ دوی دَ ظلم نسبت اوکړو دَ دے وجے نه ورپسے فرمائیلی دی۔
هُمْ لِلْكُفْرِ يَوْمَئِذٍ اَقْرَبُ مِنْهُمْ لِلْاِيْمَانِ، دا دَ دوی بل صفت قبیحه دے۔ هُمْ، مبتدا ده او اَقْرَبُ، اسم تفضیل دے خبر دے او لِلْكُفْرِ او لِلْاِيْمَانِ، دواړه په اقرب

پورے متعلق دی۔
سوال :۔ دوه حروف جاره چه یو شان وی په یو عامل پورے هله متعلق کیدیشی چه په عطف یا بدلیت سره وی دلته خو عطف او بدلیت دواړه نشته۔
جواب :۔ دا خاص دے په افعل التفضیل پورے ځکه افعل التفضیل په منزله دَ دوه فعلونو دے او لام او من او الی په صله دَ افعل التفضیل کښ راتلے شی۔
يَوْمَئِذٍ، متعلق دے په اقرب پورے دارنګ مِنْهُمْ، هم په دے پورے متعلق دے او دا مِنْ دَ پاره تفضیل دے په مفضول باندے داخل دے۔ نو حاصل معنیٰ دَ دے جملے دا ده چه دوی مخکښ دَ دے وخت نه پټو ونکی دَ نفاق وونو په ظاهر کښ دَ کفر نه ډیر لرے وو هرکله چه دوی دَ امداد دَ مسلمانانو نه رجوع اوکړه تو پټ نفاق ئے ښکاره شو نو اوس دوی کفر ته ډیر نزدے شول په نسبت دَ نزدیکت دَ دوی ایمان ته۔ یا معنیٰ دا ده چه دوی کافرانو ته ډیر نزدے دی په نصرت کولو کښ په نسبت دَ مؤمنانو ځکه هرکله چه ملګرتیا دَ مسلمانانو پریښودله دَ هغوی لښکر ئے کم کړو نو دا سبب شو دَ تقویت دَ کافرانو بنا په دے توجیه مضاف پټ دے یعنی اهل الکفر و اهل الایمان۔ دَ حسن بصری نه روایت دے چه هرکله الله تعالیٰ اوفرمائیل چه دوی کفر ته ډیر نزدے دی نو معلومه شوه چه دوی کافر دی۔ او واحدی په وسیط کښ وئیلی دی چه دا دلیل دے چه چا کلمه دَ کفر وئیلی وی نو تصریح به دَ هغه په کفر باندے نشی کیدلے۔ ترڅو چه تحقیق نه وی کړے شوے
يَقُولُونَ بِأَفْوَاهِهِمْ مَّا لَيْسَ فِي قُلُوبِهِمْ، دا دَ دوی بل صفت قبیحه دے او دا جمله مستانفه جواب دَ سوال دے چه دوی کلمه دَ توحید وائی نو څه رنګ اوئیلے شو چه دوی کفر ته نزدے دی حاصل جواب دا دے چه دَ دغه وینا سره

الَّذِيْنَ قَالُوْا لِاِخْوَانِهِمْ

دا هغه کسان دی چه وائی په باره دَ ورونړو خپلو کښ

وَقَعَدُوْا لَوْ اَطَاعُوْنَا مَا قُتِلُوْا ؕ

او ناست دی (دَ جهاد نه) که دوی زمونږ خبره منلے، نه به وو وژلے شوے.

قُلْ فَادْرَءُوْا عَنْ اَنْفُسِكُمُ

ته اُوایه نو دفع کړئ دَ خپلو ځانونو نه

الْمَوْتَ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿۱۶۸﴾

مرګ که تاسو رشتینی یئ۔

دَ زړه عقیده نشته۔ ځکه دوی کفر ته نزدے دی۔

سوال :- قول خو په خُلے باندے وی نو بافواههم ئے ولے ذکر کړو؟

جواب ۱ :- دا تاکید دے ځکه قول کله نفسانی هم وئیلے شی نو په دے لفظ سره معلومه شوه چه دلته مراد قول لسانی دے.

جواب ۲ :- دلته دَ افواه او دَ قلوب تقابل دے دپاره دَ بیان دَ نفاق دَ دوی یعنی ایمان ئے صرف په افواه کښ موجود دے او نیشته په قلوبو دَ دوی کښ۔ وَاللّٰهُ اَعْلَمُ بِمَا يَكْتُمُوْنَ ،

سوال :- په پټ خیز چه هر کله دوه کسان علم لری نو دا سے نشی وئیلے چه فلانے اَعلم دے ؟

جواب :- علم دَ الله تعالیٰ په ما یکتمون باندے علم تفصیلی دے دَ بل چا علم داسے نشی کیدے۔

۱۶۸ :- په دے آیت کښ دَ منافقانو بل صفت قبیحه دے مخکنی صفتونه لازمی دی او دا متعدی دے غیر ته۔ یعنی نور خلق دَ قتال نه منع کوی دَ دے وجے نه دائے په مستقل آیت کښ ذکر کړو۔

الَّذِيْنَ قَالُوْا لِاِخْوَانِهِمْ، په دے الذین کښ ډیر وجوه دَ اعراب دی حالت دَ دفع (پیښ) ع۱ بنا په دے دے چه دا خبر دے دَ مبتدا محذوف۔ ع۲ یا بدل دے دَ ضمیر دَ یکتمون نه۔

ع۳ یا مبتداء ده او خبر یې قل فادرءوا دے په تقدیر د فقل لهم سره - او حالت د نصب (زور).
ع۴ په تقدیر د فعل ذم سره یعنی اذم الذین - ع۵ یا بدل دے د الذین نافقوا نه - ع۶ یا صفت دے د هغې د پاره - حالت د جر (زیر) - ع۷ بدل دے د ضمیر د افواههم نه - ع۸ یا بدل دے د ضمیر د قلوبهم نه -
لِإِخْوَانِهِمْ، لام اجلیه دے مراد د دینه اخوت د نسب دے یا مشارکت په وطن کښ.
وَقَعَدُوْا، دا حال دے د ضمیر د قالوا نه او مراد د قعود نه پاتے کیدل په کورونو کښ یا قتال کښ شرکت نه کول.
لَوْ اَطَاعُوْنَا مَا قُتِلُوْا، دا جمله مقوله د قالوا د پاره ده او مقصد په دیکښ منع کول دی د قتال فی سبیل الله نه -
قُلْ فَادْرَءُوْا عَنْ اَنْفُسِكُمُ الْمَوْتَ، وجه د ملازمے دا ده چه ستاسو په اطاعت سره بل شخص د قتل او مرګ نه بچ کیږی نو لازم دا ده چه تاسو به هم د ځانونو نه د مرګ نه بچ کولے شئ او نتولو اهل عقلو ته معلومه ده چه څوک ځان د مرګ نه بچ کولے نه شی - ذکر د موت یې اوکړو ځکه قتل سبب د موت دے او سبب مسبب دواړه په اختیار د الله تعالی کښ دی.
کشاف وغیره لیکلی دی چه په دغه ورځ کښ د دوی نه اویا کسان بغیر مرګ سره مړه شول او د دوی ځان نشو بچ کولے.
اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ، یعنی صادق یئ په دے خبره کښ چه قعود سبب د نجات دے د موت نه.
فائده:- دا سے مضمون په آیت ۱۵۶ کښ تیر شوے دے لیکن هلته عموم د عادت د دوی مراد وو ځکه لفظ اذا، په دے عموم باندے دلالت کوی او دلته دا قول د دوی په واقعه د احد کښ مراد دے او په واقعه د احد کښ صرف اویا ملګری قتل کړے شوے وو بغیر مرګ باندے نه وو مړه شوی ځکه په دے آیت کښ ذکر د موت یې کړے نه دے نو معلومه شوه دا تکرار نه دے.

وَلَا تَحْسَبَنَّ الَّذِيْنَ قُتِلُوْا

او گمان مه کوه په هغه کسانو چه او وژلے شول

فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ اَمْوَاتًا ؕ بَلْ

په لار د الله تعالی کښ مړه (دعاموم مړو پشان) بلکه دوی

اَحْيَاۤءٌ عِنْدَ رَبِّهِمْ يُرْزَقُوْنَ ﴿۱۶۹﴾

ژوندی دی نیزدے دی رب خپل ته رزق ورکیدیشی دوی ته۔

س۱۶۹:- ربط :- هر کله چه - لَوْ اَطَاعُوْنَا مَا قُتِلُوْا - نه معلومه شوه چه منافقانو خلقو مرګ د شهادت برباد ګنړلو د هغے نه ئے خلق منع کول نو په دے آیاتونو کښ د هغوی د دے ګمان رد کوی د دے وجے نه عطف سره ئے ذکر کړو۔

وَلَا تَحْسَبَنَّ ، خطاب نبی صلی الله علیه وسلم ته دے او مراد تر ینه هر مخاطب دے او تعریض دے په منافقانو باندے حسبان، ظن او ګمان ته وئیلے شی نو هر کله چه منع او کړله د ګمان کولو نه دوی باندے د اموات نو د یقین کولو نه په مرګ د هغوی باندے په طریقه اولی سره منع اوشوه او دا رنګ په قرآن کریم کښ په ډیرو آیاتونو کښ نهی د حسبان ئے کړیده او هغه مستلزم ده نهی د یقین او اعتقاد لره لکه په سوره ابراهیم س۴۲ ، س۴۷ ۔ او هر کله چه دلته رد وو په عقیده د منافقانو باندے نو د دے وجے نه ئے نهی د حسبان نه او کړله چه مستلزم ده نهی د عقیدے لره او په سوره بقره س۱۵۴ کښ صرف ذکر د ادب وو مؤمنانو ته نو هلته صرف لا تقولوا ، وئیلے دے۔

اَلَّذِيْنَ قُتِلُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ، دا مفعول اول دے د تحسبن د پاره او اَمْوَاتًا ، دویم مفعول دے نکره ده مراد ترینه یو نوع د مرګ ده چه هغه موت د روح یا مشابه کیدل د عامو مړو سره دی۔

بَلْ اَحْيَاۤءٌ ، بَلْ ، اضراب دے د جملے لا تحسبن ۲ه نه او

اضراب دَ جملے نه په جملے سره وی نو دلته هُمْ پټ دے بَلْ هُمْ اَحْيَآءٌ، نو دوی لره یو قسم حیات ثابت دے چه دَ هغے تفسیر په حدیث دَ ابوداؤد او احمد کښ دَ عبد الله بن عباس رضی الله عنه نه نقل دے (مضمون ئے دا دے) چه هر کله په احد کښ اویا کسان شهیدان شول نو الله تعالیٰ دَ هغوی ارواح دَ شنو مارغانو په خیټو کښ واچول چه نهرونو دَ جنت ته تلل او دَ جنت میوے ئے خوړلے او آرام ئے کوو په هغه قندیلونو کښ چه دَ عرش دَ لاندے آویزان دی نو هر کله دوی دا مزے اولیدلے او اوڅکلے نو دوی اوئیل ارمان چه ورونړو زمونږ ته علم وے دَ دے حال چه زمونږ دے دَ دے دَ پاره چه جهاد نه روستو نشی نو الله تعالیٰ اوفرمائیل زه به دا خبر ستاسو نه هغوی ته اورسوم نو دا آیاتونه الله تعالیٰ نازل کړل. یعنی مونږ له ئے خبر راکړو چه دَ دوی ارواح ژوندی او په مزو کښ دی او دَ جنت میوے خوری او دا رنګ حدیث دَ مسلم کښ دَ ابن مسعود رضی الله عنه نه نقل دے (مضمون ئے دا دے) چه مونږ دَ دے آیت په باره کښ دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم نه تپوس اوکړو نو هغه جواب راکړو چه دَ دوی ارواح دَ شنو مرغو په خیټو کښ دی..... ابن جریر او ابن کثیر او نورو مفسرینو هم دا احادیث دَ دے آیت په تفسیر کښ ذکر کړیدی.

نو معلومه شوه چه الله تعالیٰ شهداؤ لره موت ظاهری ذکر کړے په دے لفظ سره چه قتلوا او موت حقیقی (روحانی) دَ دوی نه نفی کړیدے په دے قول سره بل احیاء نو معلومه شوه چه دَ دوی ژوند حیات دنیویه نه دے چه اجسادُ دَ دوی دِ بالکل روغ وی او وینه دِ پکښ وی او نبض ئے خوزیږی - دا رنګ هغه ژوند صرف دَ ارواحو نه دے کوم چه ټولو خلقو ته ثابت دے بلکه دا ژوند په معنیٰ دَ وجود دَ آثارو دَ حیات دے ارواحو دَ دوی لره چه هغه حصول دَ مزو او دَ خوراکونو دَ جنت دے (ابن عاشور او ابن عطیه وئیلی دی چه دوی خو ضرور مړه شوی دی او

فَرِحِيْنَ بِمَآ اٰتٰهُمُ اللّٰهُ مِنْ

خوشحالیږی په هغه څه چه ورکړیدی دوی ته الله تعالیٰ دَ

فَضْلِهٖ لا وَيَسْتَبْشِرُوْنَ بِالَّذِيْنَ

فضل خپل نه او زیرے به اخلی په باره دَ هغه کسانو کښ چه

لَمْ يَلْحَقُوْا بِهِمْ مِّنْ خَلْفِهِمْ لا

نه وی رسیدلے دوی ته دَ روستو دَ دوی نه

اَلَّا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ ﴿۱۷۰﴾ م

چه نه به وی هیڅ یره په دوی باندے او نه به دوی خفه کیږی۔

وقف لازم

بدنونه دَ دوی په خاورو کښ دی او ارواح دَ دوی ژوندی پشان دَ
ارواحو دَ عامو مؤمنانو دی لیکن دوی له فضیلت ورکړے شوے دے
په رزق دَ جنت سره دَ وخت دَ قتل نه گویا که دَ دوی دنیوی ژوند
همیشه دے (عین حیات دنیویه نه دے)۔
ابن کثیر هم په ابتدا دَ دے آیت کښ وئیلی دی چه دوی اگرچه
قتل کړے شوے دی په دار دُنیا کښ لیکن ارواح دَ دوی ژوندی دی
او قرطبی وئیلی دی چه دوی ژوندی دی په جنت کښ (نور تفصیل
دَ دے متعلق ذکر کړے شویدے په تفسیر دَ سوره بقره کښ)
عِنْدَ رَبِّهِمْ، دا لفظ دویم خبر دے دَ هُمْ، پټ دَ پاره یا صفت دَ احیاء
دے یا ظرف مقدم دے دَ پاره دَ یرزقون۔ او مراد دَ عِنْدَ نه
عندیت دَ مکان دے چه جنت دے یا عندیه دَ قرب او شرافت دے۔
يُرْزَقُوْنَ، دا جمله صفت دَ احیاء یا دریم خبر دے دَ هُمْ پټ
دَ پاره او مراد دَ رزق، نه رزق دَ جنت دے لکه مختلف احادیث
کښ ذکر شول۔
۱۷۰:- فَرِحِيْنَ بِمَآ اٰتٰهُمُ اللّٰهُ مِنْ فَضْلِهٖ، دا حال دے دَ ضمیر دَ
یرزقون نه او دا فرح په نعمتونو دَ جنت باندے ده دا دَ دنیا په
نعمتونو باندے نه ده ځکه چه هغه صفت دَ کافرانو دے چه هغه

په سوره قصص ۵۲ کښ دے. مِنۡ، اجلیه دے یعنی دا نعمتونه او خوشحالی په عمل سره نه ده ځکه په الله تعالیٰ باندے ثواب ورکول دَ عملونو واجب نه دی بلکه دا دَ هغه دَ فضل دَ وجے نه ده.

وَيَسۡتَبۡشِرُونَ بِالَّذِينَ لَمۡ يَلۡحَقُوا۟ بِهِم مِّنۡ خَلۡفِهِمۡ، دا عطف دَ فعل دے په اسم (فرحین) باندے ځکه دا فعل هم په تاویل دَ اسم کښ دے یا هغه اسم په معنیٰ دَ فعل کښ دے او یَسۡتَبۡشِرُونَ، سین، او تاء، دَ پاره دَ طلب نه دی بلکه دا دَ پاره دَ قبولیت دَ بشارت دی.

بِالَّذِينَ لَمۡ يَلۡحَقُوا۟، په دیکښ دَ مفسرینو دوه اقوال دی- اول قول، دا چه مراد دَ دینه دَ دوی ملګری او اولاد دی چه دوی پریخودلی وو په ایمان او په جهاد کښ نو دوی له به الله تعالیٰ خبر ورکړی چه هغوی شهیدان شی چه تاسو سره په جنت کښ یوځائے شی- او لَمۡ يَلۡحَقُوا۟، نه مراد دا چه دَ دوی سره یو وخت کښ شهیدان شوے نه دی- دویم قول دا دے چه مراد دَ دینه ټول مؤمنان دی چه قتال ئے نه وی کړے یعنی دوی ته یقین راغے چه دا نعمتونه په اصل په سبب دَ ایمان سره دی نو دَ ځانونو دَ پاره خوشحاله شی په بے شماره نعمتونو چه آتَاهُمُ اللهُ مِن فَضۡلِهِ، کښ مراد دی او خوشحاله به شی دَ عامو مؤمنانو په باره کښ په دے خبره چه هغوی باندے به هم خوف او حزن نه وی یعنی جنت ته به داخل شی او دیته اشاره ده په سوره طور ۲۱ کښ.

أَلَّا خَوۡفٌ عَلَيۡهِمۡ وَلَا هُمۡ يَحۡزَنُونَ، دا بدل اشتمال دے دَ الذین لم یلحقوا نه دَ "باء" لاندے دے او دا مبشر به یعنی بشارت ورکیدیشی چه له تاسو نه روستو خلقو باندے به خوف او حزن نه وی بلکه جنت ته به داخلیږی- یا مبشر به پټ دے او أَلَّا، کښ لام، اجلیه حذف دے یعنی بشارت به ورکیدیشی په ډیرو بشارتونو سره ځکه چه په دوی باندے خوف او حزن نشته دے- او په دیکښ ډیر اقوال دی اول قول دا چه نه به ویره وی په دوی باندے په راتلونکی وخت کښ او نه به غمژن کیږی په جدائے دَ دنیا باندے دویم قول دا دے چه نه به وی

يَسْتَبْشِرُوْنَ بِنِعْمَةٍ مِّنَ اللّٰهِ

زیرے به اخلی په نعمت دَ الله تعالیٰ

وَفَضْلٍ ۙ وَّ اَنَّ اللّٰهَ لَا يُضِيْعُ

او په فضل سره او يقيناً الله تعالیٰ نه برباد وی

اَجْرَ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۱۷۱﴾ ع ۱۷ ع ۸

ثواب دَ ایمان والو۔

ویره په دوی باندے په باره دَ اولاد دَ دوی کښ او نه به غمژن وی په پاتے شوے مالونو پسے۔ دریم قول دا دے چه نه به ویریږی دَ ناکاره هیبتونو نه او نه به غمژن کیږی په فوت کیدلو دَ نعمتونو سره او په دواړو جملو کښ مقصد دَ همیشوالے دَ عدم خوف او حزن دواړو دے۔

۱۷۱:- يَسْتَبْشِرُوْنَ بِنِعْمَةٍ مِّنَ اللّٰهِ وَفَضْلٍ، په دے آیت کښ درے اقوال دی: اول قول دا چه دا استیناف دے ځکه چه اول استبشار په باره دَ وروروکښ وو او دا استبشار په باره خپل ځانونو کښ دے۔ دویم قول دا دے چه دا بدل دے دَ مخکښ یستبشرونه دَ پاره دَ تاکید او په اول الا خوف ---آه سره علت ذکر کړے وو او په دے آیت کښ مبشر به ذکر کوی چه نعمت او فضل دے۔ دریم قول دا دے چه اول استبشار دَ شهیدانو وو او دویم استبشار دَ الذین لم یلحقو دَ پاره دے دَ نو بناء په دے قول یستبشرون ضمیر الذین لم یلحقوا ته راجع دے۔ فرق په مینځ دَ نعمت او فضل کښ په څو وجوهو سره دے۔

اوله وجه، چه نعمت ثواب دَ عمل دے او فضل دَ هغے نه زیاتے ورکول دی۔

دویمه وجه، نعمت په قدر دَ کفایت سره دے او فضل زیاتی په هغے باندے په سرور او لذت کښ او دواړه ئے نکرے ذکر کړیدی دَ پاره دَ عظمت دَ هغوی۔

الَّذِينَ اسْتَجَابُوا لِلَّهِ وَالرَّسُولِ

هغه کسان چه منلے دے حکم دَ الله او دَ رسول

مِنْ بَعْدِ مَا أَصَابَهُمُ الْقَرْحُ ط

روستو دَ دینه چه رسیدلے دے دوی ته زخم،

لِلَّذِينَ أَحْسَنُوا مِنْهُمْ وَاتَّقَوْا

او دَ پاره دَ هغه چا چه ښائسته عمل ئے کړیدے دَ دوینه او بره ئے کړیده

أَجْرٌ عَظِيمٌ ﴿۱۷۲﴾

ثواب لوے دے۔

وَ اَنَّ اللّٰهَ لَا یُضِیۡعُ اَجۡرَ الۡمُؤۡمِنِیۡنَ ، دا هم عطف دے په نعمة باندے او هم مستقل بشارت دے ځکه په دنیا کښ دَ دوی سره خوف دَ بدانجام خپل وو او ویره وه په خپل ایمان باندے او دا صفت دَ کامل مؤمن دے نو قیامت کښ ورله بشارت ورکوی چه ستاسو هیڅ عمل برباد شوے نه دے۔ او المؤمنین کښ اشاره ده چه ثوابونه دَ اعمالو بنا دی په ایمان باندے۔

فائده :- په سورة بقره کښ صرف ادب ښودل مراد وو نو په هغے کښ اختصار کړیدے او په دے سورت کښ رد وو په زعم دَ منافقانو باندے نو دَ هغوی بشارتونه په اول آیت کښ څلور ذکر کړل او په دویم آیت کښ دوه بشارتونه ذکر کړل او په دریم آیت کښ درے بشارتونه ذکر کړل ټول نهه بشارتونه دی۔

۱۷۲ :- ربط :- مخکښ آیاتونو کښ بشارت وو دَ پاره دَ شهداؤ دَ احد نو اوس بشارت ذکر کوی زخمیانو دَ احد ته په سبب دَ دویم استجابت سره۔ قرطبی او بعض مفسرینو دَ دے په باره کښ دوه اقوال ذکر کړیدی۔ اول قول :- بخاری او مسلم اجمالاً ذکر کړیدی دَ عائشه رضی الله عنها چه دے ابن زبیر ته وئیلے وو چه اے خوریه ستا پلار او نیکه (زبیر او ابوبکر رضی الله عنهما) دَ الذین استجابو

کښې داخل دي او ووئيل چه کله مشرکان د احد نه واپس شول او نبي صلی الله علیه وسلم او د هغه ملګرو ته تکليف او رسيدلو نو نبي صلی الله علیه وسلم سره خوف پيدا شو چه هسې نه دوي واپس را او ګرځي نو هغه آواز اوکړو چه څوک زما سره په دغه مشرکانو پسې ځي د پاره د دے چه هغوي ته معلومه شي چه په مونږ کښې قوت شته دے نو ابوبکر او زبير سره د اويا کسانو نه دا دعوت قبول کړو او په هغوي پسې اووتل نو هغوي چه واوريدل (چه دوي را پسې راغلل) نو او تختيدل او مؤمنان په نعمت او فضل سره واپس شول او تفصيل د دے دا دے چه د احد د ورځې نه په دويمه ورځ چه د اتوار ورځ وه نبي صلی الله علیه وسلم دا اعلان اوکړو او اوفرمائيل چه نه به اوځي زما سره مګر هغه کسان چه پرون زما سره وو نو دوه سوه کسان يا اويا کسان را اوچت شول او روان شول تر دے چه حمراء الاسد مقام ته اورسيدلو (او هغه د مدينے نه اته ميله لرے دے) نو هلته نعيم بن مسعود يا ابونعيم دوي ته مخامخ شو هغه ورته اوئيل چه ابوسفيان ستاسو مقابلے د پاره ډير لښکر جمع کړيدے او اراده لري چه مدينے ته راشي او ستاسو بيخ کندے اوکړي نو صحابو رضي الله عنهم اُوئيل حسبنا الله ونعم الوکيل نو دوي هلته درے ورځې تيرے کړے (د ګل ورځ او پنځمه او شورو) دغه وخت معبد خزاعي قريش اويرول چه تاسو د لښکر د نبي صلی الله علیه وسلم سره مقابله نشئ کولے نو د دوي په زړونو کښې رعب راغے او واپس مکے ته او تختيدل او بعضو روايا تو کښې شته دے چه په دغه ځائے کښې تجارتي ميله به لګيدله نو صحابه کرامو په هغے کښې تجارت اوکړو او ډيره ګټه ئې اوکړه - بل روايت کښې دي چه يو قافله د عبدالقيس قبيلے په ابوسفيان بانده راتيريدله نو ابوسفيان ورته اُوئيل چه تاسو چيرته اراده لرئ هغوي اُوئيل د مدينے او هلته نه غله راوړو ابوسفيان ورته اُوئيل چه مدينے والا زمونږ نه اويروئ چه مونږ د هغوي د مقابلے د پاره ډيرے

لښکرے جمع کړيدی او زه به تاسوله ډير انعام درکړم نو هغوی په حمراء الاسد کښ صحابه کرامو ته دغه خبره او کړله هغوی اوئيل حسبنا الله ونعم الوكيل - دويم قول د مجاهد او د عکرمه دے چه ابوسفيان د احد نه واپس تللو نو نبی صلی الله عليه وسلم ته ئے جواب ورکړے وو چه وعده دا ده چه راتلونکی کال به په بدر کښ جنګ کوو نو نبی صلی الله عليه وسلم د وعدے مطابق بل کال ته بدر ته راغے ابوسفيان د رعب د وجے نه نه وو راغلے صرف نعيم ئے د مسلمانانو يرولو دپاره راليږلے وو هر کله چه نبی صلی الله عليه وسلم د صحابو سره هغه ځائے ته راغے هلته بازار لګيدلے وو نو دوی پکښ تجارت اوکړلو الله تعالیٰ ورله ګټه ورکړله - قرطبی او آلوسی وئيلی دی چه اول قول د اکثر مفسرينو دے او دويم قول شاذ دے.

الَّذِينَ اسْتَجَابُوا لِلَّهِ وَالرَّسُولِ ، استجابة د احکامو د الله تعالیٰ موقوف دے په استجابت د احکامو د رسول د دے وجے نه دواړه ذکر کړے او د دواړو استجابتونو مقصد يو دے يعنی احکام د الله تعالیٰ او د هغه د رسول منل - او دلته خصوصاً مراد د دينه دعوت قبلول د رسول دی د جهاد دپاره -

مِنْ بَعْدِ مَا أَصَابَهُمُ الْقَرْحُ ، فرق د استجابت او اجابت او فرق د قرح او د جرح مخکښ تير شويدے مراد د قرح نه دلته مصائب د بدن او د مال دی چه رسيدلے وو مؤمنانو ته په غزوه د احد کښ -

لِلَّذِينَ أَحْسَنُوا مِنْهُمْ وَاتَّقَوْا أَجْرٌ عَظِيمٌ ، مستجبين ټول محسنين او متقين دی نو معلومه شوه چه مِنْ په منهم کښ دپاره د بيان دے لکه په سوره فتح ۲۹ کښ او په ذکر کولو د دے دواړو صفتونو کښ مقصد مدح د هغوی ده سره د تعليل نه يعنی استجابت خو سبب د اجر دے ليکن په سبب د احسان او تقویٰ سره عظمت د اجر حاصليږی - او په دے آيت کښ ادب ذکر کړے دپاره د دفع د هزيمت -

اَلَّذِيْنَ قَالَ لَهُمُ النَّاسُ

دا هغه کسان دي چه اوئيل دوی ته خلقو (جاسوسانو)

اِنَّ النَّاسَ قَدْ جَمَعُوْا لَكُمْ

يقيناً کافرانو خلقو جمع کړيدي ستاسو مقابلے دپاره (ډيرے لښکرے)

فَاخْشَوْهُمْ فَزَادَهُمْ اِيْمَانًا ق صلے

نو اويريږئ د دوی نه نوزيات ئے کړو دوی لره ايمان،

وَقَالُوْا حَسْبُنَا اللّٰهُ وَنِعْمَ

او اوئيل دوی پوره دے موږ له الله تعالیٰ او ښه

الْوَكِيْلُ ﴿۱۷۳﴾

کارساز دے۔

۱۷۳:۔ په دے آيت کښ د صحابه کرامو لوے شان ذکر کوی او په ديکښ تعليم د ادب دے د پاره د دفع د هزيمت چه هغه دا قول دے حسبنا الله ونعم الوکيل دے په وخت د دباؤ د مشرکانو کښ۔

الَّذِيْنَ قَالَ لَهُمُ النَّاسُ اِنَّ النَّاسَ، د اول النَّاسُ نه مراد ابونعيم بن مسعود اشجعی دے بنا په دے د النّاس اطلاق په ده باندے مجازاً شويدے يا هر کله چه ده دا پراپيګنډه شروع کړه نوځه کسان ورسره ملګری شول نو د النّاس اطلاق د دے وجے نه شويدے۔ يا مراد د النّاس نه قافله د عبد القيس قبيلے ده دواړو روايتونو کښ محکيس ذکر کړے شول۔ او دويم النّاس نه مراد ابوسفيان سره د نورو ملګرو نه۔

قَدْ جَمَعُوْا لَكُمْ، مفعول د دے پټ دے الجنود والاسلحه (لښکرے او وسلے)۔ لَكُمْ، نه مراد لِقِتَالِكُمْ دے (ستاسو د جنګ د پاره)۔

فَاخْشَوْهُمْ، مراد دَ دینه خوف دے چه دَ هغې وجے نه دوی دَ ابو سفیان مقابله کول پریږدی۔

فَزَادَهُمْ اِیْمَانًا، ضمیر دَ زَادَ راجع دے قول ته چه په ضمن دَ قالوا کښ دے یا مقول ته۔ او دا صریح دلیل دے چه په ایمان کښ زیاتے راځی او زیاتے مستلزم دے نقصان لره نو زیاتے او کمے پکښ دواړه راځی او دا دوه قسمونه دی اول قسم زیاتیدل دی په اعتبار دَ اعمالو صالحو سره او کمیدل دی په اعتبار دَ گناهونو سره او دا مستلزم دے دے لره چه اعمال جزء دے دَ پاره دَ ایمان چه دَ هغې په زیاتی کمی سره په ایمان کښ زیاتے او کمے راځی لیکن په انتفاء دَ عمل صالح سره زوال دَ ایمان نه راځی او دا مسلك دَ محدثینو دے۔ او دویم قسم زیاتیدل او کمیدل دی په اعتبار دَ یقین سره ځکه چه یقین دَ جبرائیل او میکائیل او یقین دَ ابو بکر او عمر رضی الله عنهما مثلاً زیات دے په یقین زمونږ باندے او دا ثابت دے په واقعه دَ ابراهیم علیه السلام کښ (لیطمئن قلبی) او دا هم مسلك دَ محدثینو دے او دا قول دَ بعض خلقو چه ایمان بسیط دے او بسیط کښ کمے زیاتے نه راځی دا اصطلاح دَ شریعت نه ده بلکه اصطلاح دَ منطقیانو ده۔ امور شرعیه په دے باندے بناء نه دی۔

وَقَالُوْا حَسْبُنَا اللّٰهُ، دَ دغه جاسوس په قول کښ دوه مقصدونه وو اول خشیت پیدا کول دَ صحابه په زړونو کښ نو دَ هغې په رد کښ اوئیلے شول چه فزادهم ایمانًا او دویم مقصد خبر ورکول په جمع ده خلقو سره نو دَ هغې په رد کښ دوی اوئیل حسبنا الله، حسب، اسم جامد دے په معنیٰ دَ کافی سره دے او دَ ده فعل مستعمل نه دے۔ او صاحب قاموس وئیلی دی چه دا اسم فعل دے په معنیٰ دَ کفی سره دے او سیبویه وئیلی دی چه دا مصدر دے دَ دے وجے نه تثنیه او جمع

فَانْقَلَبُوْا بِنِعْمَةٍ مِّنَ اللّٰهِ

نو (نتیجه دا شوه چه) واپس شول دوی په نعمت د الله تعالیٰ

وَفَضْلٍ لَّمْ يَمْسَسْهُمْ سُوْٓءٌ ۙ

او فضل سره نه وو رسیدلے دوی ته هیڅ تکلیف

نه راځی - او تَحَسُّبُ خاص دے په الله تعالیٰ پورے په دلیل
د سورة الانفال ۲۲، ۲۴ او سورة التوبه ۱۲۹، ۵۹ او
زمر ۳۸، سورة النساء ۶، سورة الاسراء ۱۴، سورة
الاحزاب ۳۹ -

وَنِعْمَ الْوَكِيْلُ ، وَكِيْلُ ، فعل په معنیٰ د مفعول دے یعنی
موکول الیه هغه څوک چه هغه ته سپارنه کیدیشی نو هغه قائم
وی په هغه کارچه هغه ته سپارلے شویدی او دا مختلف کیږی
په اختلاف د کارونو سره او په دے وجے سره معانی د وکیل
هم مختلف کیږی - نو په معنیٰ د دفع کولو د دشمنئ او د ظلم
سره راځی په معنیٰ د ناصر او دفع کوونکی - لکه (قل لست
علیکم بوکیل) - یا (ام من یکون علیهم وکیلا) او دے ته
وکیل د خصومت وئیلے شی او په معنیٰ د کافی او کافل (ذمه وار)
سره چه کارونه د ژوند چلولو ته ئے نسبت اوکړیشی - لکه
(ان لا تتخذوا من دونی وکیلا) او بنا په دے معنیٰ سره
وکیل نوم د الله تعالیٰ دے او خاص دے په الله تعالیٰ پورے دے
په دلیل د سورة النساء ۸۱، ۱۳۲، ۱۷۱، سورة الاسراء
۲، ۶۵، سورة الاحزاب ۴۸، ۳ او سورة المزمل ۹ -
او په حدیث د بخاری کښ وارد دی چه دا کلمه ابراهیم علیه
السلام وئیلے ده کله چه اور ته او غورځولے شو- او زمونږ
نبی صلی الله علیه وسلم (او صحابو) وئیلے ده کله چه کافرانو
ورته اووئیل (ان الناس قد جمعوا لکم) -

وَّاتَّبَعُوْا رِضْوَانَ اللّٰهِ ؕ وَاللّٰهُ

او تابعداري ئې اوکړه دَ رضا دَ الله تعالٰی او الله تعالٰی

ذُوْ فَضْلٍ عَظِيْمٍ ﴿۱۷۴﴾ اِنَّمَا

لوئې فضل والا دے یقینًا

ذٰلِكُمُ الشَّيْطٰنُ يُخَوِّفُ

دا (جاسوس) شیطان دے یره وی تاسو

اَوْلِيَآءَهٗ ۪ فَلَا تَخَافُوْهُمْ

دَ ملګرو خپلو نه، تو مهٔ یریږی دَ هغوی نه

وَخَافُوْنِ اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ﴿۱۷۵﴾

او اویریږی زما نه ځکه چه تاسو مؤمنان یئ۔

ف۱۷۴ :۔ دا دَ مخکښ صفاتو جزاء ده چه استجابت او زیادت دَ ایمان او قول دَ حسبنا الله او نعم الوکیل جزا ګانے هم څلور دی۔ ۱ نعمت، ۲ فضل، ۳ تکلیف نه رسیدل، ۴ اوتباع دَ رضا دَ الله تعالٰی۔ مراد دَ نعمت نه سلامتیا او۔ پچ کیدل دی دَ دشمن نه۔ او فضل زیاته ګټه ده په تجارت کښ۔

لَمْ يَمْسَسْهُمْ سُوْٓءٌ، یعنی هیڅ زخم او تکلیف په دغه سفر کښ او نه رسیدلو۔

وَاتَّبَعُوْا رِضْوَانَ اللّٰهِ، او دا په سبب دَ نیت دَ جهاد فی سبیل الله او بهادرئ او شجاعت دَ دوی سره۔

وَاللّٰهُ ذُوْ فَضْلٍ عَظِيْمٍ، دا اشاره ده ثوابونو دَ آخرت ته چه هغه دَ دنیا دَ عوضونو نه ډیر عظمت لری۔

ف۱۷۵ :۔ مخکښ ذکر شوه چه صحابه دَ الناس په قول سره او نهٔ ویریدل اوس په دے آیت کښ مؤمنانو لره پوخ والے ورکوی په دے عقیده باندے۔

ذٰلِكُمْ، اشاره ده ابو نعیم یا قافلے دَ عبدالقیس یا ابوسفیان ته

وَلَا يَحۡزُنكَ الَّذِينَ يُسَارِعُونَ

او نه دِ خفه کوی تا هغه کسان چه جلتی کوی

فِي الۡكُفۡرِۚ إِنَّهُمۡ لَن يَضُرُّوا اللَّهَ

په کارونو دَ کفر کښ، یقیناً دوی چرے ضرر نشی ورکولے الله تعالیٰ ته

نو دوی ته ئے شیطان وئیلے دے ځکه چه دوی منع کوونکی وو مؤمنانو لره دَ جهاد نه او دے ته شیطان انسی وئیلے شی.
یا ذالکم، اشاره ئے مخکښ ټول واقعاتو ته یعنی مقرر کول دَ ابوسفیان جاسوس لره او دَ هغه قول کول او په منافقانو کښ تردد پیدا کیدل نو الشَّیۡطَانُ، کښ مضاف پټ دے یعنی فعل الشیطان.
یُخَوِّفُ اَوۡلِیَآءَهٗ، دلته یخوف په شد سره متعدی دے دوه مفعولونو ته نو یو مفعول ئے پټ دے یعنی یُخَوِّفُکُمۡ اَوۡلِیَآءَهٗ، جمله حالیه ده او په دے کښ نور وجوه دَ اعراب هم صاحب اللباب ذکر کړیدی او مراد دَ تخویف نه دا دے چه دَ هغوی (مشرکانو) سره دوی قتال او نه کړی.
فَلَا تَخَافُوۡهُمۡ وَخَافُوۡنِ، خوف نه مراد دا سے یره ده چه دَ هغے دَ وجے نه یو کار پریږدی نو دا خوف مختص دے په الله تعالیٰ پورے یعنی دَ هغه دَ ویرے دَ وجے نه دَ کفارو سره قتال کول مه پریږدئ ځکه چه پریښودل دَ قتال فی سبیل الله خو معصیت دے او دَ معصیت نه دَ بچ کیدلو دَ پاره خوف الٰهی پکار دے.
اِنۡ کُنۡتُمۡ مُّؤۡمِنِیۡنَ، دا جمله دَ پاره دَ تیزے ورکولو ذکر کیږی. یا اِنۡ، په معنیٰ دَ اِذۡ سره دے. او دا دلیل دے چه ایمان مستلزم دے خوف دَ الله تعالیٰ لره.

شَيْـًٔا ۚ يُرِيدُ اللّٰهُ اَلَّا يَجْعَلَ لَهُمْ
هيڅ ، غواړي الله تعالى چه ورنكړي دوى لره
حَظًّا فِي الْاٰخِرَةِ ۚ وَلَهُمْ عَذَابٌ
برخه په آخرت كښ ، او دوى لره عذاب
عَظِيْمٌ ﴿۱۷۶﴾
لوئے دے۔

س۱۷۶:- هر كله چه نبي او مؤمنان ئے د خوف د اولياء الشيطان نه منع كړل نو اوس نبي صلى الله عليه وسلم او مؤمنانو لره د حزن نه په مسارعه في الكفر د هغوى باندے منع كوى. او دا تسلي ده نبي صلى الله عليه وسلم ته او بيا د هغه تابعدارانو ته۔ وَلَا يَحْزُنْكَ ،
سوال:- حزن خو امر غير اختيارى دے نو د هغے نهى څرنګ صحيح كيږى؟
جواب:- مراد د حزن هغه اثر دے چه مرتب كيږى په حزن باندے يعنى پريشودل د كار د دعوت۔
سوال:- حزن په كفر د كافر باندے خو طاعت د الله تعالى دے؟
جواب ۱:- مراد د دينه افراط دے په حزن كښ تر دے پورے چه اهلاک د نفس ته اورسيږى لكه په دے قول د الله تعالى كښ (فَلَا تَذْهَبْ نَفْسُكَ عَلَيْهِمْ حَسَرَاتٍ۔ فاطر ۸) او (لَعَلَّكَ بَاخِعٌ نَّفْسَكَ اَلَّا يَكُوْنُوْا مُؤْمِنِيْنَ۔ شعراء ۳)؟
جواب ۲:- مراد د دينه حزن دے په سبب د خوف د ضرر رسيدلو سره د طرف د هغوى نه او روستو جمله د دے علت دے۔
يُسَارِعُوْنَ فِي الْكُفْرِ ، مخكښ د دوى مسارعه په كارونو د كفر كښ ذكر شويدى لكه صحابه قتل كول ، زخمى كول ، او بيا اراده د حملے كولو او بيا جاسوس ليږل د پاره د ويرولو د

مؤمنانو دی دا مشرکینو دَ مکے اوکړل او آیت ټولو کافرانو ته شامل دے۔

اِنَّهُمْ لَنْ يَّضُرُّوا اللهَ شَيْئًا ، دا علت دے دَ لا يحزنك لکه په مخکښ جواب ۲ کښ تیر شول یعنی دَ مسارعه فی الکفر وبال په دوی باندے راځی په دنیا او آخرت کښ۔ او مراد دَ ضرر نه دلته اسلام مغلوب کول او کفر غالب کول دی۔

شَيْئًا مفعول مطلق دے شيئًا من الضرر یا حرف جر پټ دے یعنی بِشَيْءٍ او دیته منصوب علی نزع الخافض وئیلے شی۔

يُرِيْدُ اللهُ اَلَّا يَجْعَلَ لَهُمْ حَظًّا فِى الْاٰخِرَةِ ، دا جواب دَ سوال دے۔ که اوئیلے شی چه مسارعه فی الکفر کښ دَ دوی هیڅ نفع نشته نو دوی ولے دا کار کوی حاصل دَ جواب دا دے چه الله تعالیٰ اراده کوی چه دوی له هیڅ برخه دَ ثواب په آخرت کښ ورنکړی دَ دے وجے نه دوی مسارعه کوی نو نسبت دَ مسارعے دوی ته۔ رد دے په جبریه باندے او نسبت دَ ارادے الله تعالیٰ ته رد دے په قدریه باندے او دا دلیل دے چه کفر دَ کافر هم په ارادے دَ الله تعالیٰ سره دے او په لفظ دَ اراده کښ اشاره ده ډیر غضب دَ ارحم الراحمین ته په دے کافرانو باندے گویا دا دَ هغه مراد دے او په صیغه دَ مضارع کښ اشاره ده چه دَ دوی کفر هر وخت دے نو اراده دَ الله تعالیٰ هم هر وخت ده۔

وَلَهُمْ عَذَابٌ عَظِيْمٌ ، یعنی دَ ثواب نه محروم کیدلو سره دَ دوی عذاب هم ډیر لوے دے ځکه مسارعه په کفر کښ لوے کفر دے نو عذاب ئے هم لوے دے۔

إِنَّ الَّذِينَ اشْتَرَوُا الْكُفْرَ

یقینًا هغه کسان چه اخستے دے کفر

بِالْإِيمَانِ لَنْ يَضُرُّوا اللَّهَ

په بدله دَ ایمان کښ چرے ضرر نشی ورکولے الله تعالیٰ ته

شَيْئًا ۚ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿١٧٧﴾

هیڅ او دوی لره عذاب دردناک دے۔

وَلَا يَحْسَبَنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا

او گمان دِ نه کوی کافران

أَنَّمَا نُمْلِي لَهُمْ خَيْرٌ

چه مهلت ورکول زما دوی لره غوره دے

۱۷۷:۔ مخکښ آیت کښ تخویف وو ښکاره کافرانو ته نو په دے آیت کښ تخویف دے منافقانو ته ځکه جمله دَ إِنَّ الَّذِينَ اشْتَرَوُا الْكُفْرَ بِالْإِيمَانِ، پشان دَ اشتروا الضلالة بالهدى ده په سورة البقره کښ په باره دَ منافقانو کښ او مراد دَ اشتراء نه تبدیل یا اختیار دے۔

لَنْ يَضُرُّوا اللَّهَ شَيْئًا، هر کله چه دَ منافقانو کیدونه په مقابله دَ اسلام کښ یو قسم وی او کیدونه دَ ښکاره کافرانو بل قسم دی دَ دے وجے نه دا جمله ئے مکرر ذکر کړیده۔

وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ، دا هم دلیل دے چه آیت په باره دَ منافقانو کښ دے لکه سورة بقره کښ دَ ښکاره کافرانو دَ پاره عذاب عظیم ذکر وو او دَ منافقانو دَ پاره عذاب الیم ذکر وو دا رنګ دلته هم دغه ترتیب دے۔

لِاَنْفُسِهِمْ ط اِنَّمَا نُمْلِيْ لَهُمْ

دَ پاره دَ ځانونو دَ دوی ، یقینًا مهلت ورکوو مونږ دوی لره

لِيَزْدَادُوْٓا اِثْمًا ج وَلَهُمْ

دَ دے دَ پاره چه زیات شی گناه دَ دوی ، او دوی لره

عَذَابٌ مُّهِيْنٌ ﴿۱۷۸﴾

عذاب شرموونکے دے۔

س ۱۷۸ :- دا جواب دَ سوال دے سوال دا وو چه هر کله دا کافران او منافقان مسارعت او اشتراء دَ کفر کوی او مختلف کیدونه دَ اسلام په خلاف کوی نو په دوی باندے الله تعالیٰ زر عذاب ولے نه رالیږی حاصل دَ جواب دا دے چه دوی ته په مهلت ورکولو کښ دَ دوی ضرر دے او عذاب ورله هم شته دے۔

وَلَا يَحْسَبَنَّ ، دا عطف دے په لا یحزنك باندے دَ دے فاعل الَّذِيْنَ كَفَرُوْا دے او اِنَّ سره دَ مَا نه قائم دے په ځائے دَ دوه مفعولو دَ یحسبن په نیز دَ سیبویه باندے او په ځائے دَ یو مفعول قائم او بل حذف دے په نیز دَ اخفش باندے۔

اَنَّمَا نُمْلِيْ لَهُمْ ، مَا موصوله ده یا مصدریه ده۔ املاء، زیات والے او اوږدوالے په عمر کښ ورکول او مهلت ورکول دی۔

خَيْرٌ لِّاَنْفُسِهِمْ ، دا خبر دَ اِنَّ دے۔ مقصد دَ دے جملے رد کول دی په خوشحاله کیدلو دَ کافرانو په اوږدو عمرونو او ډیر والی دَ مالونو او په عذاب نه راتللو باندے۔

اِنَّمَا نُمْلِيْ لَهُمْ لِيَزْدَادُوْٓا اِثْمًا ، دا علت دے دَ مخکښ حکم دَ پاره او ذکر کوی حکم دَ مهلت ورکولو۔ دلالت کوی په حصر باندے یعنی گمان دَ خیریت په املاء کښ بالکل غلط دے بلکه دا حصر دے په گناه زیاتی کولو کښ۔ لِيَزْدَادُوْا. لام، په معنیٰ کښ دَ تعلیل دَ پاره یا لام عاقبت او صیرورة دے۔ یعنی په وخت دَ مهلت کښ طغیان او بغی کوی او کفر

مَا كَانَ اللّٰهُ لِيَذَرَ الْمُؤْمِنِيْنَ
نه دے الله تعالیٰ چه پریږدی مؤمنانو لره

عَلٰى مَا اَنْتُمْ عَلَيْهِ حَتّٰى
په هغه حال (ګډوډ) باندے چه تاسو په هغے یئ ، تردے

يَمِيْزَ الْخَبِيْثَ مِنَ الطَّيِّبِ ؕ
چه جدا کړی پلیت (منافق) د پاک (مخلص) نه

وَمَا كَانَ اللّٰهُ لِيُطْلِعَكُمْ
او نه دے الله تعالیٰ چه خبر کړی تاسو

عَلَى الْغَيْبِ وَلٰكِنَّ اللّٰهَ يَجْتَبِيْ
په پټو خبرو باندے، او لیکن الله تعالیٰ غوره کوی

مِنْ رُّسُلِهٖ مَنْ يَّشَآءُ ۪ فَاٰمِنُوْا
د رسولانو خپلو نه څوک چه او غواړی، نو ایمان راوړئ

بِاللّٰهِ وَرُسُلِهٖ ۚ وَاِنْ تُؤْمِنُوْا
په الله تعالیٰ او په رسولانو د هغه، او که ایمان راوړئ تاسو

وَتَتَّقُوْا فَلَكُمْ اَجْرٌ عَظِيْمٌ ﴿۱۷۹﴾
او ځان بچ کړئ (د نفاق نه) نو تاسو له ثواب لوے دے۔

او منافقت کښ تیزی کوی ځکه چه دوی دا مهلت خیر ګنړی نو ګناه ته ګناه نه وائی۔

وَلَهُمْ عَذَابٌ مُّهِيْنٌ ، هر کله چه کافران په وخت د مهلت د دین د الله تعالیٰ توهین کوی نو د هغوی د پاره ئے عذاب مهین ذکر کړو۔

۱۷۹ :- ربط له :- مخکښ سزا اخروی ذکر شوه کافرانو او منافقانو نه اوس دنیوی سزا د هغوی ذکر کوی چه هغه

فضیحت او شرمندګي د هغوی په اظهار د نفاق د هغوی سره.
ربط ۲ه:- مخکښې ذکر شوه چه املاء (مهلت) د کافرانو او منافقانو د پاره شر دے اوس ذکر کوی چه په وخت د املاء کښې کله کله مصیبتونه راځي د پاره د تمیز د دوی د مؤمنانو نه نو داحکمت د املاء دے.
ربط ۳ه:- دا رجوع ده ذکر د حکمتونو او علتونو د مصائبو د احد نه روستو د جملے معترضے نه نو تعلق د دے وما اصابکم یوم التقی الجمعان سره دے یعنی په وخت د مصیبت د احد کښې په مسلمانانو باندے منافقانو خوشحالی اوکړه په غلبے د کافرانو نو معلومه شوه چه دوی منافقان دی.
مَا كَانَ اللّٰهُ لِيَذَرَ الْمُؤْمِنِيْنَ عَلٰى مَآ اَنْتُمْ عَلَيْهِ، دا جواب د سوال دے سوال دا دے چه الله تعالی په احد کښې ولے مصیبت راوستلو په مؤمنانو باندے په دے کښې څه حِکَمْ وو نو په دے جمله کښې د دے جواب دے. مَا كَانَ، نفی د جحود ده او دلته یو فعل پټ دے ما کان الله یرید لیذر المؤمنین، د دے نه مراد مخلصان مؤمنان دی. او اَنْتُمْ عَلَيْهِ خطاب کښې مؤمنان او منافقان دواړه داخل دی او مراد د ما انتم حالت د اختلاط د مؤمنانو او د منافقانو دے یعنی الله تعالی مؤمنان او منافقان همیشه مخلوط اوګډوډ نه پریږدی د پاره د دے چه په خلقو باندے التباس رانشی.
حَتّٰى يَمِيْزَ الْخَبِيْثَ مِنَ الطَّيِّبِ، د دے درے توجیهات دی. اول دا چه مراد د خبیث نه منافق او د طیب نه مخلص مؤمن دے او دا تمیز حاصل شو په ورځ د احد کښې چه منافقانو خپل نفاق ښکاره کړو چه د میدان جهاد نه مخکښې د جهاد نه واپس شول او بیا یې خوشحالی اوکړله په غلبے د کافرانو باندے.
دویمه توجیه دا ده چه مراد د خبیث نه ګناه دے او طیب نه مراد مؤمن دے او یمیز په معنی د یمحق دے یعنی اورژوی ګناه د مؤمنانو نه په سبب د مصیبتونو سره.

دریمه وجه، دا چه مراد د خبیث نه کفر او شرک او مراد د طیب نه اسلام دے او تمیز راغې په تدلیل د کفر او په او چتوالی د اسلام سره او دا توجیه په اعتبار د مستقبل سره ده.(اللباب)

سوال:- په اوله توجیه سوال دادے چه په تمیز سره خو ظهور راځی نو معلومه شوه چه دوی منافقان نه دی بلکه ښکاره کافر دی نو بیا ئې په هغوی باندے احکام د کافرانو ولے نه جاری کول؟

جواب ۱:- اجراء د احکامو د کفر خو په اذن د الله تعالی سره وی او د منافقانو په باره کښ اذن د اجراء د احکامو د کفر نه وو.

جواب ۲:- په تمیز سره ظهور ظنی راځی ظهور قطعی نه راځی.

فائده:- د دے وخت منکرین حدیث وائی چه حدیث ته په دین کښ اعتبار نشته دے ځکه چه په هغه وخت کښ معلومه نه وه چه صحابی څوک دے او منافق څوک دے نو د روایاتو تمیز نشی کیدے نو په دے جملے سره د هغوی دا شبه رد شوه یعنی الله تعالی په ژوند د نبی کریم صلی الله علیه وسلم کښ وخت په وخت داسے امتحانات راوبیستل چه په هغے سره منافقان معلوم شوی دی نو د هغوی نه هیڅ روایت د حدیث نقل شوے نه دے.

وَمَا كَانَ اللّٰهُ لِيُطْلِعَكُمْ عَلَى الْغَيْبِ، دا جواب د یل سوال دے سوال دادے چه الله تعالی په ذریعه د مصائبو سره تمیز د منافق او مؤمن راولی نو داسے ولے نه کوی چه مونږ له خبر راکړی په وحی سره چه فلانے منافق دے او فلانے مؤمن مخلص دے حاصل جواب دادے چه وحی خو غیب دے او الله تعالی په دے غیب باندے ماسیوا د رسولانو نه بل چا ته خبر نه ورکوی. نو د الغیب نه مراد دلته خاص وحی ده په باره د تمیز د منافق او مؤمن کښ یا مراد د دینه مطلق وحی ده او معنیٰ د دے جملے دا ده چه الله تعالی تاسو ټولو ته

په وحی سره علم نه درکوی تر دے چه تاسو ټول رسولان اوګرځئ دا د الله تعالیٰ د نظام نه خلاف ده۔

وَلٰکِنَّ اللّٰهَ یَجْتَبِیْ مِنْ رُّسُلِهٖ مَنْ یَّشَآءُ، په لٰکِنْ، سره جواب د بل سوال دے۔ سوال دا دے چه الله تعالیٰ هیچا لره خبر په وحی سره نه ورکوی نو جواب اوشو چه الله تعالیٰ صرف رسولانو ته علم په وحی سره ورکوی او دا تعین په مشیئت د الله تعالیٰ سره دے مخلوق ته ئے په دیکښ اختیار نه دے ورکړے۔ یَجْتَبِیْ، اجتبا د جبیٰ نه اخستلے شوے دے او جبی (ریائی یا واوی) په معنیٰ د راخکل د غوره څیز دی او په عرف کښ په معنیٰ د اصطفاء او اختیار سره راځی نو اطلاق ئے په رسول باندے د دے وجے نه کیږی چه الله تعالیٰ په مینځ د بندګانو نه هغه لره غوره کړی د پاره د پیغام خپل۔ په لفظ د لٰکن کښ قاعده دا ده چه واقع کیږی په مینځ د دوه نقیضو تو اضدادو کښ۔ نو دلته هم دا سے چه الله تعالیٰ وحی بل چاته نه ورکوی لیکن صرف رسولانو له ورکوی۔

مِنْ رُّسُلِهٖ، دا مِنْ د پاره د ابتداء غایه دے نو مراد ترینه ټول رسولان دی۔ یا مِنْ د پاره تبعیض دے ځکه اطلاع علی الغیب په بعضِ وخت کښ وی او بعضِ کښ نه وی۔

فائده:- دا دلیل دے چه کهانت او علم نجوم سره او دا رنګ په کشف او الهام سره علم د غیب نه حاصلیږی هاں په هغے سره ظن حاصلیږی۔ د دے وجے نه اهل علم تصریح کړے چه کشف او الهام د اسبابو د علم نه نهٔ دی۔

فَاٰمِنُوْا بِاللّٰهِ وَرُسُلِهٖ، دا تفریع ده په ماقبل جوابونو باندے یعنی چه هر کله ستاسو د سوالونو جوابونه اوشول صدق د دے نبی ثابت شو نو لازم دا ده چه ایمان په الله او د هغه رسول باندے راوړئے نو ایمان بالله دا دے چه د هغهٔ د الوهیت صفتونه خاص د هغه د پاره او مَنے چه په هغے کښ یو صفت علم غیب کلی دے۔ ایمان په رسولانو

باندے دادے چه هغوی بندګان اجتباء والا اوګرځوے او هغوی له صرف هغه علم او منے کوم چه الله تعالی ورکړیدے او علم غیب د هغوی د پاره مه ثابتوے (ابوحیان، زمخشری) او رُسُلِهٖ، جمع د دے وجه نه اوئیل چه ایمان په یو رسول باندے مستلزم دے ایمان لره په ټولو رسولانو باندے او انکار د یو نه انکار دے د ټولو نه۔

وَاِنْ تُؤْمِنُوْا وَتَتَّقُوْا فَلَكُمْ اَجْرٌ عَظِيْمٌ، ایمان شرعی مستلزم د تقوی وی لکه په توحید سره د شرک نه تقوی حاصله شی او ایمان بالرسول سره د کفر بالرسول نه تقوی حاصلیږی او په اتباع رسول سره د بدعاتو نه تقوی حاصلیږی د دے وجه نه په دے جمله کښ د ایمان نه روستو تصریح کړیده په صفت د تقوی سره نو ګویا که مخکښ آیتونو سره واتقوا پټ مراد دے۔ مراد د اجرعظیم نه دخول اوله د جنت دے چه بچ به وی د عذاب جهنم نه۔

فائده :- بعض متجاهلان عقیده لری چه د نبی صلی الله علیه وسلم د پاره بلکه ټولو انبیاؤ د پاره علم غیب کلی الله تعالی ورکړیدے چه هغوی ته په دے علاقه کښ بریلیان وئیلے شی۔ او دلیل نیسی د دے آیت نه۔ طریقه د استدلال ئے داده چه الغیب کښ الف لام استغراقی دی او لکن سره استثناء متصله ده نو معنیٰ دا شوه چه نه دے الله تعالی چه تاسو له خبر درکړی په ټولو مغیباتو باندے لیکن د رسولانو اجتباء کوی نو خبر ورله د ټولو مغیباتو ورکوی؟

جواب ۱ :- دا سورة آل عمران د مدینے دریم سورت دے په نزول کښ او د دینه روستو شپاړس سورتونه نازل شویدی لکه چه سیوطی په ترتیب د نزول سُوَرُ کښ په اتفاق سره ذکر کړیدی نو هر کله چه هغه ته د ټولو مغیباتو علم ورکړے شوے وو نو د دغه روستو سورتونو نزول بے فائدے دے۔

جواب ۲ :- د دے سورت نه روستو سورة النساء کښ واقعه

دَ سَرِقَه ۵۰ ، اوسورة النور کښ واقعه دافك ۱۱ ، سورة المنافقون ۱ اوسورة التوبه ۱۰۱ نازل شويدی او په هغې سورتونو کښ نفی دَ علم غيب شوی ده دَ رسول الله صلی الله عليه وسلم نه نو داخو په کتاب دَ الله تعالیٰ کښ تعارض لازميږی او تعارض په کلام کښ خو دليل دَ جهل يا نسيان او دَ بطلان وی او الله تعالیٰ او دَ هغه کتاب دَ دينه پاک دے.

جواب ۳ :- مفسرينو دَ دے نه بعض غيب مراد کړيدی يعنی تميز دَ مؤمن او منافق -

ع۱ ابن عطيه وئيلی دی مراد دَ غيب نه مَنْ يُّؤْمِنُ وَ مَنْ يَّبْقٰى كَافِرًا دے يا مراد دَ دينه هزيمت دَ احد دے يا مراد دَ دينه منافقان دی په تصريح دَ نومونو دَ هغوی سره -

ع۲ :- قرطبی وئيلی دی چه تعين دَ منافقانو چه تاسو ئې اوپيژنئ - يا هغه خوک چه مستحق دَ نبوت دے -

ع۳ :- ابو حفص دمشقی صاحب اللباب - تميز دَ منافقانو چه فلانے منافق او فلانے - يا مراد دَ دے نه علم دَ رسول يعنی وحی ده -

ع۴ :- قاسمی وئيلی دی چه هغه څيز چه په هغې سره تميز راځی دَ کفر او ايمان دَ خلقو -

ع۵ :- ابو حيان دَ سدی روايت نقل کړيدے چه خوک ايمان راوړی اوخوک په کفر باندے باقی دی او په روايت دَ مجاهد او ابن جريج کښ هزيمت دَ احد مراد دے -

ع۶ :- آلوسی وئيلی دی چه کفر او نفاق دَ خلقو - دا رنګ نشته تاسو لره مرتبه دَ اطلاع په غيب باندے بلکه تاسو لره صرف مرتبه دَ علم استدلالی ده چه علم دے په علاماتو سره -

ع۷ :- ابن کثير وئيلی دی تميز دَ مؤمن دَ منافق نه -

ع۸ :- خازن وئيلی دی تميز دَ مؤمن او کافر او منافق -

ع۹ :- ابن جرير وئيلی دی پيژندل دَ مؤمن دَ کافر او منافق نه -

ع۱۰ :- شربینی وئیلی دی پیژندل دَ منافق وغیره - تو دَ وحی کوی نبی صلی الله علیه وسلم ته اوخبر ورکوی په بعضے مغیبا تو سره -
ع۱۱ :- نیشا پوری وئیلی دی رسول علم دَ مغیبا تو ته لری دَ خپل ځان دَ طرف نه بلکه په وحی سره او وحی کښ اطلاع ده دَ دے خبرے چه فلانے مؤمن دے او فلانے منافق دے
ع۱۲ :- مظهری وئیلی دی اطلاع ورکوی په بعضے دَ علومو دَ غیب یاندے -
ع۱۳ :- جامع البیان - خبر ورکوی په بعضے مغیبات سره - نو څوک چه دَ دے غیب نه ټول مغیبات مراد کوی نو دَ دے ټولو مفسرینو نه خلاف کوی -
جواب ۶ :- الغیب کښ الف لام استغراقی نه دی ځکه چه علماء عربیت تصریح کړیده - تفتازانی په تلویح کښ وئیلی دی چه اصل په الف لام کښ عهدی دی دا رنګ سیالکوټی په حاشیه دَ مطول کښ وئیلی دی چه اصل په الف لام کښ عهدی دی یا جنسی نو اصل پریښودل اوخلاف اصل ته تلل په غیر دَ دلیل نه جائز نه دی -
سوال :- روح المعانی او بعضے تفاسیرو کښ روایت نقل دے چه الله تعالیٰ نبی صلی الله علیه وسلم ته ټول صورتونه دَ بنی آدمو پیش کړل او علم ورکړے شو چه څوک مؤمن دے او څوک کافر دے دا دلیل دے په علم غیب کلی باندے ؟
جواب :- آلوسی وئیلی دی چه سند دَ دے اثر کښ مقال دے او بعضے حفاظو دَ حدیث وئیلی دی چه په دیکښ داسے راویان دی چه مونږ ئے نه پیژنو بلکه دَ ابو العالیه نه دَ دے خلاف روایت نقل دے -

وَلَا يَحْسَبَنَّ الَّذِيْنَ يَبْخَلُوْنَ

او گمان دِ نه کوی هغه کسان چه شومتیا کوی

بِمَآ اٰتٰهُمُ اللّٰهُ مِنْ فَضْلِهٖ

په هغه مال سره چه ورکړیدے دوی ته الله تعالیٰ دَ فضل خپل نه

هُوَ خَيْرًا لَّهُمْ ۭ بَلْ هُوَ

چه دا غوره دے دوی لره ، بلکه دا

شَرٌّ لَّهُمْ ۭ سَيُطَوَّقُوْنَ مَا

بد دے دوی لره زر دے دَ دوی غاړے ته به واچولے شی هغه شے چه

بَخِلُوْا بِهٖ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ۭ

شومتیا کوی دوی په هغے په ورځ دَ قیامت ،

وَلِلّٰهِ مِيْرَاثُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۭ

او خاص الله تعالیٰ لره دی آخری پاتے کیدل دَ آسمانونو او زمکے ،

وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرٌ ﴿۱۸۰﴾ ع ۱۸ ۹

او الله تعالیٰ په هغه عملونو چه تاسو کوئ خبردار دے۔

۱۸۰ ربط ۱ :- هر کله چه مخکښ آیت کښ تمیز دَ منافقانو
او مؤمنانو په مصائبو دَ جهاد سره ذکر شو نو اوس دَ
هغوی تمیز په خرچ دَ مال سره ذکر کوی۔

ربط ۲ :- هر کله مخکښ مضمون دَ آیاتونو ترغیب ورکول
دوجهاد ته په نفسونو سره نو اوس ترغیب ورکوی جهاد
ته په مال خرچ کولو سره۔

وَلَا يَحْسَبَنَّ الَّذِيْنَ يَبْخَلُوْنَ بِمَآ اٰتٰهُمُ اللّٰهُ مِنْ فَضْلِهٖ
هُوَ خَيْرًا لَّهُمْ ، په دیکښ زجر او تخویف اخروی دے
په بخل کولو سره الَّذِيْنَ يَبْخَلُوْنَ فاعل دے او مفعول

اول پټ دے چه دغه فعل دَ بخلون په هغے باندے دلالت کوی
چه هغه بخلهم دے او هو ضمیر فصل دے دَ پاره دَ تاکید
او خیرًا مفعول دویم دے - بخل، اکثر اهل علمو
وئیلی دی چه دلته مراد دَ بخل نه منع دَ واجب ده
په دلیل دَ وعید شدید سره او دَ هغے ډیر قسمونه
دی - اول انفاق، په خپل ځان او اهل وعیال - دویم،
زکوٰة - دریم، انفاق په جهاد کښ او په دعوت دَ دین
کښ - څلورم، ورکول محتاج ته په مقدار دَ سد رمق
(چه ساه پرے اخستلے شی) -
بِمَآ اٰتٰهُمُ، دا مال او علم دواړو ته شامل دے لیکن دلته
اول مراد دے -
بَلْ هُوَ شَرٌّ لَّهُمْ، ذکر دَ دے دَ پاره دَ تاکید دَ نفی
دَ خیریت دے یعنی نفع پکښ هیڅ نشته او شر ئے ډیر
دے دَ دے وجے نه دائے نکره ذکر کړے دَ تعظیم دَ پاره -
سَيُطَوَّقُونَ مَا بَخِلُوا بِهٖ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، دا تفصیل دَ شر
اخروی دے - تطویق، طوق غاړے ته اچول دی او غوره
دا ده چه دلته معنیٰ حقیقی مراد شی په قرینه دَ حدیث
دَ بخاری دَ ابو هریره رضی الله عنه نه په کتاب الزکوٰة کښ
روایت دے مضمون ئے دا دے چا له چه الله تعالیٰ مال ورکړے
وی او زکوٰة دَ هغے نه ورکوی نو په ورځ دَ قیامت دغه مال په
شکل دَ ښامار دَ ده غاړے ته واچولے شی دا سے ښامار چه
(ډیر و زهر و دَ وجے نه به) کُنجے وی او دَ او سکو پښان به ئے
دوه سترګے وی دَ ده وخکی دَ خولے به راکاږی ورته وائی به
چه زه ستا مال یم ستا خزانه یم - نور روایات هم دَ دے
مضمون شته دے او دَ بعضے مفسرینو نه نقل دی چه دا
په طریقه دَ تاویل سره دے یعنی په دوی باندے انبار شی
عذاب دَ بخل دَ دوی -
وَلِلّٰهِ مِيْرَاثُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ، دَ دے دوه معنیٰ دی اوله

لَقَدْ سَمِعَ اللّٰهُ قَوْلَ الَّذِيْنَ

یقینًا واوریده الله تعالی ویناً دَ هغه کسانو

قَالُوْٓا اِنَّ اللّٰهَ فَقِيْرٌ وَّنَحْنُ

چه وائی یقینًا الله تعالی مسکین دے او مونږ

اَغْنِيَآءُ ۘ سَنَكْتُبُ مَا قَالُوْا

مالداریو ، زر دے چه او به لیکو هغه چه دوی وائی

وَقَتْلَهُمُ الْاَنْۢبِيَآءَ بِغَيْرِ حَقٍّ ۙ

او وژل دَ دوی پیغمبرانو لره بغیر دَ جرم شرعی نه ،

وَّنَقُوْلُ ذُوْقُوْا عَذَابَ الْحَرِيْقِ ﴿١٨١﴾

او او به وایو اوڅکئ عذاب دَ اور سوزوونکی۔

وقف لازم

معنیٰ دا ده چه مخلوق کوم مالونه دَ یو بل نه په میراث سره اوړی نو دَ هغے دَ ټولو مالونو آخری مالک الله تعالی دے نو حاصل دا شو چه دا ملک دَ الله تعالی دے او تاسو ته دَ څه ورځو دَ پاره درکړے شوی دی۔ نو ولے په دے سره بخل کوئ او دا سے مضمون په سورة الحدید کښ دے۔

دویمه معنیٰ ئے دا ده چه آسمانونو او زمکو والا به ټول روستو فنا شی نو دَ هیچا ملکیت به پکښ پاتے نشی نو پشان دَ هغه مال به شی چه دَ فنا دَ یو شخص نه بل ته میراث پاتے شی نو په اوله معنیٰ سره میراث په معنیٰ حقیقی مراد دے او په دویمه معنیٰ سره میراث تشبیهی مراد دے۔

وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرٌ ، خَبِيْرٌ په باطنی امورو کښ استعمالیږی او بخل هم امر باطنی دے او په دیکښ اشاره ده جزا ورکولو ته په هر عمل باندے۔

۱۸۱ :- خلاصه :- دَ دے آیت نه تر ۱۸۶ پورے دَ دے حصے دویم باب دے په دے باب کښ درے قبائح دَ اهل کتابو

ذکر دی دَ پاره دَ تحت یر دَ دے امت اول انکار کول دَ انفاق فی سبیل الله په باطل عذر سره په ۱۸۱ کښې. دویم انکار دَ رسول نه په دلیل باطل سره په ۱۸۳ کښې. دریم دَ الله تعالیٰ دَ کتاب پریښودل او پټول دَ پاره دَ حصول دَ دنیا په ۱۸۷ کښې او په مینځ کښې تسلی نبی صلی الله علیه وسلم ته او ذکر دَ ابتلاء اتو جانی او مالی په لار دَ الله تعالیٰ کښې. او آخر کښې زجر ورکول په فرح کول دَ هغه کار چه کړے نه دی او امید لری چه زموږ مدح دِ اوکړیشی په ۱۸۸

ربط :- هر کله چه مخکښې آیت کښې په ضمن دَ زجر دَ بخلاؤ کښې ترغیب وو انفاق فی سبیل الله ته او دا ترغیب کله ذکر کړے شوے وو په دے لفظ سره. من ذا الذی یقرض الله قرضًا حسنًا. سره نوحی بن اخطب او فنحاص او نورو یهودیانو دَ دے دواړو دَ تقلید دَ وجے نه اوئیل چه الله تعالیٰ فقیر دے چه زموږ نه قرض غواړی نو پدے آیت کښې په دے باندے زجر ورکوی دا رنګ مخکښې ردوو په منافقانو باندے په صفت دَ بخل دَ هغوی او په دے آیت کښې یهودیان ورسره شریک وو نو یهودیانو دا بهانه جوړه کړله.

لَقَدْ سَمِعَ اللّٰهُ قَوْلَ الَّذِيْنَ قَالُوْٓا ، دَ زجر ورکولو دَ وجے نه تاکید یئے اوکړو په لام او قد سره او دا سے عبارت کله دَ زورنے دَ پاره استعمالیږی لکه په دے ځائے کښې او کله دَ شفقت دَ پاره ذکر کیږی لکه سورة المجادله ۱ کښې.

اِنَّ اللّٰهَ فَقِيْرٌ ، دا قول دَ دوی په طریقه دَ استهزاء او جدل او الزام سره وو یعنی څوک چه قرض غواړی نو لازم دا ده چه هغه فقیر وی او دَ دے وجے نه تفسیر فتح البیان کښې وئیلی دی چه دلته حرف استفهام پټ دے یا په طریقه دَ اعتقاد دَ دوی سره لکه چه دوی وئیل ید الله مغلولة.

نو دا رنګ دا خبره هم دَ دوی دَ شان نه لرے نه ده - یا علماؤ دَ دوی په طریقه دَ جدال سره او وئیل او عوامو ځے په طریقه دَ اعتقاد سره او وئیل -اودَ ډیر تاکید دَ وجے نه دوی دا جمله په ان سره ذکر کړیده-

وَ نَحْنُ اَغْنِيَآءُ، په دے کښ دوی تاکید اونکړو اشاره ده چه زمونږ غنا خو بالکل ښکاره ده -

سَنَكْتُبُ مَا قَالُوْا ،هر کله دا قول دَ دوی په ضد او عناد باندے بنا وو دَ دے وجے نه جواب تحقیقی ورته ورنکړو بلکه جواب په طریقه دَ زجر او تخویف سره ورکوی-

کتابت نه مراد معنی حقیقی ده یعنی لیکل په صحیفو دَ ملائکو کراماً کاتبین کښ - او سین ، دَ پاره دَ تاکید دے دَ استقبال دَ پاره نه دے ځکه نور نصوص دلالت کوی چه ملائک اقوال او اعمال دَ انسانانو فی الحال لیکی او بل قول دا دے چه دَ کتابت نه مراد لزوم دَ سزا دَ دے قول دے لکه -کتب علیکم الصیام - لیکن اول قول صحیح دے -او لیکل دَ دے قول دَ پاره دَ محفوظ ساتلو دی دَ دے وجے نه امام بخاری معنی کړیده په سنحفظ سره -

وَ قَتْلَهُمُ الْاَنْبِيَآءَ بِغَيْرِ حَقٍّ ، دا عطف دے په ما قالوا باندے عطف دَ مصدر (په فعل باندے رچه په تاویل دَ مصدر کښ وی) جائز دے .

سوال :- قتل خو دَ دوی مشرانو کړے وو نو موجوده کسانو ته ولے نسبت اوشو؟

جواب :- هر کله چه دوی رضا وو په دغه عمل دَ مشرانو خپلو باندے او رضا په ګناه دَ بل چا باندے هم ګناه وی دَ دے وجے نه دوی ته هم نسبت اوکړے شو دا رنګ قرطبی او صاحب اللباب ذکر کړی دی او وئیلی دی چه یو شخص دَ امام شعبی په مخکښ اوئیل چه قتل دَ عثمان چه چا کړیدے نو ښه کارئے کړیدے نو امام شعبی ورته اُوئیل

چه ته هم دَ هغه په وینه تویولو کښې شریک شوے ۔ ځکه چه رضا په یو معصیت باندے پشان دَ شرکت دے په هغه معصیت کښې ۔

سوال :۔ دَ قتل په ذکر کښې دلته څه فائده ده ؟

جواب :۔ اشاره ده لکه دغه قول دَ دوی په باره دَ الله تعالیٰ کښې ډیر قبیح قول دے نو دارنګ قتل دَ دوی په حق دَ انبیاؤ کښې ډیر قبیح عمل دے نو قول او عمل ئې دواړه اقبح دی او سبب دی دَ استحقاق دَ عذاب دَ پاره لکه چه وروسته ذکر دی ۔

وَ نَقُوۡلُ ذُوۡقُوۡا عَذَابَ الۡحَرِیۡقِ ، په معنیٰ دَ محرق لکه الیم په معنیٰ دَ مولم سره دے ۔ او بعضو وئیلی دی چه حریق لمبو والا اور ته وئیلے شی یا دا نوم دَ یو طبقے دَ اور دے او دا اضافت بیانیه دے ۔ او دا قول په واسطه دَ ملائکو سره په وخت دَ مرګ دَ دوی کښې یا په وخت دَ حشر کښې یا په دواړه اوقاتو کښې دی ۔ ذُوۡقُوۡا، په اصل کښې دَ محسوساتو نه دے اشاره ده چه دَ دغه عذاب دردُ به په دوی باندے پشان دَ محسوس وی ۔ او آلوسی ذکر کړیدی چه مناسبت دَ ذوق دَ دے ځائے سره دا سے دے چه بخل په مال باندے دَ پاره دَ مقصد دَ خوراک دے نو اشاره ده چه سزا پشان دَ څکلو دَ خوراک ده او بله وجه دا ده چه دَ دوی ښکیلونا کاره اقوالو او اعمالو سره انبیاؤ او دَ هغوی تابعدارانو ته دَ تکالیفو سخت کوټو نه څکولی دی نو دَ هغے په صِله کښې دوی ته هم دَ عذاب دَ کوټو نو نه څکولے کیږی او زجاج وئیلی دی چه ذوق په هغه ځائے کښې استعمالیږی چه دَ معافے نه بالکل نا امیدی وی او مستلزم وی سخت غیظ او غضب لره ۔

ذٰلِكَ بِمَا قَدَّمَتۡ أَيۡدِيكُمۡ

دا عذاب په سبب د هغه عمل دے چه مخکښ لیږلے دے لاسونو د دوی

وَأَنَّ ٱللَّهَ لَيۡسَ بِظَلَّامٖ لِّلۡعَبِيدِ ﴿١٨٢﴾

او یقیناً الله تعالیٰ نه دے ظلم والا په بندګانو باندے۔

س۱۸۲ :۔ ذٰلِكَ بِمَا ، کښ اشاره ده ماقبل ذکر کړے شوے عذاب ته۔ بَاء ، د پاره د سببیت ده او تا د قَدَّمَتۡ ، دلته شامل دے اقوالو او اعمالو او عقائدو ټولو ته لیکن أَيۡدِيكُمۡ ، ذکر په اعتبار د اکثر سره دے نو آیدی په معنیٰ د انفس سره دے د قبیلے د ذکر د جز او مراد ترینه کل دے۔

وَأَنَّ ٱللَّهَ لَيۡسَ بِظَلَّامٖ لِّلۡعَبِيدِ ، دا عطف دے په ماقدمت باندے او نفی د هر ظلم نه مستلزم ده عدل کامل لره نو حاصل دا دے چه د دوی عذاب د پاره دوه اسباب دی چه مجموعه د هغے نه یو سبب کامل جوړیږی : اول سبب د دوی عملونه دی او دویم سبب عدل د الله تعالیٰ دے یعنی عدل د الله تعالیٰ تقاضا کوی چه د دوی د قولی او عملی ظلمونو سزا د سخته ورکړیشی۔

سوال :۔ ظلام صیغه د مبالغے ده چه دلالت کوی په کثرت او په زیادت باندے نو په دیکښ نفی د ظلم کثیر ثابته شوه او په نفی د کثرت او زیادت سره نفی د نفس ظلم نه لازمیږی او الله تعالیٰ په دے سورت س۱۰۸ کښ د ځان نه نفی د نفسِ ظلم کړیده په نفی د ارادے د هغے ؟

جواب ۱ :۔ وزن د فعال همیشه د کثرت د پاره نه وی بلکه کله په صرف اتصاف او په نسبت باندے دلالت کوی معنیٰ دا ده لیس بذی ظلم (جلالین)۔

جواب ۲ هر کله چه عبید کثیر دی او په هر عبد باندے چه ظلم اوشی نو ظلمونه به هم کثیر شی د دے وجے نه

اَلَّذِيْنَ قَالُوْٓا اِنَّ اللّٰهَ عَهِدَ

دا هغه کسان دي چه وائي دوی یقیناً الله تعالیٰ وصیت کړیدے

اِلَيْنَآ اَلَّا نُؤْمِنَ لِرَسُوْلٍ

موږ ته چه ایمان به نه راوړو په یو رسول

حَتّٰى يَاْتِيَنَا بِقُرْبَانٍ تَاْكُلُهُ

تر دے چه راوړی موږ ته قربانی چه اوسیزی هغے لره

النَّارُ قُلْ قَدْ جَآءَكُمْ

اور، ته اووایه یقیناً راغلی دي تاسو ته

رُسُلٌ مِّنْ قَبْلِيْ بِالْبَيِّنٰتِ

ډیر رسولان زما نه مخکښ په ښکاره دلیلونو سره

وَبِالَّذِيْ قُلْتُمْ فَلِمَ قَتَلْتُمُوْهُمْ

او په هغه شي چه تاسو وائئ نو ولے تاسو وژل هغوی لره

اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿۱۸۳﴾

که تاسو رښتیني یئ۔

صیغه دَ کثرت ذکر کړیده۔

جواب ۳: په نفی دَ کثیر ظلم سره نفی دَ قلیل لازمیږی ځکه خوک چه ظلم کوی نو دَ خپلے انتفاع دَ پاره ئے کوی نو هر کله چه خوک کثیر ظلم نه کوی سره دَ کثیر و منافعو نه نو لږ ظلم خو په طریقه اولیٰ سره نه کوی۔ او داسے جمله په قرآن کښ په سورة الانفال ۵۱، سورة الحج ۱۰، سورة حٰمٓ سجده ۴۶ او سورة قٓ ۲۹ کښ ذکر ده۔

فائده: امام راغب وئیلی دی چه عبید لفظ عام دے چه بندګی دَ الله تعالیٰ کوی یا دَ غیر الله کوی او عباد لفظ خاص دے په هغه چا پورے چه بندګی صرف دَ الله تعالیٰ کوی۔

س ۱۸۳: په دے آیت کښ هم زجر دے دَ دوی په بل قباحت باندے دَ ابن عباس رضی الله عنهما روایت دے چه دَ یهودیانو مشران نبی صلی الله علیه وسلم ته راغلل او اعتراض ئے اوکړو چه په تورات کښ مونږ ته حکم دے چه هغه رسول یا نه دے ایمان راوړئ چه قربانی (صدقات) دَ هغه په وخت کښ په اور باندے سوزیږی نو ته مونږ ته قربانی راوړه چه په اور باندے اوسوزی نو په دے آیت کښ دَ هغوی تردید کوی۔

اَلَّذِیْنَ قَالُوْا ، دا صفت یا بدل دے دَ الذین چه دَ قول مضاف الیه دے په تیر شوی آیت ۱۸۱ کښ۔ یا دَ دے مبتدا پټه ده (هم)۔

اِنَّ اللّٰهَ عَهِدَ اِلَيْنَا ، عَهِدَ په معنیٰ دَ وصیت سره دے او عهد خاص دے دَ امر نه ځکه عهد په هغه ځائے کښ استعمالیږی چه دَ هغے وخت اوږد وی۔

اَلَّا نُؤْمِنَ لِرَسُوْلٍ ، دلته فی پټ دے یا مفعول دے عهد چه هغه په معنیٰ دَ الزم دے او دَ ایمان په صله کښ لام، په اعتبار دَ معنیٰ دَ اقرار او اعتراف سره دے۔

حَتّٰی یَاْتِیَنَا بِقُرْبَانٍ ، دا په اصل کښ مصدر دے په معنیٰ دَ مفعول سره۔ و ټیلے کیږی هر هغه څیز ته چه په هغے سره تقرب الله تعالیٰ ته حاصلیږی که څاروے وی او که بل څیز وی۔

تَاْكُلُهُ النَّارُ ، نسبت دَ خوراک اور ته مجازی دے یعنی اور هغے لره اوسیزی یا ختم کړی۔

قُلْ قَدْ جَآءَكُمْ رُسُلٌ مِّنْ قَبْلِیْ بِالْبَيِّنٰتِ ، دا جواب دے په طریقه دَ الزام سره اشاره ده چه خوړل دَ اور قربانیٔ لره یو معجزه ده او دَ دینه علاوه ډیر معجزات رسولانو دَ بنی اسرائیلو دَ هغوی انکار کړیدے۔

وَبِالَّذِیْ قُلْتُمْ ، دا تخصیص دے روستو دَ تعمیم نه یعنی معجزه دَ قربانی چه اور ئے خوری هم ستاسو رسولانو راوړیده۔

فَإِنْ كَذَّبُوكَ فَقَدْ كُذِّبَ

نو که دوی تا ته دروغژن وائي (صبر کوه) نو دروغژن وئيلے شويدي

دا دليل دے چه واقعي په تورات کښ دا شرط د رسول د تصديق د پاره موجود وو لکه چه آدم عليه السلام په زمانه کښ دا سے په واقعه قابيل او هابيل کښ او دا رنګ د يوشع عليه السلام زمانه کښ په باره د مال غنيمت کښ-او دا سے واقعه په صحيح حديث سره ثابت ده دا رنګ قرطبي وئيلي دي چه دا سے معجزه زکريا او شعيب انبياؤ پيش کړي دي- ليکن يهوديانو په تورات کښ تحريف يا کتمان کړے وو- ځکه چه په هغے کښ الا المسيح ومحمد صلى الله عليه وسلم موجود وو او دوي دا لفظ نه ښکاره کولو دا د سدي نه نقل دے او بعضے مفسرينو وئيلي دي چه دا شرط د دوي په تورات کښ موجود نه وو چه هر رسول به دا سے معجزه راوړي بلکه بعضے رسولانو لکه د موسى عليه السلام په معجزاتو کښ دا ثابت نه ده اګرچه د بعضے رسولانو په وخت کښ معجزه په صادره شويے نو طلب د دوي دا سے معجزه د محمد صلى الله عليه وسلم نه دا سے وو لکه چه قوم د صالح د هغه نه معجزه طلب کړے يا لکه مشرکان مکه د هغه نه (اقتراحي) معجزات طلب کول-

فَلِمَ قَتَلْتُمُوهُمْ، دا قتل د دوي مشرانو کړے وو لکه مخکښ آيت کښ ذکر شوه او په هغے عمل د مشرانو باندے روستني رضا وو ځکه دوي ته نسبت اوشو او قتل کول زيات دے د تکذيب نه نو د هير الزام د پاره ئے قتل ذکر کړو-

إِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ، يعني صادق په دے عهد کښ يا صادق چه بينات او قربان مستلزم د ايمان دي-

رُسُلٌ مِّنْ قَبْلِكَ جَآءُوْا

ډیرو رسولانو ته ستا نه مخکښ راوړی وو هغوی

بِالْبَیِّنٰتِ وَالزُّبُرِ وَالْكِتٰبِ

ښکاره دلیلونه (عقلی) او واړه کتابونه او لوے کتاب

الْمُنِیْرِ ﴿۱۸۴﴾

رڼا کوونکے

س۱۸۴ :- په دے آیت کښ تسلی ده نبی صلی الله علیه وسلم لره۔
فَاِنْ كَذَّبُوْكَ ، اِنْ په معنیٰ دَ اِذَا دے۔
فَقَدْ كُذِّبَ ، جزاء دَ شرط پټه ده (فاصبر)۔
رُسُلٌ مِّنْ قَبْلِكَ ، صیغه دَ مجهول او جمع دَ رُسُلٌ دلالت کوی چه صرف یهودیان مراد نه دی بلکه یهود او دَ هغوی نه مخکښ امتونه چه هغوی ته رسولان رالیږلے شوی وو۔
مِنْ قَبْلِكَ ، متعلق دے په کذب پورے۔
جَآءُوْا بِالْبَیِّنٰتِ ، دا جمله صفت دَ رسل دے اَلْبَیِّنَاتِ ښکاره معجزات۔
وَالزُّبُرِ ، جمع دَ زبور ده او دا اخستلے شوے دے دَ زبر نه په معنیٰ دَ مفعول دے یعنی الکتب المزبورة (کتابونه لیکلے شوی) او اطلاق ئے کیږی په هغه لیکلو شوو کتابونو چه معانی دَ زجر او وعظ پکښ ډیر وی احکام پکښ لږ وی یا نه وی۔ زبور دَ داؤد علیه السلام په زواجرو او مواعظو او فضائلو باندے مشتمل وو احکام پکښ نه وو دارنګ صحیفے دَ ابراهیم او موسیٰ علیهما السلام او دَ نورو انبیاؤ۔ نو دلته مراد هغه ټول صحف دی سره دَ کتاب زبور دَ داؤد علیه السلام نه۔
وَالْكِتٰبِ الْمُنِیْرِ ، مراد په دے سره لوے کتابونه دی لکه تورات او انجیل او منیر په دے وجه سره وئیلے کیږی

كُلُّ نَفْسٍ ذَآئِقَةُ الْمَوْتِ ؕ وَإِنَّمَا

هر ساه والا څکونکے دَ مرګ دے ، او یقینًا

تُوَفَّوْنَ أُجُورَكُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ؕ

پوره به درکړے شی تاسوته ثوابونه ستاسو په ورځ دَ قیامت ،

فَمَنْ زُحْزِحَ عَنِ النَّارِ

نو څوک چه لرے کړے شو دَ اور نه

وَأُدْخِلَ الْجَنَّةَ فَقَدْ فَازَ ؕ

او داخل کړے شو جنت ته نو یقینًا کامیاب شو

وَمَا الْحَيٰوةُ الدُّنْيَآ إِلَّا مَتَاعُ

او نه دے ژوند دنیوی مګر سامان

الْغُرُورِ ﴿۱۸۵﴾

دَ دهوکے دے ۔

چه مشتمل وی په احکامو باندے ۔ بعضو مفسرینو وئیلی دی چه البینات هغه دی چه عوام په هغے باندے پوهیږی ۔ او کتاب منیر دَ خواصو دَ علم دَ پاره وی ۔ او الزبر درمیانه خلقو دَ پاره وی ۔ او بعضے مشائخو دَ دے زمانے وئیلے دی چه البینات اشاره ده عقلی دلیلونو ته او الزبر نقلی دلیلونه او کتاب منیر وحی دلیلونو ته ۔ لیکن دَ دے تخصیص دَ پاره څه قرینه او نقل نشته دے ۔ او دا راتلل دَ رسولانو په دے درے قسمونو سره دَ مجموع په حیثیت سره دی یعنی هر یو نبی دا درے واړه نه دی راوړی چا یو یو چا دوه دوه او چا درے واړه امور راوړی دی ۔ دا رنګ په سوره قاطر ۲۵ کښ درے واړه امور ذکر دی او په سوره نحل کښ دوه ذکر دی ۴۴ ۔

۱۸۵ :- په دے آیت کښ هم تسلی ده نبی صلی الله علیه وسلم

او دَ هغه تابعدارانو ته ځکه چه څوک عقیده دَ مرګ لري نو دَ زړه نه تورغمونه لرے وي دا رنګ تسلي ده چه روستو دَ مرګ نه دَ مکذبینو او حق پرستو تمیز به حاصل شي او په دیکښ تشجیع ورکول په جهاد بالنفس او انفاق في سبیل الله سره هم شته دے۔

كُلُّ نَفْسٍ ذَآئِقَةُ الْمَوْتِ ، لفظ دَ كُلٌّ اګرچه مذکر دے لیکن نحویانو وئیلي دي چه په وخت دَ اضافت دَ کل کښ اعتبار مضاف الیه دَپاره دے۔ كُلُّ نَفْسٍ ، ابن عطیه وئیلي دي چه مراد دَ دینه نفس مخلوقه ژوندے دے او آلوسي وئیلي دي چه مستثنیات دَ دینه ډیر دي په دلیل دَ (فَصَعِقَ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَمَنْ فِي الْاَرْضِ اِلَّا مَنْ شَآءَ اللّٰهُ) بِنا په دے چه مراد دَ صعق نه موت دے۔ او دا آیت عام دے دَ کل من علیها فان نه ځکه ظاهر په هغے کښ دَ زمکے دپاسه مخلوق مراد دے او که دَ هغے نه هم هر مخلوق مراد شي ځکه په مخلوق دَ آسمانونو باندے هم دَ علیها اطلاق کیدیشي۔ نو په هغے کښ هم عموم دے او دا غوره دے په قرینه دَ یبقی وجه ربك ذوالجلال والاکرام او په قرینه دَ کل شيءٍ هالك الا وجهه۔ نو معلومه شوه چه دا درے واړه جملے کلیات دي لیکن په سبب دَ بعضے نصوصو سره دَ هغے نه مستثنیات شته دے دَ دے تفصیل په تفسیر دَ سورة قصص آخري آیت کښ شته دے۔ ابن کثیر وئیلي دي چه په دے کلیه کښ پیریان، انسانان، ملائک او حَمَلَةُ العرش ټول داخل دي ما سیوا دَ الله تعالیٰ نه چه الحی الذین لا یموت دے۔ صاحب اللباب وئیلي دي که سوال او کړے شي چه دَ نفس اطلاق خو په الله تعالیٰ باندے قرآن کښ شته دے دا رنګ صحیح دا ده چه نفس او ذات یو څیز دے نو جماد ات پکښ هم داخلیږي نو جواب دا دے چه مراد دَ کل نفس نه هغه نفوس دي چه مکلف کیدیشي په دارِ دنیا کښ یعني مخلوق او ژوندي دي۔

فائده :- دَ نفس اطلاق کله په روح باندے کیږی او کله په ذات (بدن) باندے نو فلاسفه وائی چه دلته مراد دَ نفس نه صرف بدن دے او هغوی دَ دے دوه وجے ذکر کړیدی۔

اوله وجه ، چه ذائق ځکنه کوونکے په وخت دَ ځکنه کولو کښ موجود وی نو معلومه شوه چه روح باندے مرګ نه راځی۔

دویمه وجه دا ده ، چه مرګ خو دَ اسباب حرارت او رطوبت غلبه ده په یو بل باندے او دا صفات دَ بدن دی او اهل شرع وئیلی دی چه نفس دلته روح او بدن دواړو ته شامل دے او دَ هر یو موت په جدا جدا معنیٰ سره دے دَ بدن موت دا دے چه روح دَ ده نه جدا شی نو هیڅ حاسه پکښ پاتے نشی او دَ روح مرګ دا دے چه هغه دَ بدن په واسطے سره څه لذتونه وغیره حاصلول نو کله چه دَ روح نه جدا شو نو دَ هغه لذتونو نه محروم شی بیا دَ انبیاء او شهداؤ ارواحو له الله تعالیٰ حیات په یو قسم سره ورکوی چه هغه په تفسیر دَ احیاء (سوره بقره - آلعمران) کښ ذکر دے او لفظ دَ ذوق دلالت کوی چه مرګ همیشه نه دے بلکه روستو ژوند بعد الموت شته دے نو معلومه شوه چه دَ مرګ وخت لږ دے او حرارت او رطوبت کښ تغیر دَ اسبابو دَ مرګ نه نه دے بلکه مرګ په حکم دَ الله تعالیٰ سره دے یعنی په کلمه دَ کن سره دے۔

وَإِنَّمَا تُوَفَّوْنَ أُجُورَكُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ، دَ دینه مخکښ ذکر دَ بعث بعد الموت مراد دے یعنی تبعثون بعد الموت وتوفون آه۔

سوال :- توفیه دلالت کوی په پوره ورکولو نو دَ قیامت نه وړاندے خو په دنیا او په قبر کښ هم څه اجور ورکړے شویدی نو هغه پکښ شمار نه دی؟

جواب ۱ :- قرطبی وئیلی دی چه اصل اجر دَ مؤمن جنت او دَ کافر جهنم دے نو دَ دینه مخکښ ئے پکښ اجر او جزا نه ده حساب کړے۔

جواب ۲ :- توفیه پوره کولو ته وئیلے شی یعنی مخکښ دَ دینه لږ څیز ورکړیدے او په قیامت کښ به هغه ناقص پوره کوی۔

سوال :- په قیامت کښ عذابونه د کافرانو او گنهګارانو هم شته دے نو د هغې ذکرېږي ولے او نه کړو؟

جواب ۱ :- دلته مقصود په خطاب سره نبي صلی الله علیه وسلم او د هغه تابعداران دي نو اشاره ده چه هغوی ته مغفرت کيدیشي د ګناهونو د هغوی او ثوابونه د طاعاتو به ورکيږي.

جواب ۲ :- قرطبي ابوحیان وئيلي دي چه اجر نه مراد هر هغه جزا ده چه مرتب کيږي د طاعت یا په معصیت باندے نو عذابونو ته هم شامل شوه۔

فَمَنْ زُحْزِحَ عَنِ النَّارِ وَ اُدْخِلَ الْجَنَّةَ فَقَدْ فَازَ ، دا جورو ورکولو نه دوه قسمونه خلق جوړيږي نو" فا " سره د هغوی تفصیل کوي چه اول قسم یعني کامل مؤمنان دي د هغوی ذکر په دے جمله کښ دے. زُحْزِحَ ، تحزح ، لرے والي او بچ ساتلو ته وئيلے شي یعني چه د دخول د جهنم نه د اول وخت نه بچ اوساتلے شي او اولا جنت ته داخل کړيشي نو دغه شخص ته فائز وئيلے شي نو معلومه شوه چه څوک جهنم ته د څه وخت د پاره داخل کړيشي بیا روستو جنت ته داخل کړيشي یا څوک په اعراف کښ دي او روستو جنت ته داخل کړيشي نو دوی ته فائز نشي وئيلے کيدلے اګرچه جنتیان دي۔ نو د دے کامل مرتبے ذکر کولو کښ اشاره ده چه صحابه کرامو دا سے مرتبه حاصل کړيده۔ زحزح او ادخل مجهول کښ اشاره ده چه دا سعادت د دوی په اختیار کښ نه دے بلکه دا خالص فضل د الله تعالی دے۔ او دویم قسم چه د کامل مؤمنانو نه غیر دي د هغوی د عقوبت ذکر ئے صراحتًا نه دے کړے خو د هغوی سبب د عقوبت او معصیت ته اشاره ده په دے جملے سره۔ وَمَا الْحَيٰوةُ الدُّنْيَآ اِلَّا مَتَاعُ الْغُرُوْرِ ، حَيٰوةُ الدُّنْيَا نه مراد سامانونه د تیرولو د معاش دي یا مراد تیره شوے هغه عمر دے چه صرف د دنیا په حصول کښ خرچ شي او آخرت ته هیڅ توجه نه وي۔ مَتَاعُ ، اکثر مفسرینو وئيلي دي چه متاع هغه څیزونه دي چه لږه نفع ورباندے حاصل شي او بیا فنا شي عکرمه وئيلي دي لکه تبر ، کاسه ، کټوئ وغیره او حسن بصري وئيلي دي

لَتُبْلَوُنَّ فِىٓ اَمْوَالِكُمْ وَ اَنْفُسِكُمْ قف

خامخا ازمیښت به او کړیشی په تاسو باندې په مالونو ستاسو کښې او نفسونو ستاسو کښې

وَلَتَسْمَعُنَّ مِنَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ

او خامخا به واورئ تاسو دَ هغه کسانو نه چه ورکړے شویدے ورته کتاب

مِنْ قَبْلِكُمْ وَمِنَ الَّذِيْنَ

مخکښې ستاسو نه او دَ هغه کسانو نه

اَشْرَكُوْٓا اَذًى كَثِيْرًا ؕ وَاِنْ تَصْبِرُوْا

چه شرک ئې کړیدے بده وینا ډیره او که صبر اوکړو تاسو

وَتَتَّقُوْا فَاِنَّ ذٰلِكَ مِنْ عَزْمِ الْاُمُوْرِ ﴿۱۸۶﴾

او ځان موبچ کړو دَ ګناه نه نو یقینًا دا دَ پخو (او دَ ضروری) کارونو نه دے۔

چه لکه شنه بوټی، ګوړی دَ وړوجنیکو دَ لوبو کالی او حاصل ئې نه وی پښان دَ سراب۔ زمحشری وئیلی دی چه متاع هغه سامان دے چه یو مشتری ئې په دهوکے سره سودا اوکړی روستو ورته دَ هغے فساد (ردی والے) معلوم شی۔

اَلْغُرُوْرِ، دا مصدر دے په معنیٰ دَ دهوکه کیدلو سره او جمع هم کیدیشی چه مفرد ئې غار (دهوکه ورکوونکے) دے۔ نو په دیکښې اشاره ده چه منافع دَ دُنیا ډیر خلق دا سے دهوکه کړیدی چه آخرت ئې هیر کړیدے یا دَ آخرت نه منکر شویدی نو هغوی دَ کامل مؤمنانو په ضد کښې دی دَ هغوی دَ پاره دَ هغوی مناسب عقوبت دے۔

۱۸۶:۔ ربط:۔ په دے آیت کښې هم تسلی ده ایمان والو ته روستو دَ تسلئ ورکولو نه په مصیبتونو دَ احد باندے یعنی دَ دینه روستو په راتلونکی زمانه کښې به هم تاسو دَ دشمنانو دَ دین دَ طرف نه مصائب راځی خو صبر به کوئ۔ دا رنګ دَ دینه وړاندے دَ مشرکانو او کتابیانو قباحتونه ذکر کړل نو اوس دَ هغوی دَ طرف نه دَ نورو ابتلاءاتو ذکر کړ دے۔

لَتُبۡلَوُنَّ فِیۤ اَمۡوَالِکُمۡ وَاَنۡفُسِکُمۡ، ابتلاء، دَ بلاء نه دے په اصل کښں حال او حقیقت معلومولو ته وئیلے شي او دا معلومیږي کله په مصائبو سره او کله انعاماتو سره دَ دے وجے نه دَ بلاء اطلاق په دواړو کیږي یشي لیکن اکثر ابتلاء په مصائبو راتللو سره وي دلته په مالونو کښں ابتلاء عامه ده که په تکالیف شرعیه سره وي لکه زکوٰة انفاق فی سبیل الله یا تکالیف کونیه قحط، او هلاکت دَ مالونو په نورو حوادثو سره دا رنګ په نفسونو کښں ابتلاء هم عامه ده کله په تکالیف شرعیه سره وي شهادت یا زخمي کیدل په جهاد کښں موتځ کول یا تکالیف کونیه مرضونه، غمونه راتلل دا رنګ په سوره بقره کښں تیر شوي دي۔

وَلَتَسۡمَعُنَّ مِنَ الَّذِیۡنَ اُوۡتُوا الۡکِتٰبَ مِنۡ قَبۡلِکُمۡ، په دیکښں ابتلاء روحاني ذکر کوي روستو دَ ابتلاء مالي او بدني نه، اُوۡتُوا الۡکِتَابَ، نه مراد یهود او نصارٰی دي لیکن په دے صفت ذکر کولو کښں اشاره ده ډیر قباحت دَ دوي ته چه دوي سره دَ علم دَ کتاب نه داسے ګناهونه کوي - او مِنۡ قَبۡلِکُمۡ، کښں زیات تاکید ته اشاره ده چه زاړه عالمان دي یاد ئے دَ دے دپاره راوړلو چه دَ اوتوا الکتاب اطلاق په قرآن والو باندے هم کیږي نو دا قید احترازي ئے او لړولو، وَلَتَسۡمَعُنَّ، کښں هم اشاره ده چه دوي دغه اذی په اعلان سره کوي تر دے پورے چه تاسو ته ئے آوري۔

وَمِنَ الَّذِیۡنَ اَشۡرَکُوۡا، عوام مشرکین عرب او عجم مراد دي۔ اَذًی کَثِیۡرًا، اذی عام په هغه تکلیفونو باندے اطلاق کیږي چه دَ ژبے نه صادریږي دا لفظ شامل دے دَ دوي شرکیه اقوالو ته او طعن کول په نبي او په قرآن او سب او شتم کول او صحابه کراموته او په شعرونو او نثرونو سره دَ هغوي بدي بیانول او نور بهتانونه وئیل په هغوي باندے چه دَ دے په آوریدلو سره دَ مؤمنانو زړونو ته تکلیف رسیږي۔

وَإِذْ أَخَذَ اللّٰهُ مِيثَاقَ الَّذِينَ

او کوم وخت چه واخستو الله تعالیٰ پوخ لوظ دَ هغه کسانو نه

أُوتُوا الْكِتٰبَ لَتُبَيِّنُنَّهٗ لِلنَّاسِ

چه ورکړے شوے وو هغوی ته کتاب خامخا بیان (تشریح) به کوی دَ دے خلقو ته

وَلَا تَكْتُمُونَهٗ فَنَبَذُوهُ وَرَآءَ

او نه به پټوی دے لره نو اوغورځوو هغوی روستو

ظُهُورِهِمْ وَاشْتَرَوْا بِهٖ ثَمَنًا

دَ شاګانو خپلو نه او واخستو هغوی په هغے سره عوض

وَإِنْ تَصْبِرُوا وَتَتَّقُوا ، یعنی چه په دغه اذی باندے صبر اوکړئ او سره دَ دے په دین باندے کلک پاتے شئ - وَتَتَّقُوا ، کوم کارونه او اخلاق چه مناسب نه دی دَ شان دَ مؤمن داعی مجاهد سره دَ هغے نه ځان بچ ساتئ -

فَإِنَّ ذٰلِكَ ، دا اشاره ده مجموعه صبر او تقویٰ ته مفرد ئے دَ دے وجے نه ذکر کړو چه دَ دواړو خصلتونو جمع کول فائده ورکوی.

مِنْ عَزْمِ الْأُمُورِ ، عَزْمِ ، مصدر دے په معنیٰ دَ پوخ قصد کولو او دا مصدر په معنیٰ دَ مفعول دے - اضافت دَ صفت دے موصوف ته اَلْأُمُورُ الْمَعْزُومَةُ عَلَيْهَا هغه کارونه چه پوخ قصد اوکړی دَ هغے هر یو عاقل شخص - یا هغه کارونه چه الله تعالیٰ پوره واجب کړیدی په بندګانو خپلو باندے - ابوحیان وئیلی دی چه ډیر پاخه او ښائسته کارونه - صاحب اللباب وئیلی دی چه دَ حق او دَ خیر دَ کارونو نه - بعض مفسرینو وئیلی دی چه دا منسوخ دے په آیت دَ قتال سره لیکن صحیح قول دا دے چه دا ښائسته اخلاق دَ مدارات دَ دعوت دَ پاره دی منسوخ نه دی -

قَلِيلًا ۖ فَبِئْسَ مَا يَشْتَرُونَ ﴿۱۸۷﴾

لږ (دنیا)	نو بد دے	هغه چه	دوی اخلی -

۱۸۷ :- په دے آیت کښ دَ دوی دریم قباحت ذکر کوی چه هغه حق پټول او عهد ماتول دی او په هغې باندے زجر ورکوی اوَ مخکښ آیت سره ربط دا دے چه مخکښ دَ دوی دَ طرف نه اذیت ذکر کړے شو نو دلته دَ هغه اذیت مثال ذکر کوی چه هغه صدق دَ آخری نبی صلی الله علیه وسلم دَ دوی په کتاب کښ ذکر وو دَ هغې پټول دی دَ دے وجے نه په طریقه دَ عطف سره ذکر کړے شو.

وَإِذْ أَخَذَ اللَّهُ مِيثَاقَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ، لفظ دَ أُوتُوا الْكِتَابَ، دَ زیات تقبیح دَ پاره دے چه کتاب ورسره شته دے او بیا هم حق پټوی - او دا مِيثَاقَ دَ دوی په دغه کتاب کښ موجود دے کوم چه دوی له ورکړے شو ید ے -

لَتُبَيِّنُنَّهُ لِلنَّاسِ، ہٗ، ضمیر راجع دے کتاب ته - تبیان نه مراد تشریع دَ هغې دَ عقیدو او دَ احکامو دَه چه په هغې کښ دَ آخری نبی صلی الله علیه وسلم دَ نبوت ذکر هم دے -

وَلَا تَكْتُمُونَهُ، دا عطف دے په لتبیننه باندے او تاکید په نون سره پکښ ځکه نشته دے چه دا منفی دے یا اکتفاء شوید ه په مخکښ نون موکده سره او بعضے مفسرینو وئیلی دی چه دا جمله دَ حال په ځائے کښ دَه -

سوال :- امر دَ تبیان خو مستلزم دے نهی دَ کتمان لره نو دائے ولے ذکر کړو ؟

جواب :- تبیان نه مراد تشریح دَ هغه آیاتونو دَه چه په دغه کتاب کښ دی او کتمان نه مراد تاویلات فاسده او شبهات باطله دی او دا منافی دی دَ تبیان سره -

فَنَبَذُوهُ وَرَاءَ ظُهُورِهِمْ، ہٗ، ضمیر راجع دے کتاب ته یا میثاق ته او نبذ روستو دَ شاګانو ته اشاره دَه چه دوی هغې ته

هیڅ اعتبار نه ورکوی او نه ورته التفات کوی لکه چه یو څیز شاته وی نظر ورباندے نه لګیږی۔
وَاشۡتَرَوۡا بِهٖ ثَمَنًا قَلِيۡلًا ، نبذ ، یوقباحت دے او اشتراء د دنیا د هغې نه زیات قباحت دے ځکه چه په دیکښ غوره کول د دُنیا دی په آخرت باندے۔ ثَمَنًا قَلِيۡلًا ، ټولو مالونو او جاه و مرتبه د دنیا ته وئیلے شی۔
فَبِئۡسَ مَا يَشۡتَرُوۡنَ ، وجه د ناکاره والی دا ده چه دا سبب د عذاب الیم دے۔
فائده :- آلوسی په اشارات کښ لیکلی دی چه اوتوا الکتب مطلق علماؤ ته اشاره ده او تفسیر فتح البیان کښ لیکلی دی هرچا ته چه الله تعالی ورکړے وی علم د یو کتاب که هر یو کتاب (الٰهی) وی مراد دے۔ او علماء د دے ملت اسلامیه هم اهل کتاب دی۔ رازی وئیلی دی چه ظاهر د دے آیت اګرچه خاص دے په یهودو او نصاری پورے لیکن بعیده نه ده چه مسلمانانو ته هم شامل شی ځکه چه هغوی اهل قرآن دی او قرآن د ټولو کتابونو نه اشرف دے۔ قرطبی وئیلی دی چه دا خبر عام دے دوی ته او نورو (مسلمانانو) ته۔ حسن او قتاده وئیلی دی دا آیت د هر هغه چا په باره کښ دے چه علم د یو څیز د کتاب (الله) ورکړے شوے وی نو څوک چه علم لری نو هغه دِ بیان کړی او ځان دِ بچ کړی د پټولو د علم نه ځکه چه دا هلاکت دے۔ او محمد بن کعب وئیلی دی حلال نه دی عالم لره چه چپ شی په خپل علم باندے او حلال نه دی جاهل لره چه پټ شی په خپل جهل باندے ځکه چه الله تعالی د علماؤ په باره کښ دا آیت نازل کړے دے او جاهلانو ته ئے امر کړیدے فَاسۡـَٔلُوۡۤا اَهۡلَ الذِّكۡرِ اِنۡ كُنۡتُمۡ لَا تَعۡلَمُوۡنَ ۔
ابو هریره رضی الله عنه وئیلی دی چه که چرے نه وے دا عهد چه الله تعالی د اهل کتابو نه اخستلے دے نو ما به تاسو ته هیڅ حدیث نه وے بیان کړے نو بیا ئے دا آیت اولوستلو۔

لَا تَحْسَبَنَّ الَّذِيْنَ يَفْرَحُوْنَ

گمان مه کوه په هغه کسانو چه خوشحالیږی

بِمَآ اَتَوْا وَّيُحِبُّوْنَ اَنْ يُّحْمَدُوْا

په هغه کار چه کوی (حق پټول) او غواړی چه صفت اوکړیشی د دوی

بِمَا لَمْ يَفْعَلُوْا فَلَا تَحْسَبَنَّهُمْ

په هغه کار چه دوی نه دے کړے نو گمان مه کوه په دوی باندے

بِمَفَازَةٍ مِّنَ الْعَذَابِ ۚ وَلَهُمْ

په بچ کیدلو سره د عذاب نه او د پاره د دوی

عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿۱۸۸﴾

عذاب دردناک دے۔

او ابن جریر نقل کړیدی چه کعب احبار رضی الله عنه اوئیل چه دا آیت
ستاسو د پاره نه دے (اے مؤمنانو) نو عبدالله بن مسعود
رضی الله عنه ورته غصه شو۔

۱۸۸:۔ په دے آیت کښ کتابیانو ته بل زجر ورکوی او د ایذاء
ورکولو بل مثال دے چه هغه ابن جریر د سعید بن جبیر نه
روایت کړیدے چه دوی به صفت د نبی صلی الله علیه وسلم
(چه د دوی په کتاب کښ ذکر وو) پټولو او په دے باندے ئے
خوشحالی کوله او تمنا به ئے کوله چه زمونږ تعریف دِ اوکړیشی
چه دوی د ابراهیم علیه السلام تابعداردی۔ او په دے قول
سره د ما قبل آیت سره دا تړلے شویدے او مراد په الذین
سره په لَا تَحْسَبَنَّ الَّذِيْنَ يَفْرَحُوْنَ بِمَآ اَتَوْا کښ هغه کسان
دی چه د هغوی نه میثاق اخستلے شوے وو او په مخکښ آیت
کښ ذکر وو نو اسم ظاهر ئے په ځائے د ضمیر کښ ذکر کړیدے
او تائید د دے حدیث د بخاری او مسلم دے چه مروان
ابو رافع ته اوئیل لاړشه ابن عباس رضی الله عنهما ته اُوایه

که یو شخص زموږ نه چه خوشحالی کوی په هغه څیز چه ورکړے شوی ورته دهٔ نه (په قراءت دَ اوتوا) او خوښوی چه دَهغه تعریف اوکړے شی په هغه کار سره چه ئے کړے نه وی نو بیا خو په موږ ټولو باندے په عذاب وی (یعنی دا سے خوئ په هر یو شخص کښ شته دے) نو ابن عباس رضی الله عنهما جواب ورکړو چه ستاسو دَ دے آیت سره څه کار دے دا خو دَ اهل کتابو په باره کښ نازل شوے دے او وَاِذْ اَخَذَ اللّٰهُ مِيْثَاقَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ دواړه آیاتونه ئے اولوستل او ورپسے ئے اُوئیل چه مراد دلته دَ اوتوا نه پټول دَ صفت دَ نبی صلی الله علیه وسلم دے۔ نو دَ دینه ثابته شوه چه دا آیت دَ مخکښ آیت سره تړلے شوے دے۔ او بِمَآ اُوْتُوْا، نه مراد حق پټول او نور ګناهونه دی۔ یعنی دلته اتیان په معنیٰ دَ فعل (کولو) دے۔ او یَفْرَحُوْنَ، نه مراد فرح دَ اعجاب او دَ تکبر دہ۔

وَيُحِبُّوْنَ اَنْ يُّحْمَدُوْا بِمَا لَمْ يَفْعَلُوْا، هغه چه نه دے کړے هغه حق پرستی او اطاعت دَ رسول دے او دا رنګ اتباع دَ ملت ابراهیمیه دہ او بعضے مفسرینو وئیلی دی چه داخل دی په دے کښ هغه څوک چه کار دَ نیکۍ اوکړی او په هغے باندے ریا او تکبر کول ئے مقصد وی او غواړی دا چه نور خلق دَ دہ ستائنه اوکړی په دینداریٔ او تقویٰ سره۔ او دا سے خلق خو په دے زمانه کښ ډیر دی۔

فَلَا تَحْسَبَنَّهُمْ بِمَفَازَةٍ مِّنَ الْعَذَابِ، زجاج وئیلی دی چه کله چه قصه اوږده شی او مخکښ کلام نیمګړے پاتے وی نو هغه فعل واپس راګرځولے شی دَ تاکید دَ پاره نو دلته فلا تحسبن دَ مخکښ لا تحسبن اعاده دہ او بمفازه دویم مفعول دے دَ هغے دَ پاره مفازة مصدر میمی یا اسم مکان دے۔ بچ کیدل یا ځائے دَ بچ کیدلو ته وئیلے شی او باء، دَ ملابسة دَ پاره دہ یعنی متلبسین بمفازة او فراء وئیلی دی چه مفازة په معنیٰ دَ بعید من العذاب

وَلِلّٰهِ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ط

او خاص الله تعالی لره بادشاهي دَ آسمانونو او دَ زمکے ده ،

وَاللّٰهُ عَلٰی كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ (۱۸۹) ع ۱۹ ۱۵

او الله تعالی په هر څیز باندے قدرت والا دے۔

سره دے۔

وَ لَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ، دا تاکید دے دَ ما قبل جملے دَ پاره۔

۱۸۹ :- **خلاصه** :- دَ دے آیت نه تر آخر دَ سورت پورے دریم باب دے په دیکښ څلور مضامین دَ سورت واپس ذکر کوی توحید په ۱۸۹ کښ او رسالت په ۱۹۳ او جهاد په ۱۹۵ کښ او اشاره انفاق ته ده په ۱۹۶ کښ۔ اولس صفتونه ذکر کوی دَ صالحینو ، اولوا الالباب ، ذکر لسانی ، عبادت په جوارحو سره فکر په زړه سره ، او لوستل دَ څلورو دعاګانو۔ او پنځه صفتونه په ۱۹۵ کښ او صفات دَ صالحینو دَ کتابیانو دی او آخری آیت متعلق دے دَ ټول سورت سره۔

تفسیر

په دے آیت کښ علت دے دَ دے دَ پاره چه۔ فَلَا تَحْسَبَنَّهُمْ بِمَفَازَةٍ مِّنَ الْعَذَابِ ، یعنی هغه ذات چه دَ هر څیز بادشاهی دَ هغه دَ پاره خاص ده او دا خلق دَ هغه رعیت دی دا رنګ په هر څیز باندے هغه قادر دے۔ نو دا سے ذات دَ عذاب نه به دوی څه رنګه بیچ شی (اللباب)

او په دے آیت کښ توحید دَ تصرف او دَ قدرت کلی دَ الله تعالی ذکر دے۔

اِنَّ فِیْ خَلْقِ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ

یقینًا په پیدائش دَ آسمانونو او دَ زمکه کښ

وَاخْتِلَافِ الَّیْلِ وَالنَّهَارِ

او تلو راتلو دَ شپې او دَ ورځ کښ

لَاٰیٰتٍ لِّاُولِی الْاَلْبَابِ ﴿۱۹۰﴾

ډیر دلیلونه دی صفا عقل والو لره۔

ف۱۹۰ :۔ هر کله چه مخکښ آیت کښ دعوی دَ توحید ذکر شوه نو دَ هغې دَ اثبات دَپاره دلیل عقلی ذکر کوی۔

اِنَّ فِیْ خَلْقِ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَاخْتِلَافِ الَّیْلِ وَالنَّهَارِ لَاٰیٰتٍ لِّاُولِی الْاَلْبَابِ ، تفسیر دَ اول چه خیر دَ اِنَّ دے په سورة البقره ف۱۶۴ کښ او تفسیر دَ اولی الالباب په دے سورت کښ تیر شوید ے۔

سوال :۔ دلته ئې څلور امور ذکر کړید ی او په سورة البقره ف۱۶۴ کښ لس څیزونه ذکر کړید ی دَ دے وجه څه ده ؟

جواب :۔ هلته لقوم یعقلون ذکر وو چه هغه عام خلق دی نو دَ هغوی دَ پوهې دَپاره تفصیل پکار دے او دلته اولی الالباب ذکر دی چه دا خاص مسلمانان دی نو دَ دوی دَ پوهې دَپاره اختصار کافی دے۔

فائده :۔ ابو حبان او سیوطی او ابن کثیر دَ عائشه رضی الله عنها روایت ذکر کړید ے چه نبی صلی الله علیه وسلم یو شپه عبادت کوو او ژړاڅې کوله بیائې اوفرمائیل چه زه به ولے نه ژاړم او حال دا چه الله تعالی نن شپه دا آیاتونه نازل کړید ی (ان فی خلق السموت ------- الآیات) بیائې اوفرمائیل هلاکت دے هغه چا لره چه دا لولی او فکر پکښ نه کوی۔ او بل روایت کښ دی چه هلاکت دے هغه چا لره چه شوخند کوی په مینځ دَ دواړو ژامو کښ په دے آیتونو سره او فکر

الَّذِينَ يَذْكُرُونَ اللّٰهَ قِيٰمًا

دوی داسے خلق دی چه یادوی الله تعالیٰ په ولاړے

وَّقُعُوْدًا وَّعَلٰى جُنُوْبِهِمْ

او په ناستے او په ډډو خپلو باندے

وَيَتَفَكَّرُوْنَ فِيْ خَلْقِ

او فکر کوی په پیدائش

السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۚ رَبَّنَا مَا

دَ آسمانونو او دَ زمکه کښ (وائی دوی) اے ربه زموږ نه دی

خَلَقْتَ هٰذَا بَاطِلًا ۚ سُبْحٰنَكَ

پیدا کړی تا دا بے فائدے ، پاکی ده تا لره

فَقِنَا عَذَابَ النَّارِ ﴿١٩١﴾

نو بچ کړے مونږ دَ عذاب دَ اُور نه ۔

پکښ نه کوی - او دا رنګ بخاری مسلم حدیث دَ ابن عباس رضی الله عنهما ذکر کړیدے چه په هغے کښ راغلی دی چه نبی صلی الله علیه وسلّم دَ شپے دَ خوب نه بیدار شو او آسمان طرف ته ئے اوکتل نو دا آیاتونه ئے اولوستل بیا ئے یوولس رکعته مونځ اوکړو نو بعضے روایت کښ دَ لس آیاتونو دَ خاتمے دَ سوره آل عمران ذکر دے او بل روایت کښ دَ آخر دَ سوره آل عمران تر اختتام پورے ذکر دے نو دَ دے آیت نه تر آخر پورے یوولس آیاتونه دی نو کوم روایت کښ چه دَ لس ذکر راغلے دے نو مراد دَ هغے دا دے چه دَ ان فی خلق السمٰوٰت آیت نه روستوئے لس آیاتونه اولوستل ۔

ملا ۱۹۱ :- په دیکښ درے صفات صراحتًا ذکر کوی ذکر دَ ژبے ،

فکر کول، دعا کول او څلورم صفت چه عبادت د جوارحو دے هغه په درے حالاتو کښ ذکر کړیں ے۔
اَلَّذِیْنَ یَذْکُرُوْنَ اللّٰهَ قِیٰمًا وَّقُعُوْدًا وَّعَلٰی جُنُوْبِهِمْ، غوره دا ده چه دا صفت دے د اولی الالباب. او په دے ذکر کښ دوه اقوال دی اول قول د ابن مسعود او د علی او ابن عباس رضی الله عنهما او نخعی او قتاده نه هم نقل دے۔ چه دا په مونځ کښ دے چه په ولاړے کول دی او چه طاقت ئے نه کیږی نو په ناستے او چه په ناستے نشی کولے نو په ړخه لګولو سره او دا سے په حدیث د عمران بن حصین کښ وارد دے په روایت د بخاری سره او تائید د دے آیت د سورة النساء ۱۰۳ دے۔ او دویم قول د اکثر مفسرینو دے چه مراد د دینه دوام د ذکر د الله تعالیٰ دے په هر حال کښ چه په هغے کښ انسان وی او انسان د دے درے حالاتو نه خالی نه وی او مراد ذکر د ژبے دے سره د حضور د زړه نه آلوسی وئیلی دی چه اجماع د اهل علم ده چه ثواب د هغه چا نشته چه ذاکر وی په ژبه او غافل وی زړه د هغه او په دے ذکر کښ حمد تسبیح تهلیل تکبیر وغیره اذکار داخل دی او د ابن جریج نه نقل دی چه قراءت د قرآن هم ذکر دے۔
بیا بناء په اول قول باندے قیام ئے مخکښ ذکر کړیں ے چه اصل حال د مونځ قیام دے بیا چه د قیام طاقت نه وی نو په ناسته سره دے بیا چه ناسته نشی کولے نو په اړخ سره دے نو په هغے کښ انتقال دے د اعلیٰ نه ادنیٰ ته۔ او بنا په دویم قول باندے ذکر د حال د قیام ډیر آسان دے بیا په حال د کیناستلو انسان اکثر په څه شغل کښ اخته وی نو ذکر ورباندے لږ ګران وی بیا په حال د اضطجاع کښ خو انسان اکثر آرام کوی او په حال د آرام کښ ذکر کول ډیر ګران وی یا دا چه د قیام زمانه لږه وی بیا زمانه د کیناستلو د قیام نه ډیره وی بیا زمانه د اضطجاع خو شپه ده او هغه د ټولو نه اوږده ده۔

سوال :- په سوره یونس ۱۲ کښې دَ دے ترتیب په عکس سره دے دَ هغې څه وجه ده؟
جواب :- هلته دَ ناشکره یا مشرک دعا ذکر ده هغه په ډیر مصیبت کښې مجبوراً الله تعالیٰ ته آواز کوی او مجبوری دَ ډے دَ حالت نه شروع کیږی بیا لږه مجبوری دَ ناسته کښې وی بیا په حال دَ ولاړه کښې وی۔
وَيَتَفَكَّرُونَ فِي خَلْقِ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ ، دا عطف دے په یذکرون باندے او دا عبادت قلبیه دے۔ دایئےدَذکر نه روستو راوړلو اشاره ده چه عقل او هدایت په نور دَ ذکر سره حاصلیږی دغه وجه ده چه عام سائنس دانان چه په عقل سره فکر چلوی لیکن نور دَ ذکر ورسره نه وی نو گمراه شی۔ فکر اړول راړول دَ زړه دی په یو څیز کښې (قرطبی) خَلْقِ معنیٰ مصدری مراد ده او مصدر مضاف دے مفعول ته یعنی فکر کوی په هیئاتُ اوصفاتُ دَ دے مخلوقاتو کښې۔ یا په معنیٰ دَ مخلوق دے او اضافت په معنیٰ دَ فی دے یا اضافت بیانیه دے۔ مقصد دا دے چه فکر کوی په عجائباتو دَ مخلوق دَ الله تعالیٰ کښې او دَ هغې په حکمتونو او لطائفو رازونو کښې او دَ هغې نه دلیل نیسی په وجود دَ پیدا کوونکی او په توحید دَ هغه باندے او دَ هغه په علم او قدرت او نورو صفتونو دَ کمال باندے او طریقه دَ تفکر دَ الله تعالیٰ په مختلفو آیاتونو کښې ذکر کړیده لکه په سوره ق دَ ۶ نه تر ۱۱ پورے او په سوره ملك ۳ ۴ ۵ او سوره نباء ۶ نه تر ۱۶ پورے او نازعات دَ ۲۷ نه تر ۳۳ پورے۔ او سوره غاشیه ۱۸ ۱۹ ۲۰ او سوره انبیاء دَ ۳۰ نه تر ۳۳ پورے۔ دا رنگ نور هم ډیر آیاتونه دی او ځایونه دَ فکرې ذکر کړیدی اول خلق دَ آسمانونو او زمکے لکه دا آیت۔ دویم خپل نفسونه لکه سوره روم ۸ آیت۔ دریم آیاتونه دَ قرآن کریم لکه سورة البقره ۲۱۹ سوره نحل ۲۱۔ څلورم حال دَ نبی صلی الله علیه وسلم لکه په سوره

اعراف ۱۸۴ - پنځم په مثالونو دَ قرآن کریم لکه سوره حشر ۲۱.
شپږم په عقلی دلیلونو کښ لکه سوره رعد ۳ - او وم په
عمل دَ نحل (توره مچی) لکه سوره نحل ۶۹ -
سوال :- په ان فی خلق السمٰوات والارض واختلاف اللیل
والنهار کښ څلور اشیاء ذکر کړے دی او دلته دوه
ذکر کړیدی ؟
جواب :- اختلاف دَ شپې او ورځې دَ هغه حالاتو نه دی چه تابع
دی دَ احوالو دَ آسمانونو او زمکو او اشاره ده چه په بعضے
آیاتونو کښ تفکر کولو سره هم انسان زر صحیح مقصد ته
رسیدلے شی -
فائده ۱ :- فی خلق السموات ...... آیه کښ اشاره ده چه
تفکر په ذات دَ الله تعالیٰ کښ منع دے ځکه چه قاسمی دَ ابن
ابی حاتم نه او آلوسی دَ عمرو بن مره روایت او دَ ابن
عمر او ابن عباس رضی الله عنهما نه روایات نقل کړیدی
چه فکر په نعمتونو او په مخلوق دَ الله کښ کوئ - او په ذات دَ
الله تعالیٰ کښ فکر مه کوئ قاسمی وئیلی دی چه دَ دے دَ پاره ډیر
شواهد شته دے - او دا رنګ فکر په ذات الهیه کښ اکثر
وسوسو ته رسیدل کوی او دَ هغے نه تعوذ غوښتل پکار دی -
فائده ۲ :- په باره دَ عبادت دَ تفکر او اهمیت دَ دے کښ
ډیر اقوال دَ سلف صالحینو قرطبی او ابن کثیر نقل کړیدی
اګرچه په هغے کښ حدیث مرفوع صحیح متصل معلوم نه
دے لیکن دَ قرآن کریم په ډیرو نصوصو سره چه په هغے
کښ امر یا ترغیب دَ تفکر ذکر دے او په اقوالو دَ سلفو سره
هم اکتفاء کیدیشی - ځینی دَ هغه اقوالو نه دا دی -
۱ حسن بصری دَ ډیرو صحابه کرامو نه نقل کړیدی چه هغوی
وئیلی دی رڼا دَ ایمان فکر کول دی -
۲ دَ عمر بن عبد العزیز نه روایت دے چه کلام په ذکر دَ
الله تعالیٰ سره ښه کار دے او فکر په نعمتونو دَ الله تعالیٰ کښ

افضل عبادت دے۔
ع۳ دَ حسن بصری نه روایت دے چه تفکر دَ یو ساعت غوره دے دَ قیام دَ یوے شپے نه۔
ع۴ او قرطبی بغیر دَ سند نه ذکر کړیدی چه نبی صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی چه فکر دَ یو ساعت غوره دے دَ عبادت دَ یو کال نه۔
ع۵ قرطبی دَ ابن عربی نه نقل کړیدی چه په مذهب دَ صوفیه کښ فکر افضل دے دَ صلوٰة نه او په نیز دَ فقهاؤ صلوٰة افضل دے دَ تفکر نه۔
ع۶ ابن عطیه وئیلی دی چه غوره دَ امورو نه درمیانه وی (یعنی صلوٰة او فکر دواړه لکه چه نبی صلی الله علیه وسلم دَ شپے پاڅیدلو اول ئے نظر اوکړو آسمان ته او بیا ئے مونځ اوکړو) دَ قراءت دَ کتاب او دَ معانی دَ سنت دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه چاړه چه فهم دَ هغے لری دا افضل کار دے او ردئے کړیدے په بعضے صوفیه باندے چه فکر ته دا سے عبادت وائی چه مونځ ته کوی او کله ئے او دسه مونځونه کوی (او دا خو الحاد فی سبیل الله دے)
رَبَّنَا مَا خَلَقْتَ هٰذَا بَاطِلًا ، دا جمله حال دے په تقدیر دَ یقولون سره۔ یا جمله مستانفه ده په ذکر دَ نتیجے دَ تفکر سره او هغه خلور نتیجے دی په ترتیب سره آلوسی ذکر کړیدی یعنی هر کله چه دوی فکر اوکړو په مخلوقاتو دَ الله تعالیٰ کښ نو پوهه شو چه دَ دے مخلوقاتو دَ پاره پیدا کوونکے شته نو دوی اوئیل چه ربنا او هر کله چه دوی پوهه شو چه په دے مخلوقاتو کښ دَ الله تعالیٰ بے شماره حکمتونه دی نو دوی اُوئیل مَا خلقت هذا باطلاً۔ هذا اشاره ده مخلوق ته باطل عبث او بے فائده ته وئیلے شی یا هغه چه فائده پکښ مقصود نه وی او هر کله چه لویه فائده او حکمت پکښ توحید دَ الله تعالیٰ دے په طریقه دَ پاکوالی سره دَ مشابهت دَ مخلوق نه نو وریسے اُوئیل

رَبَّنَآ إِنَّكَ مَن تُدۡخِلِ ٱلنَّارَ

اے ربه زمونږ يقيناً څوک چه داخل کړے ته اور ته

فَقَدۡ أَخۡزَيۡتَهُۥۖ وَمَا لِلظَّٰلِمِينَ

نو يقيناً او شرموؤ تا هغه لره او نيشته ظالمانو لره

مِنۡ أَنصَارٖ ﴿١٩٢﴾

هيڅ مددګاران۔

سُبۡحَانَكَ، هر کله چه معلومه شوه چه عالم باطل نه دے او الله تعالىٰ د باطل جوړولو نه پاک دے نو خلق په دے عقيده کښ مختلف دی صحيح اعتقاد والا او باطل اعتقاد والا د دواړو ډلو په جزا کښ ضرور فرق دے نو سوال کيږی د الله تعالىٰ نه چه مونږ په صحيح اعتقاد سره د اور نه بچ اوساتے د دے وجے نه ئے فاء ذکر کړه۔

فَقِنَا عَذَابَ النَّارِ، نو مراد د دينه طلب د توفيق د هغه اعتقاد دے چه سبب دے د بچ کيدلو د اور نه۔

س ۱۹۲:۔ دا دويمه دُعا روستو د طلب د توفيق د توحيد نه۔ په دے سره طلب کوی چه بچ شی د شرک نه او دا په طريقه د علت دے د قنا عذاب النار د دے وجے نه حرف عطف ئے نه دے ذکر کړے۔

رَبَّنَا اِنَّكَ مَنۡ تُدۡخِلَ النَّارَ فَقَدۡ اَخۡزَيۡتَهُ، اخزاء، نه مراد اهلاک دے يا سخت شرمنده کول او سخت ذليل کول دی او اخزاء په دے معنیٰ سره خاص ده په کافرانو پورے او دا قول د سعيد او ثوری او قتاده نه روايت دے۔ نو معلومه شوه چه مراد د ادخال د اور نه خلود فی النار دے۔ او مقصود په دے دُعا کښ په طريقه د ذکر د مسبب او مراد ترينه سبب دے يعنی مونږ د شرک نه بچ اوساتے چه سبب د سخت شرمندګی دے۔

رَبَّنَآ اِنَّنَا سَمِعْنَا مُنَادِيًا

اے ربه زمونږ یقیناً مونږ واوریدلو یو آواز کوونکے

يُّنَادِيْ لِلْاِيْمَانِ اَنْ اٰمِنُوْا

چه آواز کوی ایمان ته چه ایمان راوړئ

بِرَبِّكُمْ فَاٰمَنَّا ۖ رَبَّنَا

په رب خپل نو ایمان راوړو مونږ اے ربه زمونږ

فَاغْفِرْ لَنَا ذُنُوْبَنَا وَكَفِّرْ عَنَّا

نو او بخښے مونږ ته گناهونه زمونږ او لرے کړے زمونږ نه

سَيِّاٰتِنَا وَتَوَفَّنَا مَعَ الْاَبْرَارِ ﴿۱۹۳﴾

بدئ زمونږ او مرګ راولے په مونږ په ملګرتیا د نیکانو کښ.

وَمَا لِلظّٰلِمِيْنَ مِنْ اَنْصَارٍ، په نفی د نصرت کښ نفی د شفاعت او نفی د ولایت داخل دے او دا دلیل دے چه مراد د دینه کافران او مشرکان دی۔

۱۹۳ :- دا دریمه دُعا ده روستو د عقیدے د توحید او د بیج کیدلو د شرک نه ایمان په رسول او قرآن باندے ذکر کوی او هغه وسیله ګرځوی د پاره د مغفرت د ګناهونو مخکښ دواړه دعاګانے بناء دی په تفکر کولو سره په عقلی دلیلونو کښ او دا دواړه دُعاګانے بناء دی په تامل کولو په سمعی (نقلی) دلیلونو کښ - او تکرار د لفظ رَبَّنَا دلالت کوی په ډیر عاجزئ او ډیر توجه کول الله تعالٰی ته -

رَبَّنَآ اِنَّنَا سَمِعْنَا مُنَادِيًا، سمع چه کله متعدی شی هغه څیز ته چه مسموع وی نو یو مفعول غواړی او هر کله چه متعدی شی ذات ته چه سماع ئے نه کیږی نو روستو دا سے جمله چه دلالت کوی په سمع باندے یا به حال وی یا به دویم مفعول وی دلته هغه لفظ د يُنَادِيْ لِلْاِيْمَانِ، مراد د

مُنَادِی ، نه رسول الله صلی الله علیه وسلم دے په قول دَ ابن مسعود رضی الله عنه او ابن عباس رضی الله عنه وغیرهم کښې او په نیز دَ محمد بن کعب او قتاده مراد دَدینه قرآن کریم دے۔

مُنَادِيًا ، کښې تنوین دلالت کوی په تعظیم دَ شان دَهغه باندے او په لفظ دَ منادی کښې زیات تاکید دے په دعوت کښې ځکه چه دا لفظ عام دے لرے او نیزدے ټولو ته شامل دے۔

يُنَادِيْ روستو مُنَادِيًا ته هم دلالت کوی په تاکید دَ دعوت باندے په سبب دَ اجمال روستو دَ تفصیل نه یا تخصیص روستو دَ تعمیم نه۔

لِلْاِیْمَانِ ، دَ نداء نه روستو کله لام استعمالیږی چه دلالت کوی په خصوصیت باندے او کله الی ذکر کیږی چه دلالت کوی په انتهاء باندے دلته خصوصیت مراد وو دَ دے وجے نه لام ئے ذکر کړیدے۔

اَنْ اٰمِنُوْا بِرَبِّكُمْ فَاٰمَنَّا ، اَنْ ، تفسیر یه دے بیان دے دَ ینادی۔ یا باء ، پټه ده او متعلق ده په ینادی پورے۔

فَاٰمَنَّا عطف دے په سمعنا باندے یعنی دَ سماع سره پیوست مونږ ایمان قبول کړو۔

رَبَّنَا فَاغْفِرْ لَنَا ذُنُوْبَنَا ، فاء ، تفریع ده په ایمان او په ربوبیت باندے دلالت کوی چه دغه ایمان وسیله ده دَ پاره دَ دے دُعاء کولو۔ ذُنُوْب ، نه مراد غټ گناهونه دی۔

ذُنُوْب ، اخستلے شویدے دَ ذنب نه لکۍ ته وئیلے شی یعنی هغه گناه چه په هغے پسے عقوبت پشان دَ لکۍ اخستلے وی نو هغه کبیره وی۔

وَكَفِّرْ عَنَّا سَيِّاٰتِنَا ، مراد سیاٰت نه صغائر گناهونه دی ماخوذ دے دَ سوء نفس نه قبیح کار ته وئیلے شی چه بد گڼړلے کیږی۔

غفران او تکفیر کښې اول فرق دا دے چه غفران اکثراً

رَبَّنَا وَاٰتِنَا مَا وَعَدْتَّنَا عَلٰى

اے ربه زمونږ راکړے مونږ ته هغه چه تا وعده کړیده مونږ سره په

رُسُلِكَ وَلَا تُخْزِنَا يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ؕ

ژبه د رسولانو ستا او مه شرموے مونږ په ورځ د قیامت ،

اِنَّكَ لَا تُخْلِفُ الْمِيْعَادَ ﴿۱۹۴﴾

یقینًا ته خلاف نه کوے د وعدے نه -

استعمالیږی په فعل د الله تعالیٰ کښ او تکفیر اکثر د بنده په فعل کښ استعمالیږی - لکه کفاره د قسم او د ظهار وغیره ورکول نو معلومه شوه چه دویم لفظ افضل دے د اول نه نو اول لفظ مناسب دے د غتو ګناهونو سره - او دویم د وړو ګناهونو سره - دویم فرق دا دے چه تکفیر کښ معنیٰ د پټولو ده نو غټ ګناه سره پټول او پرده اچول مناسب دی او د وړوکی سره زائل کول مناسبت لری -

وَتَوَفَّنَا مَعَ الْاَبْرَارِ ، دا جمع د بار یا د بر ده هغه خوک چه نیک کارونه ئے په وسعت سره وی - په دیکښ سوال د وفات نه دے ځکه چه په حدیث کښ د هغې نه منع کړے شویده - بلکه مقصد پکښ معیت د ابرار دے او د معیت دوه معنے دی . اوله معنیٰ دا ده چه د دوی پشان عاقبت ئے وی نو د دوی سره به ئے روح په حال د برزخ کښ ملګری شی او په جنت کښ هم د هغوی سره یوځائے وی - دویمه معنیٰ دا ده چه معیت په معنیٰ د تابعدارئ سره دے لکه په (اولئك مع الذين انعم الله عليهم ---- نساء ۶۹) کښ -

۱۹۴ :- په دیکښ ښلورمه دُعاء ده د روستو د مغفرت د ګناهونو نه طلب کوی د استحقاق د جنت په توفیق د حسناتو سره روستو د ایمان نه -

رَبَّنَا وَاٰتِنَا مَا وَعَدْتَّنَا ، دَ مغفرت دَ گناهونو دَ توفیق دَ حسنا تو سره مناسبت دے دَ دے وجے نه واو دَ عطف ئے ذکر کړو۔

سوال :- الله تعالیٰ خو هیڅ کله دَ خپلے وعدے نه خلاف نه کوی نو په دے طلب کولو کښ څه فائده ده ؟

جواب ع۱ :- په دُعا کښ دَ حصول دَ مقصد نه علاوه اصل مقصد الله تعالیٰ ته تضرع او عاجزی پیش کوی دی په اظهار دَ عبودیت سره۔

جواب ع۲ دلته مراد طلب دَ توفیق دَ اسبابو دَ حصول دَ وعدے دے نو معنیٰ دا ده چه توفیق راکړے مونږ ته دَ حصول دَ هغے وعدے او آسان کړے مونږ ته هغه اعمال چه په هغے سره دغه وعده حاصلیږی۔

عَلٰی رُسُلِكَ ، دلته مضاف پټ دے علی سنة رسلک یا متعلق پټ دے مُنَزَّلًا عَلٰی رُسُلِكَ ۔ او هر کله چه دَ دے وعدے سوال په دے آیت کښ ذکر دے نو په سوره فرقان ۱۶ کښ دیته وعدًا مسئولًا ویلے شوید ے۔ او دا دلیل دے چه ثوابونه په نیک اعمالو سره په طریقه دَ استحقاق سره نه دی لکه چه معتزله وائی بلکه په سبب دَ وعدے دَ الله تعالیٰ سره دی او دیته حق تفضلی ویلے شی په نیز دَ اهل سنت بانده۔

وَلَا تُخْزِنَا يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ، هر کله چه وعده دَ جنت په دوه قسمه سره ده. یو دا چه جنت ته دَ اول وخت نه داخل شی او دَ جهنم دَ شرمندگی نه بچ شی. دویم دا چه جنت ته لاړ شی روستو دَ جهنم دَ داخلیدلو نه نو دلته دَ حصول دَ اول قسم دَ پاره ئے دا جمله هم ورسره ذکر کړله۔ مخکښ دُعاء کښ ۱۹۲ اخزاء کامل مراد وه یعنی جهنم ته ابدی دخول۔ او دلته نفس اخزاء مراد ده چه هغه په صرف داخلیدلو دَ جهنم سره حاصلیږی۔ نو تکرار نشته۔

فَاسْتَجَابَ لَهُمْ رَبُّهُمْ أَنِّي

نو قبول کړے دُعا ګانے دَ دوی رب دَ دوی ځکه چه زهٔ

لَآ أُضِيعُ عَمَلَ عَامِلٍ مِّنْكُمْ

نه بربادووم نیک عمل دَ عمل کوونکی ستاسو نه

مِّنْ ذَكَرٍ أَوْ أُنْثَىٰ ج بَعْضُكُمْ

که نارینه وی او که زنانه وی بعضے ستاسو

مِنْ بَعْضٍ ج فَالَّذِينَ هَاجَرُوا

دَ جنس دَ بعضو نه دی، نو هغه کسان چه هجرت ئے کړیدے

اِنَّكَ لَا تُخْلِفُ الْمِيْعَادَ، دا صفت سلبیه دَ الله تعالیٰ په دعا کښ په طریقه دَ وسیلے سره ذکر کړیدے او په دے سورت کښ ان الله لا یخلف المیعاد - په طور دَ اخبار سره دَ پاره دَ تسلئ ذکر کړے وو- دَ دے وجه دلته مخاطب او هلته په غائب صیغه سره ذکر دے.

فائده :- په دے دعا ګانو کښ لفظ دَ ربنا پنځه کرته ذکر کړیدے دا دَ پاره دَ مبالغے دَ طلب په دُعا کښ نو معلومه شوه چه الحاح په دعا کښ سبب دَ استجابت دے - او حسن بصری نه روایت دے چه دوی ډیر کرته ربنا ربنا اوئیل نو الله ځکه استجابت اوکړو- او امام جعفر نه روایت دے په هر چا چه لوے تکلیف راشی یا ئے څه حاجت وی نو ربنا پنځه کرته په عاجزئ سره اوائی نو الله تعالیٰ دَ هغه نه هغه تکلیف لرے کوی او دَ هغه حاجت پوره کوی دا سے ابوحیان په البحر المحیط کښ لیکلی دی -

وَ أُخْرِجُوْا مِنْ دِيَارِهِمْ
او ويستلے شويدی د كورونو خپلو نه

وَ أُوْذُوْا فِيْ سَبِيْلِيْ وَ قٰتَلُوْا
اوكړولے شويدی په لار زما كښ او جنګونه ئے كړيدی

وَ قُتِلُوْا لَاُكَفِّرَنَّ عَنْهُمْ
او وژلے شويدی، خامخا لرے به كړم د دوی نه

سَيِّاٰتِهِمْ وَ لَاُدْخِلَنَّهُمْ جَنّٰتٍ
بدئ د دوی او خامخا داخل به كړم دوی جنتونو ته

تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ ج
چه بهيږی په لاندے د هغے نه ولے،

ثَوَابًا مِّنْ عِنْدِ اللّٰهِ ط وَ اللّٰهُ
بدله ده د الله تعالیٰ د طرف نه، او الله

عِنْدَهٗ حُسْنُ الثَّوَابِ ﴿۱۹۵﴾
سره خائسته بدلے دی.

۱۹۵:- په دے آيت كښ بشارت ذكركوی په استجابت سره او بيا پنځه صفات نور ذكركوی د بشارت اخرويه د پاره. فَاسْتَجَابَ لَهُمْ رَبُّهُمْ، تير شوے صفات او دُعاګانے په صيغه د مستقبل سره وی اشاره ده استمرار د عادت د اولوا الالباب ته او استجاب فعل ماضی ذكر كول د تيقن د اجابت د پاره دا هم په معنیٰ د مستقبل ده. استجابت وئيلے شی اجابت ته په حصول د مراد سره لكه چه مخكښ تير شويدی او كله چه د دے سره داعی ذكر شی نو په لام سره متعدی كيږی او كله چه دُعاء ذكر شی نو بالذات متعدی راځی.

اَنِّیۡ لَاۤ اُضِیۡعُ عَمَلَ عَامِلٍ مِّنۡکُمۡ، باء، سببیه پته ده او په کلام کښ دَ غائب نه التفات اوکړو متکلم ته او مخاطب ته دَ پاره دَ اظهار دَ شرافت دَ دعا کوونکو- او په نیز دَ کوفیانو استجاب کښ معنیٰ دَ قول ده نو مراد دا دے چه قَآئِلًا یا مَقُوۡلًا لَهُمۡ انی -عَمَلَ عَامِلٍ، مراد دَ عمل نه دعا کانے دی چه مخکښ ذکر شوے یا مراد دَ دینه نور اعمال صالحه دَ دوی دی یعنی سبب دَ استجابت صرف دعا نه ده بلکه ورسره نور اعمال صالحه دی-

مِّنۡ ذَکَرٍ اَوۡ اُنۡثٰی، بیان دے دَ عامل او تعمیم دَ دے بشارت دَ استجابت دے نارینه او زنانه دواړو ته-

بَعۡضُکُمۡ مِّنۡۢ بَعۡضٍ، دا جمله مستانفه ده دَ پاره دَ بیان دَ مشارکة دَ زنانو دَ نارینو سره په دغه استجابت کښ-

مِّنۡۢ بَعۡضٍ، یعنی دَ یو اصل نه دی یا دَ یو جنس نه دی یا دَ یو دین والا دی- یا بعضے ستا سو مشابه دی دَ بعضو سره په ثواب حاصلولو کښ په طاعت یا ندے او عقاب موندلو کښ په معصیت باندے-

فَالَّذِیۡنَ هَاجَرُوۡا، دا تفصیل دَ بعضے هغه اعمالو دے چه هغه نه ضائع کیږی اول دَ هغے نه هجرت ذکر کړیدے دا ډیر سخت عمل دے په طبیعت دَ انسان باندے ځکه هغه وطن (چه په هغے کښ دَ انسان نشو ونما او تربیت شوے وی) خالص دَ دین دَ وجے نه وتل ډیر ګران دی-

وَ اُخۡرِجُوۡا مِنۡ دِیَارِهِمۡ، دا عطف تفسیر دے په ذکر دَ سبب دَ هجرت سره یعنی هجرت یئے دَ مجبوریٔ په وجه سره کړیدے. یا مراد دَ هَاجَرُوۡا نه پریښودل دَ شرک دی او قطع تعلق دَ مشرکانو سره او مراد اخراج نه هجرت عرفی دے-

وَ اُوۡذُوۡا فِیۡ سَبِیۡلِیۡ، ایذاء، عام ده دَ اخراج او نورو ظلمونو ته او فی سبیلی نه مراد عبادت او دین دَ الله تعالیٰ دے او دا دَ اسبابو دَ اخراج نه دے اګرچه اخراج یئے په ظاهر کښ نه وی

لَا يَغُرَّنَّكَ تَقَلُّبُ الَّذِينَ

دهوکه دِ نکړي تا تلل راتلل (ګرځيدل)

كَفَرُوا فِي الْبِلَادِ ﴿۱۹۶﴾

دَ کافرانو په ښارونو کښ۔

کړے لیکن تکلیفونه ورکول سبب دَ اخراج اوګرځیدل لو دا رنګ دا ابتداء روستو دَ اخراج نه هم په نورو طریقو سره ده چه هغه وَقَاتَلُوا وَقُتِلُوا، دے۔ په دے دواړو کښ ابتداء ده دَ طرف دَ دشمنانو نه او دَدے ثوابونه هم جدا جدا دی۔ او دا ټولے جملے صله ده دَپاره دَ فَالَّذِيْنَ لیکن دا مستلزم نه ده چه په هر شخص کښ دا ټولے صلے (صفات) جمع وی که بعضے صفات په بعضو کښ او بعضے په نورو کښ وی نو هم دا حکم وربانده صادق دے چه لَاُكَفِّرَنَّ عَنْهُمْ سَيِّاٰتِهِمْ، دلته مراد دَ سیاٰت نه صغیره ګناهونه دی چه په طاعاتو سره معاف کیږی که کبائر وی او که نه وی او دا مذهب دَ اهل سنت دے یا مراد دَ سیاٰت نه ناکاره صفات دی چه په حال دَ کفر یا دَ معصیت کښ وی۔

وَلَاُدْخِلَنَّهُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِىْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ ثَوَابًا مِّنْ عِنْدِ اللّٰهِ، ثَوَابًا، مفعول مطلق دے ځکه چه معنیٰ دَ ادخلنهم لَاُثِيْبَنَّهُمْ ده یا حال یا تمیز دے دَ جنات دَپاره۔ نکره والے دَ ثوابًا او صفت دَ هغے په من عند الله سره دَپاره دَ تعظیم دے۔

وَاللّٰهُ عِنْدَهٗ حُسْنُ الثَّوَابِ، لفظ دَ عِنْدَهٗ دلالت کوی په ډیر اختصاص او قربت بانده او متعلق دَ عنده پټ دے چه استقر دے او حسن الثواب دَ هغے فاعل دے۔ ثواب اکثر دَ خیر په جزاء کښ استعمالیږی او لفظ دَ حسن دَ زیادة خیریت او غوره والی دَپاره دے۔

مَتَاعٌ قَلِيْلٌ قف ثُمَّ مَاْوٰهُمْ

دا فائده ده لږه ، بیا ځائے د دوی

جَهَنَّمُ ط وَبِئْسَ الْمِهَادُ ﴿۱۹۷﴾

جهنم دے ، او بد دے ځائے تیار شوے دا جهنم -

۱۹۶ تا ۱۹۷ :- په دے آیت کښ دفع د یو وهم ده چه مخکښ بشارت نه پیدا کیږی هغه دا ده چه هر کله الله تعالیٰ وعده اوکړه چه په سبب د دغه صفتونو او دعا ګانو سره الله تعالیٰ دے مؤمنانو لره په دنیا او آخرت کښ پوره بدله ورکوی نو معلومه شوه چه کافران به محروم وی په دنیا او آخرت کښ نو سوال پیدا شو چه د کافرانو ډیر تجارتونه او مالونه، جائیدادونه دی چه د هغے د پاره دوی سفرونه هم کوی نو جواب اوشو لَا يَغُرَّنَّكَ ، غرور، طمع ورکول دی په یو محبوب کار کښ چه واقع نه شی یا ښکاره کول د ضرر دی په صورت د فائده کښ - او نهی د غرور نه مستلزم ده نهی لره د اغترار (دهوکه کیدلو) نه او خطاب نبی ته دے لیکن مراد تر ینه امت دے -

تَقَلُّبُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا فِي الْبِلَادِ ، تَقَلُّبُ ، معنیٰ ډیر ګرځیدل د تجارتونو او د مال ګټلو

د پاره لیکن ورسره پریشانی وی ځکه چه باب تفعل په تکلیف باندے هم دلالت کوی - الْبِلَادِ ، مختلف ښارونه او زمکے او وطنونه -

مَتَاعٌ ، دا علت د لا یغرنك د پاره دے - دا خبر دے د مبتدا پټ یعنی هذا التقلب متاع - د متاع په معنیٰ کښ قلت مراد دے او قَلِيْلٌ ، تاکید دے د پاره د قلت د متاع -

ثُمَّ مَاْوٰهُمْ جَهَنَّمُ وَبِئْسَ الْمِهَادُ ، او دا مقابل دے دا دخلنهم جنات په جزاء د مؤمنانو کښ - الْمِهَادُ ، هغه څیز چه دوی د ځان د پاره تیار کړیدے یا الله تعالیٰ د دوی د پاره

لَكِنِ الَّذِيْنَ اتَّقَوْا رَبَّهُمْ

لیکن هغه کسان چه یریږی د رب خپل نه

لَهُمْ جَنّٰتٌ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا

دوی لره جنتونه دی بهیږی لاندې د هغې نه

الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا نُزُلًا

همیشه به وی په هغې کښې تیاره میلمستیا ده

مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ ؕ وَمَا عِنْدَ اللّٰهِ

د طرف د الله تعالیٰ نه او هغه څه چه د الله تعالیٰ سره دی

خَيْرٌ لِّلْاَبْرَارِ ﴿۱۹۸﴾

غوره دی نیکانو لره.

تیار کړیں ے او مهاد ئې ورته په طریقه د استهزاء سره وئیلی دی ځکه مهاد خوځائے د آرام ته وئیلے شی.

۱۹۸:- په دیکښې بشارت دے متقیانو ته او جواب د سوال دے. سوال دا دے چه په بلادو کښې د تجارتونو او معاملاتو د پاره خو متقیان هم ګرځی. یا سوال دا دے چه د متقیانو د پاره خو د دنیا متاع هم نیشته بلکه دوی خو اکثر په فقیرئ او لوږو تند وکښې وخت تیر وی حاصل د جواب دا دے (بناء په اول) چه د متقیانو د پاره سره د تقلب نه په بلادو کښې د تقوٰی د وجې نه د آخرت فائده هم حاصل دی (او بناء په دویم) که د متقیانو د پاره په دنیا کښې متاع د کافرانو پشان نشته لیکن دوی له په آخرت کښې خوشحالئ دی او آخرت باقی دے او دنیا فانی ده باقی په هر صورت کښې غوره وی د فانی نه.

لٰكِنِ الَّذِيْنَ اتَّقَوْا رَبَّهُمْ، مراد د تقوٰی نه. ځان ساتل دی د شرک او کفر نه او د تقلب نه پشان د کافرانو.

لَهُمْ جَنّٰتٌ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا، لَهُمْ،

وَاِنَّ مِنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ لَمَنْ

او یقینًا بعضے دَ کتاب والو نه خامخا هغه دی

یُّؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَمَآ اُنْزِلَ

چه ایمان لری په الله تعالیٰ او په هغه کتاب چه نازل شوی دے

اِلَیْكُمْ وَمَآ اُنْزِلَ اِلَیْهِمْ

تاسو ته او په هغه کتابونو چه نازل کړے شوی دی دوی ته

خٰشِعِیْنَ لِلّٰهِ ۙ لَا یَشْتَرُوْنَ

عاجزی کوونکی دی الله تعالیٰ ته اخلی

بِاٰیٰتِ اللّٰهِ ثَمَنًا قَلِیْلًا ؕ

په آیاتونو دَ الله تعالیٰ عوض لږ (دنیا)

کښ لام دَ پاره دَ اختصاص دے۔

نُزُلًا مِّنْ عِنْدِ اللّٰهِ ، نُزُلَ ، هغه خوراک څکاک ته وئیلے شی چه دَ میلمه دَ پاره په اول وخت دَ راتللو دَ هغه کښ تیار شی او دَ جهنم په باره کښ په طریقه دَ استهزاء استعمال ـیږی لکه په سوره واقعه ۹۳ کښ دی یا نزل جمع دَ نازلین ده او دا حال دے دَ جنات نه۔ اشاره ده چه نعمتونه دَ جنت به دَ جنتیانو دَ پاره هر وخت دَ میلمستیا پشان په ډیر اکرام او عزت سره تیار وی او هرچه په دنیا کښ دے دَ نو په شرع او عرف دواړو کښ دَ میلمستیا رعایت صرف درے ورځے پورے وی۔ مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ ، دا په ډیر اکرام او عزت باندے دلالت کوی۔

وَمَا عِنْدَ اللّٰهِ خَیْرٌ لِّلْاَبْرَارِ ، خَیْرٌ ، په نسبت سره دَ متاع دَ کافرانو دی۔ او لفظ مَآ ، دَ ابهام دلالت کوی چه دَ نعمتونو دَ جنت پوره تفصیلات دنیا والو ته نشی معلومیدلے۔ لِلْاَبْرَارِ، اشاره ده چه صفات دَ تقوی او دبر یو شان دی او دلیل په دے

أُولَٰٓئِكَ لَهُمْ أَجْرُهُمْ عِندَ

دغه کسان دوی لره ثواب د دوی په نیز

رَبِّهِمْ ۗ إِنَّ اللَّهَ سَرِيعُ الْحِسَابِ ﴿١٩٩﴾

د رب د دوی، یقیناً الله تعالیٰ زر حساب کوونکے دے۔

باندے سوره بقره ۱۷۷ دے چه په هغے کښ په صفاتو د بر باندے حکم د تقوی کړے دے۔

۱۹۹:۔ مخکښ آیت کښ بشارت وو صرف غیر کتابیانو متقیانو ته نو اوس کتابیانو ته بشارت ذکر کوی په پنځه صفاتو سره۔

وَإِنَّ مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ، صحیح قول دا دے چه دا آیت عام دے عبد الله بن سلام او د هغه ملګرو او نصاری د نجران او نصاری د حبش ټولو کتابیانو ته چه په هغوی کښ دا صفتونه موجود وی۔

اول صفت، لَمَن يُؤْمِنُ بِاللَّهِ، مراد ترینه ایمان دے پشان د ایمان د صحابه کرامو چه عقیده د شرک او تشبیه او تثلیث پکښ نه وی۔

دویم صفت، وَمَا أُنزِلَ إِلَيْكُمْ، چه قرآن کریم دے۔

دریم صفت، وَمَا أُنزِلَ إِلَيْهِمْ، تورات او انجیل وغیره دا ئے د دے وجے نه روستو راوړو چه ایمان په دغه کتابونو روستو د نزول د قرآن نه تابع دے د ایمان بالقرآن د پاره۔ او ذکر ئے د دے وجے نه اوکړو چه صفت د کتابیت د دوی د وجے د ایمان نه دے په مخکنو کتابونو باندے۔

څلورم صفت، خَاشِعِينَ لِلَّهِ، په دیکښ اشاره ده چه تحریف او کتمان او تلبیس نه کوی د وجے د خشیت الهیه نه۔

پنځم صفت، لَا يَشْتَرُونَ بِآيَاتِ اللَّهِ ثَمَنًا قَلِيلًا، عوض د دنیا او رشوتونه او جاه او مرتبه د دنیا د وجے نه دین حق نه پریږدی او دا خصوصی صفت دے د اهل علمو د پاره۔ د پاره د بقاء او کمال د ایمان د هغوی۔

يَآيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اصْبِرُوْا

اے ایمان والو صبر کوئ

وَصَابِرُوْا وَرَابِطُوْا قف وَاتَّقُوا اللّٰهَ

او وینا دَ صبر کوئ او تیارے کوئ (دَ جهاد) او اویرېږی دَ الله تعالیٰ نه

لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ﴿۲۰۰﴾ ع

ع ۱۱ ۲۵

دَ دے دَپاره چه کامیاب شئ -

اُولٰٓئِكَ لَهُمْ اَجْرُهُمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ ، اشاره ده چه دَ دوی اجر
دَ نورو کافرانو او کتابیانو پشان برباد نه دے - او لَهُمْ ، کښ
دَ دوی خاص اجر ته اشاره ده چه هغه دوه چنده اجر دے
لکه په سوره حدید ۲۸ او سوره قصص ۵۴ کښ دی -
اِنَّ اللّٰهَ سَرِيْعُ الْحِسَابِ ، دا علت دے دَ مخکښ جملے
دَپاره یعنی الله تعالیٰ پوره علم لری په مقدارونو دَ اجرونو
او مستحقینو دَ هغے او مراتب دَ هغے - یا تکمیل دَ جملے مخکنۍ
دَپاره یعنی سریع کنایه ده نیزدے ورکولو دَ اجر ته -
۲۰۰ :- په اختتام دَ سورت کښ څلور اوامر ذکر کوی چه هغه
اسباب دَ فلاح دی او اسباب دَ نشر او اشاعت دَ دین حق
دے - او خلاصه ده دَ ټولو مضامینو دَ دے سورت -
يَآيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اصْبِرُوْا ، دا درے واړه اقسام دَ
صبر ته شامل دے - صبر په مصیبتونو ، صبر په طاعاتو
باندے ، صبر دَ ګناهونو نه او په دے کښ داخل دی پوخوالے
په توحید او په ټولو فرائضو واجباتو او ځان بچ ساتل دَ ټول
منهیاتو نه چه شرک او کفر او نفاق او بدعات و فجور دی -
وَصَابِرُوْا ، دا تخصیص دے روستو دَ تعمیم نه یعنی په
دشمنانو باندے ، ځکه چه باب مفاعله دَپاره دَ مبالغے ده -
دا رنګ یوبل ته وصیت کول په صبر باندے په قرینه دَ
تواصوا بالصبر ، په سوره بلد ۱۷ او سوره عصر ۳ کښ -

وَرَابِطُوْا، په سرحداتو د اسلامي ملک کښې تيار اودريدل او د دشمن په مخالفت کښې آسونه د جهاد د پاره تړل او ساتل دا رنګ د اسلامي فوج څوکيداري کول او د دشمن د مقابلے د پاره اسلحه تيارولو ته عام دے - او د هر فرض مونځ نه روستو بل مونځ ته انتظار کول په مقتضٰی د حديث سره په مرابطه کښې داخل دي -

وَاتَّقُوا اللّٰهَ، دا په معنٰی د امتثال د اوامرو او اجتناب د منهياتو دے - او د ټولو سورت سره ئے تعلق داسے دے - صبر په مقابله د شبهاتو د زائغينو او اهل بغي کتابيانو کښې او د هغوی د دوستانے نه ځان ساتل او جوابونه د شبهاتو د هغوی نه - دا اوله حصه د سورت ده - او مصابره په مقابله د اهل کتابو کښې چه پاخه دي په خپل قباحتونو او خباثتونو باندے دا دويمه حصّه ده او مرابطه په اصولو د اتحاد سره دا دريمه حصه ده او تقوٰی په حصول د هغه صفتونو سره چه دفع کوونکی د هزيمت دي او بچ کيدل د صفاتو د منافقانو او د کتابيانو نه دا څلورمه حصّه د سورت ده او دا مجموعه سبب د فلاح دے -

امتيازات د دے سورت دا دي

ع۱ جوابات د خاص شبهاتو د نصارٰی په توحيد باندے - ع۲ جوابات د شبهاتو په رسالت باندے - ع۳ ډير دليلونه په عبديت د عيسٰی عليه السلام - ع۴ ډير قبائح د اهل کتابو - ع۵ اصول د تنظيم او د دعوت - ع۶ تفصيل د علتونو د هزيمت د احد - ع۷ ډير زجرونه په منافقانو متعلق د غزوه احد سره - ع۸ لوے صفات د نبي صلى الله عليه وسلم - ع۹ خاص بشارت د پاره د شهداؤ - ع۱۰ ذکر د دعوت د مباهلے د نصارٰی سره - ع۱۱ ښائسته صفات د اولوا الالباب او د هغوی دُعاګانے - ع۱۲ ذکر د حالاتو د عمران بن بي بي د عمران - لور د هغه - ځوے د لور د هغه - پالنه کوونکے د لور د عمران چه زکريا عليه السلام دے -

سورة النسآء مدنية	بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ	ایاتها ۱۷۶ رکوعها ۲۰

خاص په نوم د الله تعالیٰ امداد غواړو په شروع کولو کښې چه رحمٰن او رحیم دے

يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوْا رَبَّكُمُ

اے خلقو! او یریږئ د رب خپل نه

الَّذِيْ خَلَقَكُمْ مِّنْ نَّفْسٍ وَّاحِدَةٍ

هغه ذات چه پیدا کړی یئ تاسو د یو نفس نه

وَّخَلَقَ مِنْهَا زَوْجَهَا وَبَثَّ

او پیدا کړے ده د هغه نه بی بی د هغه او خواره کړی دی

مِنْهُمَا رِجَالًا كَثِيْرًا وَّنِسَآءً ۚ

د دغې دواړو نه نارینه ډیر او زنانه (ډیرے)

وَاتَّقُوا اللّٰهَ الَّذِيْ تَسَآءَلُوْنَ

او یره کوئ د الله تعالیٰ نه هغه ذات چه سوال کوئ

بِهٖ وَالْاَرْحَامَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ

د هغه نه او (د ختمولو) د خپلولۍ نه (یره کوئ) یقینًا الله تعالیٰ

عَلَيْكُمْ رَقِيْبًا ①

په تاسو باندے ساتونکے دے۔

بصائر ذوی التمیز کښې فرمائی چه دیته سورة النسآء الکبری هم وئیلے شی۔

ربط:- ربط د سورت مخکښې سورتونو سره په یو څو وجو سره دے۔

اوله وجه:- په سورة البقره کښې د یهودیانو په قبائحو باندے رد وو او په سوره آل عمران کښې د نصاراؤ په شبهاتو او خباثتونو باندے رد وو نو په دے سورت کښې

دَ جاهلیت والو په مظالمو باندے رد دے او دَ مؤمنانو دَ احوالو اصلاح ده۔
دویمه وجه:۔ مخکښ سورتونو کښ احکام دَ آخرت دَ اصلاح سره متعلق وو نو په دے سورت کښ دَ ژوند دَ دُنیا سره متعلقه امور ذکر کوی۔
دریمه وجه:۔ سورة آلعمران کښ دَ تهذیب النفوس متعلقه امور ذکر شول نو په دے سورت کښ دَ تدبیر منزل او سیاست مدنیه امور ذکر کوی۔
ځلورمه وجه:۔ سورة آلعمران کښ په هغه چا رد وو چه صالحین بندګان لکه عیسیٰ او مریم علیهما السلام ئے دَ الله تعالیٰ سره شریک ګنړل نو اوس دلته دَ عموم په طریقه دَ شرک رد کوی او دارنګ دَ نصاراؤ په عقیده رد کوی چه هغوی عیسیٰ علیه السلام دَ الله تعالیٰ ځوئے ګنړی۔
پنځمه وجه:۔ دَ مخکښ سورت په آخر کښ امر ذکر شو په تقوٰی باندے نو دَ دے سورت په اول کښ دَ تقوٰی دَ دوه قسمونو امر ذکر کوی یعنی تقوٰی په حقوق الله کښ او تقوٰی په حقوق العباد کښ۔ او دے ربط ته تشابه الاطراف وئیلے شی۔
دعوٰی دَ سورت:۔ ذکر کول دَ داسے امورو دی چه هغه ظلمونو لره دفع کوی لکه چه ظلم کول دی په کمزورو انسانانو (یتیمان، ناپوهه خلق او زنانه) او دَ دے دَ دفاع دَ پاره دوه قسمه امور ذکر کوی۔ اول قسم امور دَ تدبیر منزل دی او دویم قسم امور دَ ملک دَ سیاست دی چه هغه اجراء دَ کتاب وسنت (شرعی نظام) ده او عسکری نظام چلول دی۔ دارنګ ظلم په حق دَ الله تعالیٰ کښ شرک کول دی نو دَ هغے دفاع کوی په ذکر دَ قباحت دَ شرک سره دوه کرته په آیت ۴۸ او ۱۱۶ کښ او رد دے په اقسامو دَ شرک۔ چه هغه شرک دے په عبادت، علم، تصرف،

دعا او تحلیل او تحریم کښې او عقیده لرل دَ اتخاذ الولد۔ دَ دے وجے نه مسئله دَ توحید ئے شپږ کرته ذکر کړیده په آیت ۱ ، ۳۶ ، ۸۷ ، ۱۲۶ ، ۱۳۱ ، ۱۳۲ کښې۔ (او دَ دعوے ماخذ اول آیت دے)۔ او دَ الله تعالیٰ اسماء حسنیٰ[10] ئے شپږ ویشت[26] ذکر کړیدی۔

خلاصه دَ سورت :- اجمالی خلاصه ئے دا ده چه په سورت کښې درے حصّے دی اوله حصه تر ۵۷ آیت پورے ده چه په هغے کښې دَ تدبیر منزل اتلس امور ذکر دی دَ پاره دَ دفعے دَ ظلم دَ یتیمانو ، زنانو او ناپوهه خلقو نه ، او آخری امر (حکم) کښې ذکر دَ توحید او دَ حقوقو دَ بندګانو دے - بیا دَ منافقانو دَ قبائحو او دَ یهودیانو دَ خبائث ذکر دے - دویمه حصّه ۱۳۵ آیت پورے ده په هغے کښې دَ مدنیت سره متعلق دَ سیاست نهٔه امور ذکر دی او په مینځ مینځ کښې دَ منافقانو دَ قبائحو ذکر دے - او ورسره رد دے په مشاقه کوونکو (مخالفت کوونکو) دَ رسول او دَ مؤمنانو سره - او رد دے دَ شرک په اقسامو باندے - دریمه حصّه آخره پورے ده چه په هغے کښې دَ منافقانو او یهودیانو خبائث ذکر کوی سره دَ رد کولو نه په غلو کولو (زیاتے کول) دَ یهودیانو او ترغیب دے دَ قرآن او دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم اطاعت ته۔

تفصیلی خلاصه :- په دے اوله حصه کښې درے بابونه دی - اول باب تر ۳۶ آیت پورے دے - په دے باب کښې دَ تدبیر منزل اتلس امور ذکر کوی - او یو امر دے دَ حق دَ الله تعالیٰ په توحید او په رد دَ شرک سره او حقوق دَ بندګانو -

فضیلت دَ سورت :- دَ ابن مسعود رضی الله عنه نه روایت دے چه په سورة النساء کښې پنځه داسے آیتونه دی چه دَ هغے په بدل دا دنیا وما فیها ماته راکړیشی نو ما ته شی خوشحالولے

۳۱ ۴۰ ۴۸ ۵۸ ۶۴ دا د حاکم په روایت سره نقل دي، او د ابن جریر روایت د ابن عباس رضی الله عنهما نه چه د دې سورت اته آیتونه د دې امت د پاره د هر هغه څیز نه غوره دي چه په هغې نمر راخیژي او ډوبیږي هغه پنځه مخکښ آیتونه دي او درې ورسره ۲۶ ۲۷ ۲۸ دي۔ او د عبدالرزاق په روایت سره د ابن مسعود رضی الله عنه نه نقل دي چه د دې سورت پنځه آیتونه ۳۱ ۴۰ ۴۸ ۶۴ ۱۱۰ ما ته د ټولې دنیا نه زیات محبوب دي۔ په دې ټولو آیتونو کښې په دې امت باندې د الله تعالیٰ د خاص نعمتونو ذکر دے۔

تفسیر ۱ :- يَآ اَيُّهَا النَّاسُ ، دا خطاب دے ټولو مکلفینو ته په دلیل د دې چه په دیکښې الف لام د استغراق د پاره دی۔ او دا رنګ ذکر د علت عامه دے چه خلق (پیدائش) دے د آدم او حوا علیهما السلام نه۔ د دې نور تفصیل په سورة البقره کښې ذکر شوے دے۔ او په دے آیت کښې ترغیب دے د دې سورت په احکامو باندے د عمل کولو او په دے کښې د سورت دعویٰ هم ذکر ده۔

فائده :- دا د ترتیب قرآن نه څلورم سورت دے، او دا رنګ د قرآن د نیمے نه روستو څلورم سورت سورة الحج هم په یا ایها الناس جملے سره مصدر دے۔ او په دواړو کښې تقوی ذکر کړیده او په دے سورت کښې مبدأ د انسان ذکر کړیده او په سورة الحج کښې مَعاد (آخرت) ذکر کړیدے۔ اشاره ده چه انسان په امورو د دنیا او د آخرت کښې په تقوی سره مکلف دے۔

اتَّقُوْا رَبَّكُمُ ، دلته په حقوق انسانیه کښې تقوی کولو ته اشاره ده چه په دے سورت کښې ذکر دی۔ او لفظ د رَبَّكُمُ په احسان د ربوبیت باندے دلالت کوی۔ او روستو ذکر شوی احکام په تربیت د انسان کښې مُمِد او مددګار دی۔

الَّذِیْ خَلَقَکُمْ مِّنْ نَّفْسٍ وَّاحِدَةٍ ، ابن عطیه وئیلی دی چه په دیکښ تنبیه ده په صانع (پیدا کوونکی) او په ابتداء دَ وجود دَ انسان باندے - او په دیکښ تیزی ورکول دی یو بل سره دَ تعلق او وصلت ساتلو دَ وجے دَ احترام دَ نسب ته - او ابن کثیر وئیلی دی چه یو پلار او مور ئے دَ دے وجے نه ذکر کړل چه یو بل سره مهربانی او کړی او کمزورو سره امداد اوکړئ یعنی په دیکښ دَ سورت مقصد ته اشاره ده - او ابوحیان وئیلی دی چه په دیکښ اشاره ده چه په یو بل باندے تکبر او فخر مهٔ کوئ -

دَ نَفْسٍ نه مراد آدم علیه السلام دے - لفظ دَ نفس مذکر او مؤنث دواړه استعمالیږی دَ دے وجے نه ئے واحدة مؤنث ذکر کړو -

وَخَلَقَ مِنْهَا زَوْجَهَا ، مِنْهَا ، ضمیر نفس ته راجع دے او دا قول دَ اکثرو مفسرینو دے او صحیح حدیث هم په دے باندے دلالت کوی چه دا زوجه (ښځه) دَ آدم علیه السلام دَ کسے (پښې) پختئ دَ هډوکی نه راویستلے شویده ، او ابو مسلم یا بعضے دَ دے زمانے اشخاصو وئیلے دی چه دَ منها نه مراد من جنسها دے او حوا دَ آدم علیه السلام دَ بدن نه نه ده پیدا شوے - خو په دے قول باندے آلوسی په ډیر تفصیل سره رد کړیدے - او ابن کثیر دَ ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت ذکر کړیدے چه زنانه دَ نارینه (آدم) نه پیدا کړے شویده ، دَ دے وجے نه دَ هغے حرص او میلان نارینه ته ډیر وی - او نارینه پیدا کړے شوئیدے دَ خاورے (زمکے) نه نو دَ ده حرص په زمکه کښ ډیر وی - (دا اشاره ده چه هر یو څیز خپل اصل ته ورګرځی) -

وَبَثَّ مِنْهُمَا رِجَالًا كَثِيْرًا وَّنِسَآءً ، په دے جمله کښ دَ خلقکم من نفسٍ بیان دے دَ وهم دَ دفعه کولو دَ پاره یعنی چه څوک دا وهم او شک او نکړی چه دَ نارینو مبدأ یه جدا وی او دَ

زنانو به جدا وی - دا رنګ په دیکښ اشاره ده چه زوجیت دَ سړی او ښځې له دخل دے په انسانانو پیدا کیدلوکښ او مراد دَ رجال او نساء نه ټول مذکر او مؤنث دی بالغ وی او که غیر بالغ وی لیکن هرکله چه دا مقام دَ خطاب وو په تقوٰی سره نو دا دبلوغ والو سره مناسب دے - دَ دے وجے نه لفظ دَ رجال او نساء یې ذکر کړو په ځائے دَ ذکور او اناث کښ - او رجالًا دَ هغوی دَ فضیلت دَ وجے نه مخکښ ذکر کړو په نساؤ باندے، او صفت کثرت په طرف دَ نساء کښ هم مراد دے لیکن هغه یې حذف کړو نو اشاره ده چه دَ زنانو سره پټو الے مناسب دے - او دَ خنثٰی ذکر یې نه دے کړے ځکه چه هغه به په حکم کښ نارینه وی یا زنانه -

وَاتَّقُوا اللّٰهَ الَّذِیْ تَسَآءَلُوْنَ بِهٖ ، دَ تقوی په دے امر کښ حق دَ الله تعالٰی ته اشاره ده یعنی دَ ظلم دَ شرک کولو نه ځان بچ کول - تَسَآءَلُوْنَ ، باب تفاعل دے یو تا ، حذف ده - او په دیکښ دوه اقوال دی - اول دا چه دا په معنٰی دَ مشارکت سره دے یعنی دَ یو بل نه سوال کوئ په نوم دَ هغه - دویم قول دا چه دا په معنٰی دَ مجرد سره دے یعنی تاسو سوال کوئ دَ هغه په نوم سره - یا باء زیاتی ده یعنی تسئلو نه سوال کوئ دَ هغه نه - او دا علت دے دَ تقوٰی چه هر کله دَ هغه نوم بل چا ته وسیله کوئ یا دَ هغه نه سوال کوئ نو لازم ده چه دَ هغه تعظیم اوکړئ په توحید سره او په احکامو منلو دَ هغه سره -

وَالْاَرْحَامَ ، په دے کښ درے اقوال دی - اول قول ، دا عطف دے په لفظ الله باندے او مضاف پټ دے یعنی قَطْعَ الْاَرْحَامِ - او دا عطف دَ خاص دے په عام باندے یعنی تقوی اوکړئ (ځان بچ کړئ) دَ مخالفت دَ هغه نه په هر حکم کښ او خاصکر په پریکولو دَ خپلولۍ کښ - او دا قول دَ مجاهد، ضحاک او قتاده وغیره دے - دویم قول دا

وَاٰتُوا الْيَتٰمٰى اَمْوَالَهُمْ

او ورکوئ یتیمانو ته مالونه د هغوی

وَلَا تَتَبَدَّلُوا الْخَبِيْثَ بِالطَّيِّبِ

او مه اخلئ پلیت په بدل د پاک کښ

منصوب دے په طریقه دَ تیزئ ورکولو (اغراء) سره یعنی الارحام احفظوها دَ خپلوئ حفاظت او رعایت اوکړئ - دا قول دَ واحدی دے - دریم قول، دا عطف دے په محل دَ ضمیر باندے په (به) کښ او محل دَ هغے نصب دے او دا دَ عربو په عادت باندے بنا دے چه هغوی به دَ یو بل نه دَ خپلوئ په واسطے سره سوال کوو - یعنی هر کله چه خپلولی یو بل ته وسیلے جوړوئ نو لازم دا ده چه په خپلوانو کمزورو باندے ظلمونه کول پریږدئ بلکه دَ خپلوئ احترام اوکړئ. او دَ عبد الله بن مسعود رضی الله عنه قراءت (وبالارحام) دَ دے قول تائید دے -

اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلَيْكُمْ رَقِيْبًا، دا دَ تقوی دَ مخکښ امر دَ پاره علت دے - رَقِيْبٌ دَ رقابت نه اخستلے شوید ے یعنی دَ څه کار دَ تحقیق دَ پاره نظر تیزول - او رقیب په معنیٰ دَ مراقب (څوکئ کوونکی) سره هم دے - او رقیب دَ الله تعالیٰ په صفاتو کښ په معنیٰ دَ حفیظ دے - ابن کثیر وئیلی دی چه په دیکښ اشاره ده عمل کولو ته په هغه حدیث باندے چه (اَنْ تَعْبُدَ اللّٰهَ كَاَنَّكَ تَرَاهُ فَاِنْ لَّمْ تَكُنْ تَرَاهُ فَاِنَّهٗ يَرَاكَ) (بندګی دَ الله تعالیٰ داسے کوه لکه چه ته ئے وینے او که ته ئے نه وینے نو تا خو وینی) - او کان په صفت دَ الله تعالیٰ کښ دَ دوام دَ پاره دے - او رقیب په صفت دَ الله تعالیٰ کښ په سوره مائده ۱۱۷ او په سوره احزاب ۵۲ کښ او په صفت دَ رسول کښ په سوره هود ۹۳ کښ او په صفت دَ ملك کښ یو کرت په سوره ق ۱۸ او لس کرته دَ مجردو او دَ مزید

وَلَاتَأْكُلُوْٓا اَمْوَالَهُمْ اِلٰٓى اَمْوَالِكُمْ ط

اومه خورئ دَ هغوی مالونه دَ خپل مالونو سره

اِنَّهٗ كَانَ حُوْبًا كَبِيْرًا ﴿۲﴾

یقیناً دا گناه دے لوئے۔

په مختلفو صيغو سره په معنیٰ لغوی سره ذکر شویدے۔
سئ ۲:- دا اول حکم دے دَ احکامو دَ دے سورت نه چه
تعلق لری دَ ظلم دَ دفعه کولو سره په یتیمانو باندے
په اعتبار دَ مال دَ هغوی په خلاف دَ طریقے دَ جاهلیت
نه۔ اوپه دے آیت کښ دَ دے متعلق درے نور احکام دی
یو امر دے او دوه نواهی دی۔ او دَ دے ربط دَ مخکښ
واتقوا ربکم سره دے ځکه چه دا حکم دَ مقتضیاتو دَ
تقوی نه دے۔ دا رنگ په خپلولئ کښ دَ شفقت او صله رحمئ
ډیر حقدار یتیمان دی۔
په دیکښ اول حکم دَ وجوب دَ پاره په صیغه دَ امر سره دے۔
وَاٰتُوا الْيَتٰمٰٓى اَمْوَالَهُمْ ، اٰتُوا او ایتاء ورکول دَ یو څیز دی
بل ته په طریقه دَ تخصیص سره او دا په محسوساتو
او غیر محسوساتو دواړو کښ استعمالیږی۔ الیتٰمٰی، جمع
دَ یتیم او یتیمة دواړو راځی۔ کله چه جمع دَ یتیمة وی نو
هغه یتائم راځی په وزن دَ فعائل سره بیا په هغے کښ
قلب مکانی اوشو نو یتامی شو۔ بیا دَ تخفیف دَ پاره زیر
دَ میم، په زور سره بدل شو او همزه په الف سره نو
یتامی ترینه جوړ شو۔ او چه جمع دَ یتیم وی نو په دیکښ
دوه اقوال دی اول دا چه دا جمع دَ فعیل په وزن دَ فعائل
سره ده ځکه چه دا اسم گرځیدلے دے (اگرچه په صفت
دَ مذکر کښ دا سے جمع نه راځی)۔ نو بیا پکښ قلب مکانی
اوکړے شو۔ دویم قول دا دے چه دا جمع الجمع ده
یعنی اول جمع کړے شو په یتمی سره لکه چه دَ اسیر

جمع اسری دہ۔ نو بیا جمع شو پہ یتامیٰ سرہ لک اساری۔
او پہ اصل لغت کښې یُتم یواځې والی تہ وئیلے شی او پہ عرف
کښې ئې پہ هغه چا باندې اطلاق کیږی چہ پلار ئې وفات
وی او دے نابالغہ وی۔ ځکہ چہ دے یواځې پاتے شو پہ
داسے حال کښې چہ مدافعت او کفالت کوونکے دَ دہ پاتے نہ شو۔
او دے مدافعت تہ محتاج وی پہ وخت دَ عدم بلوغ کښې۔
او هر کلہ چہ بالغ شی نو بیا ورباندې دَ یتیم اطلاق عرفاً او
شرعاً دوارہ نشی کیدے پہ دلیل دَ حدیث دَ علی رضی اللہ عنہ
چہ دَ بلوغ نہ روستو یتیم نیشتہ۔ (ابوداؤد)۔
اَمْوَالَهُمْ ، دا دلیل دے چہ یو ماشوم او وړوکے دَ بلوغ نہ
مخکښې مالک دَ مال کرځیدلے شی ځکہ دلتہ اضافت پہ
اعتبار دَ ملکیت سرہ دے۔ او پہ اٰتوا کښې متولی تہ خطاب
دے ځکہ چہ مال دَ یتیم دَ دہ پہ ولایت کښې دے۔
سوال :- هر کلہ چہ یو تن وړوکے وی نو دَ هغہ مال
خو هغہ تہ نشی ورکیدے پہ دلیل دَ روستو آیتونو نمبر ۶
نمبر ۵ سرہ او چہ بالغ شی نو بیا خود یتیم نہ دے نو دَ
اٰتوا الیتمٰی څہ مقصد دے؟
جواب :- قرطبی وئیلی دی چہ دَ یتیمانو دَ مال ورکول پہ
دوہ طریقو سرہ دی۔ اول طریقہ، طعام او جامہ وغیرہ
جاری کول تر څو پورے چہ دَ دۀ پہ ولایت کښې وی یعنی هغہ یتیم نابالغ
وی۔ دویمہ طریقہ، پورہ مال سپارل هغہ تہ روستو
دَ بلوغ نہ او دَ معلومولو دَ رشد (مکمل پوهے) نہ لکہ
چہ روستو پہ آیت نمبر ۶ کښې راځی۔ نو بناء پہ دے سرہ
یتامیٰ ورتہ مجازاً پہ اعتبار د ماکان سرہ وئیلے شویدے۔
دلتہ اولہ طریقہ مراد کول غورہ دی ځکہ چہ پورہ مال
ورکول خو روستو ذکر کوی پہ شرط دَ هغے سرہ۔
وَلَا تَتَبَدَّلُوا الْخَبِيثَ بِالطَّيِّبِ ، دا پہ طریقہ دَ نهی سرہ
دویم حکم دے تبدل پہ معنیٰ دَ استبدال دے دَ دے

مفعول هغه څیز وي چه حاصلیږي او مجرور په باء، سره هغه وي چه هغه پریښودلے کیږي - دلته یوڅو وجوه دي۔ اول قول د فراء بغوی او د زجاج دے یعني مه اخلئ مال د یتیم (چه حرام دے ستاسو د پاره) په بدل د خپل حلال مال کښ - دویم قول د سعید او زهري وغیره دے چه مه اخلئ کره او روغ مال د یتیم په بدل د ردي مال ستاسو سره - او په دے توجیه سره تبدل په معنیٰ د تبدیل سره دے - دریم قول دا دے چه مه اخلئ مال د یتیم چه حرام دے ستاسو د پاره او پریږدئ تاسو خپل مال چه حلال دے - د خبیث او طیب معنیٰ د سورۃ بقره په تفسیر کښ تیر شویدي۔

وَلَا تَأْكُلُوٓا أَمْوَالَهُمْ إِلَىٰٓ أَمْوَالِكُمْ، دا دریم حکم دے په طریقه د نهی سره - په دیکښ إِلَىٰ په معنیٰ د مع سره دے لکه چه په سورۃ مائده ۳ کښ دی یا پخپله معنیٰ سره دے لیکن متعلق ئے پټ دے یعني مَضْمُومَةً إِلَىٰ أَمْوَالِكُمْ - او د اکل (خوراک) نه مراد هر قسم فائده اخستل دي صرف خوراک نه دے مراد۔

سوال :- مخکښ جمله کښ خو د یتیم د مال خوړلو نه مطلقاً منع اوکړے شوه که د ګډون په طریقه سره وي او که بغیر د ګډون نه وي - نو دا جمله ئے د څه مقصد د پاره ذکر کړه ؟

جواب ۱ :- دا جمله د تاکید د پاره ده ځکه چه دا د جاهلیت والو خاص عمل وو چه د ګډون په طریقه سره به ئے د یتیم مال خوړلو۔

جواب ۲ :- مخکښ جمله کښ منع وه د ښکاره خوړلو نه او په دے جمله کښ منع ده په طریقه د حیلے د اختلاط سره یعني د حرام د حصول د پاره حیله کول هم حرام دي -

سوال :- په سوره بقره کښ ئے خو اختلاط (ګډون) جائز

وَإِنْ خِفْتُمْ أَلَّا تُقْسِطُوا فِي
او كه ويريږئ تاسو چه انصاف به او نكړئ په باره
الْيَتٰمٰى فَانْكِحُوا مَا طَابَ لَكُمْ
د يتيمانو جينكو كښ نو نكاح كوئ د هغې سره چه حلالې وى تاسو لره

كړے وُونو دلته ولے منع شو؟
جواب:- هلته يې كهون د اصلاح په طور سره جائز كړے وو په قرينه د وَاللّٰهُ يَعْلَمُ الْمُفْسِدَ مِنَ الْمُصْلِحِ سره.
او دلته نهى ده د خوراك نه په طريقه د حيلے د كهون سره يعنى مقصد د يتيم د مال خوراك وى او كهون ورسره د حيلے په طور كوى د دے وجے نه يې دلته وَلَا تَخْلِطُوا نه دے وئيلى بلكه وَلَا تَأْكُلُوا يې وئيلى دى. نو حاصل د دے ټول جملو دا دے چه د يتيم مال د هغه د فائدے د پاره وركوئ او د هغه مال مه خورئ او د هغه د مال سره د خپل مال كهون د هغه د مال د خوراك د پاره ذريعه مه كرځوئ.
إِنَّهُ كَانَ حُوبًا كَبِيرًا، ه ضمير په تاويل د مذكور سره اكل (خوراك) او تبدل (بدلولو) دواړو ته راجع دے. كَانَ د دوام د پاره دے. حُوبَ په اصل كښ زجر (زوړنے) ته وئيلے شى. او قرطبى وئيلى دى چه وحشت ته وئيلے شى. او قفال وئيلى دى چه تحوب كسب د هغه څيز دے چه درد پيدا كوى او دلته ترينه مراد ګناه يا ظلم دے. او كَبِيرًا پكښ تاكيد دے د حوبًا د پاره.
س۳:- په دے آيت كښ دويم حكم دے د احكامو د دے سورت نه چه هغه متعلق دے د نفسونو د يتيمانو سره اصالتًا او د مالونو د هغوى سره تبعًا.
وَإِنْ خِفْتُمْ، خوف، نه مراد علم دے ليكن د معلوم نه چه كله يره كيدے شى نو هلته لفظ د خوف د علم د پاره استعماليږى او دا د مستقبل زمانے سره تعلق لرى. او ابوعبيده وئيلى دى

مِنَ النِّسَآءِ مَثْنٰى وَثُلٰثَ وَرُبٰعَ ج

دَ نورو زنانو نه دوه او درے او خلور

فَاِنْ خِفْتُمْ اَلَّا تَعْدِلُوْا

نو که یریږئ تاسو چه انصاف به او نکړئ

فَوَاحِدَةً اَوْ مَا مَلَكَتْ اَيْمَانُكُمْ ط

نو یوه بوره ده یا (کنیزه کوئ) دَ هغه وینځے سره چه مالک دَ هغې شی لاسونه ستاسو

ذٰلِكَ اَدْنٰٓى اَلَّا تَعُوْلُوْا ﴿۳﴾

دا ډیره نیزدے ده چه تاسو به ظلم او نکړئ۔

چه دا په معنیٰ دَ یقین سره دے لیکن اول قول صحیح دے۔
اَلَّا تُقْسِطُوْا، دا دَ خفتم مفعول دے په تاویل دَ مصدر سره یعنی عَدَمِ الْقِسْطِ۔ اقساط، په معنیٰ دَ عدل او انصاف سره دے او تحقیق دَ دے لفظ به ان شاء الله په سوره جن کښې ذکر کیږی شی۔ امام راغب په مفردات کښې وئیلی دی چه قِسط په زیر دَ قاف، سره په معنیٰ دَ بل چا حصّه اخستلو دے نو دا ظلم دے۔ او اقسط بل چاله دَ هغه حصه ورکول دی نو دا عدل دے۔ او بعضو اهل علمو وئیلی دی چه په زیر دَ 'قاف' سره په معنیٰ دَ عدل دے او په زور سره په معنیٰ دَ ظلم دے۔
فِى الْيَتٰمٰى، دلته په یو توجیه سره دَ دینه مراد مؤنث نابالغے یتیمے دی او په بله توجیه سره عام دے مذکر او مؤنث دواړو ته (لکه روستو ذکر کیږی)۔
فَانْكِحُوْا مَا طَابَ لَكُمْ، دا په یو توجیه سره دَ ان خفتم دَ پاره جزاء ده۔ مَا طَابَ لَكُمْ په معنیٰ دَ موصول سره دے او دَ ذوی العقول دَ پاره حقیقتًا استعمالیږی پشان دَ لفظ مَنْ او دا قول دَ سیبویه دے۔ او یا مَا مصدریه دے۔ طَابَ دَ اکثر

مفسرینو نه نقل دے چه دا په معنیٰ دَاَحَلَّ سره دے او دَ حلال شرعی نه په طيبه سره تعبير کيديشی دَ ترغيب دَپاره ځکه چه طاب کښ معنیٰ دَ ميلان او دَ لذت شته دے.
مِنَ النِّسَآءِ، ديکښ مِنْ بيانيه يا تبعيضيه دے۔
سوال:۔ دَ دے شرط (چه خوف دَ عدم قسط دے) او دَ جزاء (چه امر دَ نکاح دے) په مينځ کښ څه مناسبت دے؟
جواب:۔ په ديکښ څلور اقوال نقل شويدی۔ اول قول بخاری او مسلم او نورو محدثينو ليکلے دے چه عروه رضی الله عنه دَ عائشه رضی الله عنها نه دَ دے تفسير طلب کړے وو نو هغے ورته جواب ورکړو چه دا سے يتيمه جينئ چه دَ يو ولی په ولايت کښ ده او دَ هغے مال او جمال هم شته او دغه ولی غواړی چه نکاح ورسره اوکړی ليکن مهر او نفقه کښ ورسره عدل کول نه غواړی ځکه چه دے پخپله متولی وی نو دَ چا دَ طلب نه پروا نه کوی (يعنی دا جينئ دے دَ بل چانه غواړی)۔ نو دا ايت دَ دے په باره کښ نازل شويدے نو په دے بناء دَ يتامیٰ نه مراد جينکئ دی چه دوی (وليان) دَ هغوی دَ نکاح اراده لری سره دَ ظلم کولو نه۔ او النِّسَآءِ، نه مراد غير دی دَ يتامیٰ نه نو معنیٰ دا ده که چرے تاسو يريږئ (علم لرئ) چه انصاف او عدل به او نکړے شئ دَ يتيمو جينکو په باره کښ دَ هغوی سره دَ نکاح په وخت کښ نو بيا نکاح دَ هغه جينکو سره اوکړئ چه تاسو دَ پاره حلالے وی غير دَ يتيمانو جينکو نه۔ نو مقصد دا دے چه په يتيمو جينکو باندے ظلم مه کوئ۔ په دے توجيه سره فانکحوا دَ ان خفتم دَ پاره جزاء ده۔
دويم قول دَ سعيد بن جبير، قتاده او ضحاک نه ابن جرير او سيوطی نقل کړيدے هغه دا دے چه دَ مخکښ آيت دَ نزول نه روستو خلقو به دَ يتيمانو دَ مالونو نه ځان ډير بچ ساتلو دَ ظلم دَ يرے دَ وجے نه۔ ليکن منکوحات (نکاح شوے ښځے) به ئے دَ څلورو نه زياتے ساتلے او دَ هغوی سره به ئے ظلم

کولو څه پروا ئې نه کوله نو په دے آیت سره ئې دوی د دے دویم ظلم نه هم منع کړل - او معنیٰ دا ده که چرے تاسو د یتیمانو (هلکانو، جینکو) د مالونو نه ځان ـ بچ ساتئ او یره کوئ د ظلم کولو نه نو دا رنګ ځان ـ بچ اوساتئ د ظلم کولو نه د منکوحاتو سره - او د هغې طریقه دا ده چه د څلورو نه زیاتے مه کوئ ځکه چه تاسو د څلورو نه زیاتو سره هیڅ عدل نشئ کولے - یعنی چه یو انسان د یو ګناه نه ځان ـ بچ کوی نو لازم دا ده چه د هغے پشان د بل ګناه نه دے هم ځان ـ بچ اوساتی - او په دے توجیه باندے یتامیٰ عام دے هلکانو او جینکو دواړو ته او فانکحوا نه مخکښ جزاء پټه ده یعنی فَلَا تُظْلِمُوْا فِي الْمَنْكُوْحَاتِ - او فانکحوا په هغې باندے عطف دے - دریم قول د عکرمه نه ابن جریر او سیوطی نقل کړے دے چه یو شخص د یتیمانو د مال ولایت کوو او په نکاح کښ به ئې د څلورو نه زیاتے ښځے وے - نو کله به ئې چه حاجت پیښ شو چه په بیبیانو باندے ډیره خرچه اوکړی نو د یتیمانو د دے مال نه به ئې خرچه کوله - نو دغے کسانو ته په دے آیت کښ اووئیلے شو چه هر کله چه تاسو د ظلم د یتیمانو نه په عام حالاتو کښ یره کوئ نو په حالت د ډیرو ښځو ساتلو کښ هم ځان د ظلم نه ـ بچ اوساتئ یعنی د څلورو نه زیاتے په نکاح باندے مه اخلئ نو حرام مال حاصلولو ته به موحاجت نه پریوځی - څلورم قول دا دے چه دوی به د ظلم د یتامیٰ غیر منکوحاتو نه ځان نه شو ـ بچ کولے بلکه په هغوی باندے به ئې ظلم کولو - لیکن کله به ئې چه په نکاح سره واخستله نو بیا ئې ورسره ظلم نه کوو - نو دوی ته اووئیلے شو چه هر کله یره کوئ د عدم انصاف نه د یتامیٰ جینکو غیر منکوحو سره نو نکاح ورسره اوکړئ (چه حلاله وی تاسو لره) د دے د پاره چه د ظلم نه ـ بچ شئ - په دے ټولو اقوالو سره د شرط او

جزاء په مینځ کښې مناسبت ښکاره دے ۔او اول قول په دیکښې ډیر غوره دے ۔
مَثْنٰی وَ ثُلٰثَ وَرُبٰعَ ، دا دَ طاب دَ ضمیر نه احوال دی او دیته اسماء معدوله وئیلے شی ۔ دَ دے په معنیٰ کښې تکرار دے یعنی اثنان اثنان او ثلاثة ثلاثة او اربع اربع۔ دَ بصریانو په نیز په دیکښې قیاس نه جاری کیږی ۔ په دیکښې اته الفاظ نقل دی لکه احاد، موحد، ثناء، مثنی، رباع ، مربع او دَ دے نه په بره الفاظ دَ فصیح عربو نه نه دی اوریدلے شوی ۔او دَ کوفیانو په نیز قیاس صحیح دے ۔دَ هغوی دَ پاره بعضے اشعار دلیل شته دے لیکن قرطبی وئیلی دی چه هغه شاذ دی ۔ او آلوسی وئیلی دی چه دا شعر دَ متنبی کتاب (احاد ام سداس فی احاد) پدے باندے عیب وئیلے شویدے ۔ قرطبی او ابوعبید وغیرهما وئیلی دی چه اصح دادہ چه دَ رباع نه (څلورو) نه بره ثابت نه دے او امام بخاری رحمه الله هم دا غوره کړیده چه په یو وخت او زمانه کښې دَ څلورو نه زیاتے نه دی ثابت۔ دا رنګ سورة سباء ۲۶ او قاطر کښې هم راغلی دی ۔
سوال :- دَ دے په مینځ کښې ئے عطف په واؤ سره کړیدے په آؤ سره ئے نه دے کړے څه وجه کیدیشی ؟
جواب :- آؤ دلالت کوی په تقسیم باندے چه دَ یو قسم سړو دَ پاره مثنی او دَ بل قسم دَ پاره ثلاث او بل قسم دَ پاره رباع جائز دی او حال دا دے چه دا دَ مقصد نه خلاف دے مقصد خو دا دے چه هر نارینه لره په شرط دَ عدل کولو سره دوه دوه ، درے درے یا څلور څلور جائز دی ۔
سوال :- اثنان وثلاث واربع ئے ولے اونه فرمائیل ؟
جواب :- په اسماء عدد او اسماء معدوله کښې فرق دے هغه دا چه اسماء عدد کښې صرف عدد مقصود وی

او په اسماء معدوله کښې دَ عدد نه سیوا او زیاته معنیٰ هم مراد وی۔ هغه دا سے چه او وئیلے شی جاء القوم مثنی معنیٰ دا شوه چه دوه یوځائے راغلل او چه او وئیلے شی جاء القوم اثنان نو معنیٰ دا شوه چه دوه راغلل۔ برابره خبره ده چه جدا جدا راغلل او که یوځائے راغلل۔ نو دلته مقصد دا دے چه دوه بیبیانے په یوځائے جمع کول جائز دی دَ دے وجے نه ئے اسماء معدوله ذکر کړو۔

فَإِنْ خِفْتُمْ أَلَّا تَعْدِلُوا فَوَاحِدَةً، داجمله دلیل دے چه په مخکښې جوازِ دَ تعدد کښې عدل شرط دے نو په وخت دَ انتفاء دَ شرط کښې (چه ان خفتم ان لا تعدلوا کښې هغې ته اشاره ده) انتفاء دَ مشروط لازمه وی او تعدد به منع وی بلکه فواحدة نه مخکښې اکتفوا یعنی یوه بانډے اکتفاء اوکړئ۔ الزموا فعل پټ دے دَ روستو لفظ په قرینے سره۔ دلته حرة لفظ پټ مراد دے یعنی اکتفاء اوکړئ په یو آزاده ښځه بانډے په نکاح کولو سره۔

أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ، دا په فواحدة بانډے عطف دے نو معنیٰ دا شوه چه په وینځو ساتلو کښې تعدد شرط نه دے که هر څومره ساتئ ځکه چه په هغوی کښې عدل کول شرط نه دے، لیکن ښائسته معامله او احسان کول ورسره ضروری دی۔ یا دا عطف دے په ما طاب لکم بانډے او فعل پټ دے نو معنیٰ دا ده چه واقتصروا علی ما ملکت ایمانکم۔ لیکن دلته خطاب دے مولاګانو (مالکانو) دَ وینځو ته نو دَ هغوی دَ پاره دَ خپلو وینځو سره نکاح کول ضروری نه دی۔ او په دے سورت ۲۵ کښې خطاب دے غیر مالکانو ته نو هلته ئے فرمائیلی دی فَمِمَّا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ نو په هغے کښې انکحوا پټ دے۔

ذَٰلِكَ أَدْنَىٰ أَلَّا تَعُولُوا، په ذَٰلِكَ کښې دوه اقوال دی۔ اول قول دا اشاره ده واحدةً او ما ملکت ته۔ دویم قول دا

چه دا اشاره ده قول ماقبل ته یعنی نکاح دَ ډیرو سره (تر څلورو پورې) په شرط دَ عدل کولو سره دَ هغوی په مینځ کښې، او اکتفاء په یوه باندې یا وینځې ساتل په وخت دَ یرې دَ ظلم کښې - اَدنیٰ په معنیٰ دَ ډیر نیزدې دے. دلته محسوس نیزدې والے نه دے مراد بلکه معنوی نیزدې والے مراد دے - آلوسی او بعضې نورو مفسرینو وئیلی دی چه دَ عال ډیرې معنې دی په معنیٰ دَ میلان، ظلم کولو، فقیری، عیال ډیرول، مشقت راتلل، خرچ کول، عاجز او کمزورې کیدل، اکثر مفسرینو دَ ابن عباس رضی الله عنهما او جمهورو سلفو نه نقل کړیدی چه دَ دینه مراد ظلم ته مائل کیدل دی چه هغه دَ عدل مقابل دے - او ابن ابی حاتم دَ سفیان بن عیینه نه روایت کړے دے چه دا په معنیٰ دَ فقر سره دے - او دَ امام شافعی رحمه الله نه نقل دے چه په معنیٰ دَ کثرت دَ عیال (زیاتوالے دا هل وعیال) دے - ثعلبی او ابن عربی په دے قول باندې سخت رد کړے دے لیکن قرطبی وئیلی دی چه دا قول دَ زید بن اسلم او جابر بن زید نه هم نقل دے - او هغوی هم دَ امام شافعی نه مخکښې لوئے لوئے امامان تیر شویدی - او وئیلی ئې دی چه دا معنیٰ کسائی، ابوعمر الدوری (امامانو دَ لغت) نه هم نقل ده - لیکن په دے معنیٰ باندې اعتراض دا دے چه هر کله الله تعالیٰ کثرت دَ وینځو جائز کړیدے نو دَ هغوی نه هم ډیر اولاد پیدا کیږی نو دَ ان لا تعولوا (چه اولاد ډیر نشی) سره مناسبت نه لری - او دا عذر چه بعضې مفسرینو ذکر کړیدے چه دَ وینځو اولاد نه وی دا دَ حقیقت نه لرې خبره ده - په دے وخت کښې بعضې رُوئ خلقو دَ منصوبه بندئ (ضبط تولید) دَ استدلال دَ پاره دَ امام شافعی رحمه الله دا قول ذکر کړیدے چه دَ دا لے دلته

معلومیږي چه اولاد ډیرول (زیات اولاد پیدا کول) ته دي پکار.
لیکن اول خو دا د قران او حدیث د هغه نصوصو او ښکاره دلیلونو
نه خلاف کول دي چه په هغې کښې د نکاح او ښځې سره د جماع
مقصد اولاد ګرځولے شوي دے لکه (وَابْتَغُوْا مَاكَتَبَ اللّٰهُ
لَكُمْ، فَأْتُوْا حَرْثَكُمْ اَنّٰى شِئْتُمْ وَقَدِّمُوْا لِاَنْفُسِكُمْ)
او (تَزَوَّجُوْا الْوَدُوْدَ الْوَلُوْدَ) (نکاح د هغه ښځې سره
کوئ چه مینه ناکې وي او بچي (ډیر) راوړي).
دویمه دا چه په دے آیت کښې صراحتًا د څلورو ښځو
اجازت ورکړے شوے دے نو ظاهره خبره ده چه د څلورو ښځو
نه خو اولاد ډیر پیدا کیږي نو بیا ولے کموالي د اولاد ته
ترغیب ورکوي.
هان د امام شافعي رحمه الله د قول توجیه دا کیدے شي
چه کثرت عیال نه مراد کثرت ازواج دي او ذلك اشاره
ده عدد د څلورو ته. یعني د دے امر فائده دا ده چه
ښځې د څلورو نه ډیرے نشي د دے د پاره چه بوج زیات نشي.
فائده ۱:- د اهل سنت والجماعت اجماع ده چه
څلورو د ښځو نه زیاتے ښځې په نکاح کښې جمع کول حرام دي
د دے آیت په دلیل سره او په دلیل د احادیثو او اجماع
سره. او قرطبي روافضو او بعضے اهل ظاهر ته نسبت
کړے دے چه هغوي وئیلي دي چه نهه بیبیانې په یو
وخت جمع کول جائز دي. او بعضو خو د عدد د حصر نه
هم انکار کړے دے یعني هر څومره چه په نکاح اخلي.
او آلوسي وئیلي دي چه امامیه د دے نه دي قائل لیکن
قاسمي په خپل تفسیر کښې د شوکاني د کتاب وَبَلُ الْغَمَامِ
او د نیل الاوطار نه نقل کړي دي چه په هغې کښې د دے
نسبت ظاهریو او ابن صباغ، عمراني، قاسم بن ابراهیم
او یو ډلے د شیعه ګانو ته کړے دے. او کوم احادیث
د منع چه د څلورو نه په زیاتو راغلي دي په هغې کلام

کړیدے او وائي چه قرآن کریم په حصر د عدد باندے دلالت نه کوي. لیکن السیل الجرار کښ وئیلي چه دغه احادیثو کښ اګرچه هر یو کښ ځان ځان له کلام شته دے لیکن په مجموعي طور سره حسن دي اعتماد ورباندے کیدیشي او په اجماع سره هم د دغه احادیثو تائید کیدیشي. لیکن زه وایم چه اول خو حصر عدد د څلور د قرآن کریم د دے آیت نه کیدیشي او د اثبات طریقے دا دي.

ع۱: چه که قرآن مقصد نه بیبیانے وے یا حصر کول د عدد نه وے نو ولے ئې مثنیٰ وثلاث ورباع ذکر کولو بلکه مطلق به ئې پریښودلے وے نو بیا به د هر چا خوښه وه چه څو مره ښځے ئې کولے.

ع۲ مخکښ ثابت شوه چه عرب د څلورو نه زیاتے نه کوي نو الله تعالیٰ اربع نه دي فرمائیلي بلکه رباع ئې د دے د پاره ذکر کړیدي چه د دے عدد نه زیا توالے نشي کیدے.

هاں په سوره فاطر کښ د وزرو د زیاتوالي د پاره روستو جمله شته دے چه يَزِيدُ فِي الْخَلْقِ مَا يَشَاءُ، او دلته خو دا سے نیشته.

ع۳ الله تعالیٰ د زنانو په مینځ کښ د عدل او انصاف د قائمولو د پاره د عدد ذکر کړیدے. اشاره ده چه د دینه په زیات باندے د انسان قدرت محال دے چه عدل قائم کړي ما سیوا د انبیاء علیهم السلام نه چه هغه د هغوي اعجاز دے.

ع۴ الا تعولوا که په هره معنیٰ باندے مراد شي نو دلالت کوي چه د څلورو نه زیات والے را شي نو انسان کښ خامخا عول (یو طرف ته کږیدل) راځي. او دا رنګ اجماع د سلفو صالحینو ثابت ده په منع د زیادت د څلورو نه. او آلوسي وئیلي دي چه په دے مسئله کښ اقوی دلیل اجماع ده ځکه چه په زمانه د اجماع کښ هیڅ مخالف نه دے موجود

شوے - او په اجماع کښ دا شرط نه دے چه د بعثت د رسول الله صلی الله علیه وسلم د وخت نه تر قیامته پورے د ټول امت اتفاق راشی لکه چه د امام غزالی د قول نه معلومیږی ګنی نو په هیڅ مسئله کښ اجماع نشی ممکن کیدے - امام رازی وئیلی دی چه د دے اجماع مخالف خلق بدعتیان دی د هغوی مخالفت کولو ته هیڅ اعتبار نیشته - او ابن عربی دغه مخالفت کوونکو ته جهال (ډیر ناپوهه) وئیلی دی - او ابن کثیر په دے باب (د حصر) کښ احادیث راجمع کړیدی هغه هلته اوګورئ - او دا رنګ په قرآن او په اجماع سره ثابت دی چه د څلورو بیبیانو نه زیاتولے خصوصیت دے د نبی کریم صلی الله علیه وسلم په هغے کښ مونږ له د هغه اتباع جائز نه ده -

فائده ۲ :- د حدیث منکرینو د دے آیت تحریف کړیدے - او آلوسی دغه قول جبائی معتزلی ته نسب کړیدے - هغوی وائی چه دا آیت صرف د یتیما نو جینکو په باره کښ دے چه په پالنه د یو شخص کښ وی او هغه د ظلم نه یره کوی نو هغه د پاره د دغه یتامی نه صرف څلورو سره نکاح کول جائز دی - او د غیر یتامی په باره کښ دا حکم نیشته - لیکن د بحث نه معلومه شوه چه دا قول د قرآن کریم، اجماع او احادیثو نه خلاف دے - دارنګ که دا په یتامی پورے خاص وے نو عبارت داسے پکار وو چه وَإِنْ خِفْتُمْ اَلَّا تُقْسِطُوا فِي الْيَتَامٰى فَانْكِحُوا مَا طَابَ لَكُمْ مِنْهُنَّ - لیکن دلته ئے لفظ النساء راوړیدے او هغه د تعمیم د پاره دے - او د قرآن آیتونو هر هغه تفسیر چه د سلفو صلحینو او د هغوی د اجماع د تفسیر نه خلاف وی نو هغه تحریف دے -

فائده ۳ :- قرطبی د عمر رضی الله عنه او د کعب اسدی یو واقعه ذکر کړیده چه هغے کښ اسدی

وَاٰتُوا النِّسَآءَ صَدُقٰتِهِنَّ نِحْلَةً ؕ

او ورکوئ زنانو ته مهرونه دَ هغوی په خوشحالئ سره،

فَاِنْ طِبْنَ لَكُمْ عَنْ شَيْءٍ

او که دوی معافی اوکړی تاسو ته دَ څه څیز

مِّنْهُ نَفْسًا فَكُلُوْهُ هَنِيْٓـًٔا

دَ هغې نه ـ بخپله خوښه نو خورئ هغه په مزے سره

مَّرِيْٓـًٔا ﴿۴﴾

بے نقصانه ـ

دَ ځلورو ښځو دَ جواز نه دا استدلال کړیدے چه دَ ښځے حق په خاوند باندے دا دے چه په ځلورمه ورځ به هغې له خامخا حق ادا کوی او نورے درے شپے ورځے که په عبادت کښ تیروی نو جائز دی ـ

سځ :ـ په دے آیت کښ دریم حکم دے دَ پاره دَ تاکید دَ عقد دَ نکاح او دَ ښه ژوند کولو دَ خپلے بی بی سره ـ او دا دریم حکم مشتمل دے په دوه مسئلو باندے ـ اوله مسئله ښځے ته مهر ورکول ـ دویمه دَ هغې دَ طرف نه خاوند ته دَ مهر بخنه کول ـ

وَاٰتُوا النِّسَآءَ صَدُقٰتِهِنَّ ، تیر شوی آیت کښ خاوندانو ته خطاب وو ـ او په دے آیت کښ هم هغوی ته خطاب دے. (دا قول دَ ابن عباس رضی الله عنهما او قتاده ، ابن زید او جریج دے) او النِّسَآءَ نه مراد زوجات (بیبیانے) دی ـ او دا لفظ دَ آزادو ښځو او وینځو (چه په نکاح سره یې ساتلے وی) دواړو ته شامل دے ـ او دَ ابو صالح قول دا دے چه دا اولیاؤ دَ ښځو ته خطاب دے ځکه چه په جاهلیت کښ به یو ولی (اختیارمند دَ نکاح) خپله لور خور په نکاح سره

ورکړه نو دَ هغې مهر به ئې ځان له اخستلو که هغه به لرې وو او که ډیر به وو - او داسې په نورو طریقو سره به ئې په مهر قبضه کوله نو دَ جاهلیت دَدې رسم و رواج دَ تردید دَپاره او فرمائیلې شو چه وَاٰتُوا النِّسَآءَ صَدُقٰتِهِنَّ، او دَ حضرمی نه نقل دی چه دا رد دے په شغار (بدل) کوونکو باندې چه یوه زنانه دَ بلې زنانه په بدله کښې ورکړی او مهر ورله مقرر نه کړی - نو هغوی ته او وئیلې شو چه مهر ورکول ښځو ته لازم دی۔

صَدُقٰتِ، جمع دَ صدقه ده - دا لفظ او صداق په معنیٰ دَ مهر پورې خاص دے ځکه چه په مهر ورکولو کښې صدق نیت او اخلاص دَ رغبت دَ نکاح معلوم شی - نِحْلَةً، نحل په اصل کښې عطیه ته وئیلې شی په طریقه دَ تبرع (احسان کولو) سره او دا دهبه نه خاص ده - دَ ابن عباس رضی الله عنهما او قتاده نه نقل دی چه نحله معنیٰ ده فریضةً نو دا حال دے دَ صدقات نه - او زجاج وئیلی دی چه دا په معنیٰ دِیَانَةً شِرْعَةً دے نو دا مفعول له دے - او کلبی وئیلی دی چه دا په معنیٰ دَ عطیة وهبة ده نو حال دے یا مفعول مطلق دے دَ اٰتُوْهُنَّ دَپاره په اعتبار دَ معنیٰ سره۔

سوال :- نحله چه په اصل کښې عطیے بے بدلے ته وئیلې شی او مهر خو په بدل دَ (عورت) دَ ښځې کښې دے نو مهر ته څرنګه نحله او وئیلې شو؟

جواب :- دَ خاوند دَ خپلې ښځې نه په نفع او مزه اخستلو کښې په حقیقت کښې دواړو ته فائده او لذت محسوسیږی نو معلومه شوه چه مهر خو زیاتی څیز دے دَ دے وجې نه ئې هغې لره دَ نحله صفت ذکر کړو۔

فَاِنْ طِبْنَ لَكُمْ عَنْ شَيْءٍ مِّنْهُ نَفْسًا، دا دویمه مسئله ده یعنی ښځې له جائز دی چه خپل ټول یا بعضې مهر خاوند یا ولی ته او بخی - قرطبی او ابن جریر وئیلی دی

چه سبب دَ دے دا دے چه بعضے خاوندان تو دا بده ګنړله
چه دَ ښځے نه مهر واپس واخلی نو دَ هغے جواز ئے دلته
ذکر کړو۔ طبن په معنیٰ دَ وربخلو دے په خوشحالئ سره۔
عَنْ شَیْءٍ، په صله دَ طبن کښ باء، راځی او دلته
عَنْ ذکر دے ځکه چه دا متضمن دے معنیٰ دَ عفو او
تباعد لره۔ مِنْهُ، دَ دے ضمیر راجع دے صدقات ته
په تاویل دَ مذکور مال یا صداق سره۔ او مِنْ دَ
تبعیض دَ پاره دے په تیز دَ لیث یا دَ بیان جنس دَ پاره دے
په تیز دَ ابن عطیه۔ نَفْسًا، دا تمیز دے دَ نسبت دَ طبن
نه په معنیٰ دَ طِبْنَ اَنْفُسُهُنَّ سره او تمیز دَ تاکید
ئے دَ خوشحالئ دَ پاره ذکر کړیدے یعنی دَ مهر دَ بخلو
خوشحالی صرف ظاهری نه وی بلکه په زړه سره حقیقتًا
وی۔ نو حاصل دَ معنیٰ دا شو چه که چرے دغه ښځه او بخی
څه حصه دَ مهر نه تاسو ته په خوشحالئ سره۔ آلوسی دَ
ابن هبیره نه نقل کړیدی چه دَ ائمو اربعو اتفاق دے
چه ښځه خاوند یو بل ته څه څیز بخشش ورکړی نو بیا
واپس اخستل ئے جائز نه دی۔ او صاحب اللباب دَ بعضے
علماؤ نه نقل کړیدی چه ښځه خپل خاوند ته دَ مهر
څه حصه بخشش ورکړی او بیا رجوع کوی نو معلومه
شوه چه دا بخشش ئے دَ زړه خوشحالئ سره نه وو کړے
او دَ دے دَ تائید دَ پاره شعبی دَ شریح دغسے واقعه
ذکر کړیده۔ او دَ عمر رضی الله عنه نه ئے هم دا سے
روایت نقل کړیدے۔

فَكُلُوهُ هَنِيْٓـًٔا مَّرِيْٓـًٔا، دَ اکل نه مراد هر هغه مباحه
نفقه اخستل دی خو چونکه خوراک دَ انسان اهم مقصد
دے نو دَ دے وجے نه ئے اکل ذکر کړو۔ هَنِيْٓـًٔا مَّرِيْٓـًٔا
حال دے دَ ضمیر دَ کلوه نه یا صفت دَ پټ موصوف دے
یعنی اَكْلًا هَنِيْٓـًٔا۔ هَنِيْٓـًٔا اسم فاعل دے دَ هَنِیءَ نه او

وَلَا تُؤْتُوا السُّفَهَآءَ اَمْوَالَكُمُ

او مه ورکوئ کم عقلو ته مالونه د هغوی

الَّتِیْ جَعَلَ اللّٰهُ لَكُمْ قِیٰمًا

(چه تاسو سره وی) هغه چه کرځولی دی الله تعالی ستاسو د پاره سبب د ژندګئ

مرئ د مرء نه دے - او د دے دوارہ په مینځ کښ فرق دے په ډیرو وجوهو سره -

اول دا چه هنئ هغه څیز دے چه د مشقت نه بغیر حاصل شی او مرئ هغه څیز دے چه زر هضم کیږی -

دویم دا چه هنئ هغه دے چه ګناه پکښ نیشته او مرئ هغه دے چه هیڅ مرض پکښ نه وی -

دریم دا چه هنئ په آسانتیا سره تیریږی ونکی او مرئ بنهٔ انجام والا بے ضرره -

څلورمه وجه دا چه هنئ مزیدار او مرئ په مرئ کښ آسان تیریږی ونکے - قرطبی وئیلی دی چه د ابن عباس رضی الله عنهما روایت دے چه مراد دا دے چه په دُنیا کښ د دے خوراک مطالبه نیشته ، او په آخرت کښ ئے هم تاوان نیشته -

فائده :- ابن کثیر ، آلوسی او قرطبی د علی رضی الله عنه نه روایت ذکر کړیدے چه یو سړی ته د ښځهٔ بیمارئ او ناجوړتیا شکایت وی یا ئے په ګیډه کښ درد وی نو د خپلے بی بی نه دِ مثلاً درے روپئ او غواړی او په یو روایت کښ دی چه د مهر د رقم نه) او په هغے باندے دِ ګبین (شهد) واخلی او د باران اوبه دِ ورسره ګډے ودے کړی او هغه دِ اوڅښکی نو هغه شکایت به رفع شی - او علی رضی الله عنه د دے د پاره درے آیتونه د قرآن کریم اولوستل - ۱ وَاَنْزَلْنَا مِنَ السَّمَآءِ مَآءً مُّبٰرَكًا - ۲ یَخْرُجُ مِنْۢ بُطُوْنِهَا شَرَابٌ مُّخْتَلِفٌ

وَّارۡزُقُوۡهُمۡ فِيۡهَا وَاكۡسُوۡهُمۡ

خوراک ورکوئ دوی ته په هغې کښ، او جامې ورکوئ دوی له،

وَقُوۡلُوۡا لَهُمۡ قَوۡلًا مَّعۡرُوۡفًا ۝٥

او اوائ دوی ته وینا نیکه -

اَلۡوَانُهٗ فِيۡهِ شِفَآءٌ لِّلنَّاسِ - ع۳ فَكُلُوۡهُ هَنِيۡٓـًٔا مَّرِيۡٓـًٔا -

ف ۵ :- په دے آیت کښ څلورم حکم دے او دا متعلق دے د سفهاء (ناپوهه) سره د هغوی نه د ظلم د دفع کولو دپاره -

ربط ئې دا دے چه هرکله مخکښ اووئیلے شو چه یتامیٰ ته د هغوی مالونه ورکوئ او بیبیانو ته د هغوی مهرونه - نو اوس په هغې کښ یو قید لګوی - هغه دا دے چه په حالت د ناپوهئ کښ ئې مه ورکوئ دے د پاره چه مال ضائع نه کړی -

وَلَا تُؤۡتُوا السُّفَهَآءَ ، دا د هغوی ولی، کفیل یا وصی ته خطاب دے - نو دا ضمناً دلالت کوی په جواز د ولی کفیل او وصی مقررولو بانډې (قرطبی) - سُفَهَآءَ، د دے تفسیر په سوره بقره کښ تیر شویدے - دلته د سفهاء په مصداق کښ ډیر اقوال دی - سعید بن جبیر وئیلی دی چه دا یتیمان دی - ابومالك وئیلی دی چه دا نابالغ دی که یتیم وی او که نه - مجاهد وئیلی دی چه دا زنانه دی - د ابوموسیٰ اشعری رضی الله عنه نه نقل دی چه دا هر هغه څوک دی چه د پابندئ مستحق وی - نو په دیکښ دغه ټول اقوال داخل دی. دا رنګ تبذیر او اسراف کوونکی، لیونی او پاګل پکښ هم داخل دی -

اَمۡوَالَكُمۡ ، د دینه مراد د هغوی هغه مالونه دی چه د ولی، کفیل یا وصی په قبضه کښ وی - او د دے په اضافت اوکړی لکه چه د خپل مالونو کوئ - تاسو د هغوی د مال داسے حفاظت کښ تاکید دے چه

سوال:- په دویم آیت کښې د مالونو اضافت ئې یتیمانو ته کړے وو او دلته ئې هغوی ته اونکړو؟

جواب:- هلته مقصد د ناجائز تصرف نه منع کول وو نو اضافت کښې ئې علت ته اشاره اوکړه چه دغه مالونه ستاسو ته دی بلکه د یتیمانو دی - او دلته د فساد د مال نه منع کول مقصد دے نو په دے اضافت کښې اشاره ده چه لکه څرنګه خپل مالونه د فاسد او نا کاره تصرفاتو نه بچ ساتئ نو دا رنګ د هغوی مالونه هم بچ اوساتئ.

اَلَّتِیۡ جَعَلَ اللّٰهُ لَکُمۡ قِیٰمًا ، دا صفت د دغه حکم د پاره علت دے - یعنی دا مالونه سبب د معیشت دے نو که هغوی له ئې ورکړئ نو معیشت ته به نقصان اورسی - لَکُمۡ ، اولیاؤ او سفهاؤ ټولو ته خطاب دے بلکه جنس بنی آدم ته مخاطبه ده - قِیٰمًا ، مصدر دے د قام نه په اصل کښې قِوَامًا دے لیکن واو په یاء سره بدل شوے دے - معنیٰ د دے سبب د قیام د بدنونو او سبب د بقاء دے - زمخشری وئیلی دی چه تاسو ژوند تیروئ په دے سره - او قرطبی وئیلی دی چه سبب د معاش او صلاحیت د دین دے - یعنی تجارتونه او صنعتونه په مال باندے بنا دی او دا سبب د معیشت د ټول نوع انسان دے - او هرچه کعبه شریفه او د هغې تعظیم او احترام ساتل دی نو هغه سبب د بقاء د ټول عالم دے - د دے وجے نه په سورة مائده ۹۷ کښې قِیٰمًا لِّلنَّاسِ فرمائیلے دے - آلوسی وئیلی دی چه په دے کښې اشاره ده مدح د مالونو ته - او د سلفو صالحینو نه نقل دے چه مال د مؤمن د پاره سلاح ده - او هغوی وئیل چه تجارت او کسب کوئ ځکه چه تاسو په داسے زمانه کښې یئ که په تاسو کښې یو تن محتاج شی نو اول به خپل دین اوخوری -

وَارۡزُقُوۡهُمۡ ، د رزق نه مراد نفقه ورکول دی په

وَابْتَلُوا الْيَتٰمٰى حَتّٰى إِذَا بَلَغُوا

او ازمیښت کوئ په یتیمانو ترهغې چه کله اورسي وخت

النِّكَاحَ فَإِنْ اٰنَسْتُمْ مِّنْهُمْ

دَ نکاح ته، نو که معلومه کړه تاسو دَ هغوئ نه

خوراک څښکاک او دارو درملو وغیره سره۔
وَاكْسُوْهُمْ، کښې اشاره ده لکه څرنګه چه انسان روزئ ته حاجت لري نو دارنګ جامے ته هم مختاج دے۔
فِيْهَا، یې فرمائیلي دے او منها، یې نه دے وئیلے اشاره ده چه دَ هغوی دغه مالونه محل دَ روزي اوجامے اوګرځوی یعنی تجارت اوکته پکښې کوئ او دَ هغې ګټے نه دوی ته رزق اوجامه اوخرچه وغیره ورکوئ۔ داد دے دَ پاره چه دَ دوی مال فنا او برباد نشي اوکه منها، یې وئیلے وے نو معنی به دا وه چه دَ اصل مال نه پرے خرچه کوئ۔
وَقُوْلُوْا لَهُمْ قَوْلًا مَّعْرُوْفًا، مَعْرُوْفً هرهغه قول اوعمل ته وئیلے شي چه دَ نفس سکون پرے حاصلیږي دَ دے وجے نه هغه ښائسته وي عقلاً یا شرعًا۔ نو دَ دیته مراد دا سے خبره کول دي چه په هغې سره دَ هغه سفیه (کم عقل) نفس خوشحاله شي لکه چه ورته او وائي چه ستا مال ما سره امانت دے هر کله چه ته بالغ شے او پوهه دے راشي نو تا ته به یې درکوم۔ قرطبی وئیلی دي چه دعا دِ ورته کوي چه بَارَكَ اللّٰهُ فِيْكُمْ، آلوسی وئیلی دي چه په دیکښې دَ هغه دیني اصلاح هم مراد ده په علم خودلو سره۔ یعنی دَ دین ضروري علم به ورته ښائي۔

رُشْدًا فَادْفَعُوْٓا اِلَيْهِمْ

هوښيارتيا نو وركوئ هغوى ته

اَمْوَالَهُمْ ۚ وَلَا تَاْكُلُوْهَآ اِسْرَافًا

مالونه د هغوى ، او مه خورئ هغه په بې ځايه خرچ كولو

وَّ بِدَارًا اَنْ يَّكْبَرُوْا ؕ وَمَنْ

او په تادئ (جلتئ) سره د دې يرې نه چه دوى به لوئے شي ، او څوك

كَانَ غَنِيًّا فَلْيَسْتَعْفِفْ ۚ وَمَنْ

چه مالدار وى نو ځان دې بچ كړى (د مال د يتيم نه) او څوك چه

كَانَ فَقِيْرًا فَلْيَاْكُلْ بِالْمَعْرُوْفِ ؕ

محتاج وى نو خوراك دې كوى (د هغې نه) په ښه طريقه

فَاِذَا دَفَعْتُمْ اِلَيْهِمْ اَمْوَالَهُمْ

نو كله چه وركوئ هغوى ته د هغوى مالونه

فَاَشْهِدُوْا عَلَيْهِمْ ؕ وَكَفٰى بِاللّٰهِ

نو ګواهان اونيسئ په هغې باندې ، او پوره دے الله تعالىٰ

حَسِيْبًا ⑥

حساب كوونكے۔

ت⑥: په دے آيت كښ پنځم حكم دے د ظلم نه د بچكيدلو د پاره ـ هر كله چه سفاهت (كم عقلتوب) پټ صفت دے او عارض دے نو د هغې د ازالے د پاره طريقه ذكر كوى دے د پاره چه هغه ته د هغه مال او سپارلے شى ـ نو د دے د پاره دوه شرطونه ذكر كوى ـ يو بلوغ دويم رشد (پوهے) ته رسيدل ـ

وَابْتَلُوا الْيَتٰمٰى ، ابتلاء (ازميښت) نه مراد معلومول

دَ عقل دَ حفاظت کولو دَ مالونو دَ هغه او دَ دے مختلفے طریقے دی ۔ یو دا چه دهٔ له لږ مال دَ تجارت دَ پاره ورکړی یا په ځان او اهل وعیال باندے دَ خرچ کولو دَ پاره ۔ یا دَ ده په حضور کښې دا ولی یې تجارت او اخستل او خرڅول کوی او دهٔ ته دَ هغې طریقے ښائی ۔ او دغسے نورے طریقے دے دَ پاره چه هغه پرے پوره پوهه شی۔

حَتّٰٓى اِذَا بَلَغُوا النِّكَاحَ ، دا اول شرط دے ۔ دَ دینه مراد اختلام دے لکه چه په سوره نور ۵۹ کښې دی ۔ او احتلام دَ بلوغ دَ پاره په مذکر او مؤنث کښې مشترک علامت دے او دَ دینه علاوه نور علامات هم شته۔

فَاِنْ اٰنَسْتُمْ مِّنْهُمْ رُشْدًا ، انس ، په معنیٰ دَ اَحَسَّ ، وَجَدَ او اَبْصَرَ دے لکه په دے قول کښې (اٰنَسَ مِنْ جَانِبِ الطُّوْرِ نَارًا) (قصص ۲۹ ۔ رُشْدًا ، خیر رسیدلو ته وئیلے شی دَ دے مقابل غیّ راځی لکه (قَدْ تَّبَيَّنَ الرُّشْدُ مِنَ الْغَيِّ) دَ دینه مراد صلاحیت دَ عقل او دَ حفاظت دَ مال دے (ابن عباس رضی الله عنهما) یا صلاحیت دَ عقل او دَ دین دے (حسن) ۔ اکثر علماؤ وئیلی دی چه رشد نه وی مګر روستو دَ بلوغ نه ۔ او که دَ بلوغ نه روستو پکښې هم رشد معلوم نه شو نو بیا به په هغه باندے حجر (پابندی) لګولی ۔ دا په نیز دَ اکثرو صحابه کرامو ، تابعینو او امام احمد ، ابویوسف ، امام محمد او امام مالک رحمهم الله سره ۔ او په دے باندے دَ احنافو هم فتوی ده۔

فَادْفَعُوْٓا اِلَيْهِمْ اَمْوَالَهُمْ ، ابن عطیه وئیلی دی چه په دے زمانه کښې به دا معامله قاضی او بادشاه ته پیش کیدیشی او دَ هغه په واسطه به ورته مال ورکیدیشی ځکه چه دے زمانه کښې فساد ډیر دے۔

وَلَا تَاْكُلُوْهَآ اِسْرَافًا وَّبِدَارًا ، دا دواړه حالونه دی

په معنیٰ دَ اسم فاعل سره یا مفعول دے - اسراف په لغت کښ دَ حد نه تیریدلو ته وئیلے شی او په خرچ کولو کښ خطایٔ او غفلت ته هم وئیلے شی (قرطبی) بِدَارًا مصدر دے دَ باب مفاعله نه دَ دواړو جانبو نه صدور غواړی یعنی ولی دَ یتیم نه دَ هغه دَ مال په اخستلو کښ وړاندے والے کوی او یتیم لوئے والی ته روان وی - یا مفاعله په معنیٰ دَ نفس فعل ده دَ یو جانب نه صدور کافی دے -

اَنْ یَّکْبَرُوْا، دا دَ بِدَارًا دَ پاره په پټ مضاف سره مفعول له دے یعنی مَخَافَةَ کِبَرِهِمْ بدار کویٔ دَ وجے دَ یرے دَ بالغ کیدلو دَ هغه نه - یعنی زر زر ئے بے ضرورته خرچ کویٔ دَ دے یرے دَ وجے نه چه دے به لوئے شی نو بیا به زما نه مال غواړی او حساب به راسره کوی - او دا دَ لَا تَاْکُلُوْا دَ نهی دَ لاندے داخل دے -

وَمَنْ کَانَ غَنِیًّا فَلْیَسْتَعْفِفْ، عفت ځان بچ ساتل دی دَ حرام نه او فَلْیَسْتَعْفِفْ کښ مبالغه ده یعنی دَ حرام او مشتبهاتو نه ځان بچ ساتل - او دا سے په سوره نور ۳۳ کښ هم دی -

وَمَنْ کَانَ فَقِیْرًا فَلْیَاْکُلْ بِالْمَعْرُوْفِ، فقیر نه مراد دا دے چه کسب دَ نفقے ته محتاج دے نو که چرے دے دَ ځان دَ پاره مستقل کسب کوی نو دَ یتیم دَ مال حفاظت نشی کولے نو دے به دَ هغه دَ مال حفاظت کوی او تربیت به ئے کوی او دَ دے په بدل کښ به دَ هغه دَ مال نه دَ عرف مطابق اجرت اخلی - او حدیث دَ ابوداؤد او نسائیٔ په دے باندے دلیل دے چه یو شخص نبی صلی الله علیه وسلم ته وئیلی وو چه زه فقیر یم زما هیڅ مال او آمدن نیشته او زما سره دَ یتیم مال دے نو نبی کریم صلی الله علیه وسلم ورته او فرمائیل چه دَ یتیم دَ مال نه خوره خو اسراف او تبذیر به نه کوئے او جمع بهٔ تر ینه

لِلرِّجَالِ نَصِيبٌ مِّمَّا تَرَكَ

دَ نارینو دَپاره برخه ده دَ هغه مال نه چه پریخی وی

الْوَالِدَانِ وَالْأَقْرَبُونَ وَلِلنِّسَاءِ

مور او پلار او خپلوانو او دَ زنانو دَپاره

نَصِيبٌ مِّمَّا تَرَكَ الْوَالِدَانِ

برخه ده دَ هغه مال نه چه پریخی وی مور او پلار

وَالْأَقْرَبُونَ مِمَّا قَلَّ مِنْهُ

او خپلوانو که لږ وی دَ هغې نه

هم نه کوټے - او دَ ابن عباس رضی الله عنهما او ابوالعالیه او شعبی نه روایت دے چه دَ هغه دَ ښاروو دَ پیو نه فائده اخستلے شی او دغه شان دَ سورلۍ نه او دَ هغې دَ مریانو نه فائده اخستلے شی۔

فَإِذَا دَفَعْتُمْ إِلَيْهِمْ أَمْوَالَهُمْ فَأَشْهِدُوا عَلَيْهِمْ، دا دَ فَعٌ عام ده که مال نقد ورکول وی یا خرچ کول وی په هغه باندے په دے دواړو وختونو اشهاد (ګواه پیش کول) ضروری دی - دَ بعضو په نیز مستحب دے او دَ بعضو په نیز فرض دے - او فرضیت ظاهر دَ قرآن دے۔ وَكَفَىٰ بِاللَّهِ حَسِيبًا، په دے جمله کښې تخویف دے هر منکر دَ حق لره - کَفیٰ، فعل ماضی ده او باللّٰه دَ دے فاعل دے او باء، دَ تاکید دَ پاره ده - ابو البقاء او ابن عطیه وغیره وئیلی دی چه دا باء ځکه دَ دے دَ پاره راوړیده چه دلالت اوکړی په معنیٰ دَ امر باندے یعنی اکتفوا بالله - حَسِيبٌ، په معنیٰ دَ محاسب (حساب کوونکے) یا په معنیٰ دَ کافی دے (اللباب)۔

اَوْ كَثُرَ ؕ نَصِيْبًا مَّفْرُوْضًا ﴿۷﴾

او كه ډير وي، برخه ده مقرر كړے شوے۔

ک:- په دے آيت كښ شپږم حكم دے. دَ ميراث په باره كښ دَ ظلم دَ دفعه كولو دَ پاره اورد دے په رسم دَ جاهليت والو باندے۔ دَ هغوی رسم دا وو چه چا به جنګونه نه شو كولے نو هغوی له به ئے په ميراث كښ برخه نه وركوله يعنى، زنانه، يو ډاګان، واړه بچى او معذوره خلق۔ نو په دے آيت كښ دَ هغوى برخې په اجمالى طريقے سره ذكر كوى او تفصيل به ئے روستو راځى۔

لِلرِّجَالِ نَصِيْبٌ مِّمَّا تَرَكَ الْوَالِدٰنِ وَالْاَقْرَبُوْنَ، رِجَالِ عام دى كه بالغ وى كه نابالغه وى او كه معذوره وى او كه روغ وى۔ او علت دَ ميراث ولادت يا قرابت دے او قرابت زوجيت ته هم وئيلے شى دَ دے وج نه ئے الوالدان او الاقربون دواړه ذكر كړل۔

وَلِلنِّسَآءِ نَصِيْبٌ مِّمَّا تَرَكَ الْوَالِدٰنِ وَالْاَقْرَبُوْنَ، په ديكښ هم دغه تعميم دے خو سره دَ علت نه۔ او ترك په دواړو كښ هغه مال ته اشاره ده چه پريخودلے شوے وى روستو دَ مرګ نه۔

مِمَّا قَلَّ مِنْهُ اَوْ كَثُرَ، دا جار مجرور په اصل كښ صفت دے دَ نصيب دَ پاره يا په مما ترك كښ بدل دے دَ "ما" نه۔

نَصِيْبًا مَّفْرُوْضًا، زجاج او مكى وئيلى دى چه دا حال دے دَ نصيب نه يا دَ فاعل دَ قَلَّ نه۔ مَفْرُوْض، فرض په اصل كښ پريكولو او يقينى ځيز ته وئيلے شى ځكه چه په هغے كښ دَ شيانو قطع (پريكول) اوشى۔ يعنى هغوى ته دا حصے وركول الله تعالىٰ فرض كړيدى چه دَ هغے تفصيل روستو ذكر كيږى او اشاره ده چه هر يوه برخه دَ بل دَ برخے نه قطع او جدا كولے شى۔ يا فرض په معنىٰ دَ تقدير او

وَاِذَا حَضَرَ الْقِسْمَةَ اُولُوا الْقُرْبٰى

او کله چه حاضر شی تقسیمولو (د مال) ته خپلوان خلق

وَالْيَتٰمٰى وَالْمَسٰكِيْنُ فَارْزُقُوْهُمْ

یتیمان او مسکینان نو خرچه ورکړئ هغوی ته

مِّنْهُ وَقُوْلُوْا لَهُمْ قَوْلًا

د هغې د مال نه او وایئ هغوی ته وینا

مَّعْرُوْفًا ﴿۸﴾

ترجمه۔

مقرر کولو دے تو اشاره ده چه دغه برخې په قرآن کریم یا احادیثو یا اجماع سره مقرر کړے شویدی۔

ف ۸:۔ په دے آیت کښ اووم حکم دے چه په هغې کښ دفعه د ظلم کوی د کمزورو وارثانو نه۔

وَاِذَا حَضَرَ الْقِسْمَةَ، دا اسم دے په معنی د اقتسام یعنی تقسیمول او مراد ترینه تقسیمول د میراث دی۔

اُولُوا الْقُرْبٰى وَالْيَتٰمٰى وَالْمَسٰكِيْنُ فَارْزُقُوْهُمْ مِّنْهُ، د مِنْهُ ضمیر القسمه ته راجع دے په معنی د مال مقسوم سره او الف لام پکښ عهدی دی چه په لفظ د نصیب کښ (مخکښ آیت کښ) تقسیم ته اشاره ده۔ او د دے آیت په باره کښ څلور اقوال دی۔ اول قول د ابن عباس رضی الله عنهما او د ډیرو تابعینو دے چه د دینه مراد هغه کسان دی چه په میراث کښ د هغوی خپل څه حق نه وی خو د تقسیم په وخت کښ هلته حاضر شی نو هغوی لره (د ټولو ورثاؤ په رضا سره) څه برخه ورکول پکار دی او دا امر د استحباب د پاره دے واجب نه دے نو دا منسوخ نه دے۔ او د قتاده نه روایت دے چه دا

حکم ثابت دے په طریقه دَ استحباب سره لیکن اکثر خلقو په دے باندے عمل پرېخودلے دے (یا ئې ورته توجه نه ده کړے) او امام بخاری رحمه الله هم دا قول دَ ابن عباس رضی الله عنهما نه نقل کړیدے۔
دویم قول کښې یو روایت دَ ابن عباس او ابوموسیٰ اشعری رضی الله عنهما او بعضے تابعینو دے چه دا حکم واجب وو لیکن په نزول دَ میراث دَ آیت سره (چه روستو راځی) دا منسوخ شویدے۔ دریم قول، روایت دے دَ سعید بن المسیب او ابن زید نه چه دَ آیت نه مراد دا دے چه یو انسان ته مرګ راشی او دے وصیت کوی نو خپلوانو او یتیمانو او مسکینانو دَپاره دِ مناسب وصیت اوکړی او مراد ترینه هغه کسان دی چه په میراث کښې ئې برخه نه رسیږی (لکه اولاد دَ هغه ځوے چه هغه دَ خپل پلار نه مخکښې وفات شوے وی وغیره) او دا هم په طریقه دَ استحباب سره دے۔ اوکه دَ وجوب په طور سره وی نو منسوخ دے (قرطبی)۔
څلورم قول، روایت دَ سعید بن جبیر دے حاصل ئې دا دے چه دَ دینه مراد هغه کسان دی چه په میراث کښې دَ هغوی برخه شته نو الیتامی والمساکین عطف تفسیر دَ اولوا القربیٰ دے یعنی دوی دَ میراث دَ تقسیم مطالبه کوی فی الحال دَ خپل حاجت دَ وجے نه او فی الحال تقسیم مشکل وی نو دوی له دے دَ ضرورت مطابق لږه برخه مخکښې ورکړیشی (چه هغه به روستو دَ دوی په حصه کښې حساب شی) نو دا حکم دَ دوی دَ ضرورت په بناء واجب دے۔ دے قول ته ابن عاشور اشاره کړیده او زمونږ مشائخو کرامو هم دا قول غوره کړیدے۔
وَقُولُوا لَهُمْ قَوْلًا مَّعْرُوفًا، دَ مخکښې اقوالو په بناء دَ دینه مراد دا دے چه دوی ته دِ اووئیلے شی چه ستاسو په دے مال کښې شرعًا حصّه نیشته لیکن صرف دَ صدقے

وَلْيَخْشَ الَّذِيْنَ لَوْ تَرَكُوْا

او ودې ویرېږي هغه کسان چه پرېږدي هغوی

مِنْ خَلْفِهِمْ ذُرِّيَّةً ضِعٰفًا

د ځان نه روستو اولاد کمزوري

خَافُوْا عَلَيْهِمْ فَلْيَتَّقُوا اللّٰهَ

یره کوي په هغوی باندې (د ظلم د خلقو نه)

وَلْيَقُوْلُوْا قَوْلًا سَدِيْدًا ﴿۹﴾

او خامخا وايي دې حقه (برابر)۔ وينا

په طور سره دا تاسوله درکوو۔ او بناء په آخري قول دا مراد دے چه اوس د ضرورت د وجې نه دالږه برخه واخلئ او څه وخت روستو به پوره تقسیم اوکړو نو بیا به تاسو ته ستاسو برخه پوره درکړو۔ نو مقصد دا شو چه د یتیمانو او مسکینانو خفه کول جائز نه دي بلکه د هغوی ضرورت پوره کول پکاردي۔

۹ :۔ په دے آیت کښ وعظ او ترغيب دے عمل کولو ته په تېر شوے احکامو په باره د یتیمانو او سفهاؤ کښ او تائید دے د هغه حکم چه په فارزقوهم او قولو کښ ذکر شویدے۔

وَلْيَخْشَ ، دا صیغه د امر غائب ده په نیز د سیبویه د دینه لام د امر بغیر د ضرورت شعري نه نشي حذف کیدے۔

اَلَّذِيْنَ لَوْ تَرَكُوْا مِنْ خَلْفِهِمْ ، اَلَّذِيْنَ سره د موصول نه د ولیخش فاعل دے او مفعول د هغې پټ دے یعني الظلم على اولاد غیره (د ظلم کولو نه په اولاد د بل چا باندے)

ذُرِّيَّةً ضِعٰفًا ، دا مفعول دے د ترکو د پاره او مِنْ خَلْفِهِمْ کښ د ده مرګ ته اشاره ده۔ او ذُرِّيَّةً معنیٰ مخکښ تیره شویده۔ او وړو بچو او ښځو ته شامل دے۔ ضِعٰفًا قید د پاره د تاکید دے۔ یا هر کله چه لفظ ذریةً نفس نسل

ته عام دے نو دائے قید احترازی ذکر کړو۔
خَافُوْا عَلَيْهِمْ، دا جمله صفت یا حال دے دَ ذریة دپاره او دَ دے خافوا مفعول پټ دے یعنی ظُلْمَ النَّاسِ عَلَيْهِمْ (دَظلم کولو دَ خلقو ته په دوی باندے)۔ او دَ حرف لو جزاء پټه ده یعنی خفه کیږئ۔ یا خافوا جزاء ده دَ لَوْ په تقدیر دَ لام سره یعنی خَافُوْا عَلَيْهِمْ، په تفسیر دَ آیت کښ څلور اقوال دی۔ اول دا چه دا وعظ دے وصیانو او کفالت کوونکو دَ یتیمانو ته یعنی تاسو دَ دغه یتیمانو سره داسے معامله کوئ لکه چه تاسو غواړئ چه ستاسو دَ مرګ نه روستو دے ستاسو دَ اولاد سره اوکړیشي۔ یعنی په هغوئ باندے ظلم مه کوئ۔ او روستو آیت هم په دے باندے دلالت کوی۔ دویم قول، دا ټول انسانیت ته وعظ دے چه دَ یتیمانو او دَ خلقو دَ اولاد په باره کښ ځان دَ ظلم کولو نه بچ اوساتئ لکه چه تاسو غواړئ چه ستاسو اولاد سره دے ظلم اونکړیشي۔ یعنی هر کله چه یو انسان دَ خپل اولاد دَپاره امن غواړی نو دَ بل چا په بچو باندے هم ظلم او زیاتے نه کوی ځکه اکثر دَ ظلم سزا په دنیا کښ ملاویږی۔ دریم قول، په دے سره مراد هغه شخص دے چه مرګ ورته حاضر شی نو بعض (کم عقل) حاضرین ورته وائی چه وصیت اوکړه، خیرات اوکړه، مریان آزاد کړه، دَ ځان غم اوکړه دَ اولاد فکر مه کوه هغوی له به الله تعالیٰ روزی ورکوی نو هغه شخص دَ دوی په وسوسے سره دهوکه شی نو ټول یا اکثر مال خیرات کړی او وارثان محروم کړی۔ نو داسے کسانو ته خطاب اوشو چه تاسو په خپل اولاد باندے یره کوئ او خفه کیږئ نو دَ بل چا اولاد باندے هم خفه کیږئ کنه. دا قول قرطبی دَ ابن عباس رضی الله عنهما، قتاده، سدی، سعید بن جبیر، ضحاک او مجاهد نه نقل کړیدی۔ څلورم قول دَ دے مخکښ قول برعکس دے چه دَ وصیت کولو نه ئے منع کوئ کله چه خپلوانو (غیر وارثانو) ته وصیت کوی۔ نو حکم دَ

إِنَّ الَّذِينَ يَأْكُلُونَ أَمْوَالَ

يقينًا هغه كسان چه خوري مالونه

الْيَتَامَىٰ ظُلْمًا إِنَّمَا يَأْكُلُونَ

دَ يتيمانو په ناحقه سره يقينًا دوي اچوي

فِي بُطُونِهِمْ نَارًا ۖ وَسَيَصْلَوْنَ سَعِيرًا ﴿١٠﴾ ع ۱۰/۱۲

په ګيډو خپلو كښ اور او زر دے چه داخل به شي اور ته۔

آيت دے ټولو ته شامل دے۔

فَلْيَتَّقُوا اللَّهَ ، هر كله چه په خشيت سره امر كول په دليل سره ثابت شو نو اوس په هغې باندے تفريع كوي په تقوىٰ سره۔ يعني خشيت قلبي مستلزم دے پوره تقوىٰ لره په اعتبار دَ اعمالو سره۔

وَلْيَقُولُوا قَوْلًا سَدِيدًا ، دا امر عام دے كفيل او وصي ته خطاب دے يعني يتيم ته دَ خپل اولاد پشان دَ خائسته آدابو تعليم وركړي۔ دا رنګ حاضرينو دَ مريض ته خطاب دے يعني خپل مريض مرض الموت ته دِ اووائي چه حقوق واجبه ادا كړه او مناسب شرعي وصيت اوكړه دا رنګ هغه ته دے دَ لا اله الا الله تلقين اوكړي ليكن امر دِ ورته نه كوي۔ دا رنګ وصيت كوونكے دِ وصيت كولو په وخت كښ دَ مال دَ دريمے حصے نه تجاوز نه كوي او وارثان دِ فقيران نه پريږدي چه بيا دَ خلقو نه سوالونه كوي (دا سے په حديث كښ راغلي دي) دا رنګ عام مسلمانان دِ يتيم ته سخته وينا او قهر نه كوي۔ سَدِيدًا ، هغه قول او فعل چه حق او په انصاف باندے بنا وي او دَ شرع سره موافق وي۔

نت ۱۰ :۔ په دے آيت كښ تخويف اخروي دے هغه چا دَ پاره چه يتيمانو باندے دَ هغوي په مال كښ ظلم كوي۔

إِنَّ الَّذِينَ ، دا ئے بغير دَ حرف عطف نه په إِنَّ سره

ځکه ذکر کړو چه دا علت دے د ایجاب د رزق کهغوی د پاره او د پاره د قول سدید هغوی ته - او د دینه مراد عام دے هغه وصیان او کفیلان چه د یتیمانو مالونه ضائع کوی یا هغه خلق چه یتیمانو ته د میراث برخه نه ورکوی - یا هغه ظالمان چه د یتیمانو مالونه په غیر شرعی طریقے سره خوری لکه په دے زمانه کښ په مړو پسے ماښامونه، څلویښتۍ او نور خیراتونه او اسقاط چه په هغے کښ د یتیم برخه وی -

یَاْکُلُوْنَ، د دینه مراد صرف خوراک دے یا د هغے اخستل او برباد ول دی که په هره طریقه سره وی -

اَمْوَالَ الْیَتٰمٰی ظُلْمًا، لفظ د ظُلْمًا تمیز دے یا حال یا مفعول مطلق دے په پټ صفت سره یعنی اکلاً ظلمًا - او دا قید ئے د دے وجے نه ذکر کړو چه کله کله د یتیم مال په حق شرعی سره هم اخستلے کیږی لکه اجرت او نفقه د ولی د پاره وغیره -

اِنَّمَا یَاْکُلُوْنَ فِیْ بُطُوْنِهِمْ نَارًا، فِیْ بُطُوْنِهِمْ لفظ کښ ډیر خوراک ته اشاره ده یعنی خیټه ډکوی - دا رنګ دا لفظ دلالت کوی په ډیر قباحت د دوی باندے - نَارًا نه مراد د جهنم اور دے چه ذکر د مسبب او مراد ترینه سبب دے یعنی حرام - یا د دینه مراد دردونه او مختلف مصائب د دنیا دی چه حرام مال په دنیا کښ د هغے د پاره سبب اوګرځی - یا مراد د دینه عین اور دے چه دوی به په جهنم کښ اور خوری لکه چه حدیث د ابوسعید خدری رضی الله عنه دے او ابن جریر را نقل کړیدے هغه په دے باندے دلیل دے -

وَسَیَصْلَوْنَ سَعِیْرًا، هر کله چه مخکښ د جهنم اور مراد وی نو دا جمله بیا په طریقه د تفسیر سره ده - او که د نار نه دنیوی مصائب مراد وی نو بیا په دے جمله کښ د عذاب اخروی ذکر دے روستو د عذاب دنیوی نه - صلی دلالت کوی په

يُوصِيكُمُ اللّٰهُ فِىٓ اَوْلَادِكُمْ ق

کلک حکم درکوی تاسو ته الله تعالی په باره د میراث د اولاد ستاسو کښې

لِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الْاُنْثَيَيْنِ ج

د نارینه د پاره پشان د برخے د دوو زنانو ده

فَاِنْ كُنَّ نِسَآءً فَوْقَ اثْنَتَيْنِ

توکه وی زنانه (دوه یا) زیاتے د دوو نه

فَلَهُنَّ ثُلُثَا مَا تَرَكَ ج وَاِنْ

نو دوی لره دوه حصے دی د هغه مال نه چه پریخودلے وی ده، او که

كَانَتْ وَاحِدَةً فَلَهَا النِّصْفُ ط

یوه وی نو هغے لره نیمه برخه ده ،

وَلِاَبَوَيْهِ لِكُلِّ وَاحِدٍ مِّنْهُمَا

او د ده د مور او پلار د پاره هر یو لره د دے دواړو نه

السُّدُسُ مِمَّا تَرَكَ اِنْ كَانَ

شپږمه برخه ده د هغے نه چه پریخودلے وی دهٔ که چرے وی

لَهٗ وَلَدٌ ج فَاِنْ لَّمْ يَكُنْ لَّهٗ

هغه لره اولاد ، او که نه وی هغه لره

وَلَدٌ وَّوَرِثَهٗ اَبَوٰهُ فَلِاُمِّهِ

اولاد او وارثان د ده مور او پلار د ده وی نو مور د ده لره

الثُّلُثُ ج فَاِنْ كَانَ لَهٗ اِخْوَةٌ

دریمه برخه ده۔ او که وی ده لره رونړه نو

دخول بائنے اور ته د سوزیدلو د پاره۔ سَعِیر هغه اور دے چه
په لمبو باندے مشتمل وی نو سعیر په معنیٰ د سعور دے۔

فَلِاُمِّهِ السُّدُسُ مِنۢ بَعْدِ

مور لره ئې شپږمه برخه ده روستو دَ پوره کولو

وَصِيَّةٍ يُّوْصِيْ بِهَآ اَوْ دَيْنٍ ؕ

دَ وصیت نه چه وصیت ئې کړے وی په هغې سره او دَ ادا کولو دَ قرض نه،

اٰبَآؤُكُمْ وَاَبْنَآؤُكُمْ لَا تَدْرُوْنَ

پلاران ستاسو او ځامن ستاسو نه پوهیږئ

اَيُّهُمْ اَقْرَبُ لَكُمْ نَفْعًا ؕ

تاسو چه کوم یو دَ دوی زیات نیزدے دے تاسو ته په نفع کښ،

فَرِيْضَةً مِّنَ اللّٰهِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ

حصے مقرر کړے شویدی دَ طرف دَ اللّٰه تعالیٰ نه، یقیناً اللّٰه تعالیٰ

عَلِيْمًا حَكِيْمًا ﴿۱۱﴾

پوهه دے حکمتونو والا دے۔

س۱۱: په دے آیت کښ اتم حکم دے۔ او دا تفصیل دَ هر هغه برخو او حصو دے چه په للرجال نصیب کښ اجمالاً ذکر شوے وے۔ او په دیکښ تصریح ده دَ رد په جاهلیت باندے چه هغوی په زنانو، نابالغو او معذورو کسانو ته په میراث کښ برخه نه ورکوله۔

يُوْصِيْكُمُ اللّٰهُ، قفال وئیلی دی چه ایصاء، په اصل کښ رسولو ته وئیلے شی او زجاج وئیلی دی چه ایصاء دلته په معنیٰ دَ فرض کولو ده۔ ابن عاشور وئیلی دی چه ایصاء امر کول دی په هغه څیز چه په هغے کښ نفع دَ مامور وی او دَ امر کوونکی دَ طرف نه اهتمام وی۔ او ابن کثیر فرمائی چه معنیٰ دا ده چه امر کوی تاسو ته په عدل سره۔ دا رنګ وصیت هغه حکم ته وئیلے شی چه دَ هغے دَ پاره ناسخ نه وی نو دَ دینه مراد تاکیدی حکم

کول دی نو دا تعبیر دلیل دے په ډیر اهتمام باندے په مسئله دَ میراث کښ۔
فائده ۱:۔ ابن کثیر وئیلی دی چه دا آیت او ورپسے آیت او دَ سورت آخری آیت ټول په علم فرائض کښ دی او دَ میراث شرعی احکام دَ دے آیاتونو نه اخستلے شویدی او احادیث دَ نبی کریم صلی الله علیه وسلم دَ دے تفسیر دے. او دَ علم فرائض په زده کولو کښ احادیث راغلی دی۔ او قرطبی وئیلی دی چه دا آیت رکن دے دَ ارکانو دَ دین نه او ستن ده دَ سنتو دَ احکامونه او ام ده دَ امهاتو دَ آیتونو نه۔ او وئیلے شویدی چه علم فرائض دریمه حصه دَ علم ده بلکه نیم علم دے لیکن دا اول داسے علم دے چه دَ خلقو نه به واخستلے او هیر کړیشی۔
فائده ۲:۔ دَ میراث دَ پاره شرعًا درے اسباب دی اول نسبت دَ تولد یعنی اولاد او والدین۔ دویم سبب نسبت دَ زوجیت یعنی خاوند او ښځه۔ دریم سبب نسبت دَ اخوت۔ اول دواړه په دے دوه آیتونو کښ ذکر دی او دریم دَ دے دویم په روستو حصه کښ او په آخری آیت کښ ذکر دے. نو په اول آیت کښ دَ توالد سره شپږ مسائل ذکر دی او په دویم آیت کښ په نسبت دَ زوجیت سره څلور او په نسبت دَ اخیافی رورولی او خورولی سره پنځه ذکر دی۔
ورثه درے قسمه دی اول ذوی الفروض دویم عصبه دریم ذوی الارحام۔ دَ روستنو په میراث کښ اختلاف شته دے۔ ذوی الفروض هغه کسان دی چه دَ هغوی خاص برخے په قرآن کریم، او احادیثو یا په اجماع سره ثابت او ذکر دی او هغه شپږ برخے دی یعنی نیمه، څلورمه حصه، اتمه حصّه، دوه دریمے حصے، دریمه حصه او شپږمه حصه۔ او ذوی الفروض دوه قسمه دی یعنی نارینه او زنانه۔ بیا نارینه لس قسمه دی، ځوے، نمسے

(اګرچه نور هم ختکه شته لکه کړوسے وغیره)، پلار، نیکه (اګرچه نور هم په بره وي لکه اورنیکه وغیره)، ورور، وراره، تره او د تره ځوے، خاوند او مولی د آزادولو۔ او زنانه اووه قسمه دي لکه لور، نوسئ (اګرچه ختکه وي)، مور، نیا (اګرچه بره هم وي)، خور، ښځه او مولاتة د آزادولو۔ او عصبه هغه کسان دي چه د هغوی برخے په خاص طریقے سره نه وي ذکر لیکن کوم میراث چه د ذوی الفروض د برخونه باقي پاتے شي نو هغه د دوی حق وي۔ نو روستو د اداکولو د قرض او وصیت نه (چه په دریمه حصه کښ وي) تقسیم د میراث به کیږي نو که چرے ذوی الفروض موجود وي نو د هغوی برخے به اول ورکړیشي او د هغوی نه روستو چه کوم مال پاتے شي نو هغه به په عصبوٗ کښ تقسیمیږي۔ او حق د عصبوٗ د قرآن کریم نه په سکوت سره او د احادیثو نه په صراحت سره معلوم دے۔ نبی صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دي چه اورسوئ فرائض اهل د هغوی ته او باقي هغه شخص ته ورکړئ چه مړی ته نیزدے وي۔

فائده ۳: یوصیکم خطاب اګرچه عام دے لیکن په سبب د احادیث صحیحه سره ئے تخصیص کړے شوے دے۔ اول دا چه وارث به کافر نه وي لکه چه په حدیث کښ دي لا یرث الکافر المسلم۔ دویم دا چه مرئے (غلام) به نه وي یعنی مرئے د آزاد شخص وارث نشي کیدے۔ دریم دا چه قاتل به نه وي یعنی قاتل به د مقتول د میراث نه محروم وي۔ څلورم دا چه د انبیاء علیه السلام نه میراث نشي اوړے کیدے په دلیل د صحیح حدیث سره چه (نَحْنُ مَعْشَرُ الْاَنْبِيَاءِ لَا نُوْرَثُ مَا تَرَكْنَاهُ صَدَقَةٌ) (زمونږ د جماعت د انبیاؤ نه میراث نه اوړے کیږي مونږ چه څه پریخودلے وي نو هغه به صدقه وي) او دا حدیث متواتر دے د

او ټولس صحابه کرامو نه نقل دے۔ او دا مسئله د شیعه ګانو په کتابونو کښ هم شته۔ شرح نهج البلاغه د ابن ابی الحدید کښ لیکلی دی چه ابوبکر رضی الله عنه دا حدیث ذکر کړو نو فاطمه رضی الله عنها راضی شوه۔

سوال :- په حدیث کښ ثابت دی چه فاطمه رضی الله عنها غصه او خفه شوه او د ابوبکر رضی الله عنه سره ئے تر مرګه پورے خبرے نه وے کړے؟

جواب :- بیهقی او عینی په عمدة القاری او ابن حجر په فتح الباری کښ ذکر کړیدی چه ابوبکر رضی الله عنه د فاطمی رضی الله عنها دروازے ته راغلے وو تر دے پورے چه هغه رضا شوه۔ او ابن کثیر په البدایه والنهایه جلد پنځم صفحه ص۲۸۹ کښ هم لیکلی دی۔ او د خبرو نه کولو مطلب دادے چه په میراث طلب کولو کښ د هغه سره تر مرګه پورے خبره اونکړه ځکه چه په حدیث اوریدلو سره د هغے تسلی حاصله شوه۔

فِيْٓ اَوْلَادِكُمْ ، اول ئے د اولاد په میراث باندے شروع اوکړه ځکه چه د انسان تعلق د اولاد سره د هرچا نه مخکښ او ډیر وی۔ او دلته مضاف پټ دے یعنی فی ارث اولادکم۔ او ارث عام دے که اولاد د مور پلار نه میراث اوړی او که والدین د اولاد نه میراث اوړی۔ نو د اولاد دوه حالات دی۔ حالت د انفراد (یوازے والی) او حالت د اجتماع د والدینو سره۔ او حالت د انفراد ئے درے قسمه دے۔ مذکر او مؤنث به دواړه وی دا ئے په للذکر مثل حظ الانثیین سره ذکر کړیدے۔ یا به صرف مؤنث وی او دا ئے وروستو جملو کښ ذکر کړیدی۔ او چه یوازے مذکر وی نو د هغه حال ئے صراحتاً نه دے کړے نو د هغه د پاره ټول مال دے په طریقه د عصوبت سره

لِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الْاُنْثَيَيْنِ ، دا اوله مسئله ده او د دے دوه صورتونه دی۔ اول صورت دا دے چه څوک (سړے یا ښځه) مړ

شي او يو ځوے او يوه لورئے پاتے شي نو مال به درے برخے شي دوه برخے به ځوے له ورکړيشي او يوه برخه به لور ته ورکړيشي۔ دويم صورت دا دے چه يو ځوے او دوه لونړه پاتے شي نو مال به په مينځ نيم کړيشي، نيمه برخه به ځوے ته ورکړيشي او باقي نيمه به دواړو خوينډو يعني لونړو باندے برابر تقسيم کړيشي۔

سوال:۔ دا سے ئے ولے او نه فرمائيل چه (للانثيين مثل حظ الذکر يا للانثى مثل نصف حظ الذکر) ؟

جواب:۔ په دے عبارت کښ تصريح ده په فضيلت د مذکر په مؤنث باندے دارنګ مذکر (په سبب د جاهليت سره) طمع کوی چه ټول مال به زما وی نو او وئيلے شو چه ټول مال صرف ستا حق نه دے بلکه مؤنث هم درسره شريکے دی۔

سوال:۔ زنانه کمزورے او بے طاقته ده نو د هغے برخه ئے ولے د مذکر د برخے نيمه کړځولے ده؟

جواب:۔ په مذکر باندے د ښځے او د خور او لور وغيره نفقه واجب ده نو مذکر ډير مال ته محتاج دے په نسبت د مؤنث سره۔

فَإِنْ كُنَّ نِسَاءً فَوْقَ اثْنَتَيْنِ ، د كُنَّ ضمير مؤنث کسانو ته راجع دے هغه چه په ضمن د اولادكم کښ داخل دی۔ يا راجع دے متروکاتو (پرې بخودلے شوو) ته۔ او په ديکښ دويمه مسئله ده يعني چه ورثه صرف زنانه اولاد وی مذکر ورسره نه وی۔

فَلَهُنَّ ثُلُثَا مَا تَرَكَ ، يعني ټول مال به درے برخے کړے شي نو دوه برخے به د هغے زنانو وارثانو کښ پوره تقسيم کړيشي او يو ثلث (برخه) به د عصبوٴ د پاره وی که هغه هر څوک وی۔

وَإِنْ كَانَتْ وَاحِدَةً فَلَهَا النِّصْفُ ، دا دريمه مسئله ده چه صرف يوه لور پاتے وی او مذکر (رورور) ورسره نه وی۔ نو ټول مال به دوه حصے کړيشي يو حصه به هغه لور ته

ورکړیشي او باقي به عصبؤ کښې تقسیم کړیشي۔
سوال:۔ په دیکښې ئې دَ دوه لونړه دَ حصے وضاحت نه دے کړے شوے نو هغه به څرنګه میلاویږي؟
جواب:۔ دَ هغې دَ علم دوه طریقے دي اوله دا چه هر کله یوے لور له دَ یو ورور سره دریمه حصه ملاویږي په دلیل دَ للذکر مثل حظ الانثیین سره نو یوے لور له دَ بلے لور په ملګرتیا کښې هم خامخا ثلث ملاویږي نو دوو دَپاره دوه ثلثه شول۔ دویمه طریقه قیاس دے په دوه خویندو باندے چه دَ دے سورت په آخري آیت کښې ذکر دي چه خویندے خو په نسبت دَ لونړو لرے دي لیکن چه خویندو دَ مړي ته دوه حصے ملاویږي نو دوه لونړو له به ضرور دوه حصے ملاویږي۔
سوال:۔ نو په لفظ دَ فوق ذکرکولو کښې څه فائده ده؟
جواب:۔ په دیکښې یو وهم دفعه کوي۔ هغه دا دے چه هر کله دوه لونړو له دوه ثلثونه دي نو آیا دریو لونړو دَپاره به ټول مال وي (یعني دریواړه ثلثونه) نو په دے سره ئې دغه وهم دفعه کړو چه دوه نه به زیاتو له هم دغه دوه ثلثه (حصے) دي هغه په هغوی برابر تقسیمیږي۔
سوال:۔ دَ سورت په آخري آیت کښې ولے داسے نه دي فرمائیلي؟
جواب:۔ هر کله چه دَ لور استحقاق په نسبت دَ خور سره ډیر دے نو دلته وهم پیدا کیدلو چه آیا دَ دوونه زیاتو له به حصه زیاتیږي۔ او دَ خویندو باره کښې دا وهم نه پیدا کیږي۔

وَلِاَبَوَيۡهِ لِكُلِّ وَاحِدٍ مِّنۡهُمَا السُّدُسُ مِمَّا تَرَكَ اِنۡ كَانَ لَهٗ وَلَدٌ ، مخکښې ذکر شو میراث دَ اولاد دَ مور او پلار نه اوس ذکر کوي دَ مور او پلار دَ خپل اولاد (ځوے لور) نه ، نو دا څلورمه مسئله ده چه یو شخص مړ شي

او مور او پلار ئې پاتې وي او اولاد ئې هم وي نو دَ هر
يو (مور او پلار) دَ پاره په شپږمه شپږمه برخه وي.
او که اولاد ئې مذکر وي نو باقي ټول مال به دَ هغه وي
او که مذکر او مؤنث دواړه وي نو په طريقه دَ للذكر
مثل حظ الانثيين به باقي مال تقسيم کړے شي او که
صرف مؤنث (لونړه) پاتې وي نو که يوه وي نو دَ هغې دَ پاره
نيمه دَ کل مال ده او که دوه وي يا زياتې وي نو دَ هغوي
دَ پاره به دوه ثلثه وي لکه چه مخکښ تير شول او باقي
به پلار ته ورکيدے شي په وجه دَ عصوبت بانن ے - لِأَبَوَيۡهِ
خبر مقدم مبدل منه دے او لِكُلِّ وَاحِدٍ مِّنۡهُمَا دَ هغې نه
بدل دے او السُّدُسُ مبتدا ده - او ضمير دَ أَبَوَيۡهِ راجع
دے هغه ميت ته چه لفظ دَ ترك په هغه بانن ے دلالت
کوي - او په لفظ دَ ابويه کښ تغليب کړے شويدے دا په
اصل کښ لاب و لام وو - لِكُلِّ وَاحِدٍ بدل راوړلو کښ
فائده دا وه چه معلومه شي چه يو سدس (شپږمه برخه)
دَ دوي شريک نه دے بلکه دَ هر يو دَ پاره جدا جدا
سدس دے -
سوال :- په دے حالت کښ ئې مور او پلار ولے برابر
کړيدي ؟
جواب :- دَ اولاد دَ پاره لکه څرنګه چه پلار مشقت او
تکليف دَ نفقې وغيره برداشت کوي نو دا رنګ مور هم په
وخت دَ حمل او وضع دَ حمل او دَ رضاع سره ډير مشقت
برداشت کړيدے نو ځکه دَ دوي برخې ئې يو شان او کړځولے
وَلَدٌ ، دَ دينه مراد خپل ځوے او لور ده او چه هغوي نه
وي نو ځوے دَ ځوے (نمسے) پکښ داخل دے په طريقه
دَ عموم دَ مشترك يا عموم مجاز سره بناء په اختلاف دَ
علماؤ -
فَإِن لَّمۡ يَكُن لَّهُۥ وَلَدٌ ، په دے نفي کښ ځوے او لور

او اولاد دځوے داخل دے۔
وَوَرِثَهُ اَبَوَاهُ، داقید یئے ددے وجے نه راوړو چه بعضے وخت مور او پلار موجود وی لیکن کافران وی یا مملوکان (غلامان) وی یا قاتلان وی نو هغوی ته په میراث د اولاد کښ څه حصه نشی ورکیدے۔
فَلِاُمِّهِ الثُّلُثُ، دا پنځمه مسئله ده۔ دلته د پلار د حصے ذکر او نشو نو مقصد یئے دا دے چه باقی دوه ثلثه دی نو هغه ټول مال د پلار د پاره دی ددے وجے نه چه هغه په داسے حال کښ عصبه دے
فَاِنْ كَانَ لَهُ اِخْوَةٌ فَلِاُمِّهِ السُّدُسُ، دا شپږمه مسئله ده او د (فَاِنْ لَّمْ يَكُنْ لَّهُ وَلَدٌ) د لاندے داخل ده یعنی اولاد یئے نه وی او مور او پلار او ورسره رونړه پاتے وی دوه رونړه یا زیات (ځکه چه په باب د میراث کښ دوه عدد هم په جمع کښ داخل دے) او دا رونړه اعیانی وی که علاتی یا اخیافی وی (قرطبی) نو ددے رونړو په وجود سره د هغوی مور محرومه شوه او د هغے حصه دریمے نه شپږمے ته راکوزه شوه۔ دیته د علم میراث په اصطلاح کښ حجب نقصان وئیلے شی۔ او ددے رونړو د حصے په باره کښ اختلاف دے۔ د جمهورو مسلك دا دے چه دوی د وجے د پلار نه محروم دی ځکه چه پلار یئے شته دے لیکن د مور حجب کوی۔ او په تیز د ابن عباس رضی الله عنهما د دوی د پاره هم سدس دے چه هغه کم کړے شوے دے د مور د حصے نه۔ دا رنګه په صرف خویندو (اخوات) کښ هم اختلاف دے۔ جمهور علماء وائی چه دوی د مور حجب نقصان کولے شی او د ابن عباس رضی الله عنهما قول دا دے چه دوی حجب نشی کولے۔ او هر کله چه مور شپږمه حصه واخلی نو په تیز د جمهورو باندے باقی ټول مال (پنځه حصے) د پلار دی۔
مِنْ بَعْدِ وَصِيَّةٍ يُّوْصِىْ بِهَآ اَوْ دَيْنٍ، زمخشری وئیلی دی چه دا متعلق دے د ماقبل تقسیم سره یعنی ددے حصو

تقسیم روستو دَ وصیت پوره کولو نه دے۔ او ابوحیان وئیلی دی چه دوی مستحق دی دَ دغه حصو روستو دَ وصیت نه او دلته مضاف پټ دے یعنی تَنۡفِیۡذُ وَصِیَّةٍ (جاری کول دَ وصیت)۔ یُوۡصِیۡ ضمیر راجع دے میت ته او دِیۡنٍ کښ هم مضاف پټ دے یعنی اداء دین۔ صاحب اللباب دَ ابوالبقاء نه نقل کړیدی چه او دَپاره دَ یو دَ دوه څیزونو دے ترتیب نه فائده کوی یعنی په دے دواړو کښ که یو وی یا دواړه وی لیکن دَ میراث نه مخکښ به وی (یعنی وصیت به پوره کیږی (په دریمه حصه کښ) او قرض به اداء کیږی روستو به میراث تقسیمیږی۔

سوال :۔ په شرعی دلیلونو سره ثابت ده چه دَ قرض ادائیگی مخکښ ده په وصیت باندے نو دلته ئے وصیت ولے مخکښ کړیدے په قرض (دین) باندے؟

جواب :۔ وصیت پشان دَ میراث بے عوضه څیز دے نو په ورثو باندے دَ دے اجراء ګرانه وی او صاحب دَ وصیت هم په زور مطالبه نشی کولے۔ او هر چه دین (قرض) دے نو هغے طلب ګاروی او هغه په وارثانو باندے ګران نه وی نو دَ اهتمام دَپاره ئے وصیت مخکښ ذکر کړیدے په دین باندے۔

اٰبَآؤُكُمۡ وَاَبۡنَآؤُكُمۡ لَا تَدۡرُوۡنَ اَیُّهُمۡ اَقۡرَبُ لَكُمۡ نَفۡعًا، دا علت دے دَ ذکر شوے تقسیم دَپاره یعنی اللّٰه تعالیٰ دَ میراث تقسیم ستاسو عقلونو ته نه دے حواله کړے ځکه چه ستاسو عقلونه دَ ټولو مصلحتونو احاطه نشی کولے کله کله نفعے ته ضرر وائی او کله ضرر ته نفع وائی۔ او اللّٰه تعالیٰ خو په ټولو مغیباتو باندے علم لری نو دَ دے برخو تقسیم او تقدیر اللّٰه تعالیٰ پخپل علم سره اوکړو۔ یا دا جمله متعلق ده دَ وصیت سره چه کله وصیت دَ مور او پلار دَپاره نفعے والا وی او کله وصیت دَ اولاد دَپاره فائده مند وی لیکن اول قول غوره دے۔ او دَ ابن عباس رضی اللّٰه عنهما

وَلَكُمْ نِصْفُ مَا تَرَكَ أَزْوَاجُكُمْ

او تاسو لره نيمه دَ هغه مال نه ده چه پرېخودلے وي ښځو ستاسو

إِنْ لَّمْ يَكُنْ لَّهُنَّ وَلَدٌ ۚ

كه چرے نه وي دَ هغوي دَ پاره هيڅ اولاد،

فَإِنْ كَانَ لَهُنَّ وَلَدٌ فَلَكُمُ

او كه وي هغوي دَ پاره اولاد نو تاسو لره

الرُّبُعُ مِمَّا تَرَكْنَ مِنْ بَعْدِ

څلورمه حصه ده دَ هغه مال نه چه پرېخودلے وي روستو دَ پوره كولو

وَصِيَّةٍ يُّوصِينَ بِهَا أَوْ دَيْنٍ ۗ

دَ وصيت نه چه وصيت كړے دے دوي په هغے سره او دَ ادا كولو دَ قرض نه

وَلَهُنَّ الرُّبُعُ مِمَّا تَرَكْتُمْ

او ښځو لره څلورمه حصه ده دَ هغه مال چه پرېخودلے وي تاسو

إِنْ لَّمْ يَكُنْ لَّكُمْ وَلَدٌ ۚ

كه چرے نه وي تاسو لره څه اولاد

نه نقل دي چه دا دَ آخرت سره تعلق لري او دَ نفعے نه مراد شفاعت دَ والدينو دے دَ اولاد دَ پاره او برعكس هم- او دَ مجاهد او ابن سيرين رحمه الله نه نقل دي چه دا په دنيا كښ دے چه والدين دَ اولاد سره ډير شفقت او محبت كوي او چه اولاد دَ والدينو ډير اطاعت او فرمانبرداري كوي- غوره دا ده چه دنيا او آخرت دواړو ته شامل دے- قرطبي وئيلي دي چه والدين كله دَ اولاد په دعا سره اوچته درجه حاصله كړي نو دارنګ اولاد دَ والدينو په دعا سره اوچت مقام حاصلولے شي- ابوحيان وئيلي دي چه په

فَاِنْ كَانَ لَكُمْ وَلَدٌ فَلَهُنَّ

نو كه وي تاسو دپاره اولاد نو ښځو له

الثُّمُنُ مِمَّا تَرَكْتُمْ مِّنْ بَعْدِ

اتمه حصه ده د هغه مال نه چه پرېښودلے وي تاسو روستو د پوره كولو د

وَصِيَّةٍ تُوْصُوْنَ بِهَآ اَوْ دَيْنٍ ؕ

وصيت نه چه وصيت كوئ تاسو په هغے سره او د ادا كولو د قرض نه،

وَاِنْ كَانَ رَجُلٌ يُّوْرَثُ كَلٰلَةً

او كه چرے وي يو سړے چه ميراث ترينه اوړلے كيږي يشي مونږ ته (ميراث)

اَوِ امْرَاَةٌ وَّلَهٗٓ اَخٌ اَوْ اُخْتٌ

يا زنانه داسے وي او دغه د پاره ورور يا خور وي (د مور نه صرف)

فَلِكُلِّ وَاحِدٍ مِّنْهُمَا السُّدُسُ ۚ

نو هر يو لره د دے دواړو نه شپږمه حصه ده

فَاِنْ كَانُوْٓا اَكْثَرَ مِنْ ذٰلِكَ

نو كه وي دوی زيات د دينه

فَهُمْ شُرَكَآءُ فِی الثُّلُثِ مِنْ بَعْدِ

نو دوی برابر برخه والا دی په دريمه حصه كښ روستو د پوره كولو

ديكښ اشاره ده چه د مورث د مرګ تمنا مه كوئ۔
فَرِيْضَةً مِّنَ اللّٰهِ، دا د مفعول مطلق په ځائے دے د
يوصيكم د پاره چه هغه په معنیٰ د فرض كوی په تاسو
باندے دے۔ يا فعل پټ مراد دے يعنی فَرَضَ اللّٰهُ
فَرِيْضَةً۔ او په ديكښ اشاره ده چه دا ذكر شوی مقادير
فرض دی د الله تعالیٰ د طرف نه نو د دے انقياد ضروری
دے۔

وَصِيَّةٍ يُّوْصِىْ بِهَآ اَوْ دَيْنٍ ؕ

دَ وصيت نه چه وصيت كيدېشي په هغې سره او دَ ادا دَ قرض نه

غَيْرَ مُضَآرٍّ ۚ وَصِيَّةً مِّنَ اللّٰهِ ؕ

نه به يې ضرر وركوونكى (په وصيت سره) دا كلك حكم دَ الله تعالىٰ دَ طرف نه دے

وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ حَلِيْمٌ ۟ ﴿۱۲﴾

او الله تعالىٰ پوهه دے صبرناك دے۔

اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلِيْمًا حَكِيْمًا ، په دې كښ هم اشاره ده چه دا ذكر شوې تقسيم دَ الله تعالىٰ دَ علم او حكمت سره موافق دے نو دَ دے مخالفت مه كوئ۔

۱۲ :۔ په دے آيت كښ دَ هغه ميراث ذكر كوى چه هغه په سببيت دَ نكاح سره وى روستو دَ نسب ذكر كولو نه. او هر كله چه وراثت په نسب سره مخكښ دے په وراثت دَ نكاح بانده دَ دے وجه نه هغه يې مخكښ ذكر كړو او دا يې ورپسے راوړو۔ او هر كله چه په وراثت نسبيه كښ مذكر له په مقابل دَ مؤنث كښ دوه برخې وے نو دا په وراثت سببيه كښ هم فرق دے په مينځ دَ خاوند او دَ ښځې كښ په برخو دَ ميراث كښ۔ او په وراثت سببيه سره څلور مسائل ذكر كوى۔

اوله مسئله :۔ وَلَكُمْ نِصْفُ مَا تَرَكَ اَزْوَاجُكُمْ اِنْ لَّمْ يَكُنْ لَّهُنَّ وَلَدٌ ، دا نارينو ته خطاب دے او دَ ازواج نه مراد بيبيانے دى يعنى چه دَ يو سړى ښځه وفات شى او دَ هغې ښځې اولاد نه وى دَ دے خاوند نه يا دَ بل خاوند نه نو دَ خاوند دَ پاره دَ هغې په مال كښ نيمه حصه ده۔ او وَلَدٌ دلته خپل اولاد او دَ ځوے اولاد (نوسو) ته شامل دے مذكر وى او كه مؤنث وى۔

او دويمه مسئله :۔ فَاِنْ كَانَ لَهُنَّ وَلَدٌ فَلَكُمُ الرُّبُعُ

مِمَّا تَرَكْنَ، دہ - یعنی چہ یو ښځه وفات شی او خاوند ئے پاتے شی خو اولاد ئے هم وی کہ د دے خاوند نہ وی یا د بل نہ نو د خاوند د پارہ څلورمہ برخہ دہ او د اولاد د برخو ذکر پہ مخکښ آیت کښ تیر شوید ے۔
مِنْ بَعْدِ وَصِيَّةٍ يُّوْصِيْنَ بِهَآ اَوْ دَيْنٍ، د دے تفسیر مخکښ ذکر شو او دا تصریح دہ چہ د ښځے پہ خپل مال کښ د وصیت اختیار شتہ دے د خاوند اذن تہ پکښ حاجت نشتہ۔
وَلَهُنَّ الرُّبُعُ مِمَّا تَرَكْتُمْ اِنْ لَّمْ يَكُنْ لَّكُمْ وَلَدٌ، دا دریمہ مسئلہ دہ - یعنی چہ خاوند وفات شی او د دے ښځے یا د نورو ښځو نہ ئے اولاد نہ وی نو کہ یوہ ښځه وی نو د هغے د پارہ څلورمہ حصہ دہ او کہ دوہ، درے یا څلور ښځے ئے وی نو دا څلورمہ حصہ بہ پہ هغوی کښ برابر تقسیمیږی۔
مخکښ جملہ کښ ئے نارینہ تہ خطاب کړے وو او دلته ئے زنانہ تہ خطاب نہ دے کړے اشارہ دہ تعلیم د ادب تہ چہ د ښځو د پارہ غائب والے رېښتوالے او پہ پردہ کښ اوسیدل) شرعی حکم دے۔ تَرَكْتُمْ کښ خاوندانو تہ خطاب دے پہ طریقہ د مجاز سرہ یعنی روستو د مرګ نہ۔
فَاِنْ كَانَ لَكُمْ وَلَدٌ فَلَهُنَّ الثُّمُنُ مِمَّا تَرَكْتُمْ، دا څلورمہ مسئلہ دہ۔ یعنی چہ خاوند وفات شی او یوہ ښځه یا ډیرے ښځے ئے پاتے شی او اولاد ئے هم وی۔ نو د ښځے یا ښځو د پارہ اتمہ حصہ دہ پہ هغوی کښ برابر تقسیمیږی او د اولاد حصے مخکښ آیت نہ معلوم شویدی۔
مِنْ بَعْدِ وَصِيَّةٍ تُوْصُوْنَ بِهَآ اَوْ دَيْنٍ، د تاکید د اهتمام پہ وصیت او دین د پارہ دا جملہ د هر تقسیم سرہ ذکر کوی۔
وَاِنْ كَانَ رَجُلٌ يُّوْرَثُ كَلٰلَةً، پہ دے جملو کښ د اخیافی وررور، خور میراث ذکر کوی لیکن د استحقاق د

میراث دَ پاره چه سبب دَ اخوت سره وی شرط دا دے
چه مورث به کلاله وی۔ ورونړه خویندے
درے قسمه دی۔ اول اعیانی چه مور او پلار دواړو کښ
شریک وی۔ دویم قسم علاتی چه پلار کښ شریک
وی او میندے ئے جدا جدا وی (دَ دے دواړو دَ میراث
حصّے ئے دَ سورت په آخر آیت کښ ذکر کړیدی)۔ دریم
قسم اخیافی چه په مور کښ شریک وی او پلاران ئے
جدا جدا وی دَ دوی ذکر ئے په دے جملو کښ کړیدے.
او دَ دے متعلق ئے پنځه مسائل ذکر کړیدی۔
سوال:۔ دَ دوی دَ میراث ذکر دَ زوجیت دَ میراث سره څه
تعلق لری چه دَ هغے سره ئے ذکر کړل؟
جواب:۔ هر کله چه یو زنانه دَ یو خاوند نه اولاد راوړے
وی لیکن دَ هغه نه کونړه شی یا ورله طلاق ورکړی او
دَ عدت تیریدلو نه روسته دَ بل خاوند سره نکاح
اوکړی او دَ هغه نه ئے اولاد پیدا شی نو دا روستنی اولاد
دَ مخکښ اولاد (دَ دے ښځے) دَ پاره اخیافی رونړه خویندے
دی۔ دا په سبب دَ دویم نکاح کولو دَ دوی دَ مور دا رشته
جوړه شوه نو دَ دے وجے نه دَ میراث سببی دَ زوجیت سره
یوځائے ذکر کړل۔
کَلَالَةً، دَ دے په اصل ماده کښ اختلاف دے زمخشری
وئیلی دی چه دا دَ کلال نه اخستے شویدے په معنیٰ دَ
بے قوته کیدلو دَ ستړے والی دَ وجے نه۔ او څا وئیلی دی
چه دا دَ تکلل الشیئ نه اخستلے شویدے په معنیٰ دَ احاطه
کولو۔ او څا وئیلی دی چه دَ کل عَنْهُ نه دے په معنیٰ دَ
تباعد (لرے شو)۔ او دا لفظ مذکر او مؤنث، مفرد، تثنیه
او جمع ټولو دَ پاره یو شان استعمالیږی۔ او په شرعی
معنیٰ کښ ئے ډیر اقوال دی۔ اول قول دَ علی او ابن
مسعود رضی الله عنهما او دَ جمهورو اهل لغتو دے چه

مراد ترینه هغه میت (مړے) دے چه د هغه ولد او والد (زوئے او پلار) نه وی - او قرطبی وئیلی دی چه په دے قول باندے اجماع ده - دویم د ابوبکر صدیق او عمر رضی الله عنهما نه نقل دے چه هغه میت چه والد ئے نه وی - قرطبی وئیلی دی چه د وی د دے قول نه رجوع کړیده - او دریم قول دا دے چه ولد ئے نه وی - د دے قول دلیل د دے سورت آخری آیت دے چه په هغے کښ فرمائیلی دی - (إِنِ امْرُؤٌ هَلَكَ لَيْسَ لَهُ وَلَدٌ) (۱۷۶) او نور اهل علم وائی چه په دغه آیت کښ لا والد له د قرینے نه معلومیږی - هغه په تفسیر د هغه آیت کښ ان شاء الله ذکر به کړیشی - په دے ټولو اقوالو باندے کلاله صفت د مړی دے - قطرب وئیلی دی چه کلاله ورثه ته وئیلے شی ما سیوا د مور او پلار ته او دا مناسب ده د معنیٰ د احاطے سره چه مخکښ ذکر شویده او پدے باندے حدیث د جابر رضی الله عنه دلالت کوی چه لَا يَرِثُنِي إِلَّا كَلَالَةٌ ، او نضر بن شمیل وئیلی دی چه کلاله مال موروث ته وئیلی شی - او چا وئیلی دی چه کلاله مطلق قرابت او وراثت ته وئیلی شی - لیکن د قرآن سره مناسب اول قول دے -

کَانَ ، فعل ناقص دے رجل اسم د هغے دے او یورث صفت دے د رجل او کلاله خبر دے یا یورث خبر دے او کلاله حال دے د ضمیر د یورث نه - صاحب اللباب او ابوحیان په دیکښ د اعراب نور توجیهات هم لیکلی دی -

أَوِ امْرَأَةٌ ، دا عطف دے په رجل باندے او کلاله ئے پټ خبر مراد دے -

وَلَهُ أَخٌ أَوْ أُخْتٌ ، په دیکښ څلور مسائل دی - اول دا چه سړے کلاله (زمونږ وړنے) وی او یو ورور ئے وارث وی - دویم دا چه ښځه کلاله وی او یو ورور ئے وارث وی - دریم

داچه سړے کلاله وی او یو خورئے وارثه وی - څلورم داچه یو ښځه کلاله وی او یوه خورئے وارثه وی - لَهٗ ، ضمیر دَ مذکر رجل او امراءه ته په تاویل دَ کل واحد سره یا په تاویل دَ میت سره راجع دے - او مراد په اَخٌ او په اُخْتٌ سره اخیافی ورور خور دی - قرطبی وثیلی دی چه په دے باندے دَ اهل علمو اجماع ده - او دَ سعد بن ابی وقاص رضی الله عنه په قراءت کښې مِنْ اُمٍّ لفظ دَ دے دلیل دے - او ابن کثیر او صاحب اللباب په دیکښې دَ ابوبکر رضی الله عنه اثر ذکر کړیدے -

فَلِكُلِّ وَاحِدٍ مِّنْهُمَا السُّدُسُ ، یعنی دَ میت مال به شپږ حصے کړے شی نو شپږمه حصه به دے ورور یا خور ته ورکړے شی او باقی به په عصبا تو کښې تقسیم شی -

فَإِنْ كَانُوٓا أَكْثَرَ مِنْ ذٰلِكَ فَهُمْ شُرَكَآءُ فِي الثُّلُثِ ، په دیکښې پنځمه مسئله ده - ذٰلِكَ اشاره ده اَخٌ یا اُخْتٌ ته او دَ اکثر نه مراد دوه یا دَ هغې نه په بره دی یعنی دوه ورونړه یا دوه خویندے یا ورور او خور یا دَ دینه زیات وی - شُرَكَآءُ یعنی دریمه حصه به دَ دوی په مینځ کښې پوره پوره تقسیمیږی په دیکښې مذکر او مؤنث په حصو کښې یو شان دی ځکه چه دَ دوی دَ میراث استحقاق په سبب دَ مور سره دے نو دَ مذکر فضیلت په مؤنث باندے نشته - او دَ میراث په مسائلو کښې دا یو مقام دے چه نارینه او زنانه په حصه کښې برابر دی - دَ دے متعلق مزید تفصیل قرطبی ذکر کړے دے هغے ته مراجعه اوکړئ -

مِنْ بَعْدِ وَصِيَّةٍ يُّوْصٰى بِهَآ أَوْ دَيْنٍ ، دَ دے تفسیر مخکښې تیر شویدے او دلته یُوْصٰی په صیغه دَ مجهول سره ذکر کړے شو ځکه چه وصیت کوونکے کله سړے وی او کله ښځه وی نو فاعل متعین نه دے دَ دے وجے نه ئے مجهول ذکر کړو -

غَيْرَ مُضَآرٍّ، دا په اصل کښ حال دے دَ فاعل نه لیکن دَ فاعل په ځائے مفعول قائم کړے شوے دے نو دا فعل مجهول مستلزم دے فعل لره یعنی یوصی غیر مضار۔ او دَ دے ضَرَارٍ تعلق دَ وصیت او دَین (قرض) دواړو سره دے۔ او ضرار په وصیت کښ په مختلف طریقو سره وی لکه دَ ثلث نه زیات وصیت کول، دَ وارث دَپاره وصیت کول، په دے نیت وصیت کول چه دَ وارثانو حصه کمه شی۔ او په دَیْن کښ هم ضرار په مختلف طریقو سره دے۔ لکه اقرار کول په قرض سره دَچا دَپاره چه دَ هغے گواهان او لیکل نه وی یا اقرار کول چه فلانی بانډے چه زما قرض وو هغه ماته وصول شوے دے او دا قول ئے په دروغه سره وی یا یو څیز په کم قیمت سره خرڅول یا په گران قیمت سره اخستل او دا په دے غرض کوی چه دَ وارثانو حصه کمه شی۔

وَصِيَّةً مِّنَ اللّٰهِ، دا دَ یوصیکم دَپاره مفعول مطلق دے یا حال دے۔ او په دیکښ مقصد ډیر تاکید دے په ورکولو دَ دغه حصو دَ میراث کښ اهل دَ هغے ته۔

سوال:۔ مخکښ آیت کښ ئے فریضة ذکر کړیدے او دلته وصیة دے؟

جواب:۔ په لفظ دَ فریضة کښ زیات تاکید دے په نسبت دَ وصیة سره نو مخکښ آیت کښ دَ اولاد دَ میراث ذکر وو نو دَ هغے رعایت کول ډیر غوره دی په نسبت دَ میراث دَ ازواج او دَ کلاله سره چه په دے آیت کښ ذکر دی۔

وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ حَلِيْمٌ، عَلِيْمٌ دے په هغه چا بانډے چه انصاف کوی په ورکولو دَ میراث او وصیت یا ظلم کوی په دیکښ۔ حَلِيْمٌ او صبرناک دے چه عذاب روستو کوی په طریقه دَ مهلت سره دَ ظلم کوونکو نه۔ په مخکښ آیت کښ حکیمًا ذکر وو چه په هغے کښ فرق دَ

تِلْكَ حُدُوْدُ اللّٰهِ ؕ وَمَنْ

دا (حکمونه) پولے دَ الله تعالیٰ دی، او چاچه

يُّطِعِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ يُدْخِلْهُ

تابعداری اوکړه دَ الله تعالیٰ او دَ رسول دَهغه داخل به کړی الله تعالیٰ هغه ته

جَنّٰتٍ تَجْرِیْ مِنْ تَحْتِهَا

جنتونو ته چه بهیږی لاندے دَ هغے نه

الْاَنْهٰرُ خٰلِدِیْنَ فِیْهَا ؕ

ولے همیشه به وی په هغے کښې

وَذٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِیْمُ ﴿۱۳﴾

او دا کامیابی لویه ده۔

دَ ناریته او زنانه اولاد وو او فرق دَیو او دَ ډیرو وو او فرق وو په حصو دَ مور او پلار کښې او نقصان مورته په سبب دَ ورونړو او خویندو وو۔

دا ټول احکام بناء دی په حکمت دَ الله تعالیٰ باندے او په هغے کښې دَ اعتراض کولو هیڅ گنجائش نشته دے۔ او دلته ئے حلیم ذکر کړو اشاره ده چه دَ بنځو سره او دَ اخیافی ورونړو خویندو سره اکثر خلق ظلم کوی نو دَ هغوی دَ پاره ئے تخویف ذکر کړو۔

۱۳:۔ په دے آیت کښې بشارت دے هغه چالره چه په تیر شوی احکامو باندے او خصوصًا په حکم دَ میراث باندے دَ امر دَ الله تعالیٰ او دَ رسول صلی الله علیه وسلم تابعداری کوی۔

تِلْكَ، دا اشاره ده ټولو ذکر شوو احکامو ته یا خاص احکامو دَ میراث ته۔

حُدُوْدُ اللّٰهِ، دَ دینه مراد احکام او شرائع دَ الله تعالیٰ دی۔

وَمَنْ يَّعْصِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ

او چاچه نافرمانی اوکړه دَ الله تعالیٰ او دَ رسول دَ هغه

وَيَتَعَدَّ حُدُوْدَهٗ يُدْخِلْهُ

او تیر شو دَ پولو دَ هغه نه داخل به کړی هغه لره

نَارًا خَالِدًا فِيْهَا ۠ وَلَهٗ

اور ته همیشه به وی په هغے کښ او ده لره

عَذَابٌ مُّهِيْنٌ ﴿۱۴﴾

عذاب دے شرموونکے۔

ع ۱۳/۲

حدود ورته دَ دے وجے نه وئیلے شی چه دَ دینه تجاوز کول یا په دیکښ کمے او زیاتے کول حرام دی۔

وَمَنْ يُّطِعِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ ، وَرَسُوْلَهٗ کښ اشاره ده چه دَ میراث په احکامو کښ دَ قرآن کریم نه علاوه احادیث دَ نبی صلی الله علیه وسلم ته هم رجوع کیدے شی۔

ابن کثیر وئیلی دی چه اطاعت دلته دا دے چه دَ وارثانو په حصو کښ په حیلو او دهوکو سره زیاتے او کمے نه کوی۔

۱۴: په دے آیت کښ تخویف اخروی دے۔

وَمَنْ يَّعْصِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ ، ابن جریج او ابن جبیر وئیلی دی چه دَ دینه مراد ایمان نه راوړل دی یعنی انکار کول۔

وَيَتَعَدَّ حُدُوْدَهٗ ، ابن کثیر وئیلی دی چه دَ دینه مراد دا دے چه دَ الله تعالیٰ دَ حکم سره ضد کوی او په تقسیم دَ الله تعالیٰ باندے رضا نه وی او دا کفر دے۔

يُدْخِلْهُ نَارًا خَالِدِيْنَ فِيْهَا ، دَ جنت والو په باره کښ ئے خٰلِدِيْنَ جمع ذکر کړیده ځکه چه هغوی اهلِ

وَالّٰتِيْ يَاْتِيْنَ الْفَاحِشَةَ

او هغه زنا ته چه بدکاری اوکړی

مِنْ نِّسَآئِكُمْ فَاسْتَشْهِدُوْا

دَ زنانو ستاسو نه، نو گواهان اوغواړئ

عَلَيْهِنَّ اَرْبَعَةً مِّنْكُمْ ۚ فَاِنْ

په هغوی باندے څلور د نارينو ستاسو نه، نو كه

شَهِدُوْا فَاَمْسِكُوْهُنَّ فِي

گواهي اوكړه دوی نو حصارے كړئ هغوی لره په

الْبُيُوْتِ حَتّٰى يَتَوَفّٰهُنَّ الْمَوْتُ

كورونو كښ تردے چه واخلئ هغوی لره مرګ

اَوْ يَجْعَلَ اللّٰهُ لَهُنَّ سَبِيْلًا ﴿۱۵﴾

يا به مقرر كړی الله تعالی هغوی لره څه لار.

شفاعت دی په اذن د الله تعالی سره نو د هغوی په شفاعت سره به بيا نورهم ډير كسان د هغوی سره جنت ته داخليږی. اوجهنم والا به هريو مستقل صفت د خلود لری كه بل څوک ورسره وی اوكه نه وی. دا رنګ په صيغه د جمع كښ الفت اوعظمت ته اشاره ده او د مفرد په صيغه كښ وحشت او ذلت ته اشاره ده. د كلمه عَذَابٌ مُّهِيْنٌ، هركله چه په تعدی د حدود الله سره د احكامو د الله تعالی اهانت كيږی نو د هغه اهانت كوونكی سزا هم په اهانت سره ده.

۱۵:- په دے آيت كښ نهم حكم ذكر كوی چه هغه ازاله د فحش كارئ ده په ښځو د زنانو په كورونو كښ او په ابتداء وركولو سره او دا په اصل كښ احسان دے

دَ زنانو سره۔
ربط:- ربط دَ آیت دا دے چه هر کله مخکښ آیتونو کښ دَ زنانو سره احسان ذکر شو نو اوس په هغوی باندے دَ فحش کارئ په وخت کښ تغلیظ ذکر کوی او دا هم دَ هغوی سره یو قسم احسان دے۔ دا رنګ اشاره ده چه زنانو سره دَ الله تعالیٰ احسان کولو سبب نشی جوړیدلے چه په هغوی باندے قیام دَ حدود پریخودلے شی۔
وَالّٰتِیْ یَاْتِیْنَ الْفَاحِشَةَ، اَلّٰتِیْ جمع ده دَ الّتی په معنیٰ کښ خو په لفظ کښ جمع نه ده۔ ځکه چه صیغے ئے دَ جمع دَ پاره وضع کړیدی لیکن حقیقتاً جمع نه ده۔
اَلْفَاحِشَةَ قبیح او بد فعل او کار ته وئیلے شی او په عرف کښ ئے په زنا باندے اطلاق کیږی۔ او دلته هم په اجماع سره مراد زنا دے۔ او دیته فاحشه ځکه وئیلے شی چه هر عقل والا دا بد ګنړی۔
مِنْ نِّسَآئِکُمْ، دا اشاره ده چه دَ دینه مؤمنانے ښځے مراد دی یعنی اضافت په اعتبار دَ دین سره مراد دے که نکاح ئے کړے وی او که نه وی کړے۔
فَاسْتَشْهِدُوْا عَلَیْهِنَّ اَرْبَعَةً مِّنْکُمْ، مِنْکُمْ کښ دَ هغو اسلام مراد دے ځکه چه دَ غیر مسلم ګواهی کول په مسلمان باندے نه قبلیږی۔ او استشهاد، راغوختل دَ ګواهانو ته وئیلے شی او دا په هغه وخت کښ چه کله دا زنا کوونکی پخپله اقرار نه کوی۔ قرطبی وئیلی دی چه الله تعالیٰ دَ زنا په اثبات کښ دَ څلورو کسانو ګواهی کول شرط کړیده دَ پاره دَ سختئ کولو په مدعی باندے ردا دے دَ پاره چه په دروغه باندے دعوی او نکړی۔ او په مالونو کښ دَ دوه کسانو ګواهی شرط ده ځکه چه دَ نفس دَ عزت شان دَ مال نه ډیر اوچت او عزیز دے)۔ او دَ پاره دَ پردے اچولو په بندګانو باندے۔ قرطبی وئیلی دی چه دَ څلورو

کسانو ګواهي په قرآن، تورات او انجيل درېواړو کتابونو کښ ذکر ده- په قرآن کښ په سورة نور آيت ۱۳ کښ او په ابوداؤد کښ واقعه د يهوديانو ذکر ده چه په هغې کښ وئيلي دي چه يهوديانو اقرار کړے وو چه زمونږ په تورات کښ هم د څلورو سړو ګواهي ذکر ده- آربعة، دا دليل دے چه ديکښ د ناريتو ګواهي شرط ده په باب د زنا کښ د ښځو ګواهي قبوله نه ده- او وجه د دلالت دا ده چه د عربيت په قانون کښ ذکر دي چه په اسماء عدد کښ په تاء سره اسم عدد د مذکر د پاره ذکر وي او په غير د تاء نه د مؤنث د پاره وي- او په صحيح احاديثو سره ثابت ده چه دا څلور سړي (ګواهان) به آزاد وي غلامان مريان به نه وي او عادلان به وي فاسقان يا مستور الحال به نه وي او د دوی شهادت به په طريقې د مشاهدے سره وي يعنې په ګواهئ کښ به وائي چه ما داسے حال ليدلے دے چه د سړي عورت (ذکر) د زنانه په عورت کښ داسے داخل وو لکه چه سلائي د رنجو په رنجړومه کښ داخل وي-

فَإِن شَهِدُوا فَأَمْسِكُوهُنَّ فِي الْبُيُوتِ، جمهورو مفسرينو وئيلي دي چه هر کله څلور ګواهان ګواهي ورکړي نو دغه زانيه زنانه به په کور کښ بنده کړيشي تر دے چه مړه شي يا ورله الله تعالى بله لار او ګرځوي- قرطبي وئيلي دي چه په کورونو کښ بندول په ابتداء د اسلام کښ وو بيا روستو جيل (بندي خانه) جوړ شو نو معلومه شوه چه اوس به ئې په جيل کښ بند وي- ليکن په يکښ د علماؤ اختلاف دے چه دا په حد د زنا کښ داخل دے يا زور نه اويره ورکول دي په حد قائمولو سره په روستو وخت کښ-

حَتَّىٰ يَتَوَفَّاهُنَّ الْمَوْتُ، سوال دا دے چه توفي موت ته

وئیلے شی نو دَ دے لفظ معنیٰ چه مړ کړی دوی لره مرګ
څنګه صحیح کیږی ؟
نو جواب دا دے مخکښ تیر شویدی توفی عام دے که په
مرګ سره وی او که په خوب سره وی او که پوره اخستل وی
نو دلته ئے تخصیص اوکړو په فاعل سره یعنی چه واخلی دوی
لره مرګ ۔ یا دلته مضاف پټ دے یعنی ملائکة الموت.
أَوْ يَجْعَلَ اللّٰهُ لَهُنَّ سَبِيلًا ، أَوْ دَ عطف دَپاره دے په یتوفاهن
باندے ۔ یا أَوْ په معنیٰ دَ الا سره دے نو دَ ده نه روستو
به فعل منسوب وی په تقدیر دَ أَنْ سره ۔ په حدیث
دَ ابوداؤد ، مسلم او ترمذی کښ راغلی دی چه په نبی صلی
الله علیه وسلم باندے وحی نازل شوه نو هغه اوفرمائیل
چه الله تعالیٰ سبیل مقرر کړیدے چه ثیب (دَ واده خاوند)
دَپاره سل دورے او رجم (ویشتل) دے په کانړو سره
او دَ بکر (نا واده کړی) دَپاره سل دورے او دَ یو کال دَپاره
دَ ملک نه شړل دی ۔ او دا حد دے دَپاره دَ زنا او سبیل
(لار) ده دَپاره دَ راوتلو دَ جیل او کور نه ۔
فائده :۔ په دے آیت کښ دوه اقوال دی ۔ اول قول دَ
متقدمینو دے چه دا آیت منسوخ دے په آیت دَ سوره نور
سره او په دغه مذکور حدیث سره ځکه چه دَ متقدمینو
په نیز دَ نسخ معنیٰ عامه ده ۔ شامل ده هغه حکم ته چه
واجب شی روستو دَ بل حکم نه که غایه وی او که نه وی ۔
دویم قول دَ متاخرینو دے چه دا منسوخ نه دے ځکه چه
نسخ په مطلق حکم کښ راځی او دلته مخکښ حکم کښ قید
لګولے شویدے دغائے په أَوْ يَجْعَلَ اللّٰهُ لَهُنَّ سَبِيلًا یعنی
اول حکم دا دو چه روستو دَ ګواهئ نه په دوی باندے
دوی بند کړئ لیکن انتظار اوکړی دَ بل حکم چه هغه
حد دے ۔ او دا په دے مقام کښ صرف دَ اصطلاح فرق دے ۔
او هر چه حکم دَ حد دے په سوره نور او په دغه مذکور

وَالَّذٰنِ يَاْتِيٰنِهَا مِنْكُمْ فَاٰذُوْهُمَاۚ

اوهغه دوه کسان چه اوکړی بدکاری ستاسو نه نوزورنه ورکړی هغوی لره

فَاِنْ تَابَا وَاَصْلَحَا فَاَعْرِضُوْا

نوکه دوی توبه اوکړه اونيک يې کړو عمل نوتې واړوئ

عَنْهُمَاؕ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ تَوَّابًا

دَ هغوی (دَ ربړولو) نه يقيناً الله تعالیٰ توبه قبلوونکے دے

رَّحِيْمًا ﴿۱۶﴾

رحم والا دے۔

حديث کښې نو په هغې باندې اجماع ده۔ اوروستو دَ راتللو دَ حد نه دَ دې آيت مقصد دا هم کيدی شی چه هرکله په زانيه باندې څلور ګواهان تيرشول ليکن قاضی په څه عذر سره حکم مؤخر کړيدے لکه تزکيه (صفائی) طلب کول دَ ګواهانو نه نو په زمانه دَ تاخير دَ حکم کښې به دغه زانيه په قيد کښې اوساتلے شی دَ دې دَ پاره چه چرته اونه تختی او هرکله چه قاضی دَ حد حکم اوکړی نو دَ اقامت دَ حد دَ پاره به دَ قيد (جيل يا کور) نه راويستلے شی۔ نو آيت اوس هم معمول بها دے۔ اګرچه په اعتبار دَ نزول دَ حکم دَ حد سره په دې باندې دَ نسخ حکم په اتفاق سره شته۔

سل۱۶ :- دا آيت هم دَ مخکښې حکم تتمه ده۔

وَالَّذٰنِ يَاْتِيٰنِهَا مِنْكُمْ، په دې کښې اقوال دی۔ دَ ابن عباس رضی الله عنهما نه دَ مجاهد په روايت سره دَ دينه مراد دوه قسمونه دَ زناکارو سړو دی يو واده شوې اوبل بې واده (محصن اوغير محصن) او هَا ضمير فاحشه ته راجع دے مراد ترينه زنا ده۔ دويم قول

دَ سدی او قتاده نه روایت دے چه دَ دینه مراد زناکار سړی او زناکاره ښځه ده په طریقه دَ تغلیب دَ مذکر سره په مؤنث باندے او فاحشه په معنیٰ دَ زنا ده - او بناء په دواړو اقوالو سره دَ دواړو آیاتونو په مینځ کښ فرق په ډیرو وجوهو سره دے -

اوله وجه، دَ مجاهد نه نقل دی چه دا بند ول خاص دی په زنانه پورے ځکه چه هغه په زنا کښ دَ دے وجے نه واقع شویده چه دَ کور نه بهر وتلے وه نو په بند ولو سره ماده دَ ګناه قطع شوه - او ایذاء خاص ده په سړی پورے ځکه دے دَ خپل ضروریاتو دَ پاره بهر وتلو ته محتاج دے نو دَ ده سزا ایذا ورکول دی -

دویمه وجه، چه حبس (بند ساتل) خاص دی په زنانو پورے او ایذاء عام ده مذکر او مؤنث دواړو ته شامله ده

دریمه وجه، دَ سدی نه نقل دی چه په اول آیت کښ واده شوے ښځے (محصنات) مراد دی په قرینه دَ نساءکم سره ځکه چه دا لفظ زیات مناسب دے دَ واده شوو سره - او په اضافت دَ کُم کښ اشاره ده خاوندانو ته - او پورے آیت کښ بے واده مراد دی -

فَاٰذُوْهُمَا، ایذاء هغه درد دے چه سخت او شدید نه وی که په فعل سره وی لکه وهل ټکول بغیر دَ زخمی کولو نه او که په قول سره وی لکه زورنه ورکول او ملامته کول وغیره لیکن دا ایذاء قید کولو او دورو وهلو ته نه دے شامل ځکه چه هغه مخکښ تیر شول - او آیت په باب دَ ایذاء کښ مجمل دے نو دا دَ حاکم رائے ته سپارلے شویدے لیکن په اتفاق دَ علماؤ سره دا ایذاء منسوخ ده په سوره نور او تیر شوی حدیث سره لیکن دا په هغه وخت کښ چه ایذاء دَ حد په ځائے باندے قائم شی او په بله توجیه ورسره چه روستو

ذکر کیږی نو ایذاء نه ده منسوخ - او په آیت کښې دریم قول د ابو مسلم نه نقل دے او هغه یې مجاهد نه نسبت کړیدے چه د اَللَّذَانِ نه دوه مذکر دی چه هغوی یو بل سره بد فعلی اوکړی - او هاء ضمیر فاحشه (بد کارئ) ته راجع دے لیکن د اول فاحشه نه مراد زنا دے او په ضمیر سره مراد بد فعلی د دوه مذکر ده د یو بل سره او ایذاء نه مراد سزا ده اګر چه په دغه سزا کښې د اهل علمو اختلاف دے - او آلوسی اولاد دے قول د پاره دلیلونه ذکر کړیدی او بیا یې د هغے جوابونه ذکر کړیدی او آخر کښې یې وئیلی دی چه د ده قول صراحتًا فاسد نه دے لیکن د جمهورو مفسرینو نه خلاف دے -

فَإِنْ تَابَا وَأَصْلَحَا ، په دیکښې توبه کولو ته ترغیب دے یعنی که توبه اوکړی د هغه عمل د فاحشې نه په سبب د ایذاء سره -

فَأَعْرِضُوا عَنْهُمَا ، اعراض دا دے چه نوره ایذاء ورله مه ورکوئ ځکه چه د ایذاء مقصد توبه کول وو او هغه مقصد حاصل شو - دا دلیل دے چه ایذا د حد نه علاوه حکم دے ځکه چه حد په توبے سره نه ساقطیږی - نو د دواړو آیاتونو حاصل دا دے چه د ګواهئ نه روستو یې څه مناسب وخت پورے په قید کښې اوساتئ او بیا د حد قائمولو د پاره یې بهر راوباسئ نو زورنه او ملامتیا ورله ورکړئ بیا وربانندے حد قائم کړئ - لیکن هر کله چه توبه اوباسی نو ایذاء ورکول پریږدئ او حد وربانندے قائم کړئ - او دا سے ایذاء مخکښې د حد (رجم) نه صحابه کرامو د ماعز سره کړیوه لیکن بیا نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چه ده داسے توبه ویستلے ده چه که ټولے مدینے والو ته شامل شی تو ټولو ته رسیږی نو بیا صحابه کرامو ایذاء ورکول

إِنَّمَا التَّوْبَةُ عَلَى اللَّهِ

یقینًا قبلول دَ توبې دَ الله تعالیٰ په نیز

لِلَّذِينَ يَعْمَلُونَ السُّوٓءَ

هغه چا لره دی چه عمل کوی بد

بِجَهَالَةٍ ثُمَّ يَتُوبُونَ مِن

په ناپوهئ سره بیا توبه اوباسی دَ

قَرِيبٍ فَأُولَٰٓئِكَ يَتُوبُ اللَّهُ

نیژدے نه نو دغه کسان توبه قبلوی الله تعالیٰ

عَلَيْهِمْ ۗ وَكَانَ اللَّهُ عَلِيمًا

دَ دوی ، او الله تعالیٰ پوهه دے

حَكِيمًا ﴿۱۷﴾

حکمتونو والا دے۔

پرېخودله او حدونه ئې وربانده قائم کړو۔ او که دَ ایذاء نه مرادحد دَ بدفعلئ دَ دوه مذکرشی دَ یوبل سره بناء په قول دَ ابومسلم نو هغه خو په توبه سره نه ساقطیږی نو په هغه قول کښ یو وجه دَ فساد دا هم ده۔ او که دَ اعراض نه مراد صرف اعراض کول وی دَ زورنے او ملامته کولونه توبیا توجیه صحیح کیږی۔

إِنَّ اللَّهَ كَانَ تَوَّابًا رَّحِيمًا ، دا علت دے دَ اعراض دَپاره۔

بند ۱۷:۔ روستو دَ ذکر کولو دَ توبې دَ بدکارئ نه اوس ترغیب ذکرکوی توبې کولو ته دَ ټولو ګناهونو نه سره دَ ذکر دَ شرط دَ قبولیت دَ هغې نه۔

إِنَّمَا التَّوْبَةُ عَلَى اللَّهِ ، ابوحیان وئیلی دی چه دا مبتداء اوخبر دی او په دواړو کښ تقدیر دے یعنی إِنَّمَا قَبُولُ

وَلَيْسَتِ التَّوْبَةُ لِلَّذِيْنَ

او نشته قبلول دَ توبې هغه کسانو لره

يَعْمَلُوْنَ السَّيِّئَاتِ ج حَتّٰى إِذَا

چه عملونه کوی دَ بدئ ترهغې چه کله

حَضَرَ أَحَدَهُمُ الْمَوْتُ قَالَ

تیزدې شي یو دَ دوی نه مرګ وائی

إِنِّيْ تُبْتُ الْئٰنَ وَلَا الَّذِيْنَ

یقیناً ما توبه اوکړه اوس او نه ده (توبه) دَ هغه کسانو

يَمُوْتُوْنَ وَهُمْ كُفَّارٌ ط

چه مره کیږی په داسې حال کښې چه دوی کافر وی،

التَّوْبَةُ مُرَتَّبٌ عَلٰى فَضْلِ اللّٰهِ -

سوال :- علی دلالت کوی په وجوب باندې او په الله تعالیٰ باندې هیڅ څیز واجب نشی کیدې؟

جواب :- دیته وجوب تفضلی وئیلې شی یعنی الله تعالیٰ دَ قبلولو وعده کړیده او الله تعالیٰ خپله وعده ضرور پوره کوی نو داسې شوه لکه چه په الله تعالیٰ باندې واجب وی۔ یا علی په معنیٰ دَ عند دې په نیز دَ حسن بصری رحمه الله سره۔ لِلَّذِيْنَ يَعْمَلُوْنَ السُّوْءَ بِجَهَالَةٍ ، دا متعلق دې په مُرتب پټ پورې مخکښې دَ علی الله نه۔ یا التوبه مبتداء ده او علی الله صفت دَ هغې دې او للذین یعملون خبر دې۔ السوء عام دې که ګناه صغیره وی او که کبیره وی اګرچه کفر او شرک وی۔ دَ جهالت نه مراد سفاهت دې په کولو دَ ګناه چه مناسب نه دې دَ عاقل دَ شان سره۔ دا په معنیٰ دَ عدم علم سره نه دې یعنی هر مرتکب دَ ګناه جاهل دې په انجام دَ دغه ګناه باندې۔ او دا معنیٰ دَ جهالت په سورة

أُولَٰئِكَ أَعْتَدْنَا لَهُمْ عَذَابًا

دغه کسان	تیار کړی دی مونږ دوی لره	عذاب

أَلِيمًا ﴿١٨﴾

دردناک -

یوسف ۳۳، ۸۹ کښ او سورة هود ۴۶ او سوره بقره ۶۷ کښ ده - او دا معنی عمدًا او خطأً سره ردوارو ته شامل ده - او بیهقی د مجاهد نه روایت نقل کړی دے چه هر ګنهګار جاهل دے -

ثُمَّ يَتُوبُونَ مِن قَرِيبٍ، مِنْ، دغه د ابتداء د پاره دے یا د تبعیض د پاره دے او د قریب د پاره موصوف پټ دے یعنی زَمَانٍ قَرِيبٍ - او په قریب کښ ډیر اقوال دی - سدی او قتاده وئیلی دی چه څو پورے په روغ صحت کښ وی او توبه او باسی - د ابن عباس رضی الله عنهما روایت دے چه څه وخت نظر او کړی ملك الموت ته - ضحاک وئیلی دی چه د مرګ نه مخکښ ته قریب وئیلے شی - حسن بصری وئیلی دی چه څو پورے چه غرغرے ته نه وی رسیدلے - عکرمه وئیلی دی چه ټوله دنیا قریب ده - او دا ټول تعبیرات یو بل ته نیزدے دی - او ابن کثیر په دیکښ ډیر احادیث (متصله مرفوعه او مرسله) ذکر کړی دی - لفظ د ثم هم دلالت کوی په وسعت د رحمت د الله تعالیٰ باندے ځکه چه دا دلالت کوی په تراخی باندے.

فَأُولَٰئِكَ يَتُوبُ اللَّهُ عَلَيْهِمْ، دلته مراد قبلول د توبے دی أُولَٰئِكَ دلالت کوی په ما قبل صفت باندے (چه توبه قریبه ده) -

وَكَانَ اللَّهُ عَلِيمًا حَكِيمًا، عالم دے په ګناه د بنده او په اخلاص د توبے د هغه او حکیم دے چه قوت د معصیت

(گناه كولو) يې وركړيدے او بيا ئې توفيق وركړيدے په ديكښ ځان ځان له حكمتونه دى۔

سا ۱۸:۔ په دے آيت كښ دَ هغه توبے ذكر كوى چه په هغے كښ تير شوے شرط نه وى موجود نو هغه به قبوله نه وى۔ او هغه دوه قسمه ده۔

اول قسم دا دے چه وَلَيْسَتِ التَّوْبَةُ لِلَّذِيْنَ يَعْمَلُوْنَ السَّيِّئَاتِ حَتّٰى إِذَا حَضَرَ أَحَدَهُمُ الْمَوْتُ قَالَ إِنِّيْ تُبْتُ الْـٰئنَ، او مراد نفئ قبوليت دَ هغے دے يعنى اوس دا توبه قبوله نه ده۔ السَّيِّئَاتِ، جمع په اعتبار دَ تكرار او دَ كثرت دَ گناهونو سره ده۔ ټول اقسام دَ گناهونو نه دى مراد۔ حضرت الموت، نه مراد وخت دَ يقين دَ مرگ دے يعنى چه دَ ژوند نه نا اميده شى نو د دغه وخت توبه قبوله نه ده ځكه چه دا دَ اضطرار حال دے۔ قَالَ، تاب ئې نه دے وئيلى اشاره ده چه دا توبه په اصل كښ دَ زړه دَ اخلاص او يقين نه نه ده صادره شوے صرف قولى توبه ده۔ الْـٰئنَ، نه حاضر وخت مراد دے يعنى دَ دے نه وړاندے ئې توبے كولو ته هيڅ توجه نه ده كړے۔ او دا آيت كافرانو منافقانو او فاسقانو مؤمنانو ته شامل دے او دَ دے پشان په سورة يونس سنه ۹۰، سه ۹۱ (توبه دَ فرعون) او سوره مؤمنون سه ۹۹ او سوره مؤمن سه ۸۵ او سوره انعام سه ۱۵۸ او سوره منافقون سنه ۱۰، سه ۱۱ هم دى۔

او دويم قسم وَلَا الَّذِيْنَ يَمُوْتُوْنَ وَهُمْ كُفَّارٌ، سوال دا راځى چه دَ دوى دَ پاره خو بالكل توبه نشته نو دَ دوى ذكر ئې ولے اوكړو؟

نو جواب دا دے چه دا مبالغه ده دَ اول قسم توبے په نه قبليدلو كښ ځكه چه دَ هغه توبه پشان دَ نه توبے ده لكه مرگ په حالت دَ كفر كښ۔

دويم جواب دا دے چه روستو دَ مرگ نه يا په حال دَ

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا يَحِلُّ

اے ایمان والو نه دی حلال

لَكُمْ اَنْ تَرِثُوا النِّسَآءَ كَرْهًا ط

تاسو لره چه وارثان شئ دَ زنانو په زور،

وَلَا تَعْضُلُوْهُنَّ لِتَذْهَبُوْا بِبَعْضِ

او مه تنګوئ دوی لره دَ پاره دَ دے چه واخلئ بعضے

مَآ اٰتَيْتُمُوْهُنَّ اِلَّآ اَنْ يَّاْتِيْنَ

هغه مال (مهر) چه ورکړی دے تاسو دوی له مګر که راتلل اوکړی

بِفَاحِشَةٍ مُّبَيِّنَةٍ ج وَعَاشِرُوْهُنَّ

په بدکاری ښکاره، او ژوند کوئ دَ دوی سره

بِالْمَعْرُوْفِ ج فَاِنْ كَرِهْتُمُوْهُنَّ

په ښه طريقه او که بد ګڼړئ تاسو دوی

فَعَسٰٓى اَنْ تَكْرَهُوْا شَيْئًا

نو کیدیشی چه بد ګڼړئ تاسو یو شے

مرګ کښ چه دوی دنیا ته واپسی غواړی او دَ نیک عمل تمنا او ارمان کوی نو دغه پښان دَ توبے دروستو دَ مرګ نه چه هغه قبوله نه ده لکه په سورة انعام ۲۷، فاطر ۳۷ او سورة السجده ۱۲ کښ دی۔ اُولٰٓئِكَ اشاره ده دواړو فریقو ته۔

اُولٰٓئِكَ اَعْتَدْنَا لَهُمْ عَذَابًا اَلِيْمًا، سوال دا دے چه دا خو دلیل دے چه په فاسق مؤمن باندے عذاب واجب دے (او دا مسلك دَ معتزلوٴ دے)؟

نو جواب دا دے چه تیاری دَ عذاب مستلزم نه ده وقوع

وَّيَجْعَلَ اللّٰهُ فِيْهِ خَيْرًا كَثِيْرًا ⑲

او گرځولے دی الله تعالیٰ په هغې کښې فائدے ډیرے۔

او وجوب د هغې لره۔
بل جواب دا چه اولئك اشاره صرف کافرانو ته۔
۱۹ :۔ دا لسم حکم دے په رد د ظلم کښې په هغه زنانه چه کونډه شی او وارثان ئے بیا په زور په نکاح سره اخلی یا د هغې مال غصب کوی۔
ربط :۔ د مخکښې آیت سره دا دے چه مخکښې منع وه د ظلمونو د جاهلیت نه په باره د یتیمانو او د میراث د ښځو کښې نو اوس منع کوی د ظلم او رسم د جاهلیت نه په باره د نکاح د کونډو زنانو کښې۔ او په دیکښې دوه اقوال دی اول قول دا دے چه دا خطاب دے اولیاؤ (وارثانو) د مړی ته او په دیکښې رد دے په طریقه د جاهلیت باندے په روایت د ابن عباس رضی الله عنهما سره (چه امام بخاری ذکر کړیدے) وائی چه هرکله یو سړے به مړ شو او د هغه ښځه به پاتے شوه نو د هغه مړی ورثه به د هغه ښځے حقدار گنړلے کیدل که د چا به خوښه وه نو په نکاح سره به ئے پخپله واخستله او کنی بل چاله به ئے په نکاح سره ورکړه (بغیر د رضا د هغے کونډے نه) او کله به ئے د نکاح نه بالکل منع کوله۔ او په بل روایت کښې دی چه د یو سړی د مرگ نه روستو به د هغه یو وارث راغے او خپله جامه (څادر وغیره) به ئے په هغه کونډه باندے واچوله او وئیل به ئے چه څرنگ زه د ده د مال وارث یم نو دا شان د ده د ښځے هم زه وارث یم۔ او دویم قول دا دے چه دا خطاب خاوندانو ته دے چه ښځه (منکوحه) به ئے خوښه نه وه خو هغه ښځه به ئے مالداره وه نو دوی به هغې له طلاق نه ورکوو او نه به ئے د هغې حق ادا کولو تر دے چه هغه

په مړه شوه نو د هغې مال په ئې په میراث سره واخستلو۔
يَٰٓأَيُّهَا الَّذِينَ اٰمَنُوا لَا يَحِلُّ لَكُمْ اَنْ تَرِثُوا النِّسَآءَ، بناء په اول قول باندے دا مفعول اول دے او نساء موروثات دی۔ او بناء په دويم قول دا مفعول ثاني دے او مفعول اول پټ دے يعني تَرِثُوا الْمَالَ مِنَ النِّسَآءِ۔
كَرْهًا، دا حال دے د النساء نه په معنیٰ د كارهات يا مكرهاتٍ سره۔ كَرْهَ او كُرْهَ په يو معنیٰ سره دی لكه ضَعْفٌ او ضُعُفٌ۔ يا اول په معنیٰ د كراهيت دے او دويم په معنیٰ د اكراه دے او دا قيد احترازي نه دے بلكه د زياتے مبالغے د پاره دے ځكه چه ښځه په مال د ميراث كښ راوستل ناروا دی كه هغه رضا وی او كه نه وی رضا۔
وَلَا تَعْضُلُوهُنَّ، عضل په اصل كښ تنګولو او بندولو ته ديو كارنه ويلے شی۔ نو بناء په اول قول سره د دينه مراد منع كول دی د نكاح نه۔ او بناء په دويم قول سره د دينه مراد صرف تنګول د ښځے دی په ژوند تيرولو كښ د دے د پاره چه خلع اوكړی او مال وركړی خاوند ته۔
لِتَذْهَبُوا بِبَعْضِ مَآ اٰتَيْتُمُوهُنَّ، بناء په اول قول د دينه مراد مال د ښځے دے چه هغے ته ميلاؤ شوے دے په ميراث سره۔ او بناء په دويم قول هغه مهر دے چه خاوند وركړے دے۔ او په لفظ د اذهاب كښ ډير تقبيح ده په نسبت د لفظ اخذ سره۔
اِلَّآ اَنْ يَّاْتِيْنَ بِفَاحِشَةٍ مُّبَيِّنَةٍ، فاحشه عامه ده زنا او بد زباني او بد اخلاقي كول۔ نو بناء په اول قول سره چه اولياؤ ته خطاب شی نو دا استثناء منقطع ده او ميتدا ده خبر ئې پټ دے يعني ليكن په وخت د كولو د فاحشه كښ لازم دے په تاسو باندے تاديب وركول په خپله يا قاضي ته پيش كول چه موجب د حد موجود شی او بناء په دويم قول چه خطاب وی خاوند انو ته نو دا استثناء

متصله ده دَ تَذۡهَبُوۡا بِبَعۡضِ مَاۤ اٰتَیۡتُمُوۡهُنَّ نه - یعنی هر کله چه دَ دوی نه فاحشه ښکاره شي نو خاوند له جائز دی چه دَ ښځې نه مهر واپس واخلي او خلع ورسره اوکړي لکه چه په سوره بقره ۲۲۹ کښې ذکر شوید ی۔

وَعَاشِرُوۡهُنَّ بِالۡمَعۡرُوۡفِ ، بنا په اول قول دا خطاب دے اولیاؤ ته او دَ مَعۡرُوۡفِ نه مراد دکره او ظلم نه ځان بچ کول دی.
او بناء په دویم قول خطاب دے خاوندانو ته او معروف نه مراد دَ ښځې شرعي حقوق ادا کول دی په نفقه او لباس او شپه تیرولو کښې - او قرطبي لیکلي دي چه خادم ته محتاجه وی نو ښځې له خادم ورکول هم پکار او لازم دی۔ او معروف دا دے چه ښځې ته کنځلې نه کوی ، ډیر وهل تکول نه کوی او بد زباني دے ورسره نه کوی (آلوسی)۔
فَاِنۡ کَرِهۡتُمُوۡهُنَّ ، دَ دے جزاء پټه ده یعني صبر اوکړئ په هغوی باندے سره دَ کراهیت نه او دلته دَ دینه مراد کراهیت طبیعه او بوج کیدل دَ هغوی دی اګرچه دَ هغوی دَ طرف نه نقصان نه وی موجود یا لږ موجود وی (بغیر دَ فاحشې نه) او دا خطاب اولیاؤ او خاوندانو دواړو ته صحیح دے - لیکن غوره دا ده چه دَ عاشروهن نه دا خطابات په خاوندانو پورے خاص شي۔
فَعَسٰۤی اَنۡ تَکۡرَهُوۡا شَیۡـًٔا وَّیَجۡعَلَ اللّٰهُ فِیۡهِ خَیۡرًا کَثِیۡرًا ، دا دَ جزاء مقدر دَپاره علت دے دلته مراد دا دے چه په دغه ښځه کښې که یو عیب وی لیکن کیدے شي چه نورے ډیرے فائدے پکښې وی نو دغه نورو فائدو دَ وجے نه په یو عیب باندے صبر کوئ - او دا جمله یئے په طریقه دَ یو قاعدے سره ذکر کړیده چه دا سے ډیر څیزونه او کارونه شته دے چه په ښځې په ظاهر کښې څه تکلیف بدني یا مالي وی لیکن شرعي منافع پکښې ډیر وی نو هغه پریخودل نه دی پکار - او دا دَ سورت بقره آیت ۲۱۶ پشان دے۔

وَاِنْ اَرَدْتُّمُ اسْتِبْدَالَ زَوْجٍ

اوکه غواړئ تاسو بدلول د یو ښځې

مَّكَانَ زَوْجٍ ۙ وَّاٰتَيْتُمْ اِحْدٰىهُنَّ

په ځائے د بلې ښځې ، او ورکړے وی تاسو یو د دوی ته

قِنْطَارًا فَلَا تَاْخُذُوْا مِنْهُ شَيْـًٔا ؕ

لویه خزانه (مهر) نو مه اخلئ د هغوی نه هیڅ څیز

اَتَاْخُذُوْنَهٗ بُهْتَانًا وَّاِثْمًا

ایا اخلئ تاسو دغه لره بدنامه لګوونکی او ګناه کوونکی

مُّبِيْنًا ○

ښکاره۔

۱۹ :۔ دا خاوندانو ته خطاب دے او مقابل دے کِ اِلَّآ اَنْ يَّاْتِيْنَ ۔ یعنی د فاحشے د وجے نه د دوی نه تاسو مهر واپس اخستلے شئ او که فاحشه نه وی. هسے د دے ښځے بدلول غواړئ نو بیا تر ینه مهر واپس نشی اخستلے ۔ یا دا مقابل دے د عاشروهن سره ۔ یعنی اول خو ضروری دا ده چه د ښځے سره په ښه طریقه سره ژوند تیر کړیشی او که دا سے نه وی. بلکه د هغے بدلول غواړی نو مهر تر ینه واپس نشی اخستلے۔

وَاِنْ اَرَدْتُّمُ اسْتِبْدَالَ زَوْجٍ مَّكَانَ زَوْجٍ ، هر کله اَرَدْتُّمْ جمع ده نو د هغے په قرینے سره زَوْجٍ هم په معنیٰ د ازواج دے او د جمع سره د جمع مقابله تقسیم د احادو غواړی یعنی هر یو شخص چه یوه ښځه پریږدی او بله ښځه په نکاح سره اخستل غواړی ۔ او د دے شرط مفهوم مخالف معتبر نه دے یعنی بغیر د ارادے د استبدال نه هم د مخکښ ښځے نه مهر واپس اخستل نه دی

جائز- لیکن دا شرطیٔ دَ دوه وجو نه ذکر کړو- اوله وجه داچه انسان دَ بل نکاح په وخت کښ مال ته محتاج وی نو دے وائی چه مخکنیٔ شئے نه به مال واخلم نو دویم داده به پرے اوکړم- دویمه وجه داچه دا دَ جاهلیت رسم وو نو دا دَ هغے تردید مقصد دے-

وَاٰتَيْتُمْ اِحْدٰهُنَّ قِنْطَارًا، دَ قنطار تفسیر په سورة آلعمران ١٤ کښ تیر شوے دے- او دا ایت دلیل دے چه ډیر مهرور کول جائز دی-

سوال:- حدیث دَ عمر رضی الله عنه چه ابن کثیر او ابن جریر په مختلف سندونو سره ذکر کړیدے مضمون ئے دا دے چه هغه منع اوکړه چه مغالات مه کوئ په مهرونو کښ که چرے دا عزت وے په دنیا کښ او تقوی وے نو نبی کریم صلی الله علیه وسلم حقدار وو په دے باندے لیکن هغه خپلو بیبیانو او لونړو له دَ دولس اوقیو رسپینو زرو نه زیات مهر نه دے مقرر کړے او بل روایت کښ دَ څلور سوو درهمو ذکر دے- نو یوے زنانه په عمر رضی الله عنه رد اوکړو او دا آیت ئے ورته اولوستلو نو هغه اوفرمائیل اَللّٰهُمَّ غُفْرًا كُلُّ النَّاسِ اَفْقَهُ مِنْ عُمَرَ- نو دا حدیث خود دے آیت خلاف راځی- او شیعه ګانو دَ عمر رضی الله عنه په نقصان دَ علم او په عدم اهلیت دَ خلافت باندے دا دلیل پیش کړے دے؟

جواب:- جواب په ډیرو وجوهو سره دے- اوله وجه، داچه مغالات دَ مهر دَ عزت سبب ګرځول او په هغے کښ په یو بل فخر اولوئ کول منع دی او هسے زیاتوالے دَ مهر منع نه دے- دویمه وجه، زیاتوالے دَ مهر صرف جمله خبریه ذکر ده په طریقه دَ شرط سره نو دا دَ مغالات دَ جواز دَ پاره مستلزم نه ده- دریمه وجه، زیاتوالے دَ مهر صرف جائز او رخصت دے او کم والے دَ مهر

وَكَيْفَ تَاْخُذُوْنَهٗ وَقَدْ اَفْضٰى

او څنګه | اخلئ تاسو دا | او رسيدل کړيدی

بَعْضُكُمْ اِلٰى بَعْضٍ وَّاَخَذْنَ

بعضو ستاسو | بعضو ته | او اخستے دی (دے ښځو) دوی

مِنْكُمْ مِّيْثَاقًا غَلِيْظًا ﴿٢١﴾

ستاسو نه | لوظ | پوخ

اولی او عزیمت دے - او هرچه دَ عمر رضی الله عنه هغه زنانه ته جواب نه ورکول وو نو هغه دَ تواضع او کسر نفسئ دَ وجے نه وو دَ کتاب الله په مخکښ او ترغیب ورکول وو نور امت ته په فهم دَ کتاب الله کښ - دَ دے نور تفصیل آلوسی په روح المعانی کښ کړیں دے -

فَلَا تَاْخُذُوْا مِنْهُ شَيْئًا، مِنْهُ ضمیر قنطار ته راجع دے - شَيْئًا عام دے لږ او ډیر دواړو ته شامل دے -

اَتَاْخُذُوْنَهٗ بُهْتَانًا وَّاِثْمًا مُّبِيْنًا، اول نهی ذکر شوه نو اوس زجر ذکر کوی په دغه عمل باندے - بُهْتَانًا حال دے دَ فاعل نه یعنی بهتان تړونکی او ښکاره ګناه کوونکی او تمیز دے دَ علت دَ پاره - حاصل دا دے چه دَ جاهلیت والو عادت دا وو چه یو ښځے ته به ئے دَ طلاق ولو نیت وو نو په هغے باندے به ئے دَ بد کارئ دروغ جوړ کړل دے دَ پاره چه دَ هغے نه مهر واپس واخلی نو دَ دے وجے نه دیته ئے بهتان اووئیلو - دا رنګ دَ ښځے نه مهر واپس اخستل دلالت کوی چه دَ دغه شخص په نیز مهر قرض نه دے نو دَ قرض نه انکار کول ښکاره ګناه او ظلم دے -

۲۱ :- وَكَيْفَ تَاْخُذُوْنَهٗ وَقَدْ اَفْضٰى بَعْضُكُمْ اِلٰى بَعْضٍ، په دے آیت کښ هم رد دے په نورو دوه طریقو سره - اوله طریقه دا ده چه موجب (سبب) دَ مهر موجود شوے دے

وَلَا تَنْكِحُوْا مَا نَكَحَ اٰبَآؤُكُمْ
او نکاح مه کوئ د هغه چا سره چه نکاح ورسره کړې وي پلارانو ستاسو
مِّنَ النِّسَآءِ اِلَّا مَا قَدْ سَلَفَ ؕ
د زنانو نه مګر هغه چه مخکښ تیر شویدی
اِنَّهٗ كَانَ فَاحِشَةً وَّمَقْتًا ؕ
یقینًا دا دے بشکاره ګناه او سبب د غضب د الله دے
وَسَآءَ سَبِيْلًا ﴿٢٢﴾ ع
او بده لاره ده۔

چه افضاء (جماع کول) ده او هغه ټخو ونکے د مهر ده۔ دویمه طریقه، دا د لوظ کولو نه مخالفت کول دی۔ کیف استفهام انکاری دے سره د تعجیب نه۔ افضی، دا کنایه ده د جماع کولو نه۔ او خلوتِ صحیحه کولو کښ د اهل علمو اختلاف دے چه افضاء هغې ته شامل ده او که نه رد دے تفصیل امام رازی، قرطبی، آلوسی او صاحب اللباب کړیدے. وَ اَخَذْنَ مِنْكُمْ مِّيْثَاقًا غَلِيْظًا، د دینه مراد نکاح شرعی دے چه د ګواهانو په مخکښ اوشی او اعلان ئے اوکړیشی۔

۲۲:- دا یو ولسم حکم دے په رد د ظلم د جاهلیت کښ چه هغه نکاح کول د پلار د ښځے (میرے مور) سره۔ د ابن عباس رضی الله عنهما او جمهورو مفسرینو نه روایت دے چه جاهلیت والو به د خپلو پلارانو د ښځو (ناسکه میندو) سره نکاح کوله کله چه به هغوی طلاقه کړه یا به تربینه خاوند مړ شو۔ نو الله تعالی د هغوی په رد کښ دا نازل کړو چه۔ وَلَا تَنْكِحُوْا مَا نَكَحَ اٰبَآؤُكُمْ، دلته په لفظ د مَا کښ دوه وجے دی۔ اوله وجه، دا چه مَا موصوله دے او روستو مِنَ النِّسَآءِ، د دے بیان دے نو معنی دا ده چه

دَ هغه ښځو سره نکاح مه کوئ چه ستاسو پلارانو ورسره نکاح کړے وی - دویمه وجه داچه مامصدریه دے او من النساء په لاتنکحوا پورے متعلق دے نو معنیٰ دا ده چه دَ ښځو سره نکاح مه کوئ په مثال دَ جاهلانو پلارانو لکه نکاح دَ شغار وغیره - دا قول ابن جریر غوره کړیدے لیکن اوله وجه دَ جمهورو مفسرینو قول دے او غوره ده (قرطبی).
او دلته دَ نکاح په معنیٰ کښ درے اقوال دی - اول دا په معنیٰ دَ نکاح دے - دویم دا په معنیٰ دَ جماع (زنا) سره دے - دریم داچه دا عام دے نکاح او جماع دواړو ته.
نو په دویمه او دریمه معنیٰ سره معلومه شوه چه هغه زنانه چه یو سړی ورسره زنا کړے وی نو دَ دے سړی (زانی) دَ ځوے دَ دغے ښځے سره نکاح حرام دے - دا قول دَ امام ابوحنیفه او امام احمد رحمه الله دے - او په اوله معنیٰ سره حکم مزنیے دَ دغه سړے ته نه دے شامل نو دَ هغے زنانه نکاح دَ دغه زانی سړی دَ ځوے سره جائز دے - دا قول دَ امام شافعی رحمه الله او دَ نورو اهل علمو دے - او پوره تفصیل په دیکښ صاحب اللباب ذکر کړیدے.
اِلَّا مَا قَدْ سَلَفَ ، سَلَفَ په معنیٰ دَ مخکښ تیر شوو او ورکړے شوو دے - سلم ته هم سلف ځکه وئیلے شی چه په هغے عقد کښ ثمن (قیمت) بیع مخکښ ادا کړی او مطلق قرض ته هم سلف وئیلی شی - هغه خلق چه مخکښ زمانه کښ تیر شویدی هغوی ته هم سلف وئیلے شی - او دَ اهل شرع په اصطلاح کښ دَ دے مصداق صحابه کرام او تابعین دی او دویته سلف صالحین وئیلی شی - دلته دَ سلف نه مراد نکاح دَ ځوے ده دَ پلار دَ ښځے سره چه دَ دے حکم دَ نازلیدلو نه مخکښ کړے شوے وی -
سوال :- لاتنکحو فعل مستقبل دے او ما سلف فعل ماضی ده نو دا استثناء څرنګ صحیح کیږی؟

جواب:- دا استثناء منقطع ده معنیٰ دا چه لیکن هغه نکاح چه دَ دے حکم دَ نزول نه مخکښ شوی ده نو هغه پریږدئ او دَ هغے ګناه نشته یا الا په معنی دَ بعد سره دے لکه په دے قول دَ الله تعالیٰ کښ لا یذوقون فیها الموت الا الموتة الاولی - یا الا په معنیٰ دَ لا دے لکه په دے قول کښ وما کان لمؤمن ان یقتل مؤمنا الا خطأ.
نور توجیهات هم مفسرینو ذکر کړیدی.
اِنَّهٗ کَانَ فَاحِشَةً، یعنی په قباحت او بدئ کښ دَ اندازے نه بهر شوے عمل چه ټولو عقل والو ته ئې ښکاره کیږی.
او دا دَ دے وجے نه چه ناسکه (میره) مور هم پشان دَ خپلے مور ده نو دا ځکه ډیر بد کار او فحش جرم دے.
وَمَقْتًا، مقت، هغه بغض او کینے ته وئیلے شی چه ورسره سپکوالے هم وی - او دَ الله تعالیٰ مقت په بنده باندے مستلزم دے ډیرے شرمندګئ او خسران لره - او دَ عربو په اصطلاح کښ دَ میرے مور سره نکاح ته نکاح مقت وئیلے شو او داسے شخص ته به مقیت وئیلے کیدلو او دَ هغوی نه به چه ولد پیدا شو هغه ته به مقتی وئیلے کیدو - او دغه شخص (نکاح کوونکی) ته خیزن وئیلے شی.
وَسَاءَ سَبِیْلًا، دَ یو عمل دَ قباحت دَ پاره درے مرتبے دی.
اوله مرتبه قباحت عقلیه دے نو فاحشه لفظ کښ دیته اشاره ده - دویم مرتبه قباحت شرعیه دے نو مقتا کښ هغے ته اشاره ده او دریمه مرتبه قباحت دے دَ عادت په اعتبار سره نو هغے ته په ساء سبیلا سره اشاره ده - نو په دیکښ اشاره ده چه دا نکاح په ټولو قباحاتو (بدو) کښ اقبح (ډیر بد) نکاح دے.

حُرِّمَتْ عَلَيْكُمْ أُمَّهٰتُكُمْ

حرام کړے شوي دي په تاسو (نکاح) د میندو ستاسو

وَبَنٰتُكُمْ وَأَخَوٰتُكُمْ وَعَمّٰتُكُمْ

او لونړو ستاسو او خویندو ستاسو او ترورياتو ستاسو

وَخٰلٰتُكُمْ وَبَنٰتُ الْأَخِ

او ماسي ګانو ستاسو او رويرے

وَبَنٰتُ الْأُخْتِ وَأُمَّهٰتُكُمُ

او خورځے ستاسو او میندے ستاسو

الّٰتِيْٓ أَرْضَعْنَكُمْ وَأَخَوٰتُكُمْ

هغه چه يئ درکړے وي تاسو ته او خويندے ستاسو

مِّنَ الرَّضَاعَةِ وَأُمَّهٰتُ

د پيو ورکولو د وجه نه او میندے

نِسَآئِكُمْ وَرَبَآئِبُكُمُ الّٰتِيْ

د ښځو ستاسو (خواښے) او پرکتئ ستاسو هغه چه

فِيْ حُجُوْرِكُمْ مِّنْ نِّسَآئِكُمُ

په پالنه ستاسو کښې دي د ښځو ستاسو نه

الّٰتِيْ دَخَلْتُمْ بِهِنَّ فَإِنْ لَّمْ

هغه چه يو ځائے شوي يئ تاسو د هغوي سره نوکه نه

تَكُوْنُوْا دَخَلْتُمْ بِهِنَّ فَلَا جُنَاحَ

يئ يو ځائے شوي د هغوي سره نو نشته ګناه

عَلَيْكُمْ وَحَلَآئِلُ اَبْنَآئِكُمُ

په تاسو باندے او ښځے د ځامنو ستاسو (ایښکور یانے)

الَّذِيْنَ مِنْ اَصْلَابِكُمْ ۙ

او هغه ځامن چه پیدا وی ستاسو د شا نه

وَاَنْ تَجْمَعُوْا بَيْنَ الْاُخْتَيْنِ

او جمع کول د دوو خویندو

اِلَّا مَا قَدْ سَلَفَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ

مګر هغه چه مخکښ تیر شویدی یقیناً الله تعالیٰ

كَانَ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ﴿۲۳﴾

دے بخنه کوونکے. رحم کوونکے.

۲۳:- په دیکښ دولسم حکم ذکر کوی چه په هغے کښ د محرماتو د نکاح تفصیلی ذکر دے - او رد دے په مظالمو د جاهلیت باندے چه هغوی به د دینه بعضے قسمونه جائز ګنړل لکه روستو الا ما قد سلف کښ هغے ته اشاره ده - او په دے آیت کښ د هغه زنانو ذکر دے چه د هغوی سره نکاح حرام دے چه په هغے کښ اوو د نسب د وجے نه حرامے دی لکه مور، لور، خور، ترور، ماسی، وریره او خورزه - او اوو د سبب د وجے نه حرامے دی چه هغه اسباب دا دی - اول سبب رضاعت دے او د هغے په سبب سره ئے حرام دوه ذکر کړیدی (رضاعی مور او رضاعی خور) - دویم مصاهرت (سخرګنئ) ده او د هغے په سبب ئے څلور حرامے ذکر کړیدی (خواښے، پرکټی اینګور او خینے د ښځے خور یعنی په یو وخت دواړه خویندے په نکاح کښ جمع کول) - دریم سبب تعلق د نکاح د غیر دے (او هغه ئے په راتلونکی آیت کښ) یوه ذکر کړیده چه هغه د شته نکاح ښځه ده - نو په اول سبب کښ دوه

حرام دی په دویم کښې څلور او په دریم کښې یو حرامه ده نو ټول اووه شول - او دا په صحیح حدیث سره ثابت دی چه ابن کثیر دا ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت ذکر کړیدے چه حرام کړے شویدی د نسب نه اووه او د صهر نه اووه -

حُرِّمَتْ عَلَيْكُمْ أُمَّهٰتُكُمْ، حل او حرمت احکام شرعیه د کارونو د مکلفینو سره تعلق لری د ذات د څیز سره نه دی متعلق د دے وجے نه اجماع ده چه دلته مراد حرمت د نکاح دے او مخکښې روستو بحث د نکاح دے او مخکښې روستو بحث هم د نکاح په باره کښې دے دا هم قرینه ده - او دا جمله په ظاهر کښې خبریه ده لیکن په معنیٰ د انشاء کښې ده - او فاعل د تحریم معلوم دے شرعًا او عرفًا چه الله تعالیٰ دے د دے وجے نه د هغه ذکر ئے اونکړو -

أُمَّهٰتُكُمْ، ام اصل ته وئیلے شی نو په اعتبار د دے معنی سره دا لفظ نیا ته حقیقتًا شامل دے - او قرطبی وئیلی دی چه ام په اصل کښې نوم د هر هغے زنانه دے چه د هغې په تا باندے حق د ولادت وی نو نیا ګانے د مور او پلار دواړو د طرف نه په دے لفظ کښې داخلے دی -

وَبَنٰتُكُمْ، دا جمع د بنت ده هر هغه زنانه ده چه ستا په هغې باندے حق د ولادت وی یا هره هغه زنانه چه د هغې نسب تا ته راګرځی په ولادت سره که په یو درجے سره وی او که په ډیرو درجاتو سره - نو دا لفظ لور ته او د اولاد لوړو ته (د ځوئے لور او د لور لور) شامل دے - اګرچه نور هم په ښکته وی یعنی نوسئ او کړوسئ وغیره -

وَأَخَوٰتُكُمْ، دا جمع د اخت ده او هر هغه زنانه مراد ده چه ستا سره ئے شرکت وی په مور او پلار دواړه کښې یا په یو کښې یعنی اعیانی ، اخیافی او علاتی خویندو ټولو ته شامل دے - اهلِ لغت وئیلی دی چه بنات جمع د بنت د

او هغه په اصل کښې بَنِیَة دے نو دَ یا دَ حذف دَ وجے نه دَ باء لاندے زیر راغے - او اخت په اصل کښې اخوة دے نو په 'همزه، باندے ئے پیښ راوړو دَ وجے دَ حذف دَ 'واو' نه -

وَعَمّٰتُکُمْ، عمه هغه زنانه ده چه هغه ستا دَ پلار نیکه سره شریکه وی په یو اصل یا په دواړو اصلونو کښې دغه درے اقسام دی - او کله عمه دَ مور دَ طرف نه وی چه هغه ستا دَ پلار دَ مور خور ده -

وَخٰلٰتُکُمْ، خاله هغه زنانه ده چه شریکه وی ستا دَ مور سره په یو اصل یا دواړو اصلونو کښې نو په هغے کښې هم درے اقسام دی او کله خاله دَ پلار دَ طرف نه وی چه هغه ستا دَ پلار دَ مور خور ده -

وَبَنٰتُ الْاَخِ وَبَنٰتُ الْاُخْتِ، دا هم هغه زنانه دی چه ستا دَ ورور یا ستا دَ خور په هغوی باندے دَ ولادت حق وی یا لنداً یا په واسطے سره - او په اخ او اخت کښې اعیانی، اخیافی او علاتی دریواړه داخل دی یعنی ستا دَ هر قسم ورور او خور لونړه (وریرے او خورځے) - او دَ دے ټولو په ترتیب کښې اقرب فالا قرب ذکر کړیدے چه مور ده بیا لور، بیا خور او بیا ترور او ماسی او بیا وریره او خورځه - را وعمه او خاله ئے دَ اکرام او احترام دَ وجے نه په وریره او خورځه باندے مخکښې ذکر کړیدی ځکه چه هغوی په عمر کښې مشرانے وی -

وَاُمَّهٰتُکُمُ الّٰتِیْٓ اَرْضَعْنَکُمْ، رضاعت ئے سبب دَ تحریم گرځولے دے - رضاعت په لغت کښې چوپل دَ سینے (تی) دی او دَ شریعت په اصطلاح کښې چوپل (پی رودل) دَ بچی دی دَ سینے دَ زنانه نه په خاص وخت دَ رضاعت کښې - او دا پی رودل خو مشهوره ذریعه ده که په بله طریقے سره دغه پی دے بچی ته اورسی (یعنی په بوتل وغیره سره) نو هغه هم رضاعت دے په شرع کښې - او دَ اهلِ رضاعت نه ئے دلته دوه ذکر کړیدی (مور او خور) -

لیکن په حدیث د صحیحین کښ د عائشه او ابن عباس رضی الله عنهما په روایت سره ذکر دی چه د رضاع په وجه هغه حرام دی کوم چه د نسب په وجے سره حرام دی - او قرطبی وئیلی دی چه یو زنانه یو وړوکی له پئ ورکړی نو دغه زنانه په دغه بچی باندے حرامه شوه ځکه چه دائے رضاعی مور شوه او لور د هغے زنانه په دے بچی حرامه شوه ځکه چه هغه رضاعی خور شو او د غسے خور د هغے زنانه ځکه چه هغه ئے خاله شوه او مور د هغے ځکه چه هغه ئے رضاعی نیا شوه - او لور د هغه سړی چه د هغه د وجے نه د دے ښځے پئ پیدا شوی دی (اګرچه د بلے ښځے نه وی) هغه د ده رضاعی خور شوه او دغه سړے ئے رضاعی پلار شو او خور د دغه سړی د دے بچی رضاعی ترور شوه او مور د هغه ئے نیا شوه او نوسئ د هغه سړی په دواړه طریقو سره چه وی حرامے دی په دے بچی باندے ځکه چه هغه ئے رضاعی وریرے او خورځے دی - او رضاعت که لږ وی او که ډیر وی برابر دے په نیز د امام مالک او امام ابوحنیفه رحمهم الله سره او پنځه رضعات شرط دی په نیز د امام شافعی رحمه الله او د بعضے علماؤ په سبب د حدیث د خمس رضعات سره - او په دیکښ نور اقوال هم شته دے تفصیل ئے په روح المعانی او قرطبی وغیره کښ اوګورئ - دا رنګ مسئله د تحریم رضاع روستو د دوو کلونو نه آلوسی په تفصیل سره ذکر کړیده -

وَاَخَوٰتُكُمْ مِّنَ الرَّضَاعَةِ ، دا خور عامه ده که اعیانی وی او که اخیافی یا علاتی وی - مِنَ اجلیه دے د تعلیل د پاره -

سوال :- هر کله چه سبب د رضاع د مور او خور نه علاوه نورو ته هم شامل دے نو د دے دوو تخصیص ئے ولے اوکړو؟

جواب :- تحریم د نسب د وجے نه په دوه طریقو سره دے

اول په طریقه دَ ولادت سره چه هغه مور او لور ده او دویم په طریقه دَ اخوت سره چه هغه پنځه دی (خور، ترور، ماسئ وریره او خورځه) نو په رضاعت کښې ئې هم صرف دا دوه طریقې ذکر کړې اول په ولادت سره چه مور رضاعی ده او دویم په اخوت سره چه خور رضاعی ده - او دا تنبیه ده په باقی باندې په طریقه دَ اختصار سره -

وَ اُمَّهٰتُ نِسَآئِكُمْ ، دَ اُمَّهٰتُ، په لفظ کښې دَ مور او پلار طرف ته دواړه نیاګانې داخل دی - او نِسَآءِ ته مراد منکوحات دی - او په دیکښې عموم دے که دَ هغې منکوحې سره دخول شویوی او که نه وی - او دا قول دَ اکثرو صحابه کرامو او تابعینو دے او دا دَ څلورو واړو آئمه کرامو مذهب دے.

وَرَبَآئِبُكُمُ الّٰتِیْ فِیْ حُجُوْرِكُمْ مِّنْ نِّسَآئِكُمُ الّٰتِیْ دَخَلْتُمْ بِهِنَّ، رَبَآئِبُ، جمع دَ ربیبة ده (لور دَ ښځې چه دَ بل خاوند نه وی) او مور او دویم پلار ئې غالبًا پالنه کوی پښان دَ نور اولاد او پښتو کښې هغې ته پرکټئ وټیلې شی - حُجُوْرِ، جمع دَ حجر ده په لغت کښې اړخ دَ انسان ته وئیلې شی (دَ ترخ نه تر تشی پورې) چه هغې ته عامه اصطلاح کښې غیږ وئیلې شی او مراد ترینه پالنه کول دی - او دا قید هم غالبی دے ځکه چه یوه ښځه دَ دویم خاوند سره نکاح کوی نو خپله لور دَ اول خاوند نه دَ دویم خاوند کور ته دَ ځان سره راولی - او الفاظ دَ ربائب او حجورکم دَ تاکید دَ علت دَ کښې تاکید دے - او دَ اکثرو اهل علمو په نیز دا قید احترازی نه دے یعنی که په حجر (پالنه) دَ دغه سړی کښې نه وی نو هم پرې حرامه ده - دَخَلْتُمْ بِهِنَّ، دا صفت صرف دَ روستو نِسَآئِكُمْ دَ پاره دے دَ مخکښې نساء سره متعلق نه دے ځکه چه دَ دے حرمت دَ پاره دخول شرط دے او په مخکښې کښې شرط نه دے - لکه چه لَا تَاْكُلُوا الرِّبٰوٓا اَضْعَافًا مُّضٰعَفَةً

فَإِنْ لَّمْ تَكُونُوا دَخَلْتُمْ بِهِنَّ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ، په تصریح د دے نفی کښې اشاره ده چه قید د دَخَلْتُمْ بِهِنَّ د فی حجورکم پشان نه دے یعنی هغه قید عادتی او غالبی دے او دا قید احترازی دے - حاصل ئے دا دے چه سړے د یو زنانه سره نکاح اوکړی او د هغے سره لور وی لیکن دا سړے د دغے ښځے سره جماع اونکړی او طلاقه ئے کړی یا مړه شی مخکښې د جماع نه نو د هغه لور سره ئے نکاح کولے شی - او قرطبی د امام مالک، ثوری، امام ابوحنیفه رحمهم الله قول ذکر کړے دے چه په شهوت سره مسه کول او عورت خاصه ته نظر کول په حکم د جماع کښې داخل دی -

وَحَلَائِلُ أَبْنَائِكُمُ الَّذِينَ مِنْ أَصْلَابِكُمْ، حَلَائِلُ جمع د حلیلة ده د حلول نه اخستلے شوے دے یعنی ښځه د خاوند سره په یو فراش (بستره) کښې حلول کوی یا کوم ځائے چه خاوند حلول (نزول) کوی نو ښځه ورسره تابع وی - په دے معنیٰ حلیله په معنیٰ د فاعل سره دے - یا دا د حل او حلال نه اخستلے شوے دے په معنیٰ د مفعول سره یعنی حلاله کړے شوے - او د دینه مراد بیبیانے (منکوحات) دی - نو په صرف نکاح کولو د ځوے سره دغه ښځه (نیکور) په خپل سخر باندے حرامه ده که دخول کړے شوے وی او که نه - او د أَبْنَائِكُمْ په حکم کښې نوسے یعنی د ځوے ځوے داخل دے اګرچه د هغے نه خکته هم وی کړوسے وغیره - أَصْلَابِكُمْ جمع د صلب ده - ملا ته وئیلے شی او مراد ترینه دلته نطفه د پلار ده چه هغه راوتلے ده د ملا د هغه نه - لکه يَخْرُجُ مِنْ بَيْنِ الصُّلْبِ وَالتَّرَائِبِ (طارق) او په دے لفظ سره احتراز شوے دے د متبنیٰ نه چه هغه هم په عرف د عربو کښې ځوے ګڼړلے کیدلو لیکن د هغه د ښځے سره (دوستو د

طلاق یا مرگ دَ خاوند نه) نکاح کول جائز دی۔ خوپه دے سره دَ رضاعی خُوئے نه احتراز نه دے کړے شوے په سبب دَ هغه حدیث چه حرام دی دَ رضاع نه هغه چه حرام دی دَ نسب نه۔ او دَ متبنّیٰ تفصیل او دَ هغه دَ ښځے تحلیل په سورة احزاب کښې ذکر دے۔

وَاَنْ تَجْمَعُوْا بَيْنَ الْاُخْتَيْنِ، دا په محل دَ رفع کښې دے عطف دے په امهاتکم باندے۔ یعنی جمع کول دَ دوو خویندو په نکاح کښې حرام دی۔ یو سړے دَ خپلے خینے (دَ ښځے دَ خور) سره نکاح نشی کولے ځو پورے چه هغه ښځه دَ ده په نکاح کښې وی۔ او په جمع سره تعبیر ئے دَ دے وجے نه اوکړو چه دلته ابدی حرمت مراد دے او هغه متعلق دے دَ جمع سره۔ بغیر دَ جمع نه دَ هر یو سره نکاح جائز دے۔ او په دے حکم دَ جمع دَ ښځے او دَ ترور دَ هغے او دَ ماسی دَ هغے هم داخل ده په سبب دَ صحیح حدیث سره او دا حدیث مسلم، ترمذی، ابوداؤد او نسائی دَ شپږو صحابه کرامو نه روایت کړے دے نو حدیث مشهور دے تقیید دَ قرآن په دے سره جائز دے (دا به په تفسیر دَ اذا قرئ القرآن آه (اعراف) کښې ان شاء الله ذکر کړے شی) خو کله چه یو سړے خپله ښځه طلاقه کړی په طلاق غیر رجعیه سره نو دَ هغے دَ خور سره دَ عدت نه مخکښې نکاح کولو کښې دَ صحابه کرامو، تابعینو او اهل علمو اختلاف دے۔ او چه طلاقِ رجعی ئے ورکړے وی نو بیا به دَ عدت پوره تیریدلو پورے انتظار کوی۔ دا رنګ که چرے یوه ښځه وفات شی نو دَ هغے دَ خور سره متصل ورځو کښې نکاح کولے شی عدت پورے انتظار ته ضرورت نشته۔

اِلَّا مَا قَدْ سَلَفَ، دا استثناء منقطع ده یعنی هغه چه تیر شوی وی ستاسو نه په جاهلیت کښې (نکاح دَ بعضے محرماتو

سره) نو الله تعالیٰ د هغې مغفرت کوی - او د اکثر مفسرینو
په نیز د دې تعلق د دوو خویندو جمع کولو سره
دے په نکاح کښې ځکه چه د دغه نورو محرماتو د تحریم
خو جاهلیت والا قائل وو - لکه چه امام شاه ولی الله
دهلوی په الحجة البالغة کښې لیکلی دی لیکن جمع بین
الاختین ئې جائز گنړله - نو او وئیلے شو چه د اسلام نه
مخکښې چا د دوو خویندو جمع کړیده نو د اسلام قبلولو نه
په روستو د هغوی نه یوې ته طلاق ورکوی - او دا سے په
حدیث د ابوداؤد او ترمذی وغیره کښې وارد دی - د ابن
عباس رضی الله عنهما نه هم روایت دے چه جاهلیت والا
د دے ټولو محرماتو د تحریم قائل وو سیوا د منکوحې
د پلار (میرنئ مور) او د جمع بین الاختین نه - د دے
وجې نه د دواړو په آخر کښې ئې الا ما قد سلف ذکر
کړے دے - او دا قول د امام محمد بن حسن نه هم
نقل دے (آلوسی، قرطبی) -

اِنَّ اللّٰهَ كَانَ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ، دا متعلق دے د الا ما
قد سلف سره - د منکوحة الاب (میرنئ مور) په نکاح
کښې قباحت ډیر وو نو د هغې سره ئې انه کان فاحشة آه
ذکر کړیدے او د جمع بین الاختین په تحریم کښې
قباحت د هغې نه لږ کم وو (ځکه چه وئیلے شویدی
چه د یعقوب علیه السلام په دین کښې دا جمع جائز
وه) نو د دے وجې نه د دے آخر کښې مغفرت او رحمت
ذکر کړو -

وَالْمُحْصَنٰتُ مِنَ النِّسَآءِ اِلَّا

او (حرام دي) خاوندانو والا ښځې مګر

مَا مَلَكَتْ اَيْمَانُكُمْ ۚ كِتٰبَ اللّٰهِ

هغه ښځې چه مالک شي ښي لاسونه ستاسو د هغوي ، حکم د الله تعالی فرض کړي شوي

عَلَيْكُمْ ۚ وَاُحِلَّ لَكُمْ مَّا وَرَآءَ

په تاسو او حلال کړي شوي تاسو لره سیوا د دے (ذکر شوو) نه

ذٰلِكُمْ اَنْ تَبْتَغُوْا بِاَمْوَالِكُمْ

چه طلب کوئ تاسو په مالونو خپلو سره

مُّحْصِنِيْنَ غَيْرَ مُسٰفِحِيْنَ ؕ

نکاح کوونکي یئ نه یئ زنا کوونکي ،

فَمَا اسْتَمْتَعْتُمْ بِهٖ مِنْهُنَّ

نو هغه زنانه چه فائده واخلئ تاسو په دے (مهر) سره د هغوي نه

فَاٰتُوْهُنَّ اُجُوْرَهُنَّ فَرِيْضَةً ؕ

نو ورکوئ هغوي ته مهرونه د هغوي مقرر کړے شوے ،

وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِيْمَا

او نیشته ګناه په تاسو باندے په هغه مهر کښ چه

تَرٰضَيْتُمْ بِهٖ مِنْ بَعْدِ

رضا شئ تاسو په هغے سره روستو د

الْفَرِيْضَةِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ

مقرر کولو نه ، یقینًا الله تعالی

عَلِيمًا حَكِيمًا ﴿۲۴﴾

پوهه دے په هرڅه حکمتونو والا دے۔

۲۳:۔ دا عطف دے په ماقبل محرماتو باندے او په دیکښ دَ محرمات سببیه نه اووم قسم ذکر کوی یعنی تحریم په سبب دَ نکاح دَ غیر سره او دا قسم ئے دَ مخکښ نه په جدا آیت کښ ذکر کړو ځکه چه مخکښ ئے هغه ذکر کړل چه تحریم ئے همیشه دے او دا قسم حرام همیشه نه دے۔

تنبیه:۔ دَ قرآن په لوستلو کښ نه دی جائز چه دا آیت دَ مخکښ آیت نه ډیر وخت (وقفه) پس اولولی یا تلاوت دَ دے ځائے نه شروع کړی بلکه دَ مخکښ آیت سره متصل لوستل پکار دی ځکه چه دا کلام ناقص دے بغیر دَ اول آیت نه ځکه چه دا عطف دے په مخکښ آیت باندے۔

وَالْمُحْصَنٰتُ، دا دَ احصان نه اخستلے شوی دے او احصان دَ حصن نه دے او حِصن په لغت کښ منع کولو او بچ کولو ته وئیلے شی لکه په سوره انبیاء ۸۰ کښ (لِتُحْصِنَكُمْ مِّنْۢ بَأْسِكُمْ) - دارنګ حصان هغه زنانه ده چه ځان ئے دَ فحشاء نه بچ ساتلے وی۔ او احصان په قرآن کښ په څلورمعانیو سره استعمال دے۔ اوله معنیٰ، تزوج یعنی نکاح کول لکه په دے آیت کښ محصنین او ورپسے آیت کښ محصنات او احصن (دا الفاظ په معنیٰ دَ نکاح کولو دی)۔ دویمه معنیٰ عفت (پاکدامنی) ده۔ لکه (وَالَّتِیْٓ اَحْصَنَتْ فَرْجَهَا) (انبیاء ۹۱) وَالْمُحْصَنٰتُ مِنَ الْمُؤْمِنٰتِ (مائده ۵)۔ دریمه معنیٰ حریت (آزادی) ده۔ لکه روستو آیت کښ راځی (فَعَلَیْهِنَّ نِصْفُ مَا عَلَی الْمُحْصَنٰتِ مِنَ الْعَذَابِ)۔ څلورمه معنیٰ اسلام دے۔ قرطبی وئیلی دی چه په دے معنیٰ سره په قرآن کښ نه ده راغلے او په سنت کښ وارد ده۔ او صاحب اللباب وئیلی دی چه په روستو آیت کښ (فَاِذَآ اُحْصِنَّ) دَ بعضے

مفسرینو په نیز په معنیٰ دَ اسلام راوړلو دے - دلته مراد دَ المحصنات نه اوله معنیٰ ده یعنی هغه ښځې چه دَ بل سړی په نکاح کښې وی - ابوسعید خدری رضی الله عنه نه روایت دے چه دا دَ مشرکانو زنانو په باره کښې نازل شویدے چه هغوی مدینے ته هجرت اوکړو یعنی مسلمانانے شوے او خاوندان ئے (مشرکان) په مکه مکرمه کښې وو نو مؤمنانو به دَ دوی سره نکاح اوکړه - بیا به ئے خاوند مسلمان شو او هجرت به ئے اوکړو او مدینے ته به راغے - نو الله تعالیٰ په دے آیت سره دَ هغوی نکاح حرام کړه - دَ مخکنو خاوندانو دَ وجے نه او بیا ئے استثناء اوکړه په دے قول سره چه مِنَ النِّسَآءِ اِلَّا مَا مَلَكَتْ اَيْمَانُكُمْ - او دَ دینه مراد سبایا دی (دَ کافرانو سره دَ جنګ په وخت کښې قید کړے شوے). نو دَ مَلَكَتْ نه مراد سبیه دی (وینزه) - په دے سَبِيَه سره دَ دے مخکښې نکاح ماته شوه - دا قول دَ عمر، عثمان او ډیرو صحابه کرامو رضی الله عنهم او تابعینو او څلورو واړو امامانو دے - لیکن اختلاف دے چه خاوند ورسره قید کړیشی نو نکاح ئے ماتیږی اوکنه - نو دَ امام شافعی رحمه الله په نیز نکاح ئے ماته ده او دَ امام ابوحنیفه رحمه الله په نیز چه خاوند ورسره وی نو بیا ئے نکاح نه ماتیږی. او دَ دے نور تفصیل په روح المعانی کښې اوګورئ - او په آیت کښې نور اقوال هم شته لیکن اول قول غوره دے - كِتٰبَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ، په دیکښې درے وجوه دی - اول دا مفعول مطلق دے دَ مضمون دَ حرمت دَ پاره یعنی په دغه جمله کښې معنیٰ دَ کتابت ده معنیٰ ئے دا ده چه كَتَبَ اللّٰهُ عَلَيْكُمْ تَحْرِيْمُ مَا ذُكِرَ سَابِقًا كِتَابًا (فرض کړیدے الله تعالیٰ په تاسو باندے تیر شوے تحریم په فرض کولو سره). دویمه وجه، دا منصوب دے په اغراء (تیزولو) سره یعنی علیکم کتاب الله (لازم دے په تاسو باندے کتاب الله

حکم دَ الله تعالیٰ) او دا قول دَ کیسائیؒ دے دَ هغه په نیز تقدیم دَ منصوب جائز دے - دریمه وجه، دا منصوب دے په سبب دَ پټ فعل سره یعنی اَلْزِمُوْا کِتَابَ اللهِ - او دا قول دَ ابوالبقاء دے -

وَ اُحِلَّ لَکُمْ مَّا وَرَآءَ ذٰلِکُمْ، دا عطف دے په حرمت باندے یعنی روستو دَ تحریم نه تحلیل ذکر کوی -

سوال :- دا لفظ دلالت کوی چه دَدے قسمونو نه علاوه دَ نورو زنانو سره نکاح کول جائز دی چه ترور او وریرے او دَ ماسی او رخورځے دی - دا رنګ نیاګانے او دَ رضاعت دَ وجے نه ماسیوا دَ رضاعی مور او خور نه - او دا رنګ زنانه په عدت دَ بل کښ او دَ پنځمے ښځے سره نکاح کول او هغه ښځه چه چا ورسره لعان کړے وی نو په دغه لعان کوونکی حرام ده او طلاقه کړے شوے په دریو طلاقو سره بغیر دَ تحلیل دَ بل خاوند نه ؟

جواب :- دَ دے جواب په ډیرو وجوهو سره دے - اوله وجه، دا عموم خاص کړے شویدے په نورو نصوصو سره هغه دا چه په باره دَ تحریم دَ پنځمے ښځے او طلاقه کړے شوے په دریو طلاقو سره بغیر دَ تحلیل نه او په زمانه دَ عدت کښ نور آیتونه وارد دی - او په باره دَ جمع کولو دَ ترور او وریره او ماسی او خورځه کښ او په باره دَ تحریم دَ رضاعت سره سیوا دَ رضاعی مور او خور نه احادیث صحیحه راغلی دی - او دغه احادیث اخبار احاد نه دی بلکه مستفیض (مشهور) دی او دَ اتو صحابه کرامو نه نقل دی - تحریم دَ جمع کولو دَ ترور ماسی او وریرے او خورځے سره دَ علی، ابن عباس، جابر، ابن عمر، ابو موسیٰ، ابو سعید، ابو هریره او عائشه رضی الله عنهم نه نقل دی - او بعضے علماؤ وئیلی دی چه دا متواتر حدیث دے - ابن عطیه وئیلی دی چه په دے تحریم باندے اجماع ده

نو تخصیص د عموم د کتاب الله نه په صحیح متواتر او مشهور احادیثو سره او په اجماع د صحابه سره اتفاقي مسئله ده (بحر المحیط).
دویمه وجه دا ده چه په مونږ باندې په قرآن او په سنت صحیحه باندې عمل کول واجب دي ځکه چه دواړه نازل شویدي نو بعضې احکام په قرآن کښ دي۔ او بعضې په احادیثو صحیحو کښ دي۔ د دې تفصیل قاسمي په خپل تفسیر کښ ذکر کړیدے۔ دریمه وجه، لفظ د بعد یا غیر ذالکم ئې نه دے فرمائیلے بلکه وَرَاءَ ذٰلِكُمْ دے او لفظ د وراء په ډیر روستو والي باندې دلالت کوي یعنی ما قبل محرمات چه قرآن صراحتًا ذکر کړیدي او بعضې د هغې نه په دلالت سره معلومیږي او بعضې د هغې نه په احادیثو کښ ذکر دي د دې ټولو نه روستو نورې حلالې دي۔ دېته ابن عطیه او آلوسي اشاره کړیده۔ څلورمه وجه، دلته مقید دے په اقارب سره یعنی حلال کړے شویدي ما سوا د ماقبل د اقاربو نه چه غیر ذوات المحارم دي (ابوحیان)۔
په دې وجوهو کښ اوله وجه غوره ده۔
اَنْ تَبْتَغُوْا بِاَمْوَالِكُمْ، د دې په محل د اعراب کښ درې وجوه دي۔ اوله وجه، دا چه دا بدل اشتمال دے د مَا وَرَاءَ ذٰلِكُمْ نه نو په محل د رفع کښ دے۔ دویمه وجه، دا مفعول له دے په محل د نصب کښ په تقدیر د لام اجلیه سره۔ دریمه وجه، باء مقدر ده یعنی بِاَنْ تَبْتَغُوْا، او دا په محل د جر کښ دے او مفعول د تبتغوا پټ دے یعنی النساء۔ بِاَمْوَالِكُمْ، کښ باء د عوض د پاره ده او د اموال نه مراد مهر عوض دے د نکاح د پاره۔ قرطبي وئیلي دي چه دا لفظ دلالت کوي چه مهر که لږ وي او که ډیر وي نو جائز دے۔ او دا مذهب دے د جمهورو اهل علمو او اصحاب الحدیث۔ او امام شافعي رحمه الله وئیلي دي چه هر یو خیز چه د ثمن د مبیعې (قیمت د یو خیز) یا د اجرت

صلاحیت لري نو هغه مهر کیدیشي که هغه لږ وي او که ډیر وي نو معلومه شوه چه تعلیم د قرآن په بدل د نکاح کښ مهر کیدیشي ځکه چه اجرت په تعلیم د قرآن سره جائز دے - او په دے باندے دلیل هغه مشهور حدیث دے چه بخاري وغیره نقل کړیدے - او امام مالک رحمه الله وئیلي دي چه کمه اندازه درے درهمه یا د دینار څلورمه حصه ده - او د امام ابوحنیفه رحمه الله قول دادے چه د مهر کمه اندازه لس درهمه دي او دلیل نیسي په حدیث د دارقطني سره - لیکن قرطبي وئیلي دي چه د دے حدیث په سند کښ مبشر بن عبید راوي دے چه هغه متروک (پریخودلے شوے) دے - او په دے باندے نور کلام ذکر کړے دے - لیکن د لږ مهر په باره کښ احادیث چه دارقطني راوړے دي لکه خاتم حدید (د اوسپنے ګوتمه) یا کف دقیق وسویق هغه صحیح دي.

مُحْصِنِيْنَ، دا حال دے د فاعل د تبتغوا نه او د احصان نه مراد نکاح کول دي.

غَيْرَ مُسٰفِحِيْنَ، دا دویم حال دے، سفح په لغت کښ بیولو ته وئیلے شي لکه دمًا مسفوحا - او د سفاح نه دلته مراد زنا کول دي ځکه چه د زنا مقصد هم صرف اوبه (مني) بیول وي - او په دیکښ تصریح ده چه مال په عوض د نکاح کښ مراد دے او هغے ته مهر وئیلے شي. اجرت د زنا نه دے مراد ځکه چه هغه خو یقیني حرام دے.

فَمَا اسْتَمْتَعْتُمْ بِهٖ مِنْهُنَّ فَاٰتُوْهُنَّ اُجُوْرَهُنَّ فَرِيْضَةً، مخکښ جمله کښ اشتراط (شرط) د مهر د نکاح د پاره ذکر کړے شو نو اوس په دے جمله کښ د هغے د پوره ایجاب د پاره سبب ذکر کوي چه هغه استمتاع (فائده اخستل) ده - مَا شرطیه دے یا موصوله دے او په دے سره مراد هغه زنانه دي چه استمتاع (فائده) ترینه واخستلے شي

په تاویل دَ نوع دَ مُسْتَمْتَعْ سره - یا ترینه مراد معنیٰ
مصدری ده یعنی هغه فائده چه تاسو حاصله کړئ هغې لره.
او فَاٰتُوْهُنَّ دَ دے جزاء او خبر دے او دَ هُنَّ ضمیر حرف مَا
ته راجع دے ځکه چه مَا په معنیٰ دَ نساء سره جمع کیدے شی.
او بله توجیه دا ده چه ما په معنیٰ دَ مهر سره دے او بِهٖ
کښ باء سببیه عوضیه ده او اُجُوْرَهُنَّ کښ ئې اسم ظاهر
په ځائے دَ ضمیر باندے ذکر کړیدے دَ وجوب دَ علت دپاره
چه دَ اجر دے او اجر ورکول واجب دی - اَسْتِمْتَاع په لغت
کښ تفع حاصلول دی او په کوم څیز باندے چه نفع حاصلیږی
نو هغه متاع وی - نو دَ جمهورو مفسرینو په نیز دَ دینه مراد
جماع کول دی روستو دَ نکاح نه په دلیل دَ دے سره چه
مخکښ لفظ دَ محصنین ذکر شو چه دلالت کوی په نکاح
کولو باندے - نو مقصد دَ جملے دا دے چه دَ نکاح نه روستو
دَ منکوحے (ښځې) نه فائده دَ جماع واخستلے شوه نو دَ هغے
کامل مهر په خاوند باندے واجب شو اګرچه دَ جماع نه
مخکښ نیم واجب دے - او دَ امام ابوحنیفه رحمه الله په
نیز باندے په خلوت صحیحه سره هم ایجاب دَ ټول مهر
راځئ - او بعضے مفسرینو وئیلی دی چه دَ دینه مراد متعه
کول دی دَ ښځو سره - او په یو قرائت کښ دلته لفظ دالی
اجل مسمی ذکر دے نو په دے آیت سره متعه جائز ده
لیکن بیا منسوخ کړے شویده - دَ عائشه رضی الله عنها
او قاسم بن محمد نه نقل دی چه دَ دے تحریم او
نسخ په قرآن سره ثابت دی په آیت (وَالَّذِیْنَ هُمْ
لِفُرُوْجِهِمْ حَافِظُوْنَ - اِلَّا عَلٰی اَزْوَاجِهِمْ اَوْ مَا مَلَكَتْ
اَیْمَانُهُمْ فَاِنَّهُمْ غَیْرُ مَلُوْمِیْنَ - فَمَنِ ابْتَغٰی وَرَآءَ ذٰلِكَ
فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْعَادُوْنَ) (سوره مومنون) یعنی متعه نکاح
نه دے او مِلك (مالک کیدل) هم نه دے نو وراء ذالك
کښ داخل ده او په دے قول سره دغه آیت په مکی سورت

کښې مدنی دے - او دار قطنی دَ علی رضی الله عنه نه روایت
ذکر کړیدے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم دَ متعے
نه نهی کړیده - او دَ ابن مسعود رضی الله عنه قول دے
چه متعه منسوخ ده نسخ دَ دے په حکم طلاق، عدت
او میراث سره شویده ځکه چه په متعه کښې په ښځه باندے
دا دریواړه نه وی بلکه آزاده وی روستو دَ مقرر شوے
نیټے نه - او ابن عباس رضی الله عنهما دَ متعے په جواز
باندے قائل وو لیکن روستوئے رجوع کړیده کله چه
هغه نسخ واوریدله - او دا رنګ قول دَ عمران بن حصین
دے او بیائے رجوع کړیده - دَ دے مزید تفصیل په
اللباب، قرطبی او روح المعانی کښې اوګورئ -
أُجُورَهُنَّ ، دَ دینه مراد بالاتفاق مهر دے چه مسمی
وی یا دَ مهر مثل وی - او دا مهر عوض دے دَ مجموعه
دَحل دَ ښځے او دَ بدن دَ هغے او قائلدے اخستلو دَ هغے نه -
او دا قول قرطبی ذکر کړیدے - فَرِيضَةً ، حال دے دَ
اجور نه یا فعل پټ دے یعنی فَرَضَ اللهُ فَرِيضَةً - او
مفعول مطلق دے -
وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِيمَا تَرَاضَيْتُم بِهِ مِنْ بَعْدِ الْفَرِيضَةِ ،
په دے جمله کښې روستو دَ مقرر کولو او ایجاب کامل نه
په هغے کښې کمے زیاتے کول یا معاف کول ذکر کوی - پدیکښې
دَ زیاتی کولو دَ پاره رضا دَ خاوند شرط ده او دَ کمولو یا دَ معاف
کولو دَ پاره دَ ښځے رضا شرط ده پښان دَ سوره بقرے ۲۳۷ او
نساء ۴ چه مخکښې تیر شویدی -
إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلِيمًا حَكِيمًا ، دا تاکید دے په ترغیب ورکولو
کښې تیر شوے احکامو منلو ته یعنی په دیکښې ډیر حکمتونه
دی چه دَ بندګانو دَ علم نه اوچت دی -

وَمَنْ لَّمْ يَسْتَطِعْ مِنْكُمْ طَوْلًا

او څوک چه نه لري ستاسو نه (مالي) طاقت

اَنْ يَّنْكِحَ الْمُحْصَنٰتِ الْمُؤْمِنٰتِ

چه نکاح اوکړي د آزادو ښځو ايماندارو سره

فَمِنْ مَّا مَلَكَتْ اَيْمَانُكُمْ

(نو نکاح دِ اوکړي) د هغې سره چه مالک وي ښي لاسونه ستاسو

مِنْ فَتَيٰتِكُمُ الْمُؤْمِنٰتِ ط وَاللّٰهُ

د وينځو ستاسو نه چه ايماندارے وي او الله تعالیٰ

اَعْلَمُ بِاِيْمَانِكُمْ ط بَعْضُكُمْ

ښه پوهه دے په ايمان ستاسو، بعضے ستاسو نه (د جنس)

مِّنْۢ بَعْضٍ ج فَانْكِحُوْهُنَّ

د بعضو نه دي نو نکاح کوئ د دوی سره

بِاِذْنِ اَهْلِهِنَّ وَاٰتُوْهُنَّ

په اجازت د مولاګانو د دوی او ورکوئ دوی ته

اُجُوْرَهُنَّ بِالْمَعْرُوْفِ مُحْصَنٰتٍ

مهرونه د دوی په ښهٔ طريقے سره پته کړے شوے به وي (په نکاح کښې)

غَيْرَ مُسٰفِحٰتٍ وَّلَا مُتَّخِذٰتِ

نه په ښکاره زنا کوي او نه به نيسئ

اَخْدَانٍ ج فَاِذَآ اُحْصِنَّ فَاِنْ

پټے دوستانے، نو کله چه دوی سره نکاح اوکړے شي نو که بيا

اَتَيۡنَ بِفَاحِشَةٍ فَعَلَيۡهِنَّ نِصۡفُ مَا

راتلل او کړ دوی په بد کارئ نو په دوی باندے نیمه ده دهغے نه چه واجب ده

عَلَى الۡمُحۡصَنٰتِ مِنَ الۡعَذَابِ ؕ

په آزادو ښځو د سزا (حد د درو وهلو) نه

ذٰلِكَ لِمَنۡ خَشِيَ الۡعَنَتَ

دا نکاح د وینځو هغه چالره ده چه یریږی د زنا کولو نه

مِنۡكُمۡ ؕ وَاَنۡ تَصۡبِرُوۡا خَيۡرٌ

ستاسو نه ، او صبر کول ستاسو (د نکاح د وینځے نه) غوره دی

لَّكُمۡ ؕ وَاللّٰهُ غَفُوۡرٌ رَّحِيۡمٌ ﴿۲۵﴾ ع

۴ ع ۳ ۱

تاسو لره ، او الله تعالیٰ بخونکے دے رحم کونکے دے۔

ف۲۵ :- په دے آیت کښ دیارلسم حکم ذکر کوی روستو د ذکر د تحریم او تحلیل د آزادو ښځو نه۔ په دے آیت کښ د وینځو سره طریقه د تحلیل او د نکاح ذکر کوی۔ او په دیکښ ټولے نهه جملے دی۔ اوله جمله ، وَمَنۡ لَّمۡ يَسۡتَطِعۡ مِنۡكُمۡ طَوۡلًا اَنۡ يَّنۡكِحَ ، طول په اصل کښ فضل ته وئیلے شی او په دیکښ درے اقول دی۔ اول قول د ابن عباس رضی الله عنهما ، مجاهد او سعید بن جبیر دے چه طول په معنیٰ د وسعت (فراخے د مال) دے او غنا او قدرت ته هم وئیلے شی۔ او دلته ترینه مراد قدرت دے په مهر د آزاده ښځه باندے (یعنی که د چا د دغه مهر طاقت نه وی)۔ دویم قول د ابن حبیب او امام ابو یوسف او امام ابو حنیفه رحمهم الله دے چه طول په معنیٰ د وجود د آزادے ښځے دے په نکاح د ده کښ نو مقصد دا دے چه د چا په نکاح کښ آزاده ښځه وی نو ده لره نکاح د وینځے سره جائز نه دے اګر چه وسعت ورسره نه وی او د عنت (ځان په مشکل کښ اچول)

نه هم ویریږي (طبري) - دریم قول د قتاده، نخعي، عطا او سفیان ثوري دے چه طول صبر او زړورتیا ته وئیلے شي - حاصل د دے قول دا دے چه سړے د یوے وینزے سره محبت او مینه لري خو یره کوي د هغے سره د عنت نه نو ده له جائز دي چه د هغې وینزې سره نکاح اوکړي اګرچه د ده سره وسعت د مال د نکاح د آزادے د پاره شته دے. بناء په اول قول باندے نکاح د وینزے مشروط دے په دوه شرطونو سره اول دا چه وسعت مالي د آزادے ښځے د نکاح نه لري - دویم دا چه د عنت نه یره کوي نو اجتماع د دے دواړو شرط ده - دا قول د جابر او ابن عباس رضي الله عنهما او عطاء، طاؤس، امام شافعي، امام مالک او امام احمد رحمهم الله دے. او د مجاهد او امام ابوحنیفه رحمهم الله په نیز د وینزے سره نکاح جائز دے اګرچه وسعت د مال لري د نکاح د آزادے ښځے سره دا په دلیل د عامو نصوصو سره - او د دے نص محمل د دوي په نیز دویم قول دے یا د دوي په نیز باندے مفهوم شرط معتبر نه دے.

طَوْلًا، مفعول مطلق دے د یستطع د پاره په سبب د اشتراک د معنی سره او ان ینکح مفعول به دے د یستطع یا متعلق دے په طولًا پورے - یا طولًا مفعول به دے په معنی د حاصلولو سره دے او ان ینکح په دے پورے متعلق دے - معنی دا ده چه څوک وس او طاقت نه لري د آزادو ښځو مؤمناتو سره د نکاح کولو.

اَلْمُحْصَنٰتِ، د دینه مراد په اتفاق سره آزادے زنانه دي په قرینه د مقابلے د ما ملکت سره -

اَلْمُؤْمِنٰتِ، دا قید مقابل دے د مشرکات، کتابیات او غیر کتابیات نو دا دلالت کوي که یو شخص د آزادے مؤمنے د نکاح وسعت نه لري لیکن د نکاح د آزادے کتابیے وس لري نو جائز ده چه نکاح د وینزے مؤمنے سره او کړي -

فَمِنْ مَّا مَلَكَتْ اَيْمَانُكُمْ، په دیکښ فعل پټ دے یعنی فَلْيَتزَوَّج - او د ابن عباس رضی الله عنهما قول دے چه د دینه مراد مملوکه (وینزه) د بل مسلمان ورور ده ځکه چه انسان له د خپلے مملوکے (وینزے) سره د نکاح کولو حاجت نیشته - (ابن جریر، قرطبی) -

مِنْ فَتَيَاتِكُمْ، دا جمع د فتات ده او عرب په خپله اصطلاح کښ وینزے ته فتات وائی او مرئی ته فتی وائی - او په صحیح حدیث کښ ذکر دی چه خپل مرئی او وینزے ته عبدی او امتی مه وایئ بلکه فتای او فتائی ورته وائی - دا حکم استحبابی دے -

اَلْمُؤْمِنٰتِ، په دے صفت سره ئے احتراز اوکړو د وینزے کتابیے مشرکے نه نو د اکثر اهل علمو په نیز د کتابیے وینزے سره نکاح نه دے جائز - او د امام ابوحنیفه رحمه الله په نیز دا قید صرف د فضیلت د پاره دے - او دوی قیاس کوی په نکاح د آزادو کتابیو باندے چه د هغوی سره نکاح جائز دے نو د وینزے سره ئے هم جائز دے لیکن دا قیاس صحیح نه دے ځکه چه په شریعت کښ د نکاح د وینزو نه تحذیر دے او صاحب اللباب د دے د پاره جدا فصل قائم کړیدے او اته وجوه ئے ذکر کړیدی نو قیاس د جواز د نکاح د کتابیے وینزے سره جائز نه دے په آزاده کتابیه باندے.

دویمه جمله، وَاللّٰهُ اَعْلَمُ بِاِيْمَانِكُمْ، په دے جمله کښ ترغیب دے د نکاح د وینزو د پاره روستو د وجود د شرطونو نه ځکه چه اکثر خلق د هغوی د نکاح نه مطلق نفرت کوی حالانکه داسے نه ده - نو مقصد په دے جمله کښ دا دے چه د وینزے سره د نکاح د جواز د پاره ظاهری ایمان پوره دے او د زړه حساب خو الله تعالی پیژنی مونږ د هغے په علم باندے نه یو مکلف لیکن شرط

دا دے چه دَ هغې نه ښکاره موجب دَ کفر او شرک نه وی صادر شوی - دریمه جمله، بَعۡضُكُم مِّنۢ بَعۡضٍ، په دیکښې هم تانیس (رغیت) دے دَ نکاح دَ وینزو دَ پاره - او په دیکښې رد دے په هغه چا باندے چه دَ فخر دَ نسبونو دَ وجے نه دَ وینزو دَ نکاح نه نفرت کوی - مقصد دا دے چه په جنس کښې هم اشتراک دے او په دین کښې هم دے نو دَ هغوی دَ نکاح نه مطلقًا نفرت جائز نه دے۔
څلورمه جمله، فَٱنكِحُوهُنَّ بِإِذۡنِ أَهۡلِهِنَّ، دا شرط دے دَ نکاح دَ وینزے اگرچه ثیبه بالغه وی - او مراد دَ اهل نه اهل دَ ولایت دے یعنی مولا او مالک دَ هغې۔ او دا دلیل دے چه دَ وینزے دَ مولا دَ رضا نه بغیر دَ هغې سره نکاح باطل دے - او دا جمله دلیل دے چه په دے آیت کښې دَ پردی وینزے بحث دے دَ خپلے وینزے سره دَ نکاح ته حاجت نیشته لکه چه مخکښې ذکر شو - پنځمه جمله، وَءَاتُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ، دَ أُجُور نه مراد مهر دے مسمّٰی وی یا مهر مثل وی یا دَ دینه مراد نفقه ده - اکثر اهل علمو په تیز دَ دے مهر مالک به مالک دَ وینزے وی او نسبت ځکه وینزو ته شوے دے چه دَ مهر سبب دغه وینزه ده او دَ امام مالک رحمه الله په تیز دا ملکیت دَ ښځے (وینزے) دے۔
بِٱلۡمَعۡرُوفِ، دَ دے نه مراد موافق دَ شرع او سنت سره دے (قرطبی) یا په معنیٰ دَ عدم تاخیر او ټال مټول نه کولو دے او دیته عادت جملیه و ئیلے شی۔
مُحۡصَنَٰتٍ، دلته مراد احصان په معنیٰ دَ نکاح شرعی سره دے یا په معنیٰ دَ پاکدامنئ دے۔
غَيۡرَ مُسَٰفِحَٰتٍ، سفاح په ښکاره سره زنا کول دی - جاهلیت والو کښې عادت وو چه بعضو وینزو به په خپلو خپلو ځایونو باندے جهنډے (نخے) لګولے وے۔

وَلَا مُتَّخِذَاتِ اَخْدَانٍ، اَخْدَانٍ جمع دَ خدن ده پټ دوست دَ بدکارئ ته وئیلے شي۔ نو مسافحات هغه دي چه ښکاره بدکاري کوي او مُتَّخِذَاتِ اَخْدَانٍ هغه دي چه په پټه بدکاري کوي لکه وَلَا تَقْرَبُوا الْفَوَاحِشَ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ۔ یا مسافحات عام زنا کوونکي دي او متخذات اخدان هغه دي چه یو مخصوص شخص سره زنا کوي۔

سوال:۔ مخکښ آیت کښ صرف غیر مسافحین ذکر دے او دلته ورسره متخذات اخدان هم ذکر دے؟

جواب:۔ هغه آیت کښ دَ نارینو ذکر دے او په هغوی باندے دَ متخذ اخدان اطلاق نه کیږي او په وینزو کښ دغه دواړه قسمونه موجود وو دَ دے وجے نه ئے متخذات اخدان ذکر کړو۔

شپږمه جمله، فَاِذَآ اُحْصِنَّ فَاِنْ اَتَيْنَ بِفَاحِشَةٍ، دلته دَ احصان نه مراد نکاح کول دي روستو دَ اسلام نه او فاحشة نه مراد زنا کول دي چه په هغے سره اقرار اوکړي یائے په څلورو ګواهانو سره ثابت شي نو فَعَلَيْهِنَّ نِصْفُ مَا عَلَى الْمُحْصَنٰتِ مِنَ الْعَذَابِ، دَ الْمُحْصَنٰتِ نه دلته هغه آزادے ښځے مراد دي چه واده کړے شوے نه وي یعني بکرے وي او زنا اوکړي۔ اَلْعَذَابِ نه مراد حد دَ جلد (دورو وهلو) دے چه هغه په آزادو بکرو باندے سل دُرے دي په دلیل دَ سوره نور ۲ سره نو په وینزه باندے (چه زنا اوکړي) پنځوس دُرے دي۔ لفظ دَ نِصْفِ قرینه ده چه محصنات نه مراد بکرے دي ځکه چه ثیبه (واده کړے شوے) زنا اوکړي نو په هغے رجم (سنګسارول) دے او په رجم کښ تنصیف (نیمه ل) نه کیږي۔ اوداد لیل دے چه مملوکان مرئ او وینزے په احکامو شرعیو کښ دَ آزادو په نیمه باندے دي حکمت ئے دا دے چه عقوبت په مقدار دَ نعمت سره واجبیږي نو مملوکانو باندے

نیم نعمت دے نو عقاب ئې هم نیم دے او دا حکم مریانو
ته هم شامل دے په طریقه دلالت النص سره- او نورو
حدودو ته هم شامل دے- حد قذف او حد شرب دَ
آزادو انیا انیا دُرے دی نو دَ دوی به خلویښت خلویښت وی۔
سوال:- فاذا احصن په معنیٰ دَ واده کړے شوی دَ نو دَ دے دَ قید
لګولو څه فائده ده؟
جواب:- په دیکښ مقصد دفع دَ وهم ده چه آیا دَ دوی
حد (سزا) به زیاتی کیږی په سبب دَ احصان (واده کولو
سره نو او وئیلے شو چه څرنګه دَ واده کولو نه مخکښ (بکره
باندے) حد دَ زنا دُرے وهل دی نو روستو هم هغه دُرے
دی رجم نه دے او دُرے په دواړو حالاتو کښ پنځوس پنځوس
دی- په دلیل دَ حدیث دَ علی رضی الله عنه چه مسلم او
نسائی روایت کړے دے چه حدود قائم کړئ په
ممالیکو باندے که واده کړے شوے وی او که بے واده وی۔
او په دے مقام کښ ابن کثیر دَ دے نور ځلور جوابات
ذکر کړیدی۔

او ومه جمله، ذٰلِكَ لِمَنْ خَشِيَ الْعَنَتَ مِنْكُمْ، په دیکښ
دَ وینزے دَ نکاح دَ پاره روستو دَ عدم طول نه دویم
شرط ذکر کوی- ذٰلِكَ اشاره ده دَ مؤمنے نکاح ته په وخت
دَ عدم طول کښ- اَلْعَنَتَ په اصل کښ هډوکے ماتول دی
روستو دَ جوړیدلو نه او په معنیٰ دَ مطلق مشقت سره
استعمالیږی لکه په دے قول کښ چه لو شاء الله لاعنتکم-
او دلته دَ عنت نه مراد زنا کول دی ځکه چه هغه سبب
دَ عذاب دنیوی او اخروی دے- ابن کثیر وئیلی دی
چه مراد دا دے چه نکاح دَ وینزو سره په مخکنو
شرطونو سره هغه چاله جائزه ده چه دَ زنا کولو نه په
ځان باندے یره کوی او جماع نه صبر کول ورته ګران وی۔
دَ بعضے اهل علمو په تیز لام دَ پاره دَ تخصیص دَ جواز کے

يُرِيدُ اللّٰهُ لِيُبَيِّنَ لَكُمْ

غواړي الله تعالیٰ چه بیان اوکړي تاسو ته (د احکامو خپلو)

وَيَهْدِيَكُمْ سُنَنَ الَّذِينَ

او اوښائي تاسو ته طریقې د هغه کسانو

مِنْ قَبْلِكُمْ وَيَتُوبَ عَلَيْكُمْ ؕ

چه مخکښې ستاسو نه وو او رحم اوکړي په تاسو باندے

وَاللّٰهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴿۲۶﴾

او الله تعالیٰ پوهه دے حکمت والا دے۔

او د بعضو په نيز لام صرف د نفعے د پاره دے۔
اتمه جمله، وَاَنْ تَصْبِرُوْا خَيْرٌ لَّكُمْ، يعنی که يو انسان په ځان باندے مجاهده اوکړي او د بد کارئ (زنا) نه ځان بچ اوساتي او د وينزے د نکاح نه صبر اوکړي نو په ديکښې ډير خير او فائدے دی ځکه چه اولاد به ئے د مرئ والی (غلامئ) نه بچ پاتے شي (يعنی مريان اولاد به پيدا نشي)۔ د عمر رضی الله عنه نه روايت دے چه کوم آزاد شخص د وينزے سره نکاح اوکړي نو خپله نيمه حصه ئے مملوکه کړه (قرطبی)۔
نهمه جمله، وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ، ده۔ آلوسی وئيلی دی چه په دے جمله کښې هم مقصد نفرت ورکول دی د نکاح د وينزے نه ګويا چه دا يو ګناه ده۔
۲۶:۔ په دے آئنده درے آيتونو کښې ترغيب دے تعميل د هغه احکامو د الله تعالیٰ ته کوم چه مخکښې ذکر شويدی۔ په دے آيت کښې ئے درے فائدے ذکر کړے دی۔
فائده له :۔ يُرِيْدُ اللّٰهُ، د سيبويه او جمهورو بصريانو

مذهب دا دے چه دلته مفعول پټ دے یعنی تحلیل ما احل وتحریم ما حرم (حلالول دَ هغې چه حلال کړیدی اوحرامول دَ هغې چه حرام کړیدی) او دغه پټ ته مراد وئیلے شی او په لِيُبَيِّنَ لَكُمْ، کښ لام دَ تعلیل یا عاقبت دَ پاره دے-او دَ کوفیانو په نیز لام په معنیٰ دَ ان سره دے او دَ یریدُ دَ پاره مفعول دے- او په دیکښ نور اقوال هم شته دے لیکن اول قول غوره دے ځکه چه قرآن کریم دَ یرید لفظ نه روستو بعضے آیاتونو کښ ان ذکر کړیدے لکه سورة توبه ۳۲ کښ- او بعضے آیاتونو کښ لام ذکر دے لکه سورة صف ۸ کښ- نو کوم ځائے چه ان ذکر کړیدے نو هغه ته مراد او مقصد وئیلے شی او کوم ځائے چه لام ذکر دے نو هلته مراد پټ دے او دَ هغې علت ذکر دے او دَ هر ځائے سره دَ هغې مناسب کلام ذکر دے- دلته ئے په مفعول کښ تعمیم مراد وو (اَمْرَ دِيْنِكُمْ، مَصَالِحَ اَمْرِكُمْ، مَا يَحِلُّ لَكُمْ وَمَا يَحْرُمُ) نو هغه ئے حذف کړو او دَ هغې درے فائدے ئے ذکر کړیدی- اول بیان کول او دَ بیان نه مراد تمیزکول دی دَ حرام او حلال او دَ حسن او قبیح- او قرطبی وئیلی دی چه په دیکښ اشاره ده چه هیڅ واقعه دَ حکم الٰهی نه خالی نیشته لکه (مَا فَرَّطْنَا فِي الْكِتَابِ مِنْ شَيْءٍ) (سورة انعام ۳۸).

فائده ۲۰- وَيَهْدِيَكُمْ سُنَنَ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكُمْ، سنن جمع دَ سنت ده او په معنیٰ دَ طریقے سره دے او په الذین من قبلکم سره مراد تیر شوے انبیاء علیهم السلام او صالحین دی- او په دیکښ درے توجیه دے- اوله توجیه، آلوسی ذکر کړیده چه مراد دا نه دے چه بعینه دا احکام په مخکښ شریعتونو کښ وو بلکه دا دَ هغې دَ جنس او دَ نوع نه دی په مصلحتونو کښ- نو په دیکښ لفظ مثل یا جنس پټ دے- دویمه توجیه، دا ده چه دا احکام چه په دے سورت کښ دَ یتیمانو، سفهاؤ او زنا نو په باره کښ

وَاللّٰهُ يُرِيْدُ اَنْ يَّتُوْبَ عَلَيْكُمْ وقف

او الله تعالی غواړی چه قبولے کړی توبے ستاسو

وَيُرِيْدُ الَّذِيْنَ يَتَّبِعُوْنَ

او غواړی هغه خلق چه روان دی دَ نفس په

الشَّهَوٰتِ اَنْ تَمِيْلُوْا مَيْلًا

مزو پسے چه کاږه شئ تاسو (دَ حکم دَ الله نه) په کوږوالی

عَظِيْمًا ﴿۲۷﴾

ډير سره -

او دَ نکاح او دَ ميراث په باره کښ ذکر شول دا بعينها په په مخکښ شريعتونو کښ وو (صاحب اللباب) - دا رنګ قاسمي وئيلی دی چه په دے تير شوے آياتونو کښ چه څه ذکر شول نو دا سے احکام په مخکنو ملتونو کښ هم وو او ما په تورات سفر الاحبار للاوليين اتلسم فصل کښ لوستلے دی چه دَ دے تائيد کوی - دريمه توجيه، دا ده چه په اوله جمله کښ ترغيب وو او په دويم کښ تخويف دے او الذين من قبلکم نه مراد تکذيب کوونکی دی او يهديکم نه مراد اخبار ورکول دی او سنن کښ دَ هغوی عذابونو ته اشاره ده (قرطبی) -

فائده ۳ :- وَيَتُوْبَ عَلَيْكُمْ، مراد دا دے چه په امتثال دَ احکامو کښ کله دَ مؤمن نه تقصير کيږی او مؤمن دَ هغے کمی نه توبه اوباسی او الله تعالی ئے قبلوی - يا دَ توبے نه مراد رحمت دَ الله تعالی دے په تير شوے احکامو کښ په خپلو بندګانو باندے -

وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ، عالم دے په مصلحتونو دَ بندګانو باندے او دَ هغه حکمونه دَ دنيوی اخروی حکمتونو او

فوائد وته دک دی۔
۲۷:۔ په دے آیت کښ ترغیب دے احکامو متلوته په طریقه دتقابل سره په مینځ د احکام شرعیه او غیر شرعیه کښ۔
وَاللّٰهُ يُرِيْدُ اَنْ يَّتُوْبَ عَلَيْكُمْ، ابن عطیه وئیلی دی چه دا په ظاهر کښ تکرار دے لیکن مقصد په دیکښ اخبار دے د باطل پرستو د اراده نه۔ لیکن غوره دا ده چه دا تکرار نه دے بلکه په دیکښ فرق دے په دوه وجوهو سره۔ اوله وجه دا ده چه مخکښ توبه په طریقه د علتیت سره ذکر کړیده او دلته په طریقه د مفعولیت سره ذکر ده یعنی هلته توبه علت او فائده د مراد وه او دلته توبه عین مراد دے (اللباب)۔
دویمه وجه، هلته قبولیت د توبے مراد وو او دلته هغه اعمال مراد دی چه د توبے د قبولیت دپاره سبب دی (آلوسی)۔
او هر کله چه دلته مقصد تقابل او تحذیر دے د اتباع د اهل باطل نه نو د اهتمام دپاره ئے واللّٰه مخکښ ذکر کړو اشاره ده چه دغه اراده (د مقرر کولو د اعمالو چه اسباب د توبے دی) خاص ده په اللّٰه تعالیٰ پورے ځکه چه احکام شرعیه مقرر کول په اللّٰه تعالیٰ پورے خاص دی۔
وَيُرِيْدُ الَّذِيْنَ يَتَّبِعُوْنَ الشَّهَوٰتِ، دا لفظ عام دے۔ فاسقانو، یهودیانو، نصاراؤ، مجوسیانو، مشرکانو او زناکارو ټولو ته شامل دے یعنی دا ټول چه په غیر شرعی اعمالو کښ مشغول دی ګویا چه شهوات د دوی متبوع دی او دوی ئے تابع دی۔
اَنْ تَمِيْلُوْا مَيْلًا عَظِيْمًا، د تَمِيْلُوْا متعلق پټ دے یعنی عن الحق چه اتباع ده د احکام شرعیه۔ او لفظ د عظیما دلالت کوی چه د یو ګناه ارتکاب چه کله کله وی او هغے ته ګناه وائی دا خو کله په یو مؤمن مسلمان کښ هم کیږی لیکن د باطل پرستو سره پوره موافقت کول او ګناهو ته خائسته او حلال ګڼړل دا میل عظیم دے۔ او د دے اراده بعضے تفصیل

يُرِيدُ اللّٰهُ أَنْ يُّخَفِّفَ عَنْكُمْ ج

غواړي اللہ تعالیٰ چه آسانتیا راولي په تاسو په خپلو حکمونو کښې

وَخُلِقَ الْإِنْسَانُ ضَعِيفًا ﴿۲۸﴾

ځکه پیدا کړے شوے دے انسان کمزورے -

دا دے چه مشرکان اراده کوي چه د میرے مور سره دے نکاح جائز وي - او یهودیان غواړي چه د پلار او د مور د خوینډو (ترورېانو) سره دے نکاح جائز شي او دغه شان جمع بین الاختین دِ جائز شي - او مجوسیان خو اعتراض کوي چه وریرے او خورځے سره نکاح حرام دے نو د تره او د ماما د لوڼړو سره دِ هم حرام شي - دا رنګ مشرکان په زنا کولو اجرت حلال ګنړي - نو دا ټول غواړي چه مؤمنان دِ په دے کارونو کښې زموږ اتباع اوکړي -

۲۸ :- په دے آیت کښې ترغیب دے امتثال (عمل کولو) د احکام شرعیه ته په بلے طریقے سره او بیان د فرق دے په مینځ د احکام شرعیه او غیر شریعه کښې یعنی په شرعي احکامو کښې تخفیف او آسانتیا ده او غیر شرعي احکامو کښې حرج او تکلیف دے -

يُرِيدُ اللّٰهُ أَنْ يُّخَفِّفَ عَنْكُمْ، دا عام دے ټولو احکامو شرعیو ته او د دے تائید په سوره اعراف ۱۵۷، بقره ۱۸۵ او سوره حج ۷۸ کښې شته دے (اللباب) -

وَخُلِقَ الْإِنْسَانُ ضَعِيفًا، دا په منزله د علت کښې دے د ماقبل د پاره یعنی د احکام شرعیه د تخفیف د پاره ضعف د انسان یو سبب دے - او ضعف د انسان کښې ډیر اقوال دی - اول دا چه د وجے د کثرت د اسبابو د شهوت او لذت نه ضعیف دے - دویم دا چه خلقت (پیدائش) ئے ضعیف دے (کمزورے دے) لکه چه په سوره روم ۵۴ کښې دي - دریم دا چه په باره د معامله د زنا نو کښې کمزورے دے چه د هغوی نه صبر نشي کولے -

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَا تَأْكُلُوٓا۟

اے ایمان والو! مه خورئ

أَمْوَٰلَكُم بَيْنَكُم بِٱلْبَٰطِلِ إِلَّآ

مالونه دَ يو بل په مینځ ستاسو کښ په ناروا مګر

أَن تَكُونَ تِجَٰرَةً عَن تَرَاضٍ

که وی (دا معامله) تجارت په رضا

مِّنكُمْ ۚ وَلَا تَقْتُلُوٓا۟ أَنفُسَكُمْ ۚ

ستاسو، او مه وژنئ ځانونه خپل

إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ بِكُمْ رَحِيمًا ﴿٢٩﴾

یقیناً الله تعالیٰ په تاسو باندے مهربان دے۔

او په دے باره کښ قرطبی بعضے روایات دَ سلفو ذکر کړیدی. او په دے آیت کښ تصریح ده چه دین اسلام دَ ټولو دینونو نه غوره دے ځکه چه دَ انسانانو دَ حالت سره پوره مناسب دے.

فائده :- دَ امام بیهقی روایت دے دَ ابن عباس رضی الله عنهما نه چه دَ سوره نساء اته آیتونه دَ دے امت دَ پاره غوره دی دَ ټولو هغه څیزونو نه چه په هغے باندے نمر ښکاره کیږی او پټیږی۔ دا دړے آیتونه او ۳۱، ۴۸، ۴۰، ۱۱۰، ۱۴۷۔

۲۹ :- په دیکښ څوارلسم حکم دے چه په هغے کښ امور دَ تدبیر منزل او دفع دَ مظالمو ذکر کوی۔

ربط :- ربط ئے دَ مخکښ سره دا دے چه مخکښ سره دا دے چه مخکښ دَ میراث او نکاح په احکامو کښ حقدارو ته دَ مالونو ورکول ذکر شول لکه اٰتوا الیتامیٰ، فان طبن لکم عن شیٍٔ، او حصے دَ میراث ورکول ذکر شوے او دَ مهر په باره کښ لکه اٰتیتم احداهن قنطاراً، فاٰتوهن اجورهن او ان تبتغوا باموالکم۔ تو اوس یو عام حکم شرعی ذکر کوی

چه دَ مالونو او نفسونو سره متعلق دے۔
یَاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا، دا نداء دلالت کوی په ډیر اهتمام دَ دے حکم باندے لَا تَاْکُلُوْٓا اَمْوَالَکُمْ بَیْنَکُمْ، دَ اکل معنی مجازی عامه ده یعنی انتفاع اخستل په یو څیز سره پوره انتفاع (فائده اخستل) - نو دَ بل چا دَ مال اکل (خوراک) دا غلبه کول دی په هغه مال باندے په طریقه دَ ظلم سره۔ اَمْوَالَکُمْ نه مراد دَ یو بل مالونه دی په قرینه دَ بینکم سره۔
بِالْبَاطِلِ، دَ دینه مراد هغه طریقه ده چه دَ شرع نه خلاف وی لکه ربا، جواری، لوټ مار، غصب، غلا او تول او پیمانه کښ کمے کول او نور فاسد او غلط عقد ونه او حیلے کول او نور فاسد او غلط عقد ونه او حیلے کول۔ ابن جریر او ابن کثیر ذکر کړیدی چه دا هم پکښ داخل ده چه یو شخص دَ چا نه یو جامه په بیع سره واخلی او بیا وائی چه که خوښه مے شوه نو وابه یئے اخلم او که خوښه مے نشوه نو واپس به یئے کړم او مثلاً یو روپئ به ورسره درکړم ربا دا سے شرط خرڅوونکے اولږو) اګرچه ورکوونکے په دے باندے رضا وی لیکن دا عقد فاسد دے۔
اِلَّآ اَنْ تَکُوْنَ تِجَارَةً عَنْ تَرَاضٍ مِّنْکُمْ، دا استثناء منقطع ده ځکه چه تجارت شرعیه په باطل کښ داخل نه دے او ضمیر دَ تکون اموال ته راجع دے۔ عَنْ تَرَاضٍ، متعلق دے په صادرة پټ پورے او منکم متعلق دے په کاین (پټ) پورے۔
تِجَارَت په لغت کښ مطلق عوض (بدل) ته وئیلے شی او په اصطلاح کښ عبارت دے دَ بیع او شراء (اخستلو او خرڅولو) نه په شرطونو دَ هغے سره۔ نو دلته یئے تخصیص دَ تجارت او کړو ځکه چه دا ډیر واقع کیدونکے دے او ډیر پاک کسب دے۔ او جائز ده چه دَ تجارت نه عامه معنی مراد کړیشی یعنی دَ بل چا نه مال منتقل کیدل په شرعی طریقے سره که بیع او شراء وی او که هبه او اجاره وی او که میراث وی (اللباب، روح المعانی)

عَنْ تَرَاضٍ مِّنْكُمْ، تَرَاضِ خوشحالی دَ نفس دہ دَ دوارہو طرفونو نہ چہ موافق وی دَ حکم شرعی سرہ۔ پہ دیکښ بیع دَ خیار شرط داخل دے۔ او تراضی دوہ قسمہ دہ۔ اول پہ قول سرہ او ھغے تہ قبول وئیلے شی دَ ھغے تفصیل ابن کثیر ذکر کړے دے۔
وَلَا تَقْتُلُوْٓا اَنْفُسَكُمْ، دَ دینہ مراد قتل کول دَ یو بل دی ځکہ چہ ټول مؤمنان پشان دَ یو نفس دی
سوال :۔ قتل دَ خپل ځان خوھندوان ثواب ګنړی لیکن دَ مؤمنانو خو داسے عقیدہ نشی کیدے نو دَ مؤمنانو دَ پارہ ئے دا خطاب ولے ذکر کړو؟
جواب :۔ کہ دَ نفس نہ مراد خپل ځانونہ شی نو بیا مطلب ئے دا دے چہ دَ ډیر غم او تکلیف دَ وجے نہ بعضے جاھلان مؤمنان خپل ځان قتل کوی (خودکشی کوی) دَ دے وجے نہ ئے دا نھی ذکر کړہ۔ یا مراد دا دے چہ داسے کار مۀ کوئ چہ ھغہ سبب اوګرځی ستاسو دَ قتل دَ پارہ۔ لکہ قتلول دَ بل مسلمان ورور یا زنا کول روستو دَ وادہ نہ یا مرتد کیدل۔ (اللباب)
او دَ ابوداؤد روایت دے چہ پہ ھغے کښ واقعہ دَ عمرو بن العاص رضی اللہ عنہ ذکر دہ چہ پہ سختہ یخنئ کښ دَ غسل جنابت پہ ځائے تیمم اوکړو۔ او دَ دے آیت نہ ئے استنباط کړے وو۔
اِنَّ اللّٰهَ كَانَ بِكُمْ رَحِيْمًا، پہ دے کښ اشارہ دہ چہ دَ باطل خوراکونو نہ منع کول او دَ قتل نہ نھی کول خاص رحمت دَ اللہ تعالیٰ دے۔
فائدہ :۔ دَ مال خوراک پہ باطل طریقے سرہ او دَ قتل دَ نفس پہ مینځ کښ مناسبت دا دے کہ چرے تجارت پہ رضا سرہ جائز نہ وے نو سبب دَ ھلاکت وو او کہ پہ باطلے طریقے سرہ دَ یو بل مالونہ خوړل جائز وے نو دا ھم سبب دَ ھلاکت دَ نفسونو وو چہ خلقو بہ دَ یو بل سرہ جنګ جګړہ کولہ او قتل او قتال بہ پکښ کیدو۔

وَمَنۡ يَّفۡعَلۡ ذٰلِكَ عُدۡوَانًا

او چا چه او کړو دا کار (خلاف کول د احکامو نه) زياتے کوونکے

وَّظُلۡمًا فَسَوۡفَ نُصۡلِيۡهِ نَارًا ؕ

او ظلم کوونکے (په کمی کولو سره) نو زر دے چه داخل به کړو هغه لره اور ته،

وَكَانَ ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ يَسِيۡرًا ﴿۳۰﴾

او دے دا کار په الله تعالیٰ باندے آسان۔

ف۳۰: په دے آيت کښ تخويف اخروی دے او د ابن عباس رضی الله عنهما نه روايت دے چه دا آيت د ابتداء د سورت نه تر دے آيت پورے ټولو منهياتو ته شامل دے۔ او ابن جرير وئيلی دی چه د دے سورت د نولسم آيت نه تر دے آيت پورے شامل دے ځکه چه د هغے نه د مخکښ آيتونو سره تخويفات ذکر شوی دی۔

وَمَنۡ يَّفۡعَلۡ ذٰلِكَ، د فعل نه مراد ارتکاب د منهياتو دے او ذٰلِكَ اشاره ده تير شوے منهياتو ته۔

عُدۡوَانًا وَّظُلۡمًا، دا دواړه حالونه يا مفعول له دی او په دے قيد سره ئے احتراز اوکړو د سهو، نسيان او خطا نه ځکه چه هغه معاف دی۔ او فرق د عدوان او ظلم په مينځ کښ دا دی چه عدوان افراط (زياتے) کول دی د حد نه او ظلم تفريط (نقصان) کول دی د حد نه۔ دا رنګ عدوان تعدی کول دی په بل چا باندے لکه د يتيمانو او کمزورو مال خوړل او ظلم ګناه کول دی په خپل ځان باندے لکه په باطل طريقے سره مال حاصلول يا محرماتو سره نکاح کول وغيره۔

فَسَوۡفَ نُصۡلِيۡهِ نَارًا، اصلاء داخلول دی د عذاب ورکولو او سوځولو د پاره۔ نَارًا، تنوين د تعظيم يا د تنويع د پاره دے۔

وَكَانَ ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ يَسِيۡرًا، ذٰلِكَ اشاره ده په اور کښ سوځولو ته۔ او دا ځکه په الله تعالیٰ باندے آسان دی چه د هغه قدرت

إِنْ تَجْتَنِبُوْا كَبَآئِرَ مَا تُنْهَوْنَ

که ډډه کوئ تاسو د هغه غټو ګناهونو نه چه منع کړے شوی یئ تاسو

عَنْهُ نُكَفِّرْ عَنْكُمْ سَيِّاٰتِكُمْ

د هغے نه نو لرے به کړو ستاسو نه بدئ ستاسو

وَنُدْخِلْكُمْ مُّدْخَلًا كَرِيْمًا ﴿۳۱﴾

او داخل به کړو تاسو ځائے د داخليدلو عزتمند ته۔

کامل دے څوک ئے مقابله نشی کولے او نه د چانه يره کوی او علم ئے راګيروونکے دے د هر څيزونو هر ګناه پيژنی۔

س۳۱:۔ په دے آيت کښ بشارت دے روستو د تخويف نه۔ او د بشارت د پاره دوه امور ذکر دی اول تکفير د سيئاتو (واړه ګناهونه معاف کيدل) دويم جنت ته داخليدل۔

إِنْ تَجْتَنِبُوْا كَبَآئِرَ مَا تُنْهَوْنَ عَنْهُ، قرطبی (په طور د مناسبت سره) وئيلی دی چه هر کله په دے سورت کښ الله تعالیٰ د بعضے ګناهونو نه منع اوکړه نو اوس وعده کوی د هغے نه په اجتناب سره د آسانتيا د صغائرو نه۔ او دا لفظ دليل دے چه ګناهونه دوه قسمه دی څه غټ ګناهونه دی او څه واړه دی اګرچه بعضے په يو جهت سره غټ دی او په بل جهت سره واړه دی۔ او دا قول د جمهورو علماؤ دے۔ او ابو اسحاق اسفرائينی او ابو المعالی او قشيری وئيلی دی چه ګناهونه ټول کبيره دی ليکن بعضو ته صغيره په نسبت د بل ګناه سره (چه هغه ډير غټ وی) وئيلے شی۔ امام رازی وئيلی دی چه اکثر اهل علمو وئيلی دی چه الله تعالیٰ د ټولو کبائرو تميز او تعين نه دے کړے۔ حکمت پکښ دا دے که چرے دا تعين ئے کړے وی نو د دے آيت په وجه سره به په انسان کښ د وړو ګناهونو جرأت پيدا کيدلو او دا د حکيم د حکمت سره مناسب نه دے۔ ها سره د دينه د بعضے کبائرو تعين کړے شوے دے په اشاراتو سره په آياتونو کښ او په تصريح

سره په احادیثو کښې - او دا دے په باره کښې دوه قسمه اقوال دي - اول قسم ذکر د تعین د کبائرو په تعین او په عدد سره.
او په دیکښې ډیر احادیث دي - ابن کثیر تقریبًا شل احادیث ذکر کړي دي چه بعضے د هغے نه دلته ذکر کوو.

ع۱ حدیث د عبد الله بن عمر رضی الله عنهما (مرفوع) دے چه کبائر شرک بالله، عقوق (نافرماني) د والدینو، قتل د نفس او یمین غموس (قسم کول قصدًا په دروغو سره) دي (بخاري، ترمذي، او نسائي) -

ع۲ حدیث د انس رضی الله عنه (مرفوع) دے چه اکبر د کبائرو شرک بالله، عقوق د والدینو او قول د دروغو دے (بخاري، مسلم).

ع۳ حدیث د عبد الله بن مسعود رضی الله عنه (مرفوع) دے چه اعظم گناهونه درے دي اول د الله تعالیٰ سره شریک جوړول او د هغه شریک نه حاجات غوښتل - دویم قتل د خپل ولد او دریم د خپل گاونډي د ښځے سره زنا کول (بخاري، ترمذي).

ع۴ حدیث د ابو هریره رضی الله عنه (مرفوع) دے چه اووه گناهونه موبقات (هلاکوونکي) دي شرک بالله، جادو کول، قتل د نفس په ناروا، ربا کول، د یتیم مال اخستل، د میدان جهاد نه تیخته کول او پاکدامنو ښځو ته د زنا کنځل کول (بخاري، مسلم).

ع۵ د عبد الله بن عمرو رضی الله عنهما بل حدیث (مرفوع) دے چه اکبر د کبائرو نه دا دے چه شخص خپل مور او پلار ته کنځل او لعنت کوي او معنیٰ ئے دا ده چه د بل چا مور او پلار ته کنځل کوي نو جواب کښې به هغه د ده مور او پلار ته کنځل کوي - (بخاري او ترمذي) -

ع۶ حدیث د ابن عباس او د ابن مسعود رضی الله عنهما (مرفوع او موقوف) دے چه اکبر د کبائرو شرک بالله دے - او نا امیدي د رحمت د الله تعالیٰ نه (چه هغے ته یاس او قنوط وئیلے شي)، او د الله تعالیٰ د عذاب نه یره نه کول (ابن جریر، ابن کثیر) -

ع۷ حدیث د طاؤس چه د ابن عباس رضی الله عنهما نه تپوس

اوکړے شو چه آیا کبائر اووه دی؟ هغه ورته اوفرمائیل چه اووه سوو ته نزدے دی لیکن نشته کبیره سره د استغفار نه او نشته صغیره سره د اصرار نه (ابن جریر، ابن کثیر) د احادیثو ذکر کولو نه روستو ابن کثیر بعضے کبائر په تعین سره ذکر کړیدی چه په هغے کښ د مخکښ ذکر کړے شوو نه علاوه نور دا دی بدکاری کول د نارینه د یو بل سره، شراب څکل، غلا کول، غصب کول، د رمضان روژے نه نیول (بے عذره)، صله رحمی (خپلولی) قطع کول، په وزن او پیمانه کښ خیانت کول، مونځ د وخت نه مخکښ کول بغیر د حکم شرعی نه، دا رنګ مونځ د وخت نه روستو کول بغیر د حکم او عذر شرعی نه، دروغ جوړول په رسول الله صلی الله علیه وسلم باندے، صحابه کرامو ته بد رد وئیل، ګواهی پټول، رشوت اخستل، زکوٰة نه ورکول، امر بالمعروف او نهی عن المنکر سره د قدرت نه پرېخودل او طعن کول په اهل قرآن او په اهل علمو باندے۔

دویم قسم په تعریف د کبائرو کښ د سلفو وغیره اقوال دی:

اول قول، د بعضے شوافعو دے چه کبیره هغه دی چه د هغے په باره کښ خاص وعید وی په نص د کتاب الله یا سنت کښ۔ دویم قول، د امام بغوی دے چه کبیره هر هغه ګناه ده چه سبب وی د پاره د ایجاب د حد شرعی۔ دریم قول د ابن عباس رضی الله عنهما دے چه هر هغه ګناه کبیره ده چه د هغے په باره کښ ذکر د اور، جهنم وی یا غضب یا لعنت یا عذاب وی۔ څلورم قول هر حرام لعینه چه هغے نه نهی وارد وی۔ پنځم قول، هر هغه ګناه کبیره ده چه د هغے په تحریم باندے نص موجود وی۔ (دا اقوال آلوسی بغیر د نسبت نه ذکر کړیدی)۔ شپږم قول د ابن مسعود رضی الله عنه دے چه کبائر هغه دی چه نهی ئے کړیده د هغے نه په دے سورت کښ چه هغه تقریبًا درے دیرش[۳۳] دی۔

نُکَفِّرْ عَنْکُمْ سَیِّاٰتِکُمْ، تکفیر، په اصل کښ پټولو ته وئیلے شی او د دینه مراد معاف کول او مغفرت کول دی۔ او د سَیِّاٰت نه

مراد په اتفاق دَ اهل سنت والجماعت سره صغیره ګناهونه دی.
فائده :- دَ اهل سنت والجماعت مسلک دا دے چه یو مؤمن شخص په ګناه کبیره سره (بغیر دَ شرک نه) نه کافر کیږی او ګناه کبیره په توبے سره معاف کیږی او که الله تعالی او غواړی نو په خپل فضل سره ئے هم معاف کوی۔ او ګناهونه صغیره په توبے سره معاف کیږی او دا رنګ په نیکو اعمالو سره هم رژیږی۔ او دَ معتزلو مسلک دا دے چه ګناه کبیره بغیر دَ توبے نه نه معاف کیږی او ګناه صغیره په نیکو اعمالو سره هله معاف کیږی چه دغه شخص ګناه کبیره اونکړی۔ او چه ګناه کبیره ئے کړے وی او توبه ئے نه وی ویستلے نو په نیک اعمالو سره دَ ده صغیره ګناهونه نه معاف کیږی۔

سوال :- په دے آیت کښ ئے خو اجتناب دَ کبیره نه شرط ګرځولے دے دَ پاره دَ معاف کولو دَ صغیره ګناهونو۔ نو دا دلالت کوی چه په دے مسئله کښ چه دَ معتزلۀ مسلک حق دے؟

جواب ۱ :- په لفظ دَ اِنْ سره چه یو څیز معلق کړے شی نو په وخت دَ عدم شرط کښ لازم نه دے عدم دَ هغه څیز۔ او قرآن کریم کښ دا سے ډیر آیتونه دی۔ اول (فَاِنْ لَّمْ يَكُوْنَا رَجُلَيْنِ فَرَجُلٌ وَّامْرَاَتَانِ) - حُکه چه ګواهی دَ زنانه جائز ده اګرچه دوه نارینه موجود وی۔ دویم (وَاِنْ كُنْتُمْ عَلٰى سَفَرٍ وَّلَمْ تَجِدُوْا كَاتِبًا فَرِهٰنٌ مَّقْبُوْضَةٌ) یعنی که یو شخص مسافر نه وی او کاتب هم موجود وی لیکن رهان جائز دے۔ دا رنګ سوره نساء ۱۰۳ او ۱۰۱، سوره نور ۳۳ :- صاحب اللباب نور هم ډیر آیاتونه ذکر کړیدی۔

جواب ۲ :- ابو مسلم وئیلی دی چه مراد دا دے چه په دے سورت کښ مخکښ کوم کبائر ذکر شول دَ هغے چه چا ارتکاب کړے وی او بیا ئے پریږدی نو هغه به الله تعالی معاف کړی۔

جواب ۳ :- دلته دَ کبائر نه مراد کفر او شرک دے په اعتبار

وَلَا تَتَمَنَّوْا مَا فَضَّلَ اللّٰهُ بِهٖ

اومه غواړئ هغه چه غوره والے درکړے دے الله تعالیٰ په هغے سره

دَ اقسامو دَ هغے سره ئے جمع ذکر کړیده - نو مراد دا دے چه کله تاسو دَ کفر او شرک دَ ټولو اقسامو نه ځان بچ کوی نو نور کبیره او صغیره ګناهونه به الله تعالیٰ په خپل فضل سره هم معاف کړی په قرینه دَ سوره نساء ۴۸ سره دا جواب صاحب اللباب په خپل تفسیر او ملاعلی قاری په مرقات کښ ذکر کړیدے.
جواب ۳ :- دلته ذکر دَ اجتناب دے او دا لفظ دلالت کوی په پریخودلو دَ ګناه سره دَ قدرت نه په کولو دغے باندے لکه چه په حدیث دَ غار کښ یو شخص ذکر دے چه هغه په زنا باندے قادر شو لیکن دَ الله تعالیٰ دَ خوف دَ وجے نه ئے دَ هغے نه اجتناب اوکړو او دغه اجتناب کول دَ هغه دَ پاره عمل صالح جوړ شو او وسیله شوه - نو دلته مراد دا دے چه په ګناهونو باندے چه تاسو قدرت اومومئ لیکن دَ الله تعالیٰ دَ خوف دَ وجے دَ هغے نه ځان اوساتئ نو دا تاسو له عمل صالح اوګرځیدلو او په دے سره واړه ګناهونه معاف کیږی - او دا جواب بے تکلفه دے.
وَنُدْخِلْكُمْ مُّدْخَلًا كَرِيْمًا ، دا بشارت دے په جنت سره. یعنی چه سیئات معاف شی او دَ کبائرو نه اجتناب اوکړیشی نو جنت ته به په دخول اول سره داخلیږی ، مُّدْخَلًا ، په پیښ دَ میم سره مصدر میمی یا ظرف مکان دے لیکن ظرف مکان په دا سے مقام کښ مفعول به وی دَ اخفش په نیز او مفعول فیه دے دَ سیبویه په نیز۔ كَرِيْمًا ، خائسته چه ډیر منافع پکښ وی او دا صفت دَ مقام راځی لکه مقامٍ كريمٍ-

بَعۡضَكُمۡ عَلٰى بَعۡضٍ ؕ لِلرِّجَالِ

بعضے ستاسو نه په بعضو باندے، دپاره د نارینو

نَصِيۡبٌ مِّمَّا اكۡتَسَبُوۡا ؕ وَلِلنِّسَآءِ

برخه ده د وجے د هغه عمل نه چه دوی کړیدے او زنانو لره

نَصِيۡبٌ مِّمَّا اكۡتَسَبۡنَ ؕ وَسۡئَلُوا اللّٰهَ

برخه ده د وجے د هغه نه چه دوی کړیں دے، او غواړئ د الله تعالیٰ نه

مِنۡ فَضۡلِهٖ ؕ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ

د فضل د هغه نه یقینًا الله تعالیٰ دے

بِكُلِّ شَىۡءٍ عَلِيۡمًا ﴿۳۲﴾

په هر خیز پوهه۔

۳۲:۔ په دے آیت کښں پنځلسم حکم دے دپاره د دفع کولو د ظلمونو یعنی حسد کول سبب د مظالمو دے نو د دینه ځان بچ اوساتئ۔

ربط ۱:۔ مخکښں ئے منع اوکړه د باطل خوراکونو او قتلونو نه نو اوس نهی کوی د سبب د هغے نه چه رسول کوی هغه حسد ته۔

ربط ۲:۔ مخکښں تطهیر د انسامونو ذکر کړے شو د حرامو نه نو اوس تطهیر د قلب ذکر کوی د حسد نه چه سبب د حرامو او ګناهونو دے۔

وَلَا تَتَمَنَّوۡا مَا فَضَّلَ اللّٰهُ بِهٖ بَعۡضَكُمۡ عَلٰى بَعۡضٍ ، تمنی، طلب د یو خیز دے په طریقه د ارمان کولو سره او اکثر په ممتنعاتو کښں استعمالیږی او کله کله په ممکناتو هم استعمالیږی۔

مَا فَضَّلَ اللّٰهُ الخ، په دیکښں مرتبه، جاه، عزت او د مال فراخی (امور کونیه)۔ د ا رنګ زیاته حصه د نارینه په میراث کښں

وغیره ټول داخل دي۔
ترمذي روایت راوړیدے د ام سلمه رضی الله عنهما نه چه دے وئیلے وو چه نارینه غزا کوي او مونږ نه کوو او زمونږ د پاره په میراث کښې نیمه برخه ده نو دا آیت نازل شو۔ او دا تمنی معنیٰ د حسد ده یعني په آیت کښې د حسد نه منع ذکر ده۔ او د حسد قباحت د سوره فلق په تفسیر کښې به ان شاء الله ذکر شي۔ او د دے په قباحت او بدئ کښې احادیث ډیر دي۔ او کوم حدیث کښې چه جواز د حسد په دوه څیزونو کښې ذکر دے نو امام بخاري رحمه الله د هغے معنیٰ په غبطے رسیدلی کولو سره کړیده د هغے نه حسد نه دے مراد۔ نو د دغه حدیث په بناء په آیت کښې حسد او غبطه دواړه داخل دي چه منع دي لیکن قرطبی وئیلی دي چه کله تمنا او غبطه کولو کښې بل شخص ته تعرض کول مقصد نه وي نو هغه جائز دے لکه په صحیح حدیث کښې دي چه نبي کریم صلی الله علیه وسلم د شهادت تمنا کوله (وَدِدْتُ اَنْ اُحْیٰی ثُمَّ اُقْتَلُ ثُمَّ اُحْیٰی ثُمَّ اُقْتَلُ) (ارمان دے چه ژوندے شوے بیا قتل شوے بیا ژوندے شوے بیا قتل کړے شوے)۔ او په دے تمنا (چه منع ترے شویده) او حسد کښې د حرمت وجه دا ده چه د الله تعالیٰ په تقسیم باندے رضا نه وي بلکه په الله تعالیٰ باندے اعتراض کوي او سبب د دشمنۍ او کرکې د یو بل ترمینځ او دا غټ ګناهونه دي۔

لِلرِّجَالِ نَصِيبٌ مِّمَّا اكْتَسَبُوا وَلِلنِّسَاءِ نَصِيبٌ مِّمَّا اكْتَسَبْنَ، دا جمله د ماقبل نهي د پاره علت دے یعني د برخو تقسیم او د صفاتو او حالاتو تقسیم الله تعالیٰ په خپل حکمت سره په مناسب طریقے سره کړیدے او په دے باندے اعتراض صرف حسد کوونکی کوي۔ او دا جمله دلیل دے چه حسد د نارینو او زنانو ټولو د پاره حرام دے۔ او په مخکښې جمله کښې لفظ د بَعْضَكُمْ عَلٰى بَعْضٍ ټولو نارینو او زنانو ته

شامل دے - او پہ دے جمله کښ دَ مفسرینو ډیر اقوال دی.
اول قول دَ قتاده دے چه دَ اکتساب نه مراد عام دے که عمل
دَ خیر وی او که دَ شر وی - او نصیب ثواب او عقاب دواړو
ته شامل دے -
دویم قول دَ ابن عباس رضی الله عنهما دے دَ نَصِیْبٌ، نه
مراد دَ میراث هغه برخے دی چه په قرآن او سنت کښ مقرر
شوی وی او دَ اکتساب نه مراد دَ دوی صفات او استعداد دے
په طریقه دَ تفاوت سره او دیته اکتساب مجازًا وئیلے دے
(آلوسی)- دریم قول دَ ابو عبد الله او ابن عباس رضی الله عنهم
نه روایت دے چه دَ دینه مراد دَ دنیا نعمتونه دی چه په
تجارتونو، زراعت او نورو کسبونو سره حاصلیږی څنګه چه
په تقدیر کښ مقرر دی - نو دَ نَصِیْبٌ نه مراد هغه دے
چه الله تعالیٰ په تقدیر کښ مقرر کړیدے (آلوسی) -
وَسْئَلُوا اللّٰهَ مِنْ فَضْلِهٖ، په دے جمله کښ دوه اقوال دی - اول
قول دا چه دویم مفعول پټ دے دَ ابن عطیه په نیز باندے
یعنی امانیکم پټ دے او دَ ابو علی فارسی وغیره په نیز باندے
شیئًا پټ دے - او مِنْ فَضْلِهٖ، کښ په اوله توجیه باندے من
اجلیه دے او په دویمه توجیه صفت دے دَ شیئًا دَ پاره - او
پټوالے دَ مفعول دلالت کوی په تعمیم باندے - دویم قول دا
چه مِنْ زیاتی دے او دا قول دَ اخفش دے - او دا امر مقابل
دَ تمنی دے یعنی په تمنا کولو سره هیڅ نه حاصلیږی بلکه دَ
الله تعالیٰ نه سوال کوئ او دُعا غواړئ نو هغه ئے قبلوی او
ورکوی - قرطبی وئیلی دی چه دا امر دلیل دے چه دَ الله تعالیٰ
نه سوال کول واجب دے - او په روایت دَ ابن مسعود رضی الله
عنه سره حدیث مرفوع دے چه سوال کوئ دَ فضل دَ الله تعالیٰ
نه ځکه چه الله تعالیٰ سوال کوونکی محبوب ګڼړی او افضل
عبادت انتظار دَ فراخئ دے - او بل روایت دَ ابو هریره
رضی الله عنه نه مرفوعًا نقل دے چه څوک دَ الله تعالیٰ نه

وَلِكُلٍّ جَعَلْنَا مَوَالِيَ مِمَّا

او د پاره د هرچا مقرر کړيدي موږ وارثان د هغه مال

تَرَكَ الْوَالِدَانِ وَالْأَقْرَبُونَ ۚ

چه پرېښودلے وي مور او پلار او خپلوانو

وَالَّذِينَ عَقَدَتْ أَيْمَانُكُمْ

او هغه کسان چه کلک شويدي قسمونه ستاسو

فَآتُوهُمْ نَصِيبَهُمْ ۚ إِنَّ اللَّهَ

نو ورکوئ هغوی ته برخه د هغوی ، يقيناً الله تعالیٰ

سوال نه کوی نو الله تعالیٰ په هغه باندے غضب کوی۔ دواړه روايات ترمذی رحمه الله ذکر کړيدی۔

فائده :- په صيغه د امر مخاطب کښې د سوال نه، د جمهورو په نيز قاعده داده چه د واو يا فاء نه روستو وی نو همزه پکښې ښکاره وی لکه (فَإِن كُنتَ فِي شَكٍّ مِّمَّا أَنزَلْنَا إِلَيْكَ فَاسْأَلِ الَّذِينَ يَقْرَءُونَ الْكِتَابَ مِن قَبْلِكَ) (يونس ۹۴) او دا آيت واسئلو د کسائی او ابن کثير په نيز په ديکښې تخفيف (همزه غورځول) جائز دی۔ او هر کله چه واو او فاء نه وی يا امر غائب وی نو اتفاق دے د قراؤ په تخفيف باندے لکه (سَلْ بَنِي إِسْرَائِيلَ) او (لْيَسْأَلُوا مَا أَنفَقُوا) (الممتحنه ۱۰) (اللباب)۔

إِنَّ اللَّهَ كَانَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمًا، يعنی الله تعالیٰ تقسيم او تقدير د خپل علم موافق کړيدے۔ دارنګ د چا سوال قبلول د خپل حکم مطابق کوی او عالم دے په زړونو د حسد کوونکو باندے۔

كَانَ عَلٰى كُلِّ شَىْءٍ شَهِيْدًا ﴿٣٣﴾ ع ۵ ۸ ۲

په هر څيز باندے حاضر ناظر دے۔

۳۳:۔ په دے آيت کښې شپارسم حکم دے ډ ميراث په باره کښې ډ ظلم ډ دفع کولو ډ پاره۔

ربط ۱ :۔ دا علت دے ډ لا تتمنوا ما فضل الله ډ پاره يعنی ډ بل چا په مال کښې طمع مه کوئ که ژوندے وی او که مړ وی ځکه چه الله تعالیٰ ډ هغے حقدار مقرر کړيدی۔

ربط ۲ :۔ يا دا متعلق دے ډ للرجال نصيب سره يعنی دغه نصيب (برخه) ډ ميراث په ولايت ډ ولادت او قرابت پورے متعلق دے۔

وَلِكُلٍّ جَعَلْنَا مَوَالِيَ مِمَّا تَرَكَ الْوَالِدٰنِ وَالْاَقْرَبُوْنَ ، كُلٍّ لفظ مضاف استعماليږی او کله چه قطع شی ډ اضافت نه نو په عوض ډ مضاف اليه کښې تنوين راځی او په معنیٰ کښې ئے مناسب مضاف اليه راوستلے کيږی۔ او دلته په تقدير ډ کلام کښې ډ مفسرينو ډير اقوال دی۔ بعضے ډ هغے نه ډ فائدے ډ پاره ذکر کووم۔

اول قول دا دے چه مضاف اليه هالك يا تارك پټ دے او تارك سره مال هم پټ وی او جعل نه مراد حکم شرعی دے او موالی نه مراد اهل ولاء په معنیٰ ډ قرب او ميراث سره دے۔ او مِمَّا تَرَكَ متعلق دے په معنیٰ ډ موالی پورے يعنی يلؤنه يرثونه او من ډ تبعيض ډ پاره دے او ما موصوله په معنیٰ ډ مال سره دے او الوالدان والاقربون بدل دے يا بيان دے ډ موالی ډ پاره او الف لام په الوالدان والاقربون کښې بدل دے ډ مضاف اليه ضمير نه يعنی والداهم واقرباءهم۔ نو معنیٰ دا شوه چه ډ هر يو وفات شوی شخص يا هر پريخودونکی ډ مال ډ پاره مونږ مقرر کړيدی خپلوان وارثان چه وراثت اوړی بعضے ډ هغے مال نه چه پريخودلی وی هغه مړی۔ او هغه خپلوان وارثان

مور او پلار او نورخپلوان دی - او په ذکر دَ الوالدان سره اولاد ته هم اشاره ده یعنی ولادت سبب دے دَپاره دَ میراث - په دے توجیه سره دا آیت متعلق دے دَ للرجال نصیب مما اکتسبوا سره -

دویم قول، دَ کلٍّ مضاف الیه شئ پټ دے - مما ترک کښ ما نه مراد حال دَ میراث دے، معنیٰ دا ده چه دَ یو څیز دَپاره دَ هغه څیزونو او مالونو نه چه پریخودلے وی مور او پلار او خپلوانو روستو دَ مرګ نه مونږ مقرر کړی دی مستحق دَ میراث دَپاره - او په دے معنیٰ سره دا مناسبت لری دَ ما فضل الله به بعضکم علی بعض سره -

دریم قول، مضاف الیه دَ کل منکم پټ دے - موالی په معنیٰ دَ عصبه وارثانو دے او من دَ تبعیض دَپاره دے او ما په معنیٰ دَ من موصوله دے، الوالدان والاقربون فاعل دے دَ ترک دَپاره یعنی عصبه دَ هغه کسانو نه چه پریخودلے وی مور او پلار چه هغه تره، نیکه او ماما دے - او پریخودلے وی اقربون چه هغه دَ تره ځوے دے اګرچه هغه خکته وی او وریرونه اودَ هغوی اولاد دی - نو آیت کښ اشاره ده چه روستو دَ ذوالفروضو نه (چه په مخکښ دوه آیتونو دَ میراث کښ ذکر وو) میراث دَپاره دَ عصبو دے په نیز دَ جمهورو - او دَ بعضو په نیز ذوی الارحامو ته هم اشاره ده چه دَ هغے دواړه قسمونه په تفصیل سره په حدیثو کښ ذکر دی - او په دے معنیٰ سره دا دَ میراث دَ آیت سره تعلق لری په طریقه دَ تکملے دَ هغے سره اګرچه دا دَ هغے نه ډیر روستو دے -

څلورم قول، مضاف الیه منکم پټ دے او په دیکښ مخاطب هغه کسان دی چه هغوی ته په لا تتمنوا ما فضل الله سره خطاب وو - موالی نه مراد هغه کسان دی چه دَ هغوی سره حلف (قسم) کړے شوے وی چه هغه ته مولا دَ موالات وئیلے شی - من دَ تبعیض دَپاره دے او ما موصوله په

معنیٰ دَ الذین دے یعنی دوستان دَ هغه چا نه چه پریخودے وی مور او پلار او خپلوانو یعنی هغوی ورسره ولایت دَ موالات په خپل ژوند کښ کړے وی او دیته ولاء قدیم وئیلی شی۔

وَالَّذِيْنَ عَقَدَتْ، په دے توجیه کښ دا عطف دے په الوالدان باندے یعنی چه تاسو دَ هغوی سره نوے قسم او عقد دَ رورولۍ کړے وی نو دیته ولاء جدید وئیلے شی۔ په دے توجیه سره دا آیت دَ لا تتمنوا سره متعلق دے دا رنګ دا دَ میراث دا آیت تکمله ده۔ لیکن حکم دَ مولاد موالات روستو ذکر کیږی۔ دَ دے نه علاوه نورهم توجیهات صاحب اللباب او آلوسی وغیره ذکر کړیدی لیکن هغه دَ مقصد نه بعید او غیر مناسب دی۔

وَالَّذِيْنَ عَقَدَتْ اَيْمَانُكُمْ فَاٰتُوْهُمْ نَصِيْبَهُمْ، یوه توجیه مخکښ ذکر شوه چه دا عطف دے په الوالدان باندے۔ دویمه مشهوره او راجح توجیه دا ده چه دا دَ سر نه کلام دے او دا مبتداء ده او خبرئې فاتوهم دے۔ او دَ عقد او معاقده په تفسیر کښ ډیر اقوال دی۔ اول قول دا چه دا حلف (قسم) دے یعنی په جاهلیت کښ به یو شخص دَ بل چا سره قسم او وعده اوکړه چه زما وینه ستا وینه ده زما جنګ ستا جنګ دے زما صلح ستا ده ته به زما وارث ئې او زه به ستا وارث یم ته به زما نه دیت ورکوے او زه به ستا نه۔ نو بیا به په میراث دَ حلیف کښ دَ بل حلیف (دغه چه وعده به ئې یو بل سره کړیوه) شپږمه حصه وه۔ دا قول دَ ابن عباس سعید بن جبیر او حسن بصری رضی الله عنهم وغیره دے بیا دا منسوخ دے په اولوا الارحام بعضهم اولی ببعض فی کتاب الله (انفال ۷۵) سره۔ دویم قول، دا مواخات (رورولی) ده ځکه هرکله چه مهاجرین مدینے طیبے ته راغلل نو نبی کریم صلی الله علیه وسلم دَ هغوی دَ انصارو سره عقد مواخات اوکړو نو میراث به په مواخات سره ملاویدلو نو دا هم منسوخ شو په تیر شوی آیت سره۔ دا قول هم دَ ابن عباس رضی الله عنهما

او نورو ته روایت دے۔ دریم قول، دا تېنی ده یعنی یو شخص به بل کس ځان له دَ څوے په ځاے اونیولو او په هغه باندے به یې دَ څوے احکام جاری کړل دَ هغه بنځه به یې اینګور ګنړله نو هغه له به یې په میراث کښ حق او برخه ورکوله، بیا دا منسوخ شو لکه په ابتداء دَ سوره احزاب کښ ذکر کیږی۔ څلورم قول، دَ دینه مراد عقد دَ نکاح دے یعنی خاوند او بنځه او دَ دوی میراث ثابت دے په دے سورت کښ مخکښ ذکر شوے دے۔ دا قول دَ ابو مسلم اصفهانی دے۔ په دے قول سره په آیت کښ نسخ نشته دے لیکن په دے ټولو کښ اول قول غوره دے لیکن نسخ نشته بلکه دَ نصیبهم نه مراد نصرت کول او عطیه ورکول دی میراث نه دے مراد۔ او دا ابن جریر دَ مجاهد نه او امام بخاری رحمه الله هم په کتاب التفسیر کښ نقل کړیدی۔

فائده :۔ موالی جمع دَ مولی ده او دا مشترک دے په ډیر معانو کښ آزادوونکے، آزاد کړے شوے غلام (ده ته مولا دَ عتاقت وئیلے شی)، حلیف (هر قسم دوست) ده ته مولا دَ موالات وئیلے شی، دَ تره ځوے (تربور)، امداد کوونکے (په دے معنیٰ الله تعالیٰ ته وئیلے شی لکه ذالك بان الله مولی الذین امنوا (محمد۱۱)، مالک په صفت دَ الله تعالیٰ کښ لکه مولاهم الحق، عصبه خپلوان په دے آیت کښ په یو تفسیر سره دا مراد دے لکه چه مخکښ تیر شو۔

اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ شَهِيْدًا ، شَهِيْدًا په معنیٰ دَ عالم، خبر لرونکے او لیدونکے دے۔ په دے جمله کښ ترغیب دے اطاعت کوونکو ته او تخویف دے عصیان او نافرمانئ کوونکو ته۔

اَلرِّجَالُ قَوّٰمُوْنَ عَلَى النِّسَآءِ

نارینه حاکمان دی په ښځو بانډے

بِمَا فَضَّلَ اللّٰهُ بَعْضَهُمْ عَلٰى

په سبب د دے چه غوره والے ورکړیدے الله تعالیٰ بعضو د دوی ته په

بَعْضٍ وَّبِمَآ اَنْفَقُوْا مِنْ

بعضو بانډے او په سبب د دے چه خرچ کوی د

اَمْوَالِهِمْ ؕ فَالصّٰلِحٰتُ قٰنِتٰتٌ

مالونو خپلو ته (په زنانو بانډے) نو نیکے زنانه تابعداری کوونکے دی (د الله او رسول او

حٰفِظٰتٌ لِّلْغَيْبِ بِمَا

خاوند) ساتونکے دی (د ځان او د مال) په وخت د غائب کیدلو د خاوند په وجه د دے

حَفِظَ اللّٰهُ ؕ وَالّٰتِیْ تَخَافُوْنَ

چه الله تعالیٰ د دوی ساتنه کړیده او هغه زنانه چه یریږئ تاسو

نُشُوْزَهُنَّ فَعِظُوْهُنَّ وَاهْجُرُوْهُنَّ

د بد خوئی د هغوی نه نو وعظ کوئ هغوی ته او جدا شئ د هغوی نه

فِی الْمَضَاجِعِ وَاضْرِبُوْهُنَّ ۚ فَاِنْ

په ځائے د سملاستو کښ او وهئ هغوی لره نو که

اَطَعْنَكُمْ فَلَا تَبْغُوْا عَلَيْهِنَّ

خبره ئے او منله ستاسو نو مه لټوئ په هغوی بانډے

سَبِيْلًا ؕ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلِيًّا كَبِيْرًا ﴿٣٤﴾

لار (د طلاق) یقینًا الله تعالیٰ اوچت دے لوے دے۔

۳۴ :- په دے آیت کښ او ولسم حکم دے د دفعے د ظلم او د اصلاح د کورنئ د پاره۔

ربط ۱ :- دَ مخکښ سره دا دے چه هر کله مخکښ آیت (ولا تتمنوا) کښ اشاره وه زیاتوالی دَ میراث دَ نارینه ته په زنانه باندے نو اوس په دے آیت کښ دَ هغے علت ذکر کوی چه قیام دَ نارینه دے په زنانه باندے۔

ربط ۲ :- هر کله چه مخکښ یو عقد ذکر شو چه سبب دَ نصرت دے نو اوس بل عقد (نکاح) ذکر کوی چه سبب دَ قیام دَ سړی دے په ښځه باندے۔

ربط ۳ :- دا چه مخکښ په قول دَ ابو مسلم اصفهانی کښ په والذین عقدت ایمانکم کښ چه نکاح مراد دے نو اوس دَ ښځے خاوند په کورنئ کښ نظام او طریقه دَ استوګنے ذکر کوی دے دَ پاره چه کورنئ کښ فساد پیدا نشی۔

اَلرِّجَالُ قَوّٰمُوْنَ عَلَى النِّسَآءِ ، الف لام په دواړو کښ جنسی دی یعنی جنسِ نارینه قیام لری په جنسِ زنانه باندے ، بعضو وئیلی دی چه الف لام عهدی دی یعنی هغه سړے چه په هغه کښ سړیتوب ، جراءت ، او هوښیارتیا وی۔ ابوحیان وئیلی دی چه مطلق هغه سړے چه ږیره لری نه دے مراد ځکه چه ډیر کرته ږیرے والا وی خو په هغه کښ هیڅ نفع او ضرر نه وی۔ لیکن اول قول غوره دے۔ تخصیص دَ بعضِ افرادو په قرینه خارجیه سره کیږی۔ ابن عاشور وئیلی دی چه دلته دَ اَلرِّجَالُ نه صرف خاوندان او دَ النِّسَآءِ نه صرف ښځے نه دی مراد بلکه دواړه جنسونه مراد دی ځکه چه دا یو قانون کلی دے۔

قَوّٰمُوْنَ ، صیغه دَ اسم فاعل دَ مبالغے او جمله اسمیه دلالت کوی په ډیر تاکید باندے۔ ابن عاشور وئیلی دی چه دا یو قانون کلی شرعی دے په دے باندے ډیر احکام شرعیه متفرع کیدے شی۔ قَوّٰمُوْنَ دَ قیام نه اخستلے شویدے او صیغه دَ مبالغے ده لیکن لفظ قَيُّوْم کښ دَ دینه مبالغه زیاته ده نو خاص دے په الله تعالی پورے۔ قیام په اصل کښ او دریدلو ته وئیلے شی او استعمالیږی دَ پاره دَ اهتمام په یو څیز باندے او پوخ کیدل۔

دلته دَ مفسرينو نه دَ دے معنیٰ داسے نقل ده - قرطبي وئيلي دي
چه قائم دي په نفقه ورکولو او دفاع کولو دَ ښځو نه ردَ نفقے ذکر
مناسب نه دے ځکه چه هغه ئے روستو سبب گرځولے دے او
سبب او مسبب يو ځيز نشي کيدے) او دا رنګ نارينه حاکمان،
امراء او غازيان کيدے شي او زنانه داسے نشي کيدے) روستو
ذکر کوي قيام په ځيز باندے په هغے باندے پوره نظر کول وي
او دَ هغے په ساتنه کښ کوشش کول دي - نو دَ سړي په زنانه
باندے دَ هغے تدبير کول دي، ادب ورکول دي، په کور کښ
ساتل دي او دَ بهر وتلو نه (بے ضرورته) منع کول دي او په
زنانه باندے دَ هغه طاعت کول دي او دَ هغه هر حکم منل دي
(خو چه دَ شرعے نه خلاف نه وي) - آلوسي وئيلي دي چه دَ سړو
شان دا دے چه دوي به قيام کوي په زنانو باندے پشان دَ قيام
دَ حاکمانو په خپل رعيت باندے په امر او نهي وغيره سره -
صاحب اللباب وئيلي دي چه قوام هغه دے چه قائم وي په
مصلحتونو او په تدبير او په ادب ورکولو او په اهتمام کولو په
ساتنه دَ هغوي باندے - ابن کثير وئيلي دي چه سړے قيم
دے په ښځه باندے معنیٰ دا چه دَ هغے رئيس او مشر دے او په
هغے باندے حاکم دے او ادب ورکوونکے دے کله چه هغه کوږوالے
کوي - او علي بن ابي طلحه دَ ابن عباس رضي الله عنهما نه روايت
نقل کړيدے چه دَ قوامون معنیٰ دا ده چه اميران به وي په
هغوي باندے او ښځه به دَ هغه طاعت کوي په مقام دَ طاعت
کښ او طاعت دا دے چه هغه دَ اهل سره به احسان کوي او دَ
هغه دَ مال حفاظت به کوي - او دَ دے قيام دَ پاره الله تعالیٰ
دوه اسباب ذکر کړيدي اول وهبي دويم کسبي -

وهبي دا دے چه بِمَا فَضَّلَ اللَّهُ بَعْضَهُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ، فضيلت
دَ نارينو په زنانو باندے په ډيرو وجوهو سره دے چه بعضے
حقيقيه دي او بعضے احکام شرعيه دي - هغه دا دي چه عقل
او علم (په اکثري طور) دَ نارينه ډير دي - په سختو کارونو

بانده ئے قدرت ډیر دے او قوت او د غشو ویشتل او په آسونو سورلئ کول وغیره - او امامت کبری او امامت صغری او جهاد کول، آذان وئیل، خطبه ورکول او شهادت ورکول په حدودو او قصاص کښ، په میراث کښ زیاته حصه اوړل، دیت ادا کول په قتل خطائ او قسامت کښ، اختیار د نکاح او د طلاق او د رجوع او په نسب کښ نسبت هغه ته - دا سے صاحب اللباب شمار کړی دی.
آلوسی وئیلی دی چه الله تعالیٰ د دے فضائلو تفصیل نه دے کړے ځکه چه دا ټول اهل عقلو ته معلوم دے - او هغه وئیلی دی چه رسالت او نبوت زپه مشهور قول سره) او امامت کبری او صغری په سړو پورے خاص دی دا په زنانه کښ نشی کیدلے - او ابن کثیر وئیلی دی چه سړے غوره دے د ښځے نه د دے وجے نه نبوت خاص دے په نارینه پورے او دارنګ لوے بادشاهئ خاص دی په نارینو پورے د وجے د حدیث د نبی کریم صلی الله علیه وسلم نه لَنْ يُّفْلِحَ قَوْمٌ وَلَّوْا اَمْرَهُمْ اِمْرَاءَةً (هیچرے نشی کامیابیدے هغه قوم چه اختیار د ولایت ښځے له ورکړی) (بخاری په روایت د ابوبکر رضی الله عنه) او دا رنګ منصب د قضا وغیره په سړی پورے خاص دی - قاسمی وئیلی دی چه په دے آیت سره دلیل نیولے کیږی چه ښځے لره نه دی جائز چه قاضیه ډِ شی لکه چه لوے امامت ورله نه دے جائز ځکه چه الله تعالیٰ نارینه قوام کړځولے دی په ښځو بانده نو جائز نه دی چه ښځه دِ قیام (زمشری) کوی په نارینه بانده دا کلام ئے د سیوطی د کتاب اکلیل نه نقل کړیدے.
سوال :- د حدیث د لن یفلح قوم آه په سند کښ عوف ابن ابی جمیله دے چه هغه ته ابو سهل وئیلی شی - په هغه بانده امام ذهبی په سیر اعلام النبلاء کښ او نورو ناقدینو سخته جرحه کړیده نو په دے حدیث بانده استدلال نشی کیدے؟
جواب ع :- دا د امام بخاری رحمه الله د روایا تو نه دے او ابن حجر د فتح الباری په مقدمه کښ ذکر کړیدے چه د امام بخاری روایت کول د یو راوی نه دلالت کوی د هغه په وثوق (اعتماد)

بانده ځکه چه امام بخاری هم د اصحابو د جرح او تعدیل نه دے.
جواب ۲: جرحه په هغه بانده په اعتبار قدریت او تشیع سره ده لیکن د اکثر محدثینو په نیز د اهل بدعت نه روایت کول صحیح دی کله چه په هغه کښ د وثوق نور صفات وی او په ده کښ هغه صفات د وثوق موجود دی. په سیر اعلام النبلاء شپږم جلد ص۳۸۳ کښ هغه ته ثقه مکثر، او ثقه ثبت وئیلی دی۔ او تهذیب الکمال دوویشتم جلد ص۴۳۷ نه ترص۴۴۱ پورے وئیلی دی چه امام احمد ورته ثِقَه صَالِحُ الْحَدِیْث وئیلی دی۔ یحیٰی بن معین ورته ثقه او ابوحاتم ورته صدوق او صالح وئیلی دی او نسائی وئیلی دی ثقه ثبت او مشهور دے په صدوق سره۔ او ابوداؤد وئیلی چه ټول جماعت د محدثینو د هغه نه نقل کړیدے نو د دے وجے نه د ده روایت قبول دے۔
جواب ۳: د عوف نه ماسوا نورو راویانو هم د عوف متابعت کړیدے یعنی ترمذی د حمید الطویل عن الحسن عن ابی بکرة رضی الله عنه نه روایت راوړیدے۔ سنن نسائی هم په دغه سند سره ذکر کړیدے۔ امام احمد رحمه الله په مسند کښ د ابوعبد الرحمن بن جوشن عن ابیه عن ابی بکرة۔ په سند سره ذکر کړے دے او دا سے سند په مسند د طیالسی کښ هم شته دے۔ دا رنګ امام احمد د حمید عن الحسن عن ابی بکرة رضی الله عنه سند هم ذکر کړیدے۔ او دا رنګ د مبارک بن فضاله عن الحسن عن ابی بکر رضی الله عنه سند ذکر کړیدے (مسند امام احمد جلد پنځلسم صفحات ص۲۱۶، ص۲۳۵، ص۲۳۷) دا رنګ مستدرک د عبد العزیز بن ابی بکر عن ابیه سند راوړیدے او د حمید الطویل سند ئے هم ذکر کړے دے (جلد څلورم ص۲۹۱) او په مسند الشهاب دویم جلد ص۱۵ کښ عن مبارک بن فضاله عن الحسن عن ابی بکر رضی الله عنه سند ذکر دے۔ او په دے سند سره صحیح ابن حبان اووم جلد ص۲۵ او معجم الصحابه د ابن قانع دریم جلد ص۱۴۳

کښې عتیبه بن الرحمٰن بن ابی بکره عن ابیه سند ذکر دے۔ او مصنف دَ ابن ابی شیبه پنځلسم جلد ص۲۶۶ کښې هم دا سند ذکر کړیدے۔ نو معلومه شوه چه په دے سند کښې دَ عوف په متابعت کښې حمید الطویل، ابو عبد الرحمن بن جوشن، مبارک بن فضاله، عبد العزیز بن ابی بکره او عبد الرحمٰن بن ابی بکره امامان دَ حدیث ذکر دی۔

فائده:- دلته ما اوږده خبره دَ دے وجے نه ذکر کړه چه دَ دے زمانے اکثر بے دینه یا دَ دین نه ناخبره خلق زنانو له مشری، صدارت یا وزارت عظمی دَ ملک ورکوی او دا جائز ګنړی او په حدیث دَ عوف باندے اعتراض کوی نو ان شاء الله چه دَ دے تحقیق او تفصیل نه روستو خبره واضح شوه۔

وَبِمَآ اَنۡفَقُوۡا مِنۡ اَمۡوَالِهِمۡ، دا دویم سبب (کسبی) دے دَ پاره دَ اثبات دَ قیام دَ نارینو په زنانو باندے۔ او دا عقلی تقاضا هم ده ځکه چه همیشه انفاق کوونکے حاکم وی په هغه چا چه خرچه ئے کوی۔ او صحیح حدیث کښې هم وارد دی چه هغه لاس چه انفاق کوونکے دے هغه ید علیا (راوچت لاس) دے۔ هاں دَ دے کسبی سبب په وخت دَ عدم کښې قیام دَ سړی په خپله ښځه باندے ختمیدے شی۔ تفصیل ئے قرطبی لیکلے دے چه هر کله خاوند دَ نفقے دَ ښځے نه عاجز شو نو دے په هغے باندے قوام (حاکم) نشی کیدے نو داسے وخت اختیار دَ فسخ دَ نکاح دَ قاضی دَ پاره ثابت دے او په دے سره امام مالک او شافعی رحمهم الله ثابت کړے دے ثبوت دَ فسخ دَ نکاح په وخت دَ فقر او غربت دَ خاوند دَ نفقے او جامے ورکولو نه اګرچه دَ امام ابو حنیفه رحمه الله په نیز نه دے ثابت بلکه هغه له به مهلت ورکیدے شی تر حالت دَ آسانتیا پورے۔ او دلته دَ مَآ اَنۡفَقُوۡا نه مراد مهر، نفقه او استوګنه وغیره ده چه حقوق واجبه دی په خاوند باندے دَ ښځے۔ فَالصّٰلِحٰتُ، دَ خاوند دَ حال دَ ذکر کولو نه روستو حال دَ زنانه او ورسره طریقه دَ قیام دَ خاوند ذکر کوی۔ او دَ زنانه دوه حالات

ذکر کوی صالحات او ناشزات - دَ صالحات نه صلاح شرعي مراد ده - او دا مبتداء ده او قانتات ئې خبر دے -

قَٰنِتَٰتٌ، معنیٰ ئې دا ده چه اطاعت کوونکی وی دَ الله تعالیٰ او دَ رسول صلی الله علیه وسلم او دَ خپل خاوند - لیکن دَ خاوند اطاعت کښې شرط دا دے چه دَ ګناه کار کښې به دَ هغه طاعت نه کوی.

حَٰفِظَٰتٌ لِّلۡغَيۡبِ، دَ حٰفِظٰتٌ نه مراد حفاظت کوونکے دی خپلو نفسونو او دَ مال دَ خاوند، او لام په معنیٰ دَ فی دے یا لام دَ پاره دَ وخت دے لکه لدلوك الشمس سوره اسراء کښې او غیب مصدر دے په معنیٰ دَ غیبوبت دَ خاوند لکه چه په لم اخنه بالغیب سوره یوسف کښې دے - او دَ دے تائید حدیث دَ ابوداؤد الطیالسی دے چه دَ ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی چه غوره دَ ښځو نه هغه دی چه هر کله ته (اے خاونده) ورته ګورے نو ستا خوشحاله کوی او کله چه ته ورته حکم کوے نو ستا طاعت کوی او کله چه ته دَ هغې نه غائب ئې نو حفاظت کوی دَ خپل نفس (ستا دَ پاره) او ستا دَ مال، او دا آیت کریمه ئې اولوستلو. الوسی او صاحب اللباب بله توجیه دا لیکلے ده چه لام دَ الغیب په خپلې معنیٰ سره دے او معنیٰ ئې دا ده چه حفاظت کوی دَ خاوند دَ رازونو او دَ پټو حالاتو، او رازونو ته غیب وئیلے شی - غوره تفسیر اول دے ځکه چه په حدیث سره ثابت دے.

بِمَا حَفِظَ ٱللَّهُ، نحاس وئیلی دی چه بَاء سببیه ده او مَا مصدریه دے او دَ حفظ دَ الله تعالیٰ نه مراد امداد او توفیق دے او بل کول دَ دوی دی دَ ګناه نه - او زجاج وئیلی دی چه مراد دَ حفظ نه امر دَ الله تعالیٰ دے خاوندانو ته په ادا کولو دَ مهر او دَ نفقې سره نو دَ هغې په بدله کښې ښځو لره دَ خپل نفس او دَ خاوند دَ مال حفاظت ضروری دے - او بعضو وئیلی دی چه حفظ په معنیٰ دَ استحفظ دے یعنی په سبب دَ دے چه

الله تعالی د زنانو نه طلب د حفاظت د نفس او د مال د خاوند
کړیدے په واجب کولو سره په هغوی باندے۔
وَالّٰتِیْ تَخَافُوْنَ نُشُوْزَهُنَّ، دا دویم حال او قسم دے د
ښځو یعنی ناشزات لیکن صالحات ئے په اسم فاعل سره
ذکر کړو او ناشزات ئے او نه ویل ځکه چه د مسلمانانو
ښځو غالب حال صلاحیت وی او نشوز پکښ کله کله پیدا کیږی.
تَخَافُوْنَ، د خوف نه مراد هغه حالت دے چه په زړه کښ
پیدا کیږی په وخت د راتللو د یو مکروهه څیز په زمانه مستقبل
کښ او دا علم ظنی وی۔ نُشُوْزَهُنَّ، نشز په اصل کښ پورته کیدلو
ته وئیلے شی لکه واذا قیل انشزوا فانشزوا (سوره مجادله)
دا رنګ ننشزها ثم نکسوها لحما (سوره بقره) او پورته
(اوچتے) زمکے ته هم وئیلے شی۔ او دلته نشوز د ښځے د خپل
خاوند د حکم نه خلاف کول دی په اطاعت د الله تعالی او د
رسول الله صلی الله علیه وسلم او د خاوند خپل کښ او بد ګنړل
د ښځے دی خاوند لره۔ او کله دا صفت په خاوند کښ هم راځی
لکه د دے سورت په آیت ۱۲۸ کښ دی یعنی نفرت کول د خاوند
د خپلے ښځے نه۔ نو په دے نفرت کښ معنی د ترفع (ځان اوچت
ګنړلو) راځی۔ او صاحب اللباب د امام شافعی رحمه الله نه نقل
کړیدی چه دلیل د نشوز کله قولی وی او کله فعلی وی۔
قولی دا دے چه مخکښ به خاوند دے ښځے ته آواز کوو
نو دے به لبیک وئیلو او کله به چه هغه ورسره خبرے کولے
نو دے به په عاجزئ سره اوریدلے او ښه به پرے لګیدلے
لیکن ناساپه دا حالت بدل شی۔ او فعلی دا دے چه کله به
خاوند کورته داخل شو نو دا به پاځیدله او کله به چه هغه
ورته د څه کار حکم اوکړو نو دے به زر په خوشحالئ سره کولو
سره به حاضریدله لیکن دا حالت ئے ناساپه بدل شو
نو دیته علامات د نشوز وئیلے شی۔ په دے علاماتو سره علم

دَنشوز حاصل شو نو روستو حکم په دے علاماتو باندے مرتب دے. نَعِظُوهُنَّ، قرطبی وائی چه وعظ دے ورته اوکړی په کتاب دَ الله تعالیٰ سره رکوم چه الله تعالیٰ په ښځو باندے دَ خاوند سره حسن صحبت واجب کړیدے او دا رنګ اقرار کول په اوچتو درجو دَ خاوند سره حسن صحبت واجب کړیدے او دا رنګ اقرار کول په اوچتو درجو دَ خاوند چه په دے آیت کښ ذکر دی). او دا حدیث دَ نبی صلی الله علیه وسلم دے ورته بیان کړی چه نبی صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی چه که چرے ما اجازت ورکولے یو شخص ته چه بل شخص ته دِ سجده اوکړی ردَ اکرام او دَ عبادت هر یو مراد ده) نو ما به ښځو ته اجازت کړے وے چه خاوندانو ته دِ سجده کوی (بخاری) -

بل حدیث دا دے چه کله خاوند خپله ښځه خپلے بسترے ته راوبلی او هغه انکار اوکړی نو ملائک په دغه ښځه باندے ترسبا پورے لعنت وائی (بخاری) - او دا سے روایت په مسلم کښ هم دے - نو دا سے آیاتونه او احادیث او دَ تخویف خبرے دِ هغے ته دَ نصیحت په طور ذکر کړی - که چرے هغه ښځه اومنی نو ښه ده کنی بل امر دا دے چه وَاهْجُرُوهُنَّ فِي الْمَضَاجِعِ، مَضَاجِع جمع مضجع ده - دا هغه مکان دے چه په هغے کښ انسان خپله ډډه لګوی اهجروهن کښ ډیر اقوال دی دَ مفسرینو مشهور قول دا دے چه دا دَ هجر او هجران نه اخستلے شویدے - پریخودلو او لرے کیدلو ته وئیلے شی نو دَ ابن عباس او سعید بن جبیر رضی الله عنهم په قول معنیٰ دا ده چه دَ دوی سره جماع (کورواله) مه کوئ - او دَ ضحاک او سدی قول دا دے چه په بستره کښ ورته شا کړئ او خبرے ورسره مه کوئ - او دَ مجاهد قول دا دے چه دوی لره پریږدئ په بستره کښ او بخپله په بله بستره کښ پریوځئ - او دَ عکرمه او حسن بصری په نیز دا دَ هجر ته اخستلے شویدے قبیح کلام ته وئیلے شی لکه چه دا یو قول دے په تفسیر دَ تهجرون (سورة مؤمنون)

کښې ـ نو معنیٰ دا ده چه سختئ کوئ دَ دوی سره او مضاجع په معنیٰ دَ بیوت سره دے یعنی په کورونو کښې ـ او دَ ابن جریر په نیز دا هجار نه ماخوذ دے او اهجار هغه رسئ ده چه په هغه سره دَ اوښ مخوړے تړلے کیږی ـ نو معنیٰ دا ده چه اوتړئ دوی لره په بسترو کښې دَ پاره دَ تنګولو دَ هغوی یا په زور ورسره جماع اوکړئ ـ دا قول ابن جریر غوره کړے دے او په نورو اقوال ئې اعتراضونه کړیدی او ابن جریر دَ دے دَ پاره یو غریب (نا اشنا) حدیث ذکر کړیدے ـ لیکن زمخشری او ابن عربی په دے باندے سخت رد کړیدے ـ او بیا آلوسی په زمخشری باندے رد کړیدے دَ پاره دَ اثبات دَ جواز دَ دے احتمال ـ بیا هر کله چه په دغه طریقو سره هجران فائده اونکړے نو دریم حکم دا دے چه ـ وَاضْرِبُوْهُنَّ ، او دیته ضرب تادیبی (دَ آدب وهل) وئیلے شی لکه څرنګه چه بچی دَ ادب او علم دَ زده کړے دَ پاره وهلے کیږی ـ او دَ ضرب نه مراد ضرب غیر مبرح دے او دا روایت دَ مسلم او ترمذی دے دَ ابن عباس رضی الله عنهما نه نقل دے چه دا وهل په مسواک سره دی یا دَ هغے په مثل لرګی سره ـ او په داسے وهلو سره چه هډوکی به نه ماتوی او یو اندام به نه عیبژن کوی ـ او په سوک سپیره وهل کولے شی ـ او په حدیث سره ثابت دی چه مخ به ورله هم نه وهی ـ ابن عطیه وئیلی دی چه دا درے وارړه او امر په ترتیب سره مراد دی یعنی چه اول واقع شی او اطاعت اونکړی نو بیا به دویم کار کوی یعنی بستره جدا کول او چه په هغے سره اونشی نو بیا دریم کار اوکړی لکه وهل ـ او صاحب اللباب دا دَ علی رضی الله عنه نه روایت راوړیدے ـ او ابن کثیر دَ ابن عباس رضی الله عنهما نه نقل کړیدی چه په دریم امر سره هم اطاعت اونکړی نو بیا دے ترینه فدیه واخلی یعنی خلع دِ اوکړی ـ فَاِنْ اَطَعْنَكُمْ فَلَا تَبْغُوْا عَلَيْهِنَّ سَبِيْلًا ، لفظ اطاعت دلیل دے چه دَ دوی نشوز دَ عصیان (ګناه) وو ـ او اطاعت دا دے

چه ستاسو سره موافقت اوکړي په اداکولو د هغه امورو کښ چه واجب دي په هغوی باندې او علامات د نشوز زائل شي.

فَلَا تَبْغُوا، تبغوا په معنی د طلب سره دے یعنی مه لټوئ په دوی باندې بله لار د دغه درې امورو نه وعظ، هجران او ضرب یعنی بیا ورسره دا کارونه مه کوئ. دا قول مشهور دے. یا مه لټوئ په دوی باندې لار د محبت د زړه ځکه چه هغه د الله تعالی په اختیار کښ دے دا قول د سفیان دے. یا مه لټوئ په دوی باندې لار د ضرر او تکلیف ورکولو د دے دپاره چه بیا نشوز شورو نکړي. او لفظ د علیهن د دے معنی سره مناسب دے. او قرطبي وئیلی دي چه تبغوا د بغی نه دے او هغه په معنی د جور او د ظلم سره دے او سبیلا په دے معنی سره په معنی د بسبیل دے یعنی ظلم مه کوئ په دوی باندې په هیڅ طریقے سره او دا لفظ طلاق ته هم شامل دے یعنی چه اطاعت شروع کړي نو بیا لار د طلاق مه لټوئ ځکه چه د اطاعت په حال کښ طلاق ورکول ابغض دے د مباحاتو نه.

إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلِيًّا كَبِيرًا، په دے جمله کښ د خاوندانو دپاره وعظ دے یعنی په اذن د هجران او ضرب سره دے دا خاوندان په بنځو استعلاء او تکبر نه کوي ځکه چه علو او کبر خو حقیقتا د الله تعالی صفات دي. دا رنګ قوامین (حاکمان) کله کله په خپل رعیت باندې ظلم کوي چه په هغے کښ خاوند هم داخل دے نو هغوی ته تحذیر ورکوي د ظلم کولو نه. علو د الله تعالی صفت حقیقیه دے په معنی د اوچتوالی سره په دلیل د استوی علی العرش سره بغیر د تحریف او تاویل نه او بغیر د تشبیه او تمثیل نه او فرق دا دے چه علو په اعتبار د صفاتو سره. او په دواړو کښ د الله تعالی شریک نشته.

وَاِنْ خِفْتُمْ شِقَاقَ بَيْنِهِمَا

او كه يريږئ تاسو دَ خلاف دَ مينځ دَ دواړو نه

فَابْعَثُوْا حَكَمًا مِّنْ اَهْلِهٖ

نو مقرر كړئ يو فيصله كوونكے دَ خپلوانو دَ سړي نه

وَحَكَمًا مِّنْ اَهْلِهَا ۚ اِنْ يُّرِيْدَآ

او يو فيصله كوونكے دَ خپلوانو دَ ښځے نه كه دوي غواړي

اِصْلَاحًا يُّوَفِّقِ اللّٰهُ بَيْنَهُمَا ؕ

صلح كول جوړښت به پيدا كړي الله تعالىٰ په مينځ دَ دوي كښ،

اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلِيْمًا خَبِيْرًا ﴿۳۵﴾

يقينًا الله تعالىٰ پوهه دے خبردار دے.

س۳۵:- په دے آيت كښ اتلسم حكم دے دَپاره دَ دفع كولو دَ ظلم په مينځ دَ ښځے اوخاوند كښ او دا تتمه ده دَ مخكښ حكم دَپاره يعنى په فان اطعنكم كښ دَ ښځے دَ اطاعت حال ذكر شو تو اوس په دے آيت كښ دَ ښځے دَ عصيان (نافرمانئ) حكم ذكر كوي ليكن هر كله چه دَ مسلمانانو سره عصيان كول نه ښائيږي نو په طريقه دَ خوف دَ شقاق سره ئے ذكر كړو.

وَاِنْ خِفْتُمْ شِقَاقَ، شِقَاقَ، دَ شِق نه اخستلے شويدے او شق جانب ته وئيلے شي نو هر كله چه دَ دوه كسانو مخالفت راشي نو دَ هغے نه دوه ډلے جوړے شي۔

بَيْنِهِمَا، بين په اصل كښ ظرف (مفعول فيه) دَ شقاق دے ليكن په حكم دَ مفعول به كښ اوګرځولے شو او مصدر (شقاق) ورته مضاف كړے شو۔ او په دے خطاب كښ دوه اقوال دي اول قول دَ ابن عباس رضى الله عنهما، سعيد بن جبير، ضحاك او مجاهد رحمهم الله دے چه دا خطاب حاكمانو او امراؤ دَ مؤمنانو ته دے۔ او دويم قول دَ سدي

دے چه دا خطاب اولیاؤ دَ ښځے او خاوند ته دے۔
فَابْعَثُوْا، دَ دینه مراد مقرر کول او لیږل دی په قصد دَ اصلاح سره دے دَ پاره چه دغه شقاق متعدی او نه کړئ غټے دشمنئ ته۔
حَكَمًا مِّنْ اَهْلِهٖ، حَكَم، نه مراد هغه څوک دے چه په هغه کښ دَ فیصلے کولو صلاحیت وی یعنی دا سے سړے چه عادل او هوښیار وی او خاوند دَ سیاست او ښه فکر وی۔
وَحَكَمًا مِّنْ اَهْلِهَا، اهل ئے ځکه خاص کړو چه هغه په حال باندے ښه خبریدلے او پوهیدلے شی۔ نو دغه حکمان به پوره تحقیق اوکړی او دَ ښځے او خاوند دَ مشکلاتو او دَ اسبابو دَ هغے او اراده لرل دَ هغوی دَ صحبت دَ باقی پاتے کیدلو یا دَ جدا کیدلو۔ قرطبی لیکلی دی که دَ هغوی په اهل کښ په دے صفاتو باندے څوک موجود نه وی نو بیا دِ دَ اهل نه علاوه نور دوه عادلان او پوهه سړی مقرر کړی۔ او دَ تفتیش دَ حال او طریقے پوره تفصیل قرطبی ذکر کړیدے۔
او دا حکمان (فیصله کوونکی) دَ جمع او تفریق اختیار لری او که نه؟ په دیکښ دَ اهل علمو اختلاف دے دَ ابن عباس، علی رضی الله عنهم او شعبی وغیره قول دا دے چه دوی ته پوره اختیار دے ځکه چه دوی قاضیان مقرر کړے شویدی صرف وکیلان او ګواهان نه دی او فیصله دَ دوی په اصل کښ فیصله دَ حاکم اعلیٰ ده چاچه دوی رالیږلے دی۔ دا قول امام شافعی او امام مالک رحمهم الله غوره کړیدے۔
او دَ امام ابوحنیفه او زجاج رحمهم الله قول دا دے چه دوی صرف دَ اصلاح اختیار لری دَ جدا کولو اختیار نه لری بغیر دَ رضا دَ خاوند نه۔ او دلیلونه دَ دواړو طرفونو قرطبی او آلوسی وغیره لیکلے دی۔ لیکن اول قول په اعتبار دَ دلیل سره غوره دے۔
اِنْ يُّرِيْدَآ اِصْلَاحًا يُّوَفِّقِ اللّٰهُ بَيْنَهُمَا، په دے ضمیرونو

وَاعْبُدُوا اللّٰهَ وَلَا تُشْرِكُوْا

او بندګي کوئ دَ الله تعالیٰ او مه شریکوئ

بِهٖ شَیْئًا وَّبِالْوَالِدَیْنِ

دَ هغه سره هیڅ شے او دَ مور او پلار

اِحْسَانًا وَّبِذِی الْقُرْبٰی

سره نیکي کوئ او دَ رشته دارو سره

کښې دوه اقوال دی۔ اول دا چه دَ یُرِیْدَآ او بَیْنَهُمَا ضمیر حکمانو ته راجع دے او دا قول دَ ابن عباس رضی الله عنهما، ضحاک او مجاهد وغیره دے۔ او دویم قول دا دے چه اول ضمیر راجع دے حکمانو ته او دویم ضمیر زوجینو ته راجع دے۔ او په دواړو حالاتو کښې اشاره ده چه موافقت دَ دوه کسانو په صحیح نیت باندے بناء دے ځکه چه نیت صحیح وی نو الله تعالیٰ امداد کوی. او دا حکم دَ هرے جرګے والو دَ پاره دے چه دَ دوه فریقو په مینځ کښې روغه کوی نو که دَ دوی نیت صفا وی نو الله تعالیٰ به دَ دوی مدد کوی او دوی به په مقصد کښې کامیاب کړی۔ او دا آیت ښکاره دلیل دے چه انسان ته حکم (فیصله کوونکے) وئیلے شی او حکم ته فیصله اوړل جائز دی لکه په سوره مائده ۹۵ کښې دی۔ او کله چه ضرورت شی نو دوه حکمان هم کیدیشی۔ او په دے آیت سره ابن عباس رضی الله عنهما دَ حروریه خوارجو جواب کړے وو کله چه دوی دَ علی رضی الله عنهٗ بغاوت اوکړو او ان الحکم الا لله چغے یے وهلے ځکه چه هغه دَ معاویه رضی الله عنه سره دَ اختلاف په وخت کښې په دوه حکمانو باندے رضا شوے وو۔

اِنَّ اللّٰهَ کَانَ عَلِیْمًا خَبِیْرًا، علم تعلق لری دَ ظاهر سره او خبر تعلق لری دَ باطنی امورو سره دلته هم ظاهر حال دَ زوجینو او باطنی ارادو دَ هغوی ته اشاره ده۔

وَالْيَتٰمٰى وَالْمَسٰكِيْنِ وَالْجَارِ

او د یتیمانو سره او د مسکینانو سره او همسایه

ذِى الْقُرْبٰى وَالْجَارِ الْجُنُبِ

خپل (نیژدے) او همسایه پردے (لرے)

وَالصَّاحِبِ بِالْجَنْۢبِ وَابْنِ السَّبِيْلِ ۙ

او ملګرے د ډډے او مسافر

وَمَا مَلَكَتْ اَيْمَانُكُمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ

او هغه کسان چه مالک دی ښی لاسونه ستاسو ، یقیناً الله تعالیٰ

لَا يُحِبُّ مَنْ كَانَ مُخْتَالًا

مینه نه کوی د هغه چا سره چه وی لوئی کوونکے

فَخُوْرَا ۙ ﴿۳۶﴾

او خپله ستائنه کوونکے۔

س۳۶:۔ په دے آیت کښ نور لسم حکم دے د پاره د بچکیدلو د ظلم نه په حقوق الله او په حقوق العباد کښ او هغه ټول لس دی۔

ربط ۱:۔ د مخکښ سره دا دے چه هغه کښ د ازواجو سره د احسان کولو ذکر او کړے شو نو اوس نور تکالیف احسانیه ذکر کوی ماسیوا د ښځے (زوج) نه د پاره د پوره کولو د اخلاق کریمه۔

ربط ۲:۔ مخکښ احکام د تدبیر د منزل د پاره ذکر شول نو اوس فرمائی چه څو پورے توحید او اخلاص موجود نه وی په دغه امورو باندے عمل فائده نه ورکوی۔

وَاعْبُدُوا اللّٰهَ ، مخکښ هم اوامر او نواهی دی په هغے باندے عمل کول عبودیت دے نو په هغے باندے د اعبدوا عطف کول مناسب دی۔ قرطبی وئیلی دی چه دا آیت محکم متفق

علیه دے هیڅ نسخ پکښ نشته - او دا سے په ټولو آسمانی کتابونو کښ شته دے - او دا عقلی حکم هم دے - او د عبودیت، معنیٰ تذلل او احتقار (عاجزی کول) دی هغه چا ته چه د هغه د پاره حکم د اختیار وی - بیا قرطبی دلته تفصیل د اقسامو د شرک او د ریاء او د هغے قباحاتو په تفصیل سره ذکر کړیدے - او صاحب اللباب وئیلی دی چه عبادت د هر عمل ته عبارت دے چه د الله تعالیٰ د حکم د وجے نه کولے شی.

وَلَا تُشْرِكُوا بِهٖ شَيْئًا، عبادت په شرع کښ توحید د الله تعالیٰ دے لیکن د تاکید د پاره دا جمله د ولا تشرکوا ئے ورپسے ذکر کړه - او په دے جمله کښ په ډیر عموم سره نهی د شرک ذکر ده - یعنی صیغه د نهی صراحتًا او لفظ د اشراک چه د کفر ټولو اقسامو ته شامل دے - او شرک فی الربوبیت او شرک فی الالوهیت او شرک خفی ټولو ته شامل دے - او لفظ د شَيْئًا، کښ عموم دے هر څیز ته شامل دے - او نکره ده په سیاق د نفی کښ نور عموم پیدا کوی - او په دے شَيْئًا کښ دوه احتمالات دی - اول دا مفعول به دے یعنی هیڅ څیز د څیزونو که ملک (فرشته) وی که نبی، ولی (مړ یا ژوندے)، جن، خواهش، شجر، حجر، ستوری او نمر سپوږمۍ وغیره وی - یا مفعول مطلق دے یعنی شیئًا من الاشراک یعنی ټولو اقسامو د شرک ته عام دے.

وَبِالْوَالِدَيْنِ اِحْسَانًا، د دے تفسیر په سوره بقره ۸۳ کښ ذکر کړے شوے دے.

وَبِذِي الْقُرْبٰى، د دینه مراد هغه څوک دی چه د هغوی سره د والدینو په واسطه خپلولی حاصله شوی وی - هر کله چه دا آیت د دے امت په حق کښ دے او په دے امت باندے اهتمام د صله رحمیٰ ډیر دے د دے د وجے نه ئے حرف د باء ئے دلته ذکر کړه - او سوره بقره کښ بنی اسرائیلو ته خطاب او د هغوی حیثیت د دے امت پشان نه دے - او د دے هم

بعضے تفسیر هلته ذکر شوی دے۔
وَالْیَتٰمٰی، په یتیم کښی عجز په دوه وجوهو سره دے۔ اول دهٔ وکوالے دویم دا چه متولی ئے نشته چه خرچه ورباندے اوکړی نو هغه دَ ډیر شفقت لائق دے۔
وَالْمَسٰکِیْنِ، په داسے مقام کښی مسکین او فقیر کښی فرق کول معتبر نه دی دا لفظ فقیر ته هم شامل دے۔
وَالْجَارِ ذِی الْقُرْبٰی، دَ دے امت دَ فضیلت دَ وجے نه په دوی باندے نور احسانات هم واجب کړے شوی دی که قرابت (نیز دیوالے) دَ خپلولئ وی او که دَ ګاونډیتوب وی۔
وَالْجَارِ الْجُنُبِ، لفظ دَ جُنُبِ صفت دے او په دے لفظ کښی مفرد، تثنیه، جمع، مذکر او مؤنث یو شان دی۔ او جُنُبِ لرے ته وئیلے شی که دا لرے په نسبت سره وی یا په ګاونډیتوب سره وی۔ او دَ نوف بکالی نه روایت دے چه جار ذی القربی مسلمان ته وئیلے شی او جار الجنب غیر مسلم (یهودی، نصرانی) ته وئیلے شی۔ او احسان عام دے لکه همدردی کول، بنائسته ژوند کول، تکلیف کښی مدد کول، حفاظت کول او دعوت دَ حق ورکول۔ ابونعیم په حلیة الاولیاء او بزار په مسند کښی دَ جابر رضی الله عنه مرفوع روایت ذکر کړیدے چه ګاونډیان درے قسمه دی۔ اول قسم هغه دی چه دَ هغوی درے حقوق دی۔ دویم هغه دی چه دَ هغوی دوه حقوق دی۔ دریم هغه دی چه دَ هغوی یو حق وی۔ اول ګاونډی نسبی مسلمان دے۔ دویم ګاونډی چه مسلمان وی خو نسبی نه وی دریم ګاونډی کافر۔ ده لره هم حق دَ ګاونډیتوب شته دے۔
وَالصَّاحِبِ بِالْجَنْبِ، دَ ابن عباس رضی الله عنهما او مجاهد وغیره نه روایت دے چه دَ دینه مراد دَ سفر ملګرے دے۔ ابن جریج وئیلی دی چه شریک دَ درس یا کسب کولو یا په یو مجلس یا مسجد کښی ستا دَ اړخ ملګرے وی او ستا ورسره څه تعارف او پیژندګلو پیدا شی۔ او دَ علی،

عبد الله رضی الله عنهما او نخعی نه روایت دے چه دَ دینه مراد خپله ښځه ده چه هغه ملګرے ده په بستره دَ ده کښ.
وَابْنِ السَّبِيْلِ، مسافر چه دَ وطن نه لرے شوے وی او دَ لارے دَ سفر خرچ نه محتاج دے یا ترینه میلمه مراد دے.
وَمَا مَلَكَتْ اَيْمَانُكُمْ، دَ دینه مراد مریان او وینزے دی یا عام دے ټولو حیواناتو ته چه دَ انسان په ملکیت کښ دی.
او خر، متګارانو ته هم شامل دے.
اِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ مَنْ كَانَ مُخْتَالًا فَخُوْرًا، مختال دَ خیلاء نه اخستلے شوے دے. ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت دے چه مختال هغه څوک دے چه خپل شخصیت ورته لوئے ښکاری او دَ بل چا حقوق په ځان باندے نه منی. او دَ لوئی دَ وجے نه دَ خپلوانو او ګاونډیانو نه نفرت کوی. او دَ هغے یو مصداق په حدیث کښ دا دے چه (مَنْ جَرَّ ثَوْبَهٗ خُيَلَاءَ لَا يَنْظُرُ اللّٰهُ اِلَيْهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ) (چا چه خپله جامه دَ لوئی دَ وجے نه په ځان پسے راښکله نو الله تعالیٰ به هغه ته دَ قیامت په ورځ نظر (دَ رحمت) نه کوی). فَخُوْرًا هغه څوک دے چه خپل صفتونه پخپله خلقو ته ذکر کوی دَ خپلے لوئی ښکاره کولو دَ پاره یعنی دوزمار. او دا دواړه صفتونه په انسان کښ دَ حقوق الله او حقوق العباد نه نفرت پیدا کوی. نو په دیکښ اشاره ده چه اے خلقو دا صفتونه دَ ځان نه لرے کړئ په ادا کولو دَ ذکر شوو حقوق سره.
تنبیه:- تر دے ځایه پورے اول باب ختم شو او دَ دے جملے نه چه مخکښ ذکر شوه دویم باب شروع کیږی او هغه دَ آیت ۴۳ پورے دے.
خلاصه:- په دے باب کښ زجرونه دی منافقانو ته چه هغوی دَ دے ذکر شوو احکامو نه مخالفت کوی او هغوی موصوف دی په صفات قبیحه باندے. او دلته دَ هغوی لس صفات قبیحه ذکر کوی. او دا صفات دَ دوی په ۳۶، ۳۷، ۳۸ کښ ذکر دی. او ورپسے

الَّذِينَ يَبْخَلُونَ وَيَأْمُرُونَ

دوی هغه دی چه شومتیا کوی او حکم کوی

النَّاسَ بِالْبُخْلِ وَيَكْتُمُونَ

خلقو ته په شومتیا او پټوی

مَا آتَاهُمُ اللَّهُ مِن فَضْلِهِ ۗ

هغه شے چه ورکړے دے دوی ته الله تعالیٰ دَ فضل خپل نه،

وَأَعْتَدْنَا لِلْكَافِرِينَ عَذَابًا مُّهِينًا ﴿٣٧﴾

او تیار کړے دے موږ کافرانو لره عذاب شرموونکے۔

په ۳۶، ۴۲ کښ تخویف اخروی دے او بیا دَ مونځ او طهارت په باره کښ خاص حکم ذکر کوی چه په هغے کښ اشاره ده چه دَ دینی امورو دَ پاره فهم، بیداری او ظاهری طهارت ضروری دی۔ او په هغے سره دَ منافقت نه بچاؤ حاصلیږی نو په دے ذکر شوے جمله کښ دهغوی دوه صفات قبیحه ذکر کوی مختال او فخور۔ (تفسیر)

۳۷:- په دے آیت کښ زجر دے منافقینو ته او دَ هغوی نور خلور صفات قبیحه ذکر کوی۔ او دا هم دَ مختال او فخور تشریح ده۔ الَّذِينَ يَبْخَلُونَ، دَ الَّذِينَ په اعراب کښ مفسرینو اووه احتمالات ذکر کړیدی۔ لیکن په حال دَ نصب (زور) کښ چه اعنی پټ دے متصل دے دَ مخکښ آیت سره چه داسے صفاتو والا شخص سره الله تعالیٰ محبت نه کوی نو تاسو ورسره هم احسان مه کوئ (قرطبی)۔ او دَ بخل نه مراد دَ واجبات شرعیه نه اداکول دی که مال وی او که دین او علم وی۔

وَيَأْمُرُونَ النَّاسَ بِالْبُخْلِ، یعنی بخیله هم گمراه او بخیل دے او نور هم گمراه او بخیلان کوی او داسے په سوره

وَالَّذِيْنَ يُنْفِقُوْنَ اَمْوَالَهُمْ

او دوی هغه کسان دی چه خرڅ کوی مالونه خپل

رِئَآءَ النَّاسِ وَلَا يُؤْمِنُوْنَ

دَپاره دَ ښودنے دَ خلقو او ایمان نه داوړی

بِاللّٰهِ وَلَا بِالْيَوْمِ الْاٰخِرِ ط

په الله تعالیٰ باندے او نه په ورځ روستنۍ ،

وَمَنْ يَّكُنِ الشَّيْطٰنُ لَهٗ قَرِيْنًا

او هغه څوک چه شیطان دَ هغه ملګرے وی

فَسَآءَ قَرِيْنًا ﴿۳۸﴾

نو بد دے دا ملګری ۔

منافقون ۳۷ کښ هم ذکر دی ۔

وَيَكْتُمُوْنَ مَآ اٰتٰهُمُ اللّٰهُ مِنْ فَضْلِهٖ ، فَضْلِ مال علم او دین ته شامل دے او دا صفت دَ بخل نه ترقی ده یعنی ځان ښکاره کوی چه زهٔ مسکین او غریب یم او بے علمه یم په ما باندے هیڅ حق واجبه نشته او حال دا چه مال او علم ور سره وی ۔

وَاَعْتَدْنَا لِلْكٰفِرِيْنَ عَذَابًا مُّهِيْنًا ، دا دلیل دے چه اعتقادی منافقان کافران دی ۔ او عذاب په صفت دَ اهانت (رسپکوالی) سره خاص دے په کافرانو پورے ۔ اګرچه مجرد عذاب دَ مؤمنانو ګنهګارو دَپاره کیدیشی ۔ او په دیکښ اشاره ده چه دغه انسان په سبب دَ بخل او کتمان سره دَ الله تعالیٰ دَ نعمتونو اهانت (رسپکاوے) کړیدے نو دَ ده سزا به هم دَ هغے سره مناسب وی یعنی عذاب مهین ۔

۳۸ :۔ دا هم زجر دے منافقانو ته او په دیکښ ئے دَ هغوی نور څلور صفات قبیحه ذکر کړه ځکه چه هغه دَ احسان کولو نه ښکاره مخالفت کول دی ۔ دویم قسم صفت چه ورکوی مال

وَمَاذَا عَلَيْهِمْ لَوْ اٰمَنُوْا بِاللّٰهِ

او څه وبال به وے په دوی باندے که ایمان راوړے وے دوی په الله تعالیٰ

وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَاَنْفَقُوْا

او په ورځ روستنئ او خرچ یئے کولے

لیکن په ریا او سمعت سره نو دا هم قبیح کار دے - دا رنګ اول قسم معنیٰ دَ تفریط موجود ده او په دویم کښ اسراف دے چه هغه جانب دَ افراط کولو دے - یعنی یو شخص وی خو کله افراط کوی او کله تفریط کوی - یا دوه اشخاص وی

وَالَّذِيْنَ يُنْفِقُوْنَ اَمْوَالَهُمْ رِئَآءَ النَّاسِ، ریا مفعول له یا حال دے په معنیٰ دَ مرائین او لام پټ دے یعنی للناس - او دَ ریاء تفصیل او قباحت په سوره بقره کښ ذکر شوے دے -

وَلَا يُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَلَا بِالْيَوْمِ الْاٰخِرِ، دَ منافق ایمان په حکم دَ نیشت کښ دے یعنی ایمان یئے نشته لکه وما هم بمؤمنین سوره بقره ۸ - دا رنګ دَ یهودو او نصارو ایمان هم شرعی ایمان نه دے لکه چه په سوره توبه ۲۵ کښ دی - او حرف دَ لا مکرر او دَ تاکید دَ نفی دَ ایمان دَ پاره دے دَ دوی نه -

وَمَنْ يَّكُنِ الشَّيْطٰنُ لَهٗ قَرِيْنًا فَسَآءَ قَرِيْنًا، قرطبی وئیلی دی چه په دے کلام کښ دَ بعضے عبارت تقدیر دے یعنی قرینهم الشیطن ومن یکن آه - او شیطان عام دے جنی او انسی دواړو ته - قرین (مقارن) ملګری او دوست ته وئیلے شی او مقصد دا دے چه څوک دَ شیطان انسی یا جنی خبره قبلوی او دَ هغه تابعداری کوی په دنیا کښ نو دے دَ هغه ملګرے دے - او دا سے په سوره زخرف ۳۶، ۳۷ کښ هم شته -

مِمَّا رَزَقَهُمُ اللّٰهُ ۚ وَكَانَ اللّٰهُ

دَ هغې نه چه ورکړي دي دوئ ته الله تعالیٰ او الله تعالیٰ

بِهِمْ عَلِيمًا ﴿٣٩﴾

په دوی باندے پوهه دے۔

۳۹:۔ په دیکښ زجر دے او په ضمن کښ ترغیب دے پریخودلو دَ صفاتو دَ منافقت ته۔

وَمَاذَا، په دیکښ دَ نحویانو دوه اقوال دی۔ اول داچه مَا استفهامیه دے مبتداء ده او ذَا په معنیٰ دَ الذی سره خبر دے۔ دویم قول داچه مَاذَا مجموعه یو اسم دے او په دَ اَیُّ شَیْءٍ سره دے۔

عَلَیْهِمْ، په معنیٰ دَ وبال او عذاب دے په دوی باندے یا په معنیٰ دَ ایمان راوړلو کښ دے۔

لَوْ اٰمَنُوْا بِاللّٰهِ وَالْیَوْمِ الْاٰخِرِ، مستانف (دَ سره) کلام دے او جواب دَ لَوْ شرطیه پټ دے یعنی حَصَلَتْ لَهُمُ السَّعَادَةُ۔ یا لَوْ مصدریه دے او متعلق دے په ماذا علیهم پورے او دَ لَوْ جواب ته حاجت نشته۔ او ابن عطیه وئیلی دی چه لَوْ شرطیه شي نو جائز ده چه ماذا علیهم دَ دے جواب مقدم شي او دَ ایمان نه مراد صحیح ایمان شرعي دے۔

وَاَنْفَقُوْا مِمَّا رَزَقَهُمُ اللّٰهُ، دا صفت مقابل دے دَ صفت دَ بخل۔ او دَ انفاق نه مراد شرعي انفاق دے چه خالي وي دَ ریاء او سمعت نه۔ نو دا مقابل دے دَ والذین ینفقون اموالهم رئاء الناس دَپاره هم۔

فائده:۔ په مخکښ آیت کښ عدم ایمان روستو ذکر کړے او په دے آیت کښ مخکښ ذکر کړے ځکه چه په هغه آیت کښ عدم ایمان دَ ماقبل صفات قبیحه دَپاره علت وو او علت روستو ذکر کولے شي۔ او دلته خو دعوت ورکول دی صفاتو دَ سعادت ته نو په دیکښ دَ ایمان دعوت مخکښ ضروری دی

إِنَّ اللّٰهَ لَا يَظْلِمُ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ ج

يقيناً الله تعالیٰ ظلم نه کوی په وزن د یو ذرے

وَإِنْ تَكُ حَسَنَةً يُضٰعِفْهَا

اوکه وی (د ذره مقدار) نیکی نو زیاتوی الله تعالیٰ هغه

وَيُؤْتِ مِنْ لَّدُنْهُ أَجْرًا

او ورکوی د خپل ځان د طرف نه ثواب

عَظِيمًا ﴿۴۰﴾

لوے۔

وَكَانَ اللّٰهُ بِهِمْ عَلِيمًا، بِهِمْ نه د دوی ښکاره او پټ احوال مراد دی۔ او په دیکښ زجر او وعید ته اشاره ده سره د ترغیب نه۔

نکته :- په دے آیت کښ هم ترغیب دے ښائسته صفاتو ته سره د بشارت نه۔ او ظلم دلته په معنیٰ د نقصان دے په ثواب ورکولو کښ (قرطبی) یا په معنیٰ د نقصان ورکولو دے په ثواب کښ او زیاتے په عقاب کښ (امام راغب)۔

إِنَّ اللّٰهَ لَا يَظْلِمُ مِثْقَالَ، مثقال، دا صفت دے د پټ موصوف د پاره یعنی ظلماً مثقال یا یظلم په معنیٰ د ینقص دے۔ اول مفعول ئے پټ دے یعنی احداً او دویم مفعول ئے مثقال دے۔ مثقال د ثقل نه اخستلے شوید ے په اصل کښ مطلق مقدار نه وړیلے شي او په عرف کښ په څلویښت قیراطونو باندے اطلاق کیدیشی۔ دلته په معنیٰ د مقدار سره دے۔

ذَرَّةٍ، د ابن عباس رضی الله عنهما نه مشهور روایت دادے چه دا نری میږی ته وړیلے شي او په دیکښ د ابن مسعود رضی الله عنه روایت هم شته (آلوسی)۔ او په دویم روایت د ابن عباس رضی الله عنهما کښ د میږی سرته وړیلے شي۔ او په دریم روایت

کښې دي چه ابن عباس رضي الله عنهما خپل لاس په خاورو کښې داخل کړو بيا يې راپورته کړو او پو کې يې ورکړو د پو کې نه روستو چه په لاس پورې څه پاتې شو نو اوئيل يې چه دا ذره ده - او چا وئيلي دي چه نمر د پلوشو مخې ته چه کوم ذرات ښکاريږي او په لاس نه راځي نو دا دي. خو اول قول مشهور دے - او عرب د يو څيز د کموالي د پاره دا په مثال کښې ذکر کوي نو ذکر د ذرے او مراد ترينه ډير لږ څيز دے چه په خيال او وهم د خلقو کښې راځي - او هر کله چه لږ ظلم نه کوي نو ډير خو بالکل نه کوي په دليل د ان الله لا يظلم الناس شيئا (يونس ۴۴) -

او لفظ د مثقال کښې اشاره ده چه خلق دا د ثقل په مقدار و نو کښې استعمالوي - د امام مسلم او امام احمد رحمهم الله په مرفوع روايت کښې راغلي دي چه الله تعالى د مؤمن نه هيڅ نيکي نه کموي بلکه د هغې په وجه په دنيا کښې هم نعمتونه ورکيدېشي او په آخرت کښې په هغې سره بهتره جزاء ورکيدېشي او هر چه کافر دے نو د حسناتو په سبب په دنيا کښې څه انعامات ورکوي او چه آخرت ته او رسيږي نو هيڅ حسنه يې د جزاء ورکولو د پاره پاتې نه وي -

فائده :- په مقام د عدم ظلم کښې د الله تعالى يا د هغه د علم محيط په ثبوت کښې يا په نفي د ملکيت د غير الله نه يا په ملاقات د اعمالو کښې په ورځ د قيامت ذکر د مثقال ذره شوېدے چه دلالت کوي په ډير عموم باندے لکه سوره يونس ۶۱ ، سوره سبا ۲۲ ، ۳ ، سوره زلزال ۷ ، ۸ او په مقام د حساب کولو د ناکاره اعمالو کښې حبه من خردل ذکر کړے دے چه هغه د ذرے نه لږ غټ مقدار دے لکه انبياء ۴۷ ، لقمان ۱۶ اشاره ده چه الله تعالى خپل رحم سره د ډير کم څيز (رد يدو اعمالو نه) د مؤمنانو سره حساب نه کوي - والله اعلم -

فَكَيْفَ إِذَا جِئْنَا مِنْ كُلِّ

نو څنګه به وي حال د دوی کله چه راولو مونږ د هر

وَإِنْ تَكُ حَسَنَةً يُضٰعِفْهَا ، په دے جمله کښې د مخکښې په نسبت سره ترقی ده یعنی کمے کول نشته او زیاتی ورکول شته۔ تَكُ ، د ډیر استعمال د وجے نه په وخت د جزم کښې چه روستو ورسره ضمیر متصل نه وی نو په دے کلمه کښې نون حذف کیږی او دا قول د سیبویه دے ځکه چه دا نون ساکنه په شان د حروف لین دے (لکه واو۔ یاء۔ الف) او حروف لین د جزم په حال کښې حذف کیږی او د دے نون حذف او اثبات دواړه جائز دی۔ حذف ئے دے ځائے کښې دے او اثبات (ان یکن غنیًا اوفقیرًا) کښې دے۔ حَسَنَةً ، په نصب (زور) سره خبر دے د تَكُ د پاره او اسم ئے پټ دے چه هغه ضمیر مثقال ته راجع دے او هغه مؤنث دے په سبب د اضافت کولو ذرةٍ ته یا په تاویل د زنةً سره۔ يُضٰعِفْهَا ، مضاعفه تقاضا کوی چه دا زیادت په کثرت سره دے۔

وَيُؤْتِ مِنْ لَّدُنْهُ ، لَدُنْ ، په معنیٰ د عند دے لیکن د ده په معنیٰ کښې ډیر تمکین مراد وی یعنی لَدَيْهِ مَالٌ ورته په هغه وخت کښې وئیلے شی چه مال ورسره حاضر موجود وی او عند عام دے چه مال ورسره موجود نه وی خو د هغه په وس او اختیار کښې وی یا ورسره موجود وی۔ نو په لفظ د لدنه کښې تاکید دے او دا د لالت کوی چه دا زیاتی کول د ثواب په سبب د فضل د الله تعالیٰ سره دی بل سبب پکښې معتبر نه دے۔

أَجْرًا عَظِيمًا ، تنکیر د اجر او تاکید په عظمت سره اشاره ده چه د دے انتها بندګانو ته معلومه نه ده او هغه جنت دے۔

أُمَّةٍ بِشَهِيدٍ وَّجِئْنَا بِكَ

امت نه بيان كوونكے او راولو په تا لره

عَلٰى هٰٓؤُلَآءِ شَهِيدًا ﴿۴۱﴾

په دوى باندے بيان وركوونكے۔

۴۱:۔ په دے آيت كښ تاكيد دے د ما قبل آيت په ذكر د هيبت د احوالو د ورځ د قيامت سره۔ يعنى هر كله چه ثابت شوه چه هر لږ او ډير عمل باندے بدله وركيدے شى۔ نو په چا باندے چه د بدو اعمالو په باره كښ شهادت نه پيش شى نو د هغوى به څومره ناكاره حال وى۔ داكيف په محل د رفع يا نصب كښ دے په تقدير د حالهم يا يكونون ويصنعون سره۔ او دا لفظ په راتلونكى هيبت ناك حال كښ استعماليږى او په كيف كښ استفهام د توبيخ د پاره دے۔

فَكَيْفَ اِذَا جِئْنَا مِنْ كُلِّ اُمَّةٍ، مراد ترينه هغه خوك دى چه هغوى ته نبى يا رسول ليږلے شوے وى حالاكه مؤمنان وى يا كافران۔

بِشَهِيدٍ، نه هغه نبى يا رسول مراد دے چه كوم ورته ليږلے شوے وى۔ او داسے په سوره نحل ۸۴، ۸۹ كښ هم دى۔ او شهادت نه مراد د هغوى ګواهى وركول دى په اعمالو د هغه كسانو چه حاضر وو په ژوند اته د هغوى كښ يا شهادت په تبليغ كولو سره مراد دے۔

وَجِئْنَا بِكَ عَلٰى هٰٓؤُلَآءِ شَهِيدًا، په هٰٓؤُلَآءِ كښ اقوال دى۔ اول قول دا دے چه هغه شهداء (انبياء عليهم السلام او نور تبليغ كوونكى) دى او شهادت په دوى باندے شهادت دے د هغوى په صدق باندے (آلوسى)۔ او دا شهادت د تزكيے دے۔ دويم قول، چه كافران او مكذبين د دے امت مراد دى يعنى كفار قريش وغيره۔ دا قول د ابن مسعود رضى الله عنه، ابن جريج، سدى او مقاتل نقل كړيدے د

(ابوحیان) اولفظ دَ علیٰ په دے باندے قرینه ده او دَ شهادت (گواهئ) نه مراد شهادت دے په تکذیب دَ هغوی باندے یا شهادت په معنیٰ دَ تبلیغ کولو سره دے - دریم قول ، دَ دینه مراد صحابه کرام دی چه دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم په وخت کښ حاضر وو او علی په معنیٰ دَلام دے - او شهادت ورکول دَ هغوی په ایمان او تابعدارئ کولو سره دے - دا قول دَ ابوالعالیه ، مجاهد او قتاده دے - او پدیکښ صحیح دویم او دریم قول دے یعنی هغه خلق چه موجود وو په زمانه دَ نبی کریم صلی الله علیه وسلم کښ نو نبی صلی الله علیه وسلم به دَ هغوی په اعمالو باندے شهادت ورکوی په دلیل دَ صحیح حدیث سره چه بخاری په کتاب التفسیر او امام مسلم په کتاب الصلوٰة المسافرین کښ ذکر کړے دے - او ترمذی او نسائی وغیره هم راوړیدے - مضمون ئے دا دے چه عبد الله بن مسعود رضی الله عنه وائی چه ماته رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چه ماته قرآن اولوله نو ما اوئیل چه یا رسول الله صلی الله علیه وسلم آیا زه اولولم په تا باندے او حال دا چه په تا باندے نازلیږی نو هغوی اوفرمائیل چه هاؤ زه خوښوم چه دَ بل (ملګری) نه قرآن واورم نو ما سورة نساء شروع کړه چه دے آیت ته راورسیدم نو هغوی ارشاد اوفرمائیلو چه بس کړه او دَ سترګو مبارکو نه ئے اوښکے بهیدلے - او دَ مسلم په روایت کښ شهیدًا ما دمتم فیهم (شهادت کووم دَ هغه وخت چه زه په دوی کښ موجود وم) او ابن جریر په دے روایت کښ راوړیدے چه (مَا دُمْتُ فِيهِمْ فَلَمَّا تَوَفَّيْتَنِي كُنْتَ أَنْتَ الرَّقِيبَ عَلَيْهِمْ) - (خو پورے چه په دوی کښ ژوندے وم او کله چه تا وفات کړم نو بیا ته خبر ئے دَ دوی په حال باندے) او دَ دے تائید دَ عامو انبیاؤ علیهم السلام شهادت دے چه په سورة مائده ۱۰۹ کښ ذکر دے او شهادت دَ

يَوْمَئِذٍ يَّوَدُّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا

په دغه ورځ په ارمان اوکړي هغه کسان چه کفر يې کړيدے

وَعَصَوُا الرَّسُوْلَ لَوْ تُسَوّٰى

او نافرماني يې کړيده د رسول نه چه هموار شوے

عيسیٰ عليه السلام چه په سوره مائده ۱۱۷ کښې ذکر دے د هغې تفسير هلته اوکورئ - او چا چه وئيلي دي چه د دينه مراد د ټول امت په عملونو باندے ګواهي ورکول دي ځکه چه عملونه هغه ته پيش کيږي نو هغه قول د دليل په لحاظ سره صحيح نه دے او د سوره مائده ۱۰۹ نه خلاف دے -

سوال :- دغه قول قرطبي په خپل تفسير کښې ذکر کړے دے ؟

جواب :- ابن کثير د هغه په رد کښې وئيلي دي چه دا خو يو اثر دے او په دے کښې انقطاع ده او د دے په سند کښې يو راوي مجهول دے او دا حديث مرفوع نه دے - نو دا سے روايت ته په تفسير کښې هيڅ اعتبار نشته دے - او زه وايم چه په دے زمانه کښې جاهلان د قرطبي د دے حديث نه دليل پيش کوي چه نبي کريم صلی الله عليه وسلم حاضر ناظر دے ليکن دا استدلال يې صحيح نه دے ځکه چه په دے روايت د سعيد بن المسيب دا نه دي ذکر چه په هر مکان کښې پخپله حاضر يږي - او د دے دواړو خبرو په مينځ کښې د زمکے آسمان په شان فرق دے -

بِهِمُ الۡاَرۡضُ ؕ وَلَا يَكۡتُمُوۡنَ

په دوی باندے زمکه او نه به شی پټولے

اللّٰهَ حَدِيۡثًا ﴿۴۲﴾ ع

د الله تعالیٰ نه هیڅ خبره ۔

۴۲ :- دا هم د مخکښ تخویف د پاره تتمه ده ۔ يَوۡمَئِذٍ، دا منصوب دے په سبب د يَوَدُّ سره یا په مخکښ شهیدا سره ۔ اِذ، ظرف دے او تنوین په دیکښ عوض دے د مضاف الیه حذف کړے شوي نه چه هغه جمله د جئنا من كل امة آه ده ۔

يَوَدُّ، ود په معنیٰ د تمنا کولو سره دے ۔ الَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا، هغه خوک مراد دی چه د آخری رسول صلی الله علیه وسلم کفر او تکذیب ئے کړیدے ۔

وَعَصَوُا الرَّسُوۡلَ ، دا عطف دے په کفروا یعنی دغه کافرانو سیوا د کفر کولو نه د دے رسول نور مخالفتونه هم کړیدی لکه بدعات ، رسمونه او فسق و فجور ۔ او په دے کښ اشاره ده چه کافران په فروعو سره هم مخاطب او مکلف دی ۔ (او د دے نور تفصیل د تفسیر اللباب په حاشیه باندے اوګورئ) ۔ او الرَّسُوۡلَ کښ الف لام عهدی دی یعنی آخری رسول صلی الله علیه وسلم ۔ او په دے (وعصوا) کښ بله توجیه دا ده چه دا عطف دے په تقدیر د الذین سره نو دا دوه ډلو ته اشاره ده یوه ډله کافران او دویمه نافرمان مؤمنان دی ۔ او په الرسول کښ بله توجیه هم ده چه الف لام د جنس یا استغراق د پاره شی نو د ټولو رسولانو عاصیانو (نافرمانو) ته اشاره ده ۔

لَوۡ تُسَوّٰى بِهِمُ الۡاَرۡضُ ، لَوۡ ، مصدریه ده او مفعول دے د يَوَدُّ د پاره ۔ او په دے تسویه کښ ډیر اقوال دی ۔ اول دا چه دفن کړیشی په زمکه کښ او خاوره په دوی باندے هواره کړیشی ۔ دویم دا چه دوی باقی دی پخپل اصل خلقت باندے

چه خاوره ده بغیر دَ نوی پیدائش نه - دریم دا چه هر کله دوی اووینی چه نور بهائم او حیوانات به خاورے کرېشی نو دوی به اووائی چه آرمان دے چه دَ غسے موږ خاورے شوے لکه چه په سوره نباء کښ دی - څلورم دا چه دوی به آرمان کوی چه په دوی باندے دپاسه محشر والو خپے کیښودلے لکه چه دَ زمکے دپاسه ګرځیدل کیدیشی۔

وَلَا يَكْتُمُونَ اللّٰهَ حَدِيْثًا ، دا جمله په يَوَدُّ باندے عطف ده او په دیکښ دوه توجیهات دی - اوله دا چه دوی دَ هیڅ خبرے دَ الله تعالیٰ نه پټول نشی کولے ځکه چه اندامونه به په دوی باندے ګواهی ورکړی نو دَ پټولو قدرت ئے نشته۔ دویمه دا چه نه به پټوی دَ الله تعالیٰ نه هیڅ خبره بلکه اقرار به کوی په ټولو ګناهونو باندے ځکه چه دویته معلومه شوه چه پټول موږ ته هیڅ فائده نه راکوی۔

سوال:- په سوره انعام ۲۳ کښ دی چه دوی به اووائی چه قسم دے په رب زموږ چه موږ شرک نه دے کړے ؟

جواب:- ابن جریر او ابن کثیر دَ سعید بن جبیر رضی الله عنه نه روایت ذکر کړیدے چه یو سړی دَ ابن عباس رضی الله عنهما نه داسے تپوس کړے وو نوهغه ورته جواب کښ اوفرمائیل چه دا مختلف حالات دی - هر کله چه اووینی چه جنت ته صرف توحید والا داخلیږی نو دوی به اووائی چه والله ربنا ما کنا مشرکین نو الله تعالیٰ به دَ دوی په خلو باندے مهر اووهی - او دَ دوی لاسونه او خپے به په دوی باندے ګواهی اوکړی نو بیا به اووائی چه ولا یکتمون الله حدیثا - دغه شان روایت امام بخاری رحمه الله هم په کتاب التفسیر کښ ذکر کړے دے۔

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَقْرَبُوا

اے ایمان والو ! مه تیږدے کیږئ

الصَّلٰوةَ وَاَنْتُمْ سُكٰرٰى حَتّٰى

مانځه ته او حال دا چه تاسو نشه یئ تردے

تَعْلَمُوْا مَا تَقُوْلُوْنَ وَلَا جُنُبًا

چه پوهیږئ په هغه څه چه تاسوئے وایئ او نه په حال د جنابت کښ

اِلَّا عَابِرِيْ سَبِيْلٍ حَتّٰى تَغْتَسِلُوْا ؕ

مګر که تیریدونکی یئ د لارے تردے پورے چه غسل اوکړئ

وَاِنْ كُنْتُمْ مَّرْضٰٓى اَوْ عَلٰى

او که تاسو ناجوړه یئ یا په

سَفَرٍ اَوْ جَآءَ اَحَدٌ مِّنْكُمْ

سفر باندے یئ یا راشی یو تن ستاسو

مِّنَ الْغَآئِطِ اَوْ لٰمَسْتُمُ النِّسَآءَ

لوړے حاجت نه یا یو ځاے شئ تاسو د ښځو سره

فَلَمْ تَجِدُوْا مَآءً فَتَيَمَّمُوْا

او نه موموئ تاسو اوبه نو تیمم اوکړئ

صَعِيْدًا طَيِّبًا فَامْسَحُوْا

په خاوره پاکه باندے نو مسح کړئ

بِوُجُوْهِكُمْ وَاَيْدِيْكُمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ

مخونه خپل او لاسو نه خپل ، یقیناً الله تعالی

كَانَ عَفُوًّا غَفُورًا ﴿۴۳﴾

معافي كوونكے بخنه كوونكے دے.

۴۳:- ربط:- دَ دے دَ ماقبل سره ربط په څو وجوهو سره دے.
اوله وجه، دا چه دا دَ واعبدوالله سره متعلق دے او وروستو دَ ايمان او توحيد نه ذكر دَ اهم عبادت دے (اللباب).
دويمه وجه، هركله چه مخكښ ئے مكارم اخلاق ته ترغيب ذكر كړو او هغه حقوق دَ بندګانو وو نو اوس اخلاص ذكر كوي په حق دَ الله تعالىٰ كښ (آلوسي).
دريمه وجه، هركله چه مخكښ دَ منافقانو ناكاره اخلاق په طريقه دَ زجر سره ذكر شول او په هغې باندے تخويف ذكر كړو نو اوس دَ هغوي دَ نورو ناكاره صفاتو نه منع ذكر كوي چه هغه مسكرات (دَ نشے څيزونه) استعمالول دي خصوصًا دَ عبادت په وخت كښ او هغه رسوونكي دي جهل ته- او دا رنګ په طهارت كښ سستي كول دي- نو په ديكښ اشاره ده چه دَ دين دَ اعمالو دَپاره دَ جهل او غفلت نه ځان ساتل پكار دي او طهارت ظاهريه پكار دے سره دَ طهارت باطنيه نه په ايمان سره-
يَآيُّهَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا لَا تَقۡرَبُوا الصَّلٰوةَ ، دا ندا په دے طريقے سره دَپاره دَ تاكيد دَ عمل كولو ده په روستو حكم باندے او اشاره ده چه په دے حكم باندے عمل كول مقتضا دَ ايمان ده- وَلَا تَقۡرَبُوۡا، نهي كول دَ تزديكت نه كنايه ده دَ نهي دَ موځ نه په طريقه دَ مبالغے سره لكه چه په لا تقربوا الزنا او په ولا تقربوا مال اليتيم آيتونو كښ داسي ده-
تنبيه:- دَ خمر (شرابو) په باره كښ اول آيت دَ سورة بقره ۲۱۹ نازل شوے وو نو عمر رضي الله عنه اووئيل چه يا الله تعالىٰ مونږ ته دَ خمر په باره كښ شافي بيان اوكړے نو بيا دَ سورة مائده آيت ۹۰ كښ نازل كړے شو (ابن كثير)-

او په حدیث د ابو داؤد کښ په کتاب الاشربه کښ راغلی دی چه د دے آیت د نزول نه روستو د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم منادی (اعلان کوونکی) اعلان اوکړو چه په حال د سکر (نشه) کښ مونځ ته مه نیژدے کیږئ۔ او د ابوداؤد ونسائی په روایت کښ راغلی دی چه علی او عبدالرحمن رضی الله عنهما او یو بل سَن جمع شوے وو او شراب ئے اوڅښکل او عبدالرحمن رضی الله عنه امامت د مونځ اوکړو نو په سوره الکافرون کښ کړ وړ شو نو دا آیت نازل شو۔ د دے روایاتو نه معلومه شوه چه دلته د صلوٰة نه مراد مونځ کول دی ځائے د مونځ نه دے مراد اګرچه دا سے یو قول د بعضے مفسرینو نه نقل دے۔

وَاَنْتُمْ سُكٰرٰى، سُكٰرٰى جمع د سکران ده۔ سکر په لغت کښ بند ولو ته وئیلے شی سکر النهر (نهر ئے بند کړو) هغه په سوره حجر ۱۵ کښ دا معنیٰ مراد ده۔ او سکر (زور د کاف) هر هغه څیز دے چه نشه پیدا کوی۔ نو دا سکر چه مطلق ذکر شی نو مراد ترینه سکر دے د شرابو نه۔ او سکر چه د غضب یا د خوب یا د عشق یا د مرګ د یرے د وجے نه وی نو هغه سکر مجازی دے او هغه مقید ذکر کیدے شی۔ لکه سكرة الموت (سوره ق ۱۹) وترى الناس سُكٰرٰى وما هم بسكٰرٰى (سورة حج ۲) ۔ او د سکر په تعریف کښ اختلاف دے۔ سفیان ثوری وئیلی دی چه حد د سکر (نشه کیدلو) هغه نقصانی کیدل د عقل دی چه د هغے د وجے په لوستلو کښ کړ وړ کیږی او په خپلو خبرو نه پوهیږی۔ او امام احمد رحمه الله وئیلی دی چه عقل ئے بدل شی د حال د صحت نه او دا قول د امام مالک رحمه الله هم دے۔ ابن منذر وئیلی دی چه صرف په لوستلو کښ ئے کړ وړ والے راشی نو دا سکران دے په دلیل د دے آیت سره۔ او صحیح دا ده چه په سکر (نشه) کښ ډیرے درجے دی اوله درجه اختلاط

دَ قراءت (زمکہ وډ والے دَ لوستلو) دے - دویمہ درجہ دا دہ چہ پخپلو خبرو او پہ خپل حال نہ پوهیږی - دلتہ دا دواړہ درجے مراد دی چہ پہ داسے حال کښں مونځ اوکړی نو هغہ فاسق دے. او دریمہ درجہ، دا دہ چہ دَ زمکے او آسمان او دَ ښځے سړی فرق نشی کولے نو دے پہ خپلو اقوالو افعالو کښں پہ حکم دَ مجنون کښں دے.

فائدہ لہ :- دَ جمهورو مفسرینو پہ نیز دَ سکر نہ مراد دلتہ نشہ دہ دَ شرابو نہ - او دَ ضحاک پہ نیز سکر دے دَ خوب نہ پہ دلیل دَ صحیح حدیث سرہ چہ ستاسو نہ پہ یو شخص بانسے پہ حال دَ (نفل) مونځ کښں جوتہ دَ خوب راشی نو مونځ دِ پریږدی او خوب دِ پورہ کړی کیدیشی چہ دے بہ دَ استغفار پہ ځاے ځان تہ خیرے اوکړی - او عبیدہ سلمانی وئیلی دی چہ دَ دینہ مراد هغہ حال دے چہ دَ انسان دَ وړو بولو یا لویو بولو نہ خیتہ درنہ وی ځکہ چہ پہ حدیث کښں راغلی دی چہ مونځ دے نہ کوی یو تن ستاسو پہ داسے حال چہ حاقن (ردروند) وی - قرطبی دَ دے نقل کولو نہ روستو وئیلی دی چہ دَ دے اقوالو معنیٰ صحیح دہ ځکہ کوم څیز دَ مونځ خشوع خرابوی نو دَ هغے دَ پارہ مونځ پریخودل پکار دی لکہ تیار خوراك هم پدیکښں داخل دے - دا دَ دے دَ پارہ چہ مونځ بے خیالہ او بے خشوع او نکړی - لیکن زما رائے دا دہ چہ دَ سکاری پہ تفسیر کښں دا داخل نہ دی دَ صحیح احادیثو پہ سبب سرہ پہ دے بانسے خپل ځاے عمل کیدیشی خو دلتہ قول دَ جمهورو مفسرینو صحیح دے.

فائدہ ٢ :- پہ دیکښں دا مقصد نہ دے چہ دَ نشے دَ پارہ مونځ پریږدئ بلکہ مطلب دا دے چہ دَ مونځ پہ وخت کښں نشہ مہ کوئ - او پہ آیت کښں معنیٰ دَ نسخ نشتہ دے.

حَتّٰی تَعْلَمُوْا مَا تَقُوْلُوْنَ، آلوسی وئیلی دی چہ مونځ مہ کوئ پہ حالت دَ نشہ کښں تر دے پورے چہ پوهیږئ پہ هغہ څہ چہ

وایئ تاسو مخکښې دَ مونځ نه ځکه چه په دے سره به معلومه شی چه تاسو به پوهیږئ په هغه څه چه په مانځه کښې ئے لولئ۔ او دَ دے وجے نه ئے دلته تقولون وئیلی دی۔ تقرءون ئے نه دی وئیلی ځکه چه دَ مونځ نه مخکښې صرف خبرے مراد دی او په مونځ کښې قراءت سره درود اذکار او دعاګانے مراد دی نو تقولون لفظ ټولو ته شامل دے۔ او دا جمله دلالت کوی چه سکران (نشه) هغه شخص دے چه په خپلو خبرو باندے نه پوهیږی۔ او دَ دے وجے نه دَ هغه په طلاق واقع کیدلو کښې هم اختلاف دے (دَ هغے باره کښې قرطبی اوګورئ)۔

وَلَا جُنُبًا، دا لفظ په وزن دَ مصدر دے نو مفرد، تثنیه، جمع او مذکر او مؤنث پکښې برابر دی۔ او دا ماده دلالت کوی په لرې والی باندے نو جُنُبٌ هم لرے دے دَ دا کولو دَ مونځ نه یا لرے دے دَ طهارت نه۔ او دا لفظ عطف دے په انتم سکاری جمله حالیه باندے په طریقه دَ عطف دَ مفرد په جمله باندے۔ او په کلمه دَ لا مکرر راوړلو کښې فائده دا ده چه نهی دَ نیزدے والی نه مونځ ته هر حالت ته جدا جدا شامل شی نو په حال دَ اجتماع دَ دواړو حالاتو کښې نهی ضروری وی۔ او په دیکښې هم دَ مخکښې پشان دوه توجیهات جاری دی۔ اوله دا ده چه مونځ ته مه نیزدے کیږئ په حال دَ جنابت کښې۔ دویمه دا چه مه نیزدے کیږئ ځائے دَ مونځ ته چه مسجد دے په حال دَ جنابت کښې۔

اِلَّا عَابِرِی سَبِیْلٍ، دا استثناء مفرغ ده او منصوب ده په اعتبار دَ حالیت سره نو معنیٰ دا ده چه مه نیزدے کیږئ مونځ ته په حال دَ جنابت کښې مګر چه تیریدونکی دَ لارے یئ یعنی مسافر یئ۔ یا مه نیزدے کیږئ مسجد ته په حال دَ جنابت کښې مګر چه تیریدونکی یئ په مسجد کښې۔ بله توجیه دا ده چه الا په معنیٰ دَ غیر ده او دا صفت دے دَ جنبًا دَ پاره نو حاصل دا دے چه مه نیزدے کیږئ مونځ ته په حال دَ جنابت کښې مګر چه

تاسو سره بل حالت وی چه په هغې کښې معذوره یئ چه تیریدل دی په لاره باندے - په دے مقام کښې دوه اقوال دی د مفسرینو.
اول قول د علی، ابن عباس او سعید بن جبیر او مجاهد رضی الله عنهم دے چه مه نیزدے کیږئ مونځ ته په حال د جنابت کښې مګر چه مسافر یئ او اوبه نه مومئ نو تیمم اوکړئ - او دا قول امام ابوحنیفه رحمه الله هم غوره کړیدے.
دویم قول د ابن مسعود رضی الله عنه، سعید بن المسیب، حسن او عکرمه وغیره دے چه مه نیزدے کیږئ ځائے د مونځ ته یعنی مسجد ته مګر چه جنب شئ په مسجد کښې او ورتیریږئ په مسجد کښې یا د چا د کور دروازه په مسجد کښې وی او په کور کښې د غسل انتظام نه وی نو په مسجد باندے ورتیریږی.
نو په دے حال کښې د اکثر اهل علمو په نیز تیمم ته ضرورت نشته په مسجد کښې د غسلے تیریدلے شی لیکن په مسجد کښې حصاریدل منع دی - او په دے قول سره د صلاة نه مراد موضع د صلاة دے لکه په سوره حج ۴۰ کښې دی -
حَتّٰى تَغْتَسِلُوْا، دا غایه ده د و لا جنبًا د پاره یعنی د غسل کولو نه روستو جائز دی چه مونځ دے کوی او مسجد ته داخلیږی لیکن شرط پکښې دا دے چه د غسل کولو په اوبو باندے قدرت اومومی -
سوال:- دلته ئے د الا عابری استثناء ولے مخکښې ذکر کړه؟
جواب ۱:- په دیکښې اشاره ده چه په دے حال (د جنابت) کښې حکم د نهی مطلق نه دے لکه چه په سکر کښې مطلق دے.
جواب ۲:- هر کله چه مقصد دلته صحت د مونځ دے په حال د جنابت کښې (روستو د زوال د هغې د تیمم په طریقے سره) د دے وجے نه ئے اغتسال د استثناء نه روستو ذکر کړو-
وَاِنْ كُنْتُمْ مَّرْضٰى، دا دهغه اجمال تفصیل دے چه په الا عابری سبیل کښې وو او د مستثنیٰ د پاره د عذرونو بیان دے.

سوال:- عابری سبیل کښې خو صرف دَ سفر عذر ذکر وو او په تفصیل کښې ئې مرض هم ذکر دے؟
جواب:- په عابری کښې صرف دَ سفر ذکر وو په طریقه دَ مثال سره ځکه چه دغه عذر اکثر واقع کیږی او احکام ورسره بدلیږی او په مرض سره هر وخت احکام نه بدلیږی ځکه چه په هغې کښې خفیف او ثقیل وی.
مَرضٰی، جمع دَ مریض ده او دَ مریض نه دلته مراد هغه دے چه دَ اوبو په استعمال سره دَ مرض دَ زیاتوالی یا دَ مړګ یره وی. دَ ابن عباس رضی الله عنهما په روایت کښې دی چه دا هغه څوک دے چه زخمی شوید ے یا وربانډے چیچڼی (مرض دَ شری) راغلے دے او دے جنب شی نو یره کوی دَ غسل نه ځکه چه یا مرض او زخم سیوا کیږی یا دَ هغې دَ وجې نه مړ کیږی.
اَوۡ عَلٰی سَفَرٍ، دا عطف دے په مرضٰی باندے په محل دَ نصب کښې. او سَفَرٍ، نکره ده دَ عموم دَ پاره یعنی که اوږد سفر وی او که لنډ سفر وی لیکن روستو شرط ورسره مراد دے چه اوبه دَ اودس یا دَ غسل دَ پاره نه مومی نو په داسے حال کښې به تیمم کوی دَ مونځ دَ پاره او بیا ئے دَ مونځ راګرځول نشته. او دَ دے تائید حدیث دَ ابوذر رضی الله عنه دے چه ابوداؤد او ترمذی نقل کړید ے معنٰی ئې دا ده چه پاکه خاوره دَ مسلمان اودس دے اګرچه لس کاله پورے اوبه نه مومی او هر کله چه اومومی نو بدن پورے دِ اومږی.
سوال:- دَ سفر او دَ مرض دَ ذکر نه معلومه شوه چه دَ روغوالی او دَ حضر په حالت کښې تیمم جائز نه دے اګر چه اوبه نه مومی؟
جواب:- په مسئله کښې دَ علماؤ اختلاف دے لیکن دَ امام ابوحنیفه او امام مالک رحمهم الله په نیز په داسے حالت کښې دَ مقیم دَ پاره تیمم شته دے او دوی وئیلی دی چه دَ

مرضی او مسافر ذکر په اعتبار د اغلب سره دے ځکه چه مقیم روغ شخص اکثر داسے ده چه هغوی اوبه مومی۔ نو دوی وئیلی دی چه مریض او مسافر په صریح نص کښ داخل دی او صحیح مقیم او روغ شخص په وخت د نیشتوالی د اوبو کښ په معنی د نص کښ داخل دی۔ دویم جواب دا دے چه روستو لفظ أَوْ جَاءَ أَحَدٌ مِّنكُم مِّنَ الْغَائِطِ، مقیم او مسافر، مریض او روغ ټولو ته شامل دے۔ او دا رنګ حدیث. بخاری او مسلم کښ د ابوجهیم رضی الله عنه په روایت سره ثابت دی چه نبی صلی الله علیه وسلم د اقامت او صحت په حال کښ تیمم کړے وو کله چه اوبه ئے نه مونده لے (قرطبی)۔

سوال:۔ علی سفر په ځائے باندے مسافرین ولے نه ذکر کولو؟

جواب:۔ دا لفظ په مقصد کښ ښه واضح دے او هر چه لفظ د مسافرین دے نو هغه احتمال لری د هغه چا چه د سفر اراده لری۔

سوال:۔ مخکښ ئے عابری سبیل او وئیلو او اوس ئے علی سره او وئیلو؟

جواب:۔ عابری سبیل عام وو چه په مسجد کښ ور تیریږی یا سفر کوی لکه چه مخکښ ذکر شول دا رنګ د تیمم د رخصت د پاره سبب سفر دے صرف تیریدل د لارے نه دی نو هلته صرف استثناء مقصد وه نو د هغے د پاره لفظ د عابری سبیل کافی وو او دلته ذکر د حکم مقصد دے او د هغے د پاره لفظ د سفر صریح دے۔

سوال:۔ مرض ئے په سفر باندے ولے مقدم کړو؟

جواب:۔ هغه مرض چه سبب د رخصت د تیمم دے عام سبب په نسبت د سفر باندے ځکه چه په حال د مرض کښ د اوبو نه موندل عام دی چه د اوبو د استعمال طاقت نه لری یا اوبه موجود نه وی او په سفر کښ صرف روستو حال موجود یدل شی۔ أَوْ جَاءَ أَحَدٌ مِّنكُم مِّنَ الْغَائِطِ، دا هم عطف دے په خبر

دَکنتم بانده او دلیل دے چه فعل ماضی بغیر دَ قد نه دَ کان دَپاره خبر واقع کیدیشی - او دا دَ بصریانو مذهب دے.
غَائِطِ، په اصل کښ ښکته زمکے ته وئیلے شی او دا بناء دے په عادت دَ عربو بانده چه هغوی به دَ قضاء حاجت دَپاره دَځان پټولو دَپاره ښکته ځابے ته راتلل نو دا کنایه ده دَ هر قسم بے اودسئ نه چه په دلیل شرعی سره هغه سبب دَ حدث (پلیتئ) وی - لیکن بنا په عادت اکثریه سره دَ لوبے اودس ماتی نه روستو انسان قطرتی طور سره زر پاکوالے غواړی نو ذکر دَ غائط په دے اعتبار سره شوے دے.
اَحَدٌ کښ اشاره ده چه انسان په داسے وخت کښ یواځے والے غواړی نو احد لفظ په یواځے والی بانده دلالت کوی.
سوال:- دلته ئے په صیغه دَ جمع خطاب سره ذکر نه کړو دَکنتم او روستو لامستم پشان؟
جواب:- په دے حالت سره خطاب کول بد کنړل کیږی په تیز خاوندانو دَ عقل سلیم بانده.
اَوْلٰمَسْتُمُ النِّسَآءَ، په دیکښ دوه اقوال مشهور دی - اول داچه دَ لمس نه مراد جماع کول دی - او ابن جریر دَ ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت ذکر کړیدے چه لمس، مس او مباشرت جماع ده لیکن الله تعالٰی کنایه کوی چه څه اوغواړی - او دا قول ابن کثیر دَ علی، ابی بن کعب رضی الله عنهما، مجاهد، طاوس، حسن، عبید بن عمیر، سعید بن جبیر، شعبی، قتاده او مقاتل رحمهم الله نه نقل کړیدے - او دا قول دَ امام ابوحنیفه رحمه الله هم دے - او دَ دینه دلیل نیولے کیږی چه جنب کله په اوبو بانده قادر نه وی نو تیمم به کوی او دَ دے تائید حدیث دَ عمار بن یاسر، عمران بن حصین او ابوذر رضی الله عنهم دے. او ابن جریر دے قول ته اولی بالصواب وئیلی دی. او صاحب اللباب وئیلی دی چه وجه دَ غوره والی ئے دا ده چه حدث اصغر په جمله دَ اوجاء احد منکم من الغائط کښ ذکر

شویدے که دلته هم حدیث اصغر (لمس په لاس سره) مراد شی نو تکرار به راشی۔ دویم قول دا دے چه دَ دینه مراد لمس دے په لاس سره او خکلولو ته هم شامل دے او دا دَ ابن مسعود او ابن عمر رضی الله عنهما نه نقل دے۔ او دا قول دَ امام شافعی او امام مالک رحمه الله دے او دَ هغوی په اقوالو کښ هم اختلاف دے (هغه پخپل مناسب ځایونو کښ اوګورئ)۔ نو بناء په دے قول چه په لاس سره دَ ښځے مسح کول یا خکلولو سره او دس مات شو نو دا دَ حدث اصغر دَ پاره بل سبب دے۔ دریم قول دا دے چه لمس عام دے که په جماع سره وی یا په لاس وغیره سره او صاحب اللباب دَ دے قول نسبت ابن مسعود، ابن عمر رضی الله عنهم او ابراهیم نخعی ته کړیدے او قرطبی دا قول دَ امام مالک رحمه الله ګرځولے دے۔ او قرطبی په دیکښ ډیر تفصیل دَ اقوالو ذکر کړیدے۔

فائده :- په دیکښ الله تعالی اول دَ رخصت دوه اسباب ذکر کړیدی چه مرض او سفر دے بیا ئے دَ اودس او دَ غسل دَ ایجاب ذکر کړیدے۔ او وجه دَ ترتیب دا ده چه اول ئے تخصیص اوکړو دَ مرض او سفر ځکه چه دا غالب دی په اسبابو دَ رخصت دَ تیمم کښ بیا ئے تعمیم اوکړو هر هغه چا ته چه په هغه باندے تطهیر واجب وی او په اوبو باندے قادر نه وی دَ وجے دَ دشمن یا درندګانو نه یا لوښے دَ اوبو راویستلو ورسره نه وی۔ یا نور څه اسباب وی لیکن دغه اسباب دَ مرض او سفر پشان ډیر واقع کیدونکی نه دی۔ بیا ئے هغه ذکر کړو چه سبب دَ تطهیر اکبر وی چه هغه جنابت دے او په اوبو باندے نه وی قادر نو دا دَ مخکښ نه هم ډیر کم واقع کیدونکے دے یعنی په دے ترتیب کښ ترقی ده دَ اقل ته اکثر ته ځکه چه حالت دَ مرض اقل دے دَ سفر نه په باره دَ نه موندلو دَ اوبو کښ بیا حالت دَ سفر اقل دے دَ حال دَ قضاء حاجت نه ځکه

چه قضاء حاجت په سفر او حضر دواړو کښ واقع کیږي- بیا
حال د قضاء حاجت اقل دے د لمس د ښځې نه (لیکن دا په
هغه معنیٰ سره چه لمس نه مراد په لاس سره مسح کوي)
(کشاف، بحرالمحیط)-

فائده ٢:- د دے ځلورو (مرض، سفر، قضاء حاجت او لمس)
په مینځ کښ حرف د اَوْ د منع د خلو د پاره دے او جمع د دے
ځلورو واړو جائز ده- بیا اول دواړه اسباب د رخصت د تیمم
دي او روستو دواړه اسباب د حدث او د جنابت دي چه حدث
او جنابت ضرورت او ګرځي د پاره د تیمم نو په ځلورو واړو
څیزونو کښ ما به الاشتراک دا دے چه دا اسباب دي د پاره
د ضرورت تیمم کولو ته-

فَلَمْ تَجِدُوْا مَآءً، قرطبي وئیلي دي چه عدم وجدان (نه
موندل) عام دي یعني که بالکل معدوم وي یا موجود وي
لیکن رسیدل ورته ګران وي لکه لوښے د راویستلو نه وي
(بوقه، رسۍ وغیره) یا د دشمن یا درندګانو نه یره وي یا د
تندے یره وي او اوبه ورسره لږے وي- دا رنګ د مریض
عدم وجدان دا دے چه د زیادت مرض نه یره کوي یا ورسره
بل څوک نه وي چه دغه اوبه ورله ورکړي او دے ئے پخپله
نشي راغستلے- دا رنګ کله چه یو انسان بندي وي یا اوبه دومره
په ګران قیمت خرڅیږي چه دے ئے نشي اخستلے یا پکښ
غبن فاحش وي-

فَتَیَمَّمُوْا صَعِیْدًا طَیِّبًا، تَیَمَّم، په لغت کښ قصد کولو ته
وئیلے شي نو شرعًا په یکښ نیت کول فرض دي- صَعِیْدًا،
په دیکښ ابوحیان ډیر اقوال ذکر کړیدي- ابوعبیده او
فراء بغوي وئیلي دي چه صرف خاورے ته وئیلے شي- لیث
وئیلي دي چه هغه زمکه چه هواره وي او په هغې کښ بوټي
نه وي- خلیل وئیلي دي چه اوچتے زمکے ته وئیلے شي او زجاج
وئیلي دي چه مخ د زمکے دے که خاوره وي او که غیرخاوره وي-

اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ اُوْتُوْا نَصِيْبًا

آیا نه گورئ هغه کسانو ته چه ورکړے شویدہ هغوی ته یوه برخه

طیب په معنیٰ دَ پاکے سره دے لکه په سوره نحل ۳۲ کښ لفظ دَ طیبین۔ یا په معنیٰ دَ زرغونه کوونکے دے چه خاوره زمکه ته وی لکه سوره اعراف ۵۸ کښ۔ اول قول دَ امام ابوحنیفه او امام مالک رحمهم الله دے او دویم قول دَ امام شافعی رحمه الله دے۔

فَامْسَحُوْا بِوُجُوْهِكُمْ وَاَيْدِيْكُمْ، دا دَ تیمم شرعی تفصیل دے که دَ حدث (بی اودسئ) دَپاره وی او که دَ جنابت دَپاره وی دواړه یو شان دی۔ اَيْدِيْكُمْ عام دے که صرف ورغوی تر مړوندو پورے وی او که تر څنګلو پورے وی په دیکښ دواړه اقوال شته دے او دا دواړه احادیث صحیح دی اګرچه اصح پکښ اول قسم دے۔

فائده:- په سوره مائده ۶ کښ یئے په لفظ دَ منه سره مقید کړیدے نو دا مطلق حمل دے په هغه مقید باندے او مِنْ دَ تبعیض دَپاره دے دا زمحشری دَ ټولو اهل لغت دَ عربو نه نقل کړیده او رد یئے کړیدے په هغه چاچه څوک وائی چه دا من دَ ابتداء دغائے دَپاره دے۔ نو معلومه شوه چه په تیمم کښ ضروری دا ده چه دَ ممسوح (صعید طیب) نه څه حصه خامخا په لاسونو پورے او نخلی بیا سنن وهل هم په حدیث سره ثابت دی۔

اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَفُوًّا غَفُوْرًا، كَانَ په صفاتو دَ الله تعالیٰ کښ دَ استمرار دَپاره دے۔ عَفُو دَ خطا سره تعلق لری او مغفرت دَ قصد ګناه سره تعلق لری۔ دا رنګ عفو کښ تسهیل (آسانتیا) ته اشاره ده چه په تیمم کښ آسانتیا ده او مغفرت کښ اشاره ده چه طهارت شرعیه سبب دے دَپاره دَ مغفرت دَ ګناهونو صغیرو نه۔

مِّنَ الْكِتٰبِ يَشْتَرُوْنَ الضَّلٰلَةَ

دَ كتاب نه اخلي ګمراهي

وَيُرِيْدُوْنَ اَنْ تَضِلُّوا السَّبِيْلَ ﴿۴۴﴾

او غواړي چه تاسو واوړئ دَ سمې لارې نه.

سے ۴۴ :- دَ دې آيت نه تر سے ۵۷ پورې دَ دې حصې دريم باب دې په ديکښې زجرونه دي اهل کتابو ته ځکه چه دوی هم په مخکښې ذکر کړی شوې نظام کښې خلل پيدا کوونکي دي

اوظلم کوونکي دي دَ منافقانو پشان - او په دې باب کښې دَ دوی اولس قبيح صفات ذکر کوی - دوه په سے ۴۴ کښې، يو په سے ۴۵ کښې، اووه په سے ۴۶ کښې، يو په سے ۴۹ کښې، يو سے ۵۰ کښې، دوه په سے ۵۱ کښې او يو يو په سے ۵۲، سے ۵۳ او سے ۵۴ کښې - او دَ دې قبائحو په مينځ کښې په سے ۴۷ کښې قرآن کريم طرف ته دَ دوی دعوت ورکول دي - او په سے ۴۸ کښې دَ دوی په شرک باندې رد دې - او په آخر کښې په سے ۵۶ کښې تخويف اخروی او په سے ۵۷ کښې بشارت دې.

ربط ۱ :- هر کله چه دَ منافقانو او يهوديانو په صفاتو کښې ډير مشابهت وو دَ يو بل سره نو دَ منافقانو دَ حال نه روستو اوس دَ يهوديانو حال ذکر کوی او آيت دَ يا ايها الذين آه جمله معترضه ده.

ربط ۲ :- هر کله چه په مخکښې آيت کښې تحذير ذکر کړې شو مؤمنانو ته دَ نشې، غفلت او دَ دوام دَ بې اودسئ او جنابت نه (چه دَ دغه يهوديانو اخلاق دي) نو اوس دَ هغوی تفصيلي بد اخلاق ذکر کوی دَ دې دَ پاره چه مؤمنان دَ هغې بد اخلاقو نه ځان بچ اوساتي.

اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ اُوْتُوْا، رويت بصری (دليل په سترګو سره) مراد دې او متعدی کړې دې په "الی" سره په معنیٰ دَ الم تنظر اليهم دې - يا رويت علمی مراد

دے او په الی سره یې متعدی کړیں ے ځکه چه متضمن دے معنیٰ دَ انتهاء لره یعنی اَلَمۡ یَنۡتَہِ عِلۡمُكَ اِلَیۡهِمۡ - او په دواړه حالاتو کښ مقصد تعجیب دَ مؤمنانو او شهرت دَ یهودیانو دَ قبائحو دے -

نَصِیۡبًا مِّنَ الۡكِتٰبِ، دَ دینه مراد بعضے علم دَ تورات دے او داسے کسانو ته نیمګړے ملایان وئیلے شی په سوره العمران کښ داسے تیر شویدی -

یَشۡتَرُوۡنَ الضَّلٰلَةَ، اشتراء په معنیٰ دَ استحباب (غوره کولو) دے یا په معنیٰ دَ استبدال دے - په دے روستو معنو باندے بل جانب پټ دے یعنی یالهدی - او لفظ دَ ضلالت عام دے کفر کولو ته په قرآن او په آخری رسول صلی الله علیه وسلم باندے او تخویف کول په صفاتو دَ هغه کښ چه په تورات کښ ذکر وو او نور اقسام دَ بے دینۍ. او دا مرتبه دَ ضلال ده او وروستے مرتبه دَ اضلال (خلق ګمراه کول) ذکر کوی په وَیُرِیۡدُوۡنَ اَنۡ تَضِلُّوا السَّبِیۡلَ، یعنی دوی پخپله ګمراهۍ باندے اکتفاء نه کوی بلکه دَ دے نبی صلی الله علیه وسلم تکذیب او مخالفت دَ دے دَ پاره کوی چه مؤمنانو لره مرتد کړی لکه په آیت ۸۹ کښ راځی. دا رنګ دوی دَ قرآن کریم او دَ دے نبی نه خلق منع کوی او هر کله چه دَ نورو خلقو ګمراه کول دَ دوی په اختیار کښ نه دی دَ دے وجے نه دَ دوی اراده یې صرف ذکر کړه. یا اراده په معنیٰ دَ کوشش کولو ده او دا دلیل دے چه اراده دَ ګناه او دَ ګمراه کولو دَ بل شخص دا هم ګناه کبیره ده - په دے آیت کښ دَ دوی دوه صفات قبیحه ذکر شول -

وَاللّٰهُ اَعۡلَمُ بِاَعۡدَآئِكُمۡؕ وَكَفٰى

او الله تعالىٰ ښهٔ پوهه دے په دشمنانو ستاسو او پوره دے

بِاللّٰهِ وَلِيًّاۙ وَّكَفٰى بِاللّٰهِ

الله تعالىٰ ښځ کوونکے او پوره دے الله تعالىٰ

نَصِيۡرًا ﴿۴۵﴾

مددګار -

۴۵ :- په دیکښں تاکید دے دَ ما قبل مضمون او تحذیر ورکول دی دَ هغوی دَ تابعدارئ او دوستانے کولو نه -

وَاللّٰهُ اَعۡلَمُ، اَعۡلَمُ صیغه دَ تفضیل ده یعنی اَعۡلَمُ مِنۡكُمۡ تاسو دَ هغوی په دشمنئ باندے لږ علم لرئ لیکن الله تعالىٰ پوره علم لری - یا اعلم په معنیٰ دَ علیم سره دے -

بِاَعۡدَآئِكُمۡ، یعنی دَ دوی په دشمنئ او دَ مؤمنانو خلاف دَ دوی په مکرونو جوړولو ښه عالم دے - یا دَ هغوی په عاقبت باندے ښهٔ پوهه دے -

وَكَفٰى بِاللّٰهِ وَلِيًّا، پدیکښں تسلی ورکول دی مؤمنانو ته چه دَ دغه دشمنانو نه یره مه کوئ ځکه چه الله تعالىٰ ستاسو داسے حفاظت کوی چه بل محافظ ته حاجت نشته او دا معنیٰ دَ کفایت ده -

وَكَفٰى بِاللّٰهِ نَصِيۡرًا، یعنی که هغوی تاسو سره مقابله کوی او جنګونه کوی نو الله تعالىٰ به ستاسو پوره مدد کوی داسے مدد چه بل مددګار ته حاجت نه راځی - لفظ دَ کَفٰى ئے دَ تاکید دَ پاره مکرر راوړو او دا تعبیر دے دَ توحید - عام اهل علمو وئیلی دی چه حرف دَ باء زیاتی دے دَ پاره دَ تاکید دَ کفایت - او زجاج وئیلی دی چه معنیٰ دا ده چه کفی الاکتفاء بالله - په دے دواړه قولونو باندے باء زیاتی نه ده خو په دے دواړه قولونو باندے ابوحیان رد کړیدے

مِنَ الَّذِيْنَ هَادُوْا يُحَرِّفُوْنَ
بعضے دَ یهودیانو (دا سے خلق دي) چه بدلوي

الْكَلِمَ عَنْ مَّوَاضِعِهٖ وَيَقُوْلُوْنَ
کلمے دَ الله تعالیٰ دَ ځپلو ځایونو نه او وائي دوی

سَمِعْنَا وَعَصَيْنَا وَاسْمَعْ
واوریدو مونږ او نه ئے منو مونږ او واوره ته

غَيْرَ مُسْمَعٍ وَّرَاعِنَا لَيًّا
اوآوریدل دِ او نکړیشي تا نه، او په راعنا سره تاوهی

بِاَلْسِنَتِهِمْ وَطَعْنًا فِي الدِّيْنِ ؕ
ژبے خپلے او عیب لګوي په دین (اسلام) کښں،

وَلَوْ اَنَّهُمْ قَالُوْا سَمِعْنَا
او که دوی وئیلے وے چه واوریدو مونږ

وَاَطَعْنَا وَاسْمَعْ وَانْظُرْنَا
او خبره منو او واوره ته او اوګوره مونږ ته

لَكَانَ خَيْرًا لَّهُمْ وَاَقْوَمَ ۙ
خامخا غوره به وے دوی لره او ښه برابر به وے (دَ شرعے سره)

وَلٰكِنْ لَّعَنَهُمُ اللّٰهُ بِكُفْرِهِمْ
لیکن لعنت کړیدے په دوی باندے الله تعالیٰ په سبب دَ کفر دَ دوی

فَلَا يُؤْمِنُوْنَ اِلَّا قَلِيْلًا ﴿٤٦﴾
نو ایمان نه راوړی مګر لږ کسان ۔

او لفظ دَ وَلِيًّا او نَصِيْرًا منصوب دے ځکه چه حال دے یا تمیز دے ۔

ف۴۶:- په دیکښ دَ یهودیانو دَ نورو صفاتو قبیحو ذکر کوی۔ مخکښ دَ نیمګړو ملایانو ذکر اوکړو اوس دَ هغوی دَ لویو ملایانو ذکر کوی۔ او دَ هغوی دا صفتونه دَ هغوی دَ عداوت دلیلونه دی۔ او په مِنَ الَّذِيْنَ هَادُوْا، کښ په اعتبار دَ اعراب سره ډیر اقوال دی۔ دَ سیبویه په نیز دا خبر مقدم دے او قوم یحرفون مبتداء پټه ده۔ او دَ فراء بغوی په نیز لفظ دَ مَنْ (موصوله) پټ دے یعنی مَنْ یُحَرِّفُوْنَ الْکَلِمَ۔ او دَ بعضو په نیز مبتداء پټه ده هُمْ مِنَ الَّذِيْنَ هَادُوْا۔ او یحرفون حال دے۔ (دیکښ نور اقوال هم شته دے)۔ هَادُوْا، په معنیٰ دَ تهودوا دے یعنی یهودیت ئے اختیار کړیدے۔ یُحَرِّفُوْنَ الْکَلِمَ عَنْ مَّوَاضِعِهٖ، کَلِمَ اسم جنس دے او کلمة ئے واحد دے۔ او دلته کلمات دَ تورات مراد دی چه په هغے کښ به ئے کله کله لفظی تحریف کولو لکه په صفاتو دَ نبی کریم صلی الله علیه وسلم کښ چه په تورات کښ ذکر وو۔ او اکثر به ئے تحریف معنوی کولو یعنی فاسد تاویلات به ئے کول۔ یا کلمات دَ قرآن او دَ نبی صلی الله علیه وسلم مراد دی چه دوی به واوریدل نو په هغے کښ به ئے تحریف معنوی کولو۔ عَنْ مَّوَاضِعِهٖ، ضمیر کلم ته راجع دے ځکه چه هغه جنس دے۔ او واحدی وئیلی دی چه هره جمع چه دَ هغے حروف دَ هغے دَ مفرد نه کم وی نو دَ هغے تذکیر جائز دے۔ دا سے په سورة مائده ۱۳ کښ هم دی او په مائده ۴۱ کښ من بعد مواضعه راوړے دے۔ ابوحیان دَ دے فرق ته اشاره کړیده چه من بعد مواضعه په هغه ځائے کښ استعمالیږی چه استقرار دَ کلماتو په خپل ځائے کښ ثابت او معلوم وی۔ او عن مواضعه په هغه ځائے کښ استعمالیږی که استقرار په خپلو مواضعو کښ معلوم وی او که نه وی۔ نو وجه دَ فرق دا ده چه کوم ځائے کښ دَ دوی دَ ډیرے سرکشئ او طغیان ذکر وی (لکه په دے ځائے کښ او مائده ۱۳ کښ) نو هلته عن مواضعه راوړی یعنی دوی تحریف اوکړو دَ اول ځل نه او سبقیت ئے اوکړو تحریف

ته بغير دَ څه فکر او سوچ نه په دغه کلماتو کښې - او په کوم ځائے کښې چه ډيره سرکشي دَ دوی نه ده ذکر (لکه سوره مائده ۴۱ کښې چه هلته يئے په بعضو فيصلو کښې نبي صلی الله عليه وسلم ته رجوع کړيده) نو هلته ګويا چه دوی تحريف ته سبقيت نه کوی ليکن څه عارض ورته پيښ شوے وی نو تحريف يئے کړے وی -
او امام رازی دَ فرق وجه داسے بيان کړيده چه عن مواضعه هغه ځائے کښې ذکر دے چه تحريف معنوی او باطل تاويلات کوی نو په هغے کښې معنیٰ دَ تجاوز ده دَ دے وجې نه يئے عن ذکر کړيدے - او من بعد مواضعه هغه ځائے کښې ذکر دے چه تحريف لفظی او معنوی دواړه کوی - نو په سوره مائده ۴۱ کښې واقعه دَ رجم ذکر ده چه په هغے کښې دوی تحريف لفظی او معنوی دواړه کړے وو او دلته دَ تحويف نه مراد تاويلات فاسده او شبهات باطله اچول دی او اړول دی دَ الفاظو دَ حق معانيو نه باطل معانيو ته لکه چه په دے زمانه کښې مبتدعين دَ هغه آياتونو (او احاديثو) سره دا کار کوی چه دَ دوی دَ مسلک نه خلاف وی -
دَ يَقُوْلُوْنَ سَمِعْنَا وَعَصَيْنَا ، په دے کښې دوه توجيهات دی - اول دا چه دَ نبي صلی الله عليه وسلم په حضور کښې دوی دَ ډير عناد دَ وجې نه داسے کلمات وئيل - دويم دا چه امام راغب په مفردات کښې ليکلی دی چه دا عام دے هر هغے خبرے ته چه دَ دوی دَ خواهشاتو نه خلاف وه که دَ دوی په کتاب کښې وه يا په قرآن او سنت کښې وه نو دوی په لسان حال يا قال سره وائی چه سمعنا ، چه مونږ په دے پوهيږو ليکن مونږ دا نه منو -
وَاسْمَعْ غَيْرَ مُسْمَعٍ ، دا په سمعنا باندے عطف دے او دَ يقولون دَ لاندے داخل دے او دا قول لسانی دے په مخاطب دَ نبي صلی الله عليه وسلم - غَيْرَ ، حال دے او دا دَ دوی دَ

طرف نه په طریقه دَ دُعاء شر (خیرو کولو) سره دے یعنی واوره زمونږ کلام او تا ته دِ آوریدل او نکړیشی یعنی ته دِ کونړ شے۔ او محمود کرمانی په غرائب التفسیر کښ وئیلی دی چه دوی به وئیل چه ته غوږ کیده او ته دِ مړ شے ځکه چه مړے هم آوریدل نشی کولے نو دا لفظ (غیر مسمع) به دوی پټ وئیلو۔ یا غیر مفعول دے دَ اسمع دَ پاره او دا کلام دَ دوی احتمال دَ خیر او دَ شر لری۔ احتمال دَ خیر دا دے چه اسمع غیر مسمع مَكْرُوهًا وَلَا آذًى چه ناکاره او دَ تکلیف کلام دِ تا ته نه آوریدلے کیږی او احتمال دَ شر دا دے چه غَيْرَ مُسْمَعٍ خَيْرًا چه دَ خیر کلام دِ تا ته نه آوریدلے کیږی (زمحشری)۔

او دَ حسن او مجاهد نه نقل دے چه غیر مُسْمَعٍ په معنیٰ دَ غیر مقبول او غیر مجاب دے (قرطبی، ابن عطیه)

وَرَاعِنَا، دَ دے تفسیر په سوره بقره ۱۰۴ کښ تیر شوید ے۔

لَيًّا بِأَلْسِنَتِهِمْ، دا مفعول له دے دَ یقولون دَ پاره یا مصدر دے په معنیٰ دَ حال کښ دے یعنی دوی په عصینا، غیر مسمع او راعنا کښ لی اللسان (دَ ژبے اړول) کوی په پټ وئیلو سره یا په ښکاره کولو دَ خیر سره یا په مدِّ الف سره په راعنا کښ یا په حذف دَ "یاء" سره په راعنا کښ چه راعینا دے۔ یا دا مفعول مطلق دے دَ فعل پټ دَ پاره یعنی يَلْوُوْنَ لَيًّا او دَ دینه مراد هغه دَ ژبے اړول دی چه په سوره آل عمران ۷۸ کښ ذکر دی۔

وَطَعْنًا فِي الدِّيْنِ، په دے کښ هم دغه درے احتمالات دی۔ مفعول له یا حال دے دَ ما قبل نه یعنی دغه کلمات دوی طعن دَ پاره وائی۔ یا مفعول مطلق دے دَ پټ فعل دَ پاره یعنی یطعنون طعنًا یعنی په دین اسلام کښ دَ طعن کولو کوشش کوی۔

وَلَوْ أَنَّهُمْ قَالُوْا سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا وَاسْمَعْ وَانْظُرْنَا، په دے کلام کښ دعوت ورکول دی خیر طرف ته یعنی که دوی دَ عصینا په ځائے اطعنا وئیلے او غیر مسمع ئے نه وئیلے او دَ

راعنا په ځائے انظرنا وئیلی نو لګان خَيْرًا لَّهُمْ، خَيْرًا، اسم تفضیل دے او مفضل علیه پټ دے یعنی مِنْ قَوْلِهِمْ او دا په اعتبار دګمان د دوی سره ځکه چه د دوی په اقوالوکښ هیڅ خیر نشته - یا خیر په معنیٰ دجیں او فاضل دے معنیٰ تفضلی پکښ نشته -

وَأَقْوَمَ، په معنیٰ دعدل او دا سں رښه برابر) دلته هم یا معنیٰ تفضیلی مراد ده په اعتبار دګمان دهغوی سره یا صرف فعلی معنیٰ ده بغیر د تفضیل نه - آلوسی وئیلی دی چه د خیرًا نه مراد ښه نفع ورکوونکے دے دوی لره او اقوم معنی اعدل فی نفسه - او هر کله چه انسان او خصوصًا یهودیان د نفعے ډیر خواهش لری د دے وجے نه خیرًا ئے مخکښ ذکر کړو -

وَلٰكِنْ لَّعَنَهُمُ اللّٰهُ بِكُفْرِهِمْ، دلته اقامت د مسبب دے په ځائے د سبب یاں دے یعنی لَمْ يَقُوْلُ اِلَا نُفَعَ وَلَا أَقْوَمَ (دوی فائده مند او د عدل قول نه دے کړے) او دا سبب د لعنت دے - او بکفرهم نه مراد د دوی سابق کفر دے چه هغه کفر عنادی دے او دغه کفر سبب دے دپاره د ترک د خیر او اقوم - او دغه ترک سبب دے دپاره د لعنت په دوی باندے -

فَلَا يُؤْمِنُوْنَ اِلَّا قَلِيْلًا، په دے استثناء کښ درے اقوال دی - اول دا استثناء ده د مفعول د لعنهم نه - دویم دا استثناء ده د ضمیر د فلا یؤمنون نه - په دے روستو قول باندے اعتراض دے چه دا کلام غیر موجب دے یعنی نفی ده نو په دیکښ په مستثنیٰ باندے رفع (پیښ) پکار دے بنا په بدلیت سره - دریم قول دا چه صفت د موصوف پټ دے یعنی الا ایمانًا قلیلًا - او قلت خو یا په معنیٰ د عدم سره دے چه بالکل ئے ایمان نشته یا د دے نه مراد ایمان لغوی دے په بعضے ایمانیاتو باندے او هغه خو ایمان شرعی نه دے.

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ

اے کتاب والو !

اٰمِنُوْا بِمَا نَزَّلْنَا مُصَدِّقًا

ایمان راوړئ په هغه کتاب چه نازل کړیدے مونږ رشتنے کوونکے دے

لِّمَا مَعَكُمْ مِّنْ قَبْلِ

د هغه کتاب چه تاسو سره دے مخکښ د دے نه

اَنْ نَّطْمِسَ وُجُوْهًا فَنَرُدَّهَا

چه وران به کړو مخونه نو اوبه ګرځوو هغه

عَلٰٓى اَدْبَارِهَآ اَوْ نَلْعَنَهُمْ كَمَا

په شاګانو د هغوی یا به لعنت اوکړو په دوی لکه چه

لَعَنَّآ اَصْحٰبَ السَّبْتِ ؕ وَكَانَ

لعنت کړیدے مونږ په خالی والو، او دے

اَمْرُ اللّٰهِ مَفْعُوْلًا ﴿۴۷﴾

حکم د الله تعالیٰ پوره کړے شوے۔

۴۷
په دے آیت کښ د دوی اووه صفات قبیح ذکر شول۔
ربط ۱ :- هر کله چه ولو انهم قالوا کښ دعوت وو صحیح اقولو ته نو اوس دعوت ورکوی ایمان ته په ټول قرآن باندے او دعوت سره ئے لوے وعید او تخویف ذکر کړے دے د زیات تاثیر د پاره - او د هغے نه روستو ئے تخویف ورکړو د شرک نه او د تزکیے کولو نه د ځیلو ځانو نو۔
ربط ۲ :- هر کله چه د دوی کفریات او قبائح ئے ذکر کړل نو اوس د هغے نه د بچاؤ د پاره طریقه ذکر کوی چه هغه ایمان کامل دے په قرآن کریم باندے۔

يَآيُّهَا الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ ، لفظ د اوتوا الکتب دواړه ډلو ته شامل دے که هغه اوتو نصيبًا من الکتب والا دی او که پوره کتاب والا دی - يا د دينه مراد د دوی لوے لوے علماء دی ځکه چه نور واړه ملايان او عوام خو د دوی تقليد کوونکی دی نو د دوی اصلاح اول ضروری ده -

اٰمِنُوْا بِمَا نَزَّلْنَا مُصَدِّقًا لِّمَا مَعَكُمْ ، د تنزيل او تصديق ذکر د زيات ترغيب د پاره دے او د تصديق معنیٰ په سوره بقره کښ ذکر کړے شوے ده -

مِنْ قَبْلِ اَنْ نَّطْمِسَ وُجُوْهًا ، طمس په لغت کښ محو کيدلو (ورانيدلو) ته وئيلے شی لازمی او متعدی دواړه راځی لکه په (لَطَمَسْنَا عَلٰٓى اَعْيُنِهِمْ) يٰس ۶۶ کښ او (اِذَا النُّجُوْمُ طُمِسَتْ) مرسلات ۸ کښ - دلته د ورانولو د مخونو نه مراد دا دے چه الله تعالیٰ د انسانانو په مخونو کښ د روزونه نون او د سترګو نه صاد او د پوزے نه الف او د خُلے نه ميم جوړ کړيدے نو دا به وران کړی نو د اوبن د خپړے يا د اس د سوے پشان به اوګرځی - دا روايت د ابن عباس رضی الله عنهما نه آلوسی نقل کړيدے او فراء بغوی وغيره وئيلی دی چه په مخونو وېختو را اوتوکوی پشان د مخونو د شادوګانو - اوبل قول دا دے چه د وجوه نه مراد د دنيا سرداران او مخوريز خلق دی -

فَنَرُدَّهَا عَلٰٓى اَدْبَارِهَا ، دا د طمس تفصيل دے يعنی او به ګرځوو (دا مخونه د دوی) پشان د ستونو چه په هغے کښ سترګے وغيره نشته او دا ټول د ويختو ځاے دے - او د ابن عطيه قول دا دے چه سترګے به ورله په ستونو کښ جوړے کړو - او چه د وجوه نه مراد سرداران شی نو د دے جملے مطلب بيا دا دے چه د دوی وجاهت او عزت به ختم کړو او په ذلت کښ به ئے اخته کړو -

اَوْ نَلْعَنَهُمْ كَمَا لَعَنَّآ اَصْحٰبَ السَّبْتِ ، د هُمْ ، ضمير الذين

اوتوا الکتاب ته راجع دے یا وجوه ته راجع دے او د لعن نه مراد مسخ د دوی ده پشان د شادوګانو او خنزیرانو۔ او دا قول د ضحاک او حسن بصری وغیره دے او دلیل په دے باندے تشبیه ده په لفظ د کما لعنا اصحاب السبت سره۔ یا د دینه مراد زائل کول دی د اخلاقو د انسانیت او په خسیس او بد اخلاقو کښې اخته کول دی پشان د اخلاقو د شادوګانو او خنزیرانو۔ او حرف د اَوْ د منع د خلو د پاره دے او جمع کیدو د دواړو عذابونو هم جائز ده۔

سوال :- دلته الله تعالیٰ دوی له د دے دوه عذابونه تخویف ورکړیدے په وخت د عدم ایمان د دوی کښې او ایمان خو ئے راوړے نه دے نو دا عذابونه ولے په دوی باندے نازل نه شول؟

جواب ۱ :- دلته شرط د عذاب د ټولو ایمان نه راوړل وو لیکن بعضے کسانو په زمانه د نبی کریم صلی الله علیه وسلم کښې او بعضو روستو ایمان راوړیدے نو د دوی نه عذاب رفع شو او د منکرینو عذاب به په آخرت کښې وی۔

جواب ۲ :- د دے عذابونو وخت الله تعالیٰ نه دے مقرر کړے نو روستو به الله تعالیٰ په دوی باندے دا سے عذابونه د طمس او مسخ راولی لکه چه په بعضے احادیثو کښې ثابته ده۔ په مشکوٰة باب القدر کښې دی چه دا سے عذابونه به الله تعالیٰ په منکرینو د تقدیر باندے راولی او اکثر یهودیان اول مکذبین د تقدیر دی۔

جواب ۳ :- دلته دوه عذابونه ذکر دی طمس یا لعن او د لعن دوه معنے دی (لکه چه مخکښې ذکر شویدی) نو لعن په یو معنیٰ په دوی باندے راغلے دے لکه چه په سوره بقره ۱۵۹، ۱۷۴ کښې ذکر دی او دغه آیاتونه اول د یهودیانو په باره کښې نازل شویدی۔

جواب ۴ :- دا عذابونه په دوی باندے په ورځ د قیامت

إِنَّ اللَّهَ لَا يَغْفِرُ أَن يُشْرَكَ بِهِ

یقینًا الله تعالیٰ نه بخی چه شرک اوکړے شی دَ هغه سره

وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَٰلِكَ لِمَن

او بخی هغه ګناهونه چه کم وی دَ دینه هغه چا لره

يَشَاءُ ۚ وَمَن يُشْرِكْ بِاللَّهِ فَقَدِ

چه اوغواړی او چاچه شرک اوکړو دَ الله تعالیٰ سره نو یقینًا

افْتَرَىٰ إِثْمًا عَظِيمًا ﴿٤٨﴾

جوړه کړه دَه ګناه لویه ـ

دی په دلیل دَ سوره یٰس ۲ سـ۶۶ ، سـ۶۷ سره ـ

جواب ۵ :ـ دَ طمس دَ وجوه او رد علی الادبار مخکښ معنیٰ کنائی ذکر شوه چه مشران او مخوریز خلق دَ دوی به ذلیل او رسوا کړیشی او دغه عذاب په واقعه دَ بنو نضیر او بنو قریظه کښ په دوی باندے واقع شویدے هغه دَ ضربت علیهم الذلة والمسکنة په تفسیر کښ ذکر شویدی ـ

وَكَانَ أَمْرُ اللَّهِ مَفْعُولًا ، دَ أَمْرُ اللَّهِ نه مراد دَ هغه وعیدونه دی یا هغه چه الله تعالیٰ په هغے باندے قضا کړے وی ـ او مفعول په معنیٰ دَ نافذ (پوره کیدونکے او جاری کیدونکے) دے او واقع کیدونکے په زمانه حال یا زمانه استقبال کښ ـ او دا رنګ په تیر شوے زمانه کښ چه الله تعالیٰ دَ سابقینو انبیاؤ سره دَ هغوی په قومونو باندے عذابونه فیصلے کړے وے نو هغه ټولے واقع شویدی ـ او کَانَ دلته دَ استمرار (همیشوالی) دَپاره دے ـ

سـ۴۸ : ربط ۱ :ـ هر کله چه مخکښ آیت کښ ئے اهل کتابو ته په عذاب سره تخویف ذکر کړو او ورسره ئے دَ ایمان ترغیب ذکر کړو نو اوس په دے آیت کښ دَ هغے علت ذکر کوی

چه ایمان (توحید) سبب دَ مغفرت دے او مغفرت دفعے دَ عذاب دنیوی ته هم شامل دے۔ بناء په دے ان الله دَ ما قبل علت دے۔

ربط ٢ه :۔ هر کله چه یهودیانو دَ ایمان دعوی کوله او دَ نجات دعوی ئے کوله او حال دا چه په هغوی کښ شرک موجود وو نو په دے آیت کښ دَ استیناف په طور سره ذکر کوی چه شرک ورسره کښ وی نو هغه ایمان فائده نه ورکوی۔

إِنَّ اللَّهَ لَا يَغْفِرُ أَن يُشْرَكَ بِهِ ، دلته سوال پیدا کیږی چه شرک ئے ذکر کړیدے او کفر ئے نه دے ذکر کړے؟ نو جواب کښ آلوسی وئیلی دی چه دَ شرک دوه معنے دی۔ اوله معنیٰ، دا عقیده ساتل چه دَ الله تعالیٰ سره په ربوبیت یا الوهیت کښ برخه والا شته دے۔ دویمه معنیٰ، دا چه شرک په معنیٰ دَ کفر دے۔ او دلته هم دا معنیٰ مراد ده او ابوحیان دَ زجاج نه نقل کړیدی چه هر کافر مشرک دے ځکه چه یو شخص دَ یو نبی نه انکار اوکړی نو دَ هغه ګمان دا وی چه دغه آیات چه دِ نبی راوړیدی دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه نهٔ دی۔ نو کوم خیز چه دَ الله تعالیٰ دَ پاره وو نو ده دَ هغے نسبت اوکړو غیر الله ته نو مشرک شو۔ او زه وایم چه هر کافر دَ خپل خواهش نه اله جوړ کړیدے یعنی خواهش ئے دَ الله تعالیٰ سره شریک کړیدے نو ځکه هر کافر مشرک دے۔ نو دَ دے جملے مقصد دا دے چه الله تعالیٰ هیڅ قسم شرک او کفر نه معاف کوی۔

تنبیه :۔ ابوحیان، امام رازی او آلوسی رحمهم الله وئیلی دی چه دا آیات دلالت کوی چه دَ شرع په تیز یهودیان مشرکان دی او دَ هغے دوه وجے دی۔ اوله وجه دا چه دا آیت دَ یهودیانو په رد کښ نازل شویدے نو په هغوی کښ شرک نه وے نو دا سے ئے ولے اوفرمائیل چه أَن يُشْرَكَ بِهِ۔ دویمه وجه دا ده چه په دویمه جمله کښ واضح ده چه دَ شرک نه علاوه الله تعالیٰ ټول ګناهونه بخی (چه اوغواړی) نو که یهودیت شرک

نه وے نو بخنه به یٔے کیدله او دا خو دَ اجماع نه خلاف ده - او آلوسی وئیلی دی چه شرعے تصریح کړیده چه اهل کتاب مشرکان دی - او دغه علماؤ مفسرینو وئیلی دی چه په کوم آیاتونو کښ یٔے عطف دَ مشرکینو په اهل کتابو باندے کړیدے او عطف خو مغائرت غواړی نو جواب یٔے کړیدے چه مغائرت په اعتبار دَ معنیٰ لغوی سره دے او اتحاد په معنیٰ شرعی سره دے -

سوال :- په سوره زمر ۵۳ کښ دی چه ان الله یغفر الذنوب جمیعًا نو هغه خو شرک ته هم شامل دے ؟

جواب ۱ :- هلته مغفرت په اعتبار دَ توبه کولو سره دے په دلیل دَ انیبو سره او دلته بغیر دَ توبے نه مراد دے ؟

جواب ۲ :- هلته صرف مؤمنانو ته خطاب دے او مؤمنانو خو شرک نه وی کړے نو هلته دَ الذنوب نه مراد سیوا دَ شرک او کفر نه نور ګناهونه دی -

وَيَغْفِرُ مَا دُوْنَ ذٰلِكَ لِمَنْ يَّشَآءُ، دُوْنَ، په معنیٰ دَ اَدُون (کوز او خکته) سره دے یعنی هغه ګناهونه چه دَ شرک او کفر نه خکته دی نو هغه باقی کبائر او صغائر دی - الله تعالیٰ دَ هغے بخنه کوی بغیر دَ توبے کولو نه کله چه او غواړی او په توبے سره هم مغفرت کوی - لیکن په هغے کښ بناء په غوره قول سره دا ده چه مشیت دَ الله تعالیٰ شرط دے یعنی چه الله تعالیٰ او غواړی نو په توبے سره یا بغیر دَ توبے نه ګناهونه معاف کوی -

فائده :- ابن عطیه ذکر کړیدی چه انسانان څلور قسمه دی - اول قسم کافر چه پخپل کفر باندے مړشی نو دے به همیشه په اور دَ جهنم کښ وی په اتفاق او اجماع سره او ډیر آیتونه په دے باندے دلیل دی - دویم قسم مؤمن محسن چه چرے یٔے ګناه نه وی کړے او په دَ غسے پاک حال باندے وفات شی نو دے به دَ ابتداء نه په جنت کښ وی - هغه

آیتونه دَ بشارت دَ جنت چه دَ کامل مؤمنانو په باره کښې دی دَ دے
دلیل دے۔ دریم قسم مؤمن ګنهګار او بیا دَ ګناهونو توبه اوکړی او
وفات شی نو داسے شخص دَ ټول اهل سنت په نیز دَ دویم قسم
سره ملحق دے۔ لیکن دَ متکلمینو په نیز دے هم موقوف
دے په مشیت دَ الله تعالی باندے۔ په دے باندے دَ توبے
آیتونه دلائل دی لکه سوره طه ۸۲، سوره فرقان ۷۱، ۷۰
څلورم قسم مؤمن ګنهګار دے چه توبه ئے نه وی کړے او
وفات شی نو دَ ده په باره کښې اختلاف دے۔ دَ اهل سنت
والجماعت په نیز دَ دے جملے (ویغفر ما دون ذالك لمن
یشاء) مصداق دا قسم دے۔ که دَ الله تعالی خوښه شی نو دَه
ته به بخنه اوکړی او که نه نو عقوبت به ورله ورکړی او بیا به ئے
جنت ته داخل کړی۔ مرجئه وائی چه دا شخص جنتی دے او
ګناهونه ورته هیڅ ضرر نه ورکوی او دَ وعید آیاتونه دَ دوی په
نیز په کافرانو پورے خاص دی او دَ وعد آیاتونه دَ ټولو مؤمنانو
دَ پاره دی۔ او معتزله وائی چه چا کبیره ګناه کړے وی او توبه
ئے نه وی ویستلے نو دے به همیشه په جهنم کښې وی۔ او خوارج
وائی چه داسے شخص کافر دے او همیشه به په جهنم کښې وی۔
خو په دے باب کښې دَ اهل سنت والجماعت دلائل حق او
درست دی او دَ نورو ډلو دلائل باطل دی۔ او دَ دے وجے
نه قرطبی وئیلی دی چه دَ دے آیت اوله جمله محکم ده او
دویمه جمله متشابه ده یعنی دَ دے اختلاف دَ وجے نه۔
وَمَنْ يُشْرِكْ بِاللّٰهِ فَقَدِ افْتَرٰۤى اِثْمًا عَظِيْمًا، دا دَ اولے جملے
دَ پاره علت دے او دَ شرك ډیر قباحت ذکر کوی۔ افتری،
دَ فری نه دے په لغت کښې قطع ته وئیلے شی او قطع اکثر دَ فساد
دَ څیز دَ پاره مستلزم وی نو فساد ته هم وئیلے شی او دا په قرآن
کښې په معنی دَ دروغو، شرک او ظلم سره استعمالیږی۔ او امام
راغب وئیلی دی چه افتراء ارتکاب دَ داسے قول او عمل
دے چه دَ هغے کول مناسب نه وی نو اطلاق ئے کیږی په

أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ يُزَكُّونَ
آیا نه گورې ته هغه کسانو ته چه ستاینې کوي
أَنفُسَهُم ۚ بَلِ اللَّهُ يُزَكِّي
د ځانونو خپلو، بلکه الله تعالیٰ پاکوي
مَن يَشَاءُ وَلَا يُظْلَمُونَ
چاله چه اوغواړي او ظلم به نشي کیږي په دوي
فَتِيلًا ﴿٤٩﴾
په قدر د تار د هډوکي د کجورې.

جوړولو د دروغو او ارتکاب د ګناه بیان دے. نو اشارهِ شوه چه شرک کول ګناه عظیم دے سره د افتراء نه او هر کله چه مشرک د خپل شرک د جواز نسبت الله تعالیٰ ته کوي او ثواب ئې ګڼړي د دے وج نه ئې دیته افتراء او وئیله.
سوال:- دا سے په دے سورت س۱۱۶ کښې هم راغلي دي لیکن هلته ئې ومن یشرک بالله فقد ضل ضلالًا بعیدًا. فرمائیلي دي نو د فرق وجه ئې څه ده؟
جواب:- دا آیت د یهودیانو په باره کښې دے او هغه د عوامو په باره کښې دے. او کتابیان د ګناه کولو د پاره د ځان نه دلیلونه جوړوي ځکه ئې دیته افتراء او وئیله او عوام خلق د ګناهونو د پاره دلیلونه نه جوړوي بلکه هسے ګناهونه کوي نو د هغوي د پاره ئې ضلال بعید ذکر کړو.

س۴۹:- أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ يُزَكُّونَ أَنفُسَهُمْ، په دے آیت کښې د دوي بل قباحت ذکر کوي یعني سره د شرک او کفر کولو نه د ځان صفتونه کوي چه مونږ جنتیان یو او مونږ د الله تعالیٰ ځامن او دوستان یو. تزکیه، پاکوالے دے د قبیح نه په قول او فعل سره په فعل سره تزکیے ته رغبت ورکړے

شویدے په ډیرو آیتونو کښ لکه (قَدْ اَفْلَحَ مَنْ تَزَكّٰى، قَدْ اَفْلَحَ مَنْ زَكّٰهَا، اَلَّذِىْ يُؤْتِىْ مَالَهٗ يَتَزَكّٰى، خُذْ مِنْ اَمْوَالِهِمْ صَدَقَةً تُطَهِّرُهُمْ وَ تُزَكِّيْهِمْ بِهَا)، او په قول سره د خپل ځان تزکیه منع ده لکه په سورة نجم ۳۲ کښ دی لَا تُزَكُّوْا اَنْفُسَكُمْ، بلکه د بل شخص تزکیه هم منع ده مګر په خاص الفاظو چه په حدیث کښ ذکر دی چه د چا صفتونه او صفائی کوی نو داسے وائی چه لَا اُزَكِّىْ عَلَى اللّٰهِ اَحَدًا یا اَنَا اَحْسِبُهٗ وَ اللّٰهُ حَسِيْبُهٗ۔ او وجه دا ده چه تزکیه د بل چا په اصل کښ اخبار دے د باطن د هغه نه او په باطن خو عالم الله تعالیٰ دے۔

بَلِ اللّٰهُ يُزَكِّىْ مَنْ يَّشَآءُ، بل، د پاره د اضراب دلالت کوی چه اعتبار د تزکیے د الله تعالیٰ دے۔ او د الله تعالیٰ تزکیه هغه پاکول او بچ ساتل دی د ګناهونو نه او توفیق ورکول دی د طاعاتو۔ او د يَشَآءُ مفعول پټ دے یعنی تزکیته او هغه خوک دی چه لائق د تزکیے دی په نیز د الله تعالیٰ او هغے ته اشاره ده په سوره نجم ۳۲ (هُوَ اَعْلَمُ بِمَنِ اتَّقٰى) کښ۔

وَلَا يُظْلَمُوْنَ فَتِيْلًا، د ضمیر په مرجع کښ دوه اقوال دی۔ اول دا چه الذين يزكون ته راجع دے نو دا تخویف دے یعنی دوی له چه په دغه تزکیه سره کوم عذاب ورکیدیشی په هغے کښ به هیڅ کمے نه کیږی۔ دویم دا راجع دے یزکی من یشاء ته او بشارت دے یعنی کوم کسانو چه الله تعالیٰ په دنیا کښ مدحه او تزکیه کړیده د هغوی په ثواب کښ هیڅ کمے نه کیږی۔ فَتِيْلًا، دا په اصل کښ د فتل نه اخستلے شویدے د پړی او د مزی غځتلو ته وئیلے شی او د عربو په عرف کښ (په یو قول د ابن عباس رضی الله عنهما او د عطاء او مجاهد په نیز) هغه تار ته وئیلے شی چه د کجورے د هډوکی په چود کښ وی۔ او په بل قول د ابن عباس رضی الله عنهما او د ابو مالک او سدی په نیز هغه خیرے دے چه په ګوتو مخلو سره د ورغوو په مینځ کښ پیدا کیږی۔ او د حسن

بصری په نیز صرف چود دَ هډوکی ته وئیلے شی- او په ټولو اقوالو سره دا کنایه ده دَ ډیر لږ څیز ته-

فائده ۱:- صاحب اللباب وئیلی دی چه دَ کم مقدار دپاره عرب څلور الفاظ استعمالوی او لفظ دَ فتیل دویم نقیر (دَ کجورے دَ هډوکی په شا طرف کښ وړوکے غوندے ډونګے ځاے) دریم لفظ قطمیر (هغه نرے پوستکے چه دَ کجورے دَ هډوکی چاپیره وی) دا دریواړه الفاظ په قرآن کریم کښ ذکر دی او څلورم لفظ دَ ثفروق دے (هغه څیز چه دَ کجورے په سر پورے وړوکے غوندے وی)-

فائده ۲:- لفظ فتیل په قرآن کریم کښ په دے آیت کښ او په دے سورت (وَلَا تُظْلَمُوْنَ فَتِيْلًا ۷۷) کښ او سورة اسراء (يَوْمَ نَدْعُوْا كُلَّ اُنَاسٍۭ بِاِمَامِهِمْ فَمَنْ اُوْتِيَ كِتَابَهٗ بِيَمِيْنِهٖ فَاُولٰٓئِكَ يَقْرَءُوْنَ كِتَابَهُمْ وَلَا يُظْلَمُوْنَ فَتِيْلًا ۷۱) کښ ذکر دے- روستو دواړه آیاتونه په مقام دَ ثواب او بشارت کښ دی نو معلومه شوه چه په دے آیت کښ هم توجیه دَ بشارت راجح ده- او تار دَ هډوکی دَ کجورے دَ دواړو (هډوکی او کجورے) په مینځ کښ مضبوط ربط دے نو دا دَ بشارت سره ښه مناسب دے- او نقیر لفظ په قرآن کریم کښ په دے سورت (اَمْ لَهُمْ نَصِيْبٌ مِّنَ الْمُلْكِ فَاِذًا لَّا يُؤْتُوْنَ النَّاسَ نَقِيْرًا ۵۳) کښ دَ بخل په مثال کښ راغلے دی ځکه چه په مال خرچ کولو کښ انسان دَ خپل مال نه دَ څه حصے کنستل کوی نو هغے سره نقیر مناسب دے او دا رنګ په دے سورت (وَمَنْ يَّعْمَلْ مِنَ الصّٰلِحٰتِ مِنْ ذَكَرٍ اَوْ اُنْثٰى وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَاُولٰٓئِكَ يَدْخُلُوْنَ الْجَنَّةَ وَلَا يُظْلَمُوْنَ نَقِيْرًا ۱۲۴) کښ هم دَ جنتیانو په باره کښ ذکر دے نو اشاره ده چه په جنت کښ دَ جنتیانو دَ نعمتونو نه هیڅ حصه نه کنستلے کیږی. نو هغے سره هم نقیر مناسب دے او لفظ دَ قطمیر په سوره فاطر (وَالَّذِيْنَ تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِهٖ مَا يَمْلِكُوْنَ مِنْ قِطْمِيْرٍ ۱۳)

انْظُرْ كَيْفَ يَفْتَرُوْنَ عَلَى اللّٰهِ

اوګوره څنګه جوړوي دوی په الله تعالی باندې

الْكَذِبَ ؕ وَكَفٰى بِهٖۤ اِثْمًا مُّبِيْنًا ﴿۵۰﴾

دروغ ، او بوره دی دا دروغ ګناه ښکاره -

کښې په نفی ۮ ملك ۮ معبود من دون الله کښې ذکر دے - یعنی لکه چه په قطمیر کښې ۮ کجورے هډوکے ا نغختلے شویں ے نو دا رنګ دے مشرکانو خپل معبودان بتان او قبرونه وغیره په غلافونو کښې انغختلے دی لیکن هغه معبودان ۮ دے غلافونو ملکیت او اختیار نه لری نو دا رنګ هیڅوک طاقت نه لری چه دغه پوستکے روغ او سالم ۮ دغه هډوکی نه راجدا کړی او دغه طاقت ۮ دوی دا معبودان هم نه لری نو دا اشاره ده یو تمثیل ته په باره ۮ شرک فی التصرف کښې - روالله اعلم بحکم کتابه).

نت۵۰ :- په دے آیت کښې ۮ یهودیانو بل قباحت ذکر کوی یعنی هرکله چه دوی ۮ خپل ځانونو تزکیه کوی نو دغه دعوی کښې دوی په الله تعالی باندے دروغ جوړوی نو په دے آیت کښې ۮ هغوی دعوے ۮ تزکیے تکذیب دے۔

اُنْظُرْ كَيْفَ ، دا خطاب دے نبی صلی الله علیه وسلم او هر اهل ۮ خطاب ته ۮ پاره ۮ تعجب ورکولو ۮ دوی ۮ دروغونه۔
يَفْتَرُوْنَ عَلَى اللّٰهِ الْكَذِبَ ، مخکښې معنیٰ ۮ افتراء ذکر شویده یعنی دوی چه په تزکیه کښې وائی چه مونږ ۮ الله ځامن او محبوب یو نو دا دروغ دی ځکه چه ۮ حقیقت نه خلاف دی او الله تعالیٰ ته نسبت کول هم افتراء ده نو دا په اصل کښې دوه ګناهونه دی۔ الْكَذِبَ ، جاحظ وئیلی دی چه کذب خبر ورکول دی په خلاف ۮ حقیقت خوچه قائل عالم او پوهه وی په دے مخالفت باندے - لیکن په دے آیت کښې په جاحظ باندے رد دے ځکه چه یهودیانو په خپل علم کښې ۮ ځان ۮ پاره دا تزکیه حقه ګڼړله نو معلومه شوه چه که قائل په دے مخالفت ۮ حقیقت

أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ أُوتُوا نَصِيبًا

آیا نه ګورې هغه کسانو ته چه ورکړې شوې ده هغوی ته یوه برخه

مِّنَ الْكِتٰبِ يُؤْمِنُونَ بِالْجِبْتِ

دَ کتاب نه دوی یقین کوی په منترو

وَالطَّاغُوتِ وَيَقُولُونَ لِلَّذِينَ

او په هر معبود سیوا دَ الله تعالیٰ نه او وائی په باره

كَفَرُوا هٰؤُلَاءِ أَهْدٰى مِنَ

دَ کافرانو کښې چه دوی ښه رسیدونکی دی دَ

الَّذِينَ اٰمَنُوا سَبِيلًا ﴿٥١﴾

مؤمنانو په نسبت حق لارې ته۔

باندې عالم وی او که نه وی خو هغې ته کذب وئیلې شی۔ وَكَفٰى بِهٖ إِثْمًا مُّبِينًا ، بِهٖ ، ضمیر کذب ته راجع دے یعنی دروغ خوځان له هم ګناه ده نو چه افتراء ورسره یوځائے کوی نو دا دَ ګناه دَ پاسه بله ګناه ده۔ یا ضمیر به افتراء ته راجع دے۔ إِثْمًا مُّبِينًا ، کذب او افتراء په بل چا باندې دَ ټولو عقل والو په نیز باندې ډیر بد کار دے۔

س۵۱ :- په دے آیت کښې دَ هغوی بل قسم قبائح ذکر کوی۔ أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ أُوتُوا نَصِيبًا مِّنَ الْكِتَابِ ، دا هغه خلق دی چه په آیت ۴۴ کښې ذکر شوی دی یا دَ هغوی نه علاوه نور کسان دی۔ مفسرینو لیکلی دی چه دَ مدینې دَ اهل کتابو نه څه کسان مکې مکرمې ته راغلل نو دَ مکې دَ مشرکانو سره ئې معاهده او کړه په مخالفت کولو دَ نبی صلی الله علیه وسلم باندې۔ بیا مشرکان مکه دَ هغه اهل کتابو نه تپوس او کړو چه مونږ دَ حاجیانو دَ پاره اوبان حلالوو او په هغوی باندې پئ څښکوو او دَ بیت الله تعمیر کوو او طوافونه کوو او دَ خپلو

مشرانو په دین بانن ے یو او محمد صلی الله علیه وسلم د مشرانو دین پریښودلے دے او مونږ سره ئې خپلولی پریکړیده او د زوړ دین نه جدا شوید ے او نوے دین ئې راوړید ے نو په مونږ دواړو کښې کوم یو په صحیح هدایت بانن ے نو دغه کتابیانو فتوی (حکم) ورکړه چه تاسو پوره هدایت والا یئ. او بل روایت کښې دی چه د مشرکانو بتانو ته ئې سجده هم اوکړه نو دا آیت د دے په باره کښې نازل شوید ے.

يُؤْمِنُونَ بِالْجِبْتِ وَالطَّاغُوتِ، اهل لغت وئیلے دی چه جبت په اصل کښې جبس وو نو سین ئې په تا بدل کړید ے او جبس هم رذیل او بے خیره څیز ته وئیلے شي - او د طَاغُوتِ، لغوی معنی په سوره بقره کښې تیره شویده او د دے په مصداقاتو کښې ډیر اقوال دی.

ع۱ :- د عکرمه قول دا دے چه دا د مشرکان مکه دوه بتان وو.

ع۲ :- ابن عباس رضی الله عنهما قول دے چه حی بن اخطب او طاغوت کعب بن اشرف وو او دا دواړه د یهودیانو غټ ملایان وو.

ع۳ :- د مجاهد او شعبی قول دا دے چه جبت ساحر او منتر کے او طاغوت شیطان دے.

ع۴ :- د عمر رضی الله عنه قول دا دے چه جبت ساحر دے او طاغوت شیطان دے.

ع۵ :- د سعید بن جبیر قول دے چه جبت ساحر دے او طاغوت کاهن دے. (او د دے په عکس بانن ے هم قول شته).

ع۶ :- او د قتاده قول دے چه جبت شیطان او طاغوت کاهن دے.

ع۷ :- امام مالک رحمه الله قول دے چه جبت بتان دی او طاغوت هر معبود من دون الله دے او دا قول قرطبی غوره کړے دے.

ع۸ :- د آلوسی یو قول دا دے چه جبت بتان دی او طاغوت

أُولَٰئِكَ الَّذِينَ لَعَنَهُمُ اللَّهُ ۖ

دغه کسان دی چه لعنت کړی دے پرې وی باندې الله تعالیٰ

وَمَن يَلْعَنِ اللَّهُ فَلَن تَجِدَ لَهُ

او هغه څوک چه لعنت اوکړی الله تعالیٰ په هغه نو چرې او به نه مومې هغه له

نَصِيرًا ﴿٥٢﴾

مددګار۔

دَ هغې منجوران دی چه دَ هغوی نه به دے خلقو تعبیر کوو په دروغو سره دَ دے دَپاره چه خلق ګمراه کړی۔

عو :۔ قرطبی او ابوحیان وئیلی دی چه په حدیث دَ ابوداؤد کښ راغلی دی چه طرق، طیره او عیافت جبت دے۔ طرق شړل دَ مارغانو سره فال معلومول او عیافت دَ خط په ذریعه غیب معلومول دی یعنی څوک چه دَ علم غیب دعوی کوی نو هغه جبت دی۔

عنا بعضے مفسرینو وئیلی دی چه جبت بتان دی او طاغوت شیطانان دی چه کله په ئے دَ بتانو نه دَ دوی سره خبرے کولے نو دوی به خیال کوو چه دے فلانی بُت مونږ سره خبرے اوکړے۔ په دے ټولو اقوالو کښ یو بل ته نزدیکت دے چه دوی (جبت او طاغوت) باندے عقیده ساتل او سجدے ورته کول دا ټول شرک او کفر دے نو دا ښکاره دلیل دے چه یهودیانو دغه وخت دَ امیانو مشرکانو پشان شرک کولو۔

وَيَقُولُونَ لِلَّذِينَ كَفَرُوا هَٰؤُلَاءِ أَهْدَىٰ مِنَ الَّذِينَ آمَنُوا سَبِيلًا،
لِلَّذِينَ، کښ "لام" دَ خطاب دَپاره نه دے بلکه دیته "لام" تبلیغ وئیلے شی یا په معنیٰ دَ فی شانهم دے۔ هٰؤُلَاءِ، اشاره ده مشرکان مکه ته أَهْدَىٰ، کښ معنیٰ دَ غوره والی نه ده مراد ځکه چه دوی دَ مؤمنانو دَپاره هیڅ قسم هدایت نه منی۔ او دا قول دَ دوی په ډیر حسد او عناد باندے بنا دے۔

عـ٥٢ :۔ دا تخویف دے او نتیجه ده دَ دغه قبیح صفتونو ځکه

أَمۡ لَهُمۡ نَصِيبٌ مِّنَ ٱلۡمُلۡكِ فَإِذٗا

آیا شته دوی لره برخه دَ بادشاهئ نه نو دغه وخت (که وی دَ دوی برخه)

لَّا يُؤۡتُونَ ٱلنَّاسَ نَقِيرًا ﴿٥٣﴾

وربه نکړی خلقوته په قدر دَ داغ دَ هډوکی دَ کجورے.

چه اولئك په دغه صفتونو بانـدے دلالت کوی او په دوی باندے عام لعنت په سورهٔ احزاب ۶۱ کښ ذکر دے.

أُولَٰئِكَ الَّذِينَ لَعَنَهُمُ اللَّهُ وَمَن يَلْعَنِ اللَّهُ فَلَن تَجِدَ لَهُ نَصِيرًا، په دے جمله کښ ډیر تاکیدات دی من دَ عموم دپاره دے او کلمه دَ لَنۡ، تَجِدَ و نَصِيرًا نکره ذکر کول دا ټول تاکیدات دی او په دیکښ اشاره ده چه دوی مشرکان مکه لره په دغه قول سره رضا کوی لیکن هغوی دَ دوی سره هیڅ امداد نشی کولے.

۵۳ :- په دیکښ بل قبیح صفت ذکر کوی - بَلۡ، دیته بل منقطعه وائی په دے کښ انتقال دے دَ یو کلام نه بل کلام ته او استفهام انکاری دے. دا دَ عامو نحویانو قول دے او ابن قتیبه وئیلی دی چه ام پخپله دَ ابتداء دَ استفهام دپاره راځی - او په دے جمله کښ رد دے په قول دَ یهودیانو باندے چه دوی به خپلو مقتدیانو ته تسلی ورکوله چه نیزدے ده چه بادشاهی به زمونږ لاس ته راشی، نو مراد دَ ملك نه دنیوی بادشاهی ده - یا دوی په دعوی کوله چه دَ الله تعالی دَ خزانو اختیارات مونږ له راکړے شویدی لکه په سوره اسراء ۱۰۰ کښ دی یا دَ ملك نه مراد نبوت دے - نو معلومه شوه چه دَ دوی دَ پاره هیڅ قسم ملك نشته.

أَمۡ لَهُمۡ نَصِيبٌ مِّنَ ٱلۡمُلۡكِ فَإِذٗا لَّا يُؤۡتُونَ ٱلنَّاسَ نَقِيرًا، په دیکښ دَ دوی دَ بخل صفت ذکر دے او النَّاسَ نه مراد عام خلق دی یا ترینه مراد صحابه کرام او تابعداران دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم دی - اوس هم هغه خلق

أَمْ يَحْسُدُونَ النَّاسَ عَلٰى مَا

آیا حسد کوی دوی خلقو (ایمان والو) سره په هغه څه کښې چه

اٰتٰهُمُ اللّٰهُ مِنْ فَضْلِهٖ ۚ فَقَدْ

ورکړے وی الله تعالیٰ دَ فضل خپل نه، پس یقیناً

اٰتَيْنَآ اٰلَ اِبْرٰهِيْمَ الْكِتٰبَ

ورکړی دی مونږ اولاد دَ ابراهیم علیه السلام ته کتابونه

وَالْحِكْمَةَ وَاٰتَيْنٰهُمْ مُّلْكًا

او پیغمبری او ورکړے دے مونږ هغوئ ته بادشاهی

عَظِيْمًا ﴿۵۴﴾

لویه۔

چه دَ یهودیت په طریقه بانده چلیږی په هغوی کښ دا صفت دَ بخل شته دے۔

فائده:۔ صاحب اللباب وئیلی دی چه الله تعالیٰ دَ دوی بخل دَ دوی دَ ملك دَ حصول نه مانع ګرځولے دے نو دا دلیل دے چه بخل او ملك دواړه نه جمع کیږی ځکه چه انقیاد دَ بل شخص په سبب دَ احسان دَ هغه سره حاصلیږی لکه چه وئیلے شوی دے بِالْبِرِّ يُسْتَعْبَدُ الْحُرُّ (په احسان سره آزاد سړے مریے ګرځی) نو هر کله چه دَ چا سره مالی احسان نه کیږی نو هغه انقیاد نه کوی۔ بیا ملك درے قسمه دے یو ملك ظاهری دا دَ بادشاهانو دَ پاره دے بل ملك باطنی دا دَ علماؤ دَ پاره دے او بل ملك ظاهری او باطنی دواړه دا دَ انبیاء علیهم السلام دَ پاره دے دَ دے وجے نه په انبیاء علیهم السلام کښ صفات دَ سخاوت او شفقت په طریقه دَ کمال سره موجود وو او په خاتم النبیین صلی الله علیه وسلم کښ خو دا صفات اکمله طریقے سره موجود وو۔

۵۴ :- په دیکښې بل صفت قبیحه ذکر کوی - ام لفظ سره انتقال دے د دیو صفت قبیحه نه چه بخل دے بل ډیر قبیح صفت ته چه حسد دے - هغه ځکه ډیر بد دے چه په هغے کښې تمنا د زوال د نعمت د الله تعالی ده د بل چانه او کړ دے تفصیل په سوره بقره کښې تیر شوید ے او په سوره فلق کښې هم ان شاء الله ذکر کیږی -

اَمۡ یَحۡسُدُوۡنَ النَّاسَ عَلٰی مَاۤ اٰتٰهُمُ اللّٰهُ مِنۡ فَضۡلِهٖ ، دلته قرطبی د حسد بعضے قباحات ذکر کړیدی د هغے نه بعضے دا دی چه حسد مذموم دے او صاحب ئے مغموم دے - حسد نیک اعمال داسے خوری لکه چه اور وچ خاشاک خوری (الحدیث) -

حسن بصری وئیلی دی چه ما نه دے لیدلے ظالم چه زیات مشابه دے د مظلوم سره په نسبت د حاسد - همیشه اسویلی کول د حاسد کار دے - غم لازمیدل ، همیشه او ښکے بهیدل د حسد نتیجه ده - بیا ئے وئیلی دی چه حسد اول ګناه دے چه په آسمان کښې شوید ے یعنی ابلیس د آدم علیه السلام سره او اول ګناه ده چه په زمکه کښې شویده یعنی قابیل د هابیل سره حسد کړے وو - النَّاسَ نه مراد نبی صلی الله علیه وسلم دے او د فضل نه مراد ختم نبوت دے د هغه او ډیر کمالات او فضائل بشریه چه هغه په قرآن او سنت کښې ذکر دی او په هغے کښې تحلیل د ډیرو بیبیانو هم داخل دے - یا د النّاس نه مراد د نبی کریم صلی الله علیه وسلم سره صحابه کرام او بیا د هغه نه بعد اران دی چه هغوی له الله تعالی ډیر فضیلتونه او خطاب ورکړیدے په امةً وسطًا او خیر امةٍ سره - یا د النّاس نه مراد عرب دی چه الله تعالی په هغوی کښې آخری نبی صلی الله علیه وسلم را اولیږلو او نبوت ئے د بنی اسرائیلو نه بنی اسماعیلو ته نقل کړو -

فَقَدۡ اٰتَیۡنَاۤ اٰلَ اِبۡرٰهِیۡمَ الۡکِتٰبَ وَالۡحِکۡمَةَ ، فاء ، فصیحه تعلیله ده په شرط پټ باندے دلالت کوی یعنی که چرے

فَمِنْهُمْ مَّنْ اٰمَنَ بِهٖ وَمِنْهُمْ

نو بعضے دَدوینه هغه څوک دی چه ایمان ئے راوړے دے او بعضے

مَّنْ صَدَّ عَنْهُ ؕ وَكَفٰى بِجَهَنَّمَ

هغه دی چه ځ ئے ګرځولے دے دَده نه، او پوره دے جهنم

سَعِيْرًا ﴿۵۵﴾

اور بل کړے شوے۔

دوی حسد کوی نو دیر په خطائی کښ دی۔ آل ابراهیم کښ موسیٰ، داؤد، عیسیٰ او نور انبیاء علیهم السلام دَ بنی اسرائیلو تهول داخل دی چه هغوی له الله تعالیٰ تورات، زبور او انجیل کتابونه او نورے صحیفے ورکړیدی۔ او حکمه نه مراد نبوت دے یا علم دے دَ اسرارو دَ کتاب دَ الله تعالیٰ چه هغے ته احادیث وئیلے شی۔

وَاٰتَيْنٰهُمْ مُّلْكًا عَظِيْمًا، اشاره ده ملک دَ یوسف علیه السلام او دَ داؤد او سلیمان علیهما السلام ته او دا رنګ الله تعالیٰ دوی له دیرے بیبیانے هم حلالے کړے وے۔ حاصل دا دے چه تاسو دَ آخری نبی او دَ هغه دَ صحابه کرامو سره ولے حسد کوئ دَ دے قسم فضیلتونه خو ستاسو مشرانو ته هم ورکړے شویدی۔ یا دا چه دا نعمتونه ستاسو په نیز دَ حسد کولو اسباب دی نو بیا خو دَ خپلو مشرانو (پیغمبرانو) سره هم حسد اوکړئ۔

۵۵:- په دیکښ دَ دوی دَ مشرانو دَ احوالو ذکر دے په طریقه دَ الزام سره په کشرانو باندے یعنی که په دغه نعمتونو باندے حسد کول ښه کار وے نو ستاسو بعضے مشرانو په هغه مخکنو انبیاؤ باندے ولے ایمان راوړیدے۔

فَمِنْهُمْ مَّنْ اٰمَنَ بِهٖ، بِهٖ، ضمیر هغے ته راجع دے چه ورکړے شو آل ابراهیم ته دا رنګ په دے آیت کښ آخری نبی صلی الله

إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا بِآيَاتِنَا

يقيناً هغه كسان چه كفر يې كړے دے په آياتونو زمونږ

سَوْفَ نُصْلِيهِمْ نَارًا ۖ كُلَّمَا

زر دے چه داخل به كړو هغوى اور ته، هر وخت

عليه وسلّم ته تسلى وركول مقصد دے چه د آل ابراهيم د نعمتونو په باره كښ خلق دوه ډلے شويدى ليكن د هغوى (آل ابراهيم) شان ته نقصان نه دے رسيدلے نو دا رنګ اے نبى صلى الله عليه وسلم ستا په باره كښ دا خلق دوه ډلے شويدى خو تا ته هيڅ نقصان نشى دركولے بلكه څوک چه مخالفت كوى نو د هغوى د پاره په جهنم سره تخويف ذكر كوى.

وَمِنْهُم مَّنْ صَدَّ عَنْهُ، صَدَّ لازمى راځى يعنى مخ كرځول او متعدى هم راځى لكه منع كول نورو خلقو لره د ايمان نه. دلته د مخكښ امن په مقابله كښ اوله معنىٰ غوره ده.

وَكَفَىٰ بِجَهَنَّمَ سَعِيرًا، سَعِير، په اصل كښ لمبے كولو، سوځولو او اور بلولو ته وئيلے شى. دلته په معنىٰ د مفعول سره دے يعنى جهنم مسعر يا په معنىٰ مصدرى سره دے په حذف د مضاف سره يعنى كفى بسعير جهنم. او سعير تميز دے او لفظ د كفى كښ اشاره ده كه چرے د دے خلقو ته د دنيا بعضے عذاب وارولے شى نو اور د جهنم ورله كافى عذاب دے.

فائده:- ماده د سعر (س، ع، ر) په قرآن كريم كښ نورلس كرته په درے طريقو سره ذكر دے اول طريقه فعل سعرت (تكوير ۱۲). دويمه طريقه لفظ السعير معرفه او سعير نكره او په ديكښ دا نوم د جهنم او صفت د اور ذكر دے. دريمه طريقه لفظ سُعُر چه جمع ده يا مصدر دے (قمر ۲۴، ۴۷).

نَضِجَتْ جُلُوْدُهُمْ بَدَّلْنٰهُمْ

سځکوړے شي ځرمنې د دوی بدلے به کړو دوی له

جُلُوْدًا غَيْرَهَا لِيَذُوْقُوا

ځرمنې نورے د پاره د دے چه اوڅکی دوی

الْعَذَابَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَزِيْزًا

عذاب، یقیناً الله تعالیٰ زورور دے

حَكِيْمًا ﴿۵۶﴾

حکمتونو والا دے۔

۵۶:۔ دا تخویف اخروی دے روستو د زجر او د قبائحو ذکر کولو د یهودیانو نه۔

اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِاٰيٰتِنَا، صاحب اللباب وئیلی دی چه لفظ آیات کښ هرهغه څیز داخل دے چه هغه دلالت کوی په ذات، صفاتو، افعالو او اسماؤ د الله تعالیٰ او ملائک او کتابونه نازل کړے شوی او رسولان۔ او کفر عام دے که په طریقه د انکار سره وی یا په نظر او فکر نه کولو سره وی یا په شکونو او شبهاتو اچولو سره وی او انکار که په طریقه د حسد او عناد سره وی۔

سَوْفَ، سیبویه وئیلی دی چه سَوْفَ د تهدید او تخویف د پاره ذکر کیږی او حرف سین کله کله د هغے نه نائب وی لکه سا صلیه سقر۔ یعنی په دیکښ د نیز دیوالی او لرے والی فرق ملحوظ نه وی۔ او دا رنګ دا دواړه کلمات په وعد او ثواب کښ هم استعمالیږی لکه (وَلَسَوْفَ يُعْطِيْكَ رَبُّكَ فَتَرْضٰى ۵)، (سَاَسْتَغْفِرُ لَكَ رَبِّيْ اِنَّهٗ كَانَ بِيْ حَفِيًّا سوره مریم ۴۷)، (قَالَ سَوْفَ اَسْتَغْفِرُ لَكُمْ رَبِّيْ اِنَّهٗ هُوَ الْغَفُوْرُ الرَّحِيْمُ یوسف ۹۸) هاں په دیکښ معنیٰ د نیز دیوالی او لرے والی اراده کیدیشی

په هر ځائے کښې په مناسب وجے سره (نُصۡلِيۡهِمۡ)، صلی او اصلا کښې دَ دخول سره سره معنیٰ دَ سوځولو او وریتولو هم ماخوذ وی۔ نَارًا كُلَّمَا نَضِجَتۡ جُلُوۡدُهُمۡ بَدَّلۡنٰهُمۡ جُلُوۡدًا غَيۡرَهَا، آلوسی وئیلی دی چه معنیٰ دا ده چه دَ هرے سوځیدلے څرمنے په ځائے به بله څرمن ورکړو لیکن دا به په صورت کښې دَ هغے نه بدله وی خو اصل ماده به یئے یوه وی ځکه چه لفظ دَ تبدیل او تغیر یو ځیز کښې ذکر شی نو په هغے کښې دلالت وی په تبدیل صفتی باندے او ماده من وجه باقی پاتے وی۔ او دا تحقیق په تفسیر دَ (فَبَدَّلَ الَّذِيۡنَ ظَلَمُوۡا مِنۡهُمۡ قَوۡلًا آه اعراف ۱۶۲)، کښې ذکر شوید ے۔

سوال:۔ الله تعالیٰ خو قادر دے په همیشه عذاب ورکولو باندے بغیر دَ بدلولو دَ څرمنو نه نو په دیکښې څه حکمت دے؟

جواب ۱:۔ په دیکښې اشاره ده یو قسم دَ قدرت دَ الله تعالیٰ ته۔

جواب ۲:۔ څرمن چه اوسوځی او بله دَ هغے په ځائے راښکاره شی نو هغه نرۍ او تنکۍ وی دَ هغے سوزش زر او ډیر محسوسیږی۔

سوال:۔ دغه نوے څرمن خو ګناه نه ده کړے نو دا ولے سوځی؟

جواب ۱:۔ مخکښې ذکر شوه چه اصل څرمن خو باقی پاتے ده لیکن صرف صفت او صورت یئے بدل شوید ے۔

جواب ۲:۔ مستحق دَ عذاب هغه بدن دَ انسان دے چه په څرمن کښې دننه پروت دے او څرمن صرف دَ عذاب دَ رسیدلو سبب دے دَ دے وجے نه یئے لِيَذُوقُوا الۡعَذَابَ جمله وئیلے ده او مراد ترینه اهل دَ جلود دی که جلود مراد وی نو لتذوق وئیل پکار وو۔ او دا قول فراء بغوی او امام رازی او نورو مفسرینو هم ذکر کړے دے۔

لِيَذُوۡقُوا الۡعَذَابَ، او دَ ذوق نه مراد صرف څکل په اول ځل نه دی بلکه دوام دَ ذوق مراد دے او په لفظ ذوق کښې اشاره ده چه په دے عذاب کښې سره دَ سختوالی نه تریخوالے هم شته او هغه دَ مذوقاتو نه دے۔

وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ

اوهغه کسان چه ايمان ئې راوړے او عمل ئې کړے په طريقه د نبي صلى الله عليه وسلم

سَنُدْخِلُهُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ

زر دے داخل به کړو مونږ جنتونو ته چه بهيږي به

مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ

لاندے د هغے نه وَلے هميشه به وي

فِيْهَآ اَبَدًا ۭ لَهُمْ فِيْهَآ اَزْوَاجٌ

په هغے کښ هميشه ، دوي د پاره په هغے کښ بيبيانے دي

مُّطَهَّرَةٌ ۡ وَّنُدْخِلُهُمْ ظِلًّا

پاکے او داخل به کړو دوي سورى

ظَلِيْلًا ﴿۵۷﴾

هميشه ته ـ

اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَزِيْزًا حَكِيْمًا ، دا د ماقبل د پاره علت دے يعني په داسے طريقے سره په عذاب ورکولو باندے قادر او غالب دے ـ او لفظ د حَكِيْمًا د دفعے د يو تعجب د پاره دے يعني که څوک د الله تعالى د صفت کريم او رحيم نه تعجب اوکړي چه کمزوري بنده لره ولے داسے عذاب ورکوي نو جواب اوشو چه سره د رحم او کرم نه حکيم هم دے نو هغه کارکوي چه په هغے کښ حکمت وي او اعتراض ورباندے نشي کيدے ـ

۵۷ ـ په دېکښ ايمان والو ته بشارت اخرويه دے او هر کله چه مقصود بشارت کامله دے نو د هغے د پاره د ايمان سره د عمل صالح ذکر کړے شويدے ـ (د دے نوره تشريح په سوره بقره کښ تيره شويده) ـ

سَنُدۡ خِلُهُمۡ، حرف سین یٔے دَ تاکید دَ نزدیکت دَ جنت دَ پارہ ذکر کرے دے۔
خٰلِدِیۡنَ فِیۡهَآ اَبَدًا، لفظ دَ تابید ابدًا یٔے دَ تاکید دَ خلود دَ پارہ دَ دے وجہ نه ذکر کړیدے چه څوک دَ خلود نه مکث طویل (ډیرہ زمانه) مراد نه کړی او صاحب اللباب وئیلی دی چه دا رد دے په جهمیه باندے چه هغوی وائی چه جنت او دَ هغے نعمتونه همیشه نه دی۔
وَّنُدۡخِلُهُمۡ ظِلًّا ظَلِیۡلًا، دا تاکید دے په ذکر دَ همیشه آرام او سکون سرہ په جنت کښ۔ ظَلِیۡلَ په تاکید دَ ظل کښ مبالغه ده په صفت کښ یٔے په معنیٰ دَ فاعل یا مفعول سرہ نه دے۔ مفسرینو وئیلی دی چه ظلیل هغه سوری ته وئیلے شی چه دَ نمر رنړا هغے لره نشی ختموِلے او په هغے کښ یخنی او ګرمی څه تکلیف نه ورکوی او داسے سورے دَ جنت دَ خصوصیاتو نه دے۔ دا رنګ ظلیل دلالت کوی په دوام دَ سوری باندے لکه چه په سورہ رعد ۳۵ کښ دی۔
سوال:- په دنیا کښ چه کوم ځاے دائمی سورے وی نو دَ هغے ځاے هوا فاسده وی۔ دا رنګ چه په جنت کښ نمر نشته نو سورے هم نشته نو دَ سوری څه فائده ده؟
جواب ۱:- امام رازی وئیلی دی چه هر کله اکثر بلاد دَ حجاز عرب ګرم دی او سورے دَ هغوی په نیز لوے سبب دَ راحت دے دَ دے وجہ نه سورے کنایه ده دَ همیش راحت نه۔
جواب ۲:- دَ جنت نعمتونه په دنیا باندے نشی قیاس کیدے نو الله تعالیٰ قادر دے چه په جنت کښ بغیر دَ نمر نه سورے پیدا کړی او په هغے کښ نا اشنا نعمتونه او راحتونه کیږدی۔
(الله تعالیٰ دِ مونږ دَ دے بشارت اهل او ګرځوی اللهم آمین)

إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُكُمْ أَن تُؤَدُّوا

يقينًا الله تعالىٰ حكم كوي تاسو ته چه ادا كوئ

الْأَمَانَاتِ إِلَىٰ أَهْلِهَا وَإِذَا حَكَمْتُم

حقونه حقدارو دَ هغې ته او كله چه فيصله كوئ

بَيْنَ النَّاسِ أَن تَحْكُمُوا بِالْعَدْلِ ۚ

په مينځ دَ خلقو كښې نو فيصله كوئ په انصاف سره،

إِنَّ اللَّهَ نِعِمَّا يَعِظُكُم بِهِ ۗ

يقينًا الله تعالىٰ ډير ښه وعظ دركوي تاسو ته دَ دې،

إِنَّ اللَّهَ كَانَ سَمِيعًا بَصِيرًا ﴿٥٨﴾

يقينًا الله تعالىٰ اوريدونكے ليدونكے دے۔

س۵۸: خلاصه :- دَ دے آيت نه دَ سورت دويمه حصه شروع
كيږي چه هغه تر آيت س۱۳۵ پورے ده۔ په دے حصه كښې هغه
امور سياسيه ذكر كوي چه هغه دَ تحكيم دَ عدل او دَ نظام دَ فوج
سره تعلق لري او دغه امور نهه دي۔ په دے حصه كښې درے
بابونه دي اول باب تر س۸۶ پورے دے۔ او په دے باب كښې
اول امر سياسي ذكر كوي چه هغه امانتونه او ذمه داري سپارل دي
هغې كسانو ته چه دَ هغې اهل وي او حكم كول دي په عدل باندے
يعني كتاب الله او سنت رسول الله صلى الله عليه وسلم۔ دا
په س۵۸ كښې او ورپسے واجب كول دَ اطاعت دَ الله تعالىٰ او دَ
رسول صلى الله عليه وسلم او دَ امراؤ دي په س۵۹ كښې۔ بيا
زجرونه دي منافقانو ته په ذكر دَ پنځه قباحتونو دَ هغوي سره
او دغه قباحات دَ مخكښې سره متعلق دي۔ بيا ترغيبات دي
اتباع دَ رسول صلى الله عليه وسلم ته په مختلفو وجوهو سره۔
اوله وجه دا چه مقصد دَ رسالت اطاعت دَ هغه دے چه هغه
سبب دَ مغفرت دَے په س۶۴ كښې۔ دويمه وجه، ايمان نه

حاصلیږی بغیر دَ تحکیم دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم نه او رضا کیدل په فیصلو دَ هغه یاندے په ۶۵ کښ. دریمه وجه، اطاعت دَ رسول اکرم صلی الله علیه وسلم سبب دے دَپاره دَحصول دَ پنځه فضائلو. خیریت او مضبوطوالے په ایمان باندے په ۶۶ کښ، اجرعظیم په ۶۷ کښ، هدایت دَصراط مستقیم په ۶۸ کښ او ملگرتیا په جنت کښ دَ منعم علیهم سره چه هغوی څلورو صفتونو والا دی. دَ دینه روستو دویم امر سیاسی (نظام عسکری) ذکر کوی چه هغه دَقتال آلات تیارول دی او قصد کول دَقتال فی سبیل الله دَپاره په ۷۱ کښ. بیا زجر دے منافقانو ته چه هغوی مد اهنت کوی په دغه حکم کښ په ۷۲ ۷۳ کښ. بیا دریم امر سیاسی (نظام عسکری) ذکر کوی چه هغه دَ قتال فی سبیل الله دَپاره دَ مخلصانو زاهدانو اشخاصو تیارول دی په ۷۴ کښ. بیا دَ قتال اسباب ذکر کوی په ۷۵ ۷۶ کښ.

ربط ۱ه:- هر کله چه دَ اهل کتابو قباحت ذکر شو چه هغوی حق پټ کړے وو په دے خبره کښ چه هٰٓؤُلَآءِ اَهۡدٰی مِنَ الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا سَبِيۡلًا. او حسد ئے کوو دَ نبی صلی الله علیه وسلم او مؤمنانو سره. او دا ټول دَ خیانت انواع دی. نو اوس دلته دَ عامو امانتونو په باره کښ حکم کوی دَ هغے دَ ادا کولو دَ خیانت نه دَ بچکیدلو (قرطبی، صاحب اللباب).

ربط ۲ه:- دا رنګ هر کله چه الله تعالیٰ دَ ایمان سره اعمال صالحه ذکر کړل دَپاره دَ حصول دَ بشارت تامه. نو اوس تقسیم کوی دَ اعمال صالحه دوه قسمونو ته. اول هغه چه دَ یو انسان او دَ بل چا په مینځ کښ وی او هغے ته امانات وئیلے شی. دویم قسم هغه یو انسان چه دَ نورو دوو انسانانو په مینځ کښ کوی چه هغے ته فیصله په عدل سره وئیلے شی. او دا دواړه قسمونه په دے آیت کښ په ترغیب سره موجود دی (ابوحیان).

ربط ۳ه:- مهائمی وئیلی دی چه هر کله دَ دخول دَ جنت نه

بعضے اسباب ادا دَ اماناتو نو او اقامت دَ عدل دے نو اوس
د هغے ذکر کوی۔
اَنۡ تُؤَدُّوا الۡاَمٰنٰتِ اِلٰۤى اَهۡلِهَا ۙ وَاِذَا حَكَمۡتُمۡ بَيۡنَ النَّاسِ
اَنۡ تَحۡكُمُوۡا بِالۡعَدۡلِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ نِعِمَّا يَعِظُكُمۡ بِهٖ ؕ اِنَّ اللّٰهَ
كَانَ سَمِيۡعًا ۢ بَصِيۡرًا ‏(۵۸) يٰۤاَيُّهَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡۤا اَطِيۡعُوا اللّٰهَ
وَاَطِيۡعُوا الرَّسُوۡلَ وَاُولِى الۡاَمۡرِ مِنۡكُمۡ‌ ۚ فَاِنۡ تَنَازَعۡتُمۡ فِىۡ
شَىۡءٍ فَرُدُّوۡهُ اِلَى اللّٰهِ وَالرَّسُوۡلِ اِنۡ كُنۡتُمۡ تُؤۡمِنُوۡنَ بِاللّٰهِ
وَالۡيَوۡمِ الۡاٰخِرِ‌ ؕ ذٰ لِكَ خَيۡرٌ وَّاَحۡسَنُ تَاۡوِيۡلًا ‏(۵۹)

اِنَّ اللّٰهَ يَاۡمُرُكُمۡ، په دے جمله کښں ډیر تاکیدات دی۔
اول کلمه دَ اِنَّ، دویم تصریح په نوم دَ الله تعالیٰ سره،
دریم لفظ دَ امر ذکر کول۔ دَ دے خطاب دَپاره اگر چه
مفسرینو خاص سبب ذکر کړیدے چه دا دَ عثمان بن طلحه
بن ابی طلحه په باره کښں نازل شویدے چه دَ فتح مکه په
موقعه باندے نبی کریم صلی الله علیه وسلم دَ هغه نه دَ
کعبے شریفے چابی طلب کړه او دروازه دَ کعبے ئے پرانستله
بیا نبی صلی الله علیه وسلم هغه ته واپس ورکړه اوتر اوسه
پورے چابیانے دَ کعبے شریفے دَ هغه په اولاد کښں دی۔
بعضے روایاتو کښں ذکر وو چه هغه دغه وخت کښں کافر وو
نو علی رضی الله عنه تر ینه چابی په زور سره واخستله
بیا دا آیت نازل شو نو هغه ته ئے هغه چابی واپس کړه نو
هغه ایمان راوړو۔ لیکن ابن کثیر ذکر کړیدی چه دغه
عثمان بن طلحه دَ حدیبیه په وخت کښں ایمان راوړے وو
او دا رنګ آلوسی په دغه روایت باندے په دړے طریقو سره
رد کړیدے اګر چه دا سبب دَ نزول خاص دے لیکن حکم
ئے په اتفاق دَ مفسرینو سره عام دے۔ او بل قول دا دے
چه دا خطاب عام دے په اعتبار دَ نزول سره او دریم
قول دا دے چه دا خاص دے امراؤ دَ مؤمنانو ته لیکن
اول قول اصح دے۔

اَنْ تُؤَدُّوا الْاَمٰنٰتِ اِلٰۤی اَهْلِهَا ، آلوسي وئيلي دي چه امٰنٰت جمع
دَ امانت ده مصدار مبني للمفعول دے۔ عام دے ټولو هغه
حقونو ته چه متعلق دي په ذمه دَ انسانانو باندے که حقوق
الله وي او که حقوق العباد وي فعلي وي او که قولي وي
یا اعتقادي وي۔ او ابن کثیر وئيلي دي چه دا شامل دے
هغه ټولو امانتونو ته چه واجب دي په انسان باندے که هغه
حقوق الله وي لکه مونځ، زکوٰة، روژه، کفالت او نذرونه
وغیره یا حقوق العباد وي په یو بل باندے لکه امانتونه وغیره۔
او صاحب اللباب په تعمیم دَ امانتو کښ ذکر کړیدے چه
امانت دَ ژبے دا دے چه دَ دروغو، غیبت، کنځلو، چغل
خورئ او دَ کفر و بدعت او فحش کلامئ نه ځان اوساتی۔
او دَ سترګو امانت دا دے چه حرامو ته به نظر نه کوی او دَ
غوږونو امانت دا دے چه ملاهي او مناهي او فحش خبرے
ګانے بجانے وغیره او دروغو ته به غوږ نه ږدی۔ دغه شان
دَ ټولو اندامونو امانتونه دي۔ او په تول او پیمانه کښ نقصان
نه کول۔ او عدل دَ امراؤ په خپل رعیت کښ او عدل دَ علماؤ
په عوامو کښ چه هغوی ته به هدایت کوی دَ صحیح اعتقاداتو
او اعمالو دَ خیر او دَ تعصباتو باطلو نه به یئے بچ ساتی۔ او دَ
ښځے امانت دا دے چه حفاظت به کوی دَ خپل فرج او دَ مال
دَ خاوند او عدت تیریدلو کښ به رښتیا وائی۔ او آلوسي
وئيلي دي چه امانت په ذمه دَ امراؤ کښ دا دے چه دَ
رعیت حفاظت به کوی او دین او شریعت به ورته ښائی او دا
رنګ عهد دے په حقدارو دَ هغے ته ورکوی۔

وَاِذَا حَكَمْتُمْ بَيْنَ النَّاسِ اَنْ تَحْكُمُوْا بِالْعَدْلِ ، واو ، دَ
عطف دَ پاره دے او اِذَا ، صرف دَ ظرف دَ پاره دے متعلق
دے په روستو ان تحکموا پورے۔ او دَ ابوحیان په نیز دا
متعلق دے په پټ فعل پورے چه هغه هم ان تحکموا دے۔
بِالْعَدْلِ ، عدل په لغت کښ برابر والي ته وئيلے شي لکه په

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اَطِيْعُوا اللّٰهَ

اے ایمان والو ! حکم منئ د اللہ تعالیٰ

سورۃ انعام کښ - بیا په عرف کښ عدل مقابل د جور وظلم ته وئیلے شی یعنی حق ورکول حقدار ته او مظلوم د ظلم نه خلاصول - او عدل وسط دے په مینځ د طرف د افراط کښ (د حق نه زیات ورکول) او په تفریط کښ (د حق کمول د خپل مقدار نه) او دے دواړو طرفونو (زیاتے کمے) ته جور وئیلے شی - او تعین د دے عدل بغیر د قانون شرعی نه نشی معلومیدلے نو عدل عبارت دے د کتاب اللہ او سنت رسول اللہ صلی اللہ علیه وسلم نه. او قرطبی وئیلی دی چه عالم او حاکم په دیکښ داخل دی چه هر کله فتوی کوی نو جدائی یه کوی د حلال و حرام او فرض و مستحب او صحیح و فاسد داتول امانت او عدل دے.

اِنَّ اللّٰهَ نِعِمَّا يَعِظُكُمْ بِهٖ ، دا د ماقبل د پاره علت دے د تیزئ ورکولو د پاره په منلو د تیر شوی امر د اللہ تعالیٰ کښ - نِعِمَّا په اصل کښ نعم ما دے نو میم په میم کښ مدغم کړے شوے دے او دا فعل په مدح پورے خاص دے - وعظ ، تذکیر د نصیحت دے سره د زجر و تخویف نه.

اِنَّ اللّٰهَ كَانَ سَمِيْعًاۢ بَصِيْرًا ، دا صفات حقیقتًا د اللہ تعالیٰ د پاره ثابت دی بغیر د تمثیل او تشبیه نه د مخلوق سره او بغیر د تاویل او تحریف نه - قرطبی وئیلی دی که اللہ تعالیٰ نه دا صفات نفی شی نو د دے نقیضونه به ضرور اللہ تعالیٰ له ثابت شی چه هغه ړوند والے او کونړوالے دے او اللہ تعالیٰ خود هر قسم نقائصو او عیبونو نه پاک دے.

(سبحان ربك رب العزت عما یصفون)

وَ اَطِيْعُوا الرَّسُوْلَ وَ اُولِي الْاَمْرِ

اوحکم منئ دَ رسول (صلی الله علیه وسلم) او حاکمانو

مِنْكُمْ ۚ فَاِنْ تَنَازَعْتُمْ فِيْ شَيْءٍ

ستاسو نه، نو که اختلاف اوکړو تاسو په یو څیز کښ

فَرُدُّوْهُ اِلَى اللّٰهِ وَالرَّسُوْلِ

نو ورګرځوئ (فیصله دَ هغې) الله او رسول دَ هغه ته

اِنْ كُنْتُمْ تُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ

که تاسو ایمان لرئ په الله تعالیٰ

وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ ۭ ذٰلِكَ خَيْرٌ

او په ورځ دَ قیامت دا کار غوره

وَّاَحْسَنُ تَاْوِيْلًا ﴿۵۹﴾

ع ۵ ۹ ۸

او ښائسته انجام والا دے۔

۵۹ :- ربط :- هر کله چه الله تعالیٰ والیانو او امراؤ ته امر اوکړو په عدل کولو سره نو اوس رعیت ته حکم ورکوی چه دَ هغوی اطاعت کوئ۔

یٰٓاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْٓا، په دے نداء کښ تاکید دے چه راتلونکے حکم دَ ایمان تقاضا ده۔

اَطِیْعُوا اللّٰهَ وَ اَطِیْعُوا الرَّسُوْلَ، اطاعت په تیز دَ اهل سنت باندے موافقت دَ امر ته وئیلے شی او دا امر دَ ایجاب دَپاره دے په دلیل دَ روستو جملے سره چه ان کنتم تؤمنون بالله آه۔

سوال :- اطاعت دَ رسول خو اطاعت دَ الله تعالیٰ دے په دلیل دَ ومن یطع الرسول فقد اطاع الله سره نو دا عطف ئے ولے کړے دے ؟

جواب :- امام رازی وئیلی دی چه فائده په دیکښ بیان دَ دوه دلالتونو او دلیلونو دے یعنی کتاب الله دلالت کوی په امر دَ الله تعالیٰ باندے او امر دَ رسول ترینه لازمًا معلومیږی۔ او سنت دلالت کوی په امر دَ رسول باندے او امر دَ الله تعالیٰ ترینه التزامًا معلومیږی نو دا جمله صراحتًا دلالت کوی چه متابعت دَ کتاب الله او سنت دواړه واجب دے نو اطیعوا الله کښ مراد وحی جلی (متلو) ده او اطیعوا الرسول کښ مراد وحی خفی (غیر متلو) ده او دواړه په شریعت کښ مستقل دلیلونه دی او دَ دے وجے نه ئے اطیعوا مکرر ذکر کړیدے۔

وَ اُولِی الْاَمْرِ مِنْکُمْ، په دیکښ دَ صحابه او تابعینو نه دوه اقوال نقل دی۔ اول قول دَ ابن عباس او جابر رضی الله عنه او حسن بصری، ضحاک او مجاهد رحمهم الله دے چه دَ دینه مراد فقهاء او علماء دی چه هغوی خلقو ته دَ دین تعلیم ورکوی او امر نه مراد علم دَ دین دے یعنی کتاب او سنت سره دَ اطاعت دَ هغے نه۔ دویم قول دَ ابو هریره رضی الله عنه نه نقل دے چه دَ دینه مراد امراء او والیان دی او دَ امر نه مراد اختیار دَ حکومت دے۔ او دَ علی رضی الله عنه روایت دے چه حق دے په امام باندے چه حکم به کوی په ما انزل الله سره او امانت به ادا کوی۔ نو هر کله چه هغه داسے کار کوی نو په رعیت باندے حق دے چه هغوی به دَ هغه سمع او اطاعت کوی (امام رازی، اللباب)۔ زۀ وایم چه په دے دواړو اقوالو کښ تضاد نشته بلکه په زمانه دَ سلف صالحین کښ به امراء او والیان دِ دَ کتاب او سنت عالمان وی۔ او دَ مؤمنانو دَ امیر په اطاعت کښ ډیر احادیث وارد دی چه ابن کثیر، ابن جریر او صاحب اللباب هغه ذکر کړیدی۔

سوال :- په دے کښ ئے اطیعوا ولے ذکر نه کړو؟

جواب :- هر کله چه دَ اولوا الامر اطاعت مستقل او مطلق نه دے بلکه دَ هغه اطاعت مقید دے په دے شرط چه

دَ هغه قول او عمل به دَ اطاعت دَ الله او دَ رسول صلی الله علیه وسلم دَ لاندے وی په دلیل دَ حدیث دَ بخاری و مسلم سره چه په هغے کښې دی چه (مَالَمْ يُؤْمَرْ بِمَعْصِيَةٍ فَإِذَا أُمِرَ بِمَعْصِيَةٍ فَلَا سَمْعَ وَلَا طَاعَةَ) (بخاری کتاب الاحکام مسلم کتاب الامارة)۔ او دا رنګ په دلیل دَ روستو جملے سره چه په وخت دَ تنازع کښې کتاب و سنت ته رجوع کول واجب دی۔ او دا رنګ لفظ منکم صریح دلیل دے چه اولی الامر به کامل مؤمن (مسلمان) وی۔ کافر شخص امیر نشی کیدے او فاسق چه واجب العزل دے۔ ابن حجر په شرح بخاری کښې وئیلی دی چه په تکرار دَ اطیعوا کښې نکته دا ده چه هغه څیز چه موتږ په هغے باندے مکلف یو قرآن او سنت دواړه دی نو معنیٰ دا ده چه اطاعت دَ الله تعالیٰ کوئ چه په قرآن کښې نازل کړے وی او اطاعت دَ رسول صلی الله علیه وسلم کوئ چه دَ قرآن بیان ئے په سنت سره کړیں دے۔ طیبی وئیلی دی چه اطیعوا الرسول کښې اشاره ده چه رسول په اطاعت کښې مستقل دے او دَ اولی الامر سره ئے اطیعوا نه دے ذکر کړے نو اشاره ده چه اولی الامر کښې داسے هم کیدے شی چه اطاعت ئے واجب نه وی فان تنازعتم کښې هغے ته اشاره ده۔

فَإِنْ تَنَازَعْتُمْ فِي شَيْءٍ فَرُدُّوهُ إِلَى اللهِ وَالرَّسُولِ، تنازع دَ نزع نه اخستلے شویدے راښکل او را نیولو ته وئیلے شی بیا په عرف کښې دَ تنازع اطلاق په سخت اختلاف باندے کیږی ځکه چه دَ سخت اختلاف په وخت کښې هر یو جانب حق ځان طرف ته راکاږی۔ په دے خطاب کښې صحیح قول دا دے چه دا عام دے لکه چه ابن جریر وئیلی دی چه معنیٰ دا ده چه اے مؤمنانو ستاسو اختلاف راشی په کوم ځئ کښې یا دَ اولوالامر (امیرانو یا علماؤ) سره۔ او ابن کثیر هم وئیلی دی چه دا امر دے دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه چه هر هغه څیز چه خلق په هغے کښې تنازع کوی که هغه دَ دین اصول وی

اوکه فروع وی نو کتاب الله وسنت رسول صلی الله علیه وسلم ته
به رجوع کیدیشی - بیا ئے وئیلی دی چه ټول خصومات او جهالات
د الله تعالی کتاب او سنت رسول صلی الله علیه وسلم ته راوړئ- بیا
ئے وئیلی دی چه دا آیت دلیل دے چه څوک په محل نزاع
کښ کتاب او سنت ته رجوع نه کوی نو هغه مؤمن بالله والیوم
الاخر نه دے - او آلوسی وئیلی دی چه خطاب په دیکښ عام دے
ټولو مؤمنانو ته او شئ خاص دے په امر د دین پورے او معنی
دا ده چه ستاسو تنازعه راشی د اولوالامر سره په یو کار د دین
کښ - او ابن عطیه په المحرر الوجیز کښ وئیلی دی چه معنی
دا ده چه ستاسو تنازعه راشی په کورنئ کښ یا د اولوالامر
سره - ابن عاشور وئیلی دی چه دا خطاب عام دے ټولو مؤمنانو
ته ماسیوا د رسول ته ځکه چه د رسول صلی الله علیه وسلم
سره مؤمنان نزاع نشی کولے یعنی د مؤمنانو چه په کورنئ
کښ تنازع وی یا د اولوالامر سره وی یا د اولوالامر په
کورنئ کښ تنازع وی یا د رعیت د خپل امیر سره تنازعه وی
یا د علماؤ په کورنئ کښ د دین په یو مسئله کښ تنازعه وی۔
دارنګ لفظ د شئ عام دے ټولو اقسامو د تنازع ته شامل دے۔
سوال :- بعضے مفسرینو یو قول ذکر کړیدے چه دا خطاب
خاص دے په رعیت پورے چه امراؤ سره اختلاف راشی۔
او اختلاف د عوامو او د علماؤ ترمینځ ته نه دے شامل
ځکه چه مقلد د مجتهد سره تنازع نشی کولے ؟
جواب :- الفاظ د آیت او اقوال د محققینو مفسرینو صریح
دلالت کوی چه خطاب عام دے - او هر چه مقلد دے نو په
هغه باندے الله تعالی د مسئلے او دلیل تحقیق کول واجب
کړیدی په دلیل د دے آیت سره چه (فَاسْئَلُوْا اَهْلَ الذِّکْرِ
اِنْ کُنْتُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ)، ځکه چه علم مسئله ده سره د دلیل
شرعی نه - نو هر کله چه مقلد علم د دلیل حاصلوی نو دغه
وخت کښ کله تنازعه د مجتهد سره پیدا کیږی۔

سوال :- ابن کثیر دَ امام بخاری روایت ذکر کړیدے چه دا آیت په باره دَ واقعے دَ عبدالله بن حذافه رضی الله عنه کښ نازل شویدے چه هغه غضب یا دَ مزاح دَ وجے نه خپل رعیت ته (چه سریه وه) امر اوکړو چه خشاک راجمع کړئ او په هغے سره اور بل کړئ نو هغوی داسے اوکړل بیائے اووئیل چه اوس اور ته توپ کړئ نو هغوی انکار اوکړو- نو په دے کښ خو تنازع دَ رعیت ده دَ خپل امیر سره ؟

جواب :- دا مشهور او صحیح قول دے چه دَ سبب نزول خصوص ته اعتبار نه وی بلکه عموم دَ الفاظو ته اعتبار وی او الفاظ دَ دے آیت عام دی-

فَرُدُّوْهُ إِلَى اللهِ وَالرَّسُوْلِ، قرطبی وئیلی دی چه اوګرځوی دغه حکم کتاب الله یا رسول الله صلی الله علیه وسلم ته په تپوس کولو سره په ژوند دَ هغه کښ او په نظر کولو سره په سنت دَ هغه کښ روستو دَ وفات دَ هغه نه - دا قول دَ مجاهد، اعمش او قتاده دے او دا صحیح دے- دلته بل قول دا دے چه داسے اووائی چه الله ورسوله اعلم لیکن دا قول صحیح نه دے - او دَ دے جملے نه چا دلیل نیولے دے دَ اثبات دَ قیاس او چا استدلال کړیدے دَ پاره دَ رد دَ قیاس- دویم قول غوره دے ځکه چه الله تعالیٰ ردوه الی الله والرسول وئیلی دی رَدُّ إِلَى الْمِثْلِ وَالنَّظِيْرِ ئے نه دے وئیلے-

إِنْ كُنْتُمْ تُؤْمِنُوْنَ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ، دا دَ تاکید او تهدید او زورنے دَ پاره دے لکه چه سوره بقره ص۲۲۸، ص۲۳۲ کښ تیر شویدی-

ذٰلِكَ خَيْرٌ، ذٰلِكَ اشاره ده ما قبل اطاعت دَ الله تعالیٰ او دَ رسول صلی الله علیه وسلم ته او رد الی الله والرسول ته په وخت دَ تنازع دَ یو خیز کښ- خیر، غوره والی په اعتبار دَ منافعو دَ نیویو سره دے او خیر کښ معنیٰ تفصیلی نه ده

اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ يَزْعُمُوْنَ

آیا نه گورئ هغه کسانو ته چه چه دعوی کوی

اَنَّهُمْ اٰمَنُوْا بِمَآ اُنْزِلَ اِلَيْكَ

چه دوی ایمان راوړیدلے په هغه څه چه نازل کړے شویدے تاته

مراد ځکه چه په تنازع کښ هیڅ نفع نیشته.
وَاَحْسَنُ تَاْوِيْلًا، تاویل په معنیٰ دَ عاقبت او مال دے لکه چه سدی وئیلی دی یا په معنیٰ دَ جزاء دے لکه مجاهد وئیلی دی. او زجاج وئیلی دی چه کتاب او سنت ته رجوع کول خائسته ده ستاسو دَ تاویلا تو نه. نو دَ تاویل مطلب بیان دَ مراد دَ لفظ دے لیکن چه ظاهر نه وی اګرچه حقیقت وی. دَ تاویل معانی په سورهٔ آلعمران کښ ذکر شویدی.
فائده:- بعضے مقلدینو په دے آیت سره دلیل نیولے دے دَ تقلید دَ اثبات دَ پاره. وئیلی ئے دی چه په دے آیت کښ امر دے په اطاعت دَ اولی الامر او هغه علماء مجتهدین دی. لیکن دا استدلال ئے ډیر کمزورے دے دَ ډیرو وجو نه. اوله وجه دا چه اطاعت غیر دے دَ تقلید نه او په دے کښ ذکر دَ اطاعت دے. دویمه وجه مخکښ ذکر شول چه دَ اولوا الامر اطاعت ئے مستقل نه دے ذکر کړے بلکه دَ هغوی اطاعت دَ الله تعالی او دَ رسول صلی الله علیه وسلم دَ اطاعت دَ لاندے داخل دے یعنی چه اولی الامر په دلیل دَ قرآن وسنت سره قول او عمل کړے وے نو هله به دَ هغه اطاعت کیږی او دا خو تقلید نه دے، دریمه وجه اطاعت دَ اولوا الامر ئے مشروط کړیدے چه په وخت دَ تنازع کښ قرآن وسنت ته رجوع لازم ده او دا خلاف دے دَ معنیٰ دَ تقلید نه.

وَمَآ اُنْزِلَ مِنْ قَبْلِكَ يُرِيْدُوْنَ

او په هغه کتابونو چه نازل کړے شویدی مخکښ ستا نه غواړی

اَنْ يَّتَحَاكَمُوْٓا اِلَى الطَّاغُوْتِ

چه فیصلے یوسی طاغوت (غیر الله) ته

وَقَدْ اُمِرُوْٓا اَنْ يَّكْفُرُوْا بِهٖ ط

او یقینًا حکم کړے شویدے چه دوی دِ انکار کوی دَ فیصلے دَ هغه نه،

وَيُرِيْدُ الشَّيْطٰنُ اَنْ يُّضِلَّهُمْ

او غواړی شیطان چه گمراه کړی دوی

ضَلٰلًا ۢ بَعِيْدًا ﴿٦٠﴾

لره په گمراهئ لرے سره۔

نن ٦٠ : ربط :۔ هرکله چه مخکښ آیت کښ اطاعت دَ الله تعالیٰ اودَ رسول صلی الله علیه وسلم او واپس کول دَ حکم په وخت دَ اختلاف کښ کتاب الله او سنت رسول ته واجب کړے شول نو اوس زجر ورکوی هغه چا ته چه دَ دے حکم خلاف کوی او فیصلے دَ کتاب او سنت نه سیوا بل چا ته اوړی سره دَ دعوے دَ ایمان نه۔ او دا منافقان دی او دَ دوی قبائح ذکر کوی۔

دَ دے آیت په سبب نزول کښ مختلف روایات دی لیکن مشهور روایت دَ ثعلبی او دَ ابن ابی حاتم دے چه دَ ابن عباس رضی الله عنهما نه ئے روایت ذکر کړیدے چه یو منافق چه نوم ئے بشر وؤ دَ یو یهودی سره تنازعه وه نو منافق اوئیل چه کعب بن اشرف (چه دَ یهودیانو مشر وو) ته فیصله اوړو او هغه یهودی اوئیل چه محمد صلی الله علیه وسلم ته فیصله اوړو ځکه چه دَ یهودی یقین وو چه محمد صلی الله علیه وسلم رشوت نه اخلی او حقه فیصله کوی۔ تو دوی خپله معامله نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته یوړه

نوچه فیصله اوشوه نو منافق په هغې رضا نه وو او وئیل چه اوس فیصله (ابوبکر رضی الله عنه ته اوړو بیا د هغه په فیصله باندے هم رضا نه وو، قرطبی) بیا ئے فیصله عمر رضی الله عنه ته یوړه نو یهودی هغه ته اوئیل چه دا سړے د محمد صلی الله علیه وسلم او د ابوبکر صدیق رضی الله عنه په فیصله رضا نه دے نو اوس ئے تاسو ته فیصله راوړه نو عمر رضی الله عنه د منافق سړی نه تپوس اوکړو چه واقعی داسے ده نو هغه اوئیل چه هاؤ۔ نو عمر رضی الله عنه کور ته داخل شو او توره ئے راوړه او د هغه منافق سټ ئے اووهو ر دا د دے وجے نه چه هغه مرتد شو او د مرتد سزا قتل ده) بیا نورو منافقانو د مقتول په باره کښ د قصاص او دیت مطالبه اوکړه او عذر ئے پیش کړو چه د هغه مقصد خو د عمر رضی الله عنه په فیصله کښ جوړخ او اصلاح کول وو۔

نو دا آیتونه د دے باره کښ نازل شویدی۔ أَلَمْ تَرَ، دا د تعجب د پاره ذکر دے۔

إِلَى الَّذِيْنَ يَزْعُمُوْنَ، زعم په باطل، کذب او حق دریواړو کښ استعمالیږی۔ ابن درید وئیلی دی چه د دے اکثر استعمال په باطل قول کښ دے۔ حدیث کښ راغلی دی رِبْئَسَ مَطِيَّةُ الرَّجُلِ) (ناکاره سورلی د یو سړی لفظ د زعموا دے) صاحب اللباب وئیلی دی چه زعم کله په معنیٰ د ظن سره وی او کله په معنیٰ د کفل سره وی لکه (وَأَنَا بِهِ زَعِيْمُ- ذمه وار)۔

أَنَّهُمْ اٰمَنُوْا بِمَا أُنْزِلَ إِلَيْكَ وَمَا أُنْزِلَ مِنْ قَبْلِكَ، دلته ئے په دعوی د منافق کښ ایمان په کتابونو الهیو باندے ذکر کړو ځکه چه مقام د تحاکم (فیصلو) دے او د فیصلو مرجع کتب الهیه دی۔

يُرِيْدُوْنَ أَنْ يَّتَحَاكَمُوْا إِلَى الطَّاغُوْتِ، دا اراده په معنیٰ د عزم سره ده لیکن په دے لفظ کښ اشاره ده چه اراده

وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ تَعَالَوْا إِلَىٰ

او کله چه اوئیلے شو دوی ته راشئ هغه کتاب ته

مَا أَنزَلَ اللَّهُ وَإِلَى الرَّسُولِ

چه نازل کړیدے الله تعالیٰ او رسول ته

دَ تحاکم الی الطاغوت گناه ده نو تحاکم خو یقیناً گناه ده (ابوالسعود) - طَاغُوْتِ، ابن کثیر وئیلی دی چه آیت عام دے دَ هر هغه چا یدی ذکر کوی چه دَ کتاب الله او دَ سنت نه عدول کوی او خپلے فیصلے دَ دے دواړو نه ماسیوا هر باطل ته اوړی - او په دے ځائے کښ په طاغوت سره دغه مراد دے -

وَقَدْ أُمِرُوا أَنْ يَكْفُرُوا بِهِ، په دیکښ تاکید دے دَ مخکښ تعجیب دَ پاره - امام رازی وئیلی دی چه لفظ دَ يَكْفُرُوا بِهِ دلالت کوی چه تحاکم الی الطاغوت ایمان راوړل دی په هغه باندے او ایمان په طاغوت باندے یقیناً کفر بالله دے لکه چه کفر بالطاغوت یقیناً ایمان بالله دے - قاسمی دلته فرع ذکر کړیده چه دوه کسان په یو کار کښ تحاکم کوی نو یو رضا شی په فیصله دَ مسلمان حاکم باندے او بل انکار اوکړی او هغه فیصله دَ غیر دینو طلب کوی (لکه دَ انګریزانو قانون) نو دا کفر دے ځکه چه په دیکښ رضا ده په شعار دَ کافرانو باندے) -

وَيُرِيدُ الشَّيْطَانُ أَنْ يُضِلَّهُمْ ضَلَالًا بَعِيدًا، الشَّيْطَانُ دلته طاغوت انسی (مثلاً کعب بن اشرف) او جنی دواړو ته شامل دے - بنا په اول معنیٰ باندے چه دوی طاغوت ته فیصلے اوړی او حال دا دے چه هغه دَ دوی دَ گمراه کولو کوشش کوی نو دا هم سبب دَ تعجب دے - او بنا په دویم باندے معنیٰ دا ده چه په تحاکم الی الطاغوت سره شیطان جنی دَ دوی دَ گمراه کولو اراده لری - ضَلَالًا، دا مفعول مطلق دے دَ

رَاَيْتَ الْمُنٰفِقِيْنَ يَصُدُّوْنَ عَنْكَ

ستا نه	چه اوړې	منافقان	نو وينے ته

صُدُوْدًا ﴿٦١﴾

په آوړيدلو -

يضلهم دپاره پشان دَ اَنْبَتَ اللّٰهُ نَبَاتًا - يا بل فعل پټ دے يعنى فَيَضِلُّوْنَ ضِلٰلًا او بعيدًا تاكيد دے دَضلال دپاره يعنى داسے ګمراهي چه دَحق نه لرے ده يعنى كفراو شرك.

ف ٦١:- په ديكښ ترقى ده په حال دَ منافقينو كښ يعنى مخكښ ئے دَ دوى رغبت ذكر كړو تحاكم الى الطاغوت ته نو اوس ذكر كوى نفرت دَ دوى دَ تحاكم الى الرسول نه.

وَاِذَا قِيْلَ لَهُمْ تَعَالَوْا اِلٰى مَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ وَاِلَى الرَّسُوْلِ، دَتعميم دَ دے وصف دپاره لفظ دَ اِذَا او صيغه دَ مجهول (قيل) ئے ذكر كړه - او لفظ دَ تعالوا دلالت كوى چه دعوت وركوى اوچت او اعلى صفت ته.

رَاَيْتَ الْمُنٰفِقِيْنَ، اسم ظاهر ئے په ځائے دَضمير كښ ذكر كړو اشاره ده علت دَ اعراض او حكم دَ اعراض ته.

يَصُدُّوْنَ عَنْكَ صُدُوْدًا، صُدُوْد مصدر دے دپاره دَ تاكيد او فعل دَ دے صد لازمى دے - او صد مصدر دَ فعل متعدى دپاره راځى لكه (فصدهم عن السبيل. نمل ۲٤)

ابن كثير وئيلى دى چه دا دَ (وَاِذَا قِيْلَ لَهُمُ اتَّبِعُوْا مَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ قَالُوْا بَلْ نَتَّبِعُ مَا وَجَدْنَا عَلَيْهِ اٰبَآءَنَا) پشان دے.

فائده:- په دے آيت كښ ښكاره رد دے په هغه مقلدينو باندے چه هغوى ته دعوت دَ قرآن او دَ صحيح حديث وركړے شى او دَ دوى دَ مذهب نه خلاف وى نو دوى هم مخ اوګرځوى. نو دا حال دَ منافقانو دے.

فَكَيْفَ إِذَآ أَصَابَتْهُم مُّصِيبَةٌۢ

پس څنګه حال به وي کله چه اورسیږي دوی ته څه مصیبت

بِمَا قَدَّمَتْ أَيْدِيهِمْ ثُمَّ

په وجه د هغه عملونو چه مخکښې لیږلی دي لاسونو د دوی بیا

جَآءُوكَ يَحْلِفُونَ ۖ بِٱللَّهِ

راشي دوی تاته قسم کوي په الله تعالیٰ

إِنْ أَرَدْنَآ إِلَّآ إِحْسَانًا وَتَوْفِيقًا ﴿٦٢﴾

چه مونږ اراده نه ده کړې مګر د نیکۍ او د جوړخ (په مینځ د دواړو کښې)۔

٦٢: فَكَيْفَ إِذَآ أَصَابَتْهُم مُّصِيبَةٌۢ، په دیکښې د منافقانو د نورو قباحاتو ذکر دے او په دے جمله کښې دوه اقوال دي۔ اول قول دا چه دا معترضه ده او ثم جاؤك عطف دے په یصدون عنك صدودًا باندے۔ یعنې په اول وخت د غیبوبت کښې ستا نه مخ اوګرځوي بیا روستو تاته حاضر شي نو په دروغه قسمونه کوي چه زمونږ مقصد په دے (ستا د فیصلو نه مخ اړولو) کښې احسان او توفیق دے نو په مینځ کښې د دوی په دے عمل باندے دویته تخویف ذکر کړے شو چه هر کله په دوی باندے څه مصیبت یا عذاب راشي نو بیا به څه کوي۔ دویم قول دا دے چه دا مسلسل یو کلام دے۔ یعنې دوی خو نبي صلی الله علیه وسلم ته د حاضریدلو (او فیصلے کولو) نه نفرت کوي په حال د سلامتیا کښې لیکن د سخت غم او تکلیف په وخت کښې به څه کوي بلکه بیا خو مجبورًا رسول الله صلی الله علیه وسلم ته حاضریږي د باطل عذرونو د پاره نو په دروغه قسمونه کوي چه زمونږ مقصد خو خیر او مصلحت وو۔ مُّصِيبَةٌۢ، د اکثر مفسرینو په نیز د دے نه مراد قتل کول د عمر رضی الله عنه د هغه منافق لره۔ او ابو مسلم وئیلی

دی چه په دیکښې مقصد تخویف ورکول دی په مختلف عذابونو او مصیبتونو سره په سبب د نفرت کولو د حکم د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه او په دغه مصیبتونو کښې دوی مجبوره شي چه دروغ قسمونه کوی د خپلې تزکیې او صفایئ د پاره.

بِمَا قَدَّمَتْ أَيْدِيهِمْ، اشاره ده چه اعراض کول د تحاکم الی الله والرسول نه (دا سې بد عمل دے) چه سبب دے د عذاب د الله تعالی د طرف نه او سبب دے د قتل د وجې د مرتد کیدلو نه۔ نو بنا په اول قول سره ثُمَّ جَاءُوكَ، عطف دے په یصدون باندے او بنا په دویم قول عطف دے په اصابتهم باندے۔

يَحْلِفُونَ بِاللَّهِ، دا حال دے د ضمیر د جاؤک نه او د دے نه مراد په دروغه قسم کول دی۔ او دا صفت (په دروغه قسمونه کول) د منافقانو په سوره توبه ۴۲، ۵۶، ۶۲، ۷۴، ۹۵ او ۹۶ کښې او په سوره مجادله ۱۴ کښې ذکر دے۔

د احسان او د توفیق په معنو کښې مختلف وجوه دی۔ اوله وجه دا ده چه دوی وائی چه مونږ نه ده اراده کړې په فیصله اوړلو سره غیر رسول صلی الله علیه وسلم نه مګر احسان کول د مدعی علیه سره او اتفاق او جوړخ پیدا کول په مینځ د مدعی او مدعا علیه کښې۔ دویمه وجه دا ده چه دوی وائی چه نبی صلی الله علیه وسلم خو صرف په حق سره فیصله کوی او مونږ اراده اوکړه چه احسان اوکړیشی د دواړو طرفونو سره او د دوی په مینځ کښې موافقت او مصالحت راشي۔ دریمه وجه دا ده چه دوی روستو راغلل او دیت ئې طلب کوو د عمر رضی الله عنه نه۔ نو او وئیل ئې چه زمونږ یل مراد نه دے سیوا د دینه چه په ادا کولو د دیت سره احسان اوشي د ولی د مقتول سره او د دوی او د عمر رضی الله عنه په مینځ کښې آینده د پاره موافقت پیدا شي۔ څلورمه وجه، ابن کیسان وئیلی دی چه احسان او توفیق نه مراد حق او عدل دے۔

أُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ يَعْلَمُ اللّٰهُ
دا هغه کسان دي چه پوهه دے الله تعالیٰ
مَا فِيْ قُلُوْبِهِمْ ق فَاَعْرِضْ
په هغه څه چه په زړونو د دوی کښ دي نو مخ واړوه
عَنْهُمْ وَعِظْهُمْ وَقُلْ لَّهُمْ
د دوی نه او وعظ کوه دوی ته او وایه دوی ته
فِيْٓ اَنْفُسِهِمْ قَوْلًاۢ بَلِيْغًا ﴿۶۳﴾
په باره د ځانونو د دوی کښ وینا اثر ناکه۔

پنځمه وجه، کلبی وئیلی دي چه احسان په قول سره او توفیق درست عمل ته وئیلے شي۔
۶۳:۔ په دیکښ رد دے د دوی د دغه قول (قسم کولو) اوتفریع ده په تیرشوے قبائحو باندے په ذکر د استعمال د آدابو د دوی سره۔
مَا فِيْ قُلُوْبِهِمْ، د دینه مراد د دوی نفاق، غصه، دشمني او دروغ دي۔ اواول آدب دا دے چه فَاَعْرِضْ عَنْهُمْ، یو معنی دا چه د دوی عذرونه مه قبلوه۔ دویمه دا چه اعراض اوکړه د دوی د زړونو د رازونو ښکاره کولو نه یعنی نفاق وغیره ځکه چه د هغوی د نفاق اظهار کله د ډیر شر د پاره سبب اوګرځي او په ضد او عناد باندے پاخه شي (صاحب اللباب) دویم ادب دا چه وَعِظْهُمْ، موعظه کښ معنیٰ د زجر او تخویف وی یعنی د نفاق، مکرونو، حسد کولو او دروغو وئیلو نه ئے منع کړه او د الله تعالیٰ عذاب ورته ذکر کړه۔ دریم آدب (وَقُلْ لَّهُمْ فِيْٓ اَنْفُسِهِمْ قَوْلًا بَلِيْغًا، فِيْٓ اَنْفُسِهِمْ کښ درے توجیهات دي اول دا چه په یوازے والی پورے لګه چه د نوح علیه السلام په دعوت کښ دوه طریقے وے (ثُمَّ اِنِّيْٓ اَعْلَنْتُ لَهُمْ

وَمَآ اَرۡسَلۡنَا مِنۡ رَّسُوۡلٍ

او نه دے لیږلے موږ هیڅ رسول

اِلَّا لِيُطَاعَ بِاِذۡنِ اللّٰهِ ؕ وَلَوۡ اَنَّهُمۡ

مګر د پاره د دے چه تابعداري اوکړے شي د هغه په حکم د الله تعالیٰ، او که دا خلق

اِذۡ ظَّلَمُوۡۤا اَنۡفُسَهُمۡ جَآءُوۡكَ

کله چه ظلم اوکړو دوی په ځانونو خپلو راغلي دے تا ته

فَاسۡتَغۡفَرُوا اللّٰهَ وَاسۡتَغۡفَرَ لَهُمُ

او بخنه یې غوښتې وے د الله تعالیٰ نه او بخنه غوښتې وے دوی لره

الرَّسُوۡلُ لَوَجَدُوا اللّٰهَ تَوَّابًا

رسول (صلی الله علیه وسلم) نو خامخا مونده لے به وو دوی الله تعالیٰ لره توبه قبلوونکے

رَّحِيۡمًا ﴿۶۴﴾

رحم کوونکے۔

وَاَسۡرَرۡتُ لَهُمۡ اِسۡرَارًا ، نوح) دویمه توجیه دا چه فی انفسهم د دوی د نفسونو په باره کښ دے چه په هغے کښ نفاق پټ ساتلے دے۔
دریمه دا چه فی انفسهم په بلیغًا پورے متعلق دے یعنی چه اثر کوونکے وی په زړونو د دوی کښ راو دا ترکیب د کوفیانو په نیز جائز دے۔ بلیغ، معنیٰ انتها ته رسیدونکے دے (قرطبی)
نو هغه یره ورکول دی په قتل کولو سره که چرے دوی توبه نه اوباسی۔ یا دا سے قول چه د فصاحت و بلاغت نه ډک وی چه ښه تاثیر اوکړی۔ او په دے آدابو سره د ټولو منافقانو سره معامله پکار ده۔
۶۴:۔ د زجر د منافقانو نه روستو (چه په سبب د پریخودلو د اطاعت د رسول وو) اوس ترغیبات ذکر کوی اطاعت د رسول صلی الله علیه وسلم ته په دے قول سره چه

وَمَآ اَرْسَلْنَا مِنْ رَّسُوْلٍ اِلَّا لِيُطَاعَ بِاِذْنِ اللّٰهِ، په دیکښ اول ترغیب دے - یعنی د رسول د رالیږلو مقصد صرف د هغه طاعت کول دی او دیته استثناء مفرغ وئیلے شي یعنی وَمَآ اَرْسَلْنَا مِنْ رَّسُوْلٍ لِشَیْءٍ مِّنَ الْاَشْیَاءِ اِلَّا لِیُطَاعَ - اشاره ده چه څوک د رسول اطاعت نه کوی نو ګویا چه د هغه رسالت مهمل ګنړی - بِاِذْنِ اللّٰهِ، باء، سببیه ده او اذن په معنٰی د امر سره دے یعنی په سبب د امر د الله تعالٰی او په اطاعت د هغه سره -

سوال :- لیطاع دلالت کوی په اراده باندے د اطاعت د رسول او حال دا چه ډیر خلق د رسول اطاعت نه کوی نو دا خو د الله تعالٰی د ارادے نه خلاف لازمیږی او دا خو د معتزلو د مذهب تائید دے ؟

جواب ۱ :- ابوحیان وئیلی دی چه یطاع صیغه د مجهول ده نو فاعل محذوف خاص مراد دے یعنی لِیُطِیْعَهٗ مَنْ اَرَادَ اللّٰهُ طَاعَتَهٗ -

جواب ۲ :- اذن دلته په معنٰی د ارادے سره دے یعنی بارادة الله یا په معنٰی د توفیق او اعانت سره دے -

فائده :- صاحب اللباب وئیلی دی چه دا آیت دلیل دے چه انبیاء علیه السلام د ګناهونو نه پاک دی ځکه چه په دیکښ دلیل دے مطلقاً په وجوب د طاعت د هغوی باندے نو که بالفرض دوی په یو ګناه باندے راتلل کوی نو په هغے کښ به هم په مونږ باندے اقتداء کول واجب شي - او ګناه کیدل دیو کار دلیل دے په حرمت د هغے باندے او واجب کیدل دے په وجوب د هغے باندے نو د حل او حرمت اجتماع په یو څیز کښ لازمیږی او دا محال ده -

وَلَوْ اَنَّهُمْ اِذْ ظَّلَمُوْٓا اَنْفُسَهُمْ، روستو د ذکر د مقصد رسالت نه (چه اطاعت دے) ادب ذکر کوی د هغه د اطاعت ترک کوونکو د پاره - ظَلَمُوْٓا، د ظلم نه مراد د رسول صلی الله

علیه وسلّم دَ تحاکم او اطاعت نه ځکه ګرځول دی لکه چه دغه وخت کښې منافقانو داسې کار کړے وو۔ جَآءُوْكَ، دَ دینه مراد حاضریدل دی رسول الله صلی الله علیه وسلّم ته په اراده دَ پښیمانتیا او توبه کولو سره۔
فَاسْتَغْفَرُوا اللّٰهَ، دَ رسول صلی الله علیه وسلم په تحاکم او طاعت پریخودلو سره دَ الله تعالی نه عصیان لازمیږی ځکه الله تعالی په مخکښې جمله کښې دَ هغه اطاعت واجب کړیدے نو اول استغفار کول دَ الله تعالی نه واجب دی۔
وَاسْتَغْفَرَ لَهُمُ الرَّسُوْلُ، دا وسیله نیول دی الله تعالی ته په دعا طلب کولو دَ رسول الله صلی الله علیه وسلّم سره په ژوندانه او په حضور دَ هغه کښې او دا وسیله شرعیه ده۔
سوال:- جاءوك صیغه دَ خطاب وه نو استغفرت ئے صیغه دَ خطاب ولے ذکر نه کړه؟
جواب:- په عدول (نقل کیدلو) دَ حال دَ خطاب نه غائب والی ته او تصریح کول په وصف دَ رسالت دَ هغه کښې اوچتوالے دَ شان دَ هغه او عظمت دَ دُعا دَ هغه دے۔
لَوَجَدُوا اللّٰهَ، دا خبر دے دَ اِنَّ او اذ ظلموا متعلق دے په روستو جاءوك پورے۔ وجدوا نه مراد وجدان علمی دے نو متعدی دے دوه مفعولونو ته نو دویم مفعول تَوَّابًا رَّحِيْمًا دے۔ یا وجدان په معنیٰ موندلو دے او توابًا حال دے او موندلو کښې اشاره ده چه دَ معصیت کولو په وخت کښې دَ انسان نه الله تعالی داسې دے لکه چه ورک شوے او هیر شوے وی نو دَ توبې په وخت کښې ئے بیا اوموندلو۔
تَوَّابًا، ډیر توبه قبلوونکے او توبې کولو طریقه خودونکے۔
رَّحِيْمًا، رحم کوونکے په بچ کولو دَ هغه سره دَ ګناهونو نه په راتلونکی وخت کښې۔
سوال:- دَ معصیت په مقام کښې دَ الله تعالی نه استغفار پوره وو نو دلته استغفار دَ رسول ئے دَ څه حکمت دَپاره ذکر کړو؟

جواب لہ :- د رسول د اطاعت پہ پریښودلو کښې د هغه خفه کول لازمیږي نو د دغه خفګان لرې کولو د پاره هغه ته اظهار د عذر پکار دے۔

جواب ۲ :- دلته ګناه د رسول د حکم په پریښودلو سره وو نو په قبولیت د توبه کښې هغه عمل کول لازم دي چه د هغې پریښودل سبب د ګناه ګرځیدلے وي۔

فائده :- مبتدعینو د دے آیت نه دلیل نیولے دے چه د نبي کریم صلی الله علیه وسلم د وفات نه روستو د هغه قبر مبارک ته تلل او د هغه نه دعا طلب کول که د هر مقصد د پاره وي او خصوصاً د ګناهونو د مغفرت طلب کولو د پاره جائز دي بلکه بیا وائي چه د اولیاء کرامو د قبرونو نه هم د دُعا طلب کول جائز دي۔

د دے اول جواب دا دے چه د نبي کریم صلی الله علیه وسلم یا د اولیاؤ د قبرونو د زیارت په وخت کښې د هغوی نه د دعا طلب کول په هیڅ صحیح حدیث سره نه دي ثابت او دا رنګ صحابه کرامو د نبي کریم صلی الله علیه وسلم د وفات نه روستو هیچرې د هغه د قبر د زیارت په وخت کښې د هغه د دُعا طلب نه دے کړے (الصارم المنکي صفحه ۲۷۳)

نو د صحابه کرامو اجماع دا ده چه هغوی د قبر والا نه دُعا نه ده کړے۔

دویم جواب دا دے چه په دے آیت کښې تخصیص دے په ژوند د نبي کریم صلی الله علیه وسلم پورے او د تخصیص دلیل دا ضمیرونه دي (ظلموا، انفسهم، فاستغفروا الله، واستغفر لهم الرسول، لوجدوا) ځکه چه ضمیر دلالت کوي په ذات بانديے په طریقه د تعین او تخصیص سره۔ لیکن کله چه بله قرینه د عموم موجود شي خو دلته بله قرینه د عموم نشته۔

دریم جواب په دیکښې لفظ د جاءوك دے او جاءوا الی قبرك په دے باندے نشي قیاس کیدے او په قبر کښې اګر چه

ژوند دَ نبی صلی اللہ علیہ وسلم لرہ ثابت دے لیکن هغه برزخیه ژوند دے په هغے باندے دنیوی آثار نه مرتب کیږی۔
څلورم جواب هر کله چه دَ دے آیت په تفسیر کښ دَ صحابه کرامو نه تعمیم نه دے نقل یعنی روستو دَ وفات ته نه دے شامل۔ نو روستو چاله جائز نه دی چه صحابه کرامو نه خلاف دَ آیت بل تفسیر دَ ځان نه اوکړی۔ (الصارم المنکی صفحه ۲۷۴) باندے لیکلی دی۔ وَلَا يَجُوزُ اِحْدَاثُ تَأْوِيلٍ فِي آيَةٍ أَوْ سُنَّةٍ لَمْ يَكُنْ عَلَى عَهْدِ السَّلَفِ وَلَا عَرَفُوهُ وَلَا بَيَّنُوهُ لِلْأُمَّةِ، (جائز نه دے پیدا کول دَ تاویل په یو آیت یا حدیث کښ چه هغه په زمانه دَ سلفو کښ نه وو او نه هغوی پیژندلو او نه ئے امت ته بیان کړیدے)۔
پنځم جواب، دلته ئے جاوُک فرمائیلے دے نا دوک (چه آواز اوکړی تا ته) ئے نه دے وئیلی دی او حال دا چه طلب دَ دعا دَ صاحب قبر نه په اتفاق دَ سلفو صالحینو سره جائز نه دے الصارم المنکی صفحه ۱۱۳ کښ لیکلی چه سلف ټول په دے خبره متفق دی چه دَ قبر زیارت کوونکے به قبر والا نه هیڅ سوال نه کوی او دَ هغه نه به هغه څیز نه غواړی کوم چه په ژوند کښ غوښتلے کیږی یا په قیامت کښ غوښتلے کیږی یعنی نه به استغفار غواړی او نه به شفاعت غواړی، دا رنګ آلوسی په خپل تفسیر ۶ جلد صفحه ۱۲۵ دَ وسیلے دَ آیت دَ لاندے لیکلی دی اَمَّا اِذَا كَانَ الْمَطْلُوبُ مِنْهُ مَيِّتًا اَوْ غَائِبًا فَلَا يَسْتَرِيبُ عَالِمٌ اَنَّهُ (طَلَبُ الدُّعَاءِ) غَيْرُ جَائِزٍ وَاَنَّهُ مِنَ الْبِدَعِ الَّتِي لَمْ يَفْعَلْهَا اَحَدٌ مِنَ السَّلَفِ، (هر کله چه هغه څوک چه دعا ترینه طلب کیدیشی مړ وی یا لرے وی نو شک نه کوی هیڅ عالم چه دا ناجائز دے او دَ هغه بدعاتو نه دے چه دَ سلفو نه هیچا نه دے نقل کړے)۔

فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُوْنَ حَتّٰى

پس داسے نه ده قسم دے ستا په رب بانديے تشي مؤمنان کيدے دوى تردے پورے

يُحَكِّمُوْكَ فِيْمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ

چه فيصله اوکړي په تا باندے په هغه معامله کښ چه پيدا شو وى په مينځ د دوى کښ

ثُمَّ لَا يَجِدُوْا فِيْٓ اَنْفُسِهِمْ

بيا نه مومى په خپلو زړونو کښ

شپږم جواب، د صاحب قبر نه دعا غوښتل په مسئله د سماع (اوريدو د مړى) باندے موقوف ده او په قرآن کريم کښ صريح نصوص دى په دے خبره باندے چه اصحاب القبور (انبياء وى که اولياء وى) د دعا کوونکو دعا بالکل نه اورى (که نورے خبرے اورى که نه اورى د هغے په خپل ځائے کښ تفصيل راځئ) لکه سوره يونس ٢٨، ٢٩، سوره فاطر ١٤، سوره احقاف ٥، ٦۔

سوال :- دلته قرطبى، ابن کثير او نورو مفسرينو د اعرابى حديث ذکر کړے دے چه د نبى کريم صلى الله عليه وسلم د وفات نه روستو هغه د نبى صلى الله عليه وسلم د قبر مبارک نه استغفار غوښتلے وو او دا آيت ئے لوستلے وو او خوب کښ ورته معلومه شوه چه هغه ته بخنه اوکړے شوه؟

جواب :- د دے تفصيلى جواب په تفسير د سوره مائده د وسيلے په آيت کښ ذکر کيږى هغه هلته اوګورئ۔ او د قرطبى په حاشيه کښ ليکلى دى چه د دے په سند کښ انقطاع او ارسال دے۔ د ابو صادق ازدى کوفى د على رضى الله عنه سره ملاقات نه دے ثابت۔ او ابن کثير او ابو حيان هم دا حديث بغير د سند نه ذکر کړيدے او د حديث د پاره سند ذکر کول بالاتفاق ضرورى دى۔ او په نور سند باندے تفصيلى کلام په تفسير د سوره مائده کښ اوګورئ۔

حَرَجًا مِّمَّا قَضَيْتَ وَيُسَلِّمُوا

خفګان دَ هغې فيصلې نه چه تا کړے وی او او مني ستا فيصله

تَسْلِيمًا ﴿٦٥﴾

په هميشه منلو سره -

٦٥ :- په دے آيت کښ ترغيب دے اطاعت د رسول ته په بله طريقه - هغه دا دے چه اطاعت د رسول سره د شرطونو نه چه په دے آيت کښ ذکر دی د ايمان د پاره موقوف عليه دے - او د دے آيت په سبب نزول کښ دوه اقوال دی. اول هغه تيره شوے واقعه چه د منافق او يهودی په مينځ کښ وه او آخری فيصله ئے عمر رضی الله عنه اوکړه. دويم قول حديث د امام بخاری رحمه الله دے چه په کتاب التفسير وغيره کښ راوړيے دے چه د زبير رضی الله عنه د يو انصاری سره د اوبو په لختی کښ جګړه وه نو اول خو نبی کريم صلی الله عليه وسلم د مصالحت په طريقه فيصله اوکړه بيا د انصاری د خفګان د وجے نه هغه پوره فيصله اوکړه (ليکن چا چه وئيلی دی چه دغه انصاری خاطب بن ابی بلتعه رضی الله عنه وو نو دا قول په صحيح سند متصل سره ثابت نه دے) که سبب نزول هر يو وی خو حکم د آيت عام دے -

فَلَا وَرَبِّكَ ، په ديکښ تاکيدات په ذکر د حرف لا او قسم د الله تعالیٰ په خپل ربوبيت باندے او اضافت د ربوبيت ذات د نبی صلی الله عليه وسلم ته په طريقه د خطاب سره په دے وصف کښ اشاره ده چه الله تعالیٰ په دے حکم کښ د خپل ربوبيت اظهار کوی او دا رنګ د خپل نبی د شان حفاظت کوی - فلا کښ ډير اقوال دی - او قول د ابن جرير دے چه دا رد دے د پټ کلام د پاره چه مخکښ کلام نه دلالة معلوميږی يعنی نه ده خبره داسے لکه چه منافقان ګمان

کوی چه په خله یا نس ے د ایمان اقرار کوی او د تحاکم د رسول صلی الله علیه وسلم به خلاف کوی۔ نو وقف دے په لا باندے او وربک سره نوے کلام شروع دے۔ دویم قول دا دے چه دا "لا"، یۓ مخکښ کړیں ے په قسم باندے د نفی د اهتمام د پاره بیا تکرار شویں ے د لا د نفی د تاکیں د پاره۔ نو په اول "لا" کښ معنیٰ د اهتمام د نفی ده او په دویم کښ تاکیں د نفی دے۔ دریم قول، اول "لا" حرف نفی دے داخل دے په یؤمنون باندے او دویم "لا" زیاتی دے او ربک په مینځ کښ جمله معترضه ده۔ څلورم قول د زمخشری دے چه اول "لا" زیاتی دے د پاره د تاکیں او دویم په خپل ځائے دے.
او دا سے اقوال په لا اقسم (سوره واقعه ۷۵، سوره قیامة ۱، سوره الحاقه ۳۸، سوره انشقاق ۱۶، سوره تکویر ۱۵ او سوره بلد ۱) کښ هم دی۔ لیکن په دیکښ اول قول راجح دے۔

لَا يُؤْمِنُونَ، قاسمی وئیلی دی چه د دینه مراد ایمان کامل دے
حَتَّىٰ يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ، امام رازی وئیلی دی چه الله تعالی په قسم سره د صفت د ایمان د پاره درے شرطونه ذکر کړیدی۔

اول شرط:۔ په هر اختلاف او معامله کښ په رسول صلی الله علیه وسلم (یعنی په قرآن او صحیح احادیثو) فیصله کول۔ دا عمل دے لیکن علامت دے د قلبی ایمان د پاره۔ شَجَرَ، دا ماده دلالت کوی په اختلاط او اختلاف باندے لکه چه د اونے څانګے چه په یو بل کښ ننوتلے وی نو دا رنګ کلام د خلقو د اختلاف په وخت کښ په یو بل کښ ننوځی۔ او دا هر قسم اختلاف ته شامل دے که اختلاف د عوامو وی او که د علماؤ وی که په دنیوی امورو کښ وی او که په دینی امورو کښ وی۔

دویم شرط دا دے چه ثُمَّ لَا يَجِدُوا فِي أَنفُسِهِمْ حَرَجًا

مِمَّا قَضَيْتَ، په دیکښ مراد حصول د یقین دے په زړه کښ چه فیصله د رسول صلی الله علیه وسلم بالکل حقه او صحیح ده یعنی دغه عمل د تحکیم سره ایمان قلبی ملګرے دے نو معلومه شوه چه صرف په تحکیم رسول سره ایمان نه حاصلیږی په غیر د تصدیق قلبی نه.
اَنْفُسِهِمْ، د دے نه مراد زړونه دی. حَرَجًا، زجاج وئیلی دی چه حرج په معنیٰ د تنګسیا (خفګان) دے. مجاهد وئیلی دی چه په معنیٰ د شک کولو دے. مِمَّا قَضَيْتَ، قاسمی وئیلی دی چه دا لفظ هر صحیح حدیث ته شامل دے نو په هر مؤمن باندے لازم ده چه صحیح حدیث لره ظاهرًا او باطنًا قبول کړی او د هغے د رد د پاره حیلے او تاویلونه نه لټوی د تقلید او د مذهبی تعصب د وجه نه د مذهبی تعصب د وجه نه لکه چه دا حال د متعصبینو مقلدینو دے چه د حدیثو او اهل حدیثو دشمنان دی نو هغوی هم د دے آیت په وعید کښ داخل دی.
دریم شرط: وَيُسَلِّمُوا تَسْلِيمًا، دے یعنی هغه شخص چه په زړه کښ یې په یو حکم باندے یقین راشی لیکن بیا هم د ضد او عناد د وجه نه د هغے نه خلاف کوی نو په دے شرط سره یې ثابته کړه چه ظاهر به د باطن سره موافق ګرځوی.
ابن کثیر وئیلی دی چه هر کله دوی په تا باندے فیصله اوکړی نو په باطن کښ هم اطاعت کوی او د هغے په کلی طور سره تسلیم کوی بغیر د ممانعت، مدافعت او منازعے نه. آلوسی وئیلی دی چه دا آیت د نبی صلی الله علیه وسلم په زمانه پورے خاص نه دے بلکه د هغه قضا د هغه ټول شریعت دے. او د جعفر صادق رحمه الله نه روایت دے که چرے یو قوم د الله تعالیٰ عبادت کوی مونځونه، روژے حج او زکوٰة ادا کوی لیکن چه یو کار نبی صلی الله علیه وسلم

وَلَوْ اَنَّا كَتَبْنَا عَلَيْهِمْ اَنِ

اوکه چرې فرض کړې وې موږ په دوی باندې (په اطاعت د رسول کښې) چه

قْتُلُوْٓا اَنْفُسَكُمْ اَوِ اخْرُجُوْا

او وژنئ ځانونه خپل او او ځئ

مِنْ دِيَارِكُمْ مَّا فَعَلُوْهُ اِلَّا

د کورونو خپلو نه، نه به وو کړې دا کار مګر

قَلِيْلٌ مِّنْهُمْ ۭ وَلَوْ اَنَّهُمْ

لږ کسانو د دوی نه، او که چرې دوی

فَعَلُوْا مَا يُوْعَظُوْنَ بِهٖ

کړې وې هغه کار چه وعظ کیږي دوی ته په هغې سره

کړې وي او دا قوم یا اشخاص په هغه کار باندې اعتراض کوي چه دې نه خلاف کارېږي ولې نه کوو یا په زړه کښې په هغې باندې خفه وي نو دغه شخص مشرک دې۔

سوال:- د دې آیت نه خو د خوارجو مذهب سره موافقت معلومیږي چه چا شرعي فیصله او نکړه نو هغه کافر دې؟

جواب:- په دیکښې د نفی د ایمان د پاره درې شرطونه ذکر کړیدي (چه هغه مخکښې ذکر شو) چه په هغې کښې دویم شرط تصدیق قلبي دې او په نفی د تصدیق قلبي خامخا کفر لازمیږي۔

فائده:- صاحب اللباب وئیلي دي چه دا آیت دلیل دې په عصمت د نبي کریم صلی الله علیه وسلم باندې د هر قسم ګناه نه ځکه چه الله تعالیٰ په موږ باندې د هغه د هر حکم انقیاد باطني او ظاهري واجب کړیدې نو دا دلیل دې چه د هغه په اعمالو کښې د ګناه عمل نشته۔

لَكَانَ خَيْرًا لَّهُمْ وَ اَشَدَّ

خامخا وو به غوره دوى لره او ډیره

تَثْبِيْتًا ﴿٦٦﴾

کلکوونکے (د ایمان)

س٦٦:- د دے آیت په اول کښ زجر دے منافقانو ته او روستو ترغیب دے اطاعت د رسول الله صلی الله علیه وسلم ته په ډیلے طریقے سره.

وَ لَوْ اَنَّا كَتَبْنَا عَلَيْهِمْ ، آلوسی وئیلی دی چه د دینه مخکښ کلام پټ دے یعنی مونږ په دوی بانده فرض کړے دے اطاعت د رسول الله صلی الله علیه وسلم چه هغه آسان کار دے نو دوی دِ هغه قبول کړی ځکه که چرے مونږ په دوی بانده په تابعدارئ د رسول کښ دا فرض کړو چه اَنِ اقْتُلُوْٓا اَنْفُسَكُمْ ، لکه چه په بنی اسرائیلو بانده د توبے په وخت کښ دا فرض کړے شویوو او دغه شان اَوِ اخْرُجُوْا مِنْ دِيَارِكُمْ ، لکه چه په بنی اسرائیلو بانده د موسیٰ علیه السلام په تابعدارئ کښ د مصر نه هجرت کول فرض شوی وو نو مَا فَعَلُوْهُ اِلَّا قَلِيْلٌ مِّنْهُمْ ، په ضمیر د عَلَيْهِمْ کښ (چه كَتَبْنَا عَلَيْهِمْ کښ ذکر ده) دوه اقوال دی اول دا چه مؤمنان او منافقان دواړو ته عام دے نو دلته په قلیل کښ مخلصان مؤمنان مراد دی چه هغوی د نبی صلی الله علیه وسلم په اتباع کښ قتال او هجرت دواړه کړیدی. دویم قول دا چه ضمیر صرف منافقانو ته راجع دے نو قلیل کښ هم منافقان مراد دی چه د ریا او سمعت د وجے نه ئے قتال یا هجرت کړیدے. قَلِيْلٌ بانده پیښ دے بنا په بدلیت سره د فاعل د ما فعلوا نه ځکه چه دا کلام غیر موجب (منفی) دے.

وَ لَوْ اَنَّهُمْ فَعَلُوْا مَا يُوْعَظُوْنَ بِهٖ لَكَانَ خَيْرًا لَّهُمْ ، په دے جمله کښ ترغیب دے اطاعت د رسول ته په ذکر د دوه

وَإِذًا لَّآتَيْنَاهُم مِّن لَّدُنَّا

اودغه وخت خامخا ورکړے به وو مونږ دوی ته د خپل طرف نه

أَجْرًا عَظِيمًا ﴿٦٧﴾ وَلَهَدَيْنَاهُمْ

ثواب لوے ۔ او خامخا پاخه کړے به وے مونږ دوی لره

صِرَاطًا مُّسْتَقِيمًا ﴿٦٨﴾

په لار نیغه باندے ۔

فائده و دَ هغه دَ اطاعت سره ۔ دَ مَا يُوعَظُونَ بِهٖ نه مراد دَ رسول الله صلی الله علیه وسلّم اتباع ، اطاعت او انقیاد دے په ټولو اوامرو او نواهیو کښې او هغې ته مواعظ وئیلے شي ځکه چه مشتمل دي په وعد او وعید باندے ۔ خَيْرًا لَّهُمْ یعنی په دنیا او آخرت کښې به ډیره فائده مند وي۔

وَاَشَدَّ تَثْبِيتًا ، دَ دینه مراد پخول دَ ایمان دي په زړه کښې یعنی اتباع دَ رسول سبب دے دَ پاره دَ کلکوالی دَ ایمان۔ او دَ تثبیت نه مراد بقاء او ثبات دے یعنی انسان اول خیرغواړي او بیا بقاء دَ هغه خیرغواړي۔

۶۷، ۶۸ :۔ په دې یکښې دَ اطاعت رسول نورے دوه فائدے ذکرکوي (اجرعظیم او هدایت دَ صراط مستقیم)۔

وَإِذًا لَّآتَيْنَاهُم مِّن لَّدُنَّا أَجْرًا عَظِيمًا ، جواب دے دَ پټ سوال چه دَ تثبیت نه روستو څه حاصلیږي ۔ أَجْرًا عَظِيمًا ئې دواړه نکرے ذکرکړیدي اشاره ده چه دَ دغه اجر اندازه مخلوق ته نه ده معلوم او نسبت الله تعالی ته په لفظ دَ آتَيْنَا او مِن لَّدُنَّا کښې په ډیر عظمت دَ اجر باندے دلالت کوي۔

صِرَاطًا مُّسْتَقِيمًا ، ابن عطیه وئیلی دي چه دینه مراد هغه ایمان دے چه جنت ته رسوونکے دے او چا وئیلی دي چه هغه لار چه جنت ته رسوونکے ده او چا وئیلی دي چه اعمال

وَمَن يُطِعِ اللَّهَ وَالرَّسُولَ

او چا چه تابعداري اوکړه د الله تعالیٰ او د رسول

فَأُولَٰئِكَ مَعَ الَّذِينَ أَنْعَمَ

پس دغه خلق به ملګري وي د هغه کسانو سره چه انعام کړیدے

اللَّهُ عَلَيْهِم مِّنَ النَّبِيِّينَ

الله تعالیٰ په هغوی باندے چه پیغمبران دي،

وَالصِّدِّيقِينَ وَالشُّهَدَاءِ وَالصَّالِحِينَ

او ډیر رشتني دي او شهیدان دي او نیکان دي

وَحَسُنَ أُولَٰئِكَ رَفِيقًا ﴿٦٩﴾

او ښه دي دوی په ملګرتیا کښ۔

صالحه مراد دي۔

سوال :۔ هدایت د صراط مستقیم خو د نورو فائدو نه مخکښ دے نو ولے یے روستو ذکر کړو؟

جواب :۔ ابن عطیه جواب کښ وئیلی دی چه دلته مقصد صرف د نعمتونو شمارل دي ترتیب مقصد نه دے۔ لیکن په قول د ابوحیان او صاحب اللباب غوره داده چه د دینه مراد د جنت لار او نیک اعمال دي نو ترتیب صحیح دے۔ او په نعمتونو کښ خائسته ترتیب دے چه اول د یو کار په خیریت او غوره والی باندے نظر وي روستو په هغے باندے زړه تسلي او بقاء مقصد وي بیا وړسے په هغے سره ثواب حاصلول بیا وړسے نورے فائدے او جنت ته رسیدل مقصد دي۔

۶۹ :۔ په دیکښ ترغیب دے اطاعت د رسول ته په ډیر لوے نعمت سره چه هغه حصول د ملګرتیا د منعم علیهم خلقو دے په جنت او په برزخ کښ او دا تفصیل د اجر عظیم دے چه مخکښ ذکر شویدے۔

وَمَن يُطِعِ اللّٰهَ وَالرَّسُولَ ، اطاعت دَ اوامرو او نواهیو چه په قرآن کریم کښ دے اطاعت دَ الله تعالیٰ دے او اطاعت دَ اوامرو او نواهیو چه په احادیثو کښ دے هغه اطاعت رسول دے او اطاعت دَ رسول صلی الله علیه وسلم اطاعت دَ الله تعالیٰ دے دَ دے وجه نه والرسول سره ئے جدا اطاعت نه دے ذکر کړے - امام رازی او صاحب اللباب ذکر کړیدی چه مراد دا دے چه چا اطاعت اوکړو دَ الله په ادا دَ فرائضو کښ او اطاعت دَ رسول صلی الله علیه وسلم ئے اوکړو په ادا دَ سنن کښ -

فَاُولٰٓئِكَ مَعَ الَّذِيْنَ اَنْعَمَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ ، دَ معیت نه مراد ملګرتیا دَ ارواحو دَ هغوی سره ده په عالم برزخ کښ په دلیل دَ قول دَ نبی صلی الله علیه وسلم چه دَ هغه دَ جسد مبارک نه دَ هغه دَ روح مبارک دَ جدائی په وخت کښ فرمائیل چه (مَعَ الَّذِيْنَ اَنْعَمَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ) - او په بل روایت کښ دی اَللّٰهُمَّ الرَّفِيْقَ الْاَعْلٰى - دا دویم دَ اول دَ پاره تفسیر دے - قرطبی وئیلی دی چه دا مراد دے او دا سے حدیث او مضمون ابن کثیر هم دَ دے آیت په تفسیر کښ ذکر کړیدے - دا رنګ مرافقت په جنت کښ مراد دے او دَ دے دَ پاره ابن جریر او ابن کثیر ډیر روایات ذکر کړیدی - او قرطبی وئیلی دی چه دوی به دَ هغوی سره په ځائے کښ او په یو قسم نعمتونو کښ وی دَ هغوی سره به ملاقات کوی دَ هغوی په مجلس کښ به حاضریږی اګرچه دَ دوی په درجاتو کښ به فرق وی لیکن دوی به ځان ادنیٰ نه ګنړی او دَ دوی دَ زړونو نه به غل اوځی - ابن عاشور وئیلی دی چه دَ معیت نه مراد معیت دَ درجے دے په جنت کښ اګرچه په درجاتو کښ به تفاوت ډیر وی -

مِّنَ النَّبِيّٖنَ ، دا دَ الذین انعم الله علیهم بیان دے او دا صحیح قول دے او دلته لفظ دَ النبیین ټولو رسولانو او

پیغمبرانو ته شامل دے او الف لام پکښ د استغراق د پاره دی نو خاتم الانبیاء صلی الله علیه وسلم ته هم شامل دے۔

وَالصِّدِّيقِينَ ، په صدیق سره مراد هغه څوک دی چه د نبی تصدیق ئے د اول وخت نه کړے وی لکه د دے امت حواریون او سابقون الاولون او د دے مصداق په دے امت کښ ابوبکر صدیق رضی الله عنه دے او د هغه ایمان د نورو لویو صحابه کرامو د ایمان سبب اوګرځیدلو قرطبی وئیلی دی چه صدیق هغه دے چه د قول د زړه تاکید کوی په عمل خپل سره او ابوحیان وئیلی دی چه صدیق هغه څوک دے چه د هغه په ایمان کښ هیڅ محل د شک نه وی لکه سوره حدید ۱۹۔ دا رنګ کثیر الصدق ته هم وئیلے شی۔

وَالشُّهَدَاءِ ، د دینه مراد شهداء فی سبیل الله دی لکه شهیدان د بدر او احد وغیره۔ دا رنګ عمر، عثمان او علی رضی الله عنهم هغوی هم د الله تعالیٰ د دین د پاره شهیدان شوی وو۔ یا د دینه مراد شهادت کوونکی دی د صحت د دین د الله تعالیٰ په دعوت او بیان سره او په تورے او جهاد کولو سره۔ نو شهداء هغه دی چه قائم وی په قسط باندے لکه په آل عمران ۱۸ کښ دی۔ امام رازی وئیلی دی چه دا شهداء حکمیه ته هم عام دے۔

وَالصّٰلِحِيْنَ ، د دینه مراد هغه څوک دی چه ظاهر او باطن ئے دواړه صالح وی او د مخکنو دریواړو ډلو په طریقه باندے روان وی او د دے مصداق ټول صحابه کرام دی لکه چه د عکرمه قول هم داسے دے۔

فائده ۱:- په دے څلورو صفاتو کښ دوه اقوال دی۔ اول قول دا دے چه دا صفات د یو موصوف د پاره دی یعنی انبیاء علیهم السلام چه په هغوی کښ وصف د نبوت دے او ورسره صدیقیت هم شته لکه چه سوره مریم ۴۱، ۵۶ کښ دا صفت د ابراهیم او ادریس علیهما السلام دے او په سوره یوسف ۴۶ کښ د یوسف علیه السلام دے دا رنګ د هر نبی د پاره صفت د

شهادت هم شته لکه په سورة نساء ۴۱ ، ۱۵۹ ، سورة بقره ۱۴۳
سورة مائده ۱۱۱ ، سورة نحل ۸۹ ، سورة حج ۷۸ او سورة
قصص ۸۵ کښ ۔ او د صالحیت صفت هم د هر نبي د پاره
دے لکه سورة مریم ۱۰ ، سورة بقره ۱۳۰ ، سورة آل عمران
۳۹ ، ۴۶ ، سورة انعام ۸۵ ، سورة انبیاء ۷۲ ، ۸۶ ، سورة
عنکبوت ۲۷ او سورة قلم ۵۰ ۔ نو بنا په دے توجیه سره
الذین انعم الله علیهم یو جماعت دے چه هغه انبیاء
علیهم السلام دی او د دے تائید په سوره مریم ۵۸ ، سورة
یوسف ۶ او سورة مائده ۱۱۰ کښ دے ۔ دویم قول دا دے
چه دا صفات د جدا جدا ذواتو دی یعنی څلور جماعات دی
اول جماعت د انبیاء علیهم السلام دے دویم د صدیقینو
لکه ابو بکر رضی الله عنه دریم د شهداؤ لکه عمر ، عثمان
او علی رضی الله عنهم ۔ څلورم جماعت د صالحینو لکه باقی
صحابه کرام ۔ دا قول فراء بغوی د عکرمه نه نقل کړیدے
یعنی منعم علیهم انبیاء علیهم السلام او صحابه کرام دی ۔
او د اسے تفصیل په سورة فاتحه انعمت علیهم کښ ذکر
شویدے ۔ نو په دے دواړو اقوالو سره هغه سوال دفع
شو که څوک وهم کوی چه څوک د الله تعالیٰ او د رسول
اطاعت کوی نو هغه به په مرتبه د صدیقیت او شهادت
کښ نه وی لیکن په مرتبه د صالحیت کښ به وی نو د
هغوی سره د معیت څه معنیٰ نشته ۔ حاصل جواب دا شو
چه په دے آیت کښ اطاعت کوونکی د الله تعالیٰ او د رسول
صلی الله علیه وسلم عام مراد دی او منعم علیهم خاص
مراد دی چه هغه انبیاء کرام او صحابه عظام دی ۔
سوال :۔ د دے آیت نه مرزا غلام احمد قادیانی دلیل
نیولے دے د اجراء د نبوت د پاره او د استدلال طریقه ئے
دا ده چه مع د اشتراک د صفت د پاره دے یعنی چا چه د
الله تعالیٰ او د رسول اطاعت اوکړو نو هغه په صفت د نبوت

کښې دَ انبیاؤ سره شریک شو یا په صدیقیت کښې دَ صدیقینو سره یا په شهادت کښې دَ شهداؤ سره او یا په صالحیت کښې دَ صالحینو سره شریک شو۔ نو څوک چه په صفت دَ نبوت کښې شریک شی نو هغه نبی اوګرځی ؟
جواب ۱ :- دا داسې تفسیر دے چه دَ سلفو صالحینو او دَ مؤمنانو مفسرینو نه نقل نه دے نو دیته تحریف معنوی وئیلے شی او دا عین کفر دے۔
جواب ۲ :- الزامی طور سره وئیلے شی چه داسې خو په آیت محمد رسول الله والذین معه اشداء علی الکفار .... آه کښې هم معه لفظ شته نو لازم دا شوه چه صحابه کرام دِ ټول انبیاء شی ځکه چه په دغه آیت کښې یقیناً صحابه کرام مراد دی۔
جواب ۳ :- په تفسیر دَ سوره بقره کښې موږ دَ مع معانی ذکر کړے دے چه دا یو مشترک لفظ دے نو دَ مشترک نه داسې معنیٰ اخستل واجب دی چه دَ نورو آیت محکماتو سره موافق وی۔ نو که معنیٰ دَ شرکت فی الصفت قرینه مراد شی نو دَ ختم نبوت دَ آیت او نورو نصوصو صریحو سره مخالفت راځی او دا دَ اهل زیغو عمل دے۔
جواب ۴ :- وَحَسُنَ أُولَٰئِكَ رَفِيقًا ، دا صریح دے چه دَ معیت نه مراد رفاقت دے او رفاقت په مجلس او مکان کښې استعمالیږی په صفت کښې نه استعمالیږی۔ اخفش وئیلی دی چه رفیقاً حال یا تمیز دے نو مفرد په معنیٰ دَ جمع سره دے لکه ثُمَّ نُخْرِجُكُمْ طِفْلًا کښې۔
فائده ۱ :- قرطبی وئیلی دی چه په نبیین پسې ئے دویمه درجه دَ صدیقینو ذکر کړه۔ او اجماع دَ مسلمانانو ده چه هغه ابوبکر صدیق رضی الله عنه وو نو معلومه شوه چه هغه په اسلام کښې اول حق خلیفه وو۔

ذٰلِكَ الْفَضْلُ مِنَ اللّٰهِ ؕ

دا | فضل | دے | د الله تعالىٰ د طرف نه

وَكَفٰى بِاللّٰهِ عَلِيْمًا ﴿٧٠﴾ ع

او | پوره | دے | الله تعالىٰ | پوهه په هر څه باندے۔

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا خُذُوْا

اے | ایمان | والو ! | تیار اوساتئ

حِذْرَكُمْ فَانْفِرُوْا ثُبَاتٍ

سامان د بچاؤ خپل | پس | اوځئ | ډلے ډلے

اَوِ انْفِرُوْا جَمِيْعًا ﴿٧١﴾

یا | اوځئ | په یو ځائے۔

ښکے :۔ په دے آیت کښ جواب د سوال دے چه د الله تعالىٰ او د رسول عام اطاعت کوونکی خو په عمل کښ د انبیاء علیهم السلام او صحابه کرامو نه کم دی نو دوی به څه رنګ د هغوی سره یوځائے کیږی په جنت کښ۔ حاصل جواب دا دے چه دا د هغوی د عمل د وجے نه نه دے بلکه دا د الله تعالىٰ خالص فضل دے۔

ذٰلِكَ اشاره ده هغه معیت او رفاقت ته چه په مخکښ آیت کښ ذکر شو۔

وَكَفٰى بِاللّٰهِ عَلِيْمًا ، یعنی د الله تعالىٰ علم پوره دے په ثواب د اطاعت او په مقادیر د فضل او په مستحقینو د هغے باندے۔ یا علم د الله تعالىٰ په عصیان کوونکو او اطاعت کوونکو او منافقینو او مخلصینو او په هغه چاچه اهل د رفاقت دی پوره دے۔

ښکے :۔ په دے آیت کښ د امورو سیاسیه دویم قانون دے چه د قانونِ عدل د اجراء نه روستو د قتال فی سبیل الله اهتمام ذکر کوی او تیاری کول د هغے د پاره۔

ربط :۔ قرطبی وئیلی دی چه هر کله د الله تعالىٰ او د رسول د

هغه د اطاعت ذکر یې اوکړو نو اوس حکم کوي اهل اطاعت ته د احیاء د دین او د اوچتوالي د دین (چه هغه په قتال سره کیږي) لیکن اول امر کوي چه په جهالت او عجلت سره په دشمن باندې حمله مه کوئ بلکه د حملې د پاره پوره تیاري اوکړئ او د منافقانو د دهوکو اوچلونو نه ځان بچ اوساتئ.
یَاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا، خطاب مخلصانو مؤمنانو ته دې.
خُذُوْا حِذْرَکُمْ، حذر، په زور د حاء سره او په زیر د حاء سره منقول دې لیکن دلته په زیر سره دې - واحدي وئیلي دي چه دلته دوه اقوال دي اول دا چه د حِذر نه مراد د هغې آله ده یعني توره ټوپک وغیره نو معنی دا ده چه اونیسئ وسلې خپلې - دویم قول دا دې چه اخذ دلته په معنی د عمل کولو دې چه خذ العفو کښ دې یعني اِحْذَرُوْا عَدُوَّکُمْ زیره اوکړئ او ځان بچ ساتئ د دشمن نه) او په دې معنی کښ هم د وسلو تیارولو ته اشاره ده او د هغې د استعمال طریقه ایزده کولو او د هغې د پاره عسکري تربیت حاصلولو ته - قاسمي وئیلي دي چه عرب کله بیداروي او د یرې د ځیز نه ځان ساتي نو وائي اخذ حذره - دا رنګ حذر هغه ځیز ته وئیلې شي چه په هغې سره ساتنه کیږي لکه وسله - قرطبي او صاحب اللباب وئیلي دي چه آیت کښ دا دلیل نشته چه په حذر سره د تقدیر مقابله کیدې شي بلکه وسله ساتل هم په تقدیر کښ داخل دي یعني مونږ به د اسباب شرعي استعمال کوو ځکه چه مونږ په هغې مکلف یو او ورسره به عقیده لرو چه تدبیر د تقدیر مقابله نشي کولې ځکه چه مونږ په ایمان بالتقدیر او اسباب شرعیه دواړو باندې مکلف یو.
فَانْفِرُوْا ثُبَاتٍ، د فَانْفِرُوْا اصل د نفور او نفار نه دې نفرت کولو او بد ګڼړلو ته وئیلې شي لیکن استعمالیږي په بهر وتلو باندې د پاره د مقابلې د دشمن یا د علم د پاره. او په دې لفظ کښ اشاره ده چه د جهاد في سبیل الله په

وَإِنَّ مِنكُمْ لَمَن لَّيُبَطِّئَنَّ ج

او یقیناً بعضے ستاسو نه خامخا هغه دی چه روستو کیږی

فَإِنْ أَصَابَتْكُم مُّصِيبَةٌ قَالَ

نو که اورسیږی تاسو ته څه مصیبت نو دے وائی

قَدْ أَنْعَمَ اللَّهُ عَلَيَّ إِذْ لَمْ

یقیناً انعام کړے دے الله تعالیٰ په ما باندې کله چه نه

وخت کښ د کور کلی او اهل وعیال نه داسے اوځئ لکه چه د هغوی سره نفرت کوونکی یئ یعنی د هغوی محبت تاسو لره د قتال د سفر نه مانع او نه ګرځی۔ ثُبَاتٍ ، د دے مفرد ثُبَةٌ دے د خلقو کلکے ډلے ته وئیلے شی او داسے ډلے ته سریه هم وئیلے شی یعنی ډلے ډلے (سریے سریے) د جهاد د پاره اوځئ دا په هغه وخت کښ چه قتال کول فرض کفائی وی۔ او کله چه نظام شرعی موجود وی نو دا سرایا به هم د امیر المؤمنین په امر سره اوځی۔

أَوِ انفِرُوا جَمِيعًا ، د دینه مراد غټ لښکر دے دا په هغه وخت کښ چه قتال فرض عین شی نو حرف أَوْ دلته د تنویع د پاره دے۔ او دا په آیت د انفروا خفافا وثقالا سره منسوخ نه دے ځکه چه د هر یو د عمل د پاره جدا جدا حالت دے دا آیت صریح دلیل دے چه قتال فی سبیل الله په ټولو مؤمنانو باندے په خپلو شرعی شرطونو سره فرض دے۔ ابن عاشور وئیلی دی چه مفسرینو د دے آیت د پاره هیڅ سبب نزول نه دے ذکر کړے نو معلومه شوه چه دا عام قانون دے او مقصد پکښ تیاری کول وو د فتح مکے د پاره ځکه چه دا د هجرت په شپږم کال نازل شوے دے او فتح مکه د دینه روستو په اتم کال باندے اوشوه۔

أَكُنْ مَّعَهُمْ شَهِيْدًا ﴿۷۲﴾

دوم دَ دوی سره حاضر۔

ﺳ۷۲:۔ په دیکښ زجر دے منافقانو ته چه هغوی دَ مخکښ ذکر شوی قانون خلاف کوی۔

وَإِنَّ مِنْكُمْ لَمَنْ لَّيُبَطِّئَنَّ، خطاب عام مسلمانانو ته دے لیکن حسن، مجاهد او قتاده وغیرهم وئیلی دی چه دَ دینه مراد منافقان دی په دلیل دَ دے چه دَ جهاد نه دَ روستو پاتے کیدلو باره کښ وئیلی دی چه قَدْ أَنْعَمَ اللّٰهُ عَلَيَّ او دا قول دَ مؤمن دَ شان نه نه دے۔ لیبطئن لازمی او متعدی دواړه کیدے شی نو لازمی معنیٰ دا ده چه خامخا روستو کیږی او دروند دروند کیږی دَ وتلو دَ جهاد نه یعنی په انفروا امر باندے عمل نه کوی۔ او متعدی معنیٰ دا ده چه روستو کوی نورو خلقو لره دَ جهاد نه۔ قرطبی وئیلی دی چه دلته دواړه معنے جائز دی ځکه چه منافقان دواړه کارونه کوی۔

فَإِنْ أَصَابَتْكُمْ مُّصِيبَةٌ، دلته دَ مصیبت نه مراد هزیمت یا قتل دے۔

قَالَ قَدْ أَنْعَمَ اللّٰهُ عَلَيَّ، قرطبی وئیلی دی چه دا قول نه صادریږی مګر دَ منافق نه او خصوصًا په زمانه دَ نبی صلی الله علیه وسلم کښ۔ او دا رنګ په سوره توبه ﺳ۸۱ کښ هم دا منافقان دَ جهاد نه پاتے کیدلو ته انعام وائی او په دے باندے خوشحالی کوی۔

إِذْ لَمْ أَكُنْ مَّعَهُمْ شَهِيْدًا، دلته شهادت په معنیٰ دَ حضور سره دے او اذ ظرفیه یا علتیه دے۔

وَلَئِنْ أَصَابَكُمْ فَضْلٌ مِّنَ

او كه | ورسيږي تاسو ته | فضل | دَ

اللّٰهِ لَيَقُوْلَنَّ كَأَنْ لَّمْ تَكُنْ

الله تعالىٰ دَطرف نه نو خامخا وائي دے | گويا | كه نه | وؤ

بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهٗ مَوَدَّةٌ يّٰلَيْتَنِيْ

په مينځ ستاسو | او دَده كښ | دوستانه | هائے ارمان دے

كُنْتُ مَعَهُمْ فَأَفُوْزَ فَوْزًا

چه زه وے | دَ دوی سره | نو كامياب شوے به وے په كاميابئ

عَظِيْمًا ﴿۷۳﴾

لوئے سره ـ

۷۳ :- دا دَ دوی دويم حال ذكر كوی - وَلَئِنْ أَصَابَكُمْ فَضْلٌ مِّنَ اللّٰهِ ، دَ فَضْلٌ نه مراد فتح او غنيمت دے - لَيَقُوْلَنَّ كَأَنْ لَّمْ تَكُنْۢ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهٗ مَوَدَّةٌ ، دَ دے جملے په باره كښ دَ مفسرينو مختلف اقوال دی - اول قول ، دا جمله معترضه ده محل دَ اعراب ورله نشته - او په ديكښ دوه احتمالات دی اول دا متعلق دے دَ اذ لم اكن معهم شهيدًا سره يعنی دغه قول دَ دے وجے نه كوی چه گويا كه ستاسو او دَ ده په مينځ كښ هيڅ دوستانه نشته - دا قول دَ زجاج او ماتريدی دے ليكن امام راغب په دے باندے دَ عربيت په لحاظ سره سخت رد كړے دے - دويم احتمال دا چه دا جمله معترضه ده په مينځ دَ قول او دَ مفعول (مقوله) كښ يعنی يا ليتنی كنت معهم مقوله ده او كان لم تكن جمله معترضه ده - دا قول دَ زمخشری وغيره كړے دے - دويم قول دا جمله مفعول دے دَ ليقولن دَ پاره نو مقوله دوه جملے دی يو جمله دَ تشبيه او دويمه دَ تمنا

فَلْيُقَاتِلْ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ

نو جنګ دې کوي په لار د الله تعالیٰ کښې

الَّذِينَ يَشْرُونَ الْحَيٰوةَ

هغه کسان چه خرڅوي (قربان کوي) ژوند

الدُّنْيَا بِالْاٰخِرَةِ ۚ وَمَنْ يُّقَاتِلْ

دنیوي په آخرت باندې او چا چه جنګ اوکړو

فِي سَبِيلِ اللّٰهِ فَيُقْتَلْ اَوْ

په لار د الله تعالیٰ کښې او اووژلې شي یا

او مقصد ئې دا دې چه دا جمله مقوله ده د هغه منافقانو چه نور منافقان ئې د جهاد نه منع کول او پخپله وتلی وونو دوی ته ئې وئیل چه ستاسو او د دې نبي په مینځ کښې هیڅ مؤدت نه وو چه تاسو ئې د غنیمت په وخت کښې پریخودلئ. نو ضمیر د بینه نبي صلی الله علیه وسلم ته راجع دې دا قول د فارسي او مقاتل دې.

دریم قول دا دې چه دا جمله په محل د نصب کښې حال ده د ضمیر د لیقولن نه یعنی دوی دا روستو قول کوي په دا سې حال کښې چه ګویا که ستاسو او د دغه منافق په مینځ کښې معرفت هم نیشته مؤدت خو لرې خبره ده. بله توجیه زموږ شیخ رحمه الله کړیده اګرچه په بل تفسیر کښې زما په نظر نه ده راغلې هغه دا چه دواړه مقولې د لیقولن دي اوله مقوله د ځان سره پټه ده او بینه په معنیٰ د بیني دې او دویمه مقوله ښکاره ده.

يَالَيْتَنِي كُنْتُ مَعَهُمْ، یا د نفس تنبیه د پاره ده منادی نه غواړي لکه دا قول د فارسي وغیره دې او بعضو وئیلي دي چه منادیٰ پټه ده یا هٰؤُلَآءِ.

يَغْلِبْ فَسَوْفَ نُؤْتِيهِ أَجْرًا

زورآور شي نو زر دے چه ورته كړو مونږ هغه ته ثواب

عَظِيمًا ﴿٧٤﴾

لوے ۔

فَأَفُوزَ فَوْزًا عَظِيمًا ، دَ فوزعظيم نه مراد په غنيمت كښ برخه حاصلول دى او دا دَ منافق دنيا پرستئ ته اشاره ده يعنى جهاد كښ ئے صرف غنيمت مقصد وى ۔

۷۴ :۔ په دے آيت كښ دريم امر سياسى دے يعنى دَ جهاد دَپاره داسے اشخاص تيارول پكار دى چه دَ هغوى په نيت كښ پوره اخلاص وى او هيڅ دنيا پرستى پكښ نه وى ۔

ربط ۱ :۔ هر كله چه مخكښ ذكر شوه چه منافقان پخپله هم دَ جهاد نه روستو كيږى او نور خلق هم روستو كوى نو اوس مؤمنانو ته امر كوى چه دَ منافقانو په وسوسو سره دَ جهاد نه مه روستو كيږئ ۔

ربط ۲ :۔ دا رنګ مخكښ ذكر شوه چه منافقان دَ جهاد نه پاتے كيدلو نه دَ الله تعالىٰ انعام وائى نو اوس فرمائى چه په جهاد كښ په هر حالت كښ اجرعظيم ملاويږى نو معلومه شوه چه جهاد ته تلل او جهاد كول انعام الٰهى دے ۔

فَلْيُقَاتِلْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ ، دَ ما قبل ربط دَ وجے نه دَ " فاء " راوړلو فائده معلومه شوه ۔ دلته ئے مفعول نه دے ذكر كړے دَپاره دَ تعميم دَ هغه كسانو چه هغوى دَ قتال كولو اهل دى كه هغه هر قسم كافر وى ۔ دا رنګ په دے ځائے كښ مقصد اهميت دَ قتال كوونكو دَ اخلاص دے نو ځكه په صرف فاعل ذكر كولو سره ئے اكتفاء كړيده ۔

الَّذِينَ يَشْرُونَ الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا بِالْآخِرَةِ ، دلته دَ مفسرينو دوه اقوال دى ۔

اول قول دا دے چه يشرون په معنىٰ دَ يبيعون دے يعنى

خرڅوي او قربانوي د دنيا ژوند او د هغې مزې او خواهشات په آخرت باندې - او د انهايت اخلاص نيت ته اشاره ده.
دويم قول دا دې چه يشرون په معنیٰ د اشتراء دې يعنې ژوند دنيوي غوره کوي په آخرت باندې يعنې دوی منافقان دی
تو منافقانو ته ترغيب ورکوي چه منافقت پريږدي بلکه قتال فی سبيل الله اوکړئ - په ديکښ اول قول غوره دې -

وَمَنْ يُّقَاتِلْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ فَيُقْتَلْ اَوْ يَغْلِبْ ، په دې جمله کښ ترغيب بليغ دې قتال کولو ته يعنې مقاتل دې په دوه خيزونو کښ د يو خيز عزم خامخا اوکړي شهادت يا فتح او تختيدل دې په زړه کښ نه راولي - هر کله چه شهادت سبب د اجر دې نو هغه ئې مخکښ ذکر کړېدې - او يغلب ، نه مراد د دشمن قتلول او هغوی له شکست ورکول او غنيمت حاصلول دي -

فَسَوْفَ نُؤْتِيْهِ اَجْرًا عَظِيْمًا ، دا سې مضمون په حديث. بخاری او مسلم کښ هم ذکر دې چه الله تعالیٰ ذمه داري اخستلې ده د هغه چا د پاره چه جهاد له اوځي - او نه اوباسي ده لره په لار د الله تعالیٰ کښ مگر جهاد او تصديق د کلمې د هغه نو الله تعالیٰ به دا سې شخص جنت ته داخلوي (په سبب د شهادت) يا به ئې خپل کور ته واپس اوګرځوي سره. د دې چه اجر يا غنيمت به ئې حاصل کړې وي (دلته او د مانعت الخلو د پاره دې اجر او غنيمت دواړه هم حاصليدې شي) -

فائده :- دا آيت او حديث دلالت کوي چه د شهادت او غلبې په حال کښ برابري ده ليکن غوره دا ده چه دا برابري په مطلق اجر عظيم کښ ده اگرچه په کيفيت د اجر کښ شهادت لوې سبب دې -

وَمَا لَكُمْ لَا تُقَاتِلُوْنَ فِيْ سَبِيْلِ

او څه عذر دے ستاسو چه جنګ نه کوئ په لار

اللّٰهِ وَالْمُسْتَضْعَفِيْنَ مِنَ الرِّجَالِ

د الله تعالیٰ کښې او د پاره د خلاصولو د کمزورو د نارینو نه

وَالنِّسَآءِ وَالْوِلْدَانِ الَّذِيْنَ

او زنانه او واړه بچي هغه چه

يَقُوْلُوْنَ رَبَّنَآ اَخْرِجْنَا مِنْ هٰذِهِ

وائي اے ربه زموږ اوباسے موږ د دے

الْقَرْيَةِ الظَّالِمِ اَهْلُهَا ۚ وَاجْعَلْ

کلی نه چه ظالمان دی اوسیدونکی د دے او مقرر کړه

لَّنَا مِنْ لَّدُنْكَ وَلِيًّا ۚ وَّاجْعَلْ

موږ لره د خپل طرف نه دوست (بچ کوونکے) او مقرر کړه

لَّنَا مِنْ لَّدُنْكَ نَصِيْرًا ﴿۷۵﴾

موږ لره د خپل طرف نه امدادی۔

۷۵ :۔ په دیکښې ذکر د ترغیب دے قتال فی سبیل الله ته سره د ذکر د علتونو د قتال نه۔ نو په دے آیت کښې دوه علتونه ذکر کوی اول فی سبیل الله او دویم والمستضعفین وَمَا لَكُمْ لَا تُقَاتِلُوْنَ، مَا، استفهامیه دے د پاره د تیزئ ورکولو په معنیٰ د انکار سره دے۔ یعنی ستاسو څه عذر نشته په پریخودلو د قتال کښې۔ او حال دا دے چه د قتال دوه علتونه موجود دی۔

اول علت فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ، فِيْ په معنیٰ د لام دے او مضاف پټ دے یعنی اعلاء۔ او سَبِيْلِ اللّٰهِ، په معنیٰ د کلمه الله دے

یعنی دَ کلمة الله چه دین دَ توحید دے دَ غالب کولو او اوچتولو دَپاره۔
دویم علت، وَالۡمُسۡتَضۡعَفِيۡنَ، دے په دیکښ دوه مشهور اقوال دی۔
اول قول، دَ ابن شهاب دے چه دا په لفظ الله باندے عطف دے یعنی سبیل المستضعفین۔ او قتال په سبیل دَ دوی کښ دا دے چه هغوی دَ قید و بند و دَ دشمنانو نه اوساتی او دَ هغوی حفاظت اوکړی۔
دویم قول، دَ مبرد او دَ زجاج دے چه مضاف پټ دے یعنی فی خلاص المستضعفین یعنی دَ دشمنانو دَ لاسونو نه خلاصول۔ او مستضعفین هغه کسان دی چه مشرکان دَ هغوی دَ کمزوری کولو هر وخت کوشش او طلب کوی یا په معنیٰ دَ ضعفاء دے او دا دلیل دے چه په قتال فی سبیل الله کښ کله مقصد داوی چه کمزوری مؤمنان دَ کافرانو دَ تسلط نه بچ کړیشی لکه چه په دے زمانه کښ په کشمیر، فلسطین او چیچنیا وغیره ملکونو کښ دَ اکثرو مسلمانانو حال داسے دے۔ او دا په اصل کښ دفاعی جهاد دے۔
مِنَ الرِّجَالِ، مِنۡ دَ بیان دَپاره دے یعنی دوی درے جنسه اشخاص دی اول دا بالغ نارینه کسان دی لیکن معذوره یا بوډا کان دی۔ دویم وَالنِّسَآءِ، او دریم والولدان دی۔ دَ ولدان نه مراد نابالغه بچی دی لکه په حدیث دَ ابن عباس رضی الله عنهما کښ دی چه زۀ او زما مور دَ مستضعفین نه وو۔
وَالۡوِلۡدَانِ، ولدان، جمع دَ ولد ده که مذکر وی او که مؤنث وی یا جمع دَ ولید ده نو مراد ترینه مریان او وینزے دی لیکن اول قول غوره دے او په ذکر دَ ولدان کښ دَ دوی زیات ظلم کولو ته اشاره ده چه دا مشرکان په وړو بچو باندے هم ترس نه کوی۔

الَّذِيْنَ يَقُوْلُوْنَ رَبَّنَا ، دا صفت دے دَ المستضعفين۔
أَخْرِجْنَا مِنْ هٰذِهِ الْقَرْيَةِ الظَّالِمِ أَهْلُهَا ، دَ قريه ، نه مراد مکه مکرمه ده - الظَّالِمِ ، ديته صفت بحال متعلقه وئيلے شي او اهْلُهَا ئے دَ دوه وجو نه ذکر کړو اول وجه ذکر دَ کلام دَپه حقيقت باندے ځکه چه ظلم کول دَ اوسيدونکو صفت دے - دويمه وجه ، دا ده چه په نسبت دَ ظلم کښ قريه ته دَ مکے مکرمے توهين لازميږي - او دَ ظلم نه مراد شرک او کفر کول او مؤمنانو ته قسما قسم تکليفونه رسول دي - او دَ دے صفت په تعميم سره دا حکم دَ مکے ته غير نورو علاقو ته هم شامل دے چه په هغے کښ دا سے حالات وي۔
وَاجْعَلْ لَنَا مِنْ لَّدُنْكَ وَلِيًّا ، دَ وَلِيٌّ ، نه مراد دا سے شخص دے چه دوي لره دَ ظالمانو دَ ظلم نه خلاص کړي او دَ دوي دَ دين او نفسونو حفاظت اوکړي يا دَ دوي دَپاره دَ هجرت لار اسانه کړي۔
وَاجْعَلْ لَنَا مِنْ لَّدُنْكَ نَصِيْرًا ، نصرت دَ انسانانو دَ يو بل سره په معنیٰ دَ موسته او ډله کولو دے لکه چه دَ عيسیٰ عليه السلام حواريينو وئيلي وو نحن انصار الله - او بعضو مفسرينو وئيلي دي چه وليًا او نصيرًا کښ مصدري معنیٰ مراد ده يعني ولايةً ونصرةً - او الله تعالیٰ دَ دوي دا دُعا قبوله کړه او ورسره دَ نبي صلی الله عليه وسلم دُعا دَ قنوت نازله په طريقه هم يوځاے شوه ځکه چه په حديث دَ بخاري کښ ذکر دي چه نبي صلی الله عليه وسلم هر کله دَ رکوع نه سر (دَ مونځ په آخر کښ) راپورته کړو نو دَ بعضے سړو (مستضعفين) دَ نجات دَپاره دُعا غوښتله چه وليد بن الوليد ، سلمه بن هشام او عياش بن ابي ربيعه رضی الله عنهم وو او دَ کافرانو دَپاره ئے عذاب غوښتلو (کتاب الاذان باب يهوي بالتکبير حين يسجد) نو دا دُعا کانے

اَلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا يُقَاتِلُوْنَ فِيْ
مؤمنان جنګ کوي په

سَبِيْلِ اللّٰهِ ۚ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا
لار د الله تعالیٰ کښ، او کافران

يُقَاتِلُوْنَ فِيْ سَبِيْلِ الطَّاغُوْتِ
جنګ کوي په لار د شيطان کښ

فَقَاتِلُوْٓا اَوْلِيَآءَ الشَّيْطٰنِ ۚ
نو جنګ اوکړئ د ملګرو د شيطان سره،

اِنَّ كَيْدَ الشَّيْطٰنِ كَانَ ضَعِيْفًا ﴿۷۶﴾
يقيناً مکر د شيطان کمزورے دے (په مقابله د مکر د الله تعالیٰ کښ).

دا سے قبولے شوے چه مکه مکرمه فتح شوه او د هغې والي ئې عتاب بن اسيد رضی الله عنه مقرر کړو او هغه د مکے د مؤمنانو پوره حفاظت اوکړو او مظلومان ئې بچ کړل۔

۷۶:- په دے آيت کښ هم جهاد ته ترغيب دے په ذکر د بل علت سره چه هغه مقابله کول دي په اصل مقصد کښ يعنی د کافرانو مقصد د طاغوت کلمه اوچتول دي او د مؤمنانو مقصد کلمه د الله پورته کول دي نو مؤمنانو لره ضرور جهاد کول پکار دی۔

يُقَاتِلُوْنَ فِيْ سَبِيْلِ الطَّاغُوْتِ، د طاغوت، نه مراد عام دے شيطان جني او انسي، معبود من دون الله وی او که حاکم وی او د دے سبيل نه مراد هر قسم کفر او شرک او بے ديني ده۔ فَقَاتِلُوْٓا اَوْلِيَآءَ الشَّيْطٰنِ، فاء، د تفريع د پاره ده په مخکښ مقابله باندے۔ اَوْلِيَآءَ، نه مراد هغه څوک دي چه د کفر او شرک او ظلم د پاره قتال کوي او دا دليل دے چه د سبيل الطاغوت د پاره قتال او نصرت کول دا د شيطان سره

أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ قِيلَ

آيا نه گورې هغه كسانو ته چه اُوئيلے شو

لَهُمْ كُفُّوا أَيْدِيَكُمْ وَأَقِيمُوا

هغوئ ته بند كړئ لاسونه خپل او پابندي كوئ

الصَّلَوٰةَ وَآتُوا الزَّكَوٰةَ ج فَلَمَّا

د مانځه او وركوئ زكوٰة نو هر كله چه

كُتِبَ عَلَيْهِمُ الْقِتَالُ إِذَا فَرِيقٌ

فرض كړے شو په هغوئ باندے جنګ نو دغه وخت يوه ډله

مِّنْهُمْ يَخْشَوْنَ النَّاسَ

د هغوئ نه يره كوي د خلقو نه

كَخَشْيَةِ اللَّهِ أَوْ أَشَدَّ خَشْيَةً ج

پشان د يرے د الله تعالىٰ نه بلكه زيات دى په يره كښ

دوستانه كول دى۔
إِنَّ كَيْدَ الشَّيْطٰنِ كَانَ ضَعِيفًا ، دا دليل دے د پټ كلام د پاره يعنى د شيطان د ملكرو نهيڅ يره مه كوئ ځكه چه هغه او د هغه د ملګرى كمزورى دى۔ كَيْد ، په اصل كښ كوشش او تدبير ته وئيلے شى چه د چا د تكليف وركولو د پاره د حيلے په طريقے كيدےشى (امام رازى)۔
سوال :- په سوره يوسف ع ٢٨ كښ فرمائيلے دى چه (إِنَّ كَيْدَكُنَّ عَظِيمٌ)۔ نو د زنانو كيد خو د شيطان د كيد نه زيات نشى كيدے ؟
جواب :- هلته د زنانو كيد د نارينو د كيد په مقابله كښ مراد دے او هغه لوے دے۔ او دلته په مقابله د الله تعالىٰ د كيد كښ مراد دے يعنى د شيطان كيد د الله تعالىٰ د كيد په

وَقَالُوا رَبَّنَا لِمَ كَتَبْتَ عَلَيْنَا

او وائی چه اے ربه ولے فرض کړو تا په مونږ باندے

الْقِتَالَ ۚ لَوْلَا أَخَّرْتَنَا إِلَىٰ أَجَلٍ

جنګ ولے نه روستو کولو تا مونږ نیزدے

قَرِيبٍ ۗ قُلْ مَتَاعُ الدُّنْيَا

پورے . اُوایه مزے دَ دُنیا

قَلِيلٌ وَالْآخِرَةُ خَيْرٌ لِمَنِ

لږے دی او آخرت غوره دے هغه چا لره

اتَّقَىٰ وَلَا تُظْلَمُونَ فَتِيلًا ﴿٧٧﴾

چه یریږی دَ الله تعالیٰ نه - او ظلم به نشی کیدے په تاسو په قدار دَ تار دَ هډوکی دَ کجورے

مقابله کښ کمزورے دے -

۷۷ :- دَ دے آیت نه تر ۹۱ پورے دَ دے حصے دویم باب دے په دیکښ دَ منافقانو زجرونه او دَ هغوی اته قبائح ذکر کوی چه هغه متعلق دی دَ مخالفت دَ رسول صلی الله علیه وسلم سره - دا قبائح تر ۸۳ پورے ذکر کیږی - بیا تشجیع (بهادری ورکول) ده په قتال باندے او دَ هغے آداب ذکر کوی سره دَ غایے دَ قتال نه چه هغه توحید دے تر ۸۷ پورے - بیا دَ منافقانو تقسیم ذکر کوی څلورو قسمو نو ته (دَ هغه منافقانو چه دَ دار اسلام نه بهر وی) اول قسم هجرت نه کوونکی، دویم قسم معاهد دریم عاجز دَ قتال نه څلورم قسم مرکوس (وړننوتلی) په فتنه کښ - دَ اول او څلورم قسم سره حکم دَ قتال دے او دَ دویم او دریم سره دَ قتال حکم نشته -

ربط :- هر کله چه په قتال باندے ترغیبات ذکر شول نو اوس زجر ذکر کوی په پریخودلو دَ قتال سره -

أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ قِيلَ لَهُمْ كُفُّوا أَيْدِيَكُمْ ، دَ دے په

سبب نزول کښې اختلاف دے۔ بعضو مفسرینو وئیلی دی چه دا د هغه مؤمنانو په باره کښې نازل شویدے چه د قتال د فرضیت نه روستوئے سستی اوکړه پښان د منافقانو په باره د جهاد کښې۔ او بعضو وئیلی دی چه دا نازل شویدے په باره د منافقانو کښې۔ او دا دویم قول صحیح دے په دلیل د دے چه يَخْشَوْنَ النَّاسَ او لِمَ كَتَبْتَ عَلَيْنَا الْقِتَالَ ۔ او روستو آیتونو کښې هم د منافقانو ښکاره صفات دی۔ قِيلَ لَهُمْ كُفُّوا أَيْدِيَكُمْ، دا وئیلے شوے وُ ټولو مؤمنانو ته په مکه مکرمه کښې دا رنګ د مدینے په اول ژوند کښې په هغه وخت چه اسباب او قوت د قتال مؤمنانو ته نه وو حاصل شوے نو په دا سے وخت کښې د دین په نورو فرائضو باندے پابندئ سره عمل کول پکار دی د دے د پاره چه د قتال د پاره تیارشی نو د دے وجه نه ئے ورپسے ذکر کړے دے چه وَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ وَآتُوا الزَّكَاةَ، اشاره ده چه ترڅو پورے انسان د الله تعالیٰ د حکم په بدن او په مال سره پوره تابع نه وی نو هغه جهاد هم نشی کولے ځکه چه اول جهاد د نفس دے بیا روستو جهاد د کافرانو سره دے۔

فَلَمَّا كُتِبَ عَلَيْهِمُ الْقِتَالُ، د قِتَال فرضیت مخکښې په سورة بقره کښې او په هغه مدنی سورتونو کښې ذکر دے کوم چه د سورة نساء نه مخکښې نازل شویدی۔

إِذَا فَرِيقٌ مِّنْهُمْ، إِذَا د مفاجات د پاره دے یعنی د دوی د دعوے د ایمان نه خو دا نه معلومیدله چه دوی به د قتال نه مخ اړوی لیکن ناڅاپه ئے دا کار اوکړو۔ لفظ فَرِيقٌ دلیل دے چه دا حکم د ټولو ایمان والو د پاره نه دے بلکه صرف د منافقانو د پاره دے۔

يَخْشَوْنَ النَّاسَ، د خشیت نه مراد خوف دے د قتل نه او النَّاسَ، نه مراد کافران دی او دا خشیت صرف طبعی نه دے مراد بلکه دا د بزدلئ او منافقت د وجه نه دے نو د دے وجه نه دا یو قبیح صفت دے۔

كَخَشْيَةِ اللّٰهِ، دَ دينه مراد خشيت دے دَ عذاب دَ الله تعالىٰ نه چه په زړه او طبيعت دَ هر بشر بلكه ټول مخلوق كښ موجود دے چه هغه يره دَ مرګ دَ يا دَ نزول دَ عذاب دَ الله تعالىٰ دَ طرف نه - او په عبارت كښ تقدير دے يعنى مِثْلَ خَشْيَتِهِمْ مِّنَ اللّٰهِ - يا دَ دينه مراد خشيت دَ مؤمنانو دے دَ الله تعالىٰ نه او عبارت كښ تقدير دے يعنى مِثْلَ اَهْلِ خَشْيَةِ اللّٰهِ.

اَوْ اَشَدَّ خَشْيَةً، دَ دے تركيب دَ سورهِ بقره ۷۴ كښ پښان دے. اَوْ په معنىٰ دَ بل سره دے دَ ترقئ دَ پارهِ دے - يا په معنىٰ دَ واو سره دے يا دَ تنويع دَ پارهِ دے يعنى بعضے يره كوى پښان دَ يرے دَ الله تعالىٰ نه او بعضے دَ هغے نه زياته يره كوى.

وَقَالُوْا رَبَّنَا لِمَ كَتَبْتَ عَلَيْنَا الْقِتَالَ، قرطبي وئيلى دى چه معاذ الله چه دا سے قول دَ يو صحابى نه صادر شى (او ورپسے ئے دَ هغوى صفات حسنه ذكر كړے دى) - نو دا صفت قبيحه دَ منافقانو دے چه په الله تعالىٰ باندے اعتراض كوى.

لَوْلَآ اَخَّرْتَنَآ اِلٰٓى اَجَلٍ قَرِيْبٍ، دا دواړه اقوال دَ دوى مستقل او جدا جدا دى دَ دے وجے نه ئے په عطف سره ذكر نه كړل - او دَ اجل قريب نه مراد نيټه دَ مرګ ده. زمخشري وئيلى دى چه دَ دے جملے مقصد دَ دوى زياتوالے دے په مدت دَ كف عن القتال او مهلت طلب كول دى دَ فرضيت دَ قتال نه.

قُلْ مَتَاعُ الدُّنْيَا قَلِيْلٌ، هر كله چه دَ دوى اعراض دَ قتال نه په سبب دَ محبت دَ دنيا سره دے نو دَ دے وجے نه الله تعالىٰ تحقير دَ دنيا او تقابل دَ دنيا او آخرت ذكر كوى. مَتَاعٌ، نه مراد دَ دنيا ټول هغه څيزونه دى چه په هغے سره دَ دنيا فائدے حاصليږى. قَلِيْلٌ، قلت (كموالے) په اعتبار دَ فنا سره او دَ زر زائله كيدلو سره دے. قرطبي وئيلى دى چه قليل ورته دَ دے وجے نه اُوئيلو چه بقاء ئے نيشته او دا سے په سورهِ توبه ۳۸ كښ هم دى.

أَيْنَ مَا تَكُونُوا يُدْرِكْكُمُ

هر ځائے چه یئ تاسو لاندے کوی به تاسو لره

الْمَوْتُ وَلَوْ كُنْتُمْ فِي بُرُوجٍ

مرګ اګر چه یئ تاسو په قلعه ګانو

مُشَيَّدَةٍ ۗ وَإِنْ تُصِبْهُمْ حَسَنَةٌ

مضبوطو کښ او که چه اورسیږی دوی ته خوشحالی

يَقُولُوا هَٰذِهِ مِنْ عِنْدِ اللَّهِ ۖ

دوی وائی دا د طرف د الله تعالیٰ نه ده

وَإِنْ تُصِبْهُمْ سَيِّئَةٌ يَقُولُوا

او که اورسیږی دوی ته تکلیف دوی وائی

هَٰذِهِ مِنْ عِنْدِكَ ۚ قُلْ

دا ستا د طرف نه دے ته اُووایه

كُلٌّ مِنْ عِنْدِ اللَّهِ ۖ

دا ټول د الله تعالیٰ د طرف نه دی،

وَالْاٰخِرَةُ خَيْرٌ لِّمَنِ اتَّقٰى، آلوسی وئیلی دی چه د آخرت نه مراد ثواب د آخرت دے چه هغه په ښه اعمالو سره حاصلیږی اوخاص په هغه عملونو کښ قتال فی سبیل الله دے۔ خَيْرٌ، دا په اعتبار د بقاء د نعمتونو او د ژوند د آخرت (جنت) سره دے لکه چه په سورة نحل ۹۶ کښ دی (مَا عِنْدَكُمْ يَنْفَدُ وَمَا عِنْدَ اللّٰهِ بَاقٍ)۔ لِمَنِ اتَّقٰى، یعنی د آخرت نعمتونه خاص په تقوٰی سره حاصلیږی۔ قرطبی وئیلی دی چه اتقی المعاصی (د ټولو ګناهونو نه ځان ساتل) کفر شرک او مخالفت د الله تعالیٰ او د رسول صلی الله علیه وسلم نه

فَمَالِ هٰٓؤُلَآءِ الْقَوْمِ لَا

نو څه وجه ده د دے قوم چه نه دی

يَكَادُوْنَ يَفْقَهُوْنَ حَدِيْثًا ﴿٧٨﴾

نيز دے چه پوهه شي په څه خبره يا ندے.

بچکيان لو ته شامل دے۔
وَلَا تُظْلَمُوْنَ فَتِيْلًا ، د ظلم نه مراد نقصان د ثواب دے د عملونو يعني په تقوىٰ سره عملونه د بربادئ نه بچ پاتے کيږي.
۷۸:۔ دا جمله د لَوْلَآ اَخَّرْتَنَا سره متعلق ده يعني په تاخير کښ هيڅ فائده نشته ځکه چه د مرګ نه خلاصے نشته ۔ يا هر کله چه د قتال نه د اعراض د پاره دوه وجے دي ۔ اول حرص د دنيا نو د هغے ترديد يے اوکړو په قُلْ مَتَاعُ الدُّنْيَا قَلِيْلٌ سره او دويمه وجه ويره د مرګ نه نو د هغے په باره کښ يے اوفرمائيل چه (اَيْنَ مَا تَكُوْنُوْا يُدْرِكْكُّمُ الْمَوْتُ ، هر کله چه هره وجه مستقله ده د دے وجے نه يے دا دويمه جمله نه ده عطف کړے په اوله جمله باندے ۔ دا رنګ په صحيح حديث کښ د ترک القتال وجه وهن ذکر کړے شوے او د وهن تفسير يے په محبت د دنيا او په خوف د موت سره ذکر کړے دے ۔ په لفظ د "اَيْنَمَا" کښ تعميم د مکانونو ذکر دے تعميم د زمان يے نه دے ذکر کړے ۔ ځکه چه تعميم د کون په مکان تو کښ مستلزم دے تعميم د زمانو لره او تعميم د زمانے تعميم د مکان لره نه دے مستلزم ۔ يُدْرِكْكُّمْ ، ادراک احاطے کولو او پوره راګيرولو ته وئيلے شي او د دے تفسير په سورة جمعة ۸ کښ دے ۔
وَلَوْ كُنْتُمْ فِيْ بُرُوْجٍ مُّشَيَّدَةٍ ، بُرُوْجٍ ، جمع د برج ده په ديکښ معنىٰ د ظهور پرته ده لکه په دے قول کښ چه (وَلَا تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِ الْاُوْلٰى ، نو بروج هم هغه قلعه ګانو ته وئيلے شي چه د لرے نه ښکاريږي او

دلته په دیکښې ډیر اقوال دي.
۱ قلعه ګانې دَ زمکې ۲ په آسمانونو کښې ۳ بروج دَ آسمانونو.
۴ منازل دَ سپوږمۍ ۵ غټ ستوري. لیکن اول قول غوره دے.
مُشَیَّدَةٍ، جوړ کړے شویدی په شید (چونے) سره یا په معنیٰ دَ ډنګې او اوږدے سره. وَلَوْ كُنْتُمْ، لَوْ په معنیٰ دَ اِنْ سره دے یا وصلیه دے نو دَ دینه معلومه شوه چه دَ مرګ راتلل تاسو له بغیر دَ برجونو نه خو په طریقه اولی سره آسان دي (اللباب).
وَاِنْ تُصِبْهُمْ حَسَنَةٌ يَّقُوْلُوْا هٰذِهٖ مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ وَاِنْ تُصِبْهُمْ سَيِّئَةٌ يَّقُوْلُوْا هٰذِهٖ مِنْ عِنْدِكَ، دا دَ منافقانو دَ بل قباحت ذکر کوي. حَسَنَةٌ عام دے سلامتیا، امن او فراخ کالي، خوشحالي، فتح، نعمت او غنا ټولو ته شامل دے. او سَيِّئَةٌ هم عام دے مرضونو، قحط، یره، ګراني، غمونه او سختۍ او دَ ملګرو قتل او شکست او فقیري وغیره. هٰذِهٖ مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ، الله تعالیٰ ته نسبت په طریقه دَ شکر سره نه دے بلکه نفي دَ اثر دَ اتباع رسول مقصد ده یعني دوی وائي چه دَ دے رسول دَ راتللو او دَ ده دَ تابعدارۍ کولو په برکت سره دا حسنه نه ده بلکه صرف دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه ده. يَقُوْلُوْا هٰذِهٖ مِنْ عِنْدِكَ، یعني ستا دَ سپیره والي دَ وجے نه ده لکه چه قوم دَ موسیٰ علیه السلام وئیلي وُو چه په سورة اعراف ۱۳۱ کښې ذکر دي او قوم دَ صالح علیه السلام دغسې وئیلي وو چه په سورة نمل ۴۷ کښې یا مراد دا چه ستا دَ بے تدبیرۍ دَ وجے نه دے یعني دوي وئیل چه دا رسول په تدبیر او سیاست باندے ته پوهیږي نو ځکه په موږ باندے شکست او بدحالي راځي.
قُلْ كُلٌّ مِّنْ عِنْدِ اللّٰهِ، دا رد دے دَ دوی په باطله عقیده باندے او دا ارشاد کول دي حق خبرے ته چه نعمت او مصیبت ټول دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه په اعتبار دَ خلق او یا ایجاد سره او په اعتبار دَ قضاء او قدر سره دي او دا اجمالي جواب دے.
فَمَالِ هٰٓؤُلَآءِ الْقَوْمِ لَا يَكَادُوْنَ يَفْقَهُوْنَ حَدِيْثًا، په دیکښې هم دَ منافقانو بل خصلت ذکر کوي. دا کلام په

مقام دَ تعجب کښ دے چه نسبت دَ ټولو کارونو الله تعالیٰ ته
خو بالکل ښکاره خبره ده او دوی په دے پا نہ ے هم نه
پوهيږي دَ ډير جهل دَ وجے نه - او په دے جمله کښ ډيره
مبالغه ده په بيان دَ جهل دَ دوی کښ - اول دا چه نفی دَ
نيزديکت دَ پوهے ئے کړيده يعنی پوهيدل خو دَ دوی دَ
شان نه ډيره لرے خبره ده دوی خو پوهيدلو ته نيزدے هم
نه دی يعنی هيڅ استعداد دَ فقاهت پکښ نشته - دويم دا چه
فما لهولآء استفهام دَ علت دے او مستلزم دے وجود دَ
مقابل لره يعنی دَ نيزديکت دَ فقاهت دَ دوی هيڅ سبب نشته.
حَدِيثًا ، اګرچه نکره ده دَ پاره دَ مبالغے ليکن مراد ترينه خبر
دَ دين دے چه نازل شويدے دَ طرف دَ الله تعالیٰ نه نو قرآن
او احاديثو دواړو ته شامل دے - يا دَ دينه مراد دغه مخکښ
خبره ده چه هرڅه دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه دی او حوادث دَ
زمانے هم دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه دی او دوی دَ هغے فاعل حقيقی
نه پيژنی - او فقه عميق فهم ته وئيلی شی چه په هغے سره دَ
حکمتونو راويستل کيږی دَ کتاب الله او سنت رسول صلی الله
عليه وسلم نه دَ دے وجے نه فقه اجتهاد ته او فقيه مجتهد
ته وئيلے شی - او مقصود په دين کښ تفقه ده په دليل دَ
سورة توبه ۱۲۲ سره او دا دليل دے چه منافق شخص کښ
ظاهری علم او فهم راتلے شی ليکن تفقه پکښ نه راځی -
فائده ۱ :- نفی دَ فقاهت دَ منافقانو نه په ډيرو آياتونو
کښ ده لکه سورة توبه ۸۱ ، ۸۷ ، ۱۲۷ ، سورة فتح ۱۵ ،
سورة حشر ۱۳ ، سورة منافقون ۷ ، ۳ - او دا رنګ نفی
دَ فقاهت دَ عامو کافرانو نه په سورة انعام ۲۵ ، ۶۵ ، سورة
اعراف ۱۷۹ ، سورة انفال ۶۵ ، سورة اسراء ۴۶ او سورة
کهف ۵۷ - او دَ قرآن کريم دَ آيتونو تفصيل دَ فقاهت دَ
حصول دَ پاره دے لکه سورة انعام ۹۸ کښ دی -
فائده ۲ :- لفظ حديث په قرآن کريم کښ ديرويشت ۲۳ کرته

مَآ اَصَابَكَ مِنْ حَسَنَةٍ

هغه چه اورسیده تاته څه خوشحالی

فَمِنَ اللّٰهِ ز وَمَآ اَصَابَكَ مِنْ

نو دا د فضل د الله نه ده او هغه چه اورسیدو تاته څه

سَيِّئَةٍ فَمِنْ نَّفْسِكَ ط

څه تکلیف نو دا د (روج د غلطئ) ستا نه دے،

وَاَرْسَلْنٰكَ لِلنَّاسِ رَسُوْلًا ط

لیږلے یئے مونږ ته خلقو ته رسول

وَكَفٰى بِاللّٰهِ شَهِيْدًا ﴿۷۹﴾

او پوره دے الله تعالیٰ حاضر ناظر۔

راغلی دے۔ حدیث هغه خبرے ته وئیلے شی چه هغه نقل کړے شویوی۔ نو کله مطلق خبرو ته وئیلے شی لکه په سورة نساء ۱۴۰ اوسورة انعام ۶۸، سورة لقمان ۶ او سورة احزاب ۵۳۔ او کله قصے ته وئیلے شی لکه سوره طه ۹، سوره ذاریات ۲۴ او سورة بروج ۱۷ کښې۔ او کله د رسول الله صلی الله علیه وسلم خبرے ته وئیلے شی لکه سورة تحریم ۳ کښې او اکثر قرآن ته او وحی د الله تعالیٰ ته وئیلے شی چه هغه په ډیرو سورتونو کښې ذکر دے لکه سورة اعراف ۱۸۵، سورة کهف ۶، سورة زمر ۲۳، سوره جاثیه ۶، سورة نجم ۵۹، سورة واقعه ۸۱، سورة مرسلات ۵۰، سورة نساء ۸۷ او سورة یوسف ۱۱۱ اواحادیث په صیغه د جمع سره پنځه کرته ذکر دی۔

۷۹: په دے خطاب کښې دوه اقوال دی اول دا چه دا خطاب دے نبی صلی الله علیه وسلم ته لیکن مراد ترینه امت دے او داسے په ډیرو آیاتونو کښې شته دے۔ دویم

قول دا دے چه دا خطاب عام دے هر انسان ته سیوا دَ نبی صلی الله علیه وسلم نه او معنیٰ ئے دا ده چه (مَآ اَصَابَكَ مِنْ حَسَنَةٍ فَمِنَ اللّٰهِ)، دَ الله تعالیٰ دَ فضل دَ وجے نه ده په هغه باندے څه حق واجبه نشته۔

وَمَآ اَصَابَكَ مِنْ سَيِّئَةٍ فَمِنْ نَّفْسِكَ ، دا دَ وجے دَ ګناه ستا نه او نفس ، نه مراد نفس اماره بالسوء دے۔

سوال :- په مخکښې آیت کښې دا سے قول دَ منافقانو رد کړے وو او وئیلے وو چه دا قول دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه دی او اوس په دے آیت کښې الله تعالیٰ ثابت کړه چه ها سیئه دَ انسان دَ نفس دَ وجے نه ده ؟

جواب ۱ :- هلته من عندك کښې مقصد دَ منافقانو سپیره والے دَ نبی صلی الله علیه وسلم وو نو هغه نسبت کفر وو او نسبت الله تعالیٰ ته دَ هر څیز په طریقه دَ خلق او دَ تقدیر سره وو. او دلته نسبت دَ سیئه انسان ته په سبب ظاهری سره دے چه هغه ګناهونه دی او دا سے په سورة شوری ۳۰ کښې هم دی۔

جواب ۲ :- په ما اصابك من سيئة کښې استفهام پټ دے او استفهام انکاری دے۔

جواب ۳ :- دَ دے آیت په سر کښې لفظ يَقُوْلُوْنَ پټ دے او دا تفصیل دے دَ عدم فقاهت۔

وَاَرْسَلْنٰكَ لِلنَّاسِ رَسُوْلًا ، په دے جمله کښې مقصد عظمت شان او عموم بعثت دَ رسول صلی الله علیه وسلم دے دَ پاره دَ رد په منافقانو چه رسول صلی الله علیه وسلم ته دَ سپیره والی نسبت کوی او په دیکښې رد دے په هغه چا باندے چه عقیده لری دَ اختصاص دَ رسالت دَ رسول صلی الله علیه وسلم په صرف عربو پورے۔

وَكَفٰى بِاللّٰهِ شَهِيْدًا ، دا هم رد دے په منافقانو او په نورو منکرینو دَ رسالت دَ نبی صلی الله علیه وسلم باندے چه الله تعالیٰ پوره دے په شهادت کولو په رسالت او په صدق دَ دے

مَنْ يُّطِعِ الرَّسُوْلَ فَقَدْ

چاچه اومنلو حکم دَ رسول نو یقیناً

اَطَاعَ اللّٰهَ ۚ وَمَنْ تَوَلّٰى فَمَآ

حکم یې اومنلو دَ الله تعالیٰ او چاچه مخ اوګرځوو نو نه یې

اَرْسَلْنٰكَ عَلَيْهِمْ حَفِيْظًا ﴿۸۰﴾

لیږلے موږ ته په دوی باندے ساتنه کوونکے۔

رسول باندے نو که تور خلق ورباندے ایمان راوړی او که نه راوړی - او شهادت دَ هغه په رسالت باندے په ډیرو آیاتونو کښ ذکر دے لکه په سوره انعام ۱۹، سوره رعد ۴۳، سوره اسراء ۹۶، سوره عنکبوت ۵۲، سوره احقاف ۸، او فتح ۲۸۔

۸۰:- په مخکښ آیت کښ اثبات وو دَ رسالت دَ رسول صلی الله علیه وسلم نو په دے آیت کښ استحکام دَ رسالت دَ هغه دے او ذکر دَ حق دَ رسالت دَ هغه دے چه هغه اطاعت دَ هغه دے۔

مَنْ يُّطِعِ الرَّسُوْلَ فَقَدْ اَطَاعَ اللّٰهَ، دَ دے وجه دا ده چه اطاعت دَ رسول دَ هغه دَ رسالت دَ وجے نه دے او خبره دَ قاصد (رسول) خبره دَ مُرسِل وی چه هغه الله تعالیٰ دے او بل تعبیر دا دے چه رسول هره خبره چه کوی نو په وحی دَ الله تعالیٰ سره کوی په دلیل دَ (مَا يَنْطِقُ عَنِ الْهَوٰى اِنْ هُوَ اِلَّا وَحْيٌ يُّوْحٰى) سره - او وحی خو حکم دَ الله تعالیٰ دے - او په دے وجوهو سره اطاعت دَ الله تعالیٰ اطاعت دَ رسول نشی کیدے دَ دے وجے نه دا سے یې نه دی وئیلی چه (وَمَنْ يُّطِعِ اللّٰهَ فَقَدْ اَطَاعَ الرَّسُوْلَ)- او لفظ رسول کښ اشاره ده چه دا شان دَ الله تعالیٰ دَ هر یو رسول دے او دا رنګ لفظ

وَيَقُولُونَ طَاعَةٌ ۡ فَإِذَا بَرَزُوا

او وائی دوی زمونږ کار ستا خبره منل دی نو کله چه دوی اوځی

مِنْ عِندِكَ بَيَّتَ طَآئِفَةٌ

ستا د خوانه جرګه کوی یوه ډله

مِّنْهُمْ غَيْرَ الَّذِي تَقُولُ ۖ

د دوی نه سیوا د هغې نه چه وئیلې وی دوی،

وَاللَّهُ يَكْتُبُ مَا يُبَيِّتُونَ ۖ

او الله تعالیٰ لیکی هغه چه دوی څه جرګې کوی،

فَأَعْرِضْ عَنْهُمْ وَتَوَكَّلْ عَلَى

نو مخ واړوه د دوی نه او ځان سپاره په

اللَّهِ ۚ وَكَفَىٰ بِاللَّهِ وَكِيلًا ﴿٨١﴾

الله تعالیٰ باندے، او پوره دے الله تعالیٰ ذمه وار د کارونو۔

رسول کښ علت د دے حکم ته اشاره ده۔

وَمَنْ تَوَلّٰى فَمَآ اَرْسَلْنٰكَ ، د مَنْ ، جزاء پټه ده یعنی مَنْ تَوَلّٰى فَاَعْرِضْ عَنْهُ په قرينه د سوره نجم ۲۹ سره۔ او فَمَآ اَرْسَلْنٰكَ علت دے د جزاء۔

عَلَيْهِمْ حَفِيْظًا ، حفاظت کوونکے د عملونو د دوی او حساب کوونکے (قرطبی)۔ حَافِظًا ئے نه دی وئیلی ځکه چه نفس حفاظت کښ تبلیغ د احکامو داخل دے ځکه چه په هغے سره بچ کول کیږی د ګناهونو نه او د غضب د الله تعالیٰ نه، نو هغه صفت د رسول کیدے شی۔ او نفی د حفاظت د نبی صلی الله علیه وسلم نه د قتال سره منافی نه ده۔ د دے وجے دا آیت په آیت د قتال سره نه دے منسوخ۔

۸۱ :- په دیکښ د منافقانو نور قبائح ذکر کوی۔

طَاعَةٌ، دَ دے مبتداء پټه ده یعنی اَمْرُنَا وَشَانُنَا طَاعَةٌ۔ یا دَ دے خبر پټ دے یعنی منا طاعه۔ او په دیکښ عبارت پټ دے یعنی اِذَا كَانُوْا عِنْدَكَ يَقُوْلُوْنَ یعنی هر کله چه دوی ستا په خوا کښ وی نو دا سے وائی۔

فَاِذَا بَرَزُوْا مِنْ عِنْدِكَ بَيَّتَ طَآئِفَةٌ مِّنْهُمْ، یعنی چه اووځی ستا دَ مجلس نه۔ بَيَّتَ، قرطبی او نورو مفسرینو دَ دے ډیرے معنے لیکلے دی لکه دروغ جوړول او دَ هغے خائسته کول، بدلول او تحریف کول او دَ شپے جړګے کول۔ او دَ دے معنی تائید دَ دے سورت په ۱۰۸ کښ دے۔ طَآئِفَةٌ مِّنْهُمْ، په دیکښ اشاره ده چه یوه بله طائفه دَ مخلص ایمان والو ده چه هغوی دَ رسول صلی الله علیه وسلم دَ طاعت نه هیڅ خلاف نه کوی۔

غَيْرَ الَّذِيْ تَقُوْلُ، په تقول کښ دوه اقوال دی۔ اول دا چه دا صیغه دَ مخاطب ده او خطاب دے نبی صلی الله علیه وسلّم ته او مراد او امر او نواهی دَ رسول صلی الله علیه وسلم او سنت دَ هغه دے او دَ غیر نه مراد دَ سنت دَ نبی صلی الله علیه وسلّم نه خلاف خبرے دی چه هغه کفر شرک بدعات او فسق وفجور دی۔

دویم قول دا دے چه تقول صیغه دَ مؤنث غائب ده ضمیر پکښ طائفه ته راجع دے او قول دَ هغوی مخکښ ذکر شو په طاعه سره او غیر دَ هغے نه معصیت دے۔

وَاللّٰهُ يَكْتُبُ مَا يُبَيِّتُوْنَ، یَكْتُبُ نه مراد لیکل دی په صحیفو دَ ملائکو کښ یا مراد ترینه نازلول دی په کتاب (قرآن) کښ دَ پاره دَ اخبار دَ نبی صلی الله علیه وسلم۔ قرطبی وئیلی دی چه دا آیت دلیل دے چه صرف قول (بغیر دَ عمل نه) په اسلام کښ هیڅ فائده نه ورکوی۔

فَاَعْرِضْ عَنْهُمْ، ضحاک وئیلی دی چه دَ اعراض کولو نه مقصد دا دے چه دَ وعظ په وخت کښ دَ دوی نومونه مه ذکر کوئ ګنی نو دشمنی به شروع کړی۔ ابوحیان وئیلی دی

أَفَلَا يَتَدَبَّرُوْنَ الْقُرْاٰنَ ۭ وَلَوْ

آیا نو دوی سوچ نه کوی په قرآن کښې، او که

كَانَ مِنْ عِنْدِ غَيْرِ اللّٰهِ

وے قرآن د طرف د غیر الله نه

لَوَجَدُوْا فِيْهِ اخْتِلَافًا كَثِيْرًا ﴿۸۲﴾

خامخا موندلے به وو دوی په هغے کښې غلطی ډیره -

چه په زړه کښې هم د دوی نه د بدل اخستلو سوچ مه کوه - وَتَوَكَّلْ عَلَى اللّٰهِ، دلته د امر نه مراد دوام د توکل علی الله دے او مقصد دا دے چه الله تعالیٰ به تا لره د دوی د شر نه بچ کوی نو په هغه باندے ځان اوسپاره - او دا آداب د ټولو منافقانو سره په هر وخت کښې استعمالیږی نو دا د قتال په آیتونو سره منسوخ نه دی -

وَكَفٰى بِاللّٰهِ وَكِيْلًا، دا علت دے د پاره د تخصیص د توکل په الله تعالیٰ پورے -

۸۲: ربط ۱: - آلوسی وئیلی دی چه ګویا دا سوال وجواب دی هرکله چه مخکښې د نبی صلی الله علیه وسلّم په صدق باندے شهادت د الله تعالیٰ ذکر شو نو سوال پیدا شو چه د الله تعالیٰ شهادت څنګه معلومیږی نو او وئیلے شو چه أَفَلَا يَتَدَبَّرُوْنَ..... یعنی په تدبر د قرآن سره صدق د دے نبی معلومیږی ځکه چه صدق د قرآن مستلزم دے صدق د دے رسول لره -

ربط ۲: - هر کله چه د منافقانو د قباحتونه معلومه شوه چه هغوی د دے قرآن او رسول صدق نه منی نو اوس دعوت ورکوی تدبر کولو ته په هغه دلیلونو کښې چه د هغه په صدق باندے دلالت کوی -

أَفَلَا يَتَدَبَّرُوْنَ..... آه، په دے جمله کښې زجر دے منافقانو ته او د هغوی یو قباحت ذکر کوی چه دوی په قرآن کریم

کښې تدبر نه کوی - داسے ئې نه دی وئیلی چه أَفَلَا يَقْرَءُونَ
وَيَتْلُونَ ځکه چه منافقان خو د قرآن قراءت او تلاوت کوی
لکه چه په حدیث خوارج کښې راغلی دی (يَقْرَءُونَ الْقُرْآنَ
لَا يُجَاوِزُ تَرَاقِيَهُمْ) قرآن به دوی لولی لیکن د مرونه به
ئې نه پورے وځی - نو اصل مقصد په قرآن کښې تدبر او
تفکر کول دی او داسے په سورة محمد ۲۴ کښې د منافقانو
په صفت کښې او په سورة مؤمنون ۶۸ کښې د مشرکانو په صفت
کښې ذکر دی - قرطبی وئیلی دی چه دا دلیلونه دی چه په قرآن
کښې تدبر واجب دے د دے د پاره چه د هغې معنی او مقصدونه
او پیژنی - او د هغه چا قول فاسد دے چه وئیلی دی چه اکتفاء
به کیدیشی په تفسیر منقول (د نبی صلی الله علیه وسلم نه)
باندے فقط -

ابوحیان وئیلی دی چه دغه قول د روافضو دے - او زه وایم
چه تفسیر په نقل سره مخکښې دے او په تدبر سره د هغې
نه روستو دے لیکن ضروری دواړه دی - او قرطبی زمخشری
وغیره وئیلی دی چه دا دلیل دے چه نظر او استدلال کول
واجب دی او تقلید باطل دے او دینی معارف حاصلول
ضروری دی او قیاس صحیح دے لیکن آلوسی وئیلی دی
چه په قیاس اصولی او اصطلاحی باندے دا آیت دلالت نه
کوی - افلا، فاء عاطفه ده مخکښې معطوف علیه پټ دے
أَيَشُكُّونَ فِي شَهَادَةِ اللهِ فَلَا يَتَدَبَّرُونَ (آیا دوی شک کوی
په صدق د دے رسول کښې او تدبر نه کوی) یا أَيُعْرِضُونَ
عَنِ الْقُرْآنِ فَلَا يَتَدَبَّرُونَ (آیا دوی مخ اړوی د رسول
او قرآن نه او تدبر نه کوی) - تدبر تأمل او فکر کول دی په
عاقبت د امر کښې په طریقه د نظر کولو په اجزاؤ د څیز
کښې او د هغې په اسبابو او آثارو وغیره کښې - نو په تدبر د
قرآن کښې اول د هغې د معانیو علم داخل دے -
الْقُرْآنَ، ابن عاشور وئیلی دی چه تدبر د قرآن په دوه

قسمه سره دے اول دا چه د آیتونو په خپلو مقاصدو شرعیه باندے دلالت تفصیلیه کولو کښ تامل او فکر کوی او په هغے کښ احکام او حکمتونه او لطائف الٰهیه پیژندل۔ دویم قسم په دلالت اجمالیه د قرآن په اعتبار د فصاحت او بلاغت سره فکر کول چه دا د الله تعالیٰ د طرف نه نازل شوے رشتینے کتاب دے۔ لیکن سوق د آیتونو د اول قسم په ترجیح باندے دلالت کوی۔ یعنی که چرے دے خلقو (منافقانو) د قرآن په هدایاتو باندے پوره فکر اوکړو نو دوی به خیر عظیم حاصل کړی او د نفاق نه به هم بچ شی۔

فائده:۔ د علماؤ اختلاف دے چه د قرآن کریم تلاوت بغیر د تدبر او فکر نه اجر او ثواب لری او که نه۔ د دے څه تفصیل ما د کتاب تنشیط الاذهان په مقدمه کښ لیکلے دے هغه هلته اوګورئ۔ او زما په نیز راجح دا ده چه کوم شخص صرف په تلاوت د قرآن باندے اکتفاء کوی او تدبر ته هیڅ ضرورت نه ګڼړی نو دا سبب د ثواب نه دے ها که تلاوت کوی او فی الحال تدبر نشی کولے او اراده د تدبر او د فهم او د معنیٰ زده کولو لری او صرف تلاوت کافی نه ګڼړی نو د ده مجرد تلاوت سبب د ثواب کیدیشی۔

وَلَوْ كَانَ مِنْ عِنْدِ غَيْرِ اللهِ، په دے جمله کښ دوه احتمالات دی اول دا چه دا عطف ده په مخکښ جمله استفهامیه باندے یعنی اوله جمله کښ ترغیب ورکړے شو په عام تدبر باندے نو اوس د عام نه روستو یو جزئی د جزئیاتو د تدبر نه ذکر کوی د پاره د ثبوت د صدق د قرآن او دا ذکر د خاص دے روستو د عام نه د وجے د اهتمام د دے خاص (جزئی) نه۔ دویم احتمال دا دے چه دا تموله جمله په محل د حال کښ ده د القرآن نه او قید دے د تدبر د پاره یعنی آیا دوی تدبر نه کوی په عدم وجود د اختلاف کښ نو پوهه به شی چه دا قرآن د طرف د الله تعالیٰ نه دے۔ لیکن په

دیکښې اول احتمال غوره دے ځکه دے وجے نه ځکه دے پښان آیت سوره محمد ﷺ ۲۴ کښې هم ذکر دے او دا قید ئے نه دے ذکر کړے لَوَجَدُوا فِيهِ اخْتِلَافًا كَثِيرًا ، فِيهِ ، ضمیر قرآن ته راجع دے ابوحیان وئیلی دی چه دا حجت نظری دے او وجه د ملازمې دا ده چه څوک اوږد کلام کوی او ډیره زمانه په هغې باندے تیره شی نو په دغه کلام کښې ضرور اختلاف راځی یا په وصف کښې ربه فرق سره په درجاتو د فصاحت او بلاغت کښې بعضې اعلی فصیح بلیغ وی او بعضې درمیانه وی او بعضې بالکل ساقط کلام وی) یا په معنی کښې په تناقض د خبرونو سره یا په خلاف د مخبرعنه (واقع) سره چه هغې ته کذب یا خطائی وئیلے شی یا ئے مقابله ممکنه وی - او هرچه قرآن کریم دے نو په هغې کښې هیڅ قسم لفظی یا معنوی مخالفت کذب او خطا او غلطی وغیره نه راځی او نشته دے - ابن عطیه وئیلی دی که چاته په قرآن کښې څه شک شبه یا گمان د اختلاف پیدا شی نو لازم ده چه په خپل نظر او پوهه باندے دِ تهمت اولگوی او د عالم د قرآن نه دِ تپوس اوکړی او ځان دِ پوهه کړی - او زجاج وئیلی دی چه فِيهِ ضمیر خبرونو ته راجع دے چه د منافقانو په باره کښې وو- په دے جمله کښې بَيَّتَ طَائِفَةٌ مِّنْهُمْ ، غَيْرَ الَّذِي تَقُولُ او توریت خبرونه دی چه په دیکښې هیڅ خبر دروغ نه دے نو معلومه شوه چه دا کلام د عالم الغیب ذات دے او هغه الله تعالی دے-

سوال :- د قرآن کریم په الفاظو کښې د قراءاتو اختلاف ډیر دے دا رنگ په معانیو باندے دلالتونو کښې اختلاف دے عبارت النص ، اشارة النص ، دلالت النص او اقتضاء النص وغیره مختلف طریقے دی ؟

جواب :- قرطبی وئیلی دی چه د اختلاف نه مراد تناقض او تفاوت دے یا هغه دے چه مخکښې د ابوحیان په قول کښې ذکر شو- او ابوبکر جصاص وئیلی دی چه اختلاف درے

قسمه دے۔ اول اختلاف تناقض چه په يو قول سره هغه حکم ثابت شي چه هغه نقيض او مقابل وي د بل۔ دويم اختلاف تفاوت دے چه يو ډير فصيح او بليغ وي او بل نازل او ناقص کلام وي۔ دريم اختلاف تلاؤم دے يعنې چه ټول کلام په حسن او صدق کښ د يو بل سره مناسب وي لکه چه اختلاف د قراء تو دے چه اصل حسن د کلام او مقصد ته نقصان نه رسوي نو دلته مراد اول دواړه قسمونه دي چه تناقض او تفاوت پکښ نشته او د دينه په خطايئ او غلطئ سره تعبير کيديشي۔ او دا دليل دے چه ما سيوا د قرآن کريم نه په هر کتاب کښ خصوصاً هغه کتاب چه د هغے په تصنيف باندے ډير وخت اولګی اولوے وي ضرور غلطي تناقض او تفاوت وي او دا بداهتًا ثابت ده۔ قاسمي وئيلي دي چه په دے آيت کښ عذر دے د مصنفينو د کتابونو د پاره چه د هغوی نه په تناقض او اختلاف واقع کيږي ځکه چه د خطايئ نه سلامتيا د الله تعالىٰ د کتاب خصوصيت دے۔

سوال :- لفظ د کثيرا خو دے خبرے لره مستلزم دے چه لږ اختلاف پکښ شته ؟

جواب ۱:- ابن عاشور وئيلي دي چه د کثيرًا دا قيد په جانب د ممتنع کښ دے دے (په لفظ د لو سره) نو په جانب د اثبات کښ نفي د اصل اختلاف فائده کوي يعنې دا کتاب د الله تعالىٰ د طرف نه دے نو په دېکښ هيڅ اختلاف نشته۔

جواب ۲:- صاحب اللباب وئيلي دي (يعنې دا قيد احترازي نه دے) بلکه قرآن کريم لوے کتاب دے او په ډير اقسامو د علمونو مشتمل دے نو که بالفرض په دېکښ غلطئ راځي نو ډيرے به وي نو هر کله چه يوه غلطي پکښ هم نشته نو معلومه شوه چه دا کتاب د الله تعالىٰ دے۔

جواب ۳:- مخکښ د اختلاف ډير قسمونه ذکر شول يو په

وَاِذَا جَآءَهُمْ اَمْرٌ مِّنَ الْاَمْنِ

او هر کله چه راغی دوی ته خیر د امن

اَوِ الْخَوْفِ اَذَاعُوْا بِهٖ ۭ وَلَوْ

یا د یرے خور وی هغه ، او که

رَدُّوْهُ اِلَى الرَّسُوْلِ وَاِلٰٓى اُولِي

رسولے وے دوی هغه خیر رسول ته او پوهه

الْاَمْرِ مِنْهُمْ لَعَلِمَهُ الَّذِيْنَ

خلقو ته د دوی ته خامخا پوهه شوے به وے په دے هغه کسان

يَسْتَنْۢبِطُوْنَهٗ مِنْهُمْ ۭ وَلَوْلَا

چه معلوموی هغې لره د دوی نه ، او که نه وے

فَضْلُ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهٗ

فضل د الله تعالی په تاسو باندے او رحمت د هغه

لَاتَّبَعْتُمُ الشَّيْطٰنَ اِلَّا قَلِيْلًا ﴿٨٣﴾

خامخا تابعداری به کړے وے تاسو د شیطان مګر لږ کسان -

فصاحت او بلاغت کښ بل په صدق او عدم صدق کښ
بل په صحیح او فاسده معنی کښ بل په تناقض کښ او
بل په تفاوت کښ وغیره نو دا ډیر اقسام د اختلاف دی او د
دے نه یو هم نیشته نو کشیر اے د دے وجے نه وئیلے دے۔
۸۳ :۔ په دے آیت کښ د منافقانو بل قباحت ذکر کوی یعنی
بغیر د تحقیق نه یو خبر خورول -
ربط ۱ :۔ آلوسی وئیلی دی چه په دے آیت کښ جواب د
سوال دے چه پیدا کیږی د لوجدوا فیه اختلافا کثیرا نه۔
هغه دا دے چه منافقان او بعضے کمزوری فهم والا مؤمنان

دَ نبی صلی الله علیه وسلم ته یو خبر واوري چه په هغې کښ څه شرطونه او قیودات وي لیکن دا خلق ئې غیر مشروط اشاعت اوکړي نو هغه دَ واقع نه خلاف شي - نو سوال پیدا شو چه دا خو په وحی کښ اختلاف راځي نو په دے آیت کښ جواب کوي - حاصل دَ جواب دا دے چه دَ یو خبر په اشاعت کښ دَ هغې په ټولو شرطونو او قیوداتو باندے تحقیق پکار دے۔

ربط ۲ :- دا معطوف دے په یَقُوْلُوْنَ طَاعَةٌ باندے او په مینځ کښ جمله معترضه ده یعنی دوی خو دَ طاعت دَ رسول اقرار کوي لیکن سره دَ دینه په خبرونو خورولو کښ هغه طرف ته رجوع نه کوي -

وَاِذَا جَآءَهُمْ اَمْرٌ مِّنَ الْاَمْنِ اَوِ الْخَوْفِ اَذَاعُوْا بِهٖ، دَ ابن عباس رضی الله عنهما روایت دے چه نبی صلی الله علیه وسلّم به هر کله یو سریه اولیږله او هغه به غالبه شوه په دشمن باندے یا به مغلوبه شوه نو دے منافقانو به بغیر دَ تحقیق نه دا خبر مشهور کړو او دَ نبی صلی الله علیه وسلم اخبار ته به ئې انتظار نه کولو نو دا آیت نازل شو - او بعضے مفسرینو په دیکښ دَ نبی صلی الله علیه وسلم دَ طلاق خبر هم ذکر کړیدے چه هغه هم خور کړے شوے وو او حال دا چه هغه طلاق نه وو ورکړے -

دَ الْاَمْنِ، نه مراد کامیابی او فتح او غنیمت حاصلول دَ سریے دَ مؤمنانو دي او خَوْفِ ، نه مراد په سریے کښ ناکامی او مغلوب کیدل دي - نو منافقانو به دَ امن په خبر خورولو کښ دَ واقعے دَ امن تحقیر او توهین کولو دَ دے دَ پاره چه مؤمنان خوشحاله نشي او په خبر دَ خوف کښ ئې مقصد یره ورکول او بد ظنه کول وو دَ مؤمنانو دَ اسلام نه -

آلوسی وئیلي دي چه په دیکښ زجر او انکار دے په خبره ذکر کولو مخکښ دَ تحقیق نه - او حدیث دَ مسلم کښ هم راغلے دي چه کَفٰی بِالْمَرْءِ كَذِبًا اَوْ اِثْمًا اَنْ يُّحَدِّثَ

بِكُلِّ ما سَمِعَ) کافی ده د یو شخص دګنهګار یدلو یا د دروغژن کیدلو د پاره دا خبره چه بیا نوی هر هغه خبره چه د خلقو نه ئې اوری - او رازی وئیلی دی چه په دے خبر خورولو کښ د فساد ډیر وجوه دی -

فائده :- امام رازی او جصاص لفظ د امن او خوف ټولو احکامو شرعیو ته عام کړیدے یعنی امن کښ د جواز او د ثواب امور داخل دی او په خوف کښ د عدم جواز او د ګناه امور داخل دی -

اَذَاعُوا بِهٖ، لفظ د اذاعت متعدی یالواسطه او متعدی بالذات دواړه راځی او چا وئیلی دی چه دلته اذاعوا معنی د تحدیث (خبرورکولو) لره متضمن دے نو د دے وجې نه متعدی کړے شو په حرف د باء سره - او به ضمیر امر ته راجع دے -

وَلَوْ رَدُّوْهُ اِلَى الرَّسُوْلِ، په دیکښ تعلیم د ادب دے خلقو ته د داسے حالاتو په وخت کښ چه هغه رسول الله صلی الله علیه وسلم او لویو صحابه کرامو ته رجوع کول دی د حقیقت حال او د حکم معلومولو د پاره - د رَدٌّ نه مراد رسول دی د هغه خبر او رجوع کول دی - اَلرَّسُوْلِ، که په امن او خوف کښ معنی مشهوره خاصه وی نو د رسول نه مراد ذات د هغه دے په وخت د ژوند د هغه کښ او که په امن او خوف کښ د ټولو احکامو شرعیو عموم مراد شی نو بیا د رسول نه مراد د هغه په ژوند کښ د هغه ذات دے او روستو د وفات د هغه نه د هغه سنت مراد دی لکه چه په فردوه الی الله والرسول کښ ذکر شویدی -

وَاِلٰى اُولِى الْاَمْرِ مِنْهُمْ، د دینه مراد اصحاب الرای صحابه کرام دی او اهل علم ته هم شامل دے لکه چه مخکښ تیر شویدی -

لفظ د مِنْهُمْ، کښ اشاره ده چه صحابه کرام په دے صفت کښ یو شان نه وو بعضو په هغوی کښ کامله رائے او عقل او علم لرلو او بعضے داسے نه وو اګر چه په فضیلت د نفس

صحبت دَ رسول کښې تول شریک دی۔
لَعَلِمَهُ الَّذِیْنَ یَسْتَنْۢبِطُوْنَهٗ مِنْهُمْ، لَعَلِمَهُ ضمیر امر ته راجع دے او دَ علم نه مراد علم دَ حقیقت حال دَ دغه امر دے چه صادق دے اوکه نه او لائق دَ خورولو دے اوکه نه دے۔ یَسْتَنْۢبِطُوْنَهٗ، استنباط دَ نبط نه اخستلے شوے دے وئیلے کیږی اوبه راویستلو ته دَ کوهی نه په اول کنستلو دَ هغے کښې نو نبط هغه خلقو ته هم وئیلے شی چه دا سے کسب او کار کوی او زمیندارو خلقو ته هم وئیلے شی۔ نو په استنباط کښې راویستل دَ حکم دَ پوهے خبرے وی په خپل اجتهاد سره دَ نص نه دَ دے وجے نه مجتهد ته مستنبط او اجتهاد ته استنباط وئیلے شی۔ دلته معنیٰ دا ده چه دوی پخپل عقل او تجربے او فکر سره دَ هغه امر ته بیرته راوباسی چه دا دَ اشاعت قابل دے اوکه نه دے۔ او عکرمه وئیلی دی چه دَ استنباط معنیٰ حرص کول او تپوس کول دَ هغے دی او ضحاک وئیلی دی چه تتبع (تفتیش) ته وئیلے شی۔ دَ اولے معنے په اعتبار سره دَ مجتهدین نه مراد صحابه کرام دی۔ او منهم صفت دے دَ الذین دَ پاره یعنی هغوی دَ جنس دَ دے خلقو نه دی او په اعتبار دَ دویمے او دریمے معنے سره مجتهدین نه صحابه کرام هم مراد دی لیکن احتمال شته چه دغه منافقان مراد شی یعنی پوهه شوی به وے په حقیقت دَ دغه خبر هغه منافقان چه هغوی دَ دے خبرے لټون او تپوسونه کوی۔ او منهم ضمیر اولی الامر ته راجع دے یعنی تپوسونه دَ اولی الامر نه کوئ (اللباب)۔

فائده له :۔ امام رازی وئیلی دی چه دَ دے آیت نه معلومه شو وجوب دَ قول په قیاس او په اجتهاد باندے ځکه چه کوم مسئے منصوص علیه دے نو په هغے کښې خو استنباط ته حاجت نشته نو معلومه شوه چه بعضے احکام شرعیه په نصوصو کښې دننه پراته دی او دَ هغے علم په استنباط او په استدلال سره معلومیږی۔ او

د دې په باره کښې ئې مزيد تفصيل ذکر کړيدے. قرطبي وئيلي دي چه دا دلالت کوي په اجتهاد کولو باندے کله چه نص او اجماع نه وي.

فائده ۲ :- آيت کښې اګرچه احتمال د استنباط د احکام شرعيه ذکر شو ليکن اصح دا ده چه دا آيت د حرب په امورو پورے خاص دے د هغے څو وجوه دي.

اوله وجه دا چه لفظ امن او خوف جائز او ناجائز ته عام کول د لفظ نه لرے خبره ده د دے اطلاق په شرع کښې نه دے معلوم.

دويمه وجه، د احکام شرعيه په باره کښې په دے سورت کښې ذکر شويدي چه فردوه الى الله والرسول هلته ئے په مقام د رد کښې اولى الامر نه دے ذکر کړے او دلته ئے رد الى الله نه دے ذکر کړے نو معلومه شوه چه امور محسوسه د جنګونو سره متعلق مراد دي.

دريمه وجه، په دے آيت کښې ضميرونه استعمال شويدي او هغه په تعميم باندے دلالت نه کوي لکه چه په تفسير ۳۲ کښې تير شويدي.

څلورمه وجه، د اصولو علماؤ وئيلي دي چه قياس ظن فائده کوي او د دے آيت نه علم معلوميږي نو معلومه شوه چه دلته استنباط او قياس په احکام شرعيه کښې نه دے مراد که په ظن باندے د علم اطلاق اوشي نو جائز ده. هادا دلالت کوي چه الله تعالى بعض اشخاصو ته صفت د استنباط ورکوي ليکن په احکام شرعيه کښې د اجتهاد او استنباط د اثبات د پاره نور نصوص شته دے.

سوال :- جصاص او امام رازي وئيلي دي چه د دے آيت نه معلومه شوه چه په عامي شخص باندے په احکام د حوادثو کښې د علماؤ تقليد واجب دے نو د دينه ايجاب د تقليد ثابت شو؟

جواب ۱ :- په آيت کښې احتمال د استنباط د احکام شرعيه او په هغے کښې تقليد کول احتمال بعيده دے لکه چه مخکښې د هغے وجوه ذکر شول.

جواب ۲ :- د دينه په غير منصوصه مواضعو کښې تقليد کول

معلومیږی او دغه مراد دے په حوادثو سره لیکن التزام د
مذهب د یو شخص په تقلید سره ، د دینه او د بل هیڅ نص
نه نشی ثابت کیدے او محل د نزاع دغه التزام دے۔

وَلَوْلَا فَضْلُ اللّٰهِ عَلَیْكُمْ وَرَحْمَتُهٗ لَاتَّبَعْتُمُ الشَّیْطٰنَ اِلَّا قَلِیْلًا ،
فَضْلُ او رَحْمَت د الله تعالی خو ډیر قسمه دے یعنی اخروی دینی
دنیوی خاص او عام ۔ او په دے جمله کښں ترغیب دے هغه حکم
ته چه په لَوْرَدُّوْهُ الی الرسول آه کښں ذکر شو یعنی په دغه طریقے
سره فضل او رحمت د الله تعالی حاصلیږی او په هغے سره د شیطان
د اتباع نه بچاؤ حاصلیږی۔

سوال :- الا قلیلا استثناء خو تقاضا کوی چه دا لږ کسان د الله
تعالی فضل او رحمت نه د شیطان نه بچ کیدلو کښں نه دی محتاج
او حال دا دے چه نصوص صریح سره ثابت دی چه بغیر د رحم
د الله تعالی انبیاء علیهم السلام هم د شیطان نه نشی بچ کیدے؟

جواب :- صاحب اللباب د دے لس وجوه ذکر کړیدی ۔ اوله وجه
چه هغه غوره هم ده ۔ دا ده چه د فضل نه مراد اسلام او د
رحمت نه بعثت د رسول الله صلی الله علیه وسلم دے او دا د
اتبعتم نه استثناء نه دا وه قلیل نه مراد د جاهلیت د زمانے موحدین
دی چه اسلام او د نبی صلی الله علیه وسلم د راتللو نه مخکښں
دوی ځان د کفر او شرک نه بچ ساتلے وو لکه قیس بن ساعده
ایادی او زید بن عمرو بن نفیل او ورقه بن نوفل او نور
کسان چه د عیسیٰ علیه السلام په دین پاتے کلک وو د نبی
صلی الله علیه وسلم د بعثت نه مخکښں ۔ دویمه وجه ، دا استثناء
ده د اذاعوا نه ۔ دریمه وجه ، دا استثناء ده د فاعل د علمه
الذین آه نه ، څلورمه وجه ، دا استثناء ده د فاعل د لوجدوا
نه ۔ پنځمه وجه دا استثناء ده د ضمیر مجرور د علیکم نه خو
د دے تاویل وجه اول ته راجع ده ۔ شپږمه وجه دا استثناء
ده د مصدر نه چه دلالت کوی په هغے پاتے فعل د اتَّبَعْتُمْ
یعنی اتباعًا قلیلًا ۔ دا قول د زمخشری دے ۔ اوومه وجه دا چه

فَقَاتِلْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ ۚ لَا تُكَلَّفُ
نو جنګ کوه په لار د الله تعالیٰ کښې ذمه واری نیشته په تا

إِلَّا نَفْسَكَ وَحَرِّضِ الْمُؤْمِنِينَ ۚ
مګر د ځان خپل او تیزی ورکوه مؤمنانو ته

عَسَى اللَّهُ أَن يَكُفَّ بَأْسَ الَّذِينَ
امید دے چه الله تعالیٰ به بند کړی جنګ د کافرانو

كَفَرُوا ۚ وَاللَّهُ أَشَدُّ بَأْسًا
او الله تعالیٰ سخت دے په جنګ کښې

دا استثناء ده د یستنبطونه نه او د دے تاویل د دریے وجه پشان دے - تهمه وجه د قلیلاً نه مراد عدم دے کله قلت په معنیٰ د عدم سره راځی - دا هم ابن عطیه او طبری ذکر کړیں دے. لسمه وجه لا تبعتم کښې د ټولو امتونو ټولو مسلمانانو ته خطاب دے او د قلیل نه مراد خاص د محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم امت دے - لیکن دا قول ضعیف دے - په اوله وجه کښې دوه توجیهات نور دی چه هغه ابو مسلم اصفهانی ذکر کړی دی - اول دا چه فضل او رحمت نه پرله پسے نعمتونه او امداد الٰهی مراد دے او خطاب دے منافقانو ته یعنی دا منافقان د پرله پسے نعمتونو (نصرت او فتح) د وجے نه ظاهراً د شیطان اتباع نه کوی او الا قلیلاً کښې صحیح مخلص مؤمنان مراد دی چه د هغوی په نیز اعتبار د دلیلونو د حقانیت د اسلام لره دے که فتح او نصرت وی او که نه وی - دویمه توجیه دا ده چه د الا قلیلاً نه نابالغ مراد دی او استثناء منقطع ده - لیکن په ټولو وجوهو کښې اوله وجه په اوله توجیه سره غوره او بے تکلیفه ده -

وَّاَشَدُّ تَنْكِيْلًا ﴿۸۴﴾

او سخت دے په سزا ورکولو کښ۔

۸۴:- آلوسی وئیلی دی چه هرکله د منافقانو عدم طاعت ذکر کړے شو او د غسے تقصیر د هغوی په احکامو د اسلام کښ نو اوس ئے امر اوکړو نبی صلی الله علیه وسلم ته په قتال کولو سره یواځے بغیر د پرواه کولو ته په کارونو د منافقانو باندے۔ نو دا فاء په فقاتل کښ واقع ده په جواب د یو شرط کښ یعنی اِذَا كَانَ الْاَمْرُ كَذٰلِكَ (هرکله چه معامله داسے ده نو) او طبری وئیلی دی چه دا متعلق دے د من یقاتل فی سبیل الله آه سره۔ یعنی که ته د اجرعظیم اراده کوے نو قتال کوه او داسے د زجاج نه هم نقل دے۔ او بعضو وئیلی دی دا د فقاتلوا اولیاء الشیطان سره متعلق دے۔

فَقَاتِلْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ لَا تُكَلَّفُ اِلَّا نَفْسَكَ ، جمله د لا تکلف په محل د حال کښ ده یا مستانفه ده۔

سوال :- نفسک دلته مکلف به دے او ذات خو مکلف به نشی کیدے؟

جواب :- د دینه مراد فعل نفسک دے چه د هغے نه مراد وړاندے کیدل دی قتال ته یخپله او په دے حصر کښ اشاره ده چه د منافقانو د مخالفت کولو او د هغوی د قتال نه روستو کیدلو په تا باندے هیڅ ضرر نشته۔ یا دلته وسع لفظ پټ دے په قرینه د لا یکلف الله نفسا الا وسعها سره۔

وَحَرِّضِ الْمُؤْمِنِيْنَ ، د نفس د ذے نه روستو د نورو خلقو په باره کښ ذمه داری ذکر کوی۔ حَرِّضِ ، امام راغب وئیلی دی چه تحریض په اصل کښ ازالة الحرض ته وئیلے او حرض بے فائدے او بے کاره څیز ته وئیلے شی یعنی بے کاره او بے فائدے کارونو او مشاغلو نه د خلقو توجه جهاد طرف ته راواړوه۔ او د دے تحریض په تفسیر کښ هغه احادیث مراد دی چه په هغے کښ ترغیبات د قتال فی سبیل الله او د هغے

مَنْ يَّشْفَعْ شَفَاعَةً حَسَنَةً
چا چه سفارش اوکړو سفارش ښه به وي
يَّكُنْ لَّهٗ نَصِيْبٌ مِّنْهَا ۚ وَمَنْ
هغه لره برخه د ثواب د هغې په وجه، او چا چه
يَّشْفَعْ شَفَاعَةً سَيِّئَةً يَّكُنْ لَّهٗ
سفارش اوکړو سفارش بد وي به هغه لره
كِفْلٌ مِّنْهَا ۚ وَكَانَ اللّٰهُ عَلٰى
پېټې د ګناه د هغې په وجه، او دے الله تعالیٰ په
كُلِّ شَيْءٍ مُّقِيْتًا ﴿۸۵﴾
هر څیز باندے طاقت والا۔

ثوابونه ذکر دي او هغه ډیر دي۔ او دا تحریض دعوت دے قتال طرف ته که په ژبې سره وي او که په قلم سره وي او د هغې تربیت ورکولو ته هم شامل دے۔

عَسَى اللّٰهُ اَنْ يَّكُفَّ بَاْسَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا، دا وعده ده د الله تعالیٰ د طرف نه چه یقیني ده۔ او عسی د الله تعالیٰ د طرف نه د یقین د پاره وي ځکه هغه کریم ذات دے چه وعده اوکړي نو ضرور ئې پوره کوي۔ او دا وعده الله تعالیٰ د خپل نبي صلی الله علیه وسلم سره په هره غزوه کښ پوره کړېده په دلیل د سورة توبه ۲۵ (لَقَدْ نَصَرَكُمُ اللّٰهُ فِيْ مَوَاطِنَ كَثِيْرَةٍ) او باس په لغت کښ هر بد حال او بد کار ته وئیلے شي او دلته مراد جنګ دے۔

وَاللّٰهُ اَشَدُّ بَاْسًا، د دینه مراد دا دے چه قوت، حمله کول او جنګ کول اشد دے په نسبت د ټول مخلوق او خصوصًا په مقابله د مشرکانو کښ۔

وَاَشَدُّ تَنْكِيْلًا، نکل په اصل کښ قید ته وئیلے شي او قید مستلزم

دے منع کولو لره تو منع ته هم وئیلے شی او په عام عرف کښ هغے سزا او عذاب ته وئیلے شی چه په هغے کښ معنیٰ د عبرت پرته وی - دلته معنیٰ د عذاب مراد ده او سختوالے ئے داسے دے چه هیڅوک د هغے نه خلاصول نشی کولے او همیشه وی د هغے فنا او زوال نشته۔

۸۵ :- ربط ۱ :- هر کله چه مخکښ آیت کښ امر وو په تحریض د مؤمنانو، نو اوس په دے آیت کښ ذکر کوی چه دا تحریض (چه نوم ئے شفاعت هم دے) د لوے ثواب د پاره سبب دے۔

ربط ۲ :- هر کله چه په لا تکلف الا نفسك سره معلومه شوه چه نبی صلی الله علیه وسلم د بل چا په عمل سره ماخوذ نه دے نو یو وهم پیدا شو چه د بل چا عمل سره به د ده په عمل (ثواب) کښ زیاتے هم نه راځی نو په دے آیت کښ د دے جواب ته اشاره کوی۔

ربط ۳ :- هر کله چه نبی صلی الله علیه وسلّم په قتال باندے تیزی ورکوله نو بعضے مؤمنانو سره به سامانِ جهاد نه وو نو بل مؤمن به د ده د امداد کولو د پاره سفارش کوو - او دا رنګ منافقانو به د یو بل د پاره د جهاد نه د پاتیکیدلو سفارش کوو نو په دے آیت کښ د دواړو قسمونو شفاعتونو حکم ذکر کوی۔

مَنْ يَّشْفَعْ شَفَاعَةً حَسَنَةً يَّكُنْ لَّهٗ نَصِيْبٌ مِّنْهَا ، شفاعت په اصل کښ د شفع نه اخستلے شوید ے جوړئ (تګئ) ته وئیلے شی په مقابل د وتر (تاتګئ) کښ - او په عرف کښ شفاعت وینا کول دی چه یو شخص یو منفعت ته اورسی که د دنیا منفعت وی او که د آخرت وی - یا د یو تکلیف نه خلاص شی اګرچه مشفوع له (چا د پاره چه سفارش کیدے شی) د شفیع نه اوچته درجه لری (آلوسی) - او حَسَنَةً هغه دے چه په یو مشروع امر کښ وی - او د شفاعت حسنه مقسرینو ډیر مصداقات ذکر کړیدی۔

۱ :- خپل د ایمان سره د کفارو سره قتال کول جمع کول۔

ع۲ د یو مؤمن د پاره د قتال د آلاتو د حصول سفارش کول.
ع۳ جهاد ته دعوت ورکول. ع۴ توحید او سنت ته دعوت
ورکول. ع۵ د یو مسلمان د بل مسلمان د پاره دعا کول.
ع۶ د چا د نفعې یا د ضرر د دفع کولو د پاره سفارش کول لیکن
شرط دا دے چه په هغې به رشوت نه اخلی او جائز کار
به وی او د چا د شرعی حق ساقطولو او حد شرعی دفع کولو
د پاره به نه وی. په یکښ اول درے مصداقات د ماقبل
آیت د قتال د مسئلے سره مناسبت لری. يَكُن لَّهُ نَصِيبٌ مِّنْهَا،
نصیب هغه حصه وی چه د هغې مقدار معلوم نه وی لیکن خامخا
حاصلیږی. منها کښ من سببیه دے د دغه شفاعت کولو د
وجې نه یا من ابتدائیه دے او مضاف پټ دے من ثوابها.
وَمَن يَشْفَعْ شَفَاعَةً سَيِّئَةً، د دے مصداقات د شفاعت
حسنه مقابل مراد دی یعنی ع۱ د کفر سره دوستانه د کافرانو
جمع کول. ع۲ د انفاق فی سبیل الله (جهاد) نه خلق منع کول.
ع۳ د خلقو د منع کولو او متنفر کولو د پاره د جهاد بدئ بیانول.
ع۴ شرک، بدعت، فحاشئ او گمراهئ ته دعوت ورکول.
ع۵ د مؤمن غیبت کول بهتان تړل او چغلی کول. ع۶ په غیر
شرعی کار کښ سفارش کول. ع۷ یو مؤمن ته بد دعائی (خیرے)
کول وغیره.
يَكُن لَّهُ كِفْلٌ مِّنْهَا، قرطبی وئیلی دی چه کفل په اصل کښ
هغه شړئ او کمبل ته وئیلے شی چه د اوښ د شاه په لږه
حصه باندے د دے د پاره واچوی چه سورلی ورباندے آسانه
شی. او مطلق حصے ته هم وئیلے شی که د خیر وی لکه يُؤْتِكُمْ
كِفْلَيْنِ مِن رَّحْمَتِهِ. حدید ۲۸) او په شر کښ هم اکثر
استعمالیږی. دلته د شفاعت حسنه سره نصیب ذکر کول او
د شفاعت سیئه سره کفل ذکر کول تفنن فی العبارت (رقسما قسم
تعبیر کول) دے. او بعضے مفسرینو وئیلی دی چه نصیب هغه
حصه ده چه زیادت پکښ کیدیشی نو هغه د حسنه سره مناسب ده

وَإِذَا حُيِّيتُم بِتَحِيَّةٍ فَحَيُّوا

او کله چه سلام اوکړے په تاسو سلام تو جواب ورکړئ

بِأَحْسَنَ مِنْهَا أَوْ رُدُّوهَا ۗ إِنَّ

غوره د هغے نه یا جواب ورکړئ پشان د هغے یقینا

اللَّهَ كَانَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ حَسِيبًا ﴿٨٦﴾

الله تعالیٰ دے په هر څیز باندے حساب کوونکے.

اوکفل هغه حصه ده چه بالکل برابر وی زیاتے پکښ نه کیږی نو دا د سیئه سره مناسب ده۔

وَكَانَ اللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ مُّقِيتًا، مقیت د قوت (روزئ) نه اخستلے شویدے چه په هغے سره تقویت او حفاظت د بدن کیږی۔ او ابن عباس رضی الله عنهما نه په یو روایت کښ په معنیٰ د مقتدر (ډیر قوت والا) سره او په بل روایت کښ په معنیٰ د حفاظت کوونکی سره نقل دے۔ د مجاهد نه روایت دے په معنیٰ د شاهد سره۔ بل قول دا دے چه په معنیٰ د روزئ رسوونکے دے۔ او دغه شان په معنیٰ د جزاء ورکوونکی هم۔ دا ټولے معنے صحیح کیږی ځکه چه الله تعالیٰ د هر چا نصیب او کفل وینی او حفاظت ئے کوی او په هغے باندے قادر دے او جزاء هم ورکوی۔

۸۶: ربط له :۔ امام رازی او صاحب اللباب وئیلی دی چه بعضے وخت په دارحرب یا د هغے په قریب کښ په سفر د جهاد کښ یو شخص په یو مجاهد باندے سلام کوی نو مجاهد ورته هیڅ توجه او التفات نه کوی بلکه قتل ئے کړی په دے گمان سره چه دا کافر دے۔ نو په دے آیت کښ ذکر کوی چه د هر سلام کوونکی حق دے ځکه چه سلام کول یو قسم اکرام دے او د اکرام مقابله په اکرام سره بلکه د هغے نه په زیات سره پکار ده۔ نو که هغه کافر وی نو مسلمان ته هیڅ

نقصان نشی ورکولے اوکه مسلمان وی نو د هغه قتلول خو لویه ګناه ده۔

ربط ۲ :۔ آلوسی وئیلی دی چه تیر شوی آیت کښ ئے د شفاعت حسنه ترغیب ورکړو نو اوس د هغے یو خاص فرد ذکر کوی چه سلام کول دُعا د سلامتیا او د ژوند ده او دا شفاعت حسنه دے۔

وَإِذَا حُيِّيتُم بِتَحِيَّةٍ ، امام راغب وئیلی دی چه تحیه په اصل کښ د ژوند او بید والی دُعا ته وئیلے شی بیا استعمالیږی په هره دعا د خیر کښ۔ او د عربو عادت دا وو چه د یو بل سره به مخامخ شول نو حَیَّاكَ اللّٰهُ به ئے وئیل۔ بیا په شرع کښ د هغے په ځائے السلام علیکم کیخودلے شو او دیته تحیة الاسلام وئیلے شی او په دے سلام شرعی کښ د حَیَّاكَ اللّٰهُ دُعا نه زیات فضیلت دے ځکه چه په دیکښ د سلامتیا دعا ده سره د آفاتو د ژوند نه۔ او قرطبی ذکر کړیدی چه بعضو وئیلی دی چه تحیه په اصل کښ ملك ته وئیلے شی او هر کله چه خلقو به یو بل ته په دعا کښ د ملك (بادشاهئ) او د ژوند مختلف الفاظ وئیل نو جمع راوړے شوه په التحیات لله سره یعنی د بقاء او د بادشاهئ چه څومره الفاظ دی هغه ټول الله تعالیٰ لره خاص دی او بعضو وئیلی دی چه سلامتیا د ټولو عیبونو او آفتونو نه خاص الله تعالیٰ لره ده۔ او صحیح قول دا دے چه دلته د تحیه نه مراد سلام شرعی دے په السلام علیکم سره۔ او په دیکښ نور اقوال هم شته چه هغه قرطبی ذکر کړیدی۔ د امام مالك رحمه الله یو روایت دے چه د دینه مراد تشمیت العاطس دے (پرنجی کوونکی ته په یرحمك الله سره جواب ورکول)۔ او ابن خویز منداد وئیلی دی چه د دینه مراد هبه ده (چاته څه څیز وربخل)۔ او د اصحابو د امام ابوحنیفه رحمه الله نه نقل ده (رکه جصاص) چه هدیه ورکول مراد دی او چا وئیلی دی چه د دینه مراد د صلحه کولو دعوت مراد دے۔ لیکن دا اقوال ضعیف دی ځکه چه په قرآن کریم کښ تحیه

سلام ته وئیلي شویدي سورة احزاب ۴۴، سورة نور ۶۱، سورة ابراهیم ۲۳ - او لفظ سلام ئې په ډیر آیتونو کښې ذکر کړیدے لکه سورة مریم ۱۵، ۳۳، ۴۷ سورة روم ۶۹، سورة انعام ۵۴ سورة طه ۴۷، سورة رعد ۲۴ او سورة نمل ۵۹ په دیکښې لفظ سلام معرفه او نکره دواړه ذکر شویدي نو دواړه جائز دي - لیکن په احادیثو کښې په صیغه د معرفې سره ذکر دے - او د سلام نور تفصیلي احکام قرطبي، آلوسي او قاسمي وغیره ذکر کړیدي۔

فَحَيُّوا بِأَحْسَنَ مِنْهَا أَوْ رُدُّوهَا، یعني تاسو د سلام جواب ورکړئ په ډیر خائسته الفاظو او کلماتو سره د هغې نه چه تاسو ته وئیلي شوي وي - صحیح او حسن احادیثو کښې د هغې تفصیل راغلي دے چه په جواب کښې او وائي وعلیکم السلام ورحمة الله وبرکاته - او د ابوداؤد په روایت کښې ومغفرته هم ذکر دے په هغې کښې یحیٰی راوي ته ضعیف وئیلي شویدي لیکن ترمذي د هغه روایت د سهل بن معاذ نه حسن ذکر کړیدے او ابن خزیمه او حاکم ورته صحیح وئیلي دي - نو آلوسي وئیلي دي چه څوک وائي چه ومغفرته به نه وئیلے کیږي نو دا قول اتفاقي نه دے - او قاسمي وئیلي دي چه په دے حدیث کښې رد دے په هغه چا باندے چه په وبرکاته باندے زیادت نه وائي - أَوْ رُدُّوهَا، او د اختیار ډیاره دے په زیادت د جواب کښې لیکن زیادت افضل دے ځکه چه مخکښې ئې ذکر کړو - او ردوها نه مراد د هغې پشان جواب ورکول دي۔

ابن کثیر وئیلي دي چه د ټولو علماؤ اتفاق دے چه سلام کول سنت دي او جواب ورکول ئې فرض دي - لیکن فرض کفائي دي په سبب د حدیث د ابوداؤد او بیهقي سره او دلته آلوسي د بعضے احنافو فقهاؤ نه په طریقه د اشعارو سره شل کسان د سلام نه مستثنیٰ کړیدي لیکن اصح دا ده

اَللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ؕ لَيَجْمَعَنَّكُمْ

الله تعالىٰ نشته دَ يتن كي حقدار سوا دَ هغه نه، خامخا به تاسو را جمع كړي

اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ لَا رَيْبَ فِيْهِ ؕ

ورځ دَ قيامت ته چه هيڅ شك نشته په هغې كښې،

وَمَنْ اَصْدَقُ مِنَ اللّٰهِ حَدِيْثًا ﴿۸۷﴾

او څوك ډير رښتنے دے دَ الله تعالىٰ نه په خبرو كښې.

چه په مونځ كوونكو باندے سلام اچول شته خو دَ هغې جواب به په قول سره نه وركوئ او جواب بالاشاره كښې اختلاف دے. او كومه نهي چه په صحيح حديث سره راغلے وي نو هغه به معتبر وي دلته صرف قياس فائده نه وركوي.

اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ حَسِيْبًا، يعني په ټولو اعمالو باندے او خصوصاً په سلام وجواب سلام باندے به حساب كوي- دا جمله هم دلالت كوي په اقامت دَ دے سنت باندے او په تاكيد دَ جواب دَ سلام باندے.

۸۷:- په دے آيت كښې اثبات دَ توحيد او دَ قيامت دے ربط ١ :- ئے دَ مخكښې سره دا دے چه هر كله مخكښې اُوئيلے شو چه تاسو ته څوك سلام اوكړي نو دَ هغه سلام قبول كړئ په اعتبار دَ ظاهر دَ هغه سره او هر چه دَ هغه باطن حال دے نو هغه دَ الله تعالىٰ علم ته اوسپارئ چه دَ هغه سره په علم غيب كښې څوك شريك نشته- او په ورځ دَ قيامت به دَ باطن رازونو ښكاره كولو دَ پاره حساب كوي.

ربط ٢ :- دا چه مخكښې قتال، شفاعت حسنه او سلام كولو ته ترغيب ذكر شو نو اوس دَ دے ټولو دَ قبوليت بنياد ذكر كوي چه عقيده دَ توحيد او بعث بعد الموت ده.

اَللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ، دا جمله اسميه مبتداء او خبر ده مستانفه ده.

فَمَا لَكُمْ فِي الْمُنٰفِقِيْنَ فِئَتَيْنِ

نو ولې تاسو دَ منافقانو په باره کښ دوه ډلې شوئ

وَاللّٰهُ اَرْكَسَهُمْ بِمَا كَسَبُوْا ط

او الله تعالی نسکور کړيدی دوی په سبب دَ عملونو دَ دوی

اَتُرِيْدُوْنَ اَنْ تَهْدُوْا مَنْ

آيا تاسو غواړئ چه هدايت والا اوګنړئ هغه څوک

اَضَلَّ اللّٰهُ ط وَمَنْ يُّضْلِلِ اللّٰهُ

چه بې لارې کړيدې الله تعالی او څوک چه الله تعالی بې لارې کړي

لَيَجْمَعَنَّكُمْ اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ، دا جمله دويم خبر دې دَ لفظ الله دَپاره يا جمله مستانفه ده دَپاره دَ بيان دَ دويم اعتقاد چه بعث بعد الموت دې - الی په معنیٰ دَ فی سره دې يا جمع متضمن ده معنیٰ دَ حشر لره يا فی القبور پټ دې او الی دغائې دَپاره دې - اَلْقِيٰمَةِ، دا په معنیٰ دَ قيام دې او تاء پکښ دَ مبالغې دَپاره ده - او دَ دې نوم وجه دا ده چه ټول خلق به حساب دَپاره قائم شی (اودريږی) لکه (يَوْمَ يَقُوْمُ النَّاسُ لِرَبِّ الْعٰلَمِيْنَ - تطفيف ۶).

لَا رَيْبَ فِيْهِ، ضمير يوم ته يا جمع ته راجع دې.

وَمَنْ اَصْدَقُ مِنَ اللّٰهِ حَدِيْثًا، حديث، په معنیٰ دَ قول او دَ وعد دې او دلته دَ حديث نه مراد اخبار دې په کلمه دَ لا اله الا هو او ليجمعنکم آه سره او دا استفهام انکار دې دَپاره دَ اثبات دَ صدق دَ الله تعالی عموماً او خصوصاً.

سوال :- اصدق اسم تفضيل دې ليکن صدق خو مفهوم بسيط دې په هغې کښ تفاوت نه وی نو تفضيل پکښ څنګه صحيح کيږی ؟

جواب :- آلوسی وئيلی دی چه دلته تفضيل په اعتبار دَ کميت

فَلَنۡ تَجِدَ لَهٗ سَبِيۡلًا ﴿۸۸﴾

نو هیچرې او به نه مومې هغه لره لار۔

(مقدار) سره دے نه په اعتبار د کیفیت سره یعنې کلام د الله تعالی کښې هیڅ دروغ نشته۔ کلام د الله تعالی ډیر دے او په هغې کښې ډیر اقسام دی او هغه ټول رشتیا دی۔

۸۸:۔ په دے آیاتونو کښې ذکر دے د حال د منافقانو او د هغوی بعضے اقسام هغه دی چه هغوی سره قتال کول پکار دی او بعضے هغه دی چه قتال ورسره نه کیږی او دا څلور قسمه دی په څلورو آیتونو کښې۔ او دا اقسام د هغه منافقانو دی چه دار اسلام کښې نه دی داخل هجرت ئے نه دے کړے۔

ربط ۱:۔ د ۱۳ آیت پورے د منافقانو قبیح اوبد صفات ذکر شول او په مینځ کښې جمله معترضه وه نو اوس تفریع ذکر کوی په هغه اوصافو باندے چه سره د وجود د دا سے اوصافو نه شک مه کوئ په نفاق د دا سے خلقو کښې۔

ربط ۲:۔ هر کله چه ذکر شو وَمَنۡ اَصۡدَقُ مِنَ اللّٰهِ حَدِيۡثًا نو اوس په هغې باندے تفریع ذکر کوی چه هر کله الله تعالی د منافقینو احوال ذکر کړل او په هغې کښې هیڅ دروغ نشته نو د دوی په باره کښې شک مه کوئ۔

فَمَا لَكُمۡ فِى الۡمُنٰفِقِيۡنَ فِئَتَيۡنِ ، مَا ، استفهامیه د پاره د تعجب او ملامتیا دے یا د انکار د پاره دے او خطاب ټولو مؤمنانو ته دے۔ فِى الۡمُنٰفِقِيۡنَ احتمال لری چه متعلق شی د فئتین د معنی سره یعنی مالکم تفترقُونَ فی المنافقین ۔یا حال دے د فئتین نه او مخکښې دے په ذوالحال باندے ۔او د فئتین په نصب (زور) کښې هم دوه وجے دی۔ اول دا حال دے د ضمیر د لکم نه او دیته حال لازمه وئیلے شی دا د بصریانو مذهب دے۔ یا خبر دے د کان پټ د پاره یعنی کنتم فئتین دا د کوفیانو مذهب دے۔ او مقصد دا دے چه تاسو سره هیڅ دلیل نشته د اختلاف

کولو په باره د منافقانو کښې ځکه دلیل ښکاره شو د هغوی د منافقت او د کفر۔
فائده ع۱:۔ د دے آیت په سبب نزول او مصداق د المنافقین کښې دوه اقوال مشهور دی۔
اول قول بخاری مسلم او ترمذی وغیره صحیح حدیث د زید بن ثابت رضی الله عنه ذکر کړیدے چه په احد کښې څه خلق د غزوے نه واپس شول (د غزوه شروع کولو نه مخکښې) نو د دوی په باره کښې د مؤمنانو په مینځ کښې اختلاف پیدا شو۔ بعضو وئیل چه موږ دوی قتل کوو یعنی دوی کافر دی او بعضو وئیل چه نه دوی خو مؤمنان دی کلمه د ایمان وائی۔ نو دا آیت د هغوی په باره کښې نازل شو۔ دویم قول ابن کثیر د عوفی عن ابن عباس رضی الله عنهما نه او قرطبی دا قول د ضحاک نه نقل کړیدے چه دا یو قوم وو په مکه مکرمه کښې کلمه د ایمان ئے وئیله لیکن د مشرکانو په خلاف جنګونو کښې ئې مدد نه کوله نو په مؤمنانو کښې د دوی په باره کښې اختلاف راغے چه دا کافران دی یا مؤمنان دی۔ نو دا آیت د هغوی په باره کښې نازل شو۔
فائده ع۲:۔ قرطبی وئیلی دی چه اول قول د نقل په اعتبار (سند) سره اصح دے او دویم قول د پاره تائید روستو آیت کښې حَتّٰى يُهَاجِرُوْا دے یعنی دا هغه خلق دی چه هجرت ئې نه دے کړے۔ نو په ظاهر کښې په دے دواړو کښې تعارض دے او دفع د تعارض په دوه وجوهو سره ده۔
اوله وجه دا ده چه په معنیٰ د هجرت کښې تاویل او کړیشی یعنی د هغې نه مراد ښکاره توبه کول دی د منافقت نه لکه چه روستو به ان شاء الله ذکر شی۔
دویمه وجه، په اسباب نزول کښې د ظاهری تعارض په وخت کښې توجیه کیدیشی چه یو اصل سبب دے او بل مصداق دے په اعتبار د عموم د الفاظو سره یعنی د بخاری او مسلم

روایت کښې په اعتبار دَ عموم الفاظو سره هغه منافقان داخل دی چه په احد کښې یٔې دَ جهاد کولو نه اعراض کړیدے او اصل مصداق یٔې هغه منافقان دی چه هغوی په مکه مکرمه او په ګرد نواح کښې وو او دَ هجرت نه یٔې اعراض کړے وو.
فائده ۳: په دے ټولو واقعاتو کښې یو بے ډلے دَ مؤمنانو په ظاهر کلمه دَ اسلام لوستلو سره استدلال کوو په ایمان دَ هغوی باندے او بله ډله استدلال کوو دَ هغوی په فرض جهاد پریخودلو او دَ مشرکانو په تعاون کولو او دَ هجرت نه په اعراض کولو چه دوی منافقان دی. نو معلومه شوه دَ مالکم نه چه په استدلال کښې اوله ډله خطا شویده. مجتهد په وخت دَ خطائی کښې هم دَ یو اجر مستحق ګرځی په سبب دَ حدیث مشهور سره. لیکن هر کله چه خطائی ښکاره وی نو قابل دَ ملامتیا او عدم اتباع دے. (ابن عاشور).
وَاللّٰهُ أَرْكَسَهُمْ، رکس په اصل کښې رد کول دَ څیز دی یا الټه کول دی په سریاندے. او دَ دے په مراد کښې ډیر اقوال نقل دی. ضحاک عن ابن عباس رضی الله عنهما په نیز په معنیٰ دَ رد دے یعنی دوی یٔې کفر ته واپس کړیدی. دویمه معنیٰ الله تعالیٰ الټه (ړپرمخ) ګرځولے دی دوی لره په اور دَ جهنم کښې. او دریمه معنیٰ دَ سدی په نیز ګمراه کول دی. او دَ ابن عباس رضی الله عنهما بل روایت دے چه بند کړیدی دوی لره په جهنم کښې. او دَ بخاری رحمه الله په نیز کمزوره کړیدی دوی لره او دَ قتاده په نیز هلاک کړیدی دوی لره. دا ټول تعبیرات په اصل کښې یو مقصد ته راجع دی.
بِمَا كَسَبُوا، باء، سببیه ده او ما مصدریه ده او دَ دینه مراد دَ منافقت اعمال او هغه افعال قبیحه دی چه په مخکښې آیتونو کښې ذکر شویدی. او دَ جهاد، دَ احد نه اعراض کول او دَ مؤمنانو په مقابله کښې دَ کافرانو سره ښکاره ملګرتیا کول او هجرت نه کول دی.

وَدُّوْا لَوْ تَكْفُرُوْنَ كَمَا كَفَرُوْا

غواړي دوی چه کافران شئ تاسو لکه چه دوی کافران دي

فَتَكُوْنُوْنَ سَوَآءً فَلَا تَتَّخِذُوْا

نوشئ به تاسو برابر نو مه نیسئ

مِنْهُمْ اَوْلِيَآءَ حَتّٰى يُهَاجِرُوْا

دَ دوی نه دوستان تردے پورے چه هجرت اوکړي

فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ؕ فَاِنْ تَوَلَّوْا

په لار دَ الله تعالیٰ کښې، نو دوی که مخ اوګرځوو

فَخُذُوْهُمْ وَاقْتُلُوْهُمْ حَيْثُ

نو نیسئ دوی (په قید کولو) او وژنئ دوی کوم ځائے

اَتُرِيْدُوْنَ اَنْ تَهْدُوْا مَنْ اَضَلَّ اللّٰهُ ، فَمَا لَكُمْ کښې توبیخ اجمالي وو یعنی جهت دَ توبیخ معین نه وو نو په دے جمله کښې دَ هغے تعین کوی یعنی هغه فریق دَ مؤمنانو چه دغه منافقانو ته مؤمنان وائی نو دَ دوی دغه قول خطا دے۔ ذکر دَ ارادے دَ زیات توبیخ دَ پاره دے یعنی هغه کسان چه الله تعالیٰ ګمراه کړیدی نو تاسو دَ هغوی په صحیح لار باندے راوستل نشئ کولے نو دَ دے خیرے اراده هم محال ده۔ او بل دا احتمال هم دے چه تهدوا په معنیٰ دَ حکم کولو دے په هغوی باندے دَ مهتدین او مسمی کول هغوی لره په نوم دَ مهتدینو سره او شمارل دَ مهتدین نه (قرطبی، ابوالسعود)۔ او دَ دے پشان نور آیتونه هم شته لکه سوره روم ۲۹، سوره اعراف ۱۸۶، سوره کهف ۱۷، سوره زمر ۳۶، سوره غافر ۳۳ او سوره شوریٰ ۴۴، ۴۶۔ وَمَنْ يُّضْلِلِ اللّٰهُ فَلَنْ تَجِدَ لَهٗ سَبِيْلًا ، دا تاکید دے دَ مخکښې جملے دَ پاره - او دَ هغے دَ پاره په منزله دَ علت دے۔ سَبِيْلًا نکره په سیاق دَ نفی کښې دَ عموم دَ پاره ده یعنی دَ دا سے خلقو

وَجَدْتُّمُوْهُمْ وَلَا تَتَّخِذُوْا مِنْهُمْ

چه موئ تاسو دوی لره او مهٔ نیسئ د دوی نه

وَلِيًّا وَّلَا نَصِيْرًا ﴿۸۹﴾

دوست او نه امدادی۔

د پاره هیڅ لار فائده منه نشته نو هدایت به ورته څرنګه حاصل شي۔

سا ۸۹ :۔ دا د اتریدون د جملے سره متعلق دے په طریقه د علت سره یعنی دوی په تعصب کښ داسے حد ته رسیدلے دی چه تاسو کافر کوی نو تاسو د دوی د هدایت څنګه اراده لرئ۔

وَدُّوْا لَوْ تَكْفُرُوْنَ كَمَا كَفَرُوْا ، لَوْ مصدریه دے سره د مابعد نه په تاویل د مصدر سره مفعول دے د ودوا د پاره۔ یا لَوْ شرطیه دے نو د ودوا مفعول پټ دے او د دے لو جواب هم پټ دے یعنی وَدُّوْا کفرکم (دوی ستاسو کفر غواړی) لَوْ تَكْفُرُوْنَ كَمَا كَفَرُوْا لیسروا بذلك (که چرے تاسو کفر اوکړو لکه چه دوی کافر دی نو دوی به په دے باندے خوشحاله شي)۔

فَتَكُوْنُوْنَ سَوَآءً ، دا عطف دے په تکفرون باندے۔ سَوَآءً په معنیٰ د مستوین دے یعنی دوی ستاسو کفر کول او په کفر کښ د دوی سره برابریدل غواړی۔

سوال :۔ کما کفروا دلالت کوی په مماثلت باندے او سوآء هم دغه دلالت کوی نو تکرار کښ څه فائده ده ؟

جواب :۔ اول مماثلت په نفس کفر کښ دے۔ او دویم مساوات په طریقه د کفر کښ دے چه هغه کفر کول دی په صورت د منافقت کښ او اتباع کول دی د ګمراه مشرانو۔

فَلَا تَتَّخِذُوْا مِنْهُمْ اَوْلِيَآءَ ، هر کله چه د دوی په کفر او عداوت باندے د مؤمنانو سره تصریح اوکړه نو اوس مؤمنانو ته حکم کوی د هغوی نه په براءت کولو باندے په نهی کولو سره د هغوی سره د هر قسم دوستانے نه۔

حَتّٰى يُهَاجِرُوْا فِىْ سَبِيْلِ اللّٰهِ، يعنى دوى اګر چه د ايمان دعوى کوى خو د دوى د ايمان د صحت علامت هجرت کول دى د دار کفر نه دار اسلام ته په دغه وخت کښ هجرت مدينے ته فرض وو تر فتح مکے پورے او د هغے نه روستو هر هغه ملک نه چه مسلمان په هغے کښ د اسلام د شعائرو د اظهار قدرت نه لرى هجرت کول فرض دى د اسے ملک او وطن ته چه هلته خپلے دينى لارے چارے او دعوت په آزادئ سره کولے شى - او د اسے حکم په سوره انفال ہے کښ هم راځى -
فائده :- امام رازى، قرطبى او آلوسى وغيره وئيلى دى چه د هجرت درے اقسام دى- اول قسم د دار کفر نه دار اسلام ته راوتل دى - دويم قسم د ګناهونو پريخودل دى- دريم قسم وتل دى د خپل کور او کلى نه د قتال فى سبيل الله د پاره -هر کله چه په تير شوى آيت کښ سبب نزول د مدينے د منافقانو واپس کيدل وو د غزوه احد نه نو دلته د هجرت نه مراد دريم قسم دے او توبه کول دى د تير شوى ګناه نه چه تختيدل وو د قتال فى سبيل الله نه - او که چرے دويم سبب نزول مراد شى نو د هجرت اول قسم مراد دے.
فَاِنْ تَوَلَّوْا فَخُذُوْهُمْ وَاقْتُلُوْهُمْ حَيْثُ وَجَدْتُّمُوْهُمْ، که چرے دوى مخ واړوو د هجرت کولو نه (که د هجرت اول قسم مراد وى او که دريم قسم مراد وى) نو فَخُذُوْهُمْ، د نيولو نه مراد قيد کول دى په وخت د لاس برکيدلو کښ په هغوى باندے - حَيْثُ وَجَدْتُّمُوْهُمْ، يعنى که حل وى او که حرم وى يو ځائ وى او که ګنړ وى - وَجَدْتُّم، نه موندل يا قادر کيدل مراد دى.
وَلَا تَتَّخِذُوْا مِنْهُمْ وَلِيًّا وَّلَا نَصِيْرًا، په دے تکرار کښ ډير تاکيد دے يعنى د دوى نه پوره اجتناب اوکړئ يعنى د دوى د طرف نه هيڅ ولايت او نصرت مه قبلوئ - فَلَا تَتَّخِذُوْا مِنْهُمْ اَوْلِيَآءَ کښ مراد دا وو چه ستاسو د طرف نه دوى سره

إِلَّا الَّذِينَ يَصِلُونَ إِلَىٰ قَوْمٍ

مګر هغه کسان چه یو ځائے کیږي د هغه قوم سره

بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُمْ مِّيثَاقٌ

چه په مینځ ستاسو او د دوي کښ وعده وي

أَوْ جَاءُوكُمْ حَصِرَتْ صُدُورُهُمْ

یا راشي دوي تاسو ته چه بند وي سینې د دوي

أَنْ يُقَاتِلُوكُمْ أَوْ يُقَاتِلُوا

چه جنګ اوکړي تاسو سره یا جنګ اوکړي

قَوْمَهُمْ ۚ وَلَوْ شَاءَ اللَّهُ لَسَلَّطَهُمْ

د قوم خپل سره ، او که غوښتے وے الله تعالیٰ خامخا زورآور کړي به وو دوي

عَلَيْكُمْ فَلَقَاتَلُوكُمْ ۚ فَإِنِ اعْتَزَلُوكُمْ

په تاسو باندے نو خامخا جنګ به کړے وے دوي تاسو سره نو که دوي ډډه کوله ستاسو نه

فَلَمْ يُقَاتِلُوكُمْ وَأَلْقَوْا إِلَيْكُمُ

او جنګ نه کوي تاسو سره او درکوي تاسو ته

السَّلَمَ فَمَا جَعَلَ اللَّهُ لَكُمْ

روغه ، نو نه ده ګرځولے الله تعالیٰ تاسو لره

عَلَيْهِمْ سَبِيلًا ﴿٩٠﴾

په دوي باندے لار (د جنګ کولو)۔

هیڅ ولایت جائز نه دے۔ نو په دے آیت کښ د منافقانو
اول قسم ذکر شو چه د هغوي سره قتل وقتال باندے امر شوي دے۔
۹۰:۔ په دیکښ د دوه قسمه منافقانو استثناء کوي چه د دار اسلام
نه بهر وي۔ یو قسم معاهد د معاهد دویم قسم عاجز اوبے وسه۔

إِلَّا الَّذِينَ يَصِلُونَ إِلَىٰ قَوْمٍ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُم مِّيثَاقٌ، په دے استثناء کښې دوه اقوال دی۔ اول دا استثناء متصل ده د دے قول نه چه فخذوهم واقتلوهم یعنی استثناء په قتل او رانیولو کښې ده په موالات او دوستانه کښې نه ده۔ ځکه چه دوستانه خو د دغسے خلقو سره هم منع ده۔ او دا قوم کافران یا منافقان دی۔ او وصلت نه مراد معاهده کول دی یا پناهی حاصلول دی۔ او قَوْمٍ بَيْنَكُمْ نه مراد کافران دی لیکن د هغوی د مسلمانانو سره معاهده ده د عدم قتال۔ نو الذین یصلون ته معاهد المعاهد وئیلے شی نو ترڅو پورے چه دغه عهد او وصل شته نو د دوی سره قتال نشی کیدے۔ أَوْ جَاءُوكُمْ حَصِرَتْ صُدُورُهُمْ، په دیکښې بل قسم ذکر کوی۔ او د تنویع د پاره دے حصرت حال دے په تقدیر د قد سره د بصریانو په نیز او بغیر د قد نه د کوفیانو په نیز۔

حصر په اصل کښې تنګسیا او انقباض ته وئیلے شی او کراهیت او نفرت ته هم وئیلے شی۔

أَن يُقَاتِلُوكُمْ أَوْ يُقَاتِلُوا قَوْمَهُمْ، دلته مِنْ پټ دے یعنی دوی تاسو ته ځی راځی په داسے حال کښې چه د دوی سینے ستاسو د قتال نه او د خپل قوم سره د قتال کولو نه تنګی دی یعنی ستاسو سره په قتال کښې ملګرتیا نه کوی او نه د خپل قوم کافرانو سره یا نه تاسو سره قتال کوی او نه د خپل قوم سره یعنی د بزدلئ او بے وسئ د وجے نه د هیچا سره قتال نه کوی۔ او په دیکښې بله توجیه دا ده چه دوی مدینے ته راځی یعنی هجرت کوی لیکن شرط لګوی چه مونږ به تاسو سره په قتال کښې شرکت نه کوو ځکه چه ایمان مو راوړے دے خو د خپل قوم سره به د قومیت د وجے نه قتال نه کوو۔ نو دوی ته په اول د اسلام کښې اجازت وو او د دے مصداق بنو مدلج قبیله ده) لیکن هر کله چه اسلام قوی شو نو دا حکم منسوخ شو۔ قرطبی وئیلی دی چه اوله توجیه غوره ده۔

وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ لَسَلَّطَهُمْ عَلَيْكُمْ فَلَقٰتَلُوْكُمْ، په دے جمله کښ مقصد احسان کول دی په مؤمنانو باندے او د تسلیط نه مراد د هغوی په زړونو کښ قوت اچول او رعب لرے کول دی او قرطبی وئیلی دی چه د دے تسلیط درے وجے کیدیشی- اوله وجه اظهار د ګناهونو په مؤمنانو کښ او مداهنت او سستی د هغوی د قتال نه نو تسلیط د کافرانو په مؤمنانو باندے په طریقه د عقوبت او د سزا سره دے- دویمه وجه تمحیص (صفا کول د مؤمنانو) د ګناهونو نه- دریمه وجه ابتلاء او امتحان دے په مؤمنانو باندے- وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ دلالت کوی چه دا ټول کارونه په مشیت د الله تعالیٰ سره دی-

فَاِنِ اعْتَزَلُوْكُمْ، دا تفصیل د هغے استثناء دے چه په اِلَّا الَّذِيْنَ کښ اجمالاً ذکر شوے دے په ذکر د دوه شرطونو سره اول شرط اعتزال د هغوی دے ستاسو نه اعتزال په اصل کښ ادا کولو ته وئیلے شی- او دلته د اعتزال نه مراد دا دے چه دوی خپل قوم لره په وخت د جنګ ستاسو کښ پریږدی او د هغوی نه جدا شی او ستاسو د جنګ نه ډډه کوی- یا اعتزال په معنیٰ د مهادنت (صلح کولو) دے-

فَلَمْ يُقَاتِلُوْكُمْ، دا نتیجه د اعتزال ده- وَاَلْقَوْا اِلَيْكُمُ السَّلَمَ، دا دویم شرط دے سلم په معنیٰ د صلح کولو او د انقیاد کولو دے- او القاء لفظ کښ اشاره ده پوره اظهار د سلم ته ګویا که پشان د محسوس سره دے-

فَمَا جَعَلَ اللّٰهُ لَكُمْ عَلَيْهِمْ سَبِيْلًا، دا حکم دے او معنیٰ د استثناء ده)- عَلَيْهِمْ، مضاف پټ دے یعنی عَلٰى اَخْذِهِمْ وَقَتْلِهِمْ- سَبِيْلًا په معنیٰ د "اذن" او دلیل سره دے او په دے کښ مبالغه ده په تعرض نه کولو هغوی ته ځکه چه په چا باندے لاره نه وی نو هغوی په خنګه اونیسی یا قتل کړی-

سَتَجِدُوْنَ اٰخَرِيْنَ يُرِيْدُوْنَ

زر دے چه او به مومئ تاسو نور خلق (منافقين) چه غواړی دوی

اَنْ يَّاْمَنُوْكُمْ وَيَاْمَنُوْا قَوْمَهُمْ ط

چه په امن شی دوی ستاسو نه او په امن شی دَ قوم خپل نه،

كُلَّمَا رُدُّوْٓا اِلَى الْفِتْنَةِ اُرْكِسُوْا

هر وخت چه او بللے شی فتنه (شرک) ته نو نسکور پريوځی

فِيْهَا ج فَاِنْ لَّمْ يَعْتَزِلُوْكُمْ

په هغے کښې پس که دوی ځ ډه نه کوی ستاسو نه

وَيُلْقُوْٓا اِلَيْكُمُ السَّلَمَ وَيَكُفُّوْٓا

او نه پيش کوی تاسو ته روغه او نه بندوی

اَيْدِيَهُمْ فَخُذُوْهُمْ وَاقْتُلُوْهُمْ

لاسونه خپل (دَ جنګ ستاسو نه) نو نيسئ دوی (په قيد کولو) او وژنئ دوی

حَيْثُ ثَقِفْتُمُوْهُمْ ط وَاُولٰٓئِكُمْ

کوم ځائے چه وس برشی ستاسو په دوی بانديے، او دغه کسان

جَعَلْنَا لَكُمْ عَلَيْهِمْ سُلْطٰنًا

ګرځولے دے موږ تاسو لره په (جنګ) دَ دوی باندے دليل

مُّبِيْنًا ﴿۹۱﴾

ښکاره۔

۹۱: په دے آيت کښې دَ منافقانو څلورم قسم ذکر کوی او دَ هغوی سره دَ قتل و قتال امر کوی۔
سَتَجِدُوْنَ، دَ وجدان نه مراد اطلاع موندل او خبريدل دی او يو مفعول ته متعدی دے۔

اخَرِیۡنَ، په دے لفظ کښې اشاره ده چه دا قسم د مخکنو قسمونو نه بالکل غیر دے - ابن کثیر وئیلی دی چه دا خلق اګرچه په ظاهر کښې د مخکنو پشان دی لیکن د دوی او د هغوی په نیتونو کښې فرق دے۔

یُرِیۡدُوۡنَ اَنۡ یَّاۡمَنُوۡکُمۡ وَیَاۡمَنُوۡا قَوۡمَهُمۡ، یعنی دا قوم دا سے منافقان دی چه نبی صلی الله علیه وسلم او صحابه کرامو ته ئے اسلام ښکاره کوو د دے د پاره چه د دوی ځانونو او مالونه او اولاد د مؤمنانو نه بچ پاتے شی او د کافرانو سره پټ رازونه ساتی او د هغوی د معبودان باطله عبادت هم کوی دے د پاره چه د هغوی نه هم په امن کښې اوسیږی - یُرِیۡدُوۡنَ کښې د دوی نیتونه مراد دی یعنی په نیتونو کښې ئے صرف خپل ځان بچ کول غرض دے دوستانه ئے مقصد نه دے۔

کُلَّمَا رُدُّوۡا اِلَی الۡفِتۡنَةِ اُرۡکِسُوۡا فِیۡهَا، د فتنے نه مراد شرک کول دی یا قتال کول د مسلمانانو سره - اُرۡکِسُوۡا نه مراد واپس اوړیدل دی شرک کولو ته یا اوړیدل دی د مؤمنانو د عهد نه۔

فَاِنۡ لَّمۡ یَعۡتَزِلُوۡکُمۡ، د دوی د قتال د پاره ئے درے شرطونه ذکر کړیدی - اول عدم اعتزال مخکښې آیت کښې د اعتزال ثبوتی معنے ذکر شویدی نو دلته د هغے مخالف جانب مراد دے یعنی ستاسو د جنګ نه ډډه نه کوی، تاسو سره هیڅ مصالحت نه کوی او تاسو ته د هر قسم ضرر او تکلیف رسولو کوشش کوی۔

وَیُلۡقُوۡا اِلَیۡکُمُ السَّلَمَ، دا دویم شرط دے او دلته دا د لم لاندے دے۔

وَیَکُفُّوۡا اَیۡدِیَهُمۡ، دا هم د نفی د لاندے داخل دے او دا ئے دریم شرط دے یعنی ستاسو د جنګ نه لاس نه بندوی۔

فائده :- مخکښې آیت کښې دوه شرطونه په طریقه د اثبات سره ذکر کړے وو او دلته ئے درے شرطونه د نفی په طریقه سره ذکر کړل وجه دا ده چه مخکښې قسمونو نه اعتزال، القاء د سلم په استقبال کښې امید کیدے شو او د دے قسم نه په راتلونکے

وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ اَنْ يَّقْتُلَ

او نه دی جائز مؤمن لره چه اووژنی

مُؤْمِنًا اِلَّا خَطَأً ج وَمَنْ قَتَلَ

یو مؤمن مگر په خطا سره (نوحکم دهغے واورئ) او چاچه قتل کړو

مُؤْمِنًا خَطَأً فَتَحْرِيْرُ رَقَبَةٍ

مؤمن لره په خطا سره نو په ده باندے آزادول د مریی

مُّؤْمِنَةٍ وَّدِيَةٌ مُّسَلَّمَةٌ

مؤمن دی او دیت دے سپارلے شوے وارثانو

اِلٰى اَهْلِهٖۤ اِلَّاۤ اَنْ يَّصَّدَّقُوْا ط

د هغه ته مگر که هغوی صدقه اوکړی (په معاف کولو د دیت)

فَاِنْ كَانَ مِنْ قَوْمٍ عَدُوٍّ لَّكُمْ

نو که وی (مقتول) د هغه قوم نه چه دشمن ستاسو دے

زمانه کښ د دغه درے امورو امید نه شی کیدے۔ او هر کله چه دلته امر د قتل او قتال دے نو عدم کف دلاسونو ئے تاکیدا ذکر کړو یعنی دوی د قتال دپاره ښه تیار دی۔
فَخُذُوْهُمْ وَاقْتُلُوْهُمْ حَيْثُ ثَقِفْتُمُوْهُمْ ، ثقافت نه مراد پوره وس او لاس برکیدل دی په هغوی باندے او په هر مکان کښ موندل دی نو په دیکښ ډیر تاکید دے په نسبت د وجدتموهم چه مخکښ آیت کښ ذکر وو۔ ځکه دا قسم ډیر اخبث منافقان دی په نسبت د مخکنو قسمونو۔
وَاُولٰٓئِكُمْ جَعَلْنَا لَكُمْ عَلَيْهِمْ سُلْطٰنًا مُّبِيْنًا ، اسم اشاره راوړلو کښ اشاره ده چه دا خلق د نورو قسمونو نه پوره جدا دی په سبب د ښکاره علاماتو د هغوی سره۔ عَلَيْهِمْ ، یعنی په نیولو او قتل کولو د هغوی باندے۔ سُلْطٰنًا مُّبِيْنًا ، ښکاره حجت

وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ

او دے وی مؤمن نو پہ (قاتل باندے) آزادول دَ مریی

مُّؤْمِنَةٍ ۖ وَإِنْ كَانَ مِنْ قَوْمٍ

مؤمن دی، او کہ وی (مقتول) دَ داسے قوم نہ

بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُمْ مِّيثَاقٌ فَدِيَةٌ

چہ پہ مینځ ستاسو او پہ مینځ دَ هغوی کښں پخه وعده دی نو لازم دے دیت

مُّسَلَّمَةٌ إِلَىٰ أَهْلِهِ وَتَحْرِيرُ

سپارلے شوے وارثانو دَ هغه تہ او آزادول دی

رَقَبَةٍ مُّؤْمِنَةٍ ۖ فَمَنْ لَّمْ يَجِدْ

دَ مریی مؤمن ، پس څوک چہ نہ موی (مریی مؤمن)

فَصِيَامُ شَهْرَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ

نو پہ هغه باندے روژے دی دوه میاشتے پرله پسے ،

تَوْبَةً مِّنَ اللَّهِ ۗ وَكَانَ اللَّهُ

دا آسانتیا ده دَ طرف دَ الله تعالیٰ نہ ، او الله تعالیٰ

عَلِيمًا حَكِيمًا ﴿٩٢﴾

پوهه دے حکمتونو والا -

او دلیل پہ منافقت او کفر دَ دوی او پہ استحقاق دَ قتل کولو دَ دوی - او ابن عاشور وئیلی دی چہ پہ دیکښں اشاره ده چہ مؤمنانو تہ دَ دوی دَ قتال پہ سبب سره مفسدان (دهشت گرد) او ظالمان نشی وئیلے کیدے -

ف۹۲: خلاصه :- دَ دے آیت نہ تر ۱۳۵ پورے شپږ امور سیاسیه ذکر کوی چہ دَ هغے نہ څلور دَ عسکری ترتیب سره تعلق لری (۹۲، ۹۴، ۹۷، ۱۰۱) او دویم دَ تحکیم بالکتاب والسنه سره

تعلق لری (ت۱۰۵ او ت۱۲۷ ته ت۱۳۰ پورې) امر اول (چه په ترتیب
کښې څلورم قانون دے) هغه مسئله د قتل خطائی او د هغے حکم
او قتل عمدی او د هغے اخروی سزا ده په (ت۹۲، ت۹۳ کښې - امر
دویم (پنځم قانون) هغه تحقیق او پوره تفتیش کول دی د
دعویدار د ایمان هسې نه چه هغه په خطائی سره قتل کړېشی
ت۹۴ کښې - او بیا ترغیب دے قتال فی سبیل الله ته په ذکر د
بشارت سره ت۹۵، ت۹۶ کښې - دریم امر (شپږم قانون) هغه اول
تخویف دے په هجرت نه کولو سره بغیر د معذوریتونه، بیا
ترغیب دے هجرت ته او اشاره ده چه اسلامی امارت او حکومت
دِ هغوی له د استوګنے انتظام اوکړی (ت۹۸، ت۹۹، ت۱۰۰) - څلورم
امر (یعنی اووم قانون) هغه اهتمام دے د مونځ کولو په وخت د
سفر او خوف کښې دے د پاره چه د اسلامی فوج نه مونځ پاتے
او قضاء نه شی (د ت۱۰۱ نه ت۱۰۴ پورې) - پنځم امر (اتم قانون)
هغه په تحکیم د قرآن او سنت کښې د خیانتګرو د طرفدارئ نه
ځان ساتل دی او د هغوی متعلق آداب او د هغوی قبیح صفات
ذکر کوی تر ت۱۰۹ پورې - او دفع د بعضے اوهامو ده د ت۱۱۰ نه ت۱۱۲
پورې - اثبات د صدق د رسول صلی الله علیه وسلم او هغه ته تسلی
په ت۱۱۳ کښې، بیا ذکر د آدابو دے - اول ادب په باره د نجوی کښې
دے په ت۱۱۴ کښې دویم په باره د مشاقه د رسول او په مخالفت
د صحابه کرامو کښې په تخویف سره په ت۱۱۵ کښې - دریم په باره
د شرک کښې عدم مغفرت د هغوی سره. د رد د شرک فی الدعاء
او شرک فی التحلیل والتحریم نه او تحذیر د شیطان نه د ت۱۱۶
نه تر ت۱۲۱ پورې او بشارت مؤمنانو ته ت۱۲۲ کښې - بیا ذکر د
تقابل دے په مینځ د تابعداری کوونکو د خواهشاتو او د وحی
کښې او پنځه اوصاف د مؤمنانو د ت۱۲۳ نه ت۱۲۵ پورې - بیا دعوی د
توحید په رد د شرک فی التصرف سره ت۱۲۶ کښې - شپږم امر (یعنی
نهم قانون) په ذکر د حفاظت د حقوقو د زنانو، وړو بچو،
یتیمانو او نکاح والو ښځو کښې تر ت۱۳۰ پورې - بیا ذکر د توحید

دے دپارہ د دریو مقاصدو او تخویف تر ۱۳۴ پورے - بیا جواب د یو وهم دے په آخره ۱۳۵ کښ - (تفسیر) په دے آیت ۹۲ کښ څلورم سیاسی قانون ذکر کوی چه هغه حکم د قتل خطائی دے دپاره د احتیاط کولو -

ربط ۱ :- هر کله چه قتال د کافرانو بیا د منافقانو سره ذکر شو نو اوس ذکر کوی حکم د قتل د مؤمن -

ربط ۲ :- مخکښ آیت کښ ذکر وو چه د منافق په قتال باندے په سبب د اظهار د کفر او قتال کولو د مؤمنانو سره) سلطان (دلیل) موجود دے نو اوس ذکر کوی چه څوک د ایمان دعویدار وی او د هغه په کفر باندے هیڅ دلیل نه وی نو د هغه په قتل و قتال باندے هیڅ سلطان نشته - نو او فرمائیل چه وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ أَنْ يَقْتُلَ مُؤْمِنًا إِلَّا خَطَأً ، د مَا كَانَ په باره کښ تفسیر په سوره آلعمران کښ ذکر شویدے - دلته د جمهور مفسرینو قول دا دے چه دا نفی په معنیٰ د نهی او تحریم سره ده لکه په دے قول د الله تعالیٰ کښ چه (وما كان لكم ان تؤذوا رسول الله - احزاب ۵۳) ځکه که چرے دا په معنیٰ د اخبار سره شی نو معنیٰ به دا شی چه هیڅ مؤمن بل مؤمن لره بغیر د خطاء نه نه قتل کوی او نه ئے قتل کړیدے او دا خو د واقع نه خلاف ده نو معلومه شوه چه دلته نهی مراد ده - إِلَّا خَطَأً ، دا استثناء منقطع ده په معنیٰ د لکن سره یعنی که چرے قتل کړی یو مؤمن بل مؤمن لره په خطاء سره نو د هغے حکم روستو وارد دے - او زمحشری وئیلی دی چه معنیٰ د نفی اخبار دے یعنی لائق نه دی د شان د مؤمن سره چه بل مؤمن لره په هیڅ علت او وجے سره قتل کړی مګر په علت د خطائی سره یا په هیڅ حال کښ مګر په حال د خطایی کښ - بنا په دے قول سره الا خطاءً استثناء متصله ده لیکن مفرغ ده - یا خطاء مفعول له دے یا حال دے - او قتل خطائی هغه دے چه په هغے کښ د فعل (قتل) کولو اراده

نه وي - او يا د يو شخص يا د ويستلو د روح په غالب حالاتو کښ آله د قتل نه وي او اراده هم نه وي يا په هغې د فعل حرام قصد نه وي (آلوسي، مهائمي) او قرطبي وئيلي دي چه د خطاء اقسام ډير دي. ليکن جامع پکښ عدم قصد دے او مثالونه ئې دا دي چه څوک د مشرکانو کافرانو په صفونو باندے د قتال په وخت کښ ګذار کوي ليکن په هغوی کښ مسلمان په هغې سره قتل شي - يا يو سړے د قتل مستحق وي او د هغه طلب کيږي خو د هغه په ځاے په بل چا باندے ګمان اوشي او هغه لره قتل کړي - يا څوک ښکار کوي يا نخه اولي او په هغه ګذار بل څوک مسلمان اولګي او مړ شي نو دا ټول د خطاء اقسام دي - او قرطبي ذکر کړيدي چه يو سړے د بل د پاسه اوغورزيګي او هغه لاندے کس مړ شي نو ده باندے به ديت او کفاره وي. يا يو شخص بل لره راکاږي او دواړه اوغورزيګي او مړه شي نو ديت به په عاقله (خاندان) د راخکونکي باندے وي - دا رنګ صورتونه د تصادم، حادثو (ايکسيډنټ) کښ هم ديت ذکر کړيدے.

وَمَنْ قَتَلَ مُؤْمِنًا خَطَأً فَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مُّؤْمِنَةٍ، عليه لفظ پټ دے - رَقَبَةٍ، ستۍ ته وئيلے شي ليکن ذکر د جزء او مراد ترينه کل نفس دے او په عرف کښ د دے اطلاق په مريي او وينزه باندے کيږي ځکه چه د مملوکيت او غلامۍ د وجے نه هغه داسے بند وي لکه چه د ستۍ نه تړلے شوے وي - مُّؤْمِنَةٍ، په دے کفاره کښ د مملوک ايمان په اتفاق سره شرط دے يعنې کوم مريي يا وينزه چه آزادولے شي هغه به مؤمنان وي - او نابالغ تابع د مور او پلار دے په ايمان کښ د هغه په کفاره کښ اداکولو کښ اختلاف دے -

فائده له :- دلته ابن کثير صحيح حديث ذکر کړيدے چه نبي صلى الله عليه وسلم د يو وينزے نه تپوس اوکړو چه اين الله (الله کوم ځاے دے) هغې اُوئيل چه په آسمان کښ دے بيا ئې ترينه تپوس اوکړو زهٔ څوک يم نو هغې اُوئيل رسول الله ئې.

نو نبی صلی اللہ علیه وسلم او فرمائیل دا آزاده کره (په کفاره کښې)
ځکه چه دا مؤمنه ده- دا حدیث مسلم، ابوداؤد، نسائی
وامام احمد د معاویه بن حکم په روایت سره راوړیدے۔
او په موطاء د امام مالک کښې د عمر بن الحکم په روایت سره
دے لیکن ابن عبد البر او زرقانی وئیلی دی چه دا د راوی وهم
دے د ټولو محدثینو په تیز باندے ځکه چه په صحابه کرامو
کښې عمر بن الحکم هیڅوک نشته۔

ځ:- یو وجه د کفارے (اګرچه خطاء ګناه نه دے) دا ده
چه دلته جرم د قاتل بے احتیاطی کول دی- دویمه وجه دا ده
چه په دے قتل سره تعطیل د بعضے حقوقو الهیو لازم شو
چه دے بنده په حال د ژوند کښې د الله تعالی بندګی کوله
یا به د ده د نسل نه یو مؤمن پیدا شوے وے- دریمه وجه
دا ده چه یو بنده ئے د ډلے د ژوندو نه او ویستلو نو لازم
ده چه یو مملوک (چه پشان د مړی دے) هغه آزاد کړی چه
د آزاد ژوند معاشرے ته راشی- (والله اعلم بحکم احکامه)

وَدِيَةٌ مُّسَلَّمَةٌ اِلٰٓى اَهْلِهٖ، دیت هغه مال ته وئیلے شی چه په عوض
د وینه د مقتول کښې د هغه وارث (متولی) ته ورکیدے شی-
مُسَلَّمَةٌ تسلیم، ادائیګی او ورکول د حق دی بغیر د تنګولو نه-
اَهْلِهٖ، د دیته مراد هغه ورثه دی چه د هغوی د مقتول په
ترکه (پریخودلے شوی مال) کښې د وراثت شرعی حق وی نو
که په دغه وارثانو کښې څوک د ده قاتل وی یا مملوک وی یا
کافر وی نو د هغه د پاره په دغه ترکه یا دیت کښې څه حصه نشته۔
بیا کفاره (مملوک آزادول) حق د الله تعالی دے او دیت ورکول
حق د بنده ده او په دے دیت ادا کولو سره د بدل اخستلو
جوش وجذبه ختمه شی او مصالحت پیدا شی- د دیت نور
تفصیلی احکام په صحیح احادیثو سره ثابت دی یعنی قرآن
کریم کښې په دے مسئله کښې اجمال دے او احادیث د
دے شرح ده نو معلومه شوه چه په قرآن کریم باندے

په عمل کولو کښې علم حدیث ته ډیر ضرورت دے - په مؤطاء امام مالک کښې حدیث د عمر رضی الله عنه حکم ذکر کړے دے چه هغه په سرو زرو والا بانډے زر دیناره او په سپینو زرو والا بانډ دولس زره درهمه قیمت کړے وو (په دیت کښې) او په یو روایت د ابو داود کښې دی چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم په اوښانو والو بانډے سل اوښان او غوانو والو بانډے دوه سوه غوایان او په ګډو بیزو والا بانډے دوه زره ګډے بیزے - او په کپړه والا بانډے دوه سوه جوړے مقرر کړیدی - او موضح القرآن کښې لیکلي دی چه دیت په اعتبار د تولو سره سپین زر تقریبًا دوه زره او وه سوه څلویښت تولے جوړیږی - په موجوده وخت کښې به د هغے د قیمت په اندازه دیت ورکولے کیږی -

د اهل سنت والجماعت په نیز بانډے دیت ورکول د قاتل په خاندان بانډے دی چه هغه د هغه عصبه دی - او که عاقله (خاندان) نه وی یا ډیر فقیران او بے وسه وی نو بیا به په بیت المال بانډے وی - او د علی رضی الله عنه په فیصله او په قول د عمر او ابن عباس رضی الله عنهم سره ثابت ده چه دا دیت به دوی درے کلونو کښې دننه ادا کوی -

اِلَّآ اَنْ يَّصَّدَّقُوْا ، دا متعلق دے په علیه پټ پورے یا په مسلمة پورے یعنی لازم دے په هغه بانډے دیت ورکول یا به سپارلے کیدیشی دا دیت په هر وخت او اوقاتو کښې مګر په هغه وخت چه تصدق (خیرات، معافی) او کړی اهل د مقتول په قاتل بانډے یعنی دیت ورته معاف کړی - معاف کولو ته ئے تصدق د ترغیب د پاره اُوئیلو لکه چه په سورة بقره ۲۸۰ کښې وو او دا په اصل کښې ابراء ده یعنی خپل حق او قرض پرے بخودل قرض والا ته -

فَاِنْ كَانَ مِنْ قَوْمٍ عَدُوٍّ لَّكُمْ وَهُوَ مُؤْمِنٌ ، کَانَ ، ضمیر مقتول خطاء ته راجع دے - د قَوْمٍ عَدُوٍّ نه مراد حربیان

کافران دی یعنی دا مقتول په هغوی کښ اوسیږی هجرت ئې نه وی کړے او حال دا چه صحیح مؤمن وی خو د هجرت وس ئې نه وی یا ئې کړے نه وی (یعنی گنهگار وی په ترک د هجرت سره) لیکن د نفاق او کفر هغه علامات پکښ نه وی کوم چه په ۸۹ کښ ذکر شول نو فَتَحۡرِيرُ رَقَبَةٖ مُّؤۡمِنَةٖ ، دلته هم علیه لفظ پټ دے یعنی په دغسے قاتل باندے صرف کفاره واجب ده او دیت واجب نه دے د هغے یوه وجه دا ده چه دیت ورکول په اصل کښ د وارثانو حق دے او د ده وارثان کافران دی هغوی له د ده په مال کښ حق د وراثت نشته. دویمه وجه دا ده چه د دے مؤمن حرمت او عزت ناقص دے د وجے د عدم هجرت نه نو حکم د قتل ئې هم ناقص دے لکه چه سورة انفال ۷۲ کښ دی. او دلیل په دیکښ حدیث د اسامه رضی الله عنه دے چه امام مسلم رحمه الله راوړیدے چه هغه یو شخص په دار حرب کښ قتل کړو هغه شخص په دغه وخت کښ لا اله الا الله اُوئیل لیکن د ده گمان دا وو چه دا صرف د ډیرے د وجے نه وائی. نو نبی صلی الله علیه وسلم په هغے باندے خفگان ښکاره کړو لیکن حکم د قصاص او دیت ئې اونکړو او د مربی د خلاصولو حکم ئې اوکړو (قرطبی).

وَإِن كَانَ مِن قَوۡمِۭ بَيۡنَكُمۡ وَبَيۡنَهُم مِّيثَٰقٞ فَدِيَةٞ مُّسَلَّمَةٌ إِلَىٰٓ أَهۡلِهِۦ وَتَحۡرِيرُ رَقَبَةٖ مُّؤۡمِنَةٖ ، په دیکښ مشهور دوه اقوال دی. اول قول دا چه د دینه مراد مؤمن دے چه په کافرانو معاهدینو کښ اوسیږی او په خطاء سره قتل کړیشی. دا قول د حسن بصری، جابر بن زید او ابراهیم نخعی رحمهم الله دے. نو په دیکښ دیت ورکول هم شته دے او آلوسی وئیلی دی چه اهله نه مراد د ده خاندان (وارثان) مسلمانان دی کافرانو ته به نشی ورکیدے ځکه چه کافر د مسلمان نه وارث نشی جوړیدے. او قرطبی وئیلی دی چه د ده دیت به کافرانو ته د معاهدے د وجے نه ورکیدیشی. او دویم قول دا ابن عباس

رضی الله عنهما او شعبی رحمه الله وغیره دے چه د دے نه مراد معاهد (ذمی) مقتول دے مؤمن نه دے مراد ځکه دلته ئے وهو مؤمن نه دے وئیلے نو د هغه دیت به عهد د وجے نه کافرانو ته ورکیدیشی) او د هغه په دیت کښ اختلاف دے چه نیم دیت به وی یا به پوره وی د مؤمن د دیت سره). ابن عربی دلته اول قول غوره کړیدے چه د دینه مراد مؤمن مقتول دے ځکه بحث په هغے کښ جاری دے او مطلق حمل دے په مقید باندے - او ابن جریر دویم قول غوره کړیدے.

فائده :- دلته ئے دیت په کفاره باندے مخکښ ذکر کړیدے دا د هغه د اهتمام د پاره او د وهم دفع کولو د پاره ځکه چه قوم ئے کافر دے نو وهم کیدیشی د دیت نه ورکولو نو اول ئے او فرمائیل چه دیت شته - میثاق ، د دینه مراد د مؤمنانو او کافرانو په مینځ کښ معاهده کول دی د ترک قتال د پاره - برابره خبره ده که دا معاهده وقتی طور وی یا همیشه د پاره وی -

فَمَنْ لَّمْ یَجِدْ فَصِیَامُ شَهْرَیْنِ مُتَتَابِعَیْنِ ، د لَمْ یَجِدْ مفعول پټ دے یعنی مومنه رقبه د آزادولو د پاره او نه مومی یا د ده په ملکیت کښ نه وی یا ورسره د هغے قیمت نه وی یا ملاویږی نه لکه په دے زمانه کښ - نو بیا په قاتل باندے په کفاره کښ دوه میاشتے پرله پسے روژے نیول لازم دی - او دا پرله پسے والے په اتفاق سره په حیض او نفاس سره نه ماتیږی او په مرض کښ د اهل علمو اختلاف دے.

تَوْبَةً مِّنَ اللهِ ، دا مفعول له دے د پټ فعل د پاره یعنی شرع لکم ذلك (لازم ئے کړو په تاسو باندے دا حکم د قبولیت د توبے د پاره) - په دے توبه کښ دوه اقوال دی اول قول دا دے شخص (قاتل) د بے احتیاطئ د وجے نه او دا هم مِنْ وجه ګناه دے - دویم قول دا دے چه دا توبه په معنی د تخفیف ده یعنی د الله تعالیٰ د طرف نه دا اسانتیا ده په تاسو باندے چه دا توبه په معنیٰ د تخفیف ده یعنی د الله تعالیٰ

دَ طرف نه دا آسانتیا ده په تاسو بانده چه دَ رقبه په ځائے درنه روزے قبلوی - او تاب، په معنیٰ دَ تخفیف سره په قرآن کښ ډیر استعمال دے لکه سوره توبه ۱۱۷، سوره مزمل ۲۰ او سوره بقره ۱۸۷.

جصاص وئیلی دی چه دا کفاره او دا توبه امر تعبدی دے په دے خبره دلالت نه کوی چه قتل خطاء گناه دے.

وَكَانَ اللّٰهُ عَلِيمًا حَكِيمًا ، عالم دے په هر څه نو په حال دَ قاتل بانده هم علم لری - او حکیم دے یعنی په دے احکامو کښ دَ هغه ډیر حکمتونه دی.

فائده له (اقسام دَ قتل)

دَ امام مالک رحمه الله په نیز دَ قتل دوه قسمونه دی یو قتل عمد او بل قتل خطاء - او دَ جمهورو اهل علمو په نیز درے اقسام دی - ۱ عمد ۲ شبه عمد ۳ خطاء - په عمد کښ قصاص دے او شبه عمد او خطاء کښ قصاص نشته دیت دے.

فرق ئے دا دے چه قتل عمد کښ شرطونه دی چه قاتل عاقل بالغ وی او دَ یو انسان معصوم الدم (بے گناه) دَ قتل قصد او کړی په داسے آله سره چه په هغے سره غالبًا قتل کیدیشی او پدے کښ په اور سره سوځول او اوبو کښ غرق کول او دَ غر دَ سر نه غورځول او دَ اوچت ځائے نه رارغړول یا راغورځول، دیوال پرے راغورځول، مرئ خفه کول، یو انسان قید کول او خوراک څښکاک نه ورکول تر دے چه مړشی، په درندگانو خوړل، او چه په یو انسان بانده په موجب دَ دم سره دَ دروغو شهادت ورکړی تر دے پورے چه هغه قصاص او قتل کړے شی بیا دَ شهادت نه رجوع او کړی، چاله زهر یا بل څه دوائی ورکول چه هغه پرے مړشی نو دا ټول په قتل عمد کښ راځی.

قتل شبه عمد دا دے چه قصد او کړی دَ یو معصوم الدم انسان دَ قتل په داسے څیز سره چه په هغے بانده غالبًا قتل نشی

واقع کیدے لیکن وهي تکوي ئې تر دے چه مرشي لکه ډانګ لوړ او ګټه وغیره په دې کښ وهل مقصد وي خو قتل کول ئې مقصد نه وي د دے وجې دیته مشابه د عمد وئیلے شي او په دې کښ دیت مغلظه واجب کیږي. په دې کښ د امام احمد، ابو داؤد او امام نسائي په نقل سره حدیث وارد دے چه نبي صلی الله علیه وسلم د فتح مکه په خطبه کښ فرمائیلي وو چه مقتول د خطاء العمد په کوړے، همسا او په ګټې سره دے. او قتل خطاء دا دے چه انسان یو مباح کار کوي لکه ښکار کول یا نشانه بازي او په هغې سره یو انسان معصوم الدم قتل شي یا څوک کوهې اوکني او هغې کښ څوک پریوځي (خو زمکه مملوکه او مباحه وي) یا ئې یو جال خور کړے وي د بل څه غرض د پاره او په هغې کښ یو انسان ونخلي او مړشي. او د دے په حکم کښ هغه قتل عمد هم دے چه د غیر مکلف نه صادر شوے وي لکه وړوکے نابالغ یا لیونے چالره قصداً قتل کړي. نو دا هم د خطاء په حکم کښ داخل دے فقه السنه (جلد ۲ صفحه ۴۲۶). او ابوحیان په دې کښ څلورم قسم ذکر کړیدے چه هغه نه عمد دے او نه شبه عمد او نه خطاء دے لکه قتل په سهو سره یا په خوب کښ لیکن دا قول غیر معروف دے ما د بل چا نه اوریدلے، لیدلے نه دے. والله اعلم بالصواب.

فائده ۲:- هر کله چه یوه مور خپل بچے په خوب کښ د ځان د لاندے کړي او هغه مړشي نو دا هم قتل خطاء دے کفاره او دیت پکښ واجبیږي لکه چه شیخ محمد عثیمین په خپل کتاب دروس حرم جلد ۲ صفحه ۱۲ کښ لیکلي دي ځکه چه د قتل خطاء تعریف په هغې باندے صادق دے مشابه دے د هغې سره چه شخص په بل چا باندے په ویخه په خطائۍ سره را اوغورزیږي او هغه مړشي چه هغه هم قتل خطاء دے. دلته د والدیت د وجې د قصاص نه دیت ساقطیږي لیکن د کفارے سقوط نه راځي.

سوال:- رُفِعَ الْقَلَمُ عَنْ ثَلَاثٍ عَنِ الْمَجْنُوْنِ حَتّٰى يُفِيْقَ

وَمَنْ يَّقْتُلْ مُؤْمِنًا مُّتَعَمِّدًا

او چاچه قتل کړو مؤمن لره په قصد سره

فَجَزَآؤُهٗ جَهَنَّمُ خٰلِدًا فِيْهَا

نو سزا د هغه جهنم دے ډیر وخت پورے به وی په هغے کښ

وَغَضِبَ اللّٰهُ عَلَيْهِ وَلَعَنَهٗ وَاَعَدَّ لَهٗ

او غضب کړیدے الله تعالیٰ په هغه باندے او لعنت کړیدے په هغه باندے او تیار کړیدے هغه له

عَذَابًا عَظِيْمًا ﴿۹۳﴾

عذاب لوے۔

وَعَنِ النَّائِمِ حَتّٰى يَسْتَيْقِظَ وَعَنِ الصَّبِيِّ حَتّٰى يَحْتَلِمَ) رواه احمد، ابوداؤد والترمذی۔ (پورته کړے شویدے قلم د درے کسانو نه۔ د لیونی نه تردے پورے چه په هوش شی د اوده نه تردے چه راویښ او بیدا شی او د نابالغ نه تردے چه بالغ شی) دا حدیث دلالت کوی چه په دے مسئله کښ (چه مور اوده وی) مکلف نه ده په کفاره وغیره باندے؟

جواب:۔ د رفع القلم نه مراد دا دے چه ګناه ئے نشته رفع د حکم نه ده مراد په دلیل د بل حدیث سره لکه (رُفِعَ عَنْ اُمَّتِیَ الْخَطَاءُ وَالنِّسْيَانُ)۔ په دے حدیث کښ بالاتفاق رفع د ګناه مراد ده او احکام شرعیه خو په خطاء او په هیره باندے په ډیرو عباداتو او جنایاتو کښ مرتب کړے شویدی لکه په مونځ کښ د خطاء کیدلو د پاره سجده سهوه واجب ده او په خطائی سره خوراک څښاک سره مونځ فاسدیږی اګرچه دا ګناه نه دے (والله اعلم بالصواب)۔

س۹۳:۔ د قتل خطاء د حکم نه روستو د قتل عمد حکم ذکر کوی۔ او حکم د قتل عمد دوه قسمه دے۔ او حکم دنیوی چه قصاص او دیت دے هغه ذکر کړے شویدے په سورة بقره س۱۷۸ کښ۔

دویم قسم حکم اخروی دے نو هغه دلته ذکر کوی - هر کله چه
په سوره بقره کښ مقصود رد کول وو په یهودیانو یا ندے نو هلته
ئے دَ قصاص حکم ذکر کړے وو ځکه چه یهودیانو په هغے کښ تحریف
کړے وو - او دلته خو دَ مؤمنانو ذکر دے نو دَ هغوی دَ تحذیر
دَ پاره حکم اخروی ذکر کوی چه هغه تخویف اخروی دے په قتل
عمد سره -

وَمَنْ يَّقْتُلْ مُؤْمِنًا ، تنکیر کښ اشاره ده که مؤمن کامل وی یا
فاسق وی (بغیر دَ اباحت دَ دم دَ هغه نه) مذکر وی او که مؤنث
وی بالغ وی او که نابالغ وی - او دا قاتل دَ هغه په ایمان باندے
عالم وی -

مُتَعَمِّدًا ، دا حال دے دَ فاعل دَ یقتل نه دلته په دیکښ عمد
او شبه عمد دواړه داخل دی ځکه چه په حکم اخروی کښ دواړه
برابر دی -

فَجَزَآؤُهٗ جَهَنَّمُ ، جزاء په گناه کښ هغه بدله وی چه مجرم په
سبب دَ جرم سره دَ هغے مستحق اوګرځی -

خَالِدًا فِيْهَا ، خلود او دِ حصار یدلو ته وئیلے شی او همیشوالی ته
هم وئیلے شی او کله چه لفظ ابد ورسره ذکر شی نو بیا ترینه پوره
همیشوالے مراد وی -

وَغَضِبَ اللّٰهُ عَلَيْهِ ، دَ الله تعالی دَ طرف نه غضب انتقام اخستل
دی بغیر دَ عفو کولو نه -

وَلَعَنَهٗ ، لعنت په معنی دَ رحمت خاصه نه محرومیدلو دی یعنی
دَ جنت نه په محروم وی -

وَاَعَدَّ لَهٗ عَذَابًا عَظِيْمًا ، دا سے لوے شان والا عذاب چه دَ هغے
په مقدار صرف الله تعالی عالم دے - پدیکښ پنځه تاکیدات ذکر
کړیدی او په آخری تاکید کښ چه اعد له عذابا عظیما دے درے
تاکیدات دی - دا ټول دلالت کوی په ډیر خباثت دَ قتل دَ مؤمن
باندے په عمد سره او دا رنګ ابن کثیر ډیر احادیث پدے
باره کښ ذکر کړیدی -

فائده :- د معتزلو مذهب دا دے چه قاتل د مؤمن په قتل عمدی سره او دا رنګ د هر ګناه کبیره مرتکب بغیر د شرک نه هغه به همیشه په جهنم کښ وی - او هغوی په دے آیت سره دلیل نیسی. او د ابن عباس رضی الله عنهما مذهب دا دے چه د مؤمن قاتل په قتل عمدی سره د هغه توبه نه قبلیږی او هغه به همیشه په جهنم کښ وی او دا قول ابن کثیر د زید بن ثابت، ابوهریره او ابن عمر رضی الله عنهم او ابوسلمة بن عبد الرحمن او عبید بن عمر، حسن، قتاده او ضحاک رحمهم الله وغیره نه هم نقل کړیدے - او قرطبی د ابن عباس، ابن عمر، زید بن ثابت رضی الله عنهم نه بل روایت ذکر کړیدے چه د ده توبه مقبوله ده - لیکن اول روایت د ابن عباس رضی الله عنهما امام بخاری په روایت د سعید بن جبیر سره نقل کړیدے او د هغے حاصل دا دے چه هغه وئیلی دی چه آیات د سوره فرقان ۶۹، ۷۰ په دے آیت سره منسوخ دی ځکه چه هغه مکی دی او دا مدنی آیت دے - او وئیلی دی چه دا آیت په هیڅ آیت سره نه دے منسوخ بلکه په دے مسئله کښ دا آخری آیت دے - او ابن کثیر او قرطبی وغیره وئیلی دی چه د جمهورو سلفو د امت او خلفو مسلک دا دے چه د دے قاتل توبه قبوله ده چه صحیح توبه اوکړی او انابت، خشوع او خضوع اوکړی او نیک اعمال کوی او وارثان د مړی رضا کړی، په دلیل د سوره فرقان ۶۹، ۷۰، سوره زمر ۵۳، او دا سورت ۱۱۶ - ځکه مخکښ دوه آیتونه عام دی ټولو ګناهونو ته (شرک، نفاق او قتل وغیره) او روستنے آیت ما سیوا د شرک نه نور ټولو ګناهونو ته شامل دے - او حدیث بخاری او مسلم چه یو قاتل چه په بنی اسرائیلو کښ سل کسان وژلے وو په سبب د توبے سره معاف کړے شو نو د دے امت نه یو قاتل خوامخا په توبه سره معاف کیږی چه الله تعالی او غواړی ځکه چه دا امت د هغوی نه غوره دے - او قرطبی دے قول ته صحیح وئیلی دی-

او دَ دے آیت په باره کښې دَ سلفو صالحینو نه ډیر اقوال نقل دی:
اول دا چه دا مطلق به په مقید باندے حمل شی یعنی جزاء ئے دا ده لیکن چه توبه اوباسی نو دغه جزاء معاف ده په قرینه دَ دغه آیاتونو او نورو ډیر صحیح احادیثو سره چه ابن جریر او ابن کثیر وغیرهما ذکر کړیدی۔
دویم قول دا دے چه ابوهریره رضی الله عنه فرمائیلی دی که چرے الله تعالیٰ جزاء ورکوی نو دائے جزاء ده لیکن په سبب دَ توبے دا جزا ساقطیږی دا سے نه دی فرمائیلی چه دا شخص به اور ته داخلیږی او همیشه به وی په هغے کښې بلکه صرف استحقاق دَ جزاء ئے ذکر کړیدے۔
دریم قول دا دے چه دَ خلود نه مراد مکث طویل (ډیره زمانه) ده او قرطبی وئیلی دی چه په دے معنیٰ سره په قرآن کریم کښې دا لفظ په سورة انبیاء ۳۴ او سوره همزه ۳ کښې هم راغلی دی او په عرف دَ عربو کښې هم استعمال دے۔ او دَ دے وجے نه ئے دَ دے سره دلته لفظ دَ ابد نه دے ذکر کړے۔
څلورم قول ابوالسعود وئیلی دی چه دا آیت او دَ ابن عباس او نورو سلفو رضی الله عنهم قول په تشدید او تغلیظ باندے حمل کړے دَ دے دَپاره چه دَ مؤمن دَ قتل عمد نه منع اوکړیشی۔
پنځم قول دا منسوخ دے په سوره فرقان او نورو آیاتونو سره۔ لیکن ابن عطیه وغیره وئیلی دی چه دا جواب ضعیف دے ځکه چه دا اخبار دے او په اخباراتو کښې نسخ نه راځی۔ او دَ ابن عباس رضی الله عنهما قولِ صحیح او صریح روایت نه (چه اول ذکر شو) خلاف دے۔ دارنګ چا دا آیت په کافرانو پورے خاص کړیدے په سبب دَ شانِ نزول دَ دے سره یا ئے دَ دے تاویل کړیدے په مستحل سره (چه څوک دَ مؤمن قتل حلال ګڼړی یا ئے دَ ایمان دَ وجے نه قتل کوی)۔
دغه اقوال احتمالات لری لیکن اهل تحقیق ضعیف کړیدی۔
هاں ابن کثیر وئیلی دی چه په توبے سره مطالبه دَ حق دَ بنده

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِذَا ضَرَبْتُمْ

اے ایمان والو! چه سفر کوئ تاسو

فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ فَتَبَيَّنُوْا وَلَا تَقُوْلُوْا

په لار د الله تعالیٰ کښ نو تحقیق کوئ او مه وایئ

لِمَنْ اَلْقٰٓى اِلَيْكُمُ السَّلٰمَ لَسْتَ

هغه چاته چه پیش کړی تاسو ته کلمه د اسلام چه نه یئ

مُؤْمِنًا ۚ تَبْتَغُوْنَ عَرَضَ الْحَيٰوةِ

مؤمن غواړئ تاسو سامان د ژوند

الدُّنْيَا ۡ فَعِنْدَ اللّٰهِ مَغَانِمُ

دنیوی پس د الله تعالیٰ سره غنیمتونه

كَثِيْرَةٌ ؕ كَذٰلِكَ كُنْتُمْ مِّنْ قَبْلُ

ډیر دی، د غسے وئ تاسو مخکښ

فَمَنَّ اللّٰهُ عَلَيْكُمْ فَتَبَيَّنُوْا ؕ

نو احسان اوکړو الله تعالیٰ په تاسو باندے (په کلکولو سره) پس تحقیق کوئ

اِنَّ اللّٰهَ كَانَ بِمَا تَعْمَلُوْنَ

یقیناً الله تعالیٰ په هغه عملونو چه تاسو کوئ

خَبِيْرًا ﴿۹۴﴾

خبردار دے۔

نه ساقطیږی او مطالبه خو سزا نه ده هغه خو په ټولو حقوق العباد کښ شته دے۔ او هغه په دنیا کښ په رضا کولو د خاوند د حق یا په فضل د الله تعالیٰ سره هم حاصلیدلے شی۔

۹۴:۔ په دے آیت کښ پنځم امر سیاسی دے چه اسلامی فوج

بانده لازم دی چه د سفر په وخت پوره تحقیق او وضاحت کوئ هسے نه چه د دوی د لاس نه مؤمن قتل شی۔
ربط ۱ :- مخکښ ئے حکم د قتل خطائی ذکر کړو عموماً اوس د قتل خطائی یو قسم ذکر کوی۔
ربط ۲ :- مخکښ چه د قتل خطائی حکم ذکر کړو نو اوس د مؤمن د قتل کولو نه د بچ کیدلو طریقه ښائی۔
يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا ضَرَبْتُمْ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ، اشاره ده چه تبین او بیداری د ایمان تقاضا ده۔ إِذَا ضَرَبْتُمْ، (کله چه تاسو سفر کوئ) د سفر ذکر ئے د دے وجے نه اوکړو چه یو شخص نه پیژندل چه دا مؤمن دے یا مؤمن نه دے دا اکثراً او غالباً په حالت د سفر کښ وی اګرچه دا حکم حضر ته هم شامل دے۔
فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ، دا لفظ هم د تحقیق او تبین د تاکید د پاره دے یعنی چه تاسو د الله تعالی د کلمے د اوچتوالی د پاره سفر کوئ نو د چانه چه دغه کلمه واورئ نو خامخا تحقیق کوئ۔
فَتَبَيَّنُواْ، امام راغب وئیلی دی چه تبین او تحقیق مستلزم دے مخکښ تثبیت لره یعنی اول دا یو څیز ثبوت ملاؤ شو نو روستو د ثبوت نه د هغے د ښکاره کولو کوشش اوکړے شی نو معلومه شوه چه تبین ابلغ دے د تثبیت نه۔ او ابو عبید او ابن عطیه وئیلی دی چه تبین او تثبیت یو شان دی لیکن اول قول غوره دے او په تبین کښ مقصد دا دے چه په هغه بانده بغیر د تحقیق نه د کافر حکم مه کوئ بلکه مخکښ وضاحت اوکړئ او د دے تحقیق مختلف طریقے دی۔ یعنی که هغه کلمه د اسلام وائی نو تپوس تری نه اوکړئ چه د شرک او کفر نه توبه کوی او که نه او د کافرانو نه براءت کوئ او که نه۔ او اوګورئ چه د شرک او کفر علامات پکښ شته او که نشته۔ دا رنګ چه په یو کلی کښ شعائر د اسلام اووینئ نو حمله په پرے نۀ کوی ځکه چه په حدیث کښ راغلی دی چه نبی صلی الله علیه وسلم به په یو کلی کښ اذان واوریدلو نو د هغوی نه به بند شو

(یعنی حمله به پرې بنده کړه) - او په مسند د حمیدی، طبرانی او بزار حدیث نقل کړې دے چه نبی صلی الله علیه وسلم به سریه لیږله نو هغوی ته به یې او فرمائیل چه هر کله مسجد او وینئ یا اذان واورئ نو هیڅ یو لره مه قتلوئ (اللباب).

وَلَا تَقُولُوا لِمَنْ أَلْقَىٰ إِلَيْكُمُ السَّلَامَ لَسْتَ مُؤْمِنًا، دا عطف د مسبب دے په سبب باندے یعنی تبین او تحقیق سبب دے دپاره د معنٰی د دے قول نه - دا رنګ په دے جمله کښ اشاره ده چه تبین د اشتباه د رفع کولو دپاره دے او اشتباه په سبب د سلام اچولو سره راځی - القاء کنایه ده د پوره اظهار نه چه مخاطب ترینه دا سے خبر شی لکه چه یو څیز د هغه مخے ته غورځولے شوے وی - السَّلَامَ، په دیکښ یو مشهور قراءت السلام دے او هغه په معنٰی د تحیه د اسلام دے یا په معنٰی د استسلام (انقیاد) دے - او ابن عطیه وئیلی دی چه په معنٰی د جګړه کولو او ترک کولو سره دے - او په بل قراءت کښ په السلم سره دے هغه هم په معنٰی د انقیاد او اطاعت سره دے - او په اسباب نزول کښ په یو روایت د امام احمد، ترمذی او بخاری کښ راغلی دی چه یو شخص صحابه کرامو ته السلام علیکم وئیلی وو (او دا کلمه په هغه زمانه کښ علامت د اسلام وو) - او په روایت د ابن جریر کښ راغلی دی چه هغه شخص وئیلی وو چه زه تسلیم یم - او په بل روایت د بزار کښ د مقداد بن اسود په روایت سره ذکر دی چه هغه شخص أَشْهَدُ أَنْ لَّا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ اُوئیل او صحابه کرامو خیال اوکړو چه دا شخص دا کلمه د ځان بچ کولو د پاره وائی نو هغوی قتل کړو (او دا قتل خطائی دے) - نو دا روایات دلالت کوی چه لفظ السلام دے ټولو کلماتو ته عام دے - د دے جملے حاصل دا دے چه هر کله یو شخص علامت د اسلام ښکاره کړو او په هغه کښ تاسو ته د کفر هیڅ علامت نه ښکاری نو په دا سے شخص باندے د مشرک او کافر حکم مه کوئ -

فائده :- اوس که یو شخص د شرک او کفر کارونه کوی (مثلاً قبر پرستی دُعا د غیر الله او د هغوی نذرونه وغیره) - او د دے سره کلمه د اسلام هم وائی نو دا شخص په دے آیت کښ داخل نه دے ځکه چه آیت کښ هغه څوک مراد دی چه په هغه کښ د کفر او شرک هیڅ علامات او کارونه ښکاره نشته -

تَبْتَغُونَ عَرَضَ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا، دلته "همزه" د استفهام د توبیخ د پاره پټه ده - یا دا جمله حال دے د ضمیر د تقولو نه - عَرَضَ، نه مراد هغه غنیمت او سامان دے چه د دغه مقتول سره وو را او ټول سامانونه د دنیا ته عرض وئیلے شی ځکه چه زر فنا کیدونکے دے بقا او قوام نه لری) - او عرض، (په سکون سره) ماسوا د روپو او اشرفو ته وئیلے شی (قرطبی).

فَعِنْدَ اللّٰهِ مَغَانِمُ كَثِيرَةٌ، دا د الله تعالیٰ د طرف نه وعده ده د مجاهدینو سره یعنی الله تعالیٰ به تاسو ته په حلاله او جائزه طریقے سره بغیر د څه شبهے نه غنیمتونه او مالونه درکړی - او مقاتل وئیلی دی چه دا نعمتونو د آخرت ته هم شامل دے -
مَغَانِمُ، جمع د مغنم دے ظرف مکان او زمان او مصدر میمی دریواړه کیدیشی - غنیمت په شرع کښ هغه مال ته وئیلے شی چه د دشمن کافرنه په جنګ سره حاصل شی -

كَذٰلِكَ كُنْتُمْ مِّنْ قَبْلُ فَمَنَّ اللّٰهُ عَلَيْكُمْ فَتَبَيَّنُوْا، سعید بن جبیر وئیلی دی چه په اول کښ تاسو هم د قوم (کافرانو) د ویرے د وجے نه ایمان پټ ساتلو پشان د دغه قتل کړے شوی نو الله تعالیٰ په تاسو احسان او کړو یعنی عزت او قوت ئے درکړو تر دے پورے چه تاسو خپل ایمان ښکاره کړو - او مقاتل وئیلی دی چه تاسو د هجرت کولو نه مخکښ د کافرانو په مینځ کښ وئ نو د صحابه کرامو په مخکښ به تاسو کلمه د اسلام وئیله د خپل امن د پاره نو الله د هجرت توفیق درکړو -
سوال :- ټول صحابه کرام خو په اول وخت کښ داسے نه وو

نو دا تشبیه څرنګ صحیح ده ؟
جواب :- دلته په خطاب کښې ټول صحابه کرام نه دي مراد بلکه بعض مراد دي چه د هغوی اول حال د غسې وو- او په خطاب کښې دا قانون دے چه د بعضو په اعتبار سره خطاب ټولو ته کیږي.
واکثر مفسرینو وئیلی دي چه په تشبیه سره مراد دا دے چه اول وخت کښې چه تاسو په اسلام کښې داخل شوئ نو صرف په وئیلو د کلمه توحید سره ستاسو مالونه او وینځ په حق د اسلام سره محفوظ شول د دے خبرے انتظار نه وو چه آیا ستاسو زړونو کښې ایمان شته او کنه- نو اوس هم د اول داخلیدونکو د اسلام سره داسے کار کوئ په ظاهري اقرار باندے اکتفاء کوئ.
په دے قول باندے دغه سوال نه پیښ کیږي- فَتَبَيَّنُوْا ، دا تکرار د تاکید د پاره دے یا د اول نه مراد تبین د هغه چا دے چه تاسو د هغوی د قتل کولو اراده لرئ او په دویم کښې تبین د نعمت د الله تعالی دے په تاسو باندے چه هغه اسلام دے- چه هغه په لفظ د فمن الله علیکم کښې ذکر شو-
إِنَّ اللَّهَ كَانَ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرًا ، په دے جمله کښې هم تحذیر دے او خبیر هغه ذات دے چه عالم وي پټو خبرو باندے پشان د علم په ظاهر باندے او هغه صرف الله تعالی دے-
فائده :- صاحب اللباب وئیلی دي که چرے یهودي یا نصراني او وائی چه زه مسلمان یم نو په دے کلمه هغه نه مؤمن نشي وئیلے کیدے ځکه چه هغوی خپل دین ته هم کله کله اسلام وائی او که کلمه د اسلام لا اله الا الله محمد الرسول الله او وائی نو هم د هغه په اسلام باندے حکم نشي کیدے ځکه چه هغوی د توحید کلمے د الفاظ نه منکر دي- او دا رنګ د محمد صلی الله علیه وسلم رسالت صرف عرب امیانو ته مني بلکه ضروري ده چه اقرار به کوي چه زمونږ دین باطل دے او اوس چه کوم دین اسلام دے نو هغه حق او فرض دے-

لَا يَسْتَوِي الْقٰعِدُوْنَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ

نه دی برابر ناست کسان دَ مؤمنانو نه

غَيْرُ اُولِي الضَّرَرِ وَالْمُجٰهِدُوْنَ

سیوا دَ عذر والو نه او جهاد کوونکی

فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ بِاَمْوَالِهِمْ

په لار دَ الله تعالیٰ کښ په مالونو خپلو

وَاَنْفُسِهِمْ ؕ فَضَّلَ اللّٰهُ الْمُجٰهِدِيْنَ

او په ځانونو خپلو، غوره والے ورکړے دے الله تعالیٰ جهاد کوونکو ته

بِاَمْوَالِهِمْ وَاَنْفُسِهِمْ عَلَى الْقٰعِدِيْنَ

په مالونو خپلو سره او ځانونو خپلو سره په ناستو کسانو باندے

دَرَجَةً ؕ وَكُلًّا وَّعَدَ اللّٰهُ

یو درجه، او هر یو سره وعده کړیده الله تعالیٰ

الْحُسْنٰى ؕ وَفَضَّلَ اللّٰهُ الْمُجٰهِدِيْنَ

دَ جنت او غوره والے ورکړیں دے الله تعالیٰ جهاد کوونکو لره

عَلَى الْقٰعِدِيْنَ اَجْرًا عَظِيْمًا ﴿۹۵﴾ لا

په ناستو کسانو ثواب لوئے.

دَرَجٰتٍ مِّنْهُ وَمَغْفِرَةً وَّرَحْمَةً ؕ

ډیرے درجے دَ طرف دَ الله تعالیٰ نه او بخنه کول او خاص رحم،

وَكَانَ اللّٰهُ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ﴿۹۶﴾ ع ۱۳ ۵ ۱۰

او دے الله تعالیٰ بخنه کوونکے رحم کوونکے.

ف۹۵، ف۹۶ :- په دے آیتونو کښ ترغیب دے جهاد (قتال) فی سبیل الله ته.

ربط:- هر کله چه مخکښ اُوئیلے شو چه بغیر د تحقیق کولو نه سفر د جهاد کښ څوک مه قتلوئ (کله چه کلمه د اسلام ظاهرًا او وائی) هسے نه چه گنهگار شئ نو وهم راغے چه هر کله دا سے حالت خامخا پیښ راځی نو ښه دا ده چه د جهاد د پاره په سفر نه کوو- نو د هغهٔ وهم د ازالے د پاره اُوئیلے شو چه د جهاد ثوابونه په دا سے وهمونو سره مهٔ پرېږدئ او د جهاد کولو نه مهٔ کېنئ-

لَا يَسْتَوِي الْقٰعِدُوْنَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ ، د کیناستلو نه مراد شرکت نه کول دی په جهاد فی سبیل الله کښ- او د دینه مراد هغه کسان دی چه هغوی ته د وجے د عدم ضرورت نه جهاد ته د پاتیکیدو اجازت دے- او په روایت د ابن عباس رضی الله عنهما کښ د دینه مراد هغه کسان دی چه د بدر په غزوه کښ شرکت نه دے کړے ځکه چه په هغے کښ شرکت کول لازم کړے شوے نه وو) نو د دواړو اقوالو مقصد یو شان دے- او د ابو حمزه نه روایت دے چه د دینه مراد د غزوه تبوک نه پاتیکیدونکی دی او هغوی بے اجازته پاتے شوے وو لیکن دا قول ضعیف دے- مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ، دا حال دے د القاعدون نه او په دیکښ اشاره ده چه قعود (پاتے کیدل) د جهاد نه سبب د کفر نه دے-

غَيْرُ اُولِي الضَّرَرِ، په دیکښ قراءت د پیښ او د زور او د زیر دریواړه شته لیکن د اکثرو په نیز په پیښ سره دے- نو په حال د پیښ کښ بدل دے د القاعدون نه یا صفت دے ځکه چه القاعدون په سبب د مصداق سره نکره ده نو صفت ئے په غیر مضاف کړی شوی سره جائز دے- او زجاج وئیلی دی چه دا غیر په طریقه د استثناء سره دے یعنی الا اولی الضرر- لیکن اول قول پکښ غوره دے ځکه چه دا کلام نفی ده او په دیکښ بدلیت غوره وی- او د الضرر نه مراد د بدن نقصان دے یعنی ړوند، ګوډ یا ډیر مریض وغیره یا د مال نقصان مراد دے یعنی د جهاد د سفر د پاره ورسره سامان تیار نشته- نو غیر اولی الضرر نه مراد صحیح روغ بدن والا دی چه سامان

دَ سفر ورسره شته دے - او په حدیث دَ بخاری کښ ثابت ده چه دا لفظ (غیر اولی الضرر) په سبب دَ طلب دَ عبد الله بن ام مکتوم سره روستو نازل شو-
وَالْمُجٰهِدُوْنَ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ بِاَمْوَالِهِمْ وَاَنْفُسِهِمْ، هر کله چه فعل دَ یستوی په صرف فاعل سره نه پوره کیږی بلکه جانب مقابل غواړی نو دا ئے جانب مقابل ذکر کړو - اَمْوَالِهِمْ دا ئے دَ دے وجے نه مخکښ راوړو چه انسان پخپله جهاد کوی نو هم انفاق دَ مال ورسره وی او که پخپله نه کوی نو انفاق دَ مال او کړی نو بیا هم یو قسم جهاد ئے او کړو نو معلومه شوه چه جهاد دَ مال عام دے - دَ آیت معنی دا ده چه مؤمنان چه جهاد له نه دی تلی او روغ جوړ دی نو برابر نه دی دَ هغه چا سره چه جهاد ئے کړے وی په مال او په نفس سره - او دَ دینه مراد عدم مساوات دے په فضیلت او ثواب کښ لیکن په لفظ دَ لا یستوی کښ ابهام دے ځکه چه دَ درجاتو دَ فرق تعین پکښ نه دے شوے-
سوال :- لفظ دَ غیر اولی الضرر دلالت کوی چه پاتے شوی معذوره دَ مجاهدینو سره برابر دی او که دلالت نه کوی؟
جواب :- بعضو علماؤ وئیلی دی چه دا دلالت نه کوی ځکه غیر که صفتی شی نو تخصیص دَ صفت دلالت نه کوی په نفی دَ حکم په ما سیوا دَ صفت کښ یعنی مفهوم الصفت معتبر نه دے- او که استثناء شی او وئیلے شوے دی چه استثناء دَ نفی نه دَ اثبات مستلزم نه ده - او بعضو علماؤ وئیلی دی چه استثناء دَ نفی نه مستلزم دَ اثبات ده نو دلالت کوی په مساوات باندے- او ابن عطیه وئیلی دی چه اولی الضرر په وخت دَ عدم جهاد کښ مساوی نشی کیدلے دَ مجاهدینو سره صرف دَ ملامتیا نه بچ دی- لیکن صحیح دا ده چه معذورینو لره په اجر دَ مجاهدینو کښ شرکت شته په دلیل دَ حدیث دَ صحیحین چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم دَ غزوه تبوک نه په واپسئ کښ فرمائیلی وو چه

په مدينه کښې دا سے خلق شته چه تاسو خو تلل کړيدي او سفر دِ وادئ مو کړيدے ليکن هغوی هم تاسو سره شريک دی دوی تپوس اوکړو هغوی په مدينه کښې دی هغه اوفرمائيل او په مدينه کښې دی ليکن عذر بند کړيدی۔

فَضَّلَ اللّٰهُ الْمُجٰهِدِيْنَ بِاَمْوَالِهِمْ وَاَنْفُسِهِمْ عَلَى الْقٰعِدِيْنَ دَرَجَةً،

داجمله مستانفه ده په استيناف بيانی سره چه هرکله عدم مساوات ذکر شو نو سوال پيدا شو چه عدم مساوات احتمال دَ زيادت هم لري لکه چه احتمال دَ نقصان لري نو حاصل دَ جواب دا دے چه دلته عدم مساوات دا دے چه قاعدين (پاتے کيدونکی) دَ مجاهدينو نه په درجه کښې خکته دی۔ هرکله چه مساوات او عدم مساوات په اعتبار دَ فضيلت سره دی دَ دے وجے نه لفظ دَ فضل ئے ذکر کړو. او لفظ الله دلالت کوی چه دا فضيلت هم په فضل او کرم دَ الله تعالىٰ سره دے۔ دَرَجَةً، دا مفعول مطلق دے په معنىٰ دَ تفضيلةً يا حال دے په معنىٰ دَ ذو درجةٍ يا ظرف دے يعنی فی درجةٍ يا حرف جر پټ دے يعنی بدرجةٍ (ديته منصوب بنزع الخافض وئيلے شی)۔

وَكُلًّا وَّعَدَ اللّٰهُ الْحُسْنٰى، كُلًّا، مفعول اول مقدم دے دَ وَعَدَ دِپاره او الحسنىٰ دويم مفعول دے۔ او کلا، په معنىٰ دَ کل واحد من المجاهدين والقاعدين سره دے۔ دَ الحسنىٰ نه مراد الجزاء الحسنىٰ ده چه هغه جنت دے۔

سوال:۔ هرکله چه قاعدينو جهاد پريخودلے دے نو دَ هغوی دِپاره ئے ولے الحسنىٰ ذکر کړه؟

جواب ۱:۔ دا قاعدين په سبب دَ اذن سره وو يعنی جهاد فرض کفائی وو نو دَ هغے په پريخودلو سره گنهگار نه دی۔

جواب ۲:۔ دلته دَ کلا نه مراد قاعدين اولی الضرر دی چه دَ هغوی دِپاره دَ مجاهدينو په ثواب کښې برخه شته ليکن اول جواب غوره دے۔

وَفَضَّلَ اللّٰهُ الْمُجٰهِدِيْنَ عَلَى الْقٰعِدِيْنَ اَجْرًا عَظِيْمًا،

إِنَّ الَّذِيْنَ تَوَفّٰهُمُ الْمَلٰٓئِكَةُ

يقيناً | هغه كسان | چه روح اخلي د هغوی | ملائک

ظَالِمِیْۤ اَنْفُسِهِمْ قَالُوْا فِيْمَ كُنْتُمْ ؕ

ظلم كوونكي په ځانونو خپلو (په هجرت نه كولو) وائي ورته دوى په څه كښ وئ تاسو.

سوال :- د مجاهدينو فضيلت ئے مكرر ذكر كړو او مخكښ ئے "درجةً" ذكر كړے وو او دلته اجر عظيم (درجات، مغفرت اورحمت) ذكر كړو د دے څه وجه ده ؟

جواب ۱ :- د قاعدين نه اول ځل مراد خاوندان د ضرر او عذر دى او روستو د قاعدين نه مراد بلا ضرر او عذر دى۔

جواب ۲ :- مخكښ "درجةً" نه مراد په دنيا كښ ده چه هغه په جهاد سره غنيمت حاصليدل دى او روستو د آخرت درجات مراد دى۔

جواب ۳ :- مخكښ قاعدين په اذن سره مراد دى او روستنى بلا اذن مراد دى۔

جواب ۴ :- مخكښ مجاهدين د قتال فى سبيل الله مراد دى او روستو مطلق مجاهد مراد دے يعنى جهاد بالنفس وبالمال او نور عبادات وغيره او د نفس په مقابله كښ مجاهده كول۔ او د دے وجے نه ئے روستو د باموالهم وانفسهم قيد نه دے ذكر كړے۔

دَرَجٰتٍ مِّنْهُ وَمَغْفِرَةً وَّرَحْمَةً ، دا د اجرًا نه بدل دے يا د دے د پاره بل فعل پټ دے يعنى اعطاهم (وركوى په ورته)۔ د دَرَجٰتٍ نه مراد اوچت منازل دى په جنت كښ۔ او صحيح حديث كښ راغلى دى چه په جنت كښ سل درجات دى د هر دوه درجاتو ترمينځ د آسمان او زمكے پشان فاصله ده او دا د مجاهدينو د پاره دى۔ او مغفرت كښ معاف كول د ټولو گناهونو مراد دى۔ دا ئے د دے وجے نه ذكر كړو چه زوال د درجاتو په سبب د گناهونو سره نه واقع كيږى ځكه چه گناهونه ټول معاف شول۔ وَرَحْمَةً سره مراد اول داخليدل

قَالُوْا كُنَّا مُسْتَضْعَفِيْنَ فِى الْاَرْضِ ؕ

دوی وائی موږ کمزوري کړے شوی وو په زمکه کښ،

قَالُوْٓا اَلَمْ تَكُنْ اَرْضُ اللّٰهِ وَاسِعَةً

وائی به ورته ملائک آیا نه وه زمکه دَ الله تعالی فراخه

فَتُهَاجِرُوْا فِيْهَا ؕ فَاُولٰٓئِكَ مَاْوٰىهُمْ

چه هجرت کړے وے تاسو په هغے کښ، نو دغه کسان ځائے دَ دوی

جَهَنَّمُ ؕ وَسَآءَتْ مَصِيْرًا ﴿۹۷﴾

جهنم دے او بد ځائے دَ ګرځیدو دے دا جهنم۔

دَ جنت دی او دَ جهنم ته بچ کول مراد دی۔

وَكَانَ اللّٰهُ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا، دا تاکید دَ حصول دَ مغفرت اورحمت دَ پاره دے۔

۹۷: ربط: مخکښ ئے بشارت ذکر کړو دَ جهاد کوونکو دَ پاره نو اوس تخویف ذکر کوی دَ پریخودونکو دَ جهاد دَ پاره په سبب دَ پریخودلو دَ هجرت سره۔

ربط ۲: مخکښ ئے دَ جهاد دَ پاتے کیدونکو دَ حال ذکر کړو نو اوس دَ هجرت نه دَ پاتیکیدونکو حال ذکر کوی۔ او په دے آیتونو کښ شپږ امر سیاسی ذکر کوی چه هغه هجرت کول او مهاجرینو له ځائے ورکول دی چه دا دَ هر مسلمان حاکم او دَ مسلمانانو فریضه ده۔ نو په دے آیاتونو کښ اول تخویف دَ عذاب ذکر کوی په پریخودلو دَ هجرت سره بیا ذکر دے دَ عذرونو والو او دَ هغوی دَ پاره بشارت دے۔ بیا ترغیب او بشارت ذکر کوی په هجرت کولو سره۔

اِنَّ الَّذِيْنَ تَوَفّٰىهُمُ الْمَلٰٓئِكَةُ، تَوَفّٰى، په اصل کښ تتوفی دے فعل مضارع ده او احتمال شته چه فعل ماضی وی هغه کسان مراد وی چه هغوی دَ عدام هجرت په وخت کښ مړه شوی دی۔

لیکن اول قول غوره دے - او دَ توفی مشهوره معنیٰ مراد ده یعنی قبض دَ ارواحو - او توفی (موت) په اعتبار دَ نسبت سره په درے طریقو سره ذکر دے - اوله طریقه نسبت کول الله تعالیٰ ته لکه سوره زمر ۴۲ او سوره بقره ۲۸ کښ - او دَ دے وجه داده چه الله تعالیٰ پیدا کوونکے دَ مرګ دے امر کوونکے دے او اختیار والا دے - او دویمه طریقه نسبت ملک الموت ته لکه په سوره الم سجده ۱۱ کښ او دا دَ دے وجے نه چه ملک الموت په دے کار باندے مقرر کړے شوے دے - او دا بناء ده په مشهور قول باندے چه ملک الموت یو دے یا دَ ملک الموت نه مراد جنس دے یعنی هغه ملائک چه په قبض کولو دَ ارواحو باندے مقرر دی - او دریمه طریقه نسبت دے ملائکو ته او دا په ډیرو آیتونو کښ راغلی دی لکه دا آیت او سوره انعام ۶۱، سوره محمد ۲۷، سوره نحل ۲۸، ۳۲، سوره انفال ۵۰ او سوره اعراف ۳۷ او دَ دے وجه داده چه نور ملائک اعوان (ملګری) دی دَ ملک الموت سره۔

ظَالِمِيْٓ اَنْفُسِهِمْ، دلته مراد دَ ظلم نه پریښودل دَ هجرت دی او اقامت کول دی په دار حرب کښ او ملګرتیا کول دی دَ مشرکانو سره په جنګ کښ سره دَ اظهار دَ ایمان نه - دا دَ ابن عباس رضی الله عنهما په روایت کښ دی چه امام بخاری رحمه الله ذکر کړیدی۔

قَالُوْا فِيْمَ كُنْتُمْ، دا سوال دَ توبیخ (زورنے) دے او مقصد ئے دا دے چه تاسو ولے هجرت نه کولو او دَ څه وجے نه دَ مشرکانو سره په جنګ کښ ملګری وئ۔

قَالُوْا كُنَّا مُسْتَضْعَفِيْنَ فِي الْاَرْضِ، دا دَ دوی دَ عذر بیان دے په ذکر دَ سبب دَ ترک هجرت او ملګرتیا دَ مشرکانو سره۔ یعنی مونږ کمزوری وو دَ هجرت کولو نه او دَ دے کمزورتیا دَ وجے نه مونږ دَ مشرکانو سره ملګرتیا کوله او دا عذر دَ دوی خالص دروغ وو ځکه چه دَ مستضعفینو خو په حقیقت

إِلَّا الْمُسْتَضْعَفِينَ مِنَ الرِّجَالِ

مگر کمزوری د ناریینو نه

وَالنِّسَاءِ وَالْوِلْدَانِ لَا يَسْتَطِيعُونَ

او زنانه او بچی چه طاقت نه لري

کښ دوه صفات ذکر دي چه عدم استطاعت د حیلې او عدم اهتداء د لارې او دا دواړه صفتونه په دوی کښ نه وو بلکه دوی په هجرت کولو قدرت لرلو او د نجات په طریقه باندې علم لرلو۔ فِي الْأَرْضِ، د دینه مراد د مکې زمکه وه چه د هغې نه هغه وخت هجرت کول فرض وو۔

قَالُوا أَلَمْ تَكُنْ أَرْضُ اللَّهِ وَاسِعَةً فَتُهَاجِرُوا فِيهَا، دا جواب دې د ملائکو د طرف نه د دوی د دروغو بهانې په اظهار باندې چه دوی وئیل چه مونږ قدرت نه لرو۔ نو جواب دا شو چه د الله تعالی زمکه خو فراخه ده۔ ابن عطیه او قرطبي وئیلي دي چه دا کسان مسلمانان وو لیکن ظلم ئې کړې وو په سبب د پرېښودلو د فرض د هجرت سره ځکه که چرې دوی کافران او مشرکان وې نو دوی ته به ئې په ترک د هجرت سره زورنه نه ورکوله بلکه په زورنه کښ به ئې کفر او شرک ذکر کولې لکه چه په سورة نحل ۲۸ او سورة اعراف ۳۷ کښ دي په دغې دواړه آیتونو کښ خطاب د ملائکو د مشرکانو سره دې په وخت د مرګ کښ او د دوی نه تپوس کول دي د شرک په باره کښ۔ او دا آیاتونه او د دې پشان نور دلالت کوي په عذاب قبر باندې ځکه د قبض روح نه چه کوم حال شورو دې تر بعث بعد الموت پورې نو په دې باندې د قبر اطلاق کړې شوی دې۔

فَأُولَئِكَ مَأْوَاهُمْ جَهَنَّمُ وَسَاءَتْ مَصِيرًا، دا تخویف اخروي دې په ګناه د ترک هجرت باندې او هر کله چه دوی کافران نه دي نو د دې وجې نه خلود او تابید ئې دلته نه دې ذکر کړې۔

حِيۡلَةً وَّلَا يَهۡتَدُوۡنَ سَبِيۡلًا ﴿۹۸﴾

دَ بهانے او نه پیژنی لار (دَ هجرت کولو)۔

فَاُولٰٓئِكَ عَسَى اللّٰهُ اَنۡ يَّعۡفُوَ عَنۡهُمۡ ؕ

پس دغه کسان امید (دے لری) چه الله تعالی به معافی اوکړی دَ دوی نه،

وَكَانَ اللّٰهُ عَفُوًّا غَفُوۡرًا ﴿۹۹﴾

او دے الله تعالی معافی کوونکے بخنه کوونکے۔

۹۸، ۹۹:۔ په دیکښ دَ معذورینو استثناء ذکر کوی۔
اِلَّا الۡمُسۡتَضۡعَفِيۡنَ، دا استثناء متصله ده دَ دے قول نه چه فَاُولٰٓئِكَ مَاْوٰهُمۡ جَهَنَّمُ، یا دا استثناء منقطع ده او دا قول غوره دے دَ دوو وجو نه۔
اوله وجه دا آیت مستقل دے او استقلال دَ آیت دلالت کوی په انقطاع دَ دے دَ مخکښ کلام نه۔
دویمه وجه دا ده چه مخکښ ذکر دَ هغه چا دے چه په هجرت باندے قدرت لرو او مستضعفین خو قدرت نه لری۔
مِنَ الرِّجَالِ وَالنِّسَآءِ وَالۡوِلۡدَانِ، دا دَ مستضعفین بیان دے او دَ ابن عباس رضی الله عنهما روایت دے چه زه او زما مور دَ کمزورو نه وو ځکه چه دَ دغه وخت نابالغ وو۔
لَا يَسۡتَطِيۡعُوۡنَ حِيۡلَةً، دا استیناف دے تو دَ هغوی دَ استضعاف (کمزورتیا) دَ پاره علت دے یا حال دے۔ او بیضاوی وئیلی دی چه دا جمله صفت دے دَ ما قبل دَ پاره ځکه چه المستضعفین په معنیٰ دَ نکره کښ دی دَ عدم تعین دَ وجے نه۔ حِيۡلَةً، قرطبی وئیلی دی چه دا لفظ عام دے ټولو اسبابو دَ خلاصی ته۔
وَلَا يَهۡتَدُوۡنَ سَبِيۡلًا، (لارے دَ مدینے) غوره دا ده چه هرے لارے ته شامل دے یعنی هیڅ لار او ذریعه دَ رسیدلو دَ هجرت مقام ته نه پیژنی۔ تو دَ حیلة نه مراد طریقه دَ وتلو ده دَ مکے مکرمے نه او دَ سبیل نه مراد دَ رسیدلو ذریعه ده

مدینې او مقام هجرت ته - نو دا فرق دے په مینځ د دواړو کښ.
فَأُولَٰئِكَ عَسَى اللَّهُ أَن يَعْفُوَ عَنْهُمْ، دا بشارت دے هغوی ته په عفو سره -
سوال :- هر کله چه دوی د هجرت نه عاجز وو نو دوی خو مکلف نه دی په هجرت کولو سره نو په ترک د هجرت کښ دوی ګنهګار نه دی نو د عفو څه مطلب دے ؟
جواب :- د هجرت نه عاجز چه کله ډیر مشقت برداشت کړی نو کولے شی چه هجرت اوکړی نو وهم راتلو چه دوی ډیر مشقت نه دے برداشت کړے نو ګنهګار دی - نو دا وهم ئے زائل کړو چه په تحمل د ډیر مشقت سره دوی ته دی مکلف نو د عفو نه مراد مناقشه او سختی نه کول دی په حساب کولو کښ (قرطبی) -
سوال :- عسی خو دلالت کوی چه د دوی عفو قطعی نه ده؟
جواب :- مفسرینو وئیلی دی چه عسی د الله تعالیٰ د طرف نه د وجوب او قطع د پاره راځی ځکه چه وعده د کریم ذات یقینی وی - لیکن د لفظ عسی د راوړلو حکمت دا دے چه ترک د هجرت کښ وسعت نشته تر دے پورے چه د معذورینو په باره کښ هم د عفو قطع (یقین) نشی کیدے نو د غیر معذورینو د پاره خو ډیره یره پکار ده (اللباب، زمخشری) -
وَكَانَ اللَّهُ عَفُوًّا غَفُورًا، کَانَ، د الله تعالیٰ په صفاتو کښ د دوام د پاره دے - او عفو کښ لږ قصور ته اشاره ده - او غفور کښ غټ ګناه ته اشاره ده -
فائده :- د بخاری روایت دے چه نبی کریم صلی الله علیه وسلّم د صبا په مونځ (او په نورو مونځونو کښ) د آخری رکعت د رکوع نه روستو د قومے په وخت کښ د دغه مستضعفینو د نجات د پاره دعاء غوښتله او کافرانو له به ئے دعاء شر غوښتله چه هغے ته قنوت نازله وئیلے شی -

وَمَنْ يُّهَاجِرْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ

او چا چه هجرت اوکړو په لار د الله تعالیٰ

يَجِدْ فِي الْاَرْضِ مُرٰغَمًا كَثِيْرًا

کښ اوبه مومي په زمکه ځایونه د اوسیدو ډیر

وَّسَعَةً ؕ وَمَنْ يَّخْرُجْ مِنْ بَيْتِهٖ

او فراخي او څوک چه اووتلو د کور خپل نه

مُهَاجِرًا اِلَى اللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ ثُمَّ

هجرت کوونکے طرف د الله تعالیٰ او د رسول د هغه ته بیا

يُدْرِكْهُ الْمَوْتُ فَقَدْ وَقَعَ اَجْرُهٗ

لاندې کړي ده لره مرګ نو یقینًا اوشو ثواب د ده

عَلَى اللّٰهِ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ غَفُوْرًا

د الله تعالیٰ سره، او دے الله تعالیٰ بخنه کوونکے

رَّحِيْمًا ﴿۱۰۰﴾ ع ۱۴

رحم کوونکے.

ستا:- په دیکښ ترغیب ورکوی هجرت ته په ذکر د دوه فائدو سره چه ډیر ځایونه او وسعت په هجرت سره حاصلیږی.
وَمَنْ يُّهَاجِرْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ يَجِدْ فِي الْاَرْضِ مُرٰغَمًا كَثِيْرًا وَّسَعَةً،
مراغم، د رغم نه او رغام نه اخستلے شویدے په معنیٰ د ګکر کیدلو د پوزے چه هغه مستلزم دے ذلت لره او د دے په معنیٰ کښ مختلف تعبیرات دی۔ د ابن عباس رضی الله عنهما او ضحاک په تیز مراغم د ورګرځیدلو او د ورتللو ځائے ته وئیلے شی۔ او ابن زید وئیلی دی چه په معنیٰ د هجرت د ځائے دے۔ سدی وئیلی دی چه د معیشت ځائے دے۔ دا ټول معنے یو بل ته

نیزدے دی نو مراغم ځائے د ورکرځیدلو دے په وخت د هجرت کښ - او د لغوی معنیٰ سره ئے مناسبت دا دے چه کافران په سبب د حبس کولو د مؤمنانو تذلیل کوی لیکن مؤمنان د هجرت په سبب د کافرانو پوزے ککړے کړی نو هغوی ذلیل او رسوا شی - وَسَعَةً، مراد ترینه د دنیا د رزق فراخی ده یا فراخه زمکه او وئیلے شوی دی چه د ګمراهئ نه خلاصے مراد دے - او په دے جمله کښ د مهاجر د یو وهم تردید اوشو - د هغه وهم دا وی چه زه په وطن کښ په راحت او آرام سره یم او چه د وطن نه جدا شم نو کیدیشی چه تنګسیا د ځائے یا د رزق به را باندے راشی نو د دے وهم ازاله ئے اوکړه.
او دویم وهم دا دے چه د وطن نه بهر اوځم نو یا به مقصد ته او رسم یا نه او چه او نه رسیږم نو هیڅ اجر به حاصل نشی نو د دے وهم ازاله په دے جملے سره کوی چه وَمَنْ يَخْرُجْ مِنْ بَيْتِهٖ مُهَاجِرًا اِلَى اللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ ثُمَّ يُدْرِكْهُ الْمَوْتُ فَقَدْ وَقَعَ اَجْرُهٗ عَلَى اللّٰهِ - مُهَاجِرًا، حال دے دلالت کوی په نیت د هجرت باندے - اِلَى اللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ، مهائمی وئیلی دی چه د دینه مراد هغه ځائے دے چه الله تعالیٰ او د هغه رسول په هغے کښ حکم ورکړیدے.
یا اِلیٰ په معنیٰ د لام دے یعنی د الله او د هغه د رسول د رضا د پاره. ثُمَّ يُدْرِكْهُ الْمَوْتُ، یعنی مخکښ د رسیدلو نه مقصد ته په ده باندے مرګ راشی - او ابو حیان وئیلی دی چه هر هجرت چه د دینی غرض او مقصد د پاره وی لکه طلب د علم، جهاد، حج، داسے بنار ته سفر کول چه په هغے کښ د الله تعالیٰ ډیر عبادت او اطاعت او د رسول تابعداری کیدیشی، او د حلال رزق د طلب د پاره دا ټول په هجرت الی الله والرسول کښ داخل دی. عَلَى اللّٰهِ، دا وجوب تفضلی دے یعنی په سبب د وعدے د الله تعالیٰ چه هغه مهاجر له به خامخا اجر ورکوی دا استحقاقی وجوب نه دے - وَقَعَ اَجْرُهٗ عَلَى اللّٰهِ، کښ اشاره د عظمت د دے اجر ته.
وَكَانَ اللّٰهُ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا، ګناهونه معاف کوی او د هجرت بدله ورکوی.

فائده ۱ :- امام مالک رحمه الله فرمائیلي دي چه دا آیت دلالت کوي چه په کومه زمکه کښې سلفو صالحینو ته کنځل کیږي او ناحق اعمال پکښې کیږي نو په هغې کښې ډیره کیدل جائز نه دي (قرطبي).
فائده ۲ :- دَ ابن عربي نه نقل کړیدي چه په زمکه کښې ګرځیدل دوه قسمه دي - اول قسم په طریقه دَ هرب (تختیدلو) سره او دویم قسم په طریقه دَ طلب سره دي بیا دَ اول قسم شپږ اقسام دي.
ع۱ :- هجرت دَ دار حرب نه دار اسلام ته.
ع۲ :- هجرت دَ هغې زمکې نه چه په هغې کښې بدعت غالب وي.
ع۳ :- وتل دَ هغه زمکې نه چه په هغې کښې حرام غالب وي.
ع۴ :- ځان دَ بدني تکلیف نه دَ بچ کولو دَپاره وتل لکه چه موسیٰ علیه السلام (دَ نبوت نه مخکښې) دَ مصر نه وتلے وو.
ع۵ :- دَ مرض دَ یرے دَ وجې نه (چه هغه دَ آب وهوا دَ بد راتللو نه پیدا کیږي) دَ یو کلي یا وطن نه بل خوا تلل.
ع۶ :- دَ مالي اذیت او نقصان نه ځان بچ کولو دَپاره دَ یو وطن او ملک نه وتل - او دویم قسم چه هغه وتل دي دَپاره دَ طلب هغه دوه قسمونه دي یو طلب دَ دین دویم طلب دَ دنیا - دَ طلب دَ دین نهه قسمونه دي.
ع۱ :- سفر دَپاره دَ عبرت - ع۲ دَ حج سفر - ع۳ دَ جهاد (قتال) دَپاره سفر - ع۴ :- سفر معاش (ګذران ژوند) دَپاره - ع۵ :- سفر دَ تجارت او حلال مال زیاتي کولو دَپاره - ع۶ :- دَ علم حاصلو دَپاره سفر - ع۷ :- سفر دَ مبارک ځایونو چه هغه خاص دے په درے مساجد وپورے - ع۸ :- سفر دَ سرحداتو (ریولو) دَ اسلام دَ ساتنے دَپاره - ع۹ :- دَ خپلو رونړو او ملګرو دَ ملاقات دَپاره سفر کول دَ الله تعالیٰ دَ رضا حاصلولو دَپاره - پدے اقسامو کښې څلورم او پنځم طلب دَ دنیا دے نو څلورم واجب دے - او پنځم مباح دے.

وَاِذَا ضَرَبْتُمْ فِی الْاَرْضِ فَلَیْسَ

او کله چه سفر اوکړئ تاسو په زمکه کښ نو نشته

عَلَیْکُمْ جُنَاحٌ اَنْ تَقْصُرُوْا

په تاسو باندے ګناه چه کموئ

مِنَ الصَّلٰوةِ ۖ اِنْ خِفْتُمْ

د مانځه نه ، که یریږئ تاسو

اَنْ یَّفْتِنَکُمُ الَّذِیْنَ کَفَرُوْا ط

چه تکلیف په درکړی تاسو لره کافران ،

اِنَّ الْکٰفِرِیْنَ کَانُوْا لَکُمْ عَدُوًّا

یقینًا کافران دی ستاسو دپاره دشمنان

مُّبِیْنًا (۱۰۱)

ښکاره -

ملا : په دے آیت کښ اوم امر سیاسی ذکر دے چه هغه اهتمام او پابندی د مونځ کولو دی په سفر او په خوف کښ لیکن سره د تخفیف او قصر نه -

ربط ۱: هر کله چه مسئله د هجرت ذکر شوه او په هجرت کښ خامخا سفر کول وی نو د هجرت او سفر مشقتونه راجمع شول نو د هغے دپاره ئے د قصر حکم ذکر کړو -

ربط ۲ : - دا رنګ مخکښ ذکر شوه چه په نیت د هجرت سره سره د وتلو نه الله تعالیٰ اجر ورکوی اګرچه پوره هجرت او نه شی نو اوس ذکر کوی چه د سفر او خوف د وجے نه په مونځ کولو کښ سره د قصر او تخفیف نه الله تعالیٰ د پوره مونځ اجر و ثواب ورکوی -

وَاِذَا ضَرَبْتُمْ فِی الْاَرْضِ ، په هجرت کښ هم ضرب فی الارض وو

دَ دے وجے نه ئې په هغے باندے عطف کړو دَ ضرب فی الارض په عرف کښ په سفر باندے اطلاق کیږی یشی صرف ګرځیدل په خپل کلی او علاقه کښ دیته ضرب فی الارض نشی وئیلے کیدے.
فِي الْأَرْضِ ، فی سبیل الله ئې نه دے ذکر کړے ځکه چه قصر په سفر دَ طاعت (هجرت ، حج ، عمره ، جهاد ، طلب علم وغیره) پورے خاص نه دے بلکه مباح سفر کښ هم بالاتفاق قصر شته. او په سفر دَ معصیت کښ اختلاف دے ، الْأَرْضِ لفظ اوچے او لوندے (سمندر) دواړو ته شامل دے - او په مقدار دَ سفر قصر کښ دَ محدثینو او مفسرینو اختلاف دے -
فَلَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَنْ تَقْصُرُوا مِنَ الصَّلَوٰةِ دَ أَنْ نه مخکښ فِي پټ دے - مِنَ الصَّلَوٰةِ کښ مِنْ دَ تبعیض دَ پاره دے او لفظ دَ شیئًا من الصلوٰة پټ دے دا قول دَ سیبویه دے - یا مِنْ زیاتی دے په قول دَ اخفش سره - په دے قصر کښ دوه اقوال دی اول قول دَ جمهورو دے چه دَ دینه مراد قصر دَ عدد دَ رکعتونو دے بیا په دیکښ هم دوه اقوال دی یو قول دا چه دَ څلورو رکعتونو په ځائے به دوه رکعته وی او دغه مونځ دَ سفر دے که خوف وی او که نه وی - او صلوٰة دَ ما بشام او صبا کښ قصر نشته په سبب دَ حدیث دَ امام بخاری سره او دا رنګ من الصلوٰة کښ مِن تبعیضیه دلالت کوی چه بعض مونځونو کښ قصر نشته. دَ جمهورو په قول کښ دویم قول دا دے چه دَ دینه مراد صلوٰة خوف دے سره دَ سفر نه - دا قول دَ ابن عباس رضی الله عنهما او نورو اهل علمو دے چه صلوٰة دَ اقامت څلور رکعته دے او دَ سفر دوه رکعته دے او صلوٰة دَ خوف یو رکعت دے (مسلم، ابوداؤد) - دریم قول په قصر کښ دا دے چه دَ دینه مراد تخفیف دے په طریقه دَ مونځ کښ یعنی کله چه جنګ شورو وی او دَ دُشمن دَ غلبے یره وی (چه هغے ته وخت دَ التحام وئیلے شی) نو په اشاره سره مونځ کوئ او دَ یو ځائے نه بل ځائے ته تلل پکښ جائز دی - دا قول هم دَ ابن عباس رضی الله عنهما

او طاؤس او مجاهد دے په دلیل دَ حدیث دَ مسلم، ابوداؤد او ترمذی سره چه دَ عمر رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی ردَ هغو خلقو په جواب کښ چه هغوی وئیل چه اوس خو مونږ په امن سره یو) چه دا صدقه ده تصدیق کړیدے الله تعالیٰ په تاسو باندے نو دَ هغه صدقه قبوله کړئ - او دا رنګ لفظ دَ قصر په کموالی دَ عدد کښ استعمالیږی په تغیر او تبدیل دَ هیئت کښ نه استعمالیږی.

فائده :- قصر دَ مونځ په سفر کښ خو بالاتفاق جائز دے لیکن اختلاف دے په وجوب کښ اکثر صحابه کرام او تابعین عظام او دَ امام مالک، امام ابوحنیفه رحمهما الله) قول دا دے چه قصر واجب دے - او دَ بعضے صحابه کرامو او تابعینو او امام شافعی رحمه الله په نیز قصر او اتمام کښ اختیار دے لیکن قصر افضل دے.

سوال :- لفظ دَ لیس علیکم جناح خو دلالت کوی چه قصر واجب نه دے؟

جواب ۱ :- دا دَ آیت فلا جناح علیه ان یطوف بهما پشان دے چه دا دَ صفا مروه په مینځ کښ دَ سعی په باره کښ دے او هلته سعی واجب ده - او دَ عائشه رضی الله عنها قول دا دے چه که هلته وجوب نه وے مراد نو ان لا یطوف به ئے وئیلی وے. دا رنګ که دلته هم وجوب نه وے مراد نو ان لا تقصروا به ئے وئیلی وے -

جواب ۲ :- آلوسی وئیلی دی چه خلق دَ پوره مونځ کولو سره عادت دی نو دَ قصر په وخت کښ وهم راځئ چه دا به ګناه وی نو دفعے دَ دے وهم دَ پاره ئے اوفرمائیل چه فلیس علیکم جناح ان تقصروا -

اِنْ خِفْتُمْ اَنْ یَّفْتِنَکُمُ الَّذِیْنَ کَفَرُوْا، دلته فتنه په معنیٰ دَ حمله کولو ده یا په معنیٰ دَ اړولو او منع کولو دَ خشوع دَ مونځ نه یا تعرض کول په هر هغه کار سره چه تاسو ئے بد ګڼړئ -

سوال:- دا جمله دلالت کوی چه قصر په سفر کښ مقید دے په خوف پورے او په حال د امن کښ قصر نه دے جائز لکه چه اهل ظاهر داسے وائی؟

جواب ۱:- ابن کثیر وئیلی دی چه دا قید په اعتبار د غالب سره دے چه په ابتداء د اسلام کښ د مسلمانانو سفرونه په خوف سره وو- او دلیل د دے هغه احادیث مبارکه دی چه دلالت کوی په قصر کولو د نبی کریم صلی الله علیه وسلم او د صحابه کرامو په حال د امن کښ- نو ابن کثیر هغه احادیث نقل کړیدی او بیائے وئیلی دی چه دا احادیث صراحتًا دلالت کوی چه د قصر د پاره خوف شرط نه دے۔

جواب ۲:- هر کله چه د قصر نه مراد (په یو قول کښ) قصر د کیفیت وی نو خوف د هغے سره شرط دے دا قول د مجاهد، ضحاک او سدی دے او د دے تائید د ابن عمر رضی الله عنهما قول دے (چه ابن جریر او ابن کثیر نقل کړیدے) چه هغه وئیلی دی چه مونږ په کتاب الله کښ قصر د صلوٰة خوف مومو او قصر د صلوٰة سفر په قرآن کښ نشته بلکه هغه په قول او عمل د نبی کریم صلی الله علیه وسلم سره ثابت دے۔

جواب ۳:- ابن جریر د علی رضی الله عنه روایت راوړیدے چه الله تعالی اول دا قول نازل کړو چه (وَاِذَا ضَرَبْتُمْ فِى الْاَرْضِ فَلَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ اَنْ تَقْصُرُوْا مِنَ الصَّلٰوةِ) بیا تقریبًا یو کال روستو د جنگ کولو وخت راغے نو الله تعالی نازل کړو چه ان خفتم ان یفتنکم الذین کفروا- (او جواب ئے پټ دے یعنی مونږ کوئ په طریقه د صلوٰه خوف سره چه روستو آیت کښ ذکر دے)۔

اِنَّ الْكٰفِرِيْنَ كَانُوْا لَكُمْ عَدُوًّا مُّبِيْنًا، دا جمله معترضه ده او علت دے د حکم د قصر د پاره یا د خفتم ان یفتنکم د پاره- عَدُوًّا په معنی د جمع سره دے یا مصدر دے- او لفظ د ذو پټ دے مُّبِيْنًا دشمنی ئے ښکاره ده په علاماتو سره یا ښکاره کوونکی دی دشمنئ لره۔

وَإِذَا كُنتَ فِيهِمْ فَأَقَمْتَ لَهُمُ

او کله چه ئے ته پہ دوی کښ تو کوه ته
دَ دوی دَپاره

الصَّلَوٰةَ فَلْتَقُمْ طَآئِفَةٌ مِّنْهُم

مونځ دَجماعت (په وخت دَیره کښ) نو اودریګی دِ یوه ډله
دَ دوی نه

مَّعَكَ وَلْيَأْخُذُوٓا۟ أَسْلِحَتَهُمْ ۚ قف

په تا پسے او اودِ نیسی هغوی
وسلے خپلے

فَإِذَا سَجَدُوا۟ فَلْيَكُونُوا۟ مِن

نو کله چه دوی سجده اوکړی (دَاول رکعت) تو شی دِ دوی
ستا سو نه

وَرَآئِكُمْ ص وَلْتَأْتِ طَآئِفَةٌ أُخْرَىٰ

شاته او را دِ شی بله ډله

لَمْ يُصَلُّوا۟ فَلْيُصَلُّوا۟ مَعَكَ

چه مونځ ئے ته وی کړے تو مونځ دِ اوکړی
په تا پسے

وَلْيَأْخُذُوا۟ حِذْرَهُمْ وَأَسْلِحَتَهُمْ ۗ ج

او اودِ نیسی بچاؤ خپل او وسلے خپلے ،

وَدَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ لَوْ تَغْفُلُونَ

غواړی هغه کسان چه کفر ئے کړیں ے چه غافل شئ تاسو

عَنْ أَسْلِحَتِكُمْ وَأَمْتِعَتِكُمْ

دَ
خپلو وسلو نه او سامانونو خپلو نه ،

فَيَمِيلُونَ عَلَيْكُم مَّيْلَةً وَٰحِدَةً ۚ ط

نو حمله به اوکړی په تاسو بان ے حمله یوه (په یو ځل)۔

وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ إِنْ كَانَ بِكُمْ

او نیشته گناه په تاسو باندے که وی په تاسو باندے

أَذًى مِّنْ مَّطَرٍ أَوْ كُنْتُمْ مَّرْضَى

تکلیف د وجے د باران نه یا یئ تاسو ناجوړه

أَنْ تَضَعُوا أَسْلِحَتَكُمْ ۚ وَخُذُوا

چه کیږدئ وسلے خپلے او او نیسئ

حِذْرَكُمْ ۗ إِنَّ اللَّهَ أَعَدَّ لِلْكَافِرِينَ

بچاؤ خپل یقیناً الله تعالیٰ تیار کړیدے کافرانو لره

عَذَابًا مُّهِينًا ﴿۱۰۲﴾

عذاب شرموونکے۔

۱۰۲: ربط:- مخکښ قصر د صلوٰة په اعتبار د عدد د رکعتونو سره ذکر کړیدے نو اوس قصر په اعتبار د کیفیت سره ذکر کوی۔ دارنګ مخکښ قصر په طریقه د اجمال سره ذکر وو اوس د هغے تفصیل ذکر کوی په خاص حالت کښ چه هغه حالت د خوف دے۔ او په دے آیت کښ ذکر د صلوٰة خوف دے او په ماقبل باندے عطف هم د دے مناسبت د وجے نه کړیدے۔ یعنی ذکر د کوم خوف چه په مخکښ آیت کښ دے نو هغه خوف په دے آیت کښ هم مراد دے د وجے د عطف نه۔ او طریقه د صلوٰة د سفر سره خاص ده په نیز د بعضے علماؤ او په نیز د جمهورو اهل علمو حضر ته هم عام ده۔ او د دے وجے نه دائے په مستقل آیت کښ ذکر کړیدے۔

وَإِذَا كُنْتَ فِيهِمْ، په اعتبار د ظاهر د دے قید سره ابویوسف او حسن بن زیاد (زیں) او ابراهیم بن علیه وئیلی دی چه صلوٰة خوف خاص وو په نبی صلی الله علیه وسلم پورے او د هغه نه روستو خو د خوف په وخت دوه جماعتونه کول

پکار دی - او مزنی شافعی وئیلی دی چه صلوٰة خوف منسوخ شوے دے لیکن صحیح قول دا دے چه منسوخ نه دے او خاص هم نه دے په نبی کریم صلی الله علیه وسلم پورے په دلیل دَ دے چه صحابه کرامو دَ نبی صلی الله علیه وسلم دَ زمانے نه روستو هم صلوٰة خوف کړیدے لکه حدیث دَ ابوداؤد او نسائی دے چه په طبرستان کښ صحابه کرامو صلوٰة خوف ادا کړے وو او هغه دَ ډیرو صحابه په حضور کښ وو هیچا هغے یا ندے رد او انکار نه دے کړے نو دا پشان دَ اجماع شوه - او تخصیص دَ خطاب دَ نبی کریم صلی الله علیه وسلم مستلزم نه دے تخصص دَ حکم لره په هغه پورے لکه په دے قول دَ الله تعالیٰ کښ چه خذ من اموالهم صدقة توبه ۱۰۳ - دا رنګ مونږ مامور یو په اتباع دَ نبی صلی الله علیه وسلم سره مطلقاً عموماً او په صلوٰة کښ خصوصاً په دلیل دَ حدیث چه صلوا کما رایتمونی اصلی - او په دیکښ قرطبی او ابن کثیر ښه تفصیل ذکر کړیدے - و اذا کنت فیهم ښکاره دلیل دے چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم په امت کښ هر وخت او زمانه کښ حاضر ناظر نه دے ځکه که چرے زمونږ دَ مونځ (جماعت) په وخت کښ هغه پخپله حاضر وی نو ضروری ده چه امامتی به هغه کوی نو بیا دَ بل هیچا امامت په هیڅ مونځ کښ نه صحیح کیږی نو دا عقیده دَ ډیر جهل دلیل دے بلکه دا دَ شرک عقیده ده -

فَاَقَمۡتَ لَهُمُ الصَّلٰوۃَ ، دَ دینه مراد امامت دے او په دے لفظ کښ اشاره چه په صلوٰة خوف کښ تلل راتلل دَ مانځه په مینځ کښ او کله په صف دَ قتال کښ او دریدل دَ اد دَ اقامت دَ مونځ سره منافات نه لری ،

فَلۡتَقُمۡ طَآئِفَةٌ مِّنۡهُمۡ مَّعَكَ ، یعنی لښکر به په دوه ډلو باندے تقسیم کړیشی نو یو ډله به په امام پسے دَ مونځ نیت او کړی او بله ډله به دَ دشمن مخے ته او لاړه وی او دفاع او څوکۍ به کوی او دا ظاهره خبره ده دَ دے وجے نه په دے ئے تصریح او نکړه -

وَلْيَأْخُذُوا أَسْلِحَتَهُمْ، ضمير دغه ډلے (طائفه) ته راجع دے چه کومه په امام پسے ولاړه وی او په ديکښ مقصد سره د اهتمام د مونځ ته بيدارئ ده د جهاد د پاره۔

فَإِذَا سَجَدُوا، د سجود نه مراد يو رکعت کول دی د امام سره، دا د ابن عباس رضی الله عنهما نه روايت دے۔ او ذکر د سجود مراد ترينه مونځ په ډيرو نصوصوکښ وارد دے لکه په حديث د تحية المسجد کښ دی چه هر کله يو شخص مسجد ته داخل شی نو سجدے دے اوکړی دوه سجدے (يعنی دوه رکعته مونځ دِ اوکړی)۔

فَلْيَكُونُوا مِنْ وَرَائِكُمْ، ضمير سجده کوونکو ته راجع دے يا هغے دويمے ډلے ته ليکن اول قول غوره او صحيح دے۔ او مراد دا دے چه ستاسو نه روستو د ځوکيدارئ د پاره دِ اودريږی۔ هر کله چه مونځ کښ قيام فرض دے نو فلتقم ئے فرمائيلے دے او په ځوکيدارئ کښ قيام فرض نه دے بلکه په هر حال کښ (په اولاړے يا په ناستے وغيره) ځوکيدارى کيديشی څنګه چه مناسب وی۔ د دے وجے نه دلته ئے فليکونوا وئيلے دے چه په صرف موجوديدلو باندے دلالت کوی۔

وَلْتَأْتِ طَائِفَةٌ أُخْرَىٰ لَمْ يُصَلُّوا، يعنی هغه ډله چه ځوکيدارئ ئے کوله د امام خوا ته به راشی او امام به سلام نه ګرځوی په اول رکعت باندے بلکه انتظار به کوی د دويمے ډلے د رارسيدلو۔

فَلْيُصَلُّوا مَعَكَ، مراد د دينه يو رکعت کول دی د امام سره او دغه رکعت د امام د پاره دويم رکعت دے په اتفاق سره او د دويمے ډلے د پاره اول رکعت دے يا دويم دے په دے کښ دوه اقوال دی ليکن صحيح قول اول دے (قاسمی)۔ او په دے آيت کښ د دواړو ډلو د پاره د دويم رکعت ذکر نه دے کړے نو په هغے کښ دوه اقوال دی۔ يو دا چه صلوٰة خوف يو رکعت دے د مقتدی يانو د پاره دا قول د سفيان ثوری او اسحاق بن راهويه وغيره دے۔ دويم قول د جمهورو اهل علمو دے

چه صلوٰة خوف په سفر کښ د مقتدي د پاره هم دوه رکعته دے لیکن یو رکعت د امام سره دے او د دویم رکعت کول په صحیح حدیث کښ ذکر دے او د هغې دوه طریقې دي - یوه طریقه په حدیث د ابن عمر رضی الله عنهما کښ ده چه بخاري ذکر کړیدے چه هره یوه ډله به د امام د سلام نه روستو اودریږي (په ترتیب سره) او یو یو رکعت به اوکړي - او بله طریقه هم بخاري ذکر کړیده (واقعه د غزوه د ذات الرقاع) چه اوله ډله د امام سره یو رکعت اوکړي نو دویم رکعت به ځان له په هغه ځائے بانده اوکړي او سلام به اوګرځوي بیا به مقام د څوکیدارئ (مورچو) ته لاړشي نو دویمه ډله به د امام سره یو رکعت اوکړي او دویم رکعت به د امام د سلام نه روستو ځان له اوکړي او بیا به سلام اوګرځوي -

فائده :- ابوحیان د ابن عربي نه نقل کړیدي چه صلوٰة خوف په احادیثو کښ څلیرویشت طریقې ذکر دي او ابوحیان د هغې نه لس طریقې په تفصیل سره ذکر کړیدي - او د امام احمد رحمه الله نه صاحب اللباب نقل کړیدي چه هر حدیث چه په صلوٰة خوف کښ ذکر دے نو هغه صحیح دے په هغې بانده عمل کول جائز دي او هغه پدیکښ شپږ یا اووه طریقې نقل کړیدي - ابن کثیر وئیلي دي چه د صلوٰة خوف ډیر اقسام دي ځکه چه دشمن کله د قبلې په طرف او کله په بل طرف کښ وي ، کله مونځ څلور رکعتونو والا وي کله درے او دوه رکعتونو والا وي ، کله د لږ خوف په وخت کښ وي نو په جماعت سره مونځ ادا کول وي او کله د سخت او ډیر خوف په وخت کښ وي او جماعت نشي کولے نو ځان ځان له مونځ کوي ، کله پیاده وي او کله سواره ، د دے وجې نه په دیکښ مختلف احادیث راغلي دي -

وَلْيَأْخُذُوا حِذْرَهُمْ وَأَسْلِحَتَهُمْ ، حذر نه مراد بیداري ده یا هغه څیز چه په هغې سره بچاؤ حاصلیږي بغیر د اسلحې نه نو عطف د اسلحه په دویمه توجیه بانده عطف د خاص دے

په عام باندې

فائده :- په دې مقام کښې ئې حذر زيات راوړو ځکه چه د اولې طائفې مونځ ته په اودريدو کښې دشمن ته خبر يږي ليکن کله چه دويمه طائفه راشي او يو رکعت ته اودريږي او بله طائفه ځي نو د دې تلوراتلو نه دشمن ته معلومه شي چه دوی په مونځ کښې مشغوله دی نو هغوی به د حملې کولو کوشش کوی لکه چه وروسته ود الذين کفروا ذکر کړيدې نو د ډير حفاظت د پاره ئې حذر زيات ذکر کړو۔

وَدَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَوْ تَغْفُلُوْنَ عَنْ اَسْلِحَتِكُمْ وَاَمْتِعَتِكُمْ ، دا استيناف دې په ذکر د علت د امر د اخذ د حذر او اسلحې سره - وَدَّ ، په معنیٰ د تمنا کولو دې ، لَوْ مصدريه دې او د اسلحې د غفلت نه مراد د هغې کيخودل دی د مونځ کولو د وجې نه - او اَمْتِعَتِكُمْ هغه سامان د مجاهد دې بغير د اسلحې نه چه د خپل ضرورت د پاره ئې ځان سره ساتي -

فَيَمِيْلُوْنَ عَلَيْكُمْ مَّيْلَةً وَّاحِدَةً ، وَاحِدَةً ، نه دا سې حمله کول مراد دی چه دويمې حملې ته ضرورت پاتې نشي - نو د اسلحې نيول د دشمن د حملې نه د مدافعت د پاره دی نو معلومه شوه چه د اسلحې په باره کښې امر د وجوب د پاره دې -

وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ اِنْ كَانَ بِكُمْ اَذًى مِّنْ مَّطَرٍ اَوْ كُنْتُمْ مَّرْضٰى اَنْ تَضَعُوْا اَسْلِحَتَكُمْ ، هر کله چه د عذر په وخت کښې کيخودل د اسلحې جائز کړيدی نو دا دليل دې چه د عدم عذر په وخت کښې اسلحه نيول واجب دی نو معلومه شوه چه امر (د اسلحې نيولو) د وجوب د پاره دې - او د اذًى من مطر او مرض نه دا سې حال مراد دې چه په هغې کښې اسلحه يوړته کول زيات مشقت وی -

وَخُذُوْا حِذْرَكُمْ ، د تاکيد د بيدارئ د پاره ئې دا امر دوباره ذکر کړو -

اِنَّ اللّٰهَ اَعَدَّ لِلْكٰفِرِيْنَ عَذَابًا مُّهِيْنًا ، دا علت دې د پاره د امر د خذوا - او عذاب مهين نه مراد عذاب د مغلوبيت د دوی دې

فَاِذَا قَضَيْتُمُ الصَّلٰوةَ فَاذْكُرُوا اللّٰهَ

نو کله چه فارغ شئ د مانځه نه نو یادوئ الله تعالی

قِيٰمًا وَّ قُعُوْدًا وَّ عَلٰى جُنُوْبِكُمْ ج

په ولاړې او په ناستې او په اړخونو خپلو،

فَاِذَا اطْمَاْنَنْتُمْ فَاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ ج

نو کله چه په آرام شئ تاسو نو پابندي کوئ د مانځه،

اِنَّ الصَّلٰوةَ كَانَتْ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ

یقینًا مونځ په مؤمنانو باندې

كِتٰبًا مَّوْقُوْتًا ﴿۱۰۳﴾

فرض دے وخت په وخت۔

په دنیا کښې یعنی تاسو د خپل حفاظت اهتمام کوئ (د الله تعالی د امر سره موافق) نو دشمنانو له به الله تعالی خامخا رسوائی ورکوی ستاسو په لاسونو سره او تاسو سره به مدد کوی۔ یا دا تخویف اخروی دے د کافرانو د پاره او په یکښې مؤمنانو له د زړونو تسلی ده د پاره د پابندۍ کولو په اوامرو د الله تعالی باندې۔

۱۰۳: دا د مخکښې آیت تتمه ده په ذکر کولو د اذکارو سره روستو د صلوة خوف نه یا په ذکر کولو د مونځ کولو په وخت د شدت خوف کښې بنا په دوه اقوالو د مفسرینو په دے آیت کښې۔

فَاِذَا قَضَيْتُمُ الصَّلٰوةَ، په دے کښې دوه تفسیرونه دی۔ اول دا چه قضا په معنیٰ د ادا او د فراغ ده لکه په دے قول کښې فاذا قضيتم مناسككم (سوره بقره ۲۰۰) او۔ فاذا قضيت الصلوة (سور جمعه ۱۰)۔

فَاذْكُرُوا اللّٰهَ، د دینه مراد ذکر دے په زړه او ژبې سره۔

قِيَمًا وَّ قُعُوۡدًا وَّعَلٰى جُنُوۡبِكُمۡ ، دَ دینه مراد دوام دَ ذکر دے په هر حال کښ ځکه چه انسان دَ دے درے حالتونو نه خالی نه وی او دا رنګ په وخت دَ جهاد کښ مجاهد به په صف کښ او لاړ وی یا به په مورچه کښ ناست وی یا به په مورچه کښ دَ دشمن دَ ویشتلو دَ پاره په اړخ باندے پروت وی یا به زخمی شوے وی نو په دے به پروت وی ۔ او قرطبی وئیلی دی چه ذکر کول په تکبیر وئیلو سره او لا اله الا الله وئیلو سره او دَ نصرت دعاګانے کول ۔ دویم تفسیر دا دے چه قضا په معنیٰ دَ ادا دَ مونځ ده په وخت دَ سختے یرے کښ دَ دشمن نه چه په دغه حالت کښ په جماعت سره نشی کیدلے لکه په سوره بقره ۲۳۸ کښ دی ۔ فَاِنۡ خِفۡتُمۡ فَرِجَالًا اَوۡ رُكۡبَانًا ، او په دا سے وخت کښ استقبال دَ قبلے فرض نه دے نو فاذکروا نه مراد مونځ کول دی په دغه درے حالاتو کښ موافق دَ استطاعت سره ۔ او قرطبی دلته دَ ابن مسعود رضی الله عنه روایت ذکر کړیدے چه هغه بعضے کسان اولیدل چه په مسجد کښ په ذکر کولو سره شورو وو نو ده ورته غصه او کړه چه دا ولے کوئ نو هغوی جواب ورکړو چه دا په قرآن کښ دی چه فاذکروا الله نو هغه ورته اُوئیل چه دلته دَ ذکر نه مراد مونځ کول دی ۔ لیکن دلته اول تفسیر غوره دے ۔

فَاِذَا اطۡمَاۡنَنۡتُمۡ فَاَقِيۡمُوا الصَّلٰوةَ ، دَ اطمینان نه مراد تسلی دَ زړه ده په لرے کیدلو دَ خوف ، خفګان او مشقت سره نو په دیکښ دوه احتمالات دی ۔ اول دا چه تاسو مقیم شئ یعنی سفر ختم شی نو مونځ په پوره رکعتونو سره دَ ټولو ارکانو او شرائطو سره کوئ ۔ دویم احتمال دا چه تاسو په اطمینان شئ یعنی یره ختمه شی اګر چه سفر باقی وی نو مونځ دَ سفر کوئ په پوره طریقے سره یعنی ټول کسان په یو جماعت سره مونځ کوئ ۔ دا دَ سورة بقره ۲۳۸ (فاذا امنتم) پشان دے ۔

اِنَّ الصَّلٰوةَ كَانَتۡ عَلَى الۡمُؤۡمِنِيۡنَ كِتٰبًا مَّوۡقُوۡتًا ، دا جواب دَ یو وهم دے هغه دا چه دَ خوف یا سفر په وخت کښ چه

وَلَا تَهِنُوا فِي ابْتِغَاءِ الْقَوْمِ ۭ

او سستي مه کوئ (د مانځه د وجې نه) په لټولو د قوم (د کافرانو کښې د پاره د جنګ) کښې

إِنْ تَكُونُوا تَأْلَمُونَ فَإِنَّهُمْ

که يئ تاسو درد منن (صبر کوئ) ځکه چه دوی هم

يَأْلَمُونَ كَمَا تَأْلَمُونَ ۚ وَتَرْجُونَ

درد منن شويدی لکه چه تاسو درد منن يئ او اميد لرئ تاسو

مِنَ اللَّهِ مَا لَا يَرْجُونَ ۗ وَكَانَ اللَّهُ

د الله تعالیٰ نه هغه چه دوی اميد نه لری د هغې او دے الله تعالیٰ

مشقت دے نو مونځ دِ پريږدی يا دِ بل وخت ته روستو کړی نو د هغې جواب اوشو چه مونځ په خپل وخت کښې فرض دے په خوف او سفر، امن او اقامت ټولو حالاتو کښې او وختونه ئے هم مقرر دی- نو د سفر يا د خوف د وجې نه پريښودل يا روستو کول نشی کيدے- کِتٰبًا په معنیٰ د مکتوب دے او مراد ترينه فرض کړے شوے دے- او مَوْقُوْتًا په معنیٰ د مؤقتة يا محدودة باوقات دے يعنی اوقات ورله ذکر شويدی چه هغه په قرآن کريم کښې اجمالاً ذکر دی لکه سوره بقره ۲۳۸، سوره روم ۱۸، ۱۷- سوره هود ۱۱۴، سوره اسراء ۷۸ او سوره طه ۱۳۰ کښې او په صحيح احاديثو کښې د هغې پوره تفصيل ذکر دے تردے پورے چه په سفر کښې د دوه مونځونو په يو وخت کښې يو ځائے کول دا هم شرعی وخت دے پشان د عرفات او مزدلفه نو هغه هم په موقوتا کښې داخل دی- موقوتا د کتٰبًا د پاره صفت دے د دے د وجې نه مذکر صيغه ذکر شوه-

۱۵ ع ۱۴

عَلِيْمًا حَكِيْمًا ﴿۱۰۴﴾ ع

پوهه	حکمتونو والا -

۱۰۴: ربط :- هر کله چه په مونځ کولو باندے ترغیب ذکر شو نو هسے نه چه په مونځ باندے داسے مشغول شئ چه دَ دشمن سره جهاد در نه پاتے شی نو ځکه اوس ورپسے تیزی او تشجیع په قتال باندے ذکر کوی نو اوفرمائیل ئے چه وَلَا تَهِنُوْا ، دا دَ مخکښ په معنٰی باندے عطف دے یعنی مونځ او ذکر کوئ او په قتال کښ سستی مه کوئ - دوهن معنٰی دَ سورهٔ آلعمران په تفسیر کښ تیره شوے ده یعنی دَعدم وهن نه مراد ترک دَ اسبابو دَ وهن دے یعنی محبت دَ دنیا او خوف دَ مرګ او په نورو عبادتونو کښ داسے مشغولیدل چه جهاد تری نه پاتے شی -

فِى ابْتِغَآءِ الْقَوْمِ ، ابتغاء په معنٰی دَ طلب دے او مراد تری نه دَ هغوی لټون کول دی دَ پاره دَ قتل کولو په هر هغه ځائے کښ چه ګمان کیدیشی چه دوی به دغلته وی -

اِنْ تَكُوْنُوْا تَاْلَمُوْنَ فَاِنَّهُمْ يَاْلَمُوْنَ كَمَا تَاْلَمُوْنَ ، دا ترغیب دے په ابتغاء القوم باندے یعنی دردونو او تکلیفونو دَ جنګ کښ تاسو شریک یئ او دا دَ سوره العمران ۱۴۰ ، ۱۶۵ پشان دے او اشاره ده چه هغوی په دغه دردونو باندے صبر کوی نو تاسو خو خامخا صبر اوکړئ ځکه چه وَتَرْجُوْنَ مِنَ اللّٰهِ مَا لَا يَرْجُوْنَ ، په صفت دَ درد کښ دَ اشتراک نه روستو امتیاز دَ مؤمنانو ذکر کوی په امید دَ ثوابونو کښ دَ الله تعالٰی نه - آلوسی وئیلی دی چه تاسو طمع لرئ دَ الله تعالٰی نه دَ هغه څیز چه دَ کافرانو په خیال کښ هم نه تیریږی چه هغه غلبهٔ دَ دین ستاسو ده په ټولو ادیانو باطله باندے او ډیر ثوابونه او په جنت کښ همیشه نعمتونه دی - نو په تاسو باندے خو شجاعت او صبر کول خامخا واجب دے - یا رجاء په معنٰی دَ خوف سره ده یعنی ستاسو په زړونو کښ دَ عذاب دَ الله تعالٰی نه یره ده نو دَ هغے وجے نه تاسو

إِنَّآ أَنزَلْنَآ إِلَيْكَ ٱلْكِتَٰبَ بِٱلْحَقِّ

یقیناً موږ نازل کړی دے تا ته کتاب په رشتیا سره

لِتَحْكُمَ بَيْنَ ٱلنَّاسِ بِمَآ

د دے د پاره چه ته فیصلے اوکړے په مینځ د خلقو کښې په هغه طریقه

أَرَىٰكَ ٱللَّهُ ۚ وَلَا تَكُن لِّلْخَآئِنِينَ

چه خودلے ده تا ته الله تعالیٰ او مه کیږه د خیانت کرو

خَصِيمًا ﴿١٠٥﴾

طرف دار -

وهن نشئ کولے -

وَكَانَ اللّٰهُ عَلِيمًا حَكِيمًا ، ستاسو په نیتونو او پټو حالاتو (چه رجاء ده) عالم دے - او د هغه په امر او نهی کښې حکمتونه دی -

۱۰۵ :- په دے آیت کښې اتم امر سیاسی دے یعنی په فیصله کولو کښې په کتاب الله باندے د هیچا طرفداری (خصوصًا د خیانت والو) جائز نه ده -

ربط ۱ :- هر کله چه مخکښې آیت کښې تشجیع په جهاد باندے او رجا د مؤمنانو ذکر کړه نو اوس ذکر کوی چه د دغه مخکښې صفاتو سره چه کافرانو په مقابله کښې دی په تاسو لازم دے ځان ساتل د طرف دارئ نه او د منافقانو د صفاتو نه -

ربط ۲ :- دا رنګ مخکښې احکام د جهاد ، هجرت او د مونځ د خوف او د سفر ذکر شول نو اوس ترغیب ورکوی چه په دا سے تولو احکامو کښې کتاب الله او سنت رسول (صلی الله علیه وسلم) ته رجوع کوئ او په دیکښې د منافقانو پشان خیانت مه کوئ -

إِنَّا أَنزَلْنَا إِلَيْكَ الْكِتَابَ بِالْحَقِّ ، باء د ملابست د پاره ده یعنی متلبس او مشتمل دے په حق باندے یعنی هیڅ غلطه او باطله او شکمنه خبره پکښې نشته -

لِتَحْكُمَ بَيْنَ النَّاسِ ، دا یو مقصد دے دَ مقاصدو دَ انزال دَ قرآن نه او دا مقصد دَ ټولو الهی کتابونو دے لکه سورة بقره ۲۱۳ کښ تیر شویدی - بعضے نور مقاصد دَ انزال په نورو آیتونو کښ دی - په خلقو باندے قرآن کریم لوستل په سورة اسراء ۱۰۶ کښ او تشریح کول دَ کتاب الله په سورة نحل ۴۴، ۶۴ کښ ، یره او زیرے ورکول په سوره کهف ۳، ۲ او سوره شعراء ۱۹۳ او سوره فرقان ۱ کښ ، خلق دَ تیارو نه رڼا ته راویستل سورة ابراهیم ۱ کښ ، او چه خلق په انصاف او عدل باندے قائم شی سوره حدید ۲۵ - او نور هم ډیر مقاصد دی -

بِمَا أَرَاكَ اللهُ ، دَ رویت نه اخستلے شویدے چه په معنٰی دَ علم سره دے او علم دَ نبی صلی الله علیه وسلم وحی وه او علم ته رویت دَ دے وجے نه وئیلے شی چه علم یقینی سره یو څیز معلوم شی نو داسے وی لکه چه په سترګو باندے لیدلے شوے وی - ابن کثیر ذکر کړیدی چه په اراك الله کښ دَ نبی صلی الله علیه وسلم اجتهاد داخل دے او دَ هغه اجتهاد دَ پاره هغه ډیر احادیث ذکر کړیدی هغه هلته اوګورئ لیکن اجتهاد دَ نبی صلی الله علیه وسلم دَ نص پشان دے ځکه چه الله تعالٰی خپل نبی لره په خطائی باندے باقی نه پریږدی - امام بیهقی او ابن عبد البر دَ عمر رضی الله عنه اثر ذکر کړیدے چه هیڅوک به داسے نه وائی چه ما فیصله کړیده په هغے چه الله تعالٰی ما ته خودلے دی ځکه دا خصوصیت دَ نبی صلی الله علیه وسلم دے چه دَ هغه رائے ضرور حق وی او زمونږ خو ګمان او تکلف وی (قرطبی ، زمحشری ، قاسمی)

فائده :- ما اراك وحی خفی ده چه هغه سنت دَ نبی صلی الله علیه وسلم دے که دَ دینه مراد قرآن وے نو په لفظ دَ انزل یا او حی سره به ئے وئیلے وے - نو دا دلیل دے چه سنت دَ نبی صلی الله علیه وسلم په دین کښ دَ قرآن کریم پشان حجت دے -

وَاسْتَغْفِرِ اللّٰهَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ

او بخنه غواړه د الله تعالی نه، یقینًا الله تعالی دے

غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ﴿۱۰۶﴾

بخنه کوونکے رحم کوونکے۔

وَلَا تَكُنْ لِّلْخَآئِنِيْنَ خَصِيْمًا، لِلْخَآئِنِيْنَ متعلق دے په خصيمًا پورے او لام د تعلیل د پاره دے او دا اول ادب دے۔ یعنی د خیانت د وجے او د هغوی د مدافعت کولو د پاره جګړمار مه جوړیږه او د هغوی طرف داری مه کوه۔ خائنین عام دے که غلا ئے کړی وی یائے د غلا ګر ملګرتیا کړے وی یائے بله ګناه کړے وی نو جمع ئے د دے وجے نه ذکر کړه۔

فائده :- ابوحیان وثیلی دی چه مفسرینو د دے په سبب نزول کښ اوږده روایات ذکر کړیدی لیکن د هغے خلاصه دا ده چه طعمه بن ابیرق د قتاده بن نعمان زغره د اوړو په کوړی کښ پټه کړیوه او بیائے د یو یهودی په کور کښ ر په طور امانت سره) کیخودلے وه۔ او هغه یهودی ته د دے علم نه وو۔ نو قتاده چه په طعمه باندے د غلا دعوی اوکړه نو هغه انکار اوکړو او قسم ئے اوکړو چه ماته د دے هیڅ علم نشته۔ نو دوی تفتیش شورو کړو نو د اوړو نخه د یهودی د کور پورے معلومه شوه نو طعمه او د هغه ملګرو په هغه یهودی باندے بد نامه اولګوله نو یهودی اُوئیل چه دا طعمه ما سره امانت کیخودلے دے نو د طعمه د قسم د وجے نه نبی صلی الله علیه وسلم اراده کړیوه چه د طعمه طرف داری اوکړی او هغه بری کړی او غلا په یهودی باندے ثابته شی (ځکه چه نبی صلی الله علیه وسلم غیب دان نه وو) نو الله تعالی دا آیاتونه ریوه رکوع پورے) په دے باره کښ نازل کړل۔

۱۰۶ :- وَاسْتَغْفِرِ اللّٰهَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا، دا دویم ادب دے۔

وَلَا تُجَادِلْ عَنِ الَّذِيْنَ يَخْتَانُوْنَ

او جګړه مه کوه د هغه کسانو د طرف نه چه نقصانی کوی

اَنْفُسَهُمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ

ځانونه خپل، یقینًا الله تعالیٰ مینه نه کوی

سوال:۔ امر په طلب د مغفرت باندے دلالت کوی چه نبی صلی الله علیه وسلم ګناه کړیده؟

جواب:۔ هرکله چه ثابته شوے ده چه نبی صلی الله علیه وسلم عالم الغیب نه دے نو هغه د ظاهر په موافق سره اراده د حکم اوکړه په یهودی باندے ځکه چه سامان د هغه سره ښکاره شو او د طعمه د بری کولو نو دا صریح ده چه نبی صلی الله علیه وسلم ګناه نه ده کړے نو ضروری ده چه د استغفار تاویل اوکړے شی۔ نو امام رازی او صاحب اللباب او نورو مفسرینو مختلف توجیهات ذکر کړی دی۔

اوله توجیه، مشهور قول دے چه د عامو نیکانو خلقو نیکئ د مقربینو د پاره بدئ شمارلے کیږی یعنی د هغوی خلاف اولیٰ کار (چه جائز دے) استغفار ته محتاج دے۔

دویمه توجیه، دا استغفار په طریقه د تعبد سره دے د پاره د حکم د الله تعالیٰ۔

دریمه توجیه، دا استغفار دے د هغه چا د پاره چه د طعمه طرف داری ئے کوله یعنی د هغوی د پاره استغفار اوغواړه۔

څلورمه توجیه، دا استغفار د غین (خفګان او ساده ولی) لرے کولو د پاره وی ځکه چه حدیث کښ راغلی دی۔ نبی صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی چه زما په زړه غین راشی (ساده ولی د خلقو د کارونو نه) نو زه اویا کرته استغفار غواړم۔ نو حاصل دا دے چه استغفار د ډیرو وجوهو د پاره راځی نو دا د ګناه د پاره مستلزم نه دے۔

مَنْ كَانَ خَوَّانًا اَثِيْمًا ﴿۱۰۷﴾

دَ هغه چا سره چه وی ډیر خیانتګر ګنهګار -

۱۰۷:- دا دریم ادب دے.

وَلَا تُجَادِلْ عَنِ الَّذِيْنَ يَخْتَانُوْنَ اَنْفُسَهُمْ، مجادله په معنیٰ دَ بحث کولو او دلیلونه پیش کولو دے که صحیح وی او که غلط وی دَ خیانت ګرو دَ بچ کولو دَپاره.

سوال:- لا تکن للخائنین خصیمًا او په دے جمله کښ څه فرق دے؟

جواب:- هلته خاص خیانت ګر مراد وُو چه دَ هغوی په باره کښ دا آیتونه نازل شوے وو او دلته دَ الَّذِيْنَ يَخْتَانُوْنَ نه عام خیانتګر مراد دی. یا اوله جمله کښ صرف طرف داری مراد ده او په دے جمله کښ دَ هغوی دَ طرف نه بحث کول او وکالت کول مراد دی. یا په هغه جمله کښ دَ خائنینو سره صرف ډله بازی او طرف داری مراد وه او په دے جمله کښ دَ سزا نه بچ کول مراد دی. دا آیت دلیل دے چه دَ چا جرم ښکاره وی نو دَ هغه دَپاره قصد دَ بچ کولو وکالت کول یا نور څه ذرائع استعمالول نه دی جائز. الذین یختانون، مراد هغه څوک دی چه غلا کوی یا په دروغه قسم کوی یا دَ غلا ګرو ډله او پیره کوی. او دَ هغوی باره کښ ئے او ئیل چه دوی دَ ځان سره خیانت کوی دَ دَ دے وجے نه چه په دغه ګناهونو سره ئے ځان دَ ثواب نه محروم کړو او ځان ئے دَ عذاب مستحق اوګرځوو نو دا ئے دَ ځان سره خیانت اوکړو.

اِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ مَنْ كَانَ خَوَّانًا اَثِيْمًا، دا دَ لا تجادل دَپاره علت دے. خَوَّانًا، صیغه دَ مبالغے ده یعنی ډیر خیانت کوونکے، افراط کوونکے په خیانت کښ. اَثِيْمًا هم دَ مبالغے صیغه ده یعنی په ګناهونو کښ ورننوتلے دے. دَ دے دواړو صفتونو جمع په دے وجه ده چه په اول کښ مراد غلا کول او دَ امانت نه انکار کول دی او په دویم صفت کښ مراد پاک امن شخص باندے

يَسْتَخْفُوْنَ مِنَ النَّاسِ وَلَا

دوی ځان پټوی د خلقو نه او نه شي

يَسْتَخْفُوْنَ مِنَ اللّٰهِ وَهُوَ مَعَهُمْ

پټیں لے د الله تعالیٰ نه ځکه چه هغه د دوی سره دے

اِذْ يُبَيِّتُوْنَ مَا لَا يَرْضٰى مِنَ الْقَوْلِ

کله چه دوی جرګه کوی د هغه څه چه نه خوښوی الله تعالیٰ د هغه وینا نه،

بدنامه لګول دی ردا روایت د ابن عباس رضی الله عنهما نه آلوسی ذکر کړیدے) - یا اول صفت په اعتبار د ډیرو غلاګانو او د دروغو قسمونو سره دے رچه دا په طعمه بن ابیرق کښ موجود وو) او دویم په اعتبار د جدال او دله کولو د طرف د هغه نه - او اول صفت په اصل کښ سبب دے د دویم د پاره د دے وجے نه هغه ئے مخکښ ذکر کړیدے - ابوحیان وئیلی دی چه خوان او اثیم د مبالغے صیغے ئے د دے وجے نه ذکر کړیدی چه څوک یو کرت خیانت یا غلا اوکړی په غفلت سره یا بغیر د قصد نه نو د هغه حکم دا سے نه دے -

سوال :- سوره انفال ۵۸ کښ فرمائیلی دی ان الله لا یُحِبُّ الْخَآئِنِیْنَ - هغه دلالت کوی چه صرف خیانت هم سبب دے د پاره د عدم محبت د الله تعالیٰ ؟

جواب :- هلته د خیانت نه مراد د وعدے ماتول دی او دغه د نفاق د پاره خاص علامت دے د مؤمن د شان سره نه خائینږی او دلته د خیانت مصداق غلا کول دی اګرچه هغه ګناه کبیره دے لیکن په غلا ماتو د نفاق کښ شمار نه دے روالله اعلم)۔

۱۰۸ :- په دے آیت کښ د هغه منافقانو نور قبیح صفات ذکر کوی -

يَسْتَخْفُوْنَ مِنَ النَّاسِ، دا جمله مستانفه ده یا حال دے د لفظ مَنْ نه په مخکښ آیت کښ - استخفاء ځان پټول دی

وَكَانَ اللّٰهُ بِمَا يَعْمَلُوْنَ مُحِيْطًا ﴿۱۰۸﴾

او دے اللّٰه تعالیٰ د دوی عملونو لره راګیرونکے۔

لکه په مستخف باللیل سورة رعد کښ۔ نو معنیٰ دا ده چه ځان پټوی د خلقو نه۔ او د ابن عباس رضی اللّٰه عنهما نه یو روایت دے چه د دینه مراد استحیاء کول دی۔ واحدی وئیلی دی چه دغه معنیٰ ده تفسیر نه دے یعنی ځان پټول د حیاء د وجے نه وی یعنی په خلقو کښں د شرمیدلو نه ځان ۔ پټ کوی۔ د دے وجے نه د غلا کولو نه په دروغه قسم سره انکار کوی او په بل چا باندے بهتان لګوی۔

وَلَا يَسْتَخْفُوْنَ مِنَ اللّٰهِ، دلته مراد عدم استطاعت دے یعنی د اللّٰه تعالیٰ نه ځان نشی پټولے په سبب د وَهُوَ مَعَهُمْ سره۔ یا د دینه مراد استحیاء ده نو صرف نفی مراد ده یعنی حیاء نه کوی د اللّٰه تعالیٰ نه۔ مَعَهُمْ، دا معیت عامه د اللّٰه تعالیٰ صفت دے۔ په دیکښں د سلفو صالحینو دوه اقول دی۔ اول قول داچه دا د متشابهاتو نه دے یعنی دا سے معیت چه د اللّٰه تعالیٰ د ذات سره مناسب دے بغیر د تحریف او تاویل او بغیر د تشبیه او تمثیل نه۔ دویم قول دا دے چه دا مشترک دے نو دا په یو معنیٰ باندے حمل کول تاویل حقه دے۔ د دے وجے نه قرطبی وئیلی دی چه د دینه مراد معیت دے په علم سره اولیدلو او اوریدلو سره۔ او دا قول د اهل سنت والجماعت دے۔ او جهمیه، معتزله او قدریه وئیلی دی چه اللّٰه تعالیٰ په هر مکان کښں دے او د دے آیت نه استدلال کوی لیکن دا خو صفت د اجسامو دے او اللّٰه تعالیٰ د دغے نه پاک دے۔ او بشر معتزلی چه په مناظره کښں دا آیت ذکر کړے وو چه مَا يَكُوْنُ مِنْ نَجْوٰى ثَلٰثَةٍ اِلَّا هُوَ رَابِعُهُمْ نو خصم (اهل سنت) ورته اُووئیل چه آیا اللّٰه تعالیٰ ستا په ټوپئ کښں دے او ستا په ګیږه او ستا د خر په ګیږه کښں دے بلکه پاک دے

هٰٓاَنۡتُمۡ هٰٓؤُلَآءِ جٰدَلۡتُمۡ عَنۡهُمۡ

خبردار تاسو اے خلقو ! جګړه کوئ د دوی د طرف نه

فِی الۡحَیٰوةِ الدُّنۡیَا فَمَنۡ یُّجَادِلُ

په ژوند دنیوی کښې نو څوک به جګړه اوکړی

اللّٰهَ عَنۡهُمۡ یَوۡمَ الۡقِیٰمَةِ اَمۡ مَّنۡ

د الله تعالٰی سره د دوی د طرف نه په ورځ د قیامت کښې ، بلکه څوک

یَّکُوۡنُ عَلَیۡهِمۡ وَکِیۡلًا ﴿۱۰۹﴾

به وی د دوی ذمه وار -

الله تعالٰی د دے صفت نه ، دا روایت د وکیع رحمه الله نه روایت کړے شوے دے -

اِذۡ یُبَیِّتُوۡنَ مَا لَا یَرۡضٰی مِنَ الۡقَوۡلِ ، تبیت شپے تیرولو ته وئیلے شی او د شپے کارکول او د شپے مشوره کول - یعنی د طعمه ملګرو د هغه د بچ کولو د پاره په یو کور کښں د شپے مشوره کړے وه - من القول نه مراد په دروغه قسمونه او شهادت کول دی د مجرم د بچکولو د پاره او د غیر مجرم د بدنامولو د پاره - او قرطبی وئیلی دی چه د قول نه مراد رائے او اعتقاد دے -

وَکَانَ اللّٰهُ بِمَا یَعۡمَلُوۡنَ مُحِیۡطًا ، یعنی اګرچه د دوی کارونه زغلا کول او مشورے کول وغیره) پټ وو لیکن د الله تعالٰی نه پټ نه دی - هرکله چه د دوی په دے صفاتو کښں بعضے اقوال او بعضے اعمال دی او دغه دواړه د زورنے د پاره لائق دی نو د اقوالو په باره کښں ر اِذۡ یُبَیِّتُوۡنَ مَا لَا یَرۡضٰی مِنَ الۡقَوۡلِ) سره زورنه ورکړه او د دوی د اعمالو په باره کښں په دے جمله وَکَانَ اللّٰهُ بِمَا یَعۡمَلُوۡنَ مُحِیۡطًا کښں سخت وعید ذکر کړه-

س۱۰۹ :- دا هغه کسانو ته خطاب دے چه د طعمه نه ئے دفاع کوله او مقصد پکښں زجر دے-

وَمَنْ يَّعْمَلْ سُوْٓءًا اَوْ يَظْلِمْ

او چاچه عمل اوکړو بد یا ئے ظلم اوکړو

هٰٓاَنْتُمْ هٰٓؤُلَآءِ جٰدَلْتُمْ عَنْهُمْ فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا، جدل په اصل کښې درسئ (پړی) کلک اودلو ته وئیلے شی او په عرف کښې جګړے ته وئیلے شی ګویا که هر یو د جګړه کوونکو نه بل جانب لره د خپل مقصد نه اړوی - دا قول د زجاج دے. یا دا لفظ د جدال نه اخستلے شوے دے یعنی په مخ د زمکه باندے غورځول نو مراد دا چه هر یو د طرفینو نه بل جانب اوطرف لره ذلیل کول غواړی لکه چه په زمکه باندے اوغورځیږی.

فَمَنْ يُّجَادِلُ اللّٰهَ عَنْهُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ، دا استفهام د توبیخ (زورنے) د پاره دے او په معنیٰ د انکار دے یعنی هیڅوک د الله تعالیٰ سره مجادله (جنګ) نشی کولے - یعنی الله تعالیٰ عالم دے په هر څیز باندے د هغه نه هیڅ پټ او پناه نشته - نو په هغه باندے هیڅ تلبیس نشی کیدے او نه ورسره څوک جګړه کولے شی په ورځ د قیامت - او تخصیص د قیامت د ورځ ئے ، د دے وجے نه اوکړو چه الله تعالیٰ به د قیامت په ورځ حساب کوی نو هغه نه څوک جواب نشی کولے داسے جواب چه الله تعالیٰ لره چپ اوغلے کړی -

اَمْ مَّنْ يَّكُوْنُ عَلَيْهِمْ وَكِيْلًا ، اَمْ په معنیٰ د بَلْ اَ دے - او دلته استفهام کښې معنیٰ د انکار موجود ده وکیل هغه څوک وی چه هغه ته کار اوسپارلے شی او دلته په معنیٰ د بچ کوونکی دے د حساب او د عذاب الهی نه - دلته په صله د وکیل کښې علیٰ ذکر کړے دے ځکه چه متضمن دے معنیٰ د ولایت لره یا په معنیٰ د لام سره دے -

نَفۡسَهٗ ثُمَّ يَسۡتَغۡفِرِ اللّٰهَ يَجِدِ

په ځان خپل بیا بخنه اوغواړي د الله تعالیٰ نه او به مومي

اللّٰهَ غَفُوۡرًا رَّحِيۡمًا ﴿١١٠﴾

الله تعالیٰ لره بخونکے رحم کوونکے۔

ت ۱۱۱: د وعیدونو د ذکر کولو نه روستو اوس ترغیب ورکوی توبے کولو ته۔

وَمَنۡ يَّعۡمَلۡ سُوۡٓءًا اَوۡ يَظۡلِمۡ نَفۡسَهٗ، مفسرینو په دیکښ په ډیرو وجوهو سره فرق ذکر کړیدے۔

اوله وجه سوء هغه بد کار دے چه بل شخص خفه کوی لکه چه دوی په یهودی او قتاده باندے بدنامه اولګوله۔ او ظلم، په نفس باندے هغه ګناه ده چه خاص وی په نفس پورے لکه په دروغه سره قسم کول۔

دویمه وجه سوء هره ګناه ده بغیر د شرک نه او د ظلم نه مراد شرک کول دی۔

دریمه وجه سوء ګناه صغیره ده او ظلم ګناه کبیره ده۔

څلورمه وجه سوء غلا کول دی یا هره ګناه ده او ظلم په چا باندے تهمت او بهتان لګول دی۔

ثُمَّ يَسۡتَغۡفِرِ اللّٰهَ، قرطبی وئیلی دی چه د استغفار سره قید د توبے مراد دے ځکه چه استغفار بغیر د توبے نه فائده نه ورکوی او دا رنګ د دے سره قید د مشیت د الله تعالیٰ مراد دے په قرینه د نورو نصوصو سره۔

يَجِدِ اللّٰهَ غَفُوۡرًا رَّحِيۡمًا، تعبیر ئے په صیغه د وجدان سره اوکړو اشاره ده چه ګویا مغفرت او رحمت د الله تعالیٰ تیار موجود دے د طلب کوونکو د پاره۔

قرطبی او صاحب اللباب د سفیان عن ابن مسعود رضی الله عنهما روایت ذکر کړیدے چه چا دا آیت او آیت نمبر ۶۴ اولوستلو او بیا مغفرت اوغواړی نو الله تعالیٰ ورته مغفرت کوی۔

وَمَنْ يَّكْسِبْ اِثْمًا فَاِنَّمَا

او چا چه او کړه ګناه یقینًا

يَكْسِبُهٗ عَلٰى نَفْسِهٖ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ

کوي هغه چه (ضرور ورکوي) ځان خپل ته او دے الله تعالٰی

عَلِيْمًا حَكِيْمًا ﴿۱۱۱﴾

پوهه حکمتونو والا۔

۱۱۱:۔ مخکښ آيت کښ ترغيب وُو او په ديکښ تخويف دے چه دګناه کولو سزا په کوونکي دګناه پورے لازم ده - او مقصد دآيت دفع دَ وهم ده که څوک وهم اوکړي (لکه دطعمه دله کوونکي) چه مومن دبل چا دَ بے ګناهۍ کولو دپاره ګناه کړے ده نو په مومن باندے دَ هغے وبال نشته نو دَ هغے جواب اوشو چه وَمَنْ يَّكْسِبْ اِثْمًا فَاِنَّمَا يَكْسِبُهٗ عَلٰى نَفْسِهٖ ، کسب، هر هرهغه قول يا عمل ته وئيلے شي چه مقصد پکښ دځان دپاره فائده راښکل وي يا دځان نه دفع ضرر وي - دَ دے وجے نه دالله تعالٰی کارونو ته کسب نشي وئيلے کيدے - اِثْمًا هره ګناه ته شامل دے که صغيره وي او که کبيره وي نو په ديکښ دَخيانت دپاره خصومت او جدال کول هم داخل دي۔ عَلٰى نَفْسِهٖ ، على دَ استيلاء (غلبے) دګناه دپاره دے په ګنهګار باندے دے او دَ ضرر دپاره دے نو په دے کښ اشاره ده (لَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِّزْرَ اُخْرٰى) ته۔

وَكَانَ اللّٰهُ عَلِيْمًا حَكِيْمًا ، يعنى په هره ګناه او هر ګنهګار باندے عالم دے او سزا ورکول يا معافي ورکول دَ هغه په حکمت باندے بناء ده۔

وَمَنْ يَّكْسِبْ خَطِيْٓئَةً اَوْ اِثْمًا

او چاچه اوکړه وړوکے ګناه یا لوے ګناه

ثُمَّ يَرْمِ بِهٖ بَرِيْٓئًا فَقَدِ

بیا بدنام کړی په هغے پاک دامن لره نو یقینًا

احْتَمَلَ بُهْتَانًا وَّاِثْمًا مُّبِيْنًا ﴿۱۱۲﴾

پورته کړه ده لویه بدنامه او ګناه ښکاره ـ

۱۱۲:- دا زجر دے بهتان لګوونکو ته او دا بل قسم ګناه دے او په واقعه د طعمه کښې دا واقع شوے دی چه هغه او د هغه ملګرو په یهودی باندے د غلا کولو بهتان لګولے وو ـ

وَمَنْ يَّكْسِبْ خَطِيْٓئَةً اَوْ اِثْمًا ، په دے دواړو کښې فرق دے په ډیرو وجوهو سره ـ

اول وجه ، طبری وئیلی دی چه خطیئة عام دے که په قصد سره وی او که بغیر د قصد نه وی او اثم خو خامخا په قصد سره وی ـ

دویمه وجه ، خطیئه هغه ده چه بغیر د قصد نه وی او اثم هغه دے چه په قصد سره وی ـ

دریمه وجه ، خطیئه ګناه صغیره ده او اثم ګناه کبیره ده او دا هغه ګناهونو ته عام دی چه په واقعه د طعمه کښې ذکر شوی دی ـ

ثُمَّ يَرْمِ بِهٖ بَرِيْٓئًا ، بِهٖ ضمیر اثم ته یا خطیئه یا هر یو ته یا کسب ته راجع دے ـ بری ، هغه څوک دے چه جرم ئے نه وی کړے او نسبت ورته کیږی او دیته بهتان لګول وئیلے شی ـ

فَقَدِ احْتَمَلَ بُهْتَانًا ، احتمل کښې معنٰی د مبالغے د حمل ده یعنی دا دروند بوج دے ـ بهتان د بهت نه اخستلے شوے او بهت حیرانتیا ته وئیلے شی نو بهتان داسے دروغ دی چه اوریدونکے حیران کړی ـ او حدیث د مسلم کښې راغلی دی

وَلَوْلَا فَضْلُ اللّٰهِ عَلَيْكَ

او که نه وے فضل د الله تعالیٰ په تا باندے

وَرَحْمَتُهٗ لَهَمَّتْ طَّآئِفَةٌ مِّنْهُمْ

او رحمت د هغه (نو دوی به ته خطا کړے وے) څکه چه پوخ قصد کړے وو یو ډلے د دوئیه

اَنْ يُّضِلُّوْكَ ۭ وَمَا يُضِلُّوْنَ اِلَّآ

چه خطا کړی تا (په فیصله کښ) او نه خطا کوی دوی مګر

اَنْفُسَهُمْ وَمَا يَضُرُّوْنَكَ مِنْ شَيْءٍ ۭ

ځانو نه خپل او ضرر نشی رسولے تا ته دوی هیڅ ضرر

وَاَنْزَلَ اللّٰهُ عَلَيْكَ الْكِتٰبَ

او نازل کړی دے الله تعالیٰ په تا باندے کتاب

چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چه غیبت دبته وئیلے شی چه یو ورور مسلمان په هغه صفت سره یاد کړے شی چه هغه پرے خفه کیږی - نو یو صحابی رضی الله عنه تپوس اوکړو چه یا رسول الله (صلی الله علیه وسلم) که هغه صفت پکښ موجود وی نو رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چه هغه صفت پکښ موجود وی نو دغه غیبت دے او که هغه صفت پکښ نه وی نو هغه خو بهتان دے -

وَاِثْمًا مُّبِيْنًا ، یعنی دغه شخص ګنهګار شو په دوه ګناهونو سره یو کسب د هغه ګناه او دویم ګناه د بهتان - او بهتان ئې مخکښ ذکر کړو ځکه چه دا ډیر خطرے والا او هیبت ناک ګناه ده - یا دا چه بهتان صریح ګناه ده ځکه چه په دے کښ دروغ او د مسلمان بے عزتی لازمیږی -

وَالْحِكْمَةَ وَعَلَّمَكَ مَا لَمْ تَكُنْ

او سنت او پوهه ئې درکړې ده د هغه څه چه نه پرے

تَعْلَمُ ۚ وَكَانَ فَضْلُ اللّٰهِ

نه پوهیدے او دے فضل د الله تعالیٰ

عَلَيْكَ عَظِيمًا ﴿۱۱۳﴾

په تا باندے لوے۔

۱۱۳:۔ دا آیت هم د مخکښ واقعے سره متعلق دے او په دیکښ د نبی کریم صلی الله علیه وسلم عظمت شان او عصمت ذکر کوی په ښیږ طریقو سره۔

ع۱:۔ فضل د الله تعالیٰ ع۲:۔ رحمت د هغه ع۳ عصمت د ضلال نه ع۴:۔ کتاب او حکمت نازلیدل ع۵ علم د مالا یعلم ع۶ فضل عظیم۔

وَلَوْلَا فَضْلُ اللّٰهِ عَلَيْكَ وَرَحْمَتُهٗ، شهاب وئیلی دی چه په جواب د لولا کښ دوه وجې دی اوله دا چه لَهَمَّتْ جواب دے۔ دویمه وجه دا چه جواب د لولا پټ دے یعنی لَاَضَلُّوْكَ رخامخا دوی به نه خطا کړے وے په فیصله کښ د دروغو قسمونو د وجې نه)۔

په اوله وجه سوال واردیږی چه هرکله دا جواب دے نو د لولا د وجې نه د هَمّ انتفاء معلومیږی؟

جواب دادے چه دلته نفی د هم خاص ده چه اَنْ يُّضِلُّوْكَ۔ یعنی دوی اګرچه هَم کړیدے لیکن دا ضلال هم ئې نه دے کړے۔

او د فضل نه دلته مراد وحی راليږل دی د دے آیتونو خصوصًا چه په دیکښ د مجرم معلومیدل اوشول۔ او د رحمت نه مراد عصمت د نبی صلی الله علیه وسلم دے یعنی د غلطے فیصلے نه هغه لره بچ ساتل (ابوحیان)۔

یا د فضل نه مراد عامه وحی د قرآن ده او د رحمت نه مراد د دے خاص آیتونو وحی ده۔ یا مراد د فضل نه وحی جلی او د رحمت نه خفی وحی مراد ده۔

لَهَمَّتْ طَّآئِفَةٌ مِّنْهُمْ اَنْ يُّضِلُّوْكَ، د اضلال نه مراد خطا
کول دي په فيصله کښې چه په بري شخص باندے ئې د غلا
او د لاس پريکولو حکم کړے وے او خيانت کړئې بيچ کړے وے.
وَمَا يُضِلُّوْنَ اِلَّآ اَنْفُسَهُمْ، د دے وجه نه چه وبال او سزا د
ګمراه کولو په دنيا او آخرت کښې په دوي باندے واپس راګرځي
ځکه څوک چه بل چا لره ګمراه کوي نو دغه شخص اول پخپله
ګمراه شو. او په آخرت کښې هم ده لره د ګمراه کولو سزا ورکوي.
او دا د (وَمَا يَخْدَعُوْنَ اِلَّآ اَنْفُسَهُمْ) سوره بقره ۹ او د سوره
آلعمران ۶۹ پشان دے.
وَمَا يَضُرُّوْنَكَ مِنْ شَيْءٍ، صاحب اللباب وئيلي دي چه د دے
دوه وجے دي.
اوله وجه دا چه الله تعالیٰ د طرف نه د خپل نبي صلی الله عليه
وسلم سره په مستقبل کښې د عصمت وعده ده.
دويمه وجه دا چه دا په موجوده واقعه کښې مراد دے. يعنې
دوي اګرچه کوشش اوکړو ليکن ته ئې په ګناه کښې واقع نه
کړے ځکه چه تا په اعتبار د ظاهر سره فيصله کوله او قاضي
چه په ظاهر شواهدو باندے فيصله اوکړي او خطا شي نو هيڅ
ګناه ور باندے نه وي.
وَاَنْزَلَ اللّٰهُ عَلَيْكَ الْكِتٰبَ وَالْحِكْمَةَ، دا د مخکښې جملے
تاکيد دے يعني الله تعالیٰ په تا باندے کتاب او حکمت نازل
کړيدے او په تا باندے د هغے تبليغ او په هغے باندے فيصلے
کول فرض کړيدي. نو خامخا به ستا عصمت کوي او خامخا به ته
د هغے په ظاهر باندے فيصلے کوے. د کتاب نه مراد قرآن کريم
او د حکمت نه مراد احاديث (سنت) د رسول الله صلی الله
عليه وسلم دي. او دا دليل دے چه احاديث صحيحه هم
نازل شوي وحي ده ليکن هغے ته وحي خفي وئيلے شي.
وَعَلَّمَكَ مَا لَمْ تَكُنْ تَعْلَمُ، دا جمله هم د تير شوو جملو
د پاره تاکيد دے په دوو طريقو سره.

اوله طریقه دا چه د عالم تکن نه امور د دین مراد دی چه هغه اسرار (رازونه) او حکمتونه د قرآن او سنت دی چه هغه تا ته معلوم نه وو۔ نو آئنده د پاره به هم تا ته علم درکوی نو منافقان تا نشی گمراه کولے۔

دویمه طریقه داده چه د دیته مراد اخبار د اولینو دی (د تیر شوو پیغمبرانو او د هغوی د قومونو حالات) نو دا رنگ تا ته د منافقانو حیلے او مکرونه ښائی د دے د پاره چه ځان ترینه بچ اوساتے۔

سوال :- بعضے جاهلان د دے آیت نه د نبی صلی الله علیه وسلم د پاره علم کلی (علم غیب) او علم د جمیع ما کان او ما یکون د پاره استدلال کوی۔ د استدلال طریقه ئے دا سے ده چه د علم فاعل الله تعالی دے او مفعول اول ئے نبی صلی الله علیه وسلم دے او لفظ د ما د عموم د پاره دے نو معلومه شوه چه هر هغه څیز او کار چه مخکښ د نزول د دے آیت نه نبی صلی الله علیه وسلم ته معلوم نه وو نو د هغه ټولو څیزونو علم ئے ورکړیدے۔ دا استدلال بریلیانو په تفسیر نعیمی صفحه ۳۰۱ ، ۳۱۱ کښ او په کتاب جاء الحق صفحه ۵۰ ، ۴۹ او میقاس حنیف صفحه ۴۷۳ کښ ذکر دے ؟

جواب ۱ :- دا قاعده چه د علم فاعل الله تعالی وی او مفعول ئے نبی صلی الله علیه وسلم وی نو علم کلی مراد وی دا خود ساخته قاعده ده د دے د عربیت او اصول فقه په کتابونو کښ هیڅ ثبوت نشته۔ بلکه په دا سے مقام کښ د قائدے دارومدار ثانی باندے وی۔ دا رنگ لفظ د ما د عموم د پاره نه دے وضع شوے لکه چه د اهل تحقیق مذهب دے۔ بلکه شرح مواقف صفحه ۷۲۳ کښ لیکلی دی چه موصولات (چه حرف ما پکښ شمار دے) د جنس د پاره وضع کړے شوی دی د عموم او خصوص د پاره نه دی وضع شوی۔ او په قرآن کریم کښ د خصوص په ځائے کښ ډیر استعمال کړے شویدی لکه (وَاٰتَاكُمْ مَّا لَمْ يُؤْتِ اَحَدًا مِّنَ الْعٰلَمِيْنَ سوره مائده ۲۰) كَمَا عَلَّمَكُمْ

مَالَمْ تَكُونُوا تَعْلَمُونَ سوره بقره ۲۳۹) (وَعُلِّمْتُمْ مَّالَمْ تَعْلَمُوا اَنْتُمْ وَلَا اٰبَآؤُكُمْ سوره انعام ۹۱) او (عَلَّمَ الْاِنْسَانَ مَالَمْ يَعْلَمْ سورة العلق ۵) ابن کثیر وئیلی دی چه دَ الانسان نه مراد جنس دے او په دے آیتونو کښې که ما دَ عموم دپاره شي نو دَ ټول امت بلکه دَ بني اسرائیلو هم بلکه دَ جنس انسان دپاره به علم کلي ثابت شي.

جواب ۲:۔ دا آیت او سورت دَ هجرت په څلورم کال نازل شوے دے نوکه نبي صلی الله علیه وسلم ته علم کلي حاصل وے۔ نو دَ دینه روستو ډیر سورتونه نازل شویدي نو دَ هغے نزول ته هیڅ ضرورت نه وو۔ دارنګ دَ دینه روستو سوره توبه نازل شویدے او په هغے کښې فرمائیلي دي چه (لَا تَعْلَمُهُمْ نَحْنُ نَعْلَمُهُمْ سوره توبه ۱۰۱) نو دا خودَ هغے سره ښکاره تعارض راځي.

جواب ۳:۔ مفسرینو په دے آیت کښې دَ لفظ ما سره دَ تخصیص دپاره قیودات ذکر کړي دي۔ قرطبي وئیلي دي چه مِنَ الشَّرَائِعِ وَالْاَحْكَامِ۔ ابوحیان دَ ابن عباس رضي الله عنهما نه نقل ذکر کړیدے چه هُوَ الشَّرْعُ او دَ ابوسلمان نه ئې نقل راوړیدے اَخْبَارُ الْاَوَّلِيْنَ وَالْاٰخِرِيْنَ۔ او امام رازي دَ قفال نه نقل کړیدي چه مَا يَتَعَلَّقُ بِاُمُوْرِ الدِّيْنِ او ویل قول اخبار الاولین دے۔ او په کومو تفسیرونو کښې چه مِن علم الغیب ذکر دے دَ هغے نه مراد بعضے علم دے چه هغه په وحی سره ورکړے شویدے۔

وَكَانَ فَضْلُ اللهِ عَلَيْكَ عَظِيْمًا، دَ دینه مراد هغه انعامات دي چه هغه خاص دي په آخري نبي پورے چه هغه دَ هغه دَ بعثت عموم او ختم نبوت دے۔ او کثرت دَ معجزاتو سره دَ معجزے دَ قرآن او بقاء دَ امت دَ هغه ترقریب دَ قیامت پورے او نور هم دَ هغه ډیر خصائص شته دے (صلی الله علیه وسلم)۔

لَا خَيْرَ فِي كَثِيرٍ مِّن نَّجْوَاهُمْ

او نیشته هیڅ فائده په ډیرو جرګو د دوی کښ

إِلَّا مَنْ أَمَرَ بِصَدَقَةٍ أَوْ مَعْرُوفٍ

مګر جرګه د هغه چاچه حکم کوی په صدقے سره یا په نیک کار

أَوْ إِصْلَاحٍ بَيْنَ النَّاسِ ۚ وَمَن

یا په صلح کولو سره په مینځ د خلقو کښ او چاچه

يَفْعَلْ ذَٰلِكَ ابْتِغَاءَ مَرْضَاتِ اللَّهِ

کوو دا کار دپاره د طلب د رضاء د الله تعالیٰ

فَسَوْفَ نُؤْتِيهِ أَجْرًا عَظِيمًا ﴿١١٤﴾

نو زر دے چه ورکړو مونږ هغه ته ثواب لوے۔

۱۱۴:- په دے آیت کښ د نجوی کولو په باره کښ د ادب ذکر دے۔
ربط:- هر کله چه په تیر شوے واقعه کښ معلومه شویده چه د طعمه ملګرو د هغه د بچ کولو او د بری شخص د راګیرولو دپاره جرګے کولے نو په دے مناسبت سره ذکر د اقسام د جرګے ته ضرورت واقع شو۔ اکثرو مفسرینو وئیلی دی چه په نجواهم کښ ضمیر طعمه او د هغه ملګرو ته راجع دے او ابن عطیه وئیلی دی چه ضمیر عام انسانانو ته راجع دے او دا استیناف (د سره کلام) دے۔ لیکن غوره دا ده چه حکم عام دے اګرچه مخکښ واقعه پکښ هم داخله ده۔
لَا خَيْرَ، دا لفظ د تاکید په مقام کښ ذکر کیږی ځکه چه لَا د نفی د جنس دپاره دے نو نفی د جنس خیر سره وجود د شر لازم دے۔
فِي كَثِيرٍ، دا دلیل دے په طریقه د مفهوم صفت سره چه لږ و بعضے اقسامو د جرګو کښ خیر شته دے۔
مِّن نَّجْوَاهُمْ، واحدی وئیلی دی چه نَجْوٰی په لغت کښ

پټ راز دے په مینځ د دوه کسانو کښ - او زجاج وئیلی دی چه نجوی دا ده چه دوه تنه یا زیات ځان له شی یعنی د خلقو نه جدا شی، پټ وی او که ښکاره وی - او دا لفظ کله مصدر وی لکه په سوره مجادله ۸ کښ. او کله اشخاصو ته مجازًا وئیلے شی لکه (اِذْ هُمْ نَجْوٰی) سوره اسراء ۴۷ - او کرمانی وئیلی دی چه نجوٰی کله جمع وی د پاره د نجی - دلته غوره دا ده چه نجوی په معنیٰ مصدری سره دے او جائز ده چه په معنیٰ د اشخاص دے او اضافت په معنیٰ د من سره دے.

اِلَّا مَنْ، دا استثناء متصل ده لیکن په حذف د مضاف سره یعنی الا نجوی من - یا استثناء منقطع ده نو اِلَّا په معنیٰ د لکن سره دے - او دا دواړه اقوال بناء دی په دے خبره چه نجوی په معنیٰ مصدری سره شی - او کله چه مراد اشخاص وی مجازًا نو بیا استثناء متصل ده.

سوال:- د کثیر نه په طریقه د مفهوم صفت سره معلومه شوه چه په بعضے نجوی کښ خیر شته نو په دے استثناء کښ څه فائده ده؟

جواب:- د مفهوم صفت نه د بعضے حکم معلوم شو لیکن هغه بعضے مجمل دی نو په استثناء کښ تفصیل اوشو د هغے په ذکر د درے اقسامو سره لیکن تخصیص د دے دریو د ډیر اهتمام د وجې نه دے، د حصر د پاره نه دے. او هره نجوی د هغه خیز د پاره چه فائده پکښ وی او دینی ضرر پکښ نه وی نو هغه په جواز کښ داخل ده.

اَمَرَ بِصَدَقَةٍ اَوْ مَعْرُوْفٍ، په امر سره مراد تیزی ورکول دی، او صدقه فرض او نفل دواړو ته شامل ده - او معروف هره نیکئ ته شامل دے لکه چه په حدیث کښ وارد دی چه د مسلمان ورور سره په فراخ او رونړندی سره مخامخ شئ نو دا هم معروف دے - او آلوسی وئیلی دی چه معروف هر هغه قول او فعل دے چه په دلیل

شرعی سره دَ هغې بنا ئست (ثواب) ثابت وی نو ټول اقسامو
دَ نیکئ ته شامل دے لکه چا ته قرض ورکول، دَ محتاج امداد
کول او بے لارے شخص ته ارشاد او هدایت کول وغیره۔
سوال:۔ په نیکئ کښ اصلاح او صدقه داخل دی نو هغه
ئے جدا ولے ذکر کړل؟
جواب ۱:۔ دَ دغه دوارو دَ ډیر اهتمام دَ پاره۔
جواب ۲:۔ زمخشری وئیلی دی چه دَ صدقه نه مراد فرض
صدقه ده او دَ معروف نه نفلی صدقه مراد ده لیکن اول
جواب اصح دے۔ او قرطبی په دے کښ ډیر بحث ذکر
کړے دے۔
اَوْ اِصْلَاحٍ بَيْنَ النَّاسِ، اِصْلَاحٍ عامه ده په باره دَ وینو
(قتل) کښ او دَ مالونو کښ او دَ عزتونو کښ، او دَ مسلمانانو
په مینځ کښ په هر اختلاف کښ۔ او تخصیص دَ دے درے
قسمونو دَ دے وجے نه شوے دے چه عمل دَ خیر (متعدی)
یا په نفع رسولو سره دے یا په ضرر دفع کولو سره دے۔
او نفع رسول یا به دَ منافع جسمانی سره تعلق لری یا دَ
روحانی سره نو اول قسم صدقه ده او دویم قسم معروف
دے۔ او چه دَ دفعے دَ ضرر سره وی نو دا اصلاح ده۔ دا
رنګ عمل دَ خیر یا به نفع متعدی وی دَ طرف دَ مامور نه
بل چا ته نو دا صدقه ده یا به لازم وی دَ مامور سره نو
معروف دے او یا به دفع کول وی دَ مامور نه یخپله یا
په واسطه دَ مامور سره دَ بل چا نه نو دا اصلاح ده۔
سوال:۔ سوره مجادله ۹ کښ په جانب دَ نهی دَ مجادله دَ
اثم دَ عدوان او معصیت رسول او په جانب دَ امر کښ
دَ بِر او تقوی تخصیص کړے دے او صریح امر او نهی ئے
ذکر کړی دی نو دَ دے آیت سره وجه دَ فرق څه ده؟
جواب:۔ هلته خطاب دے مؤمنانو ته دَ هغوی دَ شان سره
صریح امر او نهی مناسب ده ځکه چه هغوی دَ الله تعالیٰ

او د رسول صلی الله علیه وسلم د امر او نهی پوره لحاظ کوی.
او دلته دا آیت په باره د معاملے د منافقانو کښ ذکر دے نو
په طریقه د اخبار سره ئے اوئیل چه دوی ډیرے بے خیره
جرگے کوی او دا د منافقانو شان دے. اگرچه دا اخبار هم
مستلزم دے معنیٰ د انشاء لره دا رنګ د هغوی (منافقانو)
جانب ته ئے د ممنوع نجوی اجمالی ذکر اوکړو چه عموم
پکښ راشی او هلته ئے تخصیص اوکړو چه د اثم او عدوان
او معصیت رسول چه دا د ایمان سره منافی امور دی دا رنګ
هلته لفظ بر شامل دے صدقه، امر بالمعروف او اصلاح
ټولو ته چه دا ټول خیر متعدی وو. او لفظ تقوی خیر لازمی
دے. او دا عموم د مؤمنانو د شان سره موافق دے.
وَمَنْ يَّفْعَلْ ذٰلِكَ ابْتِغَآءَ مَرْضَاتِ اللّٰهِ فَسَوْفَ نُؤْتِيْهِ اَجْرًا
عَظِيْمًا، هر کله چه اعمال د خیر بغیر د نیت او اخلاص نه
نه قبلیږی نو هغه شرط ئے په دے جمله کښ ذکر کړو.
ذٰلِكَ اشاره ده دغه درے اعمالو ته. او په دے جمله کښ
درے اقوال دی.
چه اول امر د آمر ذکر کړو نو اوس ثواب د فاعل (چه دغه
عملونه کوی) ذکر کوی.
دویم قول، دلته ئے یفعل په ځائے د یامر ذکر کړو اشاره ده
چه د دے امورو د سبب د پاره تخصیص د صیغے د امر نشته
بلکه په هره طریقے سره چه ترغیب ورکړیشی نو کافی دے
ځکه لفظ د فعل عام دے د امر نه.
دریم قول، د امر نه مقصد فعل کول دی نو ځکه د امر نه
تعبیر په فعل سره اوکړے شو.
ابتغاء طلب او لټون د یو څیز دے په کوشش سره او دا
مفعول له دے، مرضاة مصدر میمی دے په معنیٰ د رضا
سره او د رضا نه مراد خلوص د عمل دے د الله تعالیٰ
د پاره بغیر د ریا او سمعت نه. اَجْرًا عَظِيْمًا، اجرا او عظیما

وَمَنْ يُّشَاقِقِ الرَّسُوْلَ مِنْ بَعْدِ

(او چاچه خلاق اوكړ د رسول (صلى الله عليه وسلم) نه روستو د هغې نه

مَا تَبَيَّنَ لَهُ الْهُدٰى وَيَتَّبِعْ غَيْرَ

چه ښكاره شو هغه ته هدايت او روان شو په غير

سَبِيْلِ الْمُؤْمِنِيْنَ نُوَلِّهٖ مَا

د لارې د مؤمنانو (صحابو) نو وا به ړوو دهٔ لره كوم خوا چه

تَوَلّٰى وَنُصْلِهٖ جَهَنَّمَ ؕ وَسَآءَتْ

دې واوړيدو او داخل به كړو دې جهنم ته، او بد دې ځاى

مَصِيْرًا ﴿۱۱۵﴾ ع

د ورتللو (دا جهنم)

ركوع ۱۷ ۱۴

نكره ده د پاره د تكثير او تعظيم او تاكيد په عظيما سره تور تاكيد پيدا كوى.

۱۱۵:- دا عطف دے په وَمَنْ يَّفْعَلْ ذٰلِكَ باندے نو دا ذكر د يو ضد دے روستو د بل ضد نه. او په هغې كښ بشارت وو او په يكښ تخويف دے دا يو طريقه د ربط ده. بله دا ده چه هلته ئې د حصول د ثواب د پاره شرط د اخلاص ذكر كړو. او هغه مستلزم دے اتباع د رسول الله صلى الله عليه وسلم او صحابو لره. نو په دے آيت كښ د عمل او د هغې د ثواب د بربادئ مقابل ذكر كړو چه شقاق او ترك د اتباع ده.

وَمَنْ يُّشَاقِقِ الرَّسُوْلَ، آيت اگر چه د واقعې د طعمه سره تعلق لرى (لكه چه مفسرينو ليكلى دى) ليكن حكم ئې عام دے په سبب د عموم د الفاظو سره. د عربيت قانون دا دے چه فعل مضاعف په حال د جزم كښ په ادغام او فك ادغام دواړو سره جائز دے ليكن په ادغام كښ شدت د شقاق ته اشاره ده لكه چه په سوره حشر ع۱ كښ دى

چه د یهودو شقاق سخت وو. او په فك ادغام کښ تخفیف ته اشاره ده لکه چه په سورة انفال ۱۳ کښ دی. او دا رنګ په فك ادغام کښ انفکاك (جدا والی) ته اشاره وی نو دلته دا روستو نکته مراد ده چه شقاق کوونکے د رسول سره جدا کیدونکے دے د رسول صلی الله علیه وسلم نه. ابن کثیر وئیلی دی چه دیته شقاق ځکه وئیلے شی چه د مخالفت د وجے نه یو شخص یا یو فریق په یو شق (طرف) کښ پاتے شی او بل شخص یا فریق بل شق کښ پاتے شی نو دا دلالت کوی چه د شقاق اطلاق په ارتداد، کفر او په ابتداع باندے کیږی چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په مخالفت کښ بله عقیده یا قول وعمل ته حق او دین وائی، صرف فسق کولو باندے د دے اطلاق نشته.

مِنْ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُ الْهُدٰى، دا قید د زیات قباحت د پاره دے یعنی هغه څوك چه حق ورته په دلیلونو سره ښکاره شویدے او بیا هم د حق نه اوړی نو هغه ډیر ګنهګار دے په نسبت د هغه چاچه حق ورته نه وی ښکاره شوے. یعنی عالم ډیر مجرم دے په نسبت د جاهل او بے علمه سړی سره.

وَيَتَّبِعْ غَيْرَ سَبِيلِ الْمُؤْمِنِينَ، د مشاقة الرسول نه روستو دا د جهنم د دخول دویم سبب دے. د سَبِيلِ الْمُؤْمِنِينَ نه مراد دین حنیف دے (ابوحیان) عقیده او عمل د مؤمنانو، اصول او فروع ټولو ته شامل دے (آلوسی). المؤمنین کښ الف لام د استغراق د پاره دی لار د هرے زمانے د مؤمنانو چه هغوی پرے جمع شوے وی. یا الف لام عهدی دی یعنی صحابه کرام فقط، او دا قول غوره دے په دریو وجوهو سره.

اوله وجه داچه د دے آیت د نزول په وخت کښ مصداق صحابه کرام وو.

دویمه وجه داچه دا موافق دے د حدیث (مَا اَنَا عَلَيْهِ وَاَصْحَابِيْ) سره.

دریمه وجه داچه دا موافق دے دَ حدیث دَ ابن مسعود رضی الله عنه چه (مَنْ كَانَ مِنْكُمْ مُسْتَنًّا فَلْيَسْتَنَّ بِمَنْ قَدْ مَاتَ فَإِنَّ الْحَيَّ لَا تُؤْمَنُ عَلَيْهِ الْفِتْنَةُ أُولَئِكَ أَصْحَابُ مُحَمَّدٍ.... الحديث) (څوک چه ستاسو نه تابعداری کوونکے وی نو تابعداری دِ اوکړی دَ هغه کسانو چه مړه شویدی ځکه چه په ژوندی شخص دَ فتنو نه امن نشی کیدے او دغه کسان (چه مړه شویدی) اصحاب دَ محمد صلی الله علیه وسلم دی) - نو دَ دینه مراد هغه عقیده او عمل دے چه صحابه کرامو په هغے باندے اتفاق کړیدے - او آلوسی یو قول دا ذکر کړیدے چه دَ الهدی نه مراد توحید وسنت او عقیده ده او دَ دے جملے نه مراد فروع دی۔

سوال :- دا سے ئے ولے او نه وئیل يَتَّبِعْ سَبِيلَ غَيْرَ الْمُؤْمِنِينَ يا يُخَالِفُ سَبِيلَ الْمُؤْمِنِينَ ؟

جواب:- په دے جمله کښ دَ مؤمنانو دَ لار اهمیت ښکاره کول دی هغه په جمله دَ قرآن کښ دی دا رنګ مذموم اتباع ده دَ غلطے لارے او هغه خاص ده په مسلك او دین جوړولو پورے او هرچه مخالفت دے نو هغه عام دے - مخالفت په طور دَ فسق او په اجتهادی خطائی سره ته شامل دے - ابن کثیر دَ دے آیت په تفسیر کښ لیکلی دی چه دا (يَتَّبِعْ غَيْرَ سَبِيلِ الْمُؤْمِنِينَ) لازم دے دَ مخکښ صفت سره (چه هغه مشاقه دَ رسول صلی الله علیه وسلم ده) لیکن کله مخالفت دَ نص دَ دَ شرع نه وی او کله مخالفت دَ هغه څیز نه وی چه په هغے باندے امت محمدیه اجماع کړیده چه اتفاق دَ هغوی په هغے باندے په حقیقت کښ معلوم وی ځکه چه الله تعالی ضمانت کړیدے دَ عصمت دَ دے امت په وخت دَ اجتماع دَ دوی کښ دَ خطائی دَ وجے دَ شرافت دَ دوی نه او دَ وجے دَ تعظیم دَ نبی دَ دوی نه - او یقیناً په دیکښ ډیر احادیث صحیحه راغلی دی چه دَ هغے څه حصه په کتاب اصول الاحادیث کښ ذکر کړیده او بعضے علماؤ دَ دے معنی دَ تواتر دعوی کړیده - او هغه چه امام

شافعي رحمه الله په هغې باندې اعتماد کړيدې په حجت نيولو کښ په دې خبره کښ چه اجماع حجت دې چه مخالفت دَ هغې حرام دې هغه دا آيت کريمه دې روستو دَ ډير سوچ او فکر کولو نه نو دا ډير ښائسته او قوي استنباطات دي اګر چه بعضې علماؤ (لکه امام راغب) په هغې باندې اشکال ذکر کړيدې.

او مهائمي وئيلي دي چه په دې آيت کښ دليل دې په حرمت دَ مخالفت دَ اجماع باندې ځکه چه الله تعالى سخت وعيد مرتب کړيدې په مشاقه الرسول او اتباع غير سبيل المؤمنين باندې (په دواړو باندې) نو دا به خالي نه وي يا به دَ وجې دَ حرمت دَ يو نه وي نو دا خو باطل دې يا به دَ وجې دَ حرمت دَ جمع نه وي يعنې مجموعي دواړه به حرام وي او يو يو جدا جدا به حرام نه وي او دا هم باطل ده ځکه چه مشاقه دَ رسول خو حرام ده که دويم ورسره ضم (پيوست) وي او که نه وي. نو معلومه شوه چه حرمت دَ هر واحد مراد دې نو اتباع دَ غير سبيل المؤمنين چه حرام ده نو معلومه شوه چه اتباع دَ سبيل دَ دوي واجبه شوه نو دا مقصد دې دَ دې خبرې چه اجماع دَ وجوب دَ پاره شرعي دليل دې. او دَ دې وجې نه امام شافعي رحمه الله دَ دې آيت نه استدلال کړيدې دَ اجماع دَ حجتيت دَ پاره چه هغه مشهوره قصه ده چه خفاجي دَ امام مزني نه (چه دَ امام شافعي شاګرد دې) نقل کړيده. آلوسي او قاسمي هغه قصه په تفصيل سره ذکر کړيده او ابن کثير هغې ته اشاره کړيده لکه چه مخکښ ذکر شول. اګر چه په دې استدلال باندې امام راغب او ابن حاجب په مختصر الاصول کښ مناقشات کړيدي ليکن دَ دې دَ اثبات دَ پاره نور آيتونه لکه بقره ۱۴۳ او آلعمران ۱۱۰ او احاديث هم شته دې.

فائده:- امام ابن تيميه رحمه الله په کتاب الفرقان بين الحق والباطل (چه دَ هغې نه قاسمي په تفسير کښ تفصيل نقل کړيدې) کښ نا آشنا مقاله ليکلې ده حاصل ئې دا دې چه

سره دَ دینه چه الله تعالیٰ او دَ هغه رسول الله صلی الله علیه وسلم په عقائدو او فروعو ټولو کښې دین کامل پیش کړیدے او دَ هغې دَ اثبات دَ پاره یې ډیر آیتونه ذکر کړیدی لکه سوره مائده س ۳، سوره یوسف س ۱۱۱، سوره نحل س ۸۹، سوره توبه س ۱۱۵، سوره انعام س ۱۱۹ او سوره نساء س ۵۹ لیکن بیا هم استدلال بالاجماع ته حاجت دے دَ دے وجے نه چه دغه مستدل به نص ته وی موندلے نو ځکه په یې اجماع ته رجوع کړیوی (او هغه وئیلی دی) چه مونږ استقراء (تالاش) دَ مواردو دَ اجماع کړیدے نو هغه مونږ منصوص موندلے دی لیکن بعضے علماؤ دغه نص نه وی پیژندلے نو کله په اجماع استدلال کوی او کله په قیاس باندے (او بیا یې وئیلی دی) چه څوک دَ استدلال دَ رائے او قیاس نه بالکل انکار کوی نو دا غلطه خبره ده ځکه چه ډیرو صحابه کرامو په قیاس باندے عمل کړے دے او څوک چه دا دعوای کوی چه په مسائلو کښې بعضے داسے شته چه بغیر دَ رائے او قیاس نه په هغې باندے هیڅ دلیل نشته نو دا قول یې غلط دے۔

نُوَلِّهٖ مَا تَوَلّٰی، په دیکښې یو قول دا دے چه سپارو مونږ ده لره په آخرت کښې عاقبت دَ هغه عمل ته چه په دنیا کښې اختیار کړے وو۔

دویم قول، چه پریږدو مونږ ده لره په هغه کارکښې چه ده اختیار کړے وی یعنی هغه بد اعمال ورته آسان کړو، دَ هغې اسباب ورته ډیر کړو په طریقه دَ استدراج سره۔

وَ نُصْلِهٖ جَهَنَّمَ، صلی ادخال دے په اور کښې دَ سوځولو دَ پاره۔

وَ سَآءَتْ مَصِیْرًا، صیرورت دَ رجوع په معنیٰ سره دے۔

إِنَّ اللّٰهَ لَا يَغْفِرُ أَنْ يُّشْرَكَ بِهٖ

یقینًا الله تعالیٰ نه بخی چه شرک اوکړے شی د هغه سره

وَيَغْفِرُ مَا دُوْنَ ذٰلِكَ لِمَنْ

او بخی نور هغه ګناهونه چه کم دی د هغے نه چا لره

يَّشَآءُ ۚ وَمَنْ يُّشْرِكْ بِاللّٰهِ

چه اوغواړی، او چا چه شرک اوکړو د الله تعالیٰ سره

فَقَدْ ضَلَّ ضَلٰلًا ۢ بَعِيْدًا ﴿۱۱۶﴾

نو یقینًا ګمراه شو په ګمراهئ لرے سره۔

۱۱۶: ربط :- هرکله چه مخکښ مشاقة الرسول او اتباع غیر سبیل المؤمنین ذکر اوشو نو اوس د هغے لوے مصداق بیانوی چه هغه شرک کول دی۔ او دا رنګ په دے آیت کښ تقسیم د شقاق دے دوه قسمونو ته اول قسم شقاق په عقیده کښ دے چه هغه شرک دے او دویم قسم د مغفرت امیدِ شته دے۔ او دَ آیت تفسیر په دے سورة ۴۸ کښ ذکر شوے دے۔

إِنَّ اللّٰهَ لَا يَغْفِرُ أَنْ يُّشْرَكَ بِهٖ وَيَغْفِرُ مَا دُوْنَ ذٰلِكَ لِمَنْ يَّشَآءُ وَمَنْ يُّشْرِكْ بِاللّٰهِ فَقَدْ ضَلَّ ضَلٰلًا م بَعِيْدًا ، ضلال دوه قسمه دے اول هغه چه د ایمان سره نشی جمع کیدے دویم قسم هغه دے چه د ایمان سره یوځائے کیدیشی نو اول قسم ته ضلال بعید وئیلے شی چه د حق نه په ډیرو مرحلو سره لرے دے۔ او هرکله چه مشاقه کوونکے په خپل ځان باندے د هدایت خیال کوی نو الله تعالیٰ د هغه په باره کښ حکم د ضلال ذکر کړو۔

إِن يَدْعُونَ مِن دُونِهِۦٓ إِلَّآ

نه رابلی دوی سوا د الله تعالیٰ نه مګر

إِنَٰثًا ج وَإِن يَدْعُونَ إِلَّا شَيْطَٰنًا

زنانه او نه بلی دوی مګر شیطان

مَّرِيدًا ﴿١١٧﴾

سرکش لره۔

۱۱۷:۔ دا بیان د مشرکانو د شرک دے او دا رنګ د ضلال بعید د سبب ذکر دے۔ او په دے آیت کښ رد دے په شرک فی الدعاء باندے او دعا هر عبادت ته شامل دے ځکه چه په حدیث د ترمذی کښ وارد دی چه (اَلدُّعَاءُ هُوَ الْعِبَادَةُ) (دعا عبادت دے یعنی لوئے فرد د عبادت دے)۔

إِن يَدْعُونَ، امام رازی وئیلی دی چه د دینه مراد عبادت دے یعنی ذکر د خاص او مراد تری نه عام دے۔ یا د دُعا نه مراد استعانت او طلب کول د حاجت دی ځکه چه دا اصل معنیٰ د دعاء ده۔

مِن دُونِهِۦٓ إِلَّآ إِنَٰثًا، د دے په تفسیر کښ ډیر وجوه دی۔ اوله وجه، ابن ابی حاتم د عائشه رضی الله عنها نه روایت کړیدے چه د دینه مراد اوثان (بتان) د دوی دی۔ او د دے یو وجه دا ده چه د اکثرو نومونه مؤنث وو لکه لات او منات او عزیٰ وغیره۔

دویمه وجه دا ده چه دوی هغه بتان ښائسته کول پشان د ښائست د زنانو یعنی د سرو زرو او سپینو زرو کالی او د زنانو د جامو پشان به ئے په هغوی باندے اچولے۔ او په دیکښ د دے مشرکانو ډیر توهین دے ځکه چه دوی په معاشره کښ زنانو له هیڅ حق نه ورکولو او سپکه ئے ګنړله لیکن بیا ئے هم د هغوی عبادت کوو۔ دریمه وجه، ابن جریر د ضحاک نه روایت کړیدی چه د دینه

مراد ملائک دي ځکه چه د دوی عقیده وه چه ملائک د الله تعالیٰ لونړه دي او زنانه دي او د هغوی عبادت یې هم کولو او د هغوی صورتونه به یې د زنانو پشان جوړول۔ ابن کثیر وئیلي دي چه د دے قول تائید په سوره زخرف ۱۹، سوره صافات ۱۳۷ او سوره نجم کښې دے۔

څلورمه وجه، ابن ابي حاتم د ابي بن کعب رضي الله عنه نه نقل کړیدي چه د دینه مراد د دوی په اعتقاد کښې هغه پیرئ وه چه د هر صنم (بت) سره به وه او کله کله به دوی ته ښکاره کیدله او د دوی سره به یې خبرے هم کولے لکه روستو جمله هم په دے باندے دلالت کوي۔

پنځمه وجه، ابن جریر وغیره د حسن او علي بن ابي طلحه، او ضحاک د ابن عباس رضي الله عنهما نه روایت کړے دے چه د اناث نه مراد مرده ګان دي۔ حسن بصري وئیلي دي چه اناث هر هغه څیز دے چه روح پکښې نه وي لکه لرګے یا ګټه، نمر او سپوږمئ وي یا د قبرونو مرده ګان وي۔ هغوی ته اناث د دے وجے نه وئیلے شي چه هغوی کمزوري دي لکه چه زنانه د نارینه په نسبت کمزوري دي۔

شپږمه وجه، دا خاص دے په هغه کسانو پورے چه هغوی د زنانو (او د هغوی د شکلونو) عبادت کوي لکه عزي مونث پیرئ وه، بعل مونث وه۔ یا اوس زمانه کښې هغه څوک چه بي بي زینب یا پیرے ابئ وغیره ته عبادت کوي او را مدد شه ورته وائي۔ او دا هم ډیر خلق دي۔

وَإِنْ يَدْعُونَ إِلَّا شَيْطَانًا مَرِيدًا، مرد په اصل کښې خویه او خالي ته وئیلے شي لکه امرد چه بے ږیرے هلک ته وئیلے شي، او مرید چه د خیر او د طاعت نه خالي ته وئیلے شي۔ او دغه مرد ته سرکش او نافرمان وئیلے شي چه مراد د هغے نه صرف ابلیس دے یا د هغه اولاد ته عام دے او دغسے انسي سرکشانو ته هم عام دے۔

سوال :- مشرکانو خو شیطان ته رامه دشه نه دی وئیلے او نه ئے دَ شیطان عبادت کړیدے نو دَ دے جملے څه مطلب دے؟
جواب :- (په ډیرو وجوهو سره دے) اوله وجه، دَ دُعاء نه مراد اطاعت دے ځکه چه اطاعت هم عبادت دے نو معنیٰ دا ده چه دوی په شرک کولو کښ اطاعت نه کوی مګر دَ شیطان سرکش اطاعت کوی چه جنی یا انسی شیطان دے۔
دویمه وجه، ابوحاتم دَ سفیان نه نقل کړیدی چه په هر صنم کښ شیطان جنی داخلیږی او مشرکانو ته ښکاره کیږی (یا ورسره خبرے کوی) او هغوی ته دَ شرک دعوت ورکوی لکه چه بعضے واقعاتو کښ بیانیږی چه فلانے قبر والا بزرګ فلانی ته ښکاره شو یا دَ قبر نه آواز راغے یا ئے دَ قبر نه لاس راویستلو نو هغه په اصل کښ شیطان جنی وی۔ نو معنیٰ دا چه عبادت دَ دغه بتانو (اناثو) په اصل کښ عبادت دَ شیطان دے۔
دریمه وجه، ما په معتمد ذرائعو سره اوریدلے دی چه بعضے ملکونو کښ (مصر، لیبیا وغیره) داسے خلق شته چه هغوی دَ ابلیس عبادت کوی او دَ هغه په نوم باندے ذبح او نذرونه کوی۔ او دَ جناتو، پیریانو والا ته رم هم اوریدلے دی چه بعضے پیریان دَ شیطان عبادت کوی۔ او په سوره یٰسٓ ۶۰ کښ ښکاره ده۔ نو په دے جمله کښ خاص دغه قسم خلق مراد دی۔
سوال :- مخکښ جمله کښ دَ دوی دَ دعا حصر په اناث کښ اوکړو او په روستو کښ حصر په شیطان کښ اوکړو او حال دا دے چه دَ یو څیز حصر په جدا جدا څیزونو کښ نه صحیح کیږی؟
جواب :- (په دوه وجوهو سره دے) اوله وجه دا چه مخکښ معلومه شوه چه په اول کښ دَ دعا نه عبادت مراد دے او په دویم کښ اطاعت مراد دے۔
دویمه وجه دا چه په اول کښ هغه خلق مراد دی چه دَ اناثو عبادت کوی او په دویم کښ هغه خلق مراد دی چه دَ ابلیس عبادت کوی۔

لَّعَنَهُ اللّٰهُ ۘ وَقَالَ لَاَتَّخِذَنَّ

لعنت کړیں دے په هغه باندے الله تعالیٰ، او ده وئیلی دی خامخا جوړوم

مِنْ عِبَادِكَ نَصِيبًا مَّفْرُوضًا ﴿۱۱۸﴾

د بندګانو ستا نه برخه مقرر۔

۱۱۸:۔ دا جمله د شیطان ا د پاره صفت دے یا جمله مستانفه ده په طریقه د اخبار سره یا په طریقه د دعاء سره۔ او دویمه جمله (وقال) هم عطف ده په اوله جمله باندے۔

لَّعَنَهُ اللّٰهُ ، دا تصریح ده چه شیطان ملعون دے او په هغه باندے په خصوص او تعین سره لعنت وئیل جائز دی بلکه پکار دی۔

وَقَالَ لَاَتَّخِذَنَّ مِنْ عِبَادِكَ نَصِيبًا مَّفْرُوضًا ، ابن عطیه وئیلی دی چه د مفروض نه مراد جدا کړے شوے دے یا په معنیٰ د مقرر کړے شوے دے یا په معنیٰ د واجب او ضروری دے۔ او دا قول د ده بنا وو په هغه قول د ملائکو باندے چه هغوی وئیلی وو (اَتَجْعَلُ فِيهَا مَنْ يُّفْسِدُ فِيهَا وَيَسْفِكُ الدِّمَآءَ) او دغه (فساد او سفك الدماء) د شیطان په وسوسو سره پیدا کیږی نو د دے نصیب مفروض نه مراد ګمراهان خلق دی او د اتخاذ طریقے په وروستے آیت کښ ذکر دی او په سوره اسراء ۶۲ کښ)

سوال:۔ لفظ د نصیب دلالت کوی چه د ابلیس حصه به لږه وی او نقل او عقل دلالت کوی چه ګمراهان ډیر دی د اطاعت والو نه۔ نقل دا دے چه (قَالَ اَرَءَيْتَكَ هٰذَا الَّذِي كَرَّمْتَ عَلَيَّ لَئِنْ اَخَّرْتَنِ اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ لَاَحْتَنِكَنَّ ذُرِّيَّتَهٗ اِلَّا قَلِيلًا سورة اسراء ۶۲ او قَالَ رَبِّ بِمَآ اَغْوَيْتَنِي لَاُزَيِّنَنَّ لَهُمْ فِي الْاَرْضِ وَلَاُغْوِيَنَّهُمْ اَجْمَعِينَ سورة الحجر ۳۹) او عقلی دلیل دا دے چه په مسلمانانو کښ فساق او

وَلَاُضِلَّنَّهُمْ وَلَاُمَنِّيَنَّهُمْ

اوخامخا گمراهي ته به يلم دوى لره اوخامخا اميدونه به ورکومه دوى ته

وَلَاٰمُرَنَّهُمْ فَلَيُبَتِّكُنَّ اٰذَانَ

اوخامخا بنائم به دوى ته نو پرے کوى به غوږونه

الْاَنْعَامِ وَلَاٰمُرَنَّهُمْ فَلَيُغَيِّرُنَّ

دَ څاروو اوخامخا بنائم به دوى ته نو بدلوى به

خَلْقَ اللّٰهِ ؕ وَمَنْ يَّتَّخِذِ الشَّيْطٰنَ

جوړخ دَ الله تعالىٰ ، او چا چه اونيو شيطان

وَلِيًّا مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ فَقَدْ خَسِرَ

دوست (تابعدارى کړے شوے) سوا دَ الله تعالىٰ نه نو يقيناً تاوان يےاوکړو

خُسْرَانًا مُّبِيْنًا ؕ (۱۱۹)

تاوان ښکاره -

فجار دا هم حزب الشيطان دى نو دوى چه کافرانو سره يوځاے شمار شى نو داخو ډير زيات دى ؟

جواب ۱ :- ابوحيان وئيلى دى چه لفظ دَ نصيب عام دے قليل اوکثير دواړو کښ استعماليږى لکه (لِلرِّجَالِ نَصِيْبٌ مِّمَّا تَرَكَ الْوَالِدٰنِ وَالْاَقْرَبُوْنَ وَلِلنِّسَآءِ نَصِيْبٌ النساء:۷) او حال دا چه حصه دَ نارينو په ميراث کښ ډيره ده دَ حصے دَ زنانو نه -

جواب ۲ :- په عباد الصالحين کښ ملائک او مؤمنانو جنات هم شامل دى نو دوى چه دَ انسانانو مؤمنانو سره يوځاے شمار شى نو دوى ډير دى دَ شيطان دَ ډلے نه -

۱۱۹ :- په دے آيت کښ طريقه دَ اتخاذ دَ نصيب ذکر ده په څلور قسمه سره :

اول طريقه وَلَاُضِلَّنَّهُمْ ، دَ دے نه مراد اړول دَ خلقو دى

دَ لارے دَ هدایت او دَ توحید نه په وسوسو او په دعوت سره - او په نسبت دَ اضلال کښې الله تعالیٰ او غیر الله ته دا تفصیل په تفسیر دَ سورة بقره ۲۶ کښې تیر شوے دے -
دویمه طریقه ، وَلَأُمَنِّيَنَّهُمْ ، خواهشات او آرزوګانے دَ خلقو په زړونو کښې غورځول - قرطبي وئیلی دی چه دا په یو نوع کښې حصر نه لری بلکه دَ هر چا دَ حال مناسب جدا جدا امنیه ورکول دی چا ته دَ اوږد عمر چا ته دَ حاجت نفسانیه پوره کیدل وغیره - او په دے کښې روستو کول دَ توبے ، انکار دَ جنت او جهنم ، بعث بعد الموت او حساب ته دا رنګ سره دَ کفر او شرک نه جنت ته داخلیدل دی او استحقاق دَ شفاعت دعوی کول دا ټول په دیکښې داخل دی -
دریمه طریقه ، وَلَأٰمُرَنَّهُمْ فَلَیُبَتِّکُنَّ اٰذَانَ الْاَنْعَامِ ، دا اٰمُرَنَّهُمْ ، مامور به پټ دے یعنی بالبتك غوږونه پریکول او بالضلال (نورے ګمراهئ) - بتك دَ ابوعبید الله په نیز په معنیٰ دَ پریکولو دے او دَ زجاج په نیز په معنیٰ دَ سیرے کولو دے - او حرف دَ فاء دلالت کوی چه زما دا امر نه روستو سمدستی به دا عمل کوی بغیر دَ فکر کولو نه دَ دے په قباحت باندے - او دا دَ مشرکانو دَ جاهلیت رسم وو چه یو اوښے به پنځه بچی راوړل او آخری به مذکر وو نو دوی به هغه اوښه دَ خپلو اصنامو په نومونو باندے منسوب کړه او دَ هغے نه فائده اخستل به یے په ځان باندے حرام کړل او بیا هغے ته به یے بحیره وئیله (دا قول دَ واحدی او دَ ډیرو مفسرینو دے) او سورة مائده ۱۰۳ کښې هم ذکر دی - او دا امر نه مراد وسوسه اچول دی او ترغیبات ورکول دی لیکن په لفظ دَ امر کښې اشاره ده چه مشرکان او بے دینه خلق دَ شیطان په دغه خبره او وسوسه باندے داسے عمل کوی چه په امر او حکم باندے عمل کول واجب وی -
زمونږ زمانه کښې بعضے خلق یو ځوے دَ یو بابا په نوم باندے

نذر کړې او د علامت د پاره د هغه غوږ سورے کړې او کله کله پکښې د سپینو زرو یا سرو زرو والۍ هم واچوي، یا ورته څه بل څه خاص نخه واچوي دا هم لوے جهل او د مشرک عمل دے۔
شلورمه طریقه، وَلَاٰمُرَنَّهُمْ فَلَیُغَیِّرُنَّ خَلْقَ اللّٰهِ، دا تعمیم دے روستو د تخصیص نه ځکه چه په بتك کښې هم تغیر د خلق الله وؤ په خاص طریقې سره او په دے جمله کښې ئے په عموم سره ذکر کوی۔ د مخکښې په مناسبت سره زمخشري وئیلي دي چه د دینه مراد دا دے چه د حام (چه یو قسم څاروے دے) سترګه به ئے ویستله۔ لیکن دا په دے پورے خاص نه دے۔ په خلق الله کښې د مفسرینو دوه اقوال دي۔ اول قول دا چه مصدر په معنی د مفعول دے یعنی مخلوق د الله تعالیٰ۔ او آلوسي وئیلي دي چه بدلون د خلق په صورت او صفت دواړو کښې منعه دے نو د حام نه سترګه ویستل په دیکښې داخل دي او مریان خصي کول، خالونه لګول، زنانه خپل صورت د نارینه پشان جوړوي او نارینه خپل صورت او لباس د زنانه پشان جوړوي، او لواطت او سحق (زنانه چه بله زنانه استعمالوي) او عبادت کول د نمر او سپوږمۍ او د اور یا د کټو، بتانو وغیره دا ټول په بدلون د پیدائش د الله تعالیٰ کښې راځي۔ او د حلال څارو په خصي کولو کښې د علماؤ اختلاف دے۔ او قرطبي وئیلي دي چه وصل د ویختو په دیکښې داخل دے چه یو زنانه خپلو ویختو سره د زینت او ښائست یا د سیالۍ د پاره نور ویخته لګوي۔ او نسفي په مدارك او ابوحیان په خپل تفسیر کښې وئیلي دي چه په دیکښې په ګیره باندے خضاب (تور رنګ) لګول داخل دي۔ امام مسلم په خپله کتاب کښې باب تړلے دے۔ (بَابُ اِسْتِحْبَابُ خِضَابِ الشَّیْبِ بِالصُّفْرَةِ وَالْحُمْرَةِ وَتَحْرِیْمُهُ بِالسَّوَادِ) او حدیث ئے ذکر کړیدے (۲۴ باب کتاب اللباس والزینه) او ابوداؤد او ترمذي هم صحیح حدیث د منعے د تورولو ذکر کړیدے۔ په دے مسئله کښې نور تفصیل په فتح الباري

اول جلد صفحه ۲۹۳، او تهذیب السنن دَ ابن قیم او نیل الاوطار دَ شوکانی کښې او گورئ - او دا رنگ په تغیر دَ خلق الله کښې کبیره دَ تبضې نه کښول یا صفا خریئیل داخل دی رد خصاء په باره کښې قول دَ ابن عباس، ابن عمر او انس رضی الله عنهم او سعید بن المسیب، عکرمه، ابو عیاض، قتاده، ابو صالح او ثوری رحمهم الله نه نقل دی - او دَ خالوتو په باره کښې قول دَ ابن مسعود رضی الله عنه او حسن بصری رحمه الله نه نقل دے - او دَ تمر سپوږمۍ معبود دَ جوړولو باره کښې قول دَ زجاج نه نقل دے - دا تیر شوی امور اکثر آلوسی او ابو حیان وغیره ذکر کړیدی۔

دویم قول په باره دَ تغیر دَ خلق الله کښې دا دے چه مراد دین دَ الله تعالی بدلول دی - او دا قول په یو روایت دَ ابن عباس رضی الله عنهما، مجاهد، عکرمه، ابراهیم نخعی، حسن، قتاده او حکم نه نقل دے او دَ سوره روم ۳۰ پښان دے (ابن کثیر وغیره)۔ نو دین نه خلق په دے اعتبار سره وئیلے شویدے چه دَ انسان پیدائش فطرت دے، خلق په دے معنی سره نه دے چه دین مخلوق دے ځکه چه دین په اصل کښې قرآن دے او هغه مخلوق نه دے - صاحب اللباب وئیلی دی چه بدلول دین (فطرت) په دوه طریقو سره دے -

اول دا چه الله تعالی انسانان په توحید او اسلام باندے پیدا کړی دی نو څوک چه کفر او شرک او نوره بے دینی کوی نو هغه بدلول او کړل دَ خلق الله۔

دویم دا چه دَ دینه مراد بدلول دَ حرام دی په حلال او دَ حلال په حرام باندے - او زۀ وایم چه دواړه معنے یو بل نه نیزدے دی ځکه چه خصی کول، خالونه کیخودل، لواط، عبادت دَ شمس و قمر، قطع دَ گیرے، او تور خضاب لگول وغیره دا هم تغیر دَ دین دَ الله تعالی کښې داخل دے ځکه دَ دینه ځان ساتل دین دے او دغه چه څوک کوی نو هغه

يَعِدُهُمْ وَيُمَنِّيْهِمْ ۗ وَمَا يَعِدُهُمُ

وعدے کوی شیطان دَ دوی سره او امیدونه اچوی دوی ته، او وعده نه کوی دَ دوی سره

الشَّيْطٰنُ اِلَّا غُرُوْرًا ﴿۱۲۰﴾

شیطان مګر دهوکے والا۔

دین بدل کړو او دَ بے دینئ مرتکب شو۔ آلوسی او ابن عاشور وئیلی دی چه په تغیر خلق الله کښ ختنه کول او ګیره دَ قبضے نه زیات قنچی کول او دَ تور رنګ نه سوا بل رنګ لګول لکه نکریزه او کتم لګول او دَ زنانه غوږونه سوری کول دَ کالو اچولو دَ پاره او دَ بدن نه زیات ویخته خرئیل، نوکونه پریکول وغیره داخل نه دی ځکه چه دا په شرع کښ ثابت دی۔

وَمَنْ يَّتَّخِذِ الشَّيْطٰنَ وَلِيًّا مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ، په دے جمله کښ تحذیر دے دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه بندګانو ته دَ اتباع دَ شیطان نه روستو دَ ذکر دَ عزم دَ هغے نه په ګمراه کولو دَ خلقو سره، مقاتل وئیلی دی چه دَ ولی نه مراد رب دے یعنی اطاعت مطلقه دَ هغه کوی او ابو سلمان وئیلی دی چه ولیًا په معنیٰ دَ دوست دے۔

فَقَدْ خَسِرَ خُسْرَانًا مُّبِيْنًا، او وجه دَ دے دا ده چه په اطاعت دَ الله تعالیٰ کښ منافع دَ دنیا او آخرت همیشه دی۔ او په اطاعت دَ شیطان کښ منافع لګ دی او ضررونه او غمونه بے شماره او دَ آخرت عذاب دے نو په سبب دَ دویم سره اول پریخودل ښکاره نقصان دے۔

ف ۱۲۰ :- دا دَ خسر دَ پاره علت دے دَ شیطان په وعدو کښ غرور او دهوکه ده نو دا سبب دَ خسران دے۔

يَعِدُهُمْ، دا بیان دَ اضلال دے چه مخکښ آیت کښ لا ضلنهم کښ فرمائیلی وو یعنی اضلال کوی په دروغو وعدو سره۔ او دویم مفعول دَ دے پټ دے یعنی دَ دوی سره باطلے وعدے کوی، او دَ مدد او سلامتیا وعدے کوی،

أُولَٰئِكَ مَأْوٰىهُمْ جَهَنَّمُ ز وَلَا

دغه کسان ځائے د دوی جهنم دے او نه

يَجِدُونَ عَنْهَا مَحِيصًا ﴿۱۲۱﴾

به مومی دوی د هغے نه ځائے د تیختے۔

یا یره ورکوی دوی لره د فقر او غریبۍ نه په سبب د انفاق فی سبیل الله۔ او د شیطان د وعدو مجمل او مفصل ذکر په سوره ابراهیم ۲۲، سوره بقره ۲۶۸ او سوره اسراء ۶۴ کښ دے۔

وَيُمَنِّيهِمْ، دا بیان دے د ولامنینهم د پاره یعنی د ده قول واقع شویدے په تمنا اچولو سره د خلقو په زړونو کښ د امنینهم او د یمنیهم په مینځ کښ فرق دا دے چه اول خو عزم د شیطان وو او دویم وقوع د هغے ده، دا رنګ اول امانی په عقائدو کښ مراد دی او په دیکښ امانی د اعمالو مراد دی۔ او دا وعدے او تمنیه په وسوسو سره او په واسطه د اولیاء الشیطان سره ده۔

وَمَا يَعِدُهُمُ الشَّيْطٰنُ اِلَّا غُرُوْرًا، هر کله چه شیطان پخپلو کارونو کولو قسمونه کړے وو) لام او نون ئے د تاکید د پاره لګولے وو نو الله تعالیٰ د هغے د رد د پاره تاکید په طریقه د حصر سره ذکر کړو۔ د غرورا معنیٰ دا ده چه په ظاهر کښ نفع ورکول وی او په حقیقت کښ ضرر ورکول وی۔ دا سے په سوره اسراء ۶۴ سوره فاطر ۵ کښ دی۔ او غرورًا مفعول له دے، یا صفت د په تقدیر د ذا غرور سره۔

۱۲۱:- په دے آیت کښ شیطان او د هغه تابعدارو لره تخویف دے۔

أُولَٰئِكَ مَأْوٰىهُمْ جَهَنَّمُ وَلَا يَجِدُوْنَ عَنْهَا مَحِيصًا، مَحِيصًا، دا ظرف مکان یا مصدر میمی دے یا د حاص یحیص نه دے په اصل کښ تختیدل په نفرت سره او بچ کیدلو ته وئیلے شی۔ او واحدی وئیلی دی چه د دے جملے مطلب دا دے چه

وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ

او هغه کسان چه ایمان ئے راوړیدے او عمل ئے کړیدے په طریقه د نبي (صلی الله علیه وسلم)

سَنُدْخِلُهُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ

سره زر دے داخل به ئے کړو جنتونو ته چه بهیږي

مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ

لاندے د هغے نه ویالے همیشه به وي

فِيْهَآ اَبَدًا ؕ وَعْدَ اللّٰهِ حَقًّا ؕ

په هغے کښ همیشه ، وعده د الله تعالیٰ یقیني ده ،

وَمَنْ اَصْدَقُ مِنَ اللّٰهِ قِيْلًا ﴿۱۲۲﴾

او څوک دے ډیر رښتینے د الله تعالیٰ نه په وینا کښ .

خامخا اور ته داخلیږي یا مطلب دا دے چه همیشه به په اور کښ وي .

۱۲۲ :- د تخویف اخروي نه روستو په دے آیت کښ اوس بشارت اخرویه ذکر کوي .

وَعْدَ اللّٰهِ حَقًّا ، دا دواړه مصدرونه دي د تاکید د نفس فعل د پاره چه پټ دے یعني وَعَدَ وَعْدًا وحق ذالك حقا - او په دے وعدے سره مراد د سندخلهم وعده ده او د حقًّا نه مراد د هغے ذکر دے ډیر کرته په قرآن کریم کښ .

وَمَنْ اَصْدَقُ مِنَ اللّٰهِ قِيْلًا ، دا دریم تاکید دے ، قِيْلًا تمیز دے ، قول قیلا او قال مصدرونه دي د جمهورو علماؤ په نیز باندے ، لکه چه په سوره زخرف ۸۸ کښ دي - او ابن السکیت وئیلی دي چه قیل او قال اسمونه دي او قول مصدر دے - او د دے تاکید اتو د ذکر کولو دلته فائده دا ده چه مخکښ کښ ئے د هغے په مقابله کښ الله تعالیٰ د خپلے وعدے په جنت

لَيْسَ بِاَمَانِيِّكُمْ وَلَآ اَمَانِيِّ

نه دے دین او جزا موقوف په خواهشاتو ستاسو او نه په خواهشاتو

اَهْلِ الْكِتٰبِ ۗ مَنْ يَّعْمَلْ سُوْٓءًا

دَ کتاب والو، چاچه عمل اوکړ بد عمل (شرک)

يُّجْزَ بِهٖ ۙ وَلَا يَجِدْ لَهٗ مِنْ

بدله به ورکړے شی دَ هغے او نه به مومی ځان لره سوا

دُوْنِ اللّٰهِ وَلِيًّا وَّلَا نَصِيْرًا ﴿۱۲۳﴾

دَ الله تعالیٰ نه دوست -یځ کوونکے او نه امدادی-

سره ډیر تاکیدات ذکر کړل، داسے آیت دَ دے سورت په ۸۷ کښ هم دے۔ فرق دا دے چه هلته ئے حدیثًا ذکر کړے وو او دلته ئے قیلًا ذکر کړو، وجه دَ فرق دا ده چه هلته حدیث نه مراد کلمه دَ لا اله الا هو ده او دغه کلمه دَ ټولو انبیاء کرامو نه نقل ده او نقل شوے کلام چه همیشه وئیلے کیږی هغے ته حدیث وئیلے شی۔ او دلته دَ قول نه مراد وعده ده په سند خلهم سره۔ او په عرف کښ دَ قول اطلاق په وعدے باندے کیدیشی (والله اعلم)

۱۲۳:- ربط:- هر کله چه مخکښ ذکر شو چه شیطان دَ امانی وسوسے اچوی انسانانو ته نو په دے آیت کښ دَ دغه امانی حکم ذکر کوی چه په شرع کښ دَ هغے هیڅ اعتبار نشته۔

لَيْسَ بِاَمَانِيِّكُمْ، دَ مجاهد او ابن زید نه روایت دے چه دا خطاب مشرکانو ته دے چه مخکښ دَ هغوی شرک ذکر شو ان یدعون سره۔ او دَ بعضو په نیز دا خطاب دے مؤمنانو ته بلکه غوره دا ده چه خطاب عام دے غیر کتابیانو ته هم، دَ لیس په اسم (فاعل) کښ درے اقوال دی۔

اول قول، دا هغه وعد ته راجع دے چه په وعد الله کښ دے

(زمخشری) یعنی دغه وعده د جنت وثواب په امانی سره نه حاصلیږی۔
دویم قول، دا راجع دے ایمان ته چه په لفظ د امنوا کښ ذکر دے یعنی ایمان په تمناګانو سره نه حاصلیږی او دا قول د حسن بصری دے،
دریم قول، دا راجع دے د مؤمنانو او کتابیانو هغه خبرو اترو ته چه مؤمنانو وئیل چه زمونږ کتاب ستاسو په کتاب باندے حاکم دے او زمونږ نبی خاتم الانبیاء دے او اهل کتابو (یهودیانو) وئیل چه نحن ابناء الله واحباءه او مونږ جنتیان یو۔ نو اوئیلے شو چه ستاسو دغه دعوی په صرف امانی (ارزوګانو) سره نه حاصلیږی۔ آلوسی وئیلی دی چه امانی جمع د امنیه ده هغه صورت د یو څیز (تصور) ته وئیلے شی چه په نفس کښ حاصل شی یعنی نفس د هغے تقدیر او تصور کړے وی او حقیقت ئے نه وی او اکثر اطلاق ئے په دروغو باندے کیږی۔
وَلَآ اَمَانِیِّ اَهۡلِ الۡكِتٰبِ، اشاره ده چه د هغوی دعوی د جنت خاص کول د خپل قوم د پاره په (لن یدخل الجنه الا من کان هودًا ونصاری) او دا قول د هغوی چه نحن ابناء الله واحباءه، او دا قول چه سیغفرلنا، دا ټول دروغ تصورات دی۔
مَنۡ یَّعۡمَلۡ سُوۡٓءًا یُّجۡزَ بِهٖ، دا جمله مستانفه ده چه تاکید کوی د حکم د مخکښ جملے۔ دا جمله د اکثرو مفسرینو په نیز عام ده، مؤمنانو ته هم شامل ده په شرط د توبه نه کولو سره۔
سوال:- دا جمله دلالت کوی چه هیڅ سوء عمل نه معاف کیږی بلکه په هغے باندے به خامخا سزا ورکیدے شی، او حال دا دے چه په ډیرو آیاتو کښ ذکر د عفو او مغفرت شته بغیر د توبے نه لکه په دے سورت کښ دوه ځله اوفرمائیل (وَیَغۡفِرُ مَا دُوۡنَ ذٰلِكَ لِمَنۡ یَّشَآءُ)؟
جواب:- د مسند احمد او ابن حبان په روایت د حدیث د

وَمَنۡ يَّعۡمَلۡ مِنَ الصّٰلِحٰتِ

او چاچه عمل اوکړو د نیکو اعمالونه

مِنۡ ذَكَرٍ اَوۡ اُنۡثٰى وَهُوَ

نارینه وی او که زنانه وی، او دے وی

مُؤۡمِنٌ فَاُولٰٓئِكَ يَدۡخُلُوۡنَ

مؤمن (موحد) نو دغه کسان به داخلیږی

الۡجَنَّةَ وَلَا يُظۡلَمُوۡنَ نَقِيۡرًا ﴿۱۲۴﴾

جنت ته او ظلم به نشی کیدے په دوی باندے په قدر د داغ د هډوکی د کجورے۔

د ابوبکر رضی الله عنه کښ ثابت ده چه د جزاء نه مراد د دنیا مرضونه او مصیبتونه دی دغسے په حدیث د عائشه رضی الله عنها کښ دی چه ابن جریر ذکر کړے دے او دغسے په حدیث د ابوهریره رضی الله عنه کښ راغلی دی چه امام احمد او امام مسلم ذکر کړیدی۔ او د بعضے مفسرینو په نیز چه ابن جریج د ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت کړیدے، او دا رنګ سعید بن جبیر، چه د سوء نه مراد شرک او کفر دے چه په هغے باندے (په شرط د توبه نه کولو) خامخا سزا ملاویږی۔ لیکن اول قول غوره دے۔

وَلَا يَجِدۡ لَهٗ مِنۡ دُوۡنِ اللّٰهِ وَلِيًّا وَّلَا نَصِيۡرًا، ولی هغه دے چه دفع او حفاظت کوی سره د مدد کولو نه او نصیر هغه دے چه صرف مدد کوی اګرچه حفاظت نشی کولے۔

۱۲۴:- دا عطف دے په من یعمل سوءً باندے هغه تخویف وو۔ او دا بشارت دے۔ د بشارت کامله د پاره په عمل کښ دوه شرطونه ذکر کوی۔ اول شرط ایمان دے او دویم صالحیت (اتباع د سنت) په عمل کښ۔

وَمَنۡ يَّعۡمَلۡ مِنَ الصّٰلِحٰتِ، دا مِنۡ د تبعیض د پاره دے

وَمَنْ اَحْسَنُ دِيْنًا مِّمَّنْ اَسْلَمَ
او څوک ښائسته دين والا دے د هغه چانه چه تابع ئے کړو
وَجْهَهٗ لِلّٰهِ وَهُوَ مُحْسِنٌ وَّاتَّبَعَ
مخ خپل خاص الله تعالیٰ ته او دے وو ښائسته عمل والا او تابعدار دې
مِلَّةَ اِبْرٰهِيْمَ حَنِيْفًا ۗ وَاتَّخَذَ
د دين د ابراهيم عليه السلام چه پوخ مؤحد وو، او نيولے دے
اللّٰهُ اِبْرٰهِيْمَ خَلِيْلًا ﴿۱۲۵﴾
الله تعالیٰ ابراهيم عليه السلام لره دوست۔

ځکه چه يو انسان ټول اعمال صالحه نشي کولے يا د هغه د وس او طاقت نه بهر وي لکه زکوٰة او حج او جهاد د پاره شرطونه دي۔ يا د هغه نه ساقط وي د عذر د وجے نه لکه مونځ په بعضے حالاتو کښ په نيز د بعضے علماؤ۔ او ابن جرير د بعضے علماؤ نه نقل کړيدي چه دا مِنْ زائده دے ليکن دا قول ضعيف دے (ابو حيان)۔

او مِنْ ذَكَرٍ اَوْ اُنْثٰى، کښ مِنْ د پاره د بيان دے او دا سے په سوره آلعمران ۱۹۵ کښ شته دے۔ او ذکر د لفظ د اُنْثٰى رد دے په جاهليت والو باندے چه زنانه ئے وژلے او د ميراث نه ئے محروم کړے وے نو اسلام د هغوی حقوق ثابت کړيدی. په دے باب کښ نارينه او زنانه يو شان دي۔

وَهُوَ مُؤْمِنٌ، دا جمله حال دے او حال قيد وي په کلام کښ نو اشاره ده چه عمل صالح په فائده ورکولو کښ موقوف دے په ايمان باندے او دا اجماعي مسئله ده۔

فَاُولٰٓئِكَ يَدْخُلُوْنَ الْجَنَّةَ وَلَا يُظْلَمُوْنَ نَقِيْرًا، وَلَا يُظْلَمُوْنَ کښ ضمير ايمان والو ته راجع دے۔ يا من يعمل سوءً او من يعمل من الصالحات دواړو ته راجع دے

ځکه چه الله تعالیٰ په هیڅ یاندے ظلم نه کوی لکه په سوره آل عمران ۱۰۸ او سوره حم سجده ۴۶ کښ دی - او د تقریر تفسیر مخکښ ذکر شوے دے-

۱۲۵ :- هر کله چه په مخکښ آیت کښ ئے د نجات د حصول د پاره ایمان او عمل صالح شرط کړو، نو اوس د هغے شرح او فضیلت ذکر کوی او د فضیلت دوه وجے ذکر کوی- اوله وجه دا دین مشتمل دے په انقیاد او عبودیت باندے، دویمه وجه چه په یکښ متابعت د ابراهیم خلیل الله دے او د فضیلت نه ئے تعبیر په احسن سره کړے دے، صاحب اللباب وئیلی دی چه وجے د احسنیت د دین دوه دی یو دا چه دین اسلام په اعتقاد او عمل صالح باندے بنا دے، په لفظ د اسلم کښ اعتقاد ته اشاره ده ځکه چه دلته اسلام په معنیٰ د انقیاد او عاجزئ کولو سره دے او د انقیاد په اصل کښ په ټول بدن سره دے لیکن ذکر د وجه د دے وجے نه شوے چه په اعضاؤ کښ احسن (ښائسته) اندام مخ دے- دا ذکر د جز او مراد تری نه کل دے، نو هر کله چه انسان په زړه سره خپل رب پیژنی او په ژبے سره د هغه د ربوبیت او عبودیت اقرار اوکړی - نو دا سے شخص خپل مخ منقاد کړو الله تعالیٰ ته، او په لفظ د محسن کښ اشاره ده اعمالو ته ځکه چه احسان په معنیٰ د فعل د حسناتو او ترک د سیئاتو دے نو دا شامل دے ټولو اعمالو صالحه ته نو په دے دواړه شرطونو (اسلم، محسن) کښ رد دے په ټولو فرقو د ګمراهانو باندے چه د هغوی طریقے فاسد دی ځکه هغوی ټول شرك في الاستعانت کوی، مشرکان استعانت په خپلو معبودانو سره کوی، او دهریان (طبیعون) استعانت په افلاکو، ستورو او طبائعو سره کوی او یهودیانو استعانت په دفع د عذاب کښ کوی په دے خبره باندے چه مونږ اولاد د انبیاؤ یو، او نصاری په تثلیث سره استعانت کوی، او معتزله خپل طاعات موجب د ثواب او ګناهونه موجب د عذاب ګنړی - نو دوی الله تعالیٰ ته هیڅ توجه نه کوی، نو

موصوف په اسلم او محسن سره صرف اهل سنت والجماعت دي.
دویمه وجه د احسنیت اتباع د ملت ابراهیم علیه السلام ده
په دے قول سره

وَاتَّبَعَ مِلَّةَ إِبْرَٰهِيمَ حَنِيفًا، ځکه چه دین د محمد صلی الله علیه وسلم شرع د ابراهیم علیه السلام ته ډیر نزدے دے په باره د قبلے کښ په مناسک د حج، ختنه کولو او هغه کلما تو (افعالو) کښ چه (وَإِذِ ابْتَلَىٰ إِبْرَٰهِيمَ رَبُّهُۥ بِكَلِمَٰتٍ) کښ ذکر دي او دین ابراهیم مقبول وؤ په نیز د یهودو، نصاریٰ او د مشرکینو عرب ځکه چه دوی ټول فخر کوی په نسبت خپل سره ابراهیم علیه السلام ته، او د دے وجے نه چه دین ابراهیم د ټولو په نیز (دعوی په حیثیت سره) مقبول دے نو الله تعالیٰ د آخری نبی دین د هغه دین سره مشابه کړیدے او دے مشابهت ته اتباع وئیلے شی، نو دین د آخری نبی مستقل دے لیکن مشابه دے د دین ابراهیم سره او په (أَسْلَمَ وَجْهَهُۥ لِلَّهِ وَهُوَ مُحْسِنٌ) کښ دریم قول د مفسرینو د مخکښ په عکس سره دے یعنی په اول کښ اشاره ده اعمال صالحه ته او په دویم (محسن) کښ اشاره ده عقیدے د توحید ته، او تفسیر د حنیف په سوره بقره کښ تیر شویدے او دلته ابن کثیر وئیلی دی چه د حنیف معنیٰ مائل د شرک نه قصدًا یعنی پریخودونکی د شرک په پوهے سره او توجه کوونکی الله تعالیٰ ته چه نه منع کوی هغه لره هیڅ منع کوونکی۔

وَاتَّخَذَ اللَّهُ إِبْرَٰهِيمَ خَلِيلًا، زمخشری وئیلی دی چه دا جمله معترضه ده او فائده د دے تاکید د وجوب د اتباع د ملت ابراهیمی ده، ځکه څوک چه مرتبے د خلیل ته رسیدلی دی نو د هغه تابعداری کول لائق دی، او ابوحیان وئیلی دی چه دا جمله استفهامیه (من احسن) باندے چه هغه په معنیٰ د خبر کښ ده عطف ده، او دا جمله معترضه عرفیه نه ده، په اشتقاق د خلیل کښ اقوال دی، د جمهورو قول

وَلِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا

او خاص د الله تعالی اختیار کښ دی هغه څه چه آسمانونو کښ دی او هغه څه چه

فِي الْاَرْضِ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ بِكُلِّ

په زمکه کښ دی ، او دے الله تعالی په هر

۱۸ ع ۱۱ ۱۵ شَيْءٍ مُّحِيْطًا ﴿۱۲۶﴾

څيز باندے راګیروونکے .

دا دے چه دا دخُلة نه اخستلے شوی دے ، هغه دوستی چه په هغے کښ هيڅ خلل نه وی ، دویم قول چه دا ماخوذ د خُلة نه دے په معنیٰ د فقر او حاجت ، یعنی ابراهیم علیه السلام خالص دوست د الله تعالی دے ، یا دا چه ابراهیم علیه السلام خپل هیڅ حاجت سِوا د الله تعالی نه بل هیچا ته نه دے ښکاره کړے ثعلب وئیلی دی چه خلیل هغه څوک دے چه دوستانه د هغه زړه ته دننه داخله شوے وی ـ زجاج وئیلی دی چه خلیل هغه دے چه د هغه په دوستانه کښ هیڅ خلل (نقصان) نه وی ـ قرطبی وئیلی دی خلیل په معنیٰ د فاعل دے یعنی محب (محبت کوونکے) یا په معنیٰ د مفعول دے یعنی محبوب او په ابراهیم علیه السلام کښ دواړه صفتونه موجود وو ـ پړے معنیٰ چه محبت د الله تعالی د ده په ټولو قوتونو کښ داخل شوے وو ، نو د هغه لیدل ، سکون ، اوریدل ، هر حرکت صرف د الله تعالی د پاره اوېمد د الله تعالی سره وو ، او عامو مفسرینو د هغه د جود او سخاوت او میلمستیا قصے ذکر کړی دی چه هغه سبب د خلیل کیدو او ګرځیدو او مقام د حبیب د خلیل نه اوچت دے د دے وجے نه زمونږ نبی صلی الله علیه وسلم په صفت کښ حبیب الله په صحیح حدیث کښ وارد دے ـ

۱۲۶ :- په دے آیت کښ توحید فی التصرف او فی العلم ذکر کوی ـ

ربط :- ربط د ما قبل سره (صاحب اللباب) په څلورو وجوهو سره ذکر کړیدے اوله وجه چه دا جواب د یو وهم دے ـ که څوک وهم

اوکړی چه الله تعالیٰ ابراهیم علیه السلام خلیل جوړ کړیدے د وجې د احتیاج خپل نه حاصل جواب دا دے چه نه د هر څه ملک د الله تعالیٰ دے د هغه هیچا ته حاجت نشته هغه ئې خلیل ګرځولے دے د وجې د کرم خپل نه - دویمه وجه الله تعالیٰ د ابتداء د سورت نه تردے آیت پورے ډیر اوامر نواهی او وعد وعید ذکر کړل نو په دے آیت کښ ذکر کوی چه الله تعالیٰ خالق او مالک او اله د ټول کائنات دے نو د هغه د ټولو احکامو د پاره انقیاد په بندګانو ضروری دے - دریمه وجه هرکله چه مخکښ وعد وعید (بشارت او تخویف) ذکر شول نو اوس ذکر کوی چه د دے د پوره کولو د پاره قدرت تامه کامله او علم د ټولو جزئیاتو کلیات ضروری دے نو په دے آیت د هغه کمال قدرت په اوله جمله کښ او کمال علم په دویمه جمله کښ ذکر شو -

څلورمه وجه هرکله چه خُلَّة د ابراهیم علیه السلام ذکر کړو نو اوس اشاره کوی چه هغه سره د صفت د خُلة نه بنده او مملوک د الله تعالیٰ دے ځکه چه د الله تعالیٰ په ملک کښ هر څه داخل دی نو ابراهیم علیه السلام پکښ داخل دے -

پنځمه وجه (رزۂ وایم) چه هرکله اسلم وجهه ئې ذکر کړو نو د انقیاد او احسان اول بنیاد ذکر کوی چه هغه عقیده د توحید ده چه بغیر د دے عقیدے نه دین د هیچا نه قبلیږی -

وَلِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ، لفظ د مَا کښ ذوی العقول او غیر ذوی العقول او ذوی الارواح او غیر ذوی الارواح ټول حقیقتًا (په نیز د سیبویه) داخل دی نو دا اشاره ده قدرت او تصرف کامله د الله تعالیٰ ته -

وَكَانَ اللّٰهُ بِكُلِّ شَيْءٍ مُّحِيْطًا ، ابن کثیر وئیلی دی چه مراد د دے نه احاطه علمی د الله تعالیٰ ده یعنی د هغه د علم نه هیڅ ذره بهر نه ده -

وَيَسْتَفْتُوْنَكَ فِي النِّسَآءِ ۖ قُلِ اللّٰهُ

او تپوس کوی دوی ستا نه . په باره د زنانو کښی، ته اووایه الله تعالی

يُفْتِيْكُمْ فِيْهِنَّ ۙ وَمَا يُتْلٰى

پوخ حکم کوی تاسو ته په باره د دوی کښی او هغه حکم (هم دے) چه بیانیږی

عَلَيْكُمْ فِي الْكِتٰبِ فِيْ يَتٰمَى

په تاسو باندے په دے کتاب کښی (دے سورت کښی) په باره د یتیمو

النِّسَآءِ الّٰتِيْ لَا تُؤْتُوْنَهُنَّ

زنانو کښی هغه زنانه چه نه ورکوئ تاسو هغوی ته

مَا كُتِبَ لَهُنَّ وَتَرْغَبُوْنَ

هغه (مهر) چه مقرر کړے شوے دے هغوی لره او غواړئ تاسو

اَنْ تَنْكِحُوْهُنَّ وَالْمُسْتَضْعَفِيْنَ

چه او کړئ د دوی سره نکاح او په باره د کمزورو

مِنَ الْوِلْدَانِ ۙ وَاَنْ تَقُوْمُوْا

وړو کښی او دا (حکم) چه کلک شئ

لِلْيَتٰمٰى بِالْقِسْطِ ۖ وَمَا تَفْعَلُوْا

د پاره د یتیمانو په انصاف سره او هغه چه کوئ تاسو

مِنْ خَيْرٍ فَاِنَّ اللّٰهَ كَانَ بِهٖ

څه نیک کار نو یقینًا الله تعالی دے په هغے باندے

عَلِيْمًا ﴿۱۲۷﴾

پوهه .

۱۲۷:- دا نهم حکم دے د احکامو سیاسیه نه چه تعلق لری

دَ رعیت دَ کمزور خلقو سره چه زنانه او یتیمان او داړه .پکې دی یعنې بادشاه له پکار دی چه دَ دوی نه دَ مظالمو دفع کولو دَپاره کوشش اوکړي.

ربط له :- هرکله چه مخکښ آیت کښ دَ دین اسلام احسنیت ذکر شو نو اوس دَ هغې یوه وجه ذکر کوی چه هغه خلاق دَ مظالمو دَ جاهلیت دے په دین اسلام کښ.

ربط ۲ :- او هرکله چه تصرف کلی او علم کلی دَ الله تعالی ذکر کړے شو نو الله تعالی دَ خپل الوهیت دَ اظهار دَپاره خاص حکم ذکر کوی دَپاره دَ احیاء (ژوندی کولو) دَ حقوق دَ ضعیفانو او اشاره کوی چه په دے حکم باندے عمل کول لازم دی ځکه چه دا حکم دَ لوے ذات دے.

وَيَسْتَفْتُونَكَ ، استفتاء طلب دَ فتوی ته وئیلے شی دَ فتی نه اخستلے شوے دے ځوان ته وئیلے شی نو دا رنګ په فتوی سره اشکال دَ مستفتی زائله شی نو خبره قوی شی - او په شریعت کښ فتوی هغه جواب دے چه په دلیل دَ کتاب الله او سنت سره ثابت او پوخ شی صرف په نقل دَ اقوالو دَ فقهاؤ سره جواب ورکول فتوی نه ده دَ دے وجے نه فقهاء احناف وغیره وئیلی دی چه مفتی مجتهد وی صرف نقل کوونکے دَ اقوالو دَ علماؤ ته مفتی نشی وئیلے دا سے ابن همام او ابن عابدین په کتاب القضاء کښ لیکلی دی.

فِي النِّسَاءِ ، په باره دَ میراث ورکولو کښ زنانه ته چه دا مخالف دے دَ عادت دَ جاهلیت نه.

قُلِ اللَّهُ يُفْتِيكُمْ فِيهِنَّ ، بعض مفسرینو وئیلی دی چه مراد دَ دینه هغه احکام دی چه دَ دے سورت په ابتداء کښ ذکر دی لیکن دا قول ضعیف دے ځکه چه روستو په ما یتلی علیکم کښ دغه اشاره مراد ده نو تکرار لازمیږی بلکه مراد دَ دینه (مهاکمی وئیلی دی) په کتابونو او صحیفو منزلو کښ ذکر کول دی.

ها په دواړه قولونو کښ يفتيكم فعل مضارع په معنى د فعل ماضى ده او لفظ الله ئے د تاکيد د پاره مخکښ راوړيدے.

وَمَا يُتْلٰى عَلَيْكُمْ فِي الْكِتٰبِ يَتٰمَى النِّسَآءِ، دا عطف دے په لفظ الله باندے نو يفتيكم خبر پټ دے يا عطف دے په ضمير د فاعل چه پټ دے په يفتيكم کښ چه هغه الله تعالى ته راجع دے راوپه دے کښ صاحب اللباب نور وجوه د اعراب ذکر کړيدى).

دلته الْكِتٰبِ نه مراد قرآن دے او د دے سورت ابتداء په باره د يتامى زنانو کښ چه ۳ دے - په هغه آيت کښ د دوى سره د قسط (انصاف) کولو طريقه ذکر شويده.

الّٰتِيْ لَا تُؤْتُوْنَهُنَّ مَا كُتِبَ لَهُنَّ، په دے کښ اشاره ده هغه ظلم کولو ته چه الا تقسطوا ۳ کښ هغے ته اشاره ده او مراد د ماکتب نه ميراث او مهر او نفقه ورکول دى.

وَتَرْغَبُوْنَ اَنْ تَنْكِحُوْهُنَّ، په دے کښ دوه اقوال دى اول د حديث عائشه رضى الله عنها (چه بخارى او مسلم ذکر کړيدے) نه معلوميږى چه لفظ د عَنْ پټ دے نو رغبت په معنى د اعراض سره دے يعنى تاسو د هغوى د نکاح نه اعراض کوئ د وجے د کم والى د مال د هغے يا د وجے د عدم حسن نه - دويم قول د سعيد بن جبير او مجاهد دے چه دلته فى پټ دے او رغبت په معنى د مينه کولو دے يعنى تاسو مينه کوئ په نکاح د هغوى کښ د وجے د ډير مال او د حسن د هغے نه.

وَالْمُسْتَضْعَفِيْنَ مِنَ الْوِلْدَانِ، دا عطف دے په يتامى النساء باندے يعنى هغه حکم چه ابتداء د سورت کښ په باره د ميراث د کمزورو بچو کښ ذکر شويدے په ۱۱ کښ يا عطف دے په ضمير د فِيْهِنَّ باندے او په باره د وړو بچو کښ د حکم مطلب دا دے چه دوى ته حصه په ميراث کښ ورکوئ او د جاهليت په طريقے سره دوى د ميراث نه مه محروم کوئ.

وَاَنْ تَقُوْمُوْا لِلْيَتٰمٰى بِالْقِسْطِ، د دے په عطف کښ هم دغه دوه اقوال دى. دريمه توجيه دا ده چه دلته فعل د يا مر کم

وَاِنِ امْرَاَةٌ خَافَتْ مِنْۢ بَعْلِهَا

او که یو زنانه یریږي د خپل خاوند

نُشُوْزًا اَوْ اِعْرَاضًا فَلَا جُنَاحَ

د ین خویئ (طبعًا) نه یا د مخ گرځولو (قصدا) نه نو گناه نشته

عَلَيْهِمَا اَنْ يُّصْلِحَا بَيْنَهُمَا

په دغه دواړو باندې چه روغه اوکړي په مینځ خپل کښې

صُلْحًا ۚ وَالصُّلْحُ خَيْرٌ ۚ وَاُحْضِرَتِ

روغه کول، او روغه کول غوره کار دې، او کیخودلے شویدې

الْاَنْفُسُ الشُّحَّ ۚ وَاِنْ تُحْسِنُوْا

په زړونو کښې حرص، او که ښه ژوند کوئ د دوی سره

وَتَتَّقُوْا فَاِنَّ اللّٰهَ كَانَ بِمَا

او ځان بچ کوئ (د اختلافات نه) نو یقینًا الله تعالیٰ دے ستاسو

تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرًا ﴿۱۲۸﴾

په عملونو باندې خبردار۔

پت دے قیام په معنیٰ د اهتمام او کوشش کولو دے او یتامیٰ عام دے هلکانو او جینکو دواړو ته او د قسط نه مراد هغوی ته پوره میراث ورکول او دا رنګ مهر او نفقه ورکول دي په وخت د نکاح کښې۔

وَمَا تَفْعَلُوْا مِنْ خَيْرٍ فَاِنَّ اللّٰهَ كَانَ بِهٖ عَلِيْمًا، د خیر په ذکر کښې اشاره ده رغبت ورکولو د خیر ته اګر چه الله تعالیٰ د دوی په شر باندې هم عالم دے او د خیر نه مراد په دغه احکامو باندې عمل کول او نور احسانات کول د دغه ضعفاؤ سره یا عام کارونه د خیر مراد دي۔

س ۱۲۸ :- په دے آیت کښ ذکر د یو طریقے د دفع د ظلم د زوج دے په خپله ښځه باندے۔

وَاِنِ امْرَاَةٌ خَافَتْ ، په معنی د علم یا د گمان۔ یا خپله معنی ده یعنی هر کله چه په خاوند کښ علامات د نشوز قولی یا فعلی اووینی نو ښځه د هغه نشوز نه ویره اوکړی۔

مِنْ بَعْلِهَا ، خاوند او سردار ته وئیلے شی او دا مختص صفت دے په سړی پورے۔

نُشُوْزًا ، نشوز په اصل کښ پورته والی ته وئیلے شی یعنی خاوند ځان پورته اوګنړی د ادائیګئ د حقوق د زوجے نه نزدیکت او محبت ورسره نه کوی۔

اَوْ اِعْرَاضًا ، یعنی مخ ترینه اړوی خبرے او کیناستل ورسره نه کوی۔ نشوز خاص دے او اعراض عام دے۔ یا نشوز اعلی دے او اعراض ئے ادنی دے۔

فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَآ اَنْ يُّصْلِحَا بَيْنَهُمَا صُلْحًا ، مراد د صلح نه پریخودل د بعض حق خپل دے د ښځے حق مهر او نفقه او قسم (تمیر د طرف د خاوند نه) او د خاوند حق اطاعت د ښځے دے خاوند لره په غیر د معصیت نه ، او بعض خدمتونه کول وغیره۔ نو هر یو طرف بعضے بعضے پریږدی۔ هر کله چه د لاجناح نه معلومیږی چه صلح کول رخصت دے ګناه پکښ نشته دے نو اوفرمائیل وَالصُّلْحُ خَيْرٌ ، یعنی په صلح کښ ډیرے فائدے دی او معنی دا ده چه صلح کول د ښځے او خاوند غوره ده د جدائی نه ۔ یا د نشوز او اعراض نه ۔ او دا حکم ښځه او خاوند پورے خاص نه دے بلکه الف لام په الصلح کښ د پاره د استغراق دی۔

وَاُحْضِرَتِ الْاَنْفُسُ الشُّحَّ ، الانفس ، په اصل کښ مفعول اول دے او الشح دویم مفعول دے دا مشهور قول دے او دویم قول د دے برعکس دے او مراد د احضار د شح نه دا دے چه شح د نفس د پاره امر طبعی دے د هغه نه نه جدا کیږی۔

وَلَنْ تَسْتَطِيْعُوْٓا اَنْ تَعْدِلُوْا

او هيچرے طاقت نه لرئ تاسو چه انصاف اوکړئ

بَيْنَ النِّسَآءِ وَلَوْ حَرَصْتُمْ

په مينځ دَ زنانو کښ (په مينه کولو کښ) اګر چه حرص کوئ تاسو

فَلَا تَمِيْلُوْا كُلَّ الْمَيْلِ

نو مه کږيږئ يوے ته په پوره کږيدلو سره

فَتَذَرُوْهَا كَالْمُعَلَّقَةِ ؕ وَاِنْ

چه پريږدئ هغه پله پشان دَ زوړند ے ، او که

تُصْلِحُوْا وَتَتَّقُوْا فَاِنَّ اللّٰهَ

اصلاح کوئ تاسو او ځان ساتئ (ظلم دَ بچولو نه) نو يقيناً الله تعالیٰ

كَانَ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ﴿۱۲۹﴾

دے بخنه کوونکے رحم کوونکے۔

قرطبی وئيلی دی چه دا جمله خبريه ده ۔ الشح حرص کول دی په منع دَ خير باندے (اللباب)۔ ابن فارس وئيلی دی چه بخل دے سره دَ حرص نه (ابوحيان)۔ داچه هر کله په منع دَ حقوقو شرعيه کښ راشی نو مذموم دے په سورهٔ تغابن کښ دی ومن يوق شح نفسه فاولئك هم المفلحون ۱۶۔

وَاِنْ تُحْسِنُوْا وَتَتَّقُوْا ، دا خطاب دے خاوندانو ته يعنی که چرے تاسو احسان اوکړئ دَ خپلے ښځے سره په ساتلو دَ هغے سره دَ يلا کنړلو نه او ځان بچ کړئ دَ نشوز او اعراض نه۔ يا عام خطاب دے غير دَ خاوندانو ته يعنی که تور خلق احسان اوکړی په صلح کولو سره او ځان بچ کړی دَ ميلان نه يو طرق ته۔

فَاِنَّ اللّٰهَ كَانَ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرًا ، خبير هغه دے چه عالم وی په پټ حالت او رازونو باندے او هر کله چه شح

باطنی څیز دے دا رنګ دَ ظاهر او باطن دواړو سره تعلق لري نو دَ هغې سره لفظ دَ خبیر مناسب دے۔

۱۲۹:۔ په دے آیت کښ ذکر کوی دفع دَ ظلم دَ زنانهٔ په هغه کارونو کښ چه دَ انسان دَ وس برابر وی۔ او کوم چه دَ وس نه بهر دی نو په هغې کښ عذر ذکر کوی۔

وَلَنْ تَسْتَطِيْعُوْٓا اَنْ تَعْدِلُوْا بَيْنَ النِّسَآءِ، یعنی دا سے عدل چه په هر څیز کښ دی چه متعلق دی دَ حال دَ ښځو سره۔ تقسیم، نفقه، نظر، رعایت، اُنس کول، خوش طبعی (الوسی) او دَ بیهقی روایت کښ محبت او جماع ذکر دی۔ لیکن دَ دے برابری دَ انسان دَ قدرت نه بهر ده ځکه چه دا امور غیر اختیاری دی۔ تر دے پورے چه زیاته مینه کول دَ عائشه رضی الله عنها سره دَ نبی صلی الله علیه وسلم دَ اختیار نه بهر وو لکه چه په حدیث دَ ابوداؤد او ترمذی کښ دی دَ عائشه رضی الله عنها روایت دے چه نبی صلی الله علیه وسلم فرمائیل (اَللّٰهُمَّ هٰذَا قَسْمِيْ فِيْمَا اَمْلِكُ فَلَا تَلُمْنِيْ فِيْمَا تَمْلِكُ وَلَا اَمْلِكُ) اے الله دا زما تقسیم دے په هغه کار کښ چه زهٔ یې وس لرم نو ما مه ملامت کوے په هغه کار (محبت دَ زړهٔ) چه ته یې اختیار لرے او زهٔ یې اختیار او وس نه لرم)۔

وَلَوْ حَرَصْتُمْ، غوره دا ده چه واو وصلیه دے یعنی اګر چه تاسو حرص کوئ په عدل کولو کښ او کوشش کوئ۔ په دیکښ اشاره ده اګرکه دغه عدل دَ انسان دَ طاقت نه بهر دے لیکن بیا هم ضروری دے چه خپل کوشش دَ عدل په باره کښ صرف کوی او دا حرص محمود دے۔

فَلَا تَمِيْلُوْا كُلَّ الْمَيْلِ، دا نهی تعلق لري دَ هغه کارونو سره چه دَ طاقت دَ لاندے وی یعنی قسم (نمبرساتل) او نفقه۔ قرطبی وئیلی دی معنیٰ دا ده چه قصد مه کوئ دَ بد کار نو مقصد دا دے چه په قصد سره میلان مه کوئ هغه ښځے ته چه دَ زړهٔ محبت ورسره ډیر دے۔ تر دے پورے چه تاسو فرق په قول او عمل کښ ښکاره کړئ دا منع دے۔ كُلَّ الْمَيْلِ لفظ

کل چه په مصدر یاندے داخل شی نو په معنٰی مصدری کښې په کمال باندے دلالت کوی - او د کمال میلان نخه دا ده چه
فَتَذَرُوْهَا كَالْمُعَلَّقَةِ ، فَتَذَرُوْهَا ، په حال د نصب کښې دے په تقدیر د اَنْ سره په جواب د نهی کښې یا مجزوم دے عطف دے په تمیلوا باندے نو بناء په اول باندے جمع کول د دواړو کارونو منع دی او بناء په دویم باندے هر یو کار جدا جدا منع او حرام دے۔
هَا ضمیر راجع دے دویمے ښځے ته چه د هغے نه میلان کړے شوے دے یلے ښځے ته - كَالْمُعَلَّقَةِ ، کاف د پاره د تشبیه دے او مراد د دینه تشبیه ده د هغه خیز سره چه د آسمان او زمکے په مینځ کښې زوړند وی نه زمکے ته رسیږی چه قرار حاصل کړی او نه بره طرف ته څه خیز پورے انختلے وی نو ښځه معلقه نه مطلقه وی او نه خاوند والا وی - او قتاده وئیلی دی چه مراد د دے مسجونه ده چه په جیل کښې ساتلے وی - او دا ډیر ظلم کولو ته اشاره ده۔
وَاِنْ تُصْلِحُوْا وَتَتَّقُوْا ، اصلاح ، نه مراد عدل دے په قسم او نفقه کښې او تقوی نه مراد ځان د میل او ظلم نه بچ کول دی۔ یا مراد د اصلاح نه توبه کول دی د مخکښې میلان کولو نه او تقوی نه مراد په راتلونکے وخت کښې ځان د میل نه ساتل دی (اللباب)۔

سوال :- تیر شوی آیت کښې وان تحسنوا اُوئیل او دلته وان تصلحوا ؟

جواب :- په هغه آیت کښې سره د کراهیت د ښځے نه نشوز او اعراض پریښودل او دے ته په عرف کښې احسان وئیلے شی او نشوز او اعراض اساءت دے (بد کار کول) او اساءت مقابل د احسان وی۔ او په دے آیت کښې منع ده د جور او ظلم نه او مقابل د جور اصلاح ده په عدل کولو سره نو هر یو سره مناسب فعل ذکر شوے دے۔

وَإِن يَتَفَرَّقَا يُغْنِ اللَّهُ كُلًّا

او كه جدا شول دواړه نو بې پرواه به كړي الله تعالى هر يو له

مِّن سَعَتِهِ ۚ وَكَانَ اللَّهُ وَاسِعًا

په وجه د فضل خپل ، او دے الله تعالى فراخ فضل والا

حَكِيمًا ﴿١٣٠﴾

حكمتونو والا -

ف١٣٠ :- دا عطف دے په ما قبل باندے يعنى چه اصلاح نشى كيدے نو دويم حال جدائى كول دى په طريقه د طلاق شرعى سره نو اوفرمائيل وَإِن يَتَفَرَّقَا ، اشاره ده چه طلاق وركول د ډيرے مجبورئ په حال كښ پكار دے -

يُغْنِ اللَّهُ كُلًّا مِّن سَعَتِهِ ، نو په وخت د طلاق كښ دواړه په الله تعالى باندے حسن ظن اوكړئ چه الله تعالى به دغه خاوند ته بله د خوښے ښځه وركړى او دغه ښځے له به د خوښے خاوند وركړى يا به په بله طريقے سره د دوى مدد اوكړى-

وَكَانَ اللَّهُ وَاسِعًا حَكِيمًا ، وَاسِعًا ، مطلق ذكر دے يعنى واسع الفضل ، واسع الرزق ، واسع النعمة ، واسع الرحمة ، واسع القدرة ، واسع العلم- واسع په ټولو كمالاتو كښ او حَكِيمًا كښ اشاره ده چه وسعت په مناسبت د حكمت سره كوى چه په هغه باندے اعتراض نشى كيدے-

وَلِلّٰهِ مَا فِى السَّمٰوٰتِ وَمَا

او خاص د الله تعالیٰ په اختیار کښې دي هغه څه چه په آسمانونو کښې دي او هغه څه چه

فِى الْاَرْضِ ؕ وَلَقَدْ وَصَّيْنَا

په زمکه کښې دي او یقینًا پوخ حکم ورکړے مونږ

الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ مِنْ

هغه کسانو ته چه ورکړے شوے و ورته کتاب

قَبْلِكُمْ وَاِيَّاكُمْ اَنِ اتَّقُوا اللّٰهَ ؕ

مخکښې ستاسو نه او تاسو ته چه یره کوئ د الله تعالیٰ نه

وَاِنْ تَكْفُرُوْا فَاِنَّ لِلّٰهِ مَا

او که کفر اوکړو تاسو نو یقینًا د الله تعالیٰ اختیار کښې دي هغه څه چه

فِى السَّمٰوٰتِ وَمَا فِى الْاَرْضِ ؕ

په آسمانونو کښې دي او هغه څه چه په زمکه کښې دي ،

وَكَانَ اللّٰهُ غَنِيًّا حَمِيْدًا ﴿۱۳۱﴾

او دے الله تعالیٰ بے حاجته ستائیلے شوے ـ

وَلِلّٰهِ مَا فِى السَّمٰوٰتِ وَمَا

او خاص د الله تعالیٰ په اختیار کښې دي هغه څه چه په آسمانونو کښې دي او هغه څه چه

فِى الْاَرْضِ ؕ وَكَفٰى بِاللّٰهِ وَكِيْلًا ﴿۱۳۲﴾

په زمکه کښې دي او پوره دے الله تعالیٰ کارجوړونکے ـ

۱۳۱ ، ۱۳۲ :۔ ربط :۔ د مخکښې سره ربط په څو وجوهو سره دے ـ

اوله وجه دا ده چه مخکښې آیت کښې يُغْنِ اللّٰهُ كُلًّا مِّنْ سَعَتِهٖ او صفت د واسع ئې ذکر کړے دے نو په دے آیاتونو کښې

دَ هغې دليل ذکر کوي چه وَلِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ آه دے يعنی دَ هرڅه ملک او مُلک دَ هغه دے نو يقيناً واسع علم او قدرت او فضل والا دے۔

دويمه وجه دا ده چه تير شوي احکام چه په باره دَ عدل دَ زنانو او يتاميٰ کښې ذکر شول نو دَ دے وجه دا نه ده چه الله تعالیٰ کمزورے او محتاج دے بلکه دَ هغه خو پوره قدرت او علم ثابت دے ليکن دا احکام دَ مصلحتونو او دَ حاجاتو دَ انسانانو دَ وجے نه دي۔

دريمه وجه دا ده چه دَ تير شوے احکامو دَ عمل کولو دَ پاره دَ تقویٰ ضرورت دے نو دَ دے وجے نه دلته وصيت په تقویٰ سره ذکر کوي۔

وَلِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ، لام دَ پاره مِلک او مُلک او عبديت دے او په ذکر دَ آسمانونو او زمکو سره وسط (مينځ) داخل دي۔ او دا جمله بناء په اول دوه وجو دَ ربط سره متعلق ده دَ ماقبل سره او په دريمه وجے سره تعلق لري دَ روستو جملے سره۔

وَلَقَدْ وَصَّيْنَا الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ ، وصيت دَ الله تعالیٰ پوخ امر دَ هغه دے چه نسخ پکښې نه راځي۔ اُوْتُوا الْكِتٰبَ ، نه مراد يهود او نصاریٰ او ټول امتونه چه تير شويدي چه دَ هغوي سره صحيفے دَ الله تعالیٰ وي يا دَ مخکښې رسول کتاب ورسره پاتے شوے وو او الْكِتٰبَ ، نه مراد جنس کتابونه دَ الله تعالیٰ دي (ابو حيان)۔

مِنْ قَبْلِكُمْ ، دا لفظ دليل دے چه دَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ په وخت دَ اطلاق کښې قرآن والو ته شامل دے دَ دے وجے نه دا قيد ئے ذکر کړلو۔

وَاِيَّاكُمْ ، دا عطف دے په الذين (موصول) باندے او داسے عطف په فصيح کلام کښې جائز دے او هر کله چه اوتوا الکتاب (يهود او نصاریٰ وغيره) په زمانه کښې مخکښې وو دَ دے وجے نه ئے هغوي مقدم ذکر کړل۔

آنِ اتَّقُوا اللّٰهَ ، باء په دیکښ پټه ده یعنی بان اتقوا الله یا ان تفسیریه دے او په دیکښ اشاره ده چه تقوی دین د ټولو انبیاء علیهم السلام کښ مامور به ده او تقوای نه مراد د کفر او شرک او ټولو ګناهونو نه ځان بچ کول او په ټولو ماموراتو باندے راتلل کولو ته شامل ده۔

وَاِنْ تَكْفُرُوْا ، دا عطف دے په وصینا باندے په تقدیر د قلنا سره او خطاب موجوده او تیر شوے ټولو ته دے په طریقه د تغلیب سره۔ او مراد د کفر نه انکار کول دی د وصیت او د امر د تقوای نه۔ او جزا د دے شرط پټه ده یعنی فَلَا يَضُرُّهٗ كُفْرُكُمْ (هیڅ ضرر نه ورکوی الله تعالیٰ ته کفر ستاسو) او

فَاِنَّ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ، دا علت دے د پټے جزا د پاره او دا دلالت کوی په استغناء د الله تعالیٰ باندے د ټول مخلوق نه۔

وَكَانَ اللّٰهُ غَنِيًّا حَمِيْدًا ، او دا جمله تاکید د ما قبل جملے دے غَنِيًّا ، د الله تعالیٰ صفت د غنا په معنیٰ د عدم حاجت او عدم پرواه ده یعنی د مخلوق عبادت کولو ته الله تعالیٰ محتاج نه دے او ترک د عبادت د دوی الله تعالیٰ ته هیڅ نقصان نشی ورکولے او حمید ، دے د وجے د بے شماره نعمتونو نه یعنی سره د دے چه مخلوق ته ئے حاجت نشته لیکن د حمد ونو مستحق دے او د انسانانو اغنیاؤ اکثر خلق ستائنه نه کوی د هغوی د بد اخلاقیٔ د وجے نه۔

وَلِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ، دا هم تعلق لری د ما قبل سره او دا رنګ د روستو د پاره هم تمهید دے او هر کله چه ملکیت د ټول عالم د الله تعالیٰ د پاره ثابت دے نو معلومه شوه چه هغه انتظام کوونکے د ټول عالم د پاره کافی دے نو وروستو ئے او فرمائیل وَكَفٰى بِاللّٰهِ وَكِيْلًا ، مراد د وَكِيْل نه په صفت د الله تعالیٰ کښ انتظام کوونکے د ټولو موجوداتو دے

او په هغې کښې هيڅ نائب مشير وزير ته حاجت نه لري دا معنیٰ د کفایت ده۔
فائده:- په دے آیاتونو کښې جمله د لِلّٰہِ مَا فِی السَّمٰوٰتِ وَمَا فِی الْاَرْضِ درے کرته ذکر کړے ده د دے ډیر وجوه دی۔ اوله وجه، ابن عطیه ذکر کړیده چه په اول کرت راوړلو د دے جمله کښې تنبیه ده په ځائے د امیں ساتلو چه په وخت د تفرق کښې فائده ورکوی چه هغه الله تعالیٰ دے او په دویم کرت کښې تنبیه ده په استغناء د الله تعالیٰ د بندګانو نه او په دریم کرت کښې مقدمه ده (تمهید) دے دپاره د وعید (عذاب) او راغب وئیلی دی چه په اول ځل کښې تسلی د قوت شوی ځیز- او په دویم کښې اشاره ده چه وصیت د الله تعالیٰ د وجے د رحمت د هغه نه دے او په دریم کښې دلیل دے چه الله تعالیٰ غنی دے- او رازی وئیلی دی چه په اول کښې تاکید دے د وسعت جود د الله تعالیٰ او په دویم کښې استغناء ښکاره کول دی د طاعت د مطیعینو نه- او په دریم کښې بیان د قدرت د هغه دے په فنا کولو او موجودولو باندے- او مکی وئیلی دی چه په اول کرت کښې تنبیه راکوی مونږ ته په ملک او وسعت د هغه او په دویم کښې تنبیه ده چه مونږ هغه ته محتاج یو او هغه غنی دے او په دریم کښې تنبیه ده چه الله تعالیٰ زمونږ حفاظت کوی او عالم دے په تدبیر زمونږ باندے (ابوحیان)- او یله وجه دا ده چه اول کرت کښې دا علت دے دپاره د امر د تقوی او په دویم کرت کښې دلیل دے دپاره د غنا د الله تعالیٰ او په دریم کښې علت دے دپاره د کفایت او وکالت د الله تعالیٰ دپاره د ټولو بندګانو- او یله وجه دا ده چه په اول کرت کښې وسعت مِلکیت د الله تعالیٰ ته اشاره ده او په دویم کښې مُلک کلی د هغه ته اشاره ده چه دلیل دے د استغناء د هغه او په دریم کښې تدبیر او انتظام د کل مخلوق ته اشاره ده چه د هغے دپاره الله تعالیٰ کافی دے او په ټولو وجوهو کښې رد دے په شرک فی التصرف باندے۔

إِن يَشَأْ يُذْهِبْكُمْ أَيُّهَا النَّاسُ

کہ اوغواړی الله تعالیٰ فنا به کړی تاسو اے خلقو!

وَيَأْتِ بِآخَرِينَ ۚ وَكَانَ اللَّهُ

او راپه ولی نور خلق ، او دے الله تعالیٰ

عَلَىٰ ذَٰلِكَ قَدِيرًا ﴿١٣٣﴾

په دے باندے قدرت والا ۔

۱۳۳: په دے آیت کښں تخویف دنیوی دے په شرط دَ نافرمانئ کولو دَ وصیت دَ تقوی نه او خطاب عام دے اهل کتابو او دے امت ټولو ته ۔ او قرطبی وئیلی دی چه دا آیت پښتان دَ سورهٔ محمد ۳۸ دے تخویف او تنبیه ده والیانو او امیرانو بادشاهانو ته چه عدل دَ رعیت سره نه کوی یا عالم چه په علم باندے عمل نه کوی او خلقو ته دعوت دَ حق نه کوی ۔

إِن يَشَأْ يُذْهِبْكُمْ ، حرف عطف ئے نه دے ذکر کړے اشاره ده چه مخکښں آیاتونو کښں چه عموم تصرف او ملکیت دَ الله تعالیٰ ذکر کړو نو دا اذهاب او اتیان دَ هغے دَ لاندے داخل دی ۔ يُذْهِبْكُمْ ، دا لفظ هلاکول په عذاب سره او صرف فنا کولو او غلبه او تسلط زائل کولو ته شامل دے ۔

تو أَيُّهَا النَّاسُ ، کښں کافران ، مشرکان او گنهګار مؤمنان ټول داخل دی دَ هر یو اذهاب دَ هغوی مناسب دے دَ دے وجے نه اهلاک ئے نه دے ذکر کړے ځکه هغه اکثر په عذاب کښں او کله په فنا کښں ذکر کیږی ۔

وَيَأْتِ بِآخَرِينَ ، ابوحیان وئیلی دی چه غیر کم ئے نه دی وئیلی ځکه دَ آخَرِينَ نه مراد هغه خوک دی چه دَ نوعے دَ انسانانو نه وی او غیر کم غیر انسانانو ته هم شامل دے او غیر انسانان دلته مراد نه دی ۔

وَكَانَ اللَّهُ عَلَىٰ ذَٰلِكَ قَدِيرًا ، ذَٰلِكَ اشاره ده اذهاب او اتیان

مَنْ كَانَ يُرِيْدُ ثَوَابَ الدُّنْيَا

خوک چه طلب کوی (په عمل خپل سره) بدله دَ دنیا

فَعِنْدَ اللّٰهِ ثَوَابُ الدُّنْيَا

نو دَ الله تعالیٰ سره بدله دَ دنیا

وَالْاٰخِرَةِ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ سَمِيْعًاۢ

او آخرت دواړه ده (نو دواړه دِ طلب کړی) او دے الله تعالیٰ آوریدونکے

١٩ ع٨ ١٦ بَصِيْرًا ﴿١٣٤﴾ ع

لیدونکے دَ هر څه۔

ته او په دے جمله کښ تاکید دے دَ ماقبل تخویف دَ پاره۔
سـ١٣٤ :۔ روستو دَ تخویف دنیوی نه ترغیب دے آخرت ته۔

مَنْ كَانَ يُرِيْدُ ثَوَابَ الدُّنْيَا فَعِنْدَ اللّٰهِ ثَوَابُ الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ ، ابن عطیه وئیلی دی چه معنیٰ دا ده چه څوک چه عقیده لری صرف دَ بدلے دَ دنیا او دَ دینه علاوه بل څه دَ ده په گمان کښ نه دی نو داسے شخص ته ښکاره کوی چه دا گمان دَ ده غلط دے بلکه دَ الله تعالیٰ سره ثواب دَ دنیا او آخرت شته دے بناء په دے قول جزاء دَ مَنْ پټه ده (فَلَيْسَ كَمَا ظَنَّ)۔ او قرطبی وئیلی دی چه معنیٰ دا ده څوک چه عمل کول دَ پاره دَ طلب دَ دنیا یا دَ ریا دَ پاره نو ده لره په آخرت کښ هیڅ حصّه دَ ثواب نشته لکه په سوره هود سـ١٦۔ بلکه اراده دِ اوکړی دَ ثواب دَ دنیا او آخرت یا صرف آخرت نو ثواب دَ دنیا او آخرت به دواړه ورته ملاؤ شی بناء په دے قول تقدیر عبارت دا دے (مَنْ كَانَ يُرِيْدُ ثَوَابَ الدُّنْيَا فَلَيْسَ لَهٗ فِى الْاٰخِرَةِ ثَوَابٌ فَلْيُرِدْ بِعَمَلِهٖ ثَوَابَ الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ فَعِنْدَ اللّٰهِ ثَوَابُ الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ)۔ او دَ ما ترید ی نه ابوحیان نقل کړی دی چه معنیٰ دا ده چه څوک طلب کوی په عبادت دَ اصنامو

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا كُوْنُوْا

اے ایمان والو ! شئ

قَوّٰمِيْنَ بِالْقِسْطِ شُهَدَآءَ لِلّٰهِ

کلک پہ انصاف حق بیان کوونکی د پاره د الله تعالیٰ

وَلَوْ عَلٰٓى اَنْفُسِكُمْ اَوِ الْوَالِدَيْنِ

اگر چه نقصان وی په تاسو باندے یا په مور او پلار باندے

وَالْاَقْرَبِيْنَ ۚ اِنْ يَّكُنْ غَنِيًّا

یا په خپلوانو ستاسو باندے که وی هغه غنی

اَوْ فَقِيْرًا فَاللّٰهُ اَوْلٰى بِهِمَا قف

یا فقیر نو الله تعالیٰ زیات مهربان دے په دے دواړو باندے

سره عزت لره نو دا ورته نشی حاصلیدے ځکه چه عزت د دنیا او آخرت د الله تعالیٰ په اختیار کښ دے بله معنیٰ دا ده چه څوک طلب کوی په عبادت د غیر الله سره تقرب او شفاعت نو دا نشی کیدے لیکن چه ښه کی د الله تعالیٰ کوی نو ثواب د دنیا او آخرت په هغے سره ملاویږی - ابوحیان وئیلی دی چه د دے جزاء پټه ده (فَلَا يَقْتَصِرُ عَلَيْهِ وَلْيَطْلُبِ الثَّوَابَيْنَ) - نو کوتاهی دِ نه کوی صرف په دنیا باندے بلکه دواړه ثوابونه د طلب کړی - راغب وئیلی دی چه په دیکښ اشاره ده چه څوک خسیس څیز طلب کوی او حال دا چه د نفیس د طلب امکان وی نو دا سے شخص سپک همت والا دے -

وَكَانَ اللّٰهُ سَمِيْعًا بَصِيْرًا ، هر کله چه د اراده کولو نه روستو ژبه او نور اندامونه ضرور استعمالیږی د دے وجے نه ذکر کړو چه سَمِيْع (د اقوالو) او بَصِيْر (د افعالو) دے -

فَلَا تَتَّبِعُوا الْهَوٰٓى اَنْ تَعْدِلُوْا ۚ

نو تابعداري مه کوئ د خواهش چه او به نه کړئ انصاف

وَاِنْ تَلْوٗٓا اَوْ تُعْرِضُوْا فَاِنَّ اللّٰهَ

او که ژبه اړوئ یا مخ اړوئ (د حق بیان نه) نو یقینًا الله تعالی

كَانَ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرًا ﴿١٣٥﴾

دے ستاسو په عملونو باندے خبردار۔

۱۳۵: ربط ۱ :- هرکله چه په دے سورت کښ احکام شرعیه انتظامیه ذکر کړے شول نو وهم پیدا کیدلو چه په دے احکامو کښ د والدینو او خپلوان یا د فقیر یا د غني طرف داري او د هغه سره مصالحه به جائز وي نو په دے آیت کښ د هغے جواب اوشو چه په حق حکم کښ د هیچا رعایت جائز نه دے۔

ربط ۲ :- هرکله چه مخکښ آیت کښ ترغیب ذکر کړو د پاره د ثواب د دنیا او آخرت نو په دے آیت کښ د هغے د حصول طریقه ذکر کوي چه هغه قیام بالقسط او شهادت لِلّٰه او اجتناب دے د اتباع د هوی نه۔

یٰٓاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا ، دا روستو ذکر کړے شوے حکم د ایمان تقاضا ده د دے وجے نه دا خطاب ئے ذکر کړو۔

کُوْنُوْا قَوّٰمِیْنَ بِالْقِسْطِ ، قوام ، صیغه د مبالغے ده د قیام نه او په دے صیغه راوړلو کښ اشاره ده چه په یو حکم یا دوه حکمونو کښ قیام بالقسط فائده نه کوي څو پورے چه بار بار او ټولو احکامو کښ قیام بالقسط ئے کړے نه وي۔ قِسْطِ ، انصاف او عدل دے په حقوق الله او په حقوق العباد ټولو کښ او د قیام په صله کښ چه باء ذکر شي لو اهتمام او اصرار (پخیدل) مراد دی۔

شُهَدَآءَ لِلّٰهِ ، لِلّٰهِ معنیٰ ده د الله تعالیٰ د رضا د پاره چه په هغے کښ هیڅ دنیوي غرض نه وي۔ او شهادت ګواهي کول یا بیان کول د حق ته یا اقرار کولو ته شامل دے۔ شهداء دا دویم

خبر دے دَ کونوا دَپارہ یا صفت دے دَپارہ دَ قوامین یا حال دے دَ پټ ضمیر دَ قوامین نه -او ابن عطیه وئیلی دی چه شهداء لله نه مراد شهادت دے په توحید سره یعنی هغے ته هم شامل دے.
فائده :- قیام بالقسط سبب دے دَپارہ دَ شهادت دَ حق او سبب مقدم وی په مسبب باندے دارنګ قیام بالقسط عام دے قول او فعل دواړو ته او شهادت خاص دے په قول پورے او عام مخکښ وی دَ خاص نه په اکثرو اوقاتو کښ۔

وَلَوْ عَلٰٓى اَنْفُسِكُمْ، په حرف لَوْ کښ دوه وجے دی - اول دا شرطیه دے او جزاء ئے حذف ده یعنی او که چرے تاسو شهادت کوئ په ځانونو خپلو باندے نو واجب دے په تاسو دغه شهادت.
دویم لَوْ وصلیه دے معنیٰ دا چه اګرچه وی شهادت ستاسو په نفسونو باندے شهادت په خپل نفس باندے په دوه طریقو سره دے اول دا چه اقرار دَ حق دَ بل چا په خپل ځان باندے دویم دا معنیٰ اګرچه دغه بیان دَ حق ضرروی ستاسو په نفسونو باندے یعنی په خپل ځان باندے شهادت کول دی چه ما دا فلانے جرم کړیدے (اللباب)

اَوِ الْوَالِدَیْنِ وَالْاَقْرَبِیْنَ، یعنی اګرچه په شهادت دَ حق کښ والدینو ته او اقرباء ته ضرر او نقصان وی لیکن شهادت کول واجب دی او بل قسم شهادت دے دَپارہ دَ والدینو او اقربائو نو هغه په شرع کښ صحیح نه دے ځکه چه مقام دَ تهمت دے.

اِنْ یَّكُنْ غَنِیًّا اَوْ فَقِیْرًا، یکن ضمیر راجع دے مشهود علیه ته یعنی که چاته په ضرر ورکولو کښ چه شهادت ورکیدیشی غنی وی نو دَ هغه نه ویره کیدیشی یا ترینه څه امید کیدیشی یا فقیر وی نو په هغه باندے رحم او ترس کیدیشی لیکن بیا هم دَ هغوی رعایت کول په شهادت حقه کښ جائز نه دی۔

فَاللّٰهُ اَوْلٰى بِهِمَا، بِهِمَا، ضمیر جنس غنی او فقیر ته راجع دے او دلته معنیٰ دَ اولی دا ده چه الله تعالی چه قانون شهادت

مقرر کړیږي نو په دیکښې د غني او فقیر دواړو رعایت او مصلحت موجود دے نو یو بنده له اجازت نشته چه د هغه مصلحت خلاف د ځان د طرف نه د هغه رعایت اوکړي۔

فَلَا تَتَّبِعُوا الْهَوٰىٓ اَنْ تَعْدِلُوْا، هر کله چه امر ئې اوکړو په قیام بالقسط او شهادت لِلّٰه نو اوس نهي کوي د مانع د هغې نه چه اتباع هوی ده او هوی هغه څيز دے چه نفس هغې ته میلان کوي او شرعاً جائز نه وي۔ اَنْ تَعْدِلُوْا، په دیکښې دوه احتماله دي اول دا چه دا د عدول نه اخستلے شوے دے په معنیٰ د حق نه اوړیدل یعنې ظلم او جور کول۔ دویم دا چه د عدل (انصاف) نه ماخوذ دے او دا په ځائے د مفعول له دے د لا تتبعوا د پاره نو په دے معنیٰ کښې څلور وجوه دي۔

اوله وجه دا چه تابعداري د خواهش مه کوئ د وجے د اوړیدلو د حق نه په دے معنیٰ کښې تقدیر ته حاجت نشته۔

دویمه وجه تابعداري د خواهش مه کوئ (کراهة ان تعدلوا) د وجے د بد ګڼړلو د عدل نه۔

دریمه وجه چه تابعداري د خواهش مه کوئ (منع کووم تاسو لره) د وجے د بد ګڼړلو زما عدول د حق نه۔ په دے توجیه کښې هم کراهیه لفظ پټ دے۔

څلورمه وجه منع کووم تاسو لره د اتباع د هوی د وجے د عدل زما نه۔

او ابو البقاء پنځمه وجه ذکر کړیده په تقدیر د فی او لا سره یعنې تابعداري د خواهش مه کوئ په عدل نه کولو کښې د دے نه علاوه نور وجوه هم شته دے لیکن هغه ضعیفې دي۔

وَاِنْ تَلْوٗٓا اَوْ تُعْرِضُوْا، دا هم تاکید دے د قیام بالقسط او شهادت لِلّٰه او نهي د اتباع هوی نه او زجر دے د پټولو د قسط او شهادت حقه نه په دوه طریقو سره۔

اوله طریقه تلوٓا د لَیُّ الّلسان (ژبه اړول) نه اخستلے شوے

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْۤا اٰمِنُوْا بِاللّٰهِ

اے ایمان والو (په زړه) یقین اوکړئ (په زړه کښې) په الله تعالیٰ

وَرَسُوْلِهٖ وَالْكِتٰبِ الَّذِيْ نَزَّلَ

او په رسول د هغه او په کتاب د هغه چه نازل کړیدے

عَلٰى رَسُوْلِهٖ وَالْكِتٰبِ الَّذِيْۤ

په رسول باندے او په هغه کتاب

اَنْزَلَ مِنْ قَبْلُ ؕ وَمَنْ يَّكْفُرْ

چه نازل کړیدے د دینه مخکښ ، او چاچه کفر اوکړو

بِاللّٰهِ وَمَلٰٓئِكَتِهٖ وَكُتُبِهٖ وَرُسُلِهٖ

په الله تعالیٰ او په ملائکو د هغه او په کتابونو د هغه او په رسولانو د هغه

وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ فَقَدْ ضَلَّ

او په ورځ روستنئ نو یقیناً ګمراه شو

یعنی د شهادت بالحق نه ژبه واړوے یعنی داسے الفاظ اووائی چه مخاطب په هغے باندے پوهه نشی چه ده حق پټ کړو او مطلب ئے پټول د حق وی.

او دریم طریقه تعرضوا یعنی ښکاره څرګول د ادا د شهادت حقه نه په مختلف بهانو او عذرونو سره. او بعضے مفسرینو وئیلی دی چه تلووا دلی العنق (سټ اړول) نه ماخوذ دے او خطاب حاکم ته دے یعنی روستو د شهادت نه حاکم د حق فیصلے نه سټ واړوی یا اعراض اوکړی (ابوحیان).

فَاِنَّ اللّٰهَ كَانَ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرًا ، په دے جمله کښ تخویف دے په لی اللسان او په اعراض کولو د حق شهادت نه.

ضَلٰلًاۢ بَعِيۡدًا ﴿۱۳۶﴾

په ګمراهئ لرې سره ـ

۱۳۶ :- خلاصه :- دَ دې آیت نه دریمه حصه دَ سورت شروع کیږي دَ سورت دَ اختتام پورې په دیکښې زجرونه دي په هغه چا باندې چه په تیرشوې نظام کښې فساد اوخلل پیدا کوي چه هغه منافقان او یهود او نصارٰی دي او په دې حصه کښې درې بابونه دي.
اول باب تر ۱۴۹ پورې دې په دې باب کښې زجرونه دي په منافقانو باندې. نو اول پکښې دعوت دې استقامت ته په اصولو دَ ایمان باندې په خلاف دَ منافقانو باندې ۱۳۶ کښې بیا زجرونه دي منافقانو ته په ذکر دَ دیارلس قباحتونو دَ هغوی سره ـ په ۱۳۷ آیت کښې یو قباحت، په ۱۳۸ آیت کښې دویم قباحت او په ۱۳۹ آیت کښې دوه قباحتونه. او په ۱۴۰ آیت کښې زجر وکوي په شرکت دَ مجلس دَ کافرانو او مبتدعینو کښې په تاکید سره او په ۱۴۱ کښې درې قباحتونه دي او تخویف اخروي او په ۱۴۲ آیت کښې څلور قباحتونه او په ۱۴۳ آیت کښې دوه قباحتونه ذکر کوي. بیا په ۱۴۴ آیت کښې منع دَ مؤمنانو دَ دوستانې دَ کافرانو او منافقانو نه. بیا تخویف اخروي په ۱۴۵ او وروسته ترغیب ورکول توبې ته په ذکر دَ څلورو شرطونو سره په آیت ۱۴۶، ۱۴۷ کښې. بیا جواب دَ یو وهم په ۱۴۸، ۱۴۹ کښې.
ربط :- هر کله چه امر اوشو په قیام بالقسط سره نو په دې آیت کښې سبب دَ هغې ذکر کوي یعنې قیام بالقسط موقوف دې په صحیح ایمان باندې چه په دې آیت کښې ذکر دې.

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡۤا اٰمِنُوۡا ، په دې خطاب کښې اقوال دي اول قول چه دَ حسن بصري نه روایت دې چه دا خطاب دې تولو مسلمانانو ته او مقصد پکښې دوام او استقامت دې په ایمان باندې یا زیادت دَ یقین دې.
دویم قول دَ زجاج دې چه دا خطاب دې منافقانو ته

او مراد دَ اٰمنوا نه اخلاص دَ ایمان دے۔
دریم قول چه دا خطاب دے اهل کتابو ته په روایت دَ ابن عباس رضی الله عنهما سره او نور اقوال هم شته دے آلوسی او صاحب اللباب ذکر کړیدی۔
بِاللّٰهِ، په ایمان بالله کښ دَ هغه توحید او اسماء او صفات او احکام دَ هغه داخل دی۔
وَرَسُوْلِهٖ، دا اضافت عهدی دے مراد دَ دے نه آخری رسول محمد صلی الله علیه وسلم دے۔
وَالْكِتٰبِ الَّذِيْ نَزَّلَ عَلٰى رَسُوْلِهٖ، مراد دَ دیته قرآن کریم دے۔ او الَّذِيْ نَزَّلَ کښ اشاره ده چه په ایمان بالقرآن کښ شرط دا دے چه په صفت دَ منزل علی الرسول سره به ایمان راوړلے کیږی۔
وَالْكِتٰبِ الَّذِيْٓ اَنْزَلَ مِنْ قَبْلُ، مراد دَ الکتاب نه جنس کتاب دے یعنی تورات انجیل زبور ټولو ته شامل دے۔ او زمخشری وجه دَ فرق دَ تنزل او انزال ذکر کړیده چه قرآن کریم لږ لږ نازل کړے شوے دے په دیرویشت کلونو کښ او نزل باب تفعیل هم په لږ لږ نازلیدلو باندے دلالت کوی او مخکنی کتابونه هر یو په یو کرت ټول نازل کړے شویدی نو دَ هغے دَ پاره انزل (باب افعال) راوړلو او دا بحث په ابتداء دَ تفسیر دَ سوره بقره کښ ذکر شویدے۔
وَمَنْ يَّكْفُرْ بِاللّٰهِ وَمَلٰٓئِكَتِهٖ وَكُتُبِهٖ وَرُسُلِهٖ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ فَقَدْ ضَلَّ ضَلٰلًاۢ بَعِيْدًا، په دے جملے راوړلو کښ تاکید دَ امر دَ ایمان دے یعنی په ترک دَ ایمان سره کفر او ضلال بعید حاصلیږی۔ آلوسی وئیلی دی چه دَ واو عطف سره دلته دَ مجموع دَ پاره نه دے بلکه دَ هر واحد دَ پاره دے یعنی په دیکښ که په یو یو باندے چا کفر او کړو نو هغه به ګمراه وی او بعض علماؤ وئیلی دی چه مجموع مراد دے ځکه چه ضلال سره بعید وئیلے دے۔ او ضلال بعید دا دے چه ایمان سره هیڅ تعلق پاتے نشی۔

فائده ۱:- په جانب د ایمان کښ ایمان بالله او بالرسول او بالکتاب ذکر کړو او په جانب د کفر کښ پنځه امور ذکر کړل وجه دا ده چه ایمان بالله او رسول او کتب مستلزم دے ایمان لره په ملائکو او په ورځ د آخرت باندے۔ لیکن بعضے وخت یو شخص دعوی د ایمان بالله او بالرسول او بالکتب کوی لیکن ملائک او قیامت نه منی تو دغه دعوی د تردید دپاره په جانب د کفر کښ د ملائکو او ورځ د قیامت ذکر اوکړو۔

فائده ۲:- کتب او رسل ئے جمع ذکر کړل اشاره ده چه کفر په یو کتاب یا په یو رسول باندے کفر دے په ټولو باندے او په جانب د ایمان حقیقی کښ ایمان په آخری رسول او قرآن باندے مستلزم دے ایمان لره په ټولو رسولانو باندے۔

فائده ۳:- او په جانب د ایمان کښ رسول مقدم کړے دے په کتاب او جانب د کفر کښ برعکس دے وجه دا ده چه ایمان په رسول مخکښ دے په ایمان بالقرآن باندے ځکه چه قرآن نازل کړے شوے دے په هغه باندے۔

فائده ۴:- او ملائک ئے مقدم کړی دی په کتب او په رسل باندے ځکه چه هغوی واسطے دی په انزال د وحی کښ په مینځ د الله تعالی او د رسولانو کښ۔

فائده ۵:- آلوسی وئیلی دی چه ایمان په قرآن مقدم ذکر کړے دے په ایمان په نورو کتابونو مخکښو باندے په دیکښ اشاره ده چه مونږ په هغه کتاب (منزل) باندے ایمان راوړو چه قرآن کریم کښ د هغه ذکر موجود وی او د دے تفصیل په تفسیر د سوره بقره ۴ کښ تیر شوے دے۔

إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا ثُمَّ كَفَرُوا

یقیناً هغه کسان چه ایمان ئې راوړو بیا ئې کفر اوکړو

ثُمَّ آمَنُوا ثُمَّ كَفَرُوا ثُمَّ ازْدَادُوا

بیا ئې ایمان راوړو بیا ئې کُفر اوکړو بیا زیات شول

كُفْرًا لَّمْ يَكُنِ اللَّهُ لِيَغْفِرَ لَهُمْ

په کفر (مړه شول په کفر باندې) نو نه دے الله تعالیٰ چه بخنه اوکړي دوی ته

وَلَا لِيَهْدِيَهُمْ سَبِيلًا ﴿۱۳۷﴾

او نه به روانه وي دوی په حقه لاره باندے۔

۱۳۷: هر کله چه امر اوشو په ثبات (ړوخوالی) سره په ایمان باندے نو اوس زجر ورکوی هغه چاته چه ایمان باندے ثابت قدم نه وي۔

إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا ثُمَّ كَفَرُوا ثُمَّ آمَنُوا ثُمَّ كَفَرُوا، مراد په دے سره هغه شخص یا قوم دے چه مکرر واقع شوے وي د هغے نه ارتداد که اعتقادي منافقان وي او که اهل کتاب وي۔ (آلوسی) منافقان په وخت د حصول د نفع دنیوی کښې مؤمنانو ته ایمان ښکاره کوي او بیا د کافرانو په مخکښې کفر ښکاره کوي دا رنګ بعضے کتابیانو دا کار د دے د پاره کوو چه مؤمنانو لره په شک کښې واچوی او مراد د دینه دوه کرته ایمان او کفر نه دے بلکه ډیر تکرار مراد دے دا قول د ابن عباس رضی الله عنهما او حسن بصري او مجاهد، او ابن زید نه نقل دے او د زجاج او فراء نه نقل دے چه چه دا یهود او نصاری دي چه ایمان ئې په موسیٰ علیه السلام باندے لرلو بیا ئې په عیسیٰ علیه السلام کفر اوکړو او بیا ئې په محمد صلی الله علیه وسلم باندے هم کفر اوکړو لیکن ابن عطیه دا قول ضعیف ګرځولے دے۔

ثُمَّ ازْدَادُوا كُفْرًا، مراد د دینه کلک پاتے کیدل دي په کفر

بَشِّرِ الْمُنٰفِقِيْنَ بِاَنَّ لَهُمْ

زیرے ورکړه منافقانو ته چه یقینًا دوی لره

عَذَابًا اَلِيْمًا ﴿۱۳۸﴾

عذاب دے دردناک۔

باندے تر مرګه پورے یعنی د مرګ نه مخکښ توبه د کفر نه او نه کړی (ابوحیان)۔

لَمْ يَكُنِ اللّٰهُ لِيَغْفِرَ لَهُمْ، په دا سے عبارت کښ په نیز د بصریانو خبر د یکن د پاره پټ دے یعنی مریدًا لیغفر لهم او په نیز د کوفیانو لام زیاتی دے د پاره د تاکید۔

سوال:- په یکښ خو نفی د تاکید ده او دا خو ذکر د مقام سره مناسب نه ده؟
جواب:- دا نفی د تاکید په طریقه د تهکم سره ده او دا مستلزم ده تاکید د نفی لره۔ او آیت دلیل دے چه موت علی الکفر سبب دے د عدم مغفرت د پاره لکه په (اِنَّ اللّٰهَ لَا يَغْفِرُ اَنْ يُّشْرَكَ بِهٖ) کښ چه ذکر دے۔

وَلَا لِيَهْدِيَهُمْ سَبِيْلًا، په دے کښ دوه احتمالونه دی۔ اول دا چه روستو د مرګ نه الله تعالی دوی لره د جنت په لارے باندے نه روانوی بلکه جهنم کښ به همیشه وی او دا هدایت وُصُول اِلَی الجنة ته شامل دے۔ دویم احتمال دا دے چه مراد د ازدیاد د کفر نه په ضد او عناد باندے پاخه کیدل دی نو هغوی ته په دنیا کښ توفیق د هدایت نه ورکوی او په دے آیت کښ د منافقانو اول قباحت او تعریف ذکر دے۔

۱۳۸:- دا تخویف اخروی دے روستو د زجر نه۔ بَشِّرِ، دیته یے بشارت په تهکم سره وئیلے دی (زجاج)۔ یا بشارت هر هغه خبر دے چه په هغے سره رنګ د بشرے (د مخ) بدلیږی که د خوشحالئ خبر وی یا د غم نو دے ته هم بشارت وئیلے شوے دے (اللباب)۔ او په دے آیت کښ د منافقانو دویم صفت او نوم ذکر دے۔

اَلَّذِيۡنَ يَتَّخِذُوۡنَ الۡكٰفِرِيۡنَ

دا هغه خلق دي چه نيسي کافرانو لره

اَوۡلِيَآءَ مِنۡ دُوۡنِ الۡمُؤۡمِنِيۡنَ ؕ

دوستان سِوا دَ مؤمنانو نه

اَيَبۡتَغُوۡنَ عِنۡدَهُمُ الۡعِزَّةَ

آيا غواړي دوی دَ هغوی سره عزت،

فَاِنَّ الۡعِزَّةَ لِلّٰهِ جَمِيۡعًا ؕ (۱۳۹)

نو يقيناً اختيار دَ عزت خو خاص الله تعالیٰ لره دے ټول۔

۱۳۹ :- په دے آيت کښ زجر دے منافقانو ته او دَ هغوی دوه صفات قبيحه ذکر کوي۔

اَلَّذِيۡنَ يَتَّخِذُوۡنَ الۡكٰفِرِيۡنَ اَوۡلِيَآءَ مِنۡ دُوۡنِ الۡمُؤۡمِنِيۡنَ، کافران عام دي يهوديان او نصاریٰ او مشرکان ميانو ته شامل دي او تفسير دَ دے په سورة العمران ۲۸ کښ تير شوے دے ابوحيان وائيلي دي چه دا وصف دَ منافقانو سخت ضرر ورکوونکی دی مؤمنانو لره او په يکښ تنبيه ده مؤمنانو ته چه دوی په دے وصف کښ واقع نشي۔

اَيَبۡتَغُوۡنَ عِنۡدَهُمُ الۡعِزَّةَ، په ديکښ بل وصف دَ منافقانو دے او همزه دَ استفهام توبيخي (زورنے) دَ پاره دے۔ عِزَّةَ، په معنیٰ دَ قوت حفاظت او مدد دے او دفع دَ مصيبت ته وائيلے شي لکه په سورة مائده ۵۲ کښ دي۔ او عزت په لغت کښ شدت (سختوالی) ته وئيلے شي۔

فَاِنَّ الۡعِزَّةَ لِلّٰهِ جَمِيۡعًا، يعنی اختيار دَ عزت ورکولو الله تعالیٰ پورے خاص دے او دا سے په سورة فاطر ۱۰ کښ دي۔

سوال :- په سورة منافقون ۸ کښ ذکر کړيدي وَلِلّٰهِ الۡعِزَّةُ

وَقَدْ نَزَّلَ عَلَيْكُمْ فِي الْكِتٰبِ

او یقیناً نازل کړیں دے اللہ تعالیٰ پہ تاسو باندے پہ دے کتاب کښں

اَنْ اِذَا سَمِعْتُمْ اٰيٰتِ اللّٰهِ يُكْفَرُ

دا چہ کلہ واورئ تاسو ایاتونہ دَ اللہ تعالیٰ چہ کفر کیږی

بِهَا وَيُسْتَهْزَاُ بِهَا فَلَا تَقْعُدُوْا

پہ هغے باندے او ټوقے کیږی پہ هغے پورے نو مہ کینئ تاسو

مَعَهُمْ حَتّٰى يَخُوْضُوْا فِيْ حَدِيْثٍ

دَ هغوی سرہ تردے چہ مشغول شی دوی پہ خبرو

غَيْرِهٖٓ ۖ اِنَّكُمْ اِذًا مِّثْلُهُمْ ؕ

نورو کښں یقیناً تاسو پہ دغہ وخت دَ دوی پشان یئ .

اِنَّ اللّٰهَ جَامِعُ الْمُنٰفِقِيْنَ

یقیناً اللہ تعالیٰ جمع کوونکے دے منافقانو

وَالْكٰفِرِيْنَ فِيْ جَهَنَّمَ جَمِيْعًا ﴿۱۴۰﴾

او کافرانو لرہ پہ جهنم کښں یو ځائے .

والرسوله وللمؤمنین) نو دَ دے څہ تطبیق دے؟

جواب :- پہ دغہ آیت کښں اتصاف مراد دے یعنی عزت دَ اللہ تعالیٰ صفت دے او دا رنګ دَ رسول او دَ مؤمنانو صفت دے او دلتہ مراد دا دے چہ اختیار دَ عزت ورکولو خاص دے پہ اللہ تعالیٰ پورے نو ورکوی ئے رسول او مؤمنانو تہ او کافرانو تہ عزت نہ ورکوی نو منافقان دَ هغوی نہ ولے عزت غواړی۔

نمبر ۱۴۰ :- دا هم زجر دے منافقانو تہ هر کلہ چہ مخکښں آیت کښں عدم دَ نفع (حصول دَ عزت) دَ موالات دَ کافرانو ذکر کړو نو اوس دَ هغے مانع ذکر کوی یعنی دَ دوی دوستانہ کښں خو فائدہ نشتہ

اوحال دا چه الله تعالیٰ دَ دوی دَ مجلس دَ شرک نه هم منع کړے ده
نو ولے دَ دوی سره دوستانے کوئ۔
وَقَدۡ نَزَّلَ عَلَیۡکُمۡ، خطاب دے منافقانو ته او هر هغه څوک چه
ایمان بنکاره کوی۔
فِی الۡکِتٰبِ، مراد دَ دے نه قرآن کریم دے او سوره انعام ۶۸ دے
چه په مکه کښ نازل شوے وۀ۔
اَنۡ اِذَا، اَنۡ مخفف دے دَ مثقل نه او ضمیر شان پټ دے یعنی
اَنَّهٗ۔
سَمِعۡتُمۡ اٰیٰتِ اللّٰهِ یُکۡفَرُ بِهَا، داحال دے دَ آیات الله نه یعنی
واورئ تاسو کفر کول په آیاتونو دَ الله تعالیٰ پورے او اٰیَاتِ اللّٰهِ
عام دے که آیاتونه قرآنیه وی او که احکام دَ دین اسلام وی۔
او سَمِعَ عامه ده اوریدل او علم دواړو ته یعنی په بله طریقه
معلومه شی چه په فلانی مجلس کښ په آیات الله باندے کفر
کولے شی۔ او دَ دے وجے نه په سوره انعام کښ وَاِذَا رَأَیۡتَ
وئیلی دی چه لیدلو او علم ته شامل دے۔ وَیُسۡتَهۡزَاُ بِهَا،
سوال:- استهزاء په آیات الله باندے هم کفر دے نو دَ
یُکۡفَرُ نه روستو ولے ذکر کړو؟
جواب:- کفر بنکاره انکار کول دی او استهزاء بنکاره انکار نه دے
لیکن مستلزم دَ انکار دے دا رنګ کفر قولی انکار دے او استهزاء
عملی کفر او انکار دے یا کفر خاص دے په کفر حقیقی پورے۔
او استهزاء عامه ده که په طریقه دَ سپکوالی او توهین سره وی
چه حقیقتًا کفر دے یا په مخالفت عملی سره وی لکه بدعت
او فسق او فجور کول شول۔ او په آیت دَ سوره انعام کښ دَ
دے نه تعبیر کړیدے په (یخوضون فی اٰیاتنا) سره۔
فَلَا تَقۡعُدُوۡا مَعَهُمۡ، دَ دینه مراد په مجلس کښ حصاریدل
دی که ناست وی او که ولاړ وی او داکنایه ده دَ اعراض کولو
نه لکه چه په آیت دَ سوره انعام کښ فاعرض عنهم وئیلی دی۔

حَتّٰى يَخُوضُوا فِي حَدِيثٍ غَيْرِهِ ، خُوضُ په لغت کښ په يو خيز
کښ ننوتل او په او بو کښ ننوتو په کيدل - غَيْرِهِ ، مراد ددينه
غير د کفر او استهزاء ته يعني خبرے د ايمان او د شرع -
يا مباح خبرے چه په هغے کښ دين اسلام ته تعرض په طعن
وغيره سره نه وی - خوض په قرآن کښ په مختلف تعبيراتو
سره دولس کرته ذکر دے او په هر ځائے کښ په عبث خبرو کښ
مستعمل دے او دلته د غيره په قرينه سره مباح او شرعی خبرو ته
شامل دے -

اِنَّكُمْ اِذًا مِّثْلُهُمْ ، دا علت دے د پاره د نهی (لا تقعدوا) اِذًا تنوين
بدل دے د مضاف اليه نه يعني اِذَا قَعَدْتُمْ مَعَهُمْ او مراد د مماثلت
نه مشابهت دے په ګناه کښ ځکه چه سره د قدرت نه په اعراض
او په انکار بانده شرکت کوی په مجلس د ګناه کښ - يا مراد ترينه
مماثلت دے په کفر کښ په دے شرط چه رضا شی د هغوی په کفر
کولو او استهزاء کولو بانده ځکه چه رضا په کفر د غير بانده کفر
دے چه هغه جائز او مستحسن ګنړی -

سوال :- دا خطاب خو منافقانو ته دے او هغوی خو هسے هم کافران دی
که د کافرانو سره مجلس کښ شريک شی او که نه ؟

جواب :- دلته مماثلت ثابت شو په ښکاره کولو د کفر کښ ځکه چه د
دوی کفر عامو خلقو ته معلوم نه وو - قرطبی وئيلی دی چه څوک
په مجلس د ګناه کښ کيني او په هغوی بانده انکار او نه کړی نو
په هغه ګناه کښ دے برابر شريک دے او د ضحاک نه نقل
دے چه داخل دی په دے آيت کښ هر هغه څوک چه احداثات
کوی او بدعت جوړوی په دين کښ تر قيامته پورے - او قرطبی
او آلوسی د عمر بن عبد العزيز روايت ذکر کړے دے چه هغه
روژه دار شخص وهلے وو چه د شرابيانو سره په مجلس کښ
ناست وو او عمر بن عبد العزيز دا آيت په دليل کښ پيش کړے وو.

اِنَّ اللّٰهَ جَامِعُ الْمُنٰفِقِيْنَ وَالْكٰفِرِيْنَ فِيْ جَهَنَّمَ جَمِيْعًا ، دا بيان دے
د مماثلت په شرکت سره په سزا کښ - او مراد د مُنٰفِقِيْنَ نه جنس

اَلَّذِيْنَ يَتَرَبَّصُوْنَ بِكُمْ ۚ فَاِنْ

او دا هغه كسان دي چه انتظار كوي ستاسو په باره كښ تو كه

كَانَ لَكُمْ فَتْحٌ مِّنَ اللّٰهِ

وي ستاسو دپاره برے د الله تعالىٰ د طرف نه

قَالُوْٓا اَلَمْ نَكُنْ مَّعَكُمْ ۖ ز

نو دوي وائي آيا نه وو مونږ ستاسو ملګري ؟

وَاِنْ كَانَ لِلْكٰفِرِيْنَ نَصِيْبٌ ۙ لا

او كه وي كافرانو لره څه برخه

قَالُوْٓا اَلَمْ نَسْتَحْوِذْ عَلَيْكُمْ

وائي دوي او نه شو مونږ زور آور كيدے پناسو باندے (كه د مؤمنانو سره ملګرے وي)

وَنَمْنَعْكُمْ مِّنَ الْمُؤْمِنِيْنَ

او آيا نه يئ بچ كړي مونږ تاسو لره د مؤمنانو نه ،

فَاللّٰهُ يَحْكُمُ بَيْنَكُمْ يَوْمَ

پس الله تعالىٰ به فيصله اوكړي په مينځ ستاسو كښ په ورځ

الْقِيٰمَةِ ؕ وَلَنْ يَّجْعَلَ اللّٰهُ

د قيامت او هيچرے نه ده وركړے الله تعالىٰ

منافقان دي او مخاطبين منافقان په هغوي كښ داخل دي ـ او دا سزا د جنس د عمل ده يعني په دنيا كښ د جمع كيدلو په مجلس كښ د هغے سزا به جمع كيدل وي په قيامت كښ په عذاب كښ ـ

ع ۲۰
۱۷

لِلْكٰفِرِيْنَ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ سَبِيْلًا ﴿۱۴۱﴾ ع

کافرانو لره په مؤمنانو باندے لار (غلبه).

س ۱۴۱:- په دے آیت کښ هم زجر دے منافقانو ته او د هغوی دوه صفات قبیحه ذکر کوی.

الَّذِيْنَ يَتَرَبَّصُوْنَ بِكُمْ، تَرَبُّص، انتظار کولو ته وئیلے شی او مفعول ئے پټ دے (الدوائر) د حادثاتو په باره کښ (د راتلونکی حالاتو)

فَاِنْ كَانَ لَكُمْ فَتْحٌ، فاء، د پاره د تفصیل د حالاتو ده اول حال فتح د مسلمانانو ده.

مِنَ اللّٰهِ، دا قید د پاره د عظمت شان د فتح دے او اشاره ده چه فتح احسان د الله تعالیٰ دے.

قَالُوْٓا اَلَمْ نَكُنْ مَّعَكُمْ، مقصد د دے پټ دے یعنی مونږ له په غنیمت کښ حصه راکړئ (قرطبی، ابوحیان) سبب ذکر دے او مراد ترینه مسبب دے.

وَاِنْ كَانَ لِلْكٰفِرِيْنَ نَصِيْبٌ، دا دویم حال دے - دیته نصیب اُوئیل ځکه چه دا یو تقدیری دنیوی حصه ده د کافرانو د پاره او د دے حصے د ذلت د وجے من الله ورسره او نه وئیل - ځکه چه په حدیث کښ وارد دی چه (اَلْحَرْبُ سِجَالٌ) جنګ خو یوقے دی.

قَالُوْٓا اَلَمْ نَسْتَحْوِذْ عَلَيْكُمْ، دا قول د دوی کافرانو ته خطاب دے په هغوی باندے احسان کوی - استحواذ غلبه او احاطے ته وئیلے شی لکه په سوره مجادله ۱۹ کښ دی یعنی آیا مونږ په تاسو نه شو غالب کیدلے چه تاسو مو قتل کړے وئ یا قید کړے وئ په مکرتیا د مؤمنانو کښ او استفهام تقریری دے او په دیکښ تقدیر د عبارت دے (وَ اَبْقَيْنَا عَلَيْكُمْ) مونږ په تاسو باندے ترس او رحم اوکړو.

نو وَ نَمْنَعْكُمْ مِّنَ الْمُؤْمِنِيْنَ، مراد د مَنْع نه بچ کول دی

دَ غلبې دَ مؤمنانو نه يعنې موږ. پېچ کړئ تاسو دَ غالب کيدلو دَ مؤمنانو نه په تاسو په دے وجه چه موږ دَ هغوی ملګرتيا پريخودله ستاسو په مقابله کښ او په ديکښ هم مقصد دَ دوی طلب دَ برخې دَ مال دے دَ هغوی نه په ذکر دَ سبب سره او مراد ترينه مسبب دے- او په ديکښ بل قول دا دے چه منع کړے وے موږ تاسو دَ اتباع دَ مؤمنانو نه او دَ قبوليت دَ دين دَ هغوی نه دا خو زموږ احسان دے په تاسو باندے-

فَاللّٰهُ يَحْكُمُ بَيْنَكُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ، يعنې دنيا کښ عصمت دَ وينو او مالونو تاسو ټولو (مؤمنانو او منافقانو) ته شامل دے ليکن فيصله به ستاسو جدا جدا په قيامت کښ کيږي- بَيْنَكُمْ، خطاب دے ټولو مؤمنانو او منافقانو او کافرانو ته يا بل جانب پټ دے يعنې بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُمْ-

وَلَنْ يَّجْعَلَ اللّٰهُ لِلْكٰفِرِيْنَ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ سَبِيْلًا ، په دے کښ دوه اقوال دی دَ مفسرينو اول چه دَ علی او ابن عباس رضی الله عنهما نه روايت دے چه دا حکم په آخرت کښ دے په قرينه دَ مخکښ جملے سره او په دے وجه چه په دنيا کښ کله کافران غالب شی په مؤمنانو باندے په دليل دَ وَاِنْ كَانَ لِلْكٰفِرِيْنَ نَصِيْبٌ سره او دا قول ابن عطيه ټولو مفسرينو ته نسبت کړے دے اګرچه صحيح نه دے- دويم قول دَ سدی وغيره نه نقل دے چه دا په دنيا کښ دے او مراد دَ سبيل نه دا سے غلبه ده چه په هغے سره دولت دَ مسلمانانو او آثارو دَ هغوی بالکل ختم شی ځکه چه په حديث دَ مسلم کښ راغلی دی چه رسول الله صلی الله عليه وسلم دَ الله تعالی نه دعا او کړه دَ امت په باره کښ چه يا الله په دوی باندے عام قحط مه راولے چه ټول هلاک شی (نو دا دُعا قبوله شوه) او يا الله په دوی باندے دشمن دَ بهر دَ دوی نه دا سے مه غالب کوئ چه دَ دوی ميدان بالکل ټول مباح او ختم کړی (نو دا دعا قبوله شوه)-

إِنَّ الْمُنٰفِقِيْنَ يُخٰدِعُوْنَ اللّٰهَ

یقیناً منافقان دهوکه کوی د الله تعالی سره

وَهُوَ خَادِعُهُمْ ۚ وَإِذَا قَامُوْٓا

او هغه دهوکے ورکوی دوی لره او کله چه اودریږی

إِلَى الصَّلٰوةِ قَامُوْا كُسَالٰى ۙ

مانځه ته نو اودریږی ناراست

يُرَآءُوْنَ النَّاسَ وَلَا يَذْكُرُوْنَ

خودنه کوی خلقو ته او نه یادوی دوی

اللّٰهَ إِلَّا قَلِيْلًا ﴿١٤٢﴾

الله تعالی لره مگر لږ۔

دریم قول ابن عربی غوره کړیدے چه دا کلام مقید دے په یو قید سره یعنی لَنْ يَّجْعَلَ اللّٰهُ لِلْكٰفِرِيْنَ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ سَبِيْلًا (مته) د طرف خپل نه مگر چه دوی په باطل باندے یو بل ته وصیت کوی او د منکراتو نه منع نه کوی او توبه نه کوی نو دشمن به په دوی باندے د دوی د عملونو د وجے نه غالب او مسلط شی۔

څلورم قول چه سبیل نه مراد حجت شرعیه او عقلیه دے یعنی په دلیل او حجت کښ باطل په حق باندے نشی غالب کیدلے۔ او علماؤ د دے آیت نه استدلال کړے دے چه ولایت د کافر په مسلمان باندے نه صحیح کیږی۔ ولی او متولی او مالک نشی کیدے او شهادت د کافرانو په مسلمان باندے نه صحیح کیږی۔

۱۴۲: په دے کښ هم زجر دے منافقانو ته او د هغوی صفاتِ قبیحه ذکر کوی۔

إِنَّ الْمُنٰفِقِيْنَ يُخٰدِعُوْنَ اللّٰهَ ، تفسير دَ خداع په سوره بقره کښې
تیر شوے دے او مخادعه دَ الله تعالیٰ سره دَ دوی په گمان کښې ده
یا ترینه مخادعه دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم سره مراد ده۔
او دَ مؤمنانو ذکر ئے دلته او نکړو ځکه دَ هغوی سره معامله دَ
دهوکے په مخکښې آیت کښې ذکر شوه۔

وَهُوَ خَادِعُهُمْ ، دا په ظاهری معنیٰ باندے حمل دے لیکن صفت
دَ الله تعالیٰ مشابه نه دے دَ صفت دَ مخلوق سره او دا په دنیا
کښې داسے ده چه دَ دوی دَ وینو او مالونو عصمت ئے په دنیا کښې
کړیدے دَ وجے دَ ظاهری ایمان نه او په آخرت کښې به ورله
عذاب دَ کافرانو پشان ورکوی۔ او دا رنګ په آخرت کښې به
ورله یو ساعت نور ورکړی نو بیا ئے ترینه مړ کړی۔

وَإِذَا قَامُوْٓا إِلَى الصَّلٰوةِ قَامُوْا كُسَالٰى ، کسل ناراستیا او دروند
والی نه وئیلے شی۔ او وجه دَ دے دا ده چه دوی اراده دَ ثواب
نه لری او په پریخودلو سره ویره دَ عذاب نه لری (قرطبی)
او ابن کثیر وئیلی دی چه دَ دوی نیت او ایمان په مونځ کولو
باندے نشته او نه په زړه کښې خشیت شته او نه په معنیٰ دَ
مونځ باندے پوهیږی او په دیکښې تحذیر دے مؤمنانو
له چه دوی دَ مونځ له په داسے حالت کښې نه او دریږی بلکه
بنئ په خوشحالئ او په فراغ دَ زړه سره دِ اودریږی۔ او
ابو حیان وئیلی دی چه دَ خپلے زمانے دَ فلسفیانو په باره کښې
وئیلی دی۔ فَيَأْتُوْنَ الْمَنَاكِرَ فِىْ نَشَاطٍ. وَيَأْتُوْنَ الصَّلٰوةَ وَهُمْ كُسَالٰى
(راځی دوی بد کارونو ته په خوشحالئ او راځی مانځه ته په ناراستئ سره)

يُرَآءُوْنَ النَّاسَ ، مخکښې ظاهری صفت وو او دا ئے باطنی
قباحت دے او دا جمله حال دے یعنی سره دَ سستئ نه ریا
هم کوی قرطبی دَ ابن عربی نه نقل کړیدی چه ریا دا ده
چه مونځ ښکاره کوی خلقو ته دَ دے دَ پاره چه هغوی ښکار
کړی او خوراک ترینه اوکړی۔

مُذَبۡذَبِيۡنَ بَيۡنَ ذٰلِكَ ۖ لَآ اِلٰى

دوپړک دي په مینځ (د ایمان او کفرکښ)

هٰٓؤُلَآءِ وَلَآ اِلٰى هٰٓؤُلَآءِ ؕ

مسلمانانو طرف ته او نه دي کافرانو طرف ته

وَمَنۡ يُّضۡلِلِ اللّٰهُ فَلَنۡ

او هغه څوک چه بې لارې کړي هغوی لره الله تعالىٰ نو هيچرې

يُرَآءُوۡنَ باب مفاعله د تاکید دپاره ده يعنې دوی په مونځ کولو سره صرف د ا ښکاره کوی چه مونږ مسلمانان يو او دا رنګ په هر عمل د خير کښ د دوی ريا مقصد ده.

وَلَا يَذۡكُرُوۡنَ اللّٰهَ اِلَّا قَلِيۡلًا ، په دیکښ دوه توجيه دي. اول دا چه په مونځ کښ ذکر په قلت سره کوی قراءت او تسبیح پکښ نه کوی صرف الله اکبر وائی (قرطبی).

دویمه وجه دا ده چه بغیر د مونځ نه هم ذکر قلیل کوی او قلت دوه قسمه دې يو قلت په اعتبار د مقدار سره دې هغه دلته مراد نه دې ځکه بعضې منافقان ډیر ذکر کوی او هزار تسبې ئې په لاس کښ نيولې وی بل قلت په اعتبار د کيفيت سره دې يعنې اګرچه په مقدار کښ ډیر وی ليکن اخلاص پکښ نه وی - په غفلت د زړه سره وی - په معنی بانديې نه پوهيږی - ابن عباس رضی الله عنهما نه روايت دې که ذکر د دوی د الله تعالىٰ دپاره وې (يعنې اخلاص) نو ډير به وې دا رنګ ذکر د دوی د دنيا په غرض سره دې او دنيا خو متاع قليل دې (ابوحيان).

تَجِدَ لَهٗ سَبِيۡلًا ﴿۱۴۳﴾

او به نه مومے هغه لره لار -

۱۴۳ :- په دیکښ هم صفات دَ منافقانو ذکر کوي۔

مُذَبۡذَبِيۡنَ ، دا حال دے دَ ضمیر دَ یراءُوۡنَ یا یذکرون نه۔ ذبذبة په اصل کښ آواز دَ حرکت دَ هغه څیز دے چه زوړند وي (راغب)۔ او دفع کول دي هرطرف ته تو منافقین هم دَ طرف دَ مؤمنانو نه دفع (شړلے) کیږي چه دوی زموږ ملګري نه دي او هم دَ طرف دَ کافرانو نه چه دوی زموږ ملګري نه دي نو په دے وجے سره حیران او متردد دي۔

بَيۡنَ ذٰلِكَ ، دا اشاره ایمان او کفر ته او حدیث کښ راغلي دي چه مثال دَ منافق پشان دَ بیږے دے چه وارخطا راوړے وي او په مینځ دَ دوه کنډکونو کښ وي کله یو کنډک ته ځي دَ خپل شهوت دَ پوره کولو دَ پاره او کله بل ته۔

لَاۤ اِلٰى هٰۤؤُلَاۤءِ وَلَاۤ اِلٰى هٰۤؤُلَاۤءِ ، متعلق دَ اِلٰى پټ دے منسوبین یعنی نه ئے مؤمنانو ته نسبت کیدے شي او نه کافرانو ته او فرق دَ اولے جملے او دَ دویمے جملے دا دے چه په اول کښ دَ دوی لازمي صفت دے یعنی دَ دوی په خپله متردد او حیران دي او دویمه جمله کښ مطلب دا دے چه نور خلق هم دَ دوی په نسبت کولو کښ حیران دي یعنی دَ مؤمنانو پشان اخلاص پکښ نشته او دَ کافرانو پشان کفر هم نه ښکاره کوي۔

وَمَنۡ يُّضۡلِلِ اللّٰهُ فَلَنۡ تَجِدَ لَهٗ سَبِيۡلًا ، دَ دے دوه معانے دي اول دا چه ته به دَ هغه دَ هدایت دَ پاره لار او نه مومے۔ دویم دا چه ته به او نه مومے هغه لره په لار دَ هدایت باندے یعنی دے به په هدایت باندے هیچرے روان نه شي۔

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَتَّخِذُوا
اے ايمان والو! مه نيسئ
الْكٰفِرِيْنَ اَوْلِيَآءَ مِنْ دُوْنِ
كافرانو لره دوستان (رتير دوكي) د دوستانے
الْمُؤْمِنِيْنَ ؕ اَتُرِيْدُوْنَ اَنْ تَجْعَلُوْا
د مؤمنانو نه، آيا غواړئ تاسو چه جوړ کړئ
لِلّٰهِ عَلَيْكُمْ سُلْطٰنًا مُّبِيْنًا ﴿۱۴۴﴾
الله تعالىٰ لره په ځان باندے دليل ښکاره -

۱۴۴ ربط له:- هر كله چه صفت د منافقانو ذكر شو چه دوى د كافرانو سره دوستانه كوى نو اوس مؤمنانو لره د دے صفت نه منع كوى.
ربط ۲ له:- هر كله چه د منافقانو صفات قبيحه ذكر شول نو اوس مؤمنانو لره د منافقانو د دوستانے نه منع كوى.

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَتَّخِذُوا الْكٰفِرِيْنَ اَوْلِيَآءَ مِنْ دُوْنِ الْمُؤْمِنِيْنَ، په دے كښں دوه اقوال دى.
اول قول دا دے چه مراد د الْكٰفِرِيْنَ نه ښكاره كافران دى.
او دويم قول دا دے چه مراد د دے نه منافقان دى ځكه چه مخكښے صفات علامات دى د دوى د كفر نو كافران ئے ورته اوئيل.

اَتُرِيْدُوْنَ اَنْ تَجْعَلُوْا لِلّٰهِ عَلَيْكُمْ سُلْطٰنًا مُّبِيْنًا، د دواړو اقوالو باندے خطاب مؤمنانو مخلصانو ته دے نو بناء په اول قول باندے مراد د عليكم نه على نفاقكم دے او بناء په دويم قول باندے مراد د عليكم نه على عدائكم دے. سُلْطٰن، په معنىٰ د برهان سره مذكر دے.

إِنَّ الْمُنٰفِقِيْنَ فِى الدَّرْكِ

يقيناً منافقان په طبقه (ځائے)

الْاَسْفَلِ مِنَ النَّارِ ۚ وَلَنْ

لاندې د اور کښ په وی او هیچرې

تَجِدَ لَهُمْ نَصِيْرًا ﴿١٤٥﴾ إِلَّا

اوبه نه مومې هغوی لره مددګار - مګر

الَّذِيْنَ تَابُوْا وَاَصْلَحُوْا

هغه کسان چه توبه يې اوکړه (د نفاق نه) او نیک عمل يې کوو

ف ۱۴۵ :- په دیکښ تخویف اخروی دے د پاره د منافقانو.

إِنَّ الْمُنٰفِقِيْنَ فِى الدَّرْكِ الْاَسْفَلِ مِنَ النَّارِ، دَرْكِ نه مراد طبقه ده او مفسرینو لیکلی دی چه د جهنم اووه طبقات دی. بعضے د بعضو د لاندے دی.

اول جهنم، دویمه لظی، دریمه حطمه، څلورمه سعیر، پنځمه سقر، شپږمه جحیم، اوومه هاویه او د ټولو ته په نار سره هم تعبیر کیدلے شی د دے بعضے بیان په تفسیر د سوره حجر کښ هم انشاء الله راځی او دے ته درکات وئیلے شی ځکه چه په یو بل د پاسه وی - او منافقان ځکه سخت عذاب والا دی چه دوی د کفر سره استهزاء په اسلام او خداع او نور صفات قبیحه یو ځائے کړی دی - او هر کله چه منافقانو کفر پټ دلے نو دا رنګ د ده د عذاب د پاره هم ډیر پټ ځائے دلے نو جزاء د جنس د عمل نه ده.

وَلَنْ تَجِدَ لَهُمْ نَصِيْرًا، هیڅ کوونکے د عذاب نه یا آسانوونکے د هغے -

وَاعْتَصَمُوْا بِاللّٰهِ وَاَخْلَصُوْا

او کلک یې اونیوو (دین) دَ اللّٰه تعالیٰ او اخلاص یې اوکړو

دِیْنَهُمْ لِلّٰهِ فَاُولٰٓئِكَ مَعَ

دَ دین خپل خاص اللّٰه تعالیٰ لره نو دغه خلق دَ

الْمُؤْمِنِیْنَ ؕ وَسَوْفَ یُؤْتِ اللّٰهُ

مؤمنانو (دَ ډلې) نه دی او زر دے چه ورته کړی اللّٰه تعالیٰ

الْمُؤْمِنِیْنَ اَجْرًا عَظِیْمًا ﴿۱۴۶﴾

مؤمنانو لره ثواب لوے.

۱۴۶ : په دے آیت کښې ترغیب دے منافقانو ته دَ توبې کولو.
او دَ هغې یې څلور شرطونه ذکر کړی دی هرکله چه منافقان موصوف
وو په داسې صفتونو سره چه نقیض (مقابل) دی دَ دے شرطونو
چه هغه کفر او فساد دَ اعمالو او دوستانه دَ کافرانو او په هغوی
سره عزت حاصلول او ریاء او سمعت کول دی نو شرط دَ ایمان
مقابل دے دَکفر سره او دَ هغې نه یې تعبیر کړے دے په
اِلَّا الَّذِیْنَ تَابُوْا ، سره یعنی توبه اوکړی دَ کفر او نفاق نه نو
هغه صحیح ایمان دے.

وَاَصْلَحُوْا ، دا مقابل دے دَ اعمالو فاسدو دَ دوی.

وَاعْتَصِمُوْا بِاللّٰهِ ، دا مقابل دے دَ دوستانې او عزت حاصلولو
په کافرانو سره او مراد دَ دینه اعتماد کول په کتاب دَ اللّٰه تعالیٰ
او په ثواب دَ هغه.

وَاَخْلَصُوْا دِیْنَهُمْ لِلّٰهِ ، دا مقابل دے دَ صفت دَ ریاء او
سمعت.

فَاُولٰٓئِكَ مَعَ الْمُؤْمِنِیْنَ ، یعنی روستو دَ حصول دَ دے صفاتو
نه به دوی دَ مؤمنانو سره په دنیا او آخرت کښې شمار یږی.

مَا يَفْعَلُ اللّٰهُ بِعَذَابِكُمْ

څه کوی الله تعالیٰ په عذاب ستاسو

اِنْ شَكَرْتُمْ وَاٰمَنْتُمْ ط وَكَانَ

که توبه اوکړئ تاسو او ایمان راوړئ او دے

اللّٰهُ شَاكِرًا عَلِيْمًا ﴿۱۴۷﴾

الله تعالیٰ شکر قبولوونکے او پوهه په هر څه باندے۔

اگرچه دوی مؤمنان دی لیکن په مع سره یئے ذکر کړل اشاره ده زیات نفرت کولو ته د هغه صفتونو د نفاق نه چه دوی په هغے باندے متلبس وو او فراء وئیلی دی چه مع په معنیٰ د مِنْ سره دے۔

وَسَوْفَ يُؤْتِ اللّٰهُ الْمُؤْمِنِيْنَ اَجْرًا عَظِيْمًا، لفظ د سَوْفَ اشاره ده انتظار کولو د جنت ته۔ الْمُؤْمِنِيْنَ، یئے اووئیل ضمیر یئے راجع نکړو اشاره ده چه مخکښ نه منافق وی توبه اوباسی یا د ابتداء نه مؤمن وی دواړو ته شامل دے او اَجْرًا عَظِيْمًا، کنایه ده د جنت نه۔

۱۴۷ :- په دے آیت کښ ترغیب دے توبه کولو ته او ذکر د دفع عذاب دے۔

مَا يَفْعَلُ اللّٰهُ بِعَذَابِكُمْ، خطاب دے منافقانو ته، مَا استفهامیه دے د پاره د انکار بعضے علماؤ وئیلی دی چه مَا نافیه دے او مقصد د جملے دا دے چه یو شخص چاله عذاب ورکوی نو خپله غصه سړوی یا په هغے سره بدله اخلی یا په ځان له نفع حاصلوی یا په ځان نه ضرر دفع کوی۔ او الله تعالیٰ په دے خیزونو کښ هیڅ یو ته محتاج نه دے بلکه دا عذاب (چه په اِنَّ الْمُنٰفِقِيْنَ فِى الدَّرْكِ الْاَسْفَلِ مِنَ النَّارِ) کښ ذکر دے ستاسو د کفر د وجے نه دے نو شکر اوکړئ او ایمان

راوړئ نو عذاب په درته دفع شی - اِنۡ شَكَرۡتُمۡ وَاٰمَنۡتُمۡ ،

سوال :- ایمان خو مخکښ دے دَ شکر نه نو دلته ئے وے روستو ذکر کړو ؟

جواب ع۱ :- مراد دَ شکر نه شکر اجمالی دے یعنی په زړه کښ دَ منعم پیژندل او دا سبب او ګرځی دَ پاره دَ ایمان او سبب مخکښ وی په مسبب باندے۔

جواب ع۲ :- مراد دَ شکر نه هغه توبه ده چه په مخکښ آیت کښ سره دَ شرطونو ذکر شوه او توبه مخکښ وی په ایمان باندے او مرا دَ ایمان نه هغه ایمان دے چه په هغے کښ اعتصام بالله او اخلاص وی۔

وَكَانَ اللّٰهُ شَاكِرًا عَلِيۡمًا ، شَاكِرًا ، په بغیر دَ مبالغے نه ذکر کړو اشاره ده چه الله تعالی لږ عمل هم په شرطونو سره قبلوی او په هغے باندے ډیر ثوابونه ورکوی - عَلِيۡمًا ، عالم دے په شکر او ایمان باندے نو دَ هغے مطابق جزاء ورکوی۔

لَا يُحِبُّ اللّٰهُ الْجَهْرَ بِالسُّوْٓءِ

نه خوښوی الله تعالیٰ په زوره وئیل د بدو

مِنَ الْقَوْلِ اِلَّا مَنْ ظُلِمَ ؕ

وینا مگر هغه څوک چه ظلم کړے شوی وی په هغه باندے،

وَكَانَ اللّٰهُ سَمِيْعًا عَلِيْمًا ﴿۱۴۸﴾

او دے الله تعالیٰ آوریدونکے پوهه۔

۱۴۸:۔ ربط ۱:۔ هرکله چه د منافقانو قبائح او مظالم په مقابله د مؤمنانو کښ ذکر شول نو اوس رخصت (اجازت) ذکر کوی مؤمنانو ته د هغوی د صفات قبیحه ذکر کولو او هغوی ته بد دعا کول۔

ربط ۲:۔ هرکله چه په منافقانو باندے زجرونه ذکر شول نو هغوی عذر پیش کړو چه مونږ کلمات د کفر او د کافرانو سره ولایت د وجے د مجبورئ نه کوو نو په دے آیت کښ په هغوی باندے رد کوی چه تاسو خو هیڅ مجبور نه یئ مجبوری خو په حال د اکراه کښ راځی او په تاسو باندے اکراه نشته دے۔

لَا يُحِبُّ اللّٰهُ الْجَهْرَ بِالسُّوْٓءِ مِنَ الْقَوْلِ اِلَّا مَنْ ظُلِمَ، بناء په اول ربط سره مراد د جَهْرَ بِالسُّوْٓءِ نه اظهار د قبائحو د یو شخص دے او من ظلم نه مراد هغه څوک دے چه هغه د هغه شخص د ضررونو او د کینونو (مکرونو) نه ډیر مجبور شی نو اظهار اوکړی د ارنګ د جهر بالسوء نه دعاء شر (خیرے) کول مراد دی او مراد د مَنْ ظُلِمَ نه هغه شخص دے چه په هغه باندے د هغه شخص د طرف نه (منافق وی او که فاسق) وی ظلمونه ډیر اوشی او دے مظلوم شی نو مظلوم د پاره خیرے کول جائز دی۔ او د ابن المستنیر او قطرب په نیز باندے د جهر بالسوء نه مراد کلمه د کفر په ژبه باندے وئیل دی او د من ظلم نه مراد هغه څوک دی چه په هغه باندے اکراه ملجئه

إِنْ تُبْدُوْا خَيْرًا أَوْ تُخْفُوْهُ

که ښکاره کوئ نیکئ یا پټوئ

أَوْ تَعْفُوْا عَنْ سُوْءٍ فَإِنَّ اللّٰهَ

یا معافي کوئ د بدئ نه نو یقیناً الله تعالیٰ

كَانَ عَفُوًّا قَدِيْرًا ⑭⑨

دے معافي کوونکے قدرت لرونکے۔

(زور مجبوروونکے) اوشی لکه چه په سوره نحل ۱۰۶ کښ ذکر دے او د مجاهد نه روایت دے چه دا آیت په باره د هغه چا کښ دے چه یو صحراء کښ د چا میلمه شی او هغه شخص ورله میلمستیا ورنه کړی۔

وَكَانَ اللّٰهُ سَمِيْعًا عَلِيْمًا، آوریدونکے دے د دعا د مظلوم لره په ظلم د ظالم باندے۔ یا دا تحذیر دے مظلوم او مکره ته چه د حق او د حد نه تجاوز مه کوه۔

۱۴۹:۔ دا هم ذکر د آدب دے متعلق د مخکښ رخصت (اجازت) سره۔

إِنْ تُبْدُوْا خَيْرًا أَوْ تُخْفُوْهُ، یعنی مظلوم که په مقابله د جهر بالسوء (دعاء شر) کښ په ذکر د خیر باندے اکتفاء اوکړی د هغه ظالم سره ښکاره یا پټه نیکی اوکړی ښه اخلاق ورسره اوچلوی لکه صبر او حلم یا دُعاء د هدایت ورته اوکړی۔ دا رنګ مکره په حالت د اکراه کښ کلمه د توحید ښکاره یا په پټه وائی او په عزیمت باندے عمل کوی نو اجر به ئے کیږی۔

أَوْ تَعْفُوْا عَنْ سُوْءٍ، یعنی که د خیر اظهار یا اخفاء نه کوی بلکه صرف د ظالم د بدئ نه معافي اوکړی اوچپ شی نو اوله اوچته درجه ده او عفو د سوء نه دویمه درجه ده یا مکره شخص ابداء د کلمے د توحید نه کوی بلکه د کلمے د کفر نه

إِنَّ الَّذِينَ يَكْفُرُونَ بِاللَّهِ
يقيناً هغه كسان چه كفر كوى په الله تعالى
وَرُسُلِهِ وَيُرِيدُونَ أَن يُفَرِّقُوا
او په رسولانو دَ هغه او اراده لرى چه جدا والے اوكړى
بَيْنَ اللَّهِ وَرُسُلِهِ وَيَقُولُونَ
په مينځ (دَ حكم) دَ الله تعالى او (دَ حكم) دَ رسولانو كښ او دوى وائى
نُؤْمِنُ بِبَعْضٍ وَنَكْفُرُ
مونږ ايمان لرو په بعضو باندے او كفر كوو
بِبَعْضٍ وَيُرِيدُونَ أَن يَتَّخِذُوا
په بعضو او غوارى چه جوړه كړى
بَيْنَ ذَٰلِكَ سَبِيلًا ﴿١٥٠﴾
په مينځ دَ دے كښ يوه لاره۔

چپ پاتے شى نو دا هم دريمه درجه ده۔
فَإِنَّ اللَّهَ كَانَ عَفُوًّا قَدِيرًا، په ديكښ ترغيب دے مظلوم ته په معافۍ وركولو سره يعنى الله تعالى سره دَ قدرت نه معافى كوى نو اے مظلومه ته خو عاجز يے نو ته ولے معافى نه كوے۔

دا رنګ په ديكښ تسلى ده مكره ته كه هغه كلمه دَ كفر په وخت دَ اكراه كښ (دَ وجے دَ رخصت نه) اوائى نو الله تعالى به ورته معافى كوى او په اكراه كوونكى باندے الله تعالى قادر دے چه هغه له به سزا وركړى۔

نت ١٥٠: خلاصه :۔ دَ دے آيت نه دويم باب دے تر ١٦٩ پورے او په ديكښ بحث دَ يهوديانو دے۔ زجرونه په منكرينو اهل كتاب باندے او جواب دَ يو سوال دَ هغوى دے چه په

۱۵۳ کښې دے اول الزامي جواب په ذکر د پنځویشت قبائح د هغوی سره او په هغې کښې بعضے اسباب د تحریم الطیبات دي او بیا بشارت دے صالحینو اهل کتابو ته۔ او بیا تحقیقي جواب دے په ۱۶۳، ۱۶۴ کښې سره د ذکر د حکم د ارسال رسل ته په ۱۶۵ کښې۔ بیا ذکر د شهادت د الله تعالیٰ او ملائکو دے په صدق د قرآن باندے ۱۶۶ کښې او په آخر کښې تخویف اخروي دے۔

ربط:۔ هر کله چه احوال د منافقانو مخکښې بیان کړل نو یهودیان او منافقان په ډیر قبائحو کښې مشابه دي نو اوس ذکر د قبائحو د یهودیانو کوي۔

اِنَّ الَّذِيْنَ يَكْفُرُوْنَ بِاللّٰهِ وَرُسُلِهٖ، یعني ایمان د دوی ایمان شرعي (ړښتان د صحابه کرامو) نه دے او په بعضے رسولانو باندے کفر کول ښتان د کفر دے دے په ټولو رسولانو باندے۔

وَيُرِيْدُوْنَ اَنْ يُّفَرِّقُوْا بَيْنَ اللّٰهِ وَرُسُلِهٖ، او دا فرق د دوی ئې په طریقه د اراده سره ذکر کړه یعني د ژبے دعوی ئې دا ده چه مونږ په الله تعالیٰ باندے ایمان لرو لیکن ټول رسولان د هغه نه منو او په مخکښې جمله (یکفرون بالله) کښې د دوی حقیقت ئې ذکر کړے دے چه ایمان د دوی په الله تعالیٰ باندے هم ایمان شرعي نه دے۔ او په دے جمله کښې دا هم داخل دے چه څوک وائي چه د الله تعالیٰ کتاب باندے ایمان لرم لیکن د رسول احادیث نه منم دا هم فرق کول دي په مینځ د الله تعالیٰ او د رسولانو د هغه کښې۔

تنبیه:۔ مراد د تفریق نه تفریق دے په ایمان بالله او بالرسل کښې تفریق د ذاتونو مراد نه دے ځکه چه په یقیني دلیلونو سره معلومه ده چه د الله تعالیٰ ذات جدا دے او د رسولانو ذوات جدا دي۔

وَيَقُوْلُوْنَ نُؤْمِنُ بِبَعْضٍ وَّنَكْفُرُ بِبَعْضٍ، یعني یهودیان وائي مونږ ابراهیم او اسحاق او موسیٰ علیهم السلام باندے ایمان

أُولَٰئِكَ هُمُ الْكَافِرُونَ حَقًّا ۚ

دغه کسان دوی کافران دي يقيناً

وَأَعْتَدْنَا لِلْكَافِرِينَ عَذَابًا

او تيار کړي دي مونږ کافرانو لره عذاب

مُّهِينًا ﴿١٥١﴾

شرموونکې ۔

راوړو۔ او اسماعیل ،عیسیٰ او محمد صلی الله علیه وسلم
نه مني دا رنګ نصارٰی عیسیٰ علیه السلام مني او محمد
صلی الله علیه وسلم نه مني۔

وَيُرِيدُونَ أَنْ يَتَّخِذُوا بَيْنَ ذَٰلِكَ سَبِيلًا ، ذَٰلِكَ ، اشاره ده
ایمان راوړل په ټولو او کفر کول په ټولو باندې په تاویل د
منکورسره ۔ او دا واسطه لټول دي په مینځ د ایمان او
کفر کښ او حال دا چه په مینځ د ایمان او کفر کښ واسطه
نشته دے (ابوحیان) ۔ په دے آیت کښ د دوی شلورصفات
قبیحه ذکر کړے شول۔

۱۵۱ :۔ دا خبر دے د ان د پاره ۔ یا خبر د هغے پټ دے
(جَمَعُوا الْمَخَازِيَ) دوی شرمندګی جمع کړے دي ۔ او
دا روستو قول غوره دے ځکه چه دا مستقل آیت دے
او په یکښ د دوی بل صفت قبیحه دے ۔

أُولَٰئِكَ هُمُ الْكَافِرُونَ حَقًّا ، یعنی په غیر د شک نه نو
مراد د حق نه مقابل د باطل نه دے ځکه چه کفر خو حق
نشي کیدلے نو مقصد دا دے چه کفر د دے کتابیانو یقیني
ثابت دے ۔

وَأَعْتَدْنَا ، دا تخویف دے ټولو کافرانو ته او دوی په کښ
داخل دي ۔

وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بِاللّٰهِ وَرُسُلِهٖ

او هغه کسان چه ایمان ئے راوړیدے په الله تعالی او په رسولانو د هغه

وَلَمْ يُفَرِّقُوْا بَيْنَ اَحَدٍ

او جدائی نه ده کړے دوی په مینځ د هیچا کښ

مِّنْهُمْ اُولٰٓئِكَ سَوْفَ يُؤْتِيْهِمْ

د دوی نه دغه کسان زر دے وربه کړی الله تعالی دوی ته

اُجُوْرَهُمْ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ غَفُوْرًا

ثوابونه د دوی او دے الله تعالی بخونکے

رَّحِيْمًا ﴿۱۵۲﴾ ع

ع ۱۱ ۲۱ ۱

رحم کوونکے۔

۱۵۲ :۔ دا بشارت دے عموماً۔ او مؤمنان د کتابیانو پکښ داخل دی خصوصاً۔

وَلَمْ يُفَرِّقُوْا بَيْنَ اَحَدٍ مِّنْهُمْ، دا مقابل دے د مخکښ صفت قبیحه د دوی چه وَيُرِيْدُوْنَ اَنْ يُّفَرِّقُوْا بَيْنَ اللّٰهِ وَرُسُلِهٖ او ورپسے جمله۔

اُولٰٓئِكَ سَوْفَ يُؤْتِيْهِمْ اُجُوْرَهُمْ، سَوْفَ، دلته د نفس وعدے او د تنبیه د پاره دے معنیٰ د بعد (لرے والے) پکښ مقصود نه ده یعنی د دوی اعمال او اجرونه باطل شوے نه دی ځکه چه هیڅ قسم کفر دوی نه دے کړے او نورو ګناهونو الله تعالی ورته بخنه کوی۔

يَسْـَٔلُكَ اَهْلُ الْكِتٰبِ اَنْ تُنَزِّلَ

تپوس کوی ستانه کتابیان چه (په یو ځائے) نازل کړې

عَلَيْهِمْ كِتٰبًا مِّنَ السَّمَآءِ فَقَدْ

په دوی باندے کتاب د آسمان نه پس یقینًا

سَاَلُوْا مُوْسٰٓى اَكْبَرَ مِنْ ذٰلِكَ

تپوس کړے وو دوی د موسیٰ علیه السلام نه لوے څیز د دے نه

فَقَالُوْٓا اَرِنَا اللّٰهَ جَهْرَةً

نو دوی وئیلی وو اوښایه موږ ته الله تعالیٰ ښکاره

فَاَخَذَتْهُمُ الصّٰعِقَةُ بِظُلْمِهِمْ ۚ

نو اونیو دوی لره تندر په وجه د ظلم د دوی

ثُمَّ اتَّخَذُوا الْعِجْلَ مِنْ بَعْدِ

بیا اونیو دوی سخی لره په خدائی سره روسته

مَا جَآءَتْهُمُ الْبَيِّنٰتُ فَعَفَوْنَا

د هغه نه چه راغلل دوی ته ښکاره دلائل

عَنْ ذٰلِكَ ۚ وَاٰتَيْنَا مُوْسٰى

او ورکړے وو موږ موسیٰ علیه السلام

سُلْطٰنًا مُّبِيْنًا ﴿١٥٣﴾

ته دلیل ښکاره -

١٥٣ :- په دیکښ زجر او ذکر د نورو صفات قبیحه د کتابیانو دے. يَسْـَٔلُكَ اَهْلُ الْكِتَابِ، دا سوال د دوی په طریقه د عناد (تعنت) سره دے او دا ئے صفت قبیحه دے - اَهْلُ الْكِتٰبِ،

مراد په دے سره هغه دی چه فرق ئے کوو په مینځ د رسولانو کښ لکه چه په ص ۱۵۰ کښ تیر شول ۔

أَنْ تُنَزِّلَ عَلَيْهِمْ كِتَٰبًا مِّنَ السَّمَآءِ ، یعنی دوی وئیلی وو چه مونږ ته په یوځل د آسمان نه داسے کتاب راوړه چه مونږ ئے په سترګو اووینو لکه چه موسٰی علیه السلام او ټولو انبیاؤ په یوځل باندے خپل کتابونه راوړی وو ۔ دلته تنزیل په معنیٰ د انزال دے (په هیڅ نازلولو) او داسے سوال مشرکانو امیانو هم کړے دے لکه چه په سوره فرقان ص ۳۲ کښ دی ۔ او دا سوال هر کله چه عنادی وو د دے وجے د دے اول جواب الزامی دے یعنی په ذکر کولو د قبائحو د دوی او روستو جواب تحقیقی ص ۱۶۳ دے ۔

فَقَدْ سَأَلُوا مُوسَىٰٓ أَكْبَرَ مِن ذَٰلِكَ ، فاء سببیه ده مخکښ عبارت پټ دے (چه پرواه مکوه او دا خبره لویه مه ګڼړه) ځکه چه دوی د موسٰی علیه السلام نه د دے نه ډیر غټ سوال کړے وو یعنی د دوی مشرانو او دوی هم په دغه سوال باندے رضا وو ۔

فَقَالُوٓا أَرِنَا اللَّهَ جَهْرَةً ، فاء د پاره د تفصیل د سوال ده او داسے په سوره بقره ص ۵۵ کښ تیر شوی دے ۔

فَأَخَذَتْهُمُ الصَّٰعِقَةُ بِظُلْمِهِمْ ، ابن جریج وئیلی دی چه صاعقه په معنیٰ د مرګ سره دے او بعضو وئیلی دی چه دا اور دے د آسمان نه نازل شوے وو او د دے نه روستو لفظ پټ دے یعنی الله تعالیٰ ژوندی کړل په دعا د موسٰی علیه السلام سره (قرطبی) او دا د دوی بل قباحت دے ۔

بِظُلْمِهِمْ ، مراد د ظلم نه عنادی سوال کول دی ۔

ثُمَّ اتَّخَذُوا الْعِجْلَ مِنۢ بَعْدِ مَا جَآءَتْهُمُ الْبَيِّنَٰتُ ، دا د دوی بل قباحت دے البینات نه مراد ښکاره معجزات

وَرَفَعْنَا فَوْقَهُمُ الطُّوْرَ

او اوچت کړو موږ د دوی د پاسه طور غر

بِمِيْثَاقِهِمْ وَقُلْنَا لَهُمُ

د پاره د وعدے اخستلو د دوی او اُوئیل موږ دوی ته

ادْخُلُوا الْبَابَ سُجَّدًا

داخل شئ دروازے ته سجده کوونکی

وَّقُلْنَا لَهُمْ لَا تَعْدُوْا فِي السَّبْتِ

او اوئیل موږ دوی ته چه د حد نه مه تیریږئ په ورځ د خالی کښ

وَّاَخَذْنَا مِنْهُمْ مِّيْثَاقًا غَلِيْظًا ﴿١٥٤﴾

او اخستے ده موږ د دوی نه وعده ټینګه -

د موسیٰ علیه السلام ووچه په توحید باندے دلالت کوی.

سوال :- د سوره بقره د ترتیب نه معلومیږی چه اتخاذ العجل واقعه د واقعے د ارنا الله جهرةً نه وړاندے ده؟

جواب :- دا ثم د ترتیب د اخبار د پاره دے د ترتیب واقعی د پاره نه دے (ابو حیان) یعنی ثم د تعقیب ذکری د پاره دے -

فَعَفَوْنَا عَنْ ذٰلِكَ ، په سبب د توبے د دوی سره چه په سورة اعراف ١٤٩ کښ ذکر ده -

وَاٰتَيْنَا مُوْسٰى سُلْطٰنًا مُّبِيْنًا ، مراد د دینه تورات کتاب دے چه ښکاره حجت دے او سلطان په حجت سره حاصلیږی - یا مراد د دینه رعب او هیبت دے لکه چه فرعون باندے د ده رعب پروت وو قتل د هغه ئے نشو کولے او رعب ئے بنی اسرائیلو باندے پروت وو چه هغوی ئے دا حکم اومنلو چه اقتلوا انفسکم -

١٥٤ :- دا د بنی اسرائیلو نور قبائحو ته اشاره ده لیکن تصریح

فَبِمَا نَقْضِهِمْ مِّيْثَاقَهُمْ وَكُفْرِهِمْ

نو په سبب د ماتولو د دوی لوظونه خپل او کفر د دوی

بِاٰيٰتِ اللّٰهِ وَقَتْلِهِمُ الْاَنْبِيَآءَ

په آیاتونو د الله تعالیٰ او وژل د دوی پیغمبران

بِغَيْرِ حَقٍّ وَّقَوْلِهِمْ قُلُوْبُنَا

بغیر د جرم شرعی نه او وینا د دوی چه زړونه زمونږ

غُلْفٌ ؕ بَلْ طَبَعَ اللّٰهُ عَلَيْهَا

د علم نه بندی دی، بلکه مهر وهلے دے الله تعالیٰ په هغے

بِكُفْرِهِمْ فَلَا يُؤْمِنُوْنَ اِلَّا

په سبب د کفر د دوی نو ایمان نه راوړی دوی مگر

قَلِيْلًا ۝١٥٥

لږ -

ئې قباحاتو باندے نه ده کړے ځکه بِمِيْثَاقِهِمْ، مطلب دا
دے چه د دوی نه د عمل د تورات د پاره میثاق واخستلے شو
او په وخت د میثاق کښ طور غرئې د دوی د پاسه اوچت کړو
لکه چه په سوره بقره ۶۳ کښ ده نو په دے کښ هم د دوی
قباحت ته اشاره ده دا رنګ وَقُلْنَا لَهُمُ ادْخُلُوا الْبَابَ سُجَّدًا،
په دے سره حکم د تبدیل ته اشاره ده لکه چه په سوره بقره
۵۹ کښ ذکر ده نو دا هم د دوی قباحت ته اشاره ده - دا رنګ
وَقُلْنَا لَهُمْ لَا تَعْدُوْا فِي السَّبْتِ، د دے نهی مخالفت کولو ته
اشاره ده چه هغه په سوره بقره ۶۵ کښ او اعراف ۱۶۳ کښ ذکر دے.
وَاَخَذْنَا مِنْهُمْ مِّيْثَاقًا غَلِيْظًا، ابوحیان وئیلی دی چه په دے
کښ د دوی هغه میثاق او د هغے مخالفت ته اشاره ده چه په

سورة العمران س۸۱ کښ ذکر دے۔
س۱۵۵ :- په دے آیت کښ دَ دوی نور قبائح ذکر کوی او دا قبائح
او دَ دے نه روستو دیته اسباب دَ تحریم طیبات هم وئیلے شی
په دے آیت کښ دَ هغے نه شپږ ذکر دی۔

فَبِمَا نَقْضِهِمْ مِيْثَاقَهُمْ، دَ دے په متعلق کښ دوه اقوال دی اول
قول دا دے چه دا متعلق دے په روستو س۱۶۰ حرمنا پورے او
فبظلم بدل دے بما نقضهم نه دا قول دَ زجاج او زمخشری
وغیره دے۔ او دویم قول دا دے چه دَ دے متعلق پټ دے۔
(لعنّاهُمْ یا اَذْلَلْنَاهُمْ) دا قول دَ ابن عطیه او ابوحیان وغیره دے۔
او دَ میثاقهم، نه هغه مواثیق مراد دی چه مخکښ آیت کښ
ذکر شول هغه دوی ټول مات کړیدی۔

وَكُفْرِهِمْ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ وَقَتْلِهِمُ الْاَنْبِيَآءَ بِغَيْرِ حَقٍّ، دَ دے تفسیر
مخکښ تیر شویدے۔

وَقَوْلِهِمْ قُلُوْبُنَا غُلْفٌ، دَ دے تفسیر په سوره بقره س۸۸ کښ
ذکر شوے دے۔

بَلْ طَبَعَ اللّٰهُ عَلَيْهَا بِكُفْرِهِمْ، دا جواب دَ قول دَ دوی دے چه
(قلوبنا غلف) یعنی دَ دوی زړونو ته دَ حق دَ نه رسیدلو وجه
غلف نه دے بلکه الله تعالیٰ بند کړیدی په مهر وهلو سره او
سبب دَ دے طبع کفر دَ دوی دے۔
سوال :- په سوره بقره س۸۸ کښ بَلْ لعنهم الله وئیلی دی او
دلته بل طبع ؟
جواب :- هلته مقصد ذکر دَ اسبابو دَ لعنت دے په یهودیانو
باندے لکه په س۸۹، س۱۵۹، س۱۶۱ کښ دے او لعنت دَ الله تعالیٰ دَ خاص
رحمتونو نه لرے کیدل دی او دلته مقصد اظهار دَ جهل او دَ ضد
دَ هغوی دے په سبب دَ ذکر دَ ډیرو قبائحو سره او لفظ دَ طبع
دَ دوی په جهل او عناد باندے ښه دلالت کوی۔

وَبِكُفْرِهِمْ وَقَوْلِهِمْ عَلٰى مَرْيَمَ
اوپه سبب د کفر د دوی او جوړول د دوی په مریم باندې

بُهْتَانًا عَظِيمًا ﴿١٥٦﴾
بهتانه لویه۔

فَلَا يُؤْمِنُوْنَ اِلَّا قَلِيْلًا ، دا ۔ په سوره نساء ۴۶ کښ تیر شوي دي او په قلیلًا کښ درې اقوال مشهور دي ۔ ۱۔ ایمانًا قلیلًا، ۲۔ او زمانًا قلیلًا، ۳۔ او قلیلًا مِّنْهُمْ ۔

سوال :- په سوره بقره ۸۸ کښ وئیلی دي فقلیلًا ما یؤمنون ؟
جواب :- هلته د وجې د ذکر د لعنت نه ډیر تاکین ذکر کول پکار وو په باره د عدم ایمان د دوی او په دغه جمله کښ په لفظ د ما سره ډیر تاکین د قلت اوکړې شو تر دې پورې چه د بعض مفسرینو په نیز مراد د قلت نه هلته عدم ایمان دې (والله اعلم بحکمه)
تر دې آیت پورې د دوی هغه قبائح ذکر شول چه د زمانې د عیسٰی علیه السلام نه مخکښ وو۔ او س هغه ذکر کوی چه په زمانه د عیسٰی علیه السلام کښ وو۔

۱۵۶ :- په دې کښ دوه قبائح (چه هغه اسباب هم دي) ذکر کړیږي دلته د کفر نه مراد کفر کول دي په نبوت د عیسٰی علیه السلام باندې یا انکار دې د قدرت د الله تعالٰی نه په پیدا کولو د عیسٰی علیه السلام بغیر د نارینه (اللباب)۔

وَبِكُفْرِهِمْ وَقَوْلِهِمْ عَلٰى مَرْيَمَ بُهْتَانًا عَظِيمًا ، بهتان هغه گناه ته وئیلې شي چه د هغې د غټوالی او سخت والی نه انسان حیران شي او نکره راوړل او تاکین په عَظِيمًا سره د ډیر تاکین د پاره دې هغه بهتان ذکر دې په سوره مریم ۲۷ کښ۔ صاحب اللباب وئیلی دي چه هر کله الله تعالٰی طعن د یهودیانو په مریم باندې ذکر کړو چه دا بهتان عظیم دې او ذکر کړیږې طعن د منافقانو په عائشه رضی الله عنها باندې چه وئیلې دي

وَقَوْلِهِمْ إِنَّا قَتَلْنَا الْمَسِيحَ

او وینا د دوی چه یقینًا وژلے دے مونږ مسیح

عِيسَى ابْنَ مَرْيَمَ رَسُولَ اللَّهِ

عیسیٰ (علیه السلام) ځوئے د مریم رسول د الله تعالیٰ

وَمَا قَتَلُوهُ وَمَا صَلَبُوهُ

او نه دے وژلے دوی هغه او نه ئے په سولئ کړے دے

وَلَٰكِن شُبِّهَ لَهُمْ ۚ وَإِنَّ

لیکن یوشان کړیشو هغه (یوتن د عیسیٰ علیه السلام سره) دوی ته، او یقینًا

الَّذِينَ اخْتَلَفُوا فِيهِ لَفِي

هغه کسان چه اختلاف کړے دے په هغه کښ خامخا په

شَكٍّ مِّنْهُ ۚ مَا لَهُم بِهِ

شک کښ دی د ده نه نیشته دوی لره په هغے

مِنْ عِلْمٍ إِلَّا اتِّبَاعَ الظَّنِّ ۚ

څه علم مګر تابعداری کوی د ګمان

وَمَا قَتَلُوهُ يَقِينًا ﴿١٥٧﴾

او نه دے قتل کړے دوی هغه په رښتیا ۔

سبحانك هٰذا بهتان عظیم تو دا دلالت کوی چه روافض (شیعګان) چه طعن کوی په عائشه رضی الله عنها پشان د یهودیانو دی چه طعن کوی په مریم باندے ۔

۱۵۷:۔ په دے کښ د دوی بل قباحت ذکر کوی او د هغے تردید کوی په څلور طریقو سره ۔

اوله طریقه ۔ وَقَوْلِهِمْ ئے او ئیل قتلهم ئے نه دے وئیلے

یعنی دوی دروغ قول کوی په باره دَ قتل دَ عیسیٰ علیه السلام کښ۔
اِنَّا قَتَلْنَا الْمَسِيحَ عِيسَى ابْنَ مَرْيَمَ رَسُولَ اللّٰهِ ،
سوال :- یهودیان خو دَ هغه دَ رسالت نه منکر دی نو څنګه رسول الله ذکر کړے دے؟
جواب ۱ :- دا قول دَ دوی په طریقه دَ استهزاء سره دے پشان دَ سوره حجر ۶ او دَ سوره شعراء ۲۷۔
جواب ۲ :- دا تعریف دَ طرف دَ الله تعالیٰ دے دَ پاره دَ تقبیح دَ دوی۔

وَمَا قَتَلُوهُ وَمَا صَلَبُوهُ ، هر کله چه په مینځ دَ قتل او دَ صلب کښ لزوم نشته کله قتل وی بغیر دَ صلب نه نو دَ هغې نفی یې اوکړله او کله صلب وی بغیر دَ قتل نه ځکه صلب په استعمال کښ دا دے چه یو شخص لره په یو لرګی پورے کلک او تړی چه حرکت نشی کولے او بیا یې په نیزه باندے اوهی یا په غشی باندے اولی) نو دَ صلب نفی یې ځکه اوکړله او دا رنګ یهودیانو او دَ هغوی په تقلید کښ نصاریٰ وو دَ صلب او دَ قتل دواړو دعوی کړے ده۔ دَ دے وجے نه قرآن دَ هغې دواړو تردید کړیدے۔

وَلٰكِنْ شُبِّهَ لَهُمْ ، تشبیه صیغه دَ مجهول ده دَ شبه نه اخستلے شوے دے او شبه مماثلت دَ شکل ته وئیلے شی او نائب فاعل یې حذف شویدے - او لَهُمْ دَ نائب فاعل په ځائے دے معنیٰ دا چه واقع شو دوی لره مشابهت په شکل دَ عیسیٰ علیه السلام کښ یعنی قتل کړے دے دوی هغه چا لره چه مشابه کړے شوے وو دَ شکل دَ عیسیٰ علیه السلام سره - یا شبه دَ اشتباه نه اخستلے شویده او لام په معنیٰ دَ علیٰ دے نو معنیٰ دا ده چه اشتباه اچولے شویده په دوی باندے په باره دَ صلب دَ عیسیٰ علیه السلام کښ یعنی مشرانو دَ یهودیانو چه هر کله عیسیٰ علیه السلام اونه موندلو نو دَ هغه په ځائے یې بل شخص په صلیب باندے اوخیژولو او چه دَ هغه شکل بدل شو نو دوی عامو خلقو ته اوئیل چه دا عیسیٰ دے چه په صلیب باندے آویزان دے۔

فائده[له] :- ابن جریر د وهب نه روایت کړیدے چه عیسیٰ علیه السلام د اوویشتو حواریو نو سره په یو کوټه کښ داخل شو نو یهودیانو د هغه کوټې نه احاطه اوکړله نو دوی دننه داخل شول نو عیسیٰ علیه السلام خپلو ملګرو ته اووئیل چه څوک جنت غواړی نو یو شخص آواز اوکړو چه زه جنت غواړم نو الله تعالیٰ د هغه شکل د عیسیٰ علیه السلام پشان جوړ کړو او عیسیٰ علیه السلام ته چت سورے کړے شو هغه بره آسمان ته اوختلو او یهودیانو هغه شخص چه په شکل د عیسیٰ علیه السلام وو هغه ئے په صلیب باندے اوخیژولو- او په دے روایت باندے اوله معنیٰ د شبه دلالت کوی او بل روایت دا دے چه هرکله عیسیٰ علیه السلام دوی په کوټه کښ اونه موندلو بره خیژولے شوے وو نو دوی بل شخص په صلیب باندے اوخیژولو او هغه ته ئے نزدے څوک نه پریخودل هرکله چه د هغه شکل بدل شو نو دوی عوامو خلقو ته اووئیل چه دا په صلیب باندے عیسیٰ علیه السلام دے نو په عوامو خلقو ئے التباس او اشتباه واچوله - دا روایت د دویمے معنیٰ سره مناسب دے.

فائده[۲] :- په دے مسئله کښ د انجیلونو د نصاریٰ متضاد خبرے او په هغے باندے تردید او په واقعے د القاء شبه باندے د دوی اعتراضونه او د هغے جوابونه او عبارت د انجیل خامس چه د دے آیت سره مطابق دے دا قول قاسمی په تفسیر قاسمی کښ په تفصیل سره ذکر کړے دے او د هغے په تتمه کښ د شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله د کتاب الفرقان بین الحق والباطل نه پوره تشریح نقل کړے دی هغه اوګورئ.

د اِنَّ الَّذِيْنَ اخْتَلَفُوْا فِيْهِ لَفِيْ شَكٍّ مِّنْهُ ، یعنی یهودیانو او نصاریٰ چه په باره د عیسیٰ علیه السلام کښ د عقیدے اختلاف کړیدے هغوی په شک کښ دی د قتل د هغه نه - یعنی یهودیانو روستو د قتل د هغه نه شک اوکړو چه دا عیسیٰ علیه السلام دے او

که یل شخص دے یعضو اوئیل چه ځ خوځ دَ عیسیٰ علیه السّلام دے او باقی بدن دَ هغه نه دے۔ او هر چه نصاریٰ وو نو هغوی روستو دَ عقیدے دَ قتل دَ عیسیٰ علیه السلام نه درے ډلے شوے نسطوریه، ملکانیه، یعقوبیه۔
نسطوریه اوئیل چه عیسیٰ علیه السلام په اعتبار دَ ناسوتیت سره په صلیب کړے شوے دے او اعتبار دَ لاهوتیت سره ژوندے پاتے دے۔
ملکانیه وائی چه قتل او صلیب دَ هغه لاهوتیت ته اورسیدل په احساس او شعور سره نه په مباشرت سره یعنی دَ هغه سره قتل لګیدلے نه دے۔
او یعقوبیه وائی چه قتل او صلب واقع شویدی په مسیح علیه السلام چه هغه یو جوهر وو پیدا شویدے دَ دوه جواهرو نه۔ او دا ټول متضاد او بے معنے اقوال دی۔

مَا لَهُمْ بِهٖ مِنْ عِلْمٍ اِلَّا اتِّبَاعَ الظَّنِّ، بِهٖ ضمیر راجع دے قتل دَ عیسیٰ علیه السلام ته او الا استثناء منقطع ده ځکه چه ظن غیر دے دَ علم نه معنیٰ یې دا ده (لکن یتبعون اتباع الظن)۔
سوال:- مخکښې او فرمائیل چه دوی په شک کښې دی او دلته په اتباع الظن او شک او ظن کښې فرق دے۔
جواب:- دَ عربو اصطلاح ده چه په کوم څیز کښې یقین نه وی نو دَ هغې نه کله تعبیر په شک سره کوی او کله په ظن سره (ابوحیان)۔

وَمَا قَتَلُوْهُ يَقِيْنًا، قول دَ جمهورو مفسرینو دا دے چه ۂ ضمیر راجع دے عیسیٰ علیه السلام ته او یقیناً په ځائے دَ حال کښې دے یعنی مُتَيَقِّنِيْنَ انه عیسیٰ (په دا سے حال کښې چه دوی یقین کوو چه دا عیسیٰ علیه السلام دے) یا مفعول مطلق دے په موصوف پټ سره یعنی قتلاً یقیناً۔ او حسن وئیلی دی.

بَلْ رَّفَعَهُ اللّٰهُ اِلَيْهِ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ

بلکه پورته خیژولے دے الله تعالیٰ ځان ته ، او دے الله تعالیٰ

عَزِيْزًا حَكِيْمًا ﴿١٥٨﴾

زور آور حکمتونو والا۔

چه یقینًا په معنیٰ دَ حقًا سره دے او فراء بغوی او ابن قتیبه وئیلی دی چه ۵ ضمیر علم ته راجع دے او قتل کنایه ده دَ حصول او دَ احاطے کولو نه۔

۱۵۸ :- بَلْ ، په دیکښ اضراب دے دَ مَا قتلوهُ نه یعنی هر کله چه دوی قتل کړے نه دے او په صلیب کړے ئے نه دے نو آیا مړ شوے دے په خپل مرګ باندے نو اوئیل چه نه بلکه رَّفَعَهُ اللّٰهُ اِلَيْهِ ، او تفصیل دَ رفع په تفسیر دَ سوره آلعمران ۵۵ کښ تیر شوے دے۔

وَكَانَ اللّٰهُ عَزِيْزًا حَكِيْمًا ، په دیکښ جوابات دی دَ دوؤ سوالونو :

سوال ۱ :- دا چه دَ زمکے او آسمان په مینځ کښ خلا (بغیر دَ هوا نه) ده او اکسیجن نشته نو ر هم اسباب دَ بره ورختلو ته وو نو څرنګ عیسیٰ علیه السلام ئے بره اوخیژولو؟

جواب :- په لفظ دَ عزیزًا سره جواب اوشو۔

سوال ۲ :- دا دے چه آخری رسول محمد صلی الله علیه وسلم ئے ولے په داسے طریقے سره بره او نه خیژولو؟

جواب :- اوشو په لفظ دَ حکیمًا سره یعنی دَ هغه دَ قدرت کامله په مخکښ هیڅ څیز ګران نشته او دَ الله تعالیٰ په هر کار کښ حکمت دے۔

وَاِنۡ مِّنۡ اَهۡلِ الۡكِتٰبِ اِلَّا

او نیشته ځوک د کتاب والو نه مګر

لَيُؤۡمِنَنَّ بِهٖ قَبۡلَ مَوۡتِهٖ ۚ

خامخا ایمان به راوړي په هغه مخکښ د مرګ د هغه نه.

وَيَوۡمَ الۡقِيٰمَةِ يَكُوۡنُ عَلَيۡهِمۡ

او په ورځ د قیامت شي به هغه په دوی باندے

شَهِيۡدًا ۚ ﴿١٥٩﴾

ګواهي ورکوونکے۔

س۱۵۹:۔ په دیکښ اثبات دے د عدم موت (ژوند) د عیسیٰ علیه السلام۔

وَاِنۡ مِّنۡ اَهۡلِ الۡكِتٰبِ اِلَّا لَيُؤۡمِنَنَّ بِهٖ قَبۡلَ مَوۡتِهٖ، په دیکښ دوه اقوال مشهور دي۔

اول قول د ابن عباس او حسن او ابو مالک وغیرهم دی چه بِهٖ او مَوۡتِهٖ ضمیرونه عیسیٰ علیه السلام ته راجع دی یعنی هرکله چه عیسیٰ علیه السلام په آخره زمانه کښ زمکے ته راکوزشي نو په هغه وخت کښ به هر کتابي چه موجود وي (یهودي یا نصراني) هغه به په عیسیٰ علیه السلام باندے ایمان راوړي۔

دویم قول د عکرمه او مجاهد او ضحاک وغیرهم نه نقل دے چه ضمیر بِهٖ عیسیٰ علیه السلام ته او ضمیر د مَوۡتِهٖ کتابي ته راجع دے یعنی هر کتابي یهودي یا نصراني چه کله مرکیږي نو په وخت د مرګ کښ په عیسیٰ علیه السلام باندے ایمان راوړي اګرچه دا ایمان ئے پښان د ایمان د فرعون قبول نه دے۔ لیکن اول قول غوره دے په سبب د حدیث د بخاري چه کتاب البیوع باب قتل الخنزیر او کتاب الانبیاء باب نزول عیسیٰ علیه السلام او مسلم په کتاب الایمان باب نزول عیسیٰ علیه السلام کښ راوړیدلے چه د ابو هریره رضی الله عنه

فَبِظُلْمٍ مِّنَ الَّذِيْنَ هَادُوْا

نو په سبب د ظلم کولو د يهوديانو

حَرَّمْنَا عَلَيْهِمْ طَيِّبٰتٍ اُحِلَّتْ

حرام کړي دي مونږ په دوی باندې مزيدار څيزونه چه حلال شوي وو

لَهُمْ وَبِصَدِّهِمْ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ

دوی لره او په سبب د منع کولو د دوی د لارې د الله تعالیٰ نه

كَثِيْرًا ﴿۱۶۰﴾

ډير خلقو لره۔

روايت دے چه رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائيلي دي چه نزدې ده چه عيسیٰ عليه السلام به په تاسو کښې راکوزشي فيصلے کوونکے انصاف کوونکے صليب به مات کړي او خنزير به قتل کړي او جزيه به ختمه کړي او مالونه به ډير شي تر دې پورې چه هيڅوک به ئے نه قبلوي او دجال به قتل کړي او زمکه کښې به څلويښت کاله آباد وي بيا به وفات شي او مسلمانان به د هغه جنازه اوکړي۔ او ابوهريره رضي الله عنه دا ايت اولوستلو او درې کرته ئے اعاده اوکړه۔

او دويم دليل د غوره والي او قول دا ورپسے جمله ده۔

وَيَوْمَ الْقِيٰمَةِ يَكُوْنُ عَلَيْهِمْ شَهِيْدًا ، ضمير د يكون عيسیٰ عليه السلام ته راجع دے او تفصيل د شهادت په سوره مائده ۱۱۷ کښې ذکر دے۔ او په دے آيت کښې د عکرمه نه دريم قول نقل دے چه په ضمير محمد صلى الله عليه وسلم ته راجع يا الله تعالیٰ ته او مونږ په ضمير کتابي ته راجع دے۔

۱۶۰ :- په دے آيا تونو کښې د يهوديانو هغه قبائح ذکر کوي چه د قرآن د نزول په وخت کښې په دوی کښې پيدا شوي وې او دا هم اسباب د تحريم طيبات دي د دے وجه نه باء سببيه يکښې واپس راوړې ده۔

وَاَخۡذِهِمُ الرِّبٰوا وَقَدۡ نُهُوۡا

او په سبب د اخستلو د دوی سود او یقیناً دوی منع کړ شوي وو

عَنۡهُ وَاَكۡلِهِمۡ اَمۡوَالَ النَّاسِ

د هغې نه او خوړل د دوی مالونو د خلقو لره

بِالۡبَاطِلِ ؕ وَاَعۡتَدۡنَا لِلۡكٰفِرِيۡنَ

په ناروا او تيار کړي دي مونږ کافرانو لره

مِنۡهُمۡ عَذَابًا اَلِيۡمًا ﴿۱۶۱﴾

د دوی نه عذاب درد ناک ۔

فَبِظُلۡمٍ مِّنَ الَّذِيۡنَ هَادُوۡا ، دا بدل دے د فيما نقضهم نه يا مستقل کلام دے متعلق دے په روستو پورے ۔

حَرَّمۡنَا عَلَيۡهِمۡ ، طيبات او مراد د طيبات نه هغه دي چه په سوره انعام ۱۴۶ کښ ذکر دي او هغې ته په سوره نحل ۱۱۸ کښ اشاره ده دا رنګ په ذلت او مسکنت او غضب کښ اخته کيدلو سره په دوی باندے عزت او رحمت د الله تعالی بند شو ۔

وَبِصَدِّهِمۡ عَنۡ سَبِيۡلِ اللّٰهِ كَثِيۡرًا ، مراد د سبيل الله نه لار د توحيد او د اتباع د رسولانو ده چه دا کار به دوی د ټولو رسولانو په وخت کښ کولو نو دا رنګ د آخری رسول د اتباع او د قرآن نه منع کولو ته هم اشاره ده ۔

۱۶۱ :- په دیکښ نور قباحتونه د هغوی او اسباب د تحريم ذکر کوی ۔

وَاَخۡذِهِمُ الرِّبٰوا ، ربا په دوی باندے حرام ده لکه چه زمونږ په ملت کښ حرامه ده ۔

وَقَدۡ نُهُوۡا عَنۡهُ ، په دیکښ اشاره ده د دوی ډير قباحت ته چه په تورات او انجيل کښ د ربوا نه نهي موجود ده او دوی د هغې

لٰكِنِ الرّٰسِخُوْنَ فِی الْعِلْمِ

لیکن پاخه په علم کښ

مِنْهُمْ وَ الْمُؤْمِنُوْنَ یُؤْمِنُوْنَ

دَ دوی نه او مؤمنان چه ایمان لری

بِمَاۤ اُنْزِلَ اِلَیْكَ وَ مَاۤ

په هغه کتاب چه نازل کړے شوے دے تا ته او هغه چه

اُنْزِلَ مِنْ قَبْلِكَ وَ الْمُقِیْمِیْنَ

نازل کړے شوے دے مخکښ ستا نه او (شاباسے دے) په پابندی کوونکو

الصَّلٰوةَ وَ الْمُؤْتُوْنَ الزَّكٰوةَ

دَ مانځه او ورکوونکی دَ زکوٰة

وَ الْمُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَ الْیَوْمِ الْاٰخِرِ ط

او ایمان لرونکی په الله تعالیٰ او په ورځ روستنئ

نه مخالفت کړیں ے۔

وَ اَكْلِهِمْ اَمْوَالَ النَّاسِ بِالْبَاطِلِ، دا سے په سورهِ توبه ۳۴ کښ ذکر دے او دَ باطل نه مطلب هغه طریقے دَ مال گټلو دی چه په شرع کښ دَ هغے دلیل نه وی۔

وَ اَعْتَدْنَا لِلْكٰفِرِیْنَ مِنْهُمْ عَذَابًا اَلِیْمًا، اشاره ده چه په دوی کښ دَ کفر ډیر اسباب موجود وو۔

سوال :- تحریم خو په دوی باندے په تورات کښ شوے وو او بعضے اسباب ذکر شوے خو دَ هغے نه روستو په دوی کښ پیدا شوے وو؟

جواب :- روستو اسباب دَ دوام او بقاء دَ تحریم دَ پاره ذکر شول دا سے آلوسی لیکلی دی۔

أُولَٰئِكَ سَنُؤْتِيهِمْ أَجْرًا
دغه کسان خامخا ورکوو به دوی ته ثواب

عَظِيمًا ﴿١٦٢﴾
لوی۔

ع ۲۲ ۲

س۱۶۲:۔ په دے آیت کښ بشارت دے په ښه صفاتو د اهل کتابو سره که عوام وی او که علماء وی۔

لٰكِنِ الرّٰسِخُوْنَ فِي الْعِلْمِ، دا په علماؤ کښ د حق پرستو صفت دے لکه چه په سوره آلعمران کښ ذکر دی۔

مِنْهُمْ، اشاره ده چه په یهودیانو کښ دوه قسمونه د علماؤ موجود وو یو زائغین او دویم راسخین۔

وَالْمُؤْمِنُوْنَ يُؤْمِنُوْنَ بِمَا اُنْزِلَ اِلَيْكَ وَمَا اُنْزِلَ مِنْ قَبْلِكَ، قتاده وئیلی دی چه په دیکښ منهم پټ دے یعنی دا د علماؤ راسخین نه علاوه عام مؤمنان د بنی اسرائیلو مراد دی او دا صفتونه په راسخینو کښ هم مراد دی۔

وَالْمُقِيْمِيْنَ الصَّلٰوةَ، سیبویه او عام بصریان وائی چه دا منصوب دے په مدح سره او ابن عطیه او کسائی د دے خلاف کوی او بغوی وائی چه دا عطف دے په ما انزل الیك باندے او مراد د مقیمین الصلوٰة نه انبیاء علیهم السلام دی او مراد اقامة الصلوٰة نه سره د ادا کولو نه د هغے جارے کول او اظهار دے په خلقو کښ (آلوسی)۔

وَالْمُؤْتُوْنَ الزَّكٰوةَ، دا عطف دے په یؤمنون باندے او دا عطف د عمل دے په ایمان باندے۔

وَالْمُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ، صاحب اللباب وئیلی دی چه علماء درے قسمه دی۔ اول عالمان په حکمونو د الله تعالی فقط دویم عالمان په ذات د الله تعالی او په صفتونو د هغه فقط

اِنَّآ اَوۡحَیۡنَآ اِلَیۡكَ كَمَآ

یقیناً وحی کړیده موږ تا ته پشان د هغې

اَوۡحَیۡنَآ اِلٰی نُوۡحٍ وَّالنَّبِیّٖنَ

چه وحی کړیوه موږ نوح (علیه السلام) ته او نورو پیغمبرانو ته

دریم عالمان په احکامو او په ذات د الله تعالی او په صفتونو د هغه باندے نو هر کله چه دوی ته ئے راسخین فی العلم اوئیل چه دوی عالمان دی په احکامو او په ذات او صفاتو د الله تعالی باندے نو نو بیا ئے اوئیل یعنی عالمان دی په احکامو د الله تعالی په یومنون بما انزل الیك سره سره د عمل کولو نه په ذکر د اقامة الصلوٰة او ایتاء الزکوٰة سره نو بیا ئے اوئیل چه عالمان دی په الله تعالی باندے سره د ایمان نه په معاد باندے هم په دے قول سره والمؤمنون بالله والیوم الاٰخر نو درے واړو اقسامو ته اشاره اوشوه او ایمان بالله والیوم الاٰخر ئے په ذکر کښ روستو کړلو د پاره د دے چه اعتبار د مخکښ صفتونو په ایمان بالله والیوم الاٰخر سره دے نو دا شرط دے د هغوی مخکښ صفتونو د پاره او شرط کله د مشروط نه روستو ذکر کیږی۔

اُولٰٓئِكَ سَنُؤۡتِیۡهِمۡ اَجۡرًا عَظِیۡمًا ، هر کله چه په دے آیت کښ د کامل ایمان والو ذکر وو نو د هغوی په بشارت کښ س (چه په تیز دے والی دلالت کوی) ذکر کړے دے او په ۱۵۲ کښ د عام مؤمنانو ذکر وو نو لفظ د سوف (چه په لرے والی دلالت کوی) ذکر کړے وو۔

فائده :۔ په لفظ د المقیمین الصلوٰة په اعراب باندے بعض خلق (لکه شیعه گان) اعتراض کوی چه دا د عربیت په قانون سره عثمان رضی الله عنه لحن کړے دے او دا سے نور آیاتونه دی چه په هغې باندے دا اعتراض دے د هغې تفصیلی جوابونه د تفسیر اللباب دمشقی په حاشیه کښ او د بعضے شبهاتو جوابات

مِنۢ بَعۡدِهٖ ۚ وَ اَوۡحَيۡنَاۤ اِلٰۤى

روستو د هغه ، او وحی کړې وه مونږ

اِبۡرٰهِيۡمَ وَ اِسۡمٰعِيۡلَ وَ اِسۡحٰقَ

ابراهیم او اسمعیل او اسحاق

وَ يَعۡقُوۡبَ وَ الۡاَسۡبَاطِ وَ عِيۡسٰى

او یعقوب (علیهم السلام) ته او اولاد د هغوی ته او عیسیٰ

وَ اَيُّوۡبَ وَ يُوۡنُسَ وَ هٰرُوۡنَ

او ایوب او یونس او هارون

وَ سُلَيۡمٰنَ ۚ وَ اٰتَيۡنَا دَاوٗدَ

او سلیمان (علیهم السلام) ته او ورکړې مونږ داؤد (علیه السلام)

زَبُوۡرًا ﴿۱۶۳﴾

ته زبور۔

په تفسیر روح المعانی کښ اوګورئ۔

۱۶۳:۔ په دے آیت کښ دا تحقیقی جواب دے د سوال د یهودیانو چه په ۱۵۳ کښ ذکر شوے وو حاصل دا دے چه په یو ځل کتاب راؤړل د نبوت د پاره شرط نه دے چه دا دولس پیغمبران اتفاقی او مشهور پیغمبران دی او حال دا دے چه هغوی ته کتابونه په یو ځل نه دی ورکړے شوی۔

اِنَّاۤ اَوۡحَيۡنَاۤ اِلَيۡكَ كَمَاۤ اَوۡحَيۡنَاۤ اِلٰى نُوۡحٍ ، وحی خو آدم علیه السلام ته شروع ده لیکن دلته دا سے وحی مراد ده چه په هغے کښ رد وی په مشرکانو باندے په شرک د هغوی نو داسے وحی د نوح علیه السلام ته شروع شوے ده۔

وَالنَّبِيّٖنَ مِنۢ بَعۡدِهٖ ، د دوی نه د بعضو ذکر په سوره اعراف او

وَرُسُلًا قَدْ قَصَصْنٰهُمْ عَلَیْكَ

او (وحی کړې وه) مونږ ډیرو رسولانو ته چه بیان کړي دي مونږ په تا باندې د هغوی

مِنْ قَبْلُ وَرُسُلًا لَّمْ

مخکښ د دې نه او ډیر رسولانو ته چه نه دي

نَقْصُصْهُمْ عَلَیْكَ ۚ وَكَلَّمَ اللّٰهُ

بیان کړي مونږ په تا باندې او خبرې کړې دي الله تعالیٰ

مُوْسٰى تَكْلِیْمًا ﴿۱۶۴﴾

موسیٰ (علیه السلام) سره خبرې کول۔

هود کښ کړې شوي دي۔ هود او صالح او شعیب او لوط او یوسف علیهم السلام۔

وَاَوْحَیْنَآ اِلٰٓى اِبْرٰهِیْمَ وَاِسْمٰعِیْلَ وَاِسْحٰقَ وَیَعْقُوْبَ وَالْاَسْبَاطِ، دا خو د یهودیانو او نصاری او مشرکان عرب د ټولو په نیز انبیاء وو۔ اسباط، نه مراد نور انبیاء د بنی اسرائیلو دي چه په هغې کښ زکریا او یحییٰ او ادریس او الیاس علیهم السلام داخل دي۔

وَعِیْسٰى وَاَیُّوْبَ وَیُوْنُسَ وَهٰرُوْنَ وَسُلَیْمٰنَ، دا هغه انبیاء علیهم السلام دي چه په دوی باندې یهودیانو مختلف طعنونه کول او حال دا دې چه حق انبیاء وو۔

وَاٰتَیْنَا دَاوٗدَ زَبُوْرًا، قرطبي لیکلي دي چه د دې کتاب یوسل او پنځوس سورتونه وو په هغې کښ ذکر د حلال او حرام او نور احکام نه وو بلکه وعظونه او فضیلتونه پکښ ذکر وو۔ د دې ذکر ئې په دې وجې سره اوکړو چه فضیلت د داؤ علیه السلام په سبب د بادشاهۍ سره نه وو بلکه په سبب د نبوت او د کتاب سره وو۔
سوال :۔ د موسیٰ علیه السلام ذکر ئې په دیکښ او نه کړو ؟
جواب :۔ د هغه کتاب تورات سره خو دوی استدلال کړې وو چه

هغه په یو کرت نازل کړے شوے وو نو د هغه ذکر کولو ته ضرورت پاتے نه شو او روستو آیت ئے ذکر کړے دے.

سه۱۶۴:- په دیکښ د نورو رسولانو ذکر اجمالی دے او هغه دوه قسمونه دی.

اول قسم وَرُسُلًا قَدْ قَصَصْنٰهُمْ عَلَيْكَ مِنْ قَبْلُ، لکه چه په سورهٔ اعراف او سورهٔ هود او سورهٔ شعراء او سورهٔ انبیاء او سورهٔ انعام او سورهٔ مریم وغیره کښ ذکر شوی دی. وَرُسُلًا، نه مخکښ فعل پټ دے ارسلنا رسلًا.

او دویم قسم وَرُسُلًا لَّمْ نَقْصُصْهُمْ عَلَيْكَ، د هغوی حالات او د هغوی نومونه بلکه د هغوی پوره شمار په حدیث صحیح کښ معلوم نه دے کوم حدیث چه نقل دے چه یو لاکھ څلیریشت زره انبیاء دی دغه حدیث ضعیف دے.

وَكَلَّمَ اللّٰهُ مُوْسٰى تَكْلِيْمًا، د نحاس او نورو نحویانو اجماع ده چه د فعل سره مصدر مفعول مطلق ذکر شی دلالت کوی په تاکید باندے یعنی مراد دلته د کلام معنی حقیقی بغیر د واسطے نه کلام دے. قرطبی وئیلی دی چه دا دلیل په بطلان د قول د هغه چا چه هغوی وائی چه الله تعالی خپل کلام په اونه کښ پیدا کړو او د اونے نه موسی علیه السلام واوریدلو بلکه الله تعالی بغیر د واسطے نه د هغه سره کلام حقیقی کړے دے او د دے جملے د راوړلو مقصد دا دے چه لکه په دے خصوصیت د موسی علیه السلام سره (چه کلام) دے د نورو انبیاؤ په نبوت کښ هیڅ طعن نه لازمیږی نو دا رنګ په یو ځل کتاب تورات ورکولو سره هم په نورو انبیاؤ هیڅ طعن نه لازمیږی.

رُسُلًا مُّبَشِّرِيْنَ وَمُنْذِرِيْنَ

(لیږلي دي موږ) رسولان زیري ورکوونکي او یره ورکوونکي

لِئَلَّا يَكُوْنَ لِلنَّاسِ عَلَى اللّٰهِ

د دې د پاره چه نه وي خلقو لره په الله تعالیٰ باندې

حُجَّةٌ بَعْدَ الرُّسُلِ ۭ وَكَانَ اللّٰهُ

هیڅ بهانه پس د لیږلو د رسولانو نه، او دې الله تعالیٰ

عَزِيْزًا حَكِيْمًا ﴿١٦٥﴾

زور آور او حکمتونو والا۔

۱۶۵:- رُسُلًا مُّبَشِّرِيْنَ وَمُنْذِرِيْنَ، په دې آیت کښې د رسولانو شان او حکمت د ارسال رسل ذکر کوي یعني د رسولانو کار دعوت دې په طریقه د تبشیر او انذار سره کتاب په یو ځل نازلیدل د هغې سره لازم نه دې۔ او رُسُلًا لفظ بدل دې د مخکښې رُسُلًا نه یا حال دې یا فعل پټ دې ارسلنا رسلًا۔

لِئَلَّا يَكُوْنَ لِلنَّاسِ عَلَى اللّٰهِ حُجَّةٌ بَعْدَ الرُّسُلِ، په دې جمله کښې حکمت د ارسال د رسولانو ذکر کول مقصد دې۔

سوال:- د دینه معلومیږي که چرې الله تعالیٰ رسولان نه وې رالیږلي نو خلقو په الله تعالیٰ حجت او دلیل قائم کولې شو نو دا خو مستلزم دې چه په الله تعالیٰ باندې ارسال د رسولانو واجب دې او دا خو مذهب د معتزلو دې؟

جواب:- د حجة نه مراد دلته معذوره (بهانه) کول دي یعني که رسولان ئې نه رالیږلي نو خلقو به الله تعالیٰ بهانه او عذار کولې لکه چه په سوره طه ۱۳۴ او سوره قصص ۴۷ کښې دي او عذر کول الله تعالیٰ ته ډیر قبول دې نو هغه په ځان باندې د چا عذرهم نه پریږدي۔

وَكَانَ اللّٰهُ عَزِيْزًا حَكِيْمًا، عزیز دې په هغه باندې څوک

لٰكِنِ اللّٰهُ يَشْهَدُ بِمَآ اَنْزَلَ
لیکن الله تعالی گواهي کوي په هغه کتاب چه نازل کړیدے هغه
اِلَيْكَ اَنْزَلَهٗ بِعِلْمِهٖ ۚ وَالْمَلٰٓئِكَةُ
تا ته نازل کړیدے په علم خپل سره او ملائک
يَشْهَدُوْنَ ؕ وَكَفٰى بِاللّٰهِ شَهِيْدًا ؕ ﴿١٦٦﴾
گواهي کوي، او پوره دے الله تعالی گواهي کوونکے.

حجت (دلیل) نشي قائم کولے. حَكِيْمًا، یعنی په رالیږلو د رسولانو کښ د هغه ډیر حکمتونه دي.

١٦٦:- روستو د اعتراض د اهل کتابو نه په صدق د قرآن باندے او د جواب د هغے نه اوس ذکر کوي شهادت د الله تعالی او د ملائکو په صدق د قرآن باندے.

لٰكِنِ اللّٰهُ يَشْهَدُ بِمَآ اَنْزَلَ اِلَيْكَ، د استدراك د پاره مخکښ ضروري دي ذکر د مستدرک نه نو دلته هرکله چه تکذیب د اهل کتابو ذکر شو (چه قرآن باندے اعتراض کوو) نو داسے اوئیلے شول چه دوي خو شهادت په صدق د قرآن کریم باندے نه کوي لیکن الله تعالی شهادت کوي په صدق د هغه کتاب چه نازل کړے دے تا ته. او ابن جریر وئیلي دي چه دا په جواب د قول د یهودیانو کښ دے چه هرکله انا اوحینا الیک نازل شو نو هغوي اوئیل چه مونږ خو ستا د نبوت شهادت نه کوو. نو جواب اوکړے شو په لکن الله یشهد او شهادت په صدق قرآن مستلزم دے شهادت لره په صدق د نبوت د رسول الله صلی الله علیه وسلم.

اَنْزَلَهٗ بِعِلْمِهٖ، په دے کښ څلور وجوه دي.
اوله وجه، دا چه نازل کړیدي قرآن لره په علم د الله تعالی سره په خائسته ترتیب او معجزانه طرز د دے سره.
دویمه وجه، دا چه نازل کړے تا ته په سبب د علم د الله تعالی

اِنَّ الَّذِیْنَ كَفَرُوْا وَصَدُّوْا

یقیناً هغه کسان چه کفر یې کړیدے او منع کوی خلق

عَنْ سَبِیْلِ اللّٰهِ قَدْ ضَلُّوْا

دَ لارے دَ الله تعالیٰ نه یقیناً گمراه شول دوی

ضَلٰلًۢا بَعِیْدًا ﴿۱۶۷﴾

په گمراهئ لرے سره۔

په دے خبره چه ته اهل دَ دے کتاب یې ځکه چه ته دے طرف ته دعوت کولے شے۔

دریمه وجه، نازل کړے دے په سبب دَ علم دَ الله تعالیٰ په ټولو مصلحتونو دَ بندگانو باندے چه دا کتاب په هغے باندے مشتمل دے۔

څلورمه وجه، نازل کړیدے تا ته سره دَ دے چه عالم دے په دے باندے یعنی حفاظت دَ شیطانانو نه کوی۔ (آلوسی)

وَالْمَلٰٓئِكَةُ یَشْهَدُوْنَ، شهادت دَ ملائکو خو په دے وجے سره چه دوی دَ الله تعالیٰ دَ شهادت نه خلاف نشی کولے یا دا چه جبرئیل راوړیدے او ټول ملائک دَ جبرئیل تابع دی یا دا چه ملائکو دَ دے نبی امداد کړے دے په بدر او احزاب وغیره مواقعو دَ جهاد کښ نو دا دَ هغوی شهادت دے په صدق دَ نبی او دَ قرآن باندے۔

وَكَفٰى بِاللّٰهِ شَهِیْدًا، یعنی شهادت دَ ملائکو خو تابع دے دَ شهادت دَ الله تعالیٰ نو که چرے بالفرض شهادت دَ ملائکو نه وی نو شهادت دَ الله تعالیٰ یواځے کافی دے۔

۱۶۷:- روستو دَ ذکر دَ صدق دَ رسول او قرآن زجر دے عام منکرینو او خصوصاً هغه اهل کتابو ته چه په قرآن باندے اعتراضونه کوی۔

اِنَّ الَّذِیْنَ كَفَرُوْا، اشاره ده چه کفر کوی په دے رسول

إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا وَظَلَمُوا

یقینًا هغه کسان چه کفر ئے کړے دے او ظلم ئے کړے دے

لَمْ يَكُنِ اللَّهُ لِيَغْفِرَ لَهُمْ

نه دے الله تعالیٰ چه بخنه اوکړی هغوی ته

وَلَا لِيَهْدِيَهُمْ طَرِيقًا ﴿١٦٨﴾ إِلَّا

او نه به ورته لار ښائی مګر

طَرِيقَ جَهَنَّمَ خَالِدِينَ فِيهَا

لار د جهنم همیشه به وی په هغے کښ

أَبَدًا ۚ وَكَانَ ذَٰلِكَ عَلَى اللَّهِ

همیشه او دے دا کار په الله تعالیٰ

يَسِيرًا ﴿١٦٩﴾

باندے آسان۔

او قرآن باندے په طریقه د اعتراض کولو۔

وَصَدُّوا عَن سَبِيلِ اللَّهِ، یعنی صفات د دے رسول او قرآن چه د دوی په کتابونو کښ دی هغه پټوی او تحریف پکښ کوی د پاره د دے چه نور خلق په ده باندے ایمان را نه وړی۔

قَدْ ضَلُّوا ضَلَالًا بَعِيدًا، ځکه چه ګمراه دی او نور خلق هم ګمراه کوی.

۱۶۸، ۱۶۹:۔ روستو د زجر نه په دے آیاتونو کښ هغوی له تخویف ذکر کوی.

إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا وَظَلَمُوا، مراد د دینه انکار د رسول او د قرآن نه په طریقه د منع کولو د خلقو په هغه باندے د ایمان راوړلو او د حق سره ضد او عناد کول دی او ظلم کښ اشاره ده چه دوی توبه هم نه ده ویستلے۔

لَمْ يَكُنِ اللَّهُ لِيَغْفِرَ لَهُمْ وَلَا لِيَهْدِيَهُمْ طَرِيقًا، طریق نه مراد

يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ قَدْ جَآءَكُمُ

اے خلقو ! یقینًا راغلے دے تاسو ته

الرَّسُوْلُ بِالْحَقِّ مِنْ رَّبِّكُمْ

رسول دَپاره دَ حق بیانولو دَ طرف دَ رب ستاسو ته

فَاٰمِنُوْا خَيْرًا لَّكُمْ ؕ وَاِنْ تَكْفُرُوْا

نو ایمان راوړئ غوره به وی تاسو لره او که کفر اوکړو تاسو

فَاِنَّ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ

نو یقینًا الله تعالیٰ لره اختیار دے دَ هغه څه چه په آسمانونو کښې دی او زمکه کښې دی

وَكَانَ اللّٰهُ عَلِيْمًا حَكِيْمًا ﴿١٧٠﴾

او دے الله تعالیٰ پوهه حکمتونو والا۔

دا سے ایمان او اعمال صالحه چه سبب او لارشی دَپاره دَ حصول دَ جنت۔

اِلَّا طَرِيْقَ جَهَنَّمَ ، دا استثناء مفرغ ده او دا پشان دَ قوله مَا تَوَلّٰى ۔ او سَنُيَسِّرُهٗ لِلْعُسْرٰى دے۔

وَكَانَ ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ يَسِيْرًا ، یعنی هیڅ پرواه نه کوی په دوی بانْدے او نه دَ الله تعالیٰ دَپاره څه مانع شته دے۔

نمبر ١٧١ :۔ خلاصه :۔ دَ دے آیت نه تر آخر دَ سورت پورے دَ دے حصّے دریم باب دے په دے باب کښې خطاب عام دے دَپاره دَ ترغیب ایمان راوړلو ته په آخری رسول بانْدے دَپاره دَ ازالے دَ دغه قبائحو چه مخکښې تیر شول او بیا خاص خطاب دے یهود او نصارٰی ته دَپاره دَ رد کولو په غلو کولو په باره دَ عیسٰی علیه السلام کښې سره دَ خلور کلمات توحید نه په رد دَ نصارٰی کښې او اثبات دَ عبدیت دَ عیسٰی علیه السلام دے بیا تخویف دے په نمبر ١٧٢ او بشارت په نمبر ١٧٣۔ بیا خطاب عام دے دَپاره دَ ایمان راوړلو او تابعداری کولو دَ

قرآن کریم سره د بشارت نه په ۱۷۴، ۱۷۵ کښ او په آخر کښ یو مثال دے د انوارو د قرآن کریم په ذکر د میراث د رونړو خوېندو دپاره د دفع ظلم د جاهلیت.

ربط ۱: هر کله چه ذکر کړے شو جواب د شبهې د یهودیانو او هغوی ته او نورو خلقو ته دعوت عامه ورکوی دپاره د ایمان راوړلو په آخری رسول صلی الله علیه وسلم باندے.

ربط ۲: دا رنګ مخکښ آیاتو نو کښ ذکر شول چه دوی خلق منع کوی د اتباع د دے رسول نه او ظلم کوی. او س الله تعالی عام خطاب کوی د دوی په مخالفت کښ چه د دوی خبره مه منئ بلکه راشئ په دے رسول باندے ایمان راوړئ.

یٰٓاَیُّهَا النَّاسُ قَدْ جَآءَكُمُ الرَّسُوْلُ، خطاب عام دے یهودیان او نصاری پکښ داخل دی مراد د الرَّسُوْلُ نه محمد صلی الله علیه وسلم دے او په وصف د رسالت سره ذکر کړو د تاکید د اتباع د هغه دپاره.

بِالْحَقِّ، باء، د ملابست ده او مراد حق نه قرآن، دین اسلام، شهادت د توحید دے. یا باء سببیه ده یعنی په سبب د قائم کولو د حق.

مِنْ رَّبِّكُمْ، اشاره ده چه الله تعالی د دے رسول په رالیږلو سره ستاسو دینی او روحانی تربیت کوی.

فَاٰمِنُوْا خَیْرًا لَّكُمْ، په نصب د خیرًا کښ ډیر اقوال دی اول قول د خلیل او سیبویه دے چه فعل پټ دے. (فعلوا خیرًا راوکړئ خیر خپل).

دویم قول په نیز د فراء د دے موصوف پټ دے او مفعول مطلق دے ایمانًا خَیْرًا (یعنی غوره ایمان چه پشان د ایمان د صحابه کرامو دے).

دریم قول د کیسائی او ابوعبید دے یَكُنِ الْاِیْمَانُ خَیْرًا لَّكُمْ

يٰٓاَهْلَ الْكِتٰبِ لَا تَغْلُوْا فِيْ

اے کتاب والو! زياتے مه کوئ په

دِيْنِكُمْ وَلَا تَقُوْلُوْا عَلَى اللّٰهِ

دين خپل کښ او مه وائ په الله تعالى باندے

اِلَّا الْحَقَّ ؕ اِنَّمَا الْمَسِيْحُ عِيْسَى

سيوا دَ حق نه، يقيناً مسيح عيسىٰ (عليه السلام)

ابْنُ مَرْيَمَ رَسُوْلُ اللّٰهِ

ځوئے دَ مريم رسول دَ الله تعالى دے

وَكَلِمَتُهٗ ۚ اَلْقٰهَآ اِلٰى مَرْيَمَ

او كلمه دَ هغه ده چه اچولے ده مريم ته

وَرُوْحٌ مِّنْهُ ز فَاٰمِنُوْا بِاللّٰهِ

او روح وۀ دَ طرف دَ الله تعالى نه، نو ايمان راوړئ په الله تعالى

وَرُسُلِهٖ قف وَلَا تَقُوْلُوْا ثَلٰثَةٌ ؕ

او په رسول دَ هغه او مه وايئ چه خدايان درے دى،

(ايمان به غوره وى تاسو لره)

وَاِنْ تَكْفُرُوْا فَاِنَّ لِلّٰهِ مَا فِى السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ، دَ ان شرطيه جزاء پټه ده فَهُوَ قَادِرٌ عَلٰى تَعْذِيْبِكُمْ (نو الله تعالى قادر دے ستاسو په عذاب درکولو باندے) يا فَهُوَ غَنِيٌّ عَنْكُمْ (الله تعالى ستاسو نه غنى دے) فان فاء دَ علت دَ پاره دے دَ پټے جزاء دَ پاره - الله، په اعتبار دَ خلق او تصرف او عبديت او بادشاهۍ سره.

وَكَانَ اللّٰهُ عَلِيْمًا حَكِيْمًا، عالم دے په هر څيز او په هغے کښ دَ دوى کفر داخل دے حکيم دے په هر څيز کښ او په هغے کښ

اِنْتَهُوْا خَيْرًا لَّكُمْ ؕ اِنَّمَا اللّٰهُ

منع شئ د دینه نو غوره به وی تاسو لره یقینا حقدار د بندګئ

اِلٰهٌ وَّاحِدٌ ؕ سُبْحٰنَهٗۤ اَنْ يَّكُوْنَ

یو الله تعالی دے ، پاک دے د دینه

لَهٗ وَلَدٌ ۘ لَهٗ مَا فِي السَّمٰوٰتِ

چه هغه لره د ځوے وی خاص د هغه په واک کښ دی هغه څه چه په آسمانونو کښ دی

وَمَا فِي الْاَرْضِ ؕ وَكَفٰى بِاللّٰهِ

او هغه څه چه په زمکه کښ دی او پوره دے الله تعالی

وَكِيْلًا ﴿١٧١﴾ ع

ذمه وار د ټولو کارونه ۔

د دوی عذاب ورکول او مهلت ورکول هم داخل دی۔

س ١٧١ : دا تخصیص دے روستو د عام خطاب نه په هغه خطاب کښ امر وو په ایمان سره په آخری رسول باندے او په دیکښ نهی ده د غلو کولو نه په باره د عیسیٰ علیه السلام کښ ځکه چه د ایمان د رسول سره غلو نشی جمع کیدلے۔

یٰٓاَهْلَ الْكِتٰبِ لَا تَغْلُوْا فِيْ دِيْنِكُمْ ، د حسن بصری نه روایت دے آلوسی او صاحب اللباب ذکر کړی دی چه دا خطاب عام دے یهودو او نصارای دواړو ته ځکه چه دواړو په باره د عیسیٰ علیه السلام کښ غلو کړے ده او د غلو دوه معانے دی۔ اوله معنیٰ تجاوز د حد شرعی نه که په زیاتوالی سره وی او که په نقصان سره وی یعنی افراط او تفریط ۔ او دویمه معنیٰ زیاتے کول د حد شرعی نه چه افراط دے او دلته د غلو اوله معنیٰ مراد ده نو رد دے په افراط د نصارای باندے او په تفریط د یهودیانو باندے د نصارای عقیده ده چه عیسیٰ علیه السلام

الله دے یا ابن الله دے یا الله تعالیٰ په ده کښې حلول کړیدے او یهودیانو وئیل چه دے ساحر او کاهن دے او ولد ده زنا دے۔ او دا سے په سوره مائده ۷۷ کښې هم راغلی دی لیکن هلته ده غلو دویمه معنیٰ مراد ده رد دے صرف په نصاریٰ باندے۔

وَلَا تَقُولُوا عَلَى اللّٰهِ إِلَّا الْحَقَّ، هر چه غلوا مستلزم ده افتراء کولو لره په الله تعالیٰ باندے او دا مستقل کفر دے ده دے وجے نه ورپسے ئے ده دینه منع ذکر کړه۔ لَا تَقُولُوا، قول کول په ژبه او عقیده ساتل په زړه کښې دواړو ته عام دے۔

إِلَّا الْحَقَّ، غوره دا ده چه دا استثناء منقطع ده مراد ده دے پاک کنړل ده الله تعالیٰ دی ده شریک او ولد او حلول او اتحاد نه او دا خطاب خاص دے په نصاریٰ پورے په باره ده عیسیٰ علیه السلام کښې۔ او هر چه یهودیان دی نو په نورو ډیرو احکامو کښې په الله تعالیٰ باندے افتراء کړیده او کوی۔

إِنَّمَا الْمَسِيحُ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ رَسُولُ اللّٰهِ، دا ذکر ده حق عقیدے دے په باره ده عیسیٰ علیه السلام کښې۔ رسول ده الله دے نو رد دے ده قول ده یهودیانو چه هغوی ده هغه ده رسالت نه انکار کوو او رد دے په نصاریٰ باندے چه هغوی ده هغه ده الوهیت او ابنیت لله عقیده لرله۔

وَكَلِمَتُهُ أَلْقَاهَا إِلَى مَرْيَمَ، او مراد ده کلمه دا دے چه پیدا کړے شوے دے په کلمه ده کن سره په غیر ده معتاد سبب نه چه نطفه ده مور او پلار دے۔ دا قول ده حسن او قتاده دے یا مراد ده کلمے نه بشارت دے چه مریم ته ئے لیږلے وو۔ او مراد القاء نه رسول ده دے کلمے دی مریم ته په واسطه ده جبرئیل علیه السلام لکه چه په سورة مریم ۱۷ کښې دی۔

وَرُوحٌ مِّنْهُ، مراد ده رُوحٌ روح انسانی دے او لفظ ده ذو پټ دے ذو روح یعنی په خپل ذوات کښې روح لـه

محتاج دے ۔ بل قول دا دے چہ مراد دَ روح پوکے کول دَ جبرئیل دی پہ گریوان دَ قمیص دَ مریم کښ لکہ چہ پہ سورہ تحریم ۱۲ او سورہ انبیاء ۹۱ کښ ذکر دے ۔ مِنۡهُ دا متعلق دے پہ پټ لفظ پورے او مِنۡ دَ پارہ دَ ابتداء دے یعنی روح صادر شوے دَ طرف دَ اللہ تعالیٰ نہ او مِنۡ دَ پارہ دَ تبعیض نہ دے لکہ چہ نصارٰی داسے استدلال کوی او داسے قصہ ابوحیان او آلوسی وغیرہ ذکر کړیدہ چہ یو نصرانی ډاکټر وو دَ ھارون الرشید پہ مجلس کښ دَ علی بن حسین الواقدی مروزی سرہ مناظرہ کښ وئیلی وو چہ ستاسو پہ قرآن کښ ذکر دے چہ عیسیٰ علیہ السلام دَ اللہ تعالیٰ جزء دے نو معلومہ شوہ چہ ولد دے او دا لفظ ئے اولوستلو (روح منہ) نو هغه عالم دَ دہ پہ رد کښ اولوستلو چہ اللہ تعالیٰ فرمائیلی دی ۔ وسخر لکم ما فی السمٰوٰت وما فی الارض جمیعًا منه ۔ (سورہ جاثیہ ۱۳) یعنی دَ دے آیت نہ خو بنا پہ استدلال ستا سرہ معلومیږی چہ ټول ما فی السمٰوٰت والارض دَ اللہ تعالیٰ جزء دے نو هغه نصرانی غلے او پرېشو او ھارون الرشید دغہ عالم لہ لوے انعام ورکړو۔

فَاٰمِنُوۡا بِاللّٰہِ وَرُسُلِهٖ ، یعنی دَ اللہ تعالیٰ پہ الوهیت باندے ایمان لرے او دَ رسولانو پہ رسالت باندے ایمان لرے کوم وړ والے مہ کوئ۔

وَلَا تَقُوۡلُوۡا ثَلٰثَةٌ ، شیخ الاسلام ابن تیمیہ رحمہ اللہ پہ رسالۃ قبرصیۃ کښ وئیلی دی چہ نصارٰی پہ قول دَ تثلیث او اتحاد کښ ډیر متفرق او مختلف اقوال کوی چہ عاقل شخص پہ هغے باندے اقرار نشی کولے او ټول کلمات متشابهات دی دَ دوی پہ انجیل کښ او حال دا چہ دَ هغے پہ رد کښ پہ انجیل کښ کلمات محکمات شتہ دے ۔ قاسمی دَ سید عبد اللہ الهندی نہ نقل کړیدی چہ یو فرقہ دہ پہ نصارٰی کښ چہ هغوی

ته (کولی دی دینس) وئیلی شی هغوی وئیلی دی چه الله درے دی پلار ځوے او مریم - آلوسی دا قول د تثلیث د ملکانیه او نسطوریه او یعقوبیه ټولو نه نقل کړے دے سره د اختلاف ته په تفسیر د هغے کښ او بیا ئے په هغوی باندے په تفصیل سره تردید کړے دے (روح المعانی) او په اول د بحث کښ وئیلی دی چه د زجاج نه نقل دے چه قول د دوی دا دے الآلهه ثلاثه (آله درے دی) یو الله دویم عیسیٰ دریم مریم لکه چه د سوره مائده د آخر نه معلومیږی - او بل تفسیر مشهور د نصاری دا دے چه الله یو جوهر دے او درے اقانیمو ته تقسیم شوے دے اقنوم د اب اقنوم د ابن او اقنوم د روح القدس - اول ذات دے دویم علم دے دریم حیات دے او دا ټولے بے دلیله خبرے دی -

اِنْتَهُوْا ، منع شئ د قول د تثلیث نه - خَیْرًا لَّكُمْ ، د دے تقدیرات مخکښ ذکر شوی دی او دلته مشهور تقدیر دے - یَکُنْ خَیْرًا لَّكُمْ (ستاسو د پاره به خیر وی) - او د دینه روستو په رد د نصاری کښ څلور کلمات د توحید ذکر کوی -

اوله کلمه ، اِنَّمَا اللّٰهُ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ ، دا صریح رد دے په قول د تثلیث باندے -

دویمه کلمه ، سُبْحٰنَهٗٓ اَنْ یَّكُوْنَ لَهٗ وَلَدٌ ، هر کله چه په قول د تثلیث کښ په عیسیٰ علیه السلام باندے اطلاق د ابن الله کړے دے نو دا دویمه کلمه په هغوی باندے تردید دے -

دریمه کلمه ، لَهٗ مَا فِی السَّمٰوٰتِ وَمَا فِی الْاَرْضِ ، دا رد دے په اثبات د تصرف د الوهیت د پاره د عیسیٰ او مریم علیهم السلام لکه دا هم د نصاری عقیده ده -

څلورمه کلمه ، وَكَفٰى بِاللّٰهِ وَكِیْلًا ، او دا د مخکښ جملو د پاره تاکید دے یعنی الله تعالیٰ په تدبیر او حفاظت د مخلوق کښ یو اځے پوره دے نو بل اله او ولد ته ئے هیڅ حاجت نشته ځکه که بل

لَنْ يَّسْتَنْكِفَ الْمَسِيْحُ اَنْ يَّكُوْنَ

هیچرے بہ نہ ګڼړی مسیح دَ

عَبْدًا لِّلّٰهِ وَلَا الْمَلٰٓئِكَةُ الْمُقَرَّبُوْنَ ط

بندګی کولو دَ الله تعالیٰ ته او نه ملائک نیزدے (الله تعالیٰ ته)

وَمَنْ يَّسْتَنْكِفْ عَنْ عِبَادَتِهٖ

او چا چه بده اوګڼړله بندګی دَ الله تعالیٰ

وَيَسْتَكْبِرْ فَسَيَحْشُرُهُمْ اِلَيْهِ

او ځان ئې لوے اوګڼړو نو زر دے جمع به ئې کړی الله تعالیٰ ځان ته

جَمِيْعًا ﴿١٧٢﴾

ټول -

الله یا ابن او مثلے شی نو هغه به معطل وی او تعطیل خو نقصان دے او نقصان والا خو اله نشی کیدے -

١٧٢ :- په دیکښ هم رد دے په نصارٰی باندے چه انکار کوی دَ عبدیت دَ عیسیٰ علیه السلام نه آلوسی او صاحب اللباب روایت ذکر کړے دے چه نصارٰی دَ نجران نبی صلی الله علیه وسلم ته اوئیل چه ته دَ عیسیٰ علیه السلامؑ ولے تعیب (عیب لګوی) کوے هغه اوفرمائیل څه تعیب دے دوی اوئیل چه ته هغه ته عبد الله وائې نو دا آیت دَ هغوی په ردکښ نازل شویدے -

لَنْ يَّسْتَنْكِفَ الْمَسِيْحُ اَنْ يَّكُوْنَ عَبْدًا لِّلّٰهِ ، استنکاف دَ نکف نه اخستلے شوے دے او نکف لرے کول او نفرت کول دی دَ یو څیز نه یعنی مسیح علیه السلام دَ الله تعالیٰ عبدیت نه پریږدی دَ نفرت او لوئیٔ په وجے سره او عدم استنکاف دَ هغه مستلزم دے همیش والی دَ عبدیت لره او عبدیت مستلزم دے همیشه عبادت او طاعت کولو لره -

وَالْمَلٰٓئِكَةُ الْمُقَرَّبُوْنَ، عطف دے په المسیح باندے یعنی مقربین ملائک هم استنکاف او نفرت دَ عبدیت دَ الله تعالیٰ نه نهٔ کوی۔
سوال:۔ په دا سے مقام کښ خو ترقی دَ ادنیٰ نه اعلیٰ ته کیږی یعنی مسیح خو نفرت دَ عبدیت دَ الله تعالیٰ نه کوی نو دا دلالت کوی چه ملائک افضل دی دَ انبیاء علیهم السلام او دا خلاف ده دَ مذهب دَ جمهورو اهل سنت نه؟
جواب ۱:۔ مقصد دَ آیت رد دے په نصاریٰ باندے چه هغوی دَ عیسیٰ علیه السلام په معجزاتو (ابرص اکمه جوړول مړی ژوندی کول وغیره) سره دلیل نیولو دَ هغه په الوهیت باندے نو اوئیلے شو چه ملائک خو په باره دَ دا سے کارونو (خارق العادت) کښ دَ عیسیٰ علیه السلام اکثر دی ځکه چه دَ دوی نه ډیر خوارق صادر شویدی او صادریږی نو هغوی ته ولے الهه نه وائی نو دا فضیلت جزئیه دَ ملائکو دے په عیسیٰ علیه السلام باندے۔
جواب ۲:۔ نصاریٰ الوهیت دَ عیسیٰ علیه السلام دَ دے وجے نه ثابتوی چه هغه بغیر دَ پلار نه پیدا شویدے نو دَ هغوی په رد کښ اوئیلے شول چه دا سے خو ملائک ټول بغیر دَ مور او پلار نه پیدا شوی دی نو هغوی ته ولے آله نه وائی دا هم دلالت کوی په فضیلت جزئیه باندے (آلوسی او صاحب اللباب)۔
جواب ۳:۔ امام بغوی وئیلی دی چه په دے جمله کښ رد دے په هغه خلقو باندے چه ملائکو ته آلهه وائی او مشرکین یا لملائکه دی چه ملائک دَ عبدیت دَ الله تعالیٰ نه نفرت نه کوی او دَ دغه خلقو عقیده ده چه ملائک دَ عیسیٰ علیه السلام نه افضل دی۔
فائده:۔ اختلاف دے په مسئله کښ چه ملائک افضل دی په فضیلت کلیه سره او که انبیاء علیهم السلام دا اختلافی مسئله ظنیه ده دلیلونه دَ دواړو طرفونو نه هیڅ قطعیت (یقین) نه پیدا کوی غوره دا ده چه په دے مسئله کښ توقف اوکړے شی سیوا دَ فضیلت دَ محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم نه په ټولو عالمینو باندے چه دا یقینی خبره ده۔ آلوسی

فَاَمَّا الَّذِیۡنَ اٰمَنُوۡا وَعَمِلُوا
نو هغه چا چه ایمان را وړے دے او عمل ئے کړیدے
الصّٰلِحٰتِ فَیُوَفِّیۡهِمۡ اُجُوۡرَهُمۡ
په طریقه د نبی (صلی الله علیه وسلم) نو پوره به ورکړی هغوی ته ثوابونه د هغوی

وَمَنۡ یَّسۡتَنۡكِفۡ عَنۡ عِبَادَتِهٖ وَیَسۡتَكۡبِرۡ، دا لفظ شامل دے ټولو کافرانو او مشرکانو ته او مراد د عبادت نه عام دے توحید د عبادت او د طاعت ته۔ فرق په استنکاف او استکبار کښ دا دے چه استنکاف پریخودل د یو کار دی په سبب د نفرت کولو سره د هغے نه یعنی هغه کار ورته ناکاره او بد ښکاره کیږی او استکبار پریخودل د یو کار دی په سبب د دعوی د لوئے خپلے یعنی هغه کار فی نفسه بد نه ګنړی لیکن صرف ځان ترینه لوئے ګنړی نو استنکاف زیات دے د استکبار نه او هر کله چه انکار کوونکی د توحید او طاعت د الله تعالی او د رسول نه دوه قسمونه وو د دے وجے نه دواړه الفاظ ذکر کړی دی۔ فَسَیَحۡشُرُهُمۡ اِلَیۡهِ جَمِیۡعًا،

سوال:۔ حشر خو یقینی دے په استنکاف پورے خو معلق او مشروط نه دے نو دا خو جزاء د مخکښ شرط د پاره نه صحیح کیږی؟

جواب ۱:۔ حشر نه مراد حشر دے د پاره د جزاء ورکولو یعنی حشر به د دوی د جزاء سزا ورکولو د پاره وی نو دا بل جانب پټ دے یعنی هغه څوک استنکاف او استکبار نه کوی هغه به هم جمع کوی۔

جواب ۲:۔ جزاء پټه ده یعنی فیجازیه او یعذبه (سزا او عذاب به ضرور ورکوی)۔

وَيَزِيدُهُم مِّن فَضْلِهِ ۖ
او زياتي به وركړي د فضل خپل نه،
وَأَمَّا الَّذِينَ اسْتَنكَفُوا
او هغه چاچه بد او ګڼرله بندګي د الله تعالى
وَاسْتَكْبَرُوا فَيُعَذِّبُهُمْ عَذَابًا
او ځان يې لوے اوګڼرو نو عذاب به ورکړي هغوي ته عذاب
أَلِيمًا ۙ وَلَا يَجِدُونَ لَهُم
دردناک او نه به مومي ځان لره
مِّن دُونِ اللَّهِ وَلِيًّا وَلَا نَصِيرًا ﴿١٧٣﴾
سيوا د الله تعالى نه دوست او نه مددګار.

۱۷۳:- دا تفصيل د جزاء او سزا دے د دواړو فريقو د پاره يو د پاره د بشارت دے او دويم د پاره د تخويف دے - نو ايمان او عمل صالح تشريح د عدم استنکاف او عدم استکبار ده.

وَيَزِيدُهُم مِّن فَضْلِهِ، يعني د استحقاق د ايمان او عمل نه به زياته بدله په سبب د فضل خپل سره ورکوي.

فَيُعَذِّبُهُمْ عَذَابًا أَلِيمًا، دا مقابل دے د يوفيهم اجورهم سره.

وَلَا يَجِدُونَ لَهُم مِّن دُونِ اللَّهِ وَلِيًّا وَلَا نَصِيرًا، دا مقابل دے د يزيدهم من فضله سره او ذکر د مؤمنانو ئے مقدم کړو د پاره د دے چه د کافرانو د هغوي په ليدو سره ډير حسرت پيدا شي.

يَآ اَيُّهَا النَّاسُ قَدْ جَآءَكُمْ
اے خلقو ! يقيناً راغلے دے تاسو ته
بُرْهَانٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ وَاَنْزَلْنَآ
يقيني دليل ستاسو د رب د طرف نه او نازل كړې ده مونږ
اِلَيْكُمْ نُوْرًا مُّبِيْنًا ﴿۱۷۴﴾
تاسو ته رڼا ښكاره.

۱۷۴:- هر كله چه په ټول سورت كښې رد اوكړے شو په منافقانو او مشركانو او يهوديانو او نصارٰى باندے او بيا په وَاَمَّا الَّذِيْنَ اسْتَنْكَفُوْا كښې آخري او خصوصي رد اوكړے شو په ټولو باندے نو اوس دعوت وركوي ټولو ته د پاره د ايمان راوړلو په رسول الله صلى الله عليه وسلم او په قرآن كريم باندے د دے وجے په يَآ اَيُّهَا النَّاسُ، سره عمومي خطاب اوكړے شو.

قَدْ جَآءَكُمْ بُرْهَانٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ، د ابن عباس رضى الله عنهما او سفيان ثوري نه روايت دے چه مراد په بُرْهَانٌ سره رسول الله صلى الله عليه وسلم دے ځكه چه د هغه بعثت او رسالت قطعي حجت دے په منكرينو باندے او احتمال دے چه مراد د برهان نه قرآن كريم دے مِنْ رَّبِّكُمْ، متعلق دے په جآءكم پورے يا صفت دے د برهان د پاره.

وَاَنْزَلْنَآ اِلَيْكُمْ نُوْرًا مُّبِيْنًا، د دے نه مراد خو قرآن كريم دے لكه چه په سوره اعراف ۱۵۷ او سوره تغابن ۸ كښې ذكر دے. قرآن نور دے ځكه چه د اثبات د حق د پاره واضح دليل دے او مبين ئے تاكيد دے چه د نورانيت د وجے نه هيڅ شبهات او شكوك د خلقو نه پريږدي.

فَأَمَّا الَّذِينَ آمَنُوا بِاللَّهِ

نو هغه کسان چه ايمان ئې راوړيدے په الله تعالیٰ

وَاعْتَصَمُوا بِهِ فَسَيُدْخِلُهُمْ

او کلک ئې اونيو دا قرآن نو داخل به کړي دوی لره

فِي رَحْمَةٍ مِّنْهُ وَفَضْلٍ لا

په خاص رحمت خپل کښې او زيات ثواب کښې.

وَيَهْدِيهِمْ إِلَيْهِ صِرَاطًا

او روان به کړي الله تعالیٰ دوی لره ځان طرف ته په لاره

مُّسْتَقِيمًا ط ﴿١٧٥﴾

نيغه

ف ۱۷۵ :- دا ذکر د حال د هغه چا دے چه د برهان او نور نه ئې فائده واخستله.

آمَنُوا بِاللَّهِ ، د دينه مراد ايمان شرعی تفصيلی دے په کومه طريقه چه برهان او نور پيش کړيدے.

وَاعْتَصَمُوا بِهِ ، ضمير راجع دے الله تعالیٰ ته يا نور ته بنا په اول باندے مراد د اعتصام نه ځان سپارل دی الله تعالیٰ ته د پاره د بچ کولو د خپل ځان د زيغ د شيطان نه او بنا په دويم مراد اعتصام نه دليل نيول او عمل کول دی په قرآن کريم باندے.

فَسَيُدْخِلُهُمْ فِي رَحْمَةٍ مِّنْهُ ، د ابن عباس رضی الله عنهما روايت دے چه مراد په رحمت سره جنت دے يا مراد تر ينه لوے ثواب دے چه حاصليږی په رحم د الله تعالیٰ سره بغير د اعتماد کولو نه په عمل باندے.

وَفَضْلٍ ، تنوين د پاره د تعظيم دے يعنی داسے فضل چه انسانان د هغې په اندازه باندے علم نه لری.

يَسْتَفْتُوْنَكَ ط قُلِ اللّٰهُ يُفْتِيْكُمْ

تپوس کوی دوی ستا نه ته ورته اووایه! الله تعالیٰ حکم درکوی تاسو ته

فِي الْكَلٰلَةِ ط اِنِ امْرُؤٌا هَلَكَ

په باره د موتهوتی او میراث کښې، که یو سړے مړ شو

لَيْسَ لَهُ وَلَدٌ وَّلَهُ اُخْتٌ فَلَهَا

نه وو هغه لره اولاد او هغه لره خور وه نو هغې لره

نِصْفُ مَا تَرَكَ ج وَهُوَ يَرِثُهَا

نیمه د هغه مال ده چه پرېښودلے وی او دا ورور وارث دے د ټول مال د ښځې

اِنْ لَّمْ يَكُنْ لَّهَا وَلَدٌ ط فَاِنْ

که نه وی هغه لره هیڅ اولاد نو که وی

كَانَتَا اثْنَتَيْنِ فَلَهُمَا الثُّلُثٰنِ

دا دواړه دوه خویندې نو دے دواړو لره دوه دریمې دی

مِمَّا تَرَكَ ط وَاِنْ كَانُوْٓا اِخْوَةً

د هغه مال نه چه پرېښودلے دے او که وی دوی رونړه خویندې

وَيَهْدِيْهِمْ اِلَيْهِ صِرَاطًا مُّسْتَقِيْمًا ، ضمیر راجع دے الله تعالیٰ ته یا فضل ته او صراطًا مستقیمًا دویم مفعول دے دپاره دیهدیهم یا حال دے د ضمیر د الیه نه یا بل فعل پټ دے چه ویُعَرِّفُهُمْ (اوخائی به دوی ته)۔

سوال:۔ هدایت خو په دنیا کښې دے نو دا خو مخکښې دے په رحمت او فضل د آخرت باندې نو ولې هدایت ئې روستو ذکر کړو؟

جواب ۱:۔ دا تقدیم د مقصد اعلیٰ دے (چه مسبب دے) په سبب باندې چه هدایت دے دپاره د مزین بشارت او خوشحالۍ۔

جواب ۲:۔ مراد د رحمت نه توفیق دے او مراد د فضل نه

رِّجَالًا وَّنِسَآءً فَلِلذَّكَرِ مِثْلُ
نارینه او زنانه نو نارینه لره پشان

حَظِّ الْاُنْثَيَيْنِ ؕ يُبَيِّنُ اللّٰهُ
د برخې د دوو زنانو ده واضح بیانوی الله تعالی

لَكُمْ اَنْ تَضِلُّوْا ؕ وَاللّٰهُ بِكُلِّ
تاسو ته هسے نه چه گمراه نشئ او الله تعالی په هر

شَيْءٍ عَلِيْمٌ ﴿۱۷۶﴾ ع
څیز پوهه دے۔

قبولیت دے او دا مخکښ دی په هدایت بانده دے۔

۱۷۶ :- ربط :- هرکله چه ذکر شوه چه قرآن نور مبین دے نو اوس ذکر کوی د انوارو د قرآن نه رد په رسم د جاهلیت بانده دے (چه هغه ظلمت دی) په ذکر د میراث د زنانو سره چه خویندے دی۔

يَسْتَفْتُوْنَكَ ، دے ته آیه الصیف وئیلے کیږی نازل شوے دے په لار د حجة الوداع کښ په باره د جابر رضی الله عنه چه د هغه ډیرے خویندے وے لیکن حکم عام دے۔ دلته لفظ فی الکلالة پټ دے په قرینه د جواب سره۔

الْكَلٰلَةِ ، تفسیر د دے مخکښ تیر شوے دے۔ اِنِ امْرُؤٌا هَلَكَ لَيْسَ لَهٗ وَلَدٌ ۔

سوال :- د کلاله په صحیح تعریف کښ خو عدم وجود د والد هم شرط دے؟

جواب ۱ :- دیته اکتفاء وئیلے شی چه یو لفظ ذکر کړی او بل حذف کړی ځکه چه د هغے حکم ښکاره وی ځکه خور د مړی په وخت د وجود د پلار کښ محروم ده په اجماع سره۔

جواب ۲ :- جرجانی وئیلی دی چه لفظ د ولد پلار (والد) ته

شامل دے ځکه چه هغه هم پیدا شوی دے۔ او مراد د ولد نه په نیز د اکثر صحابه او تابعینو خوړے دے ځکه چه په وخت د وجود د لور د مړی کښ خور د عصوبت د وجے نه د نصف حقداره ده۔
وَلَهُ اُخْتٌ، مراد د دینه اعیانی خور ده چه مور او پلار دواړو کښ شریکه وی او چه هغه نه وی نو بیا علاتی خور ده چه صرف په پلار کښ شریک وی او هرچه اخیافی دے نو د هغه حکم مخکښ تیر شوی دے۔
فَلَهَا نِصْفُ مَا تَرَكَ، دا په طریقه د فرضیت سره دے په دیکښ هم هغه شرطونه دی (چه د ادا د دین او وصیت نه به روستو وی) چه مخکښ ذکر شوی دی او نیمه د بل عصبه ده که موجود وی او که نه وی نو دغه خور ته به واپس کیږی په طریقه د عصوبت سره۔
وَهُوَ يَرِثُهَا اِنْ لَّمْ يَكُنْ لَّهَا وَلَدٌ، یعنی که چرے دا خور مړه شی او یو وروړ یے وارث وی او د دے ښځے اولاد مذکر یا مؤنث نه وی او پلار یے هم نه وی (ځکه چه کلاله کښ شرط دا دے چه پلار به یے هم نه وی نو دغه وروړ به د دے خور د ټول مال وارث وی او دا د عصوبت د وجے نه۔
فَاِنْ كَانَتَا، ضمیر د کانتا راجع دے هغه چاته چه وارث وی په اعتبار د اخوت سره۔
اثْنَتَيْنِ، د دینه مراد دوه خویندے دی۔
فَلَهُمَا الثُّلُثَانِ مِمَّا تَرَكَ، یعنی یو وروړ (کلاله) مړ شی او د هغه دوه خویندے یا د دوو نه زیاتے پاتے شی نو د هغوی د پاره به د ټول مال نه دوه حصے ورکیدے شی او دریمه حصه به په طریقه د عصوبت بل عصبه له ورکیدے شی که موجود وی او که نه وی نو دوی ته به واپس ورکیدے شی۔
وَاِنْ كَانُوْا اِخْوَةً رِّجَالًا وَّنِسَآءً، دلته د اِخْوَةً سره اخوت هم مراد دے په قرینی د نساءً سره۔ یعنی که وروړ یا خور مړه شی او د هغوی وارثان رونړه خویندے دوه یا ډیرے (ګډوډ) پاتے شی۔
فَلِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الْاُنْثَيَيْنِ، دا څلور مسائل د وراثت د اخوت

سره متعلق دی۔

يُبَيِّنُ اللهُ لَكُمْ أَنْ تَضِلُّوا، په نیز د بصریانو او مبرد دلته مضاف پټ دے یعنی كَرَاهِيَةَ أَنْ تَضِلُّوا (د وجے د بد گنړلو د گمراهئ ستاسو نه) او په نیز د کوفیانو کسائی او فراء باندے لام پټ دے یعنی لِئَلَّا تَضِلُّوا او دا پشان د دے قول د الله تعالی دے چه (ان الله یمسك السموٰت والارض ان تزولا۔ سوره فاطر سلا) - او آلوسی او صاحب اللباب دریمه توجیه ذکر کړیده چه تقدیر ته حاجت نشته بلکه معنیٰ دا ده چه بیان کوی الله تعالی تاسو ته گمراهی (د دے د پاره چه. پچ شئ د هغے نه) ځکه چه په دے سورت کښ ډیر مسائل د جاهلیت ذکر شول د پاره د اجتناب د هغے نه۔

وَاللهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ، نو عالم دے په هغه حکمونو چه په هغے کښ ستاسو مصلحتونه او فائدے دی د دُنیا او د آخرت۔

فائده له :- د دے سورت په اول کښ ذکر د قدرت د الله تعالی دے په اول آیت کښ او په آخری آیت کښ ذکر شو علم د الله تعالی او دا دواړه صفتونه مرجع د ټولو صفتونو د ربوبیت او د الوهیت ده۔

فائده ٹلہ :- سیوطی وئیلی دی چه د دے سورت اختتام په احکامو د میراث سره دے او دا تعلق لری د مرگ د انسان سره اشاره ده چه آخری عاقبت د ټول مخلوق مرگ دے۔

یا الله تعالی زمونږ د ټولو عاقبت ښائسته او زمونږ مرگ د ابرارو صالحینو سره راولے۔ (اللهم آمین)

اَللّٰهم اغفر لمؤلف الکتاب وکاتبه ومن اعان فی هذا الشان برحمتك یا ارحم الراحمین

ایوبؔ مکتبه اینډ اسلامی کیسټ هاؤس فون ۲۵۰۷۴۹